نزلنٰك بالحق واحسن تفسيرا

درس بيضاوي

پښتو شرح د

تفسير البيضاوي

تاليف

مناظر اسلام شيخ القرآن والحديث حضرت العلامه

ابو ابراهيم رحيم الله

الحقاني ننګرهاري

تقريظ او تائيد

شيخ الحديث حضرت مولانا مغفور الله صاحب رحمه الله

دارالعلوم حقانيه - اکوړه خټک

تحرير، ترتيب، تخريج

محمد بن الشهيد "بدري"

مکتبة الحرم

د تفسير بيضاوي بېوازنى داسي شرحه چي د ضبط العبارة، اسانه او روانه ترجمه، علمي او تحقيقي تفسير او تشريح، حل اللغات، د نصوصو او اقوالو له تخريج او په نورو زياتو فوايدو مشتمله ده

جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَ اَحْسَنَ تَفْسِيْراً

درس بيضاوي

پښتو شرحه

د تفسير بيضاوي

مِنْ إفَادات

نابغة العصر مناظر اسلام شيخ القرآن والحديث **شهيد** مولانا **رحيم الله حقاني الافغاني**:

خادم القرآن والاَحَادِيْث النبويّة

تقريظ اوتائيد

محدث العصر عمدة المحققين شيخ الحديث مولانا مغفور الله «بابا»

محدث جامعة الحقانية اكوړه خټک

د تفسير بيضاوي يوازنۍ داسې شرحه چې د ضبط العبارة، اسانه او روانه ترجمه، علمي او تحقيقي تفسير او تشريح ، حل اللغات ، د نصوصو او اقوالو له تخريج او په نورو زياتو فوايدو مشتمله ده

تحرير، ترتيب، تخريج

محمّدُ بن الشهيد «بدري»

جِئْنٰـكَ بِالْحَـقِّ وَ اَحْـسَنَ تَفْسِـيْراً

درس بيضاوي

پښتو شرحه

د تفسير بيضاوي

مِنْ إفَادات

نابغة العصر مناظر اسلام شيخ القرأن والحديث **شهيد** مولانا **رحيم الله حقاني الافغاني**:

خادم القرآن والاَحَادِيْث النَبويّة

تقريظ اوتائيد

محدث العصر عمدة المحققين شيخ الحديث مولانا مغفور الله «بابا»

محدث جامعة الحقانية اکوړه خټک

د تفسير بيضاوي يوازنۍ داسې شرحه چې د ضبط العبارة، اسانه او روانه ترجمه، علمي او تحقيقي تفسير او تشريح، حل اللغات، د نصوصو او اقوالو له تخريج او په نورو زياتو فوايدو مشتمله ده

تحرير، ترتيب، تخريج

محمّدُبن الشهيد «بدري»

کتاب پېژندنه

دکتاب نوم ____ درس بیضاوي

من افادات: ____ فضیلة الشیخ حضرت علامه رحیم الله حقاني

لیکوال: ____ محمّد بن الشهید«بدري»

تصحیح: ____ مولوي صفت الله«نعماني»

کمپوزر: ____ مولوي امداد الحق «شهاب»

ناشر: ____ مکتبة الحرم① محله جنګی پشاور② جاده میوند، سر چوک، کابل

د چاپ کال: ____ اول: (۱۴۴۴ هـ- ۲۰۲۳ م)

د صفحاتو شمېر: ____ (۵۲۸)

مطبعه: ____ مطبعة الحرم ندیم سنتر دوکان نمبر (۲۰۷) محله جنګی پشاور

د افغانستان اړیکه او واټساپ:

۰۷۷۴۳۴۳۸۷۰-۰۷۷۹۳۹۵۹۱۹-۰۷۸۸۷۹۷۹۴۱-۰۷۸۸۷۹۷۹۴۲

د پاکستان اړیکه:

واټساپ: ۰۳۰۰۹۳۹۵۹۱۹- ۰۹۱۲۵۸۰۰۰۴

ګرانو لوستوونکو!

دغه کتاب چې په نوم د درس بیضاوي شرح تفسیر بیضاوي تالیف شوی دی له زیات کوښښ او زیار څخه وروسته که څه قسم غلطی او تېروتنه ستاسې په نظر راشي نو مهرباني وکړئ زموږ د مکتبة الحرم ادارې ته خبر ورکړئ تر څو په راتلونکي کې دا تېروتنه او غلطي تکرار نه شي.

إنتساب

د ټول امت مسلمه د شهيدانو پاکو او سپيڅلو روحونو ته ډالۍ، بالخصوص هغه چاته چې له امريکائي يرغلګرو سره ئې د پنځلس (۱۵) کاله اوږدې مبارزې وروسته په خپلو وينو د اسلام باغ سيرابه کړ او ځانونه ئې په خپل ځيښتن د جنت په بدله کې وپلورل او د شهادت لوړ مقام ئې تر لاسه کړ لکه: هر يو استاذ محترم شيخ القرآن داع الجهاد فخر الشهداء والعلماء حضرت مولانا شهيد **عبدالسلام** حقاني ننګرهاري تقبّله الله، او مجاهد کبير اميرالمجاهدين نمونه اخلاص فاضل نوجوان فخر الشهداء حضرت مولانا الحافظ شهيد **محمد کامران** «حيدري» تقبّله الله، او فخر لوګر نازولی شهيد زموږ امير او قائد قاري **محمد داؤد** «خالد» تقبله الله، روح دې ښاد او ياد دې تل تازه وي.

تقريظ

شيخ القرآن والحديث مناظر اسلام حضرت مولانا ابو ابراهيم رحيم الله الحقانى حفظه الله.

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لله وحْده والصّلوة والسّلام على من لّانبيّ بعده.

امّا بعد:

فَلَقَدْ طالعتُ مَاكتبَه الأخ (محمّد بدري) فوجدتّه صحيحًا ونافعًا وارجُو من ذكاوته وجودة فهمه وحسن سعيه فى التّعلم ان يّكون ماكتبه صحيحًا وجيداً ونافعًا واسئَلُ الله من فضله ان يّنفع به وهو حسبى ونعم الوكيل.

كتبه العبدالأحقر

(رحيم الله الحقاني)

٢٠١٦م

تقريظ

شیخ المشایخ عمدة المحققین وسند المحدثین حضرت
مولانا مغفور اللّه «بابا» حفظه اللّه

الحمد لله وكفى وسلامٌ على عباده الذين اصطفى

اما بعد!

تفسير انوار التنزيل واسرار التاويل للعلامه القاضي ناصرالدين البيضاوي متداول قراءته، منذ أمَدطويل فى منهج النظامي وقد صرّح العلماء قديما: بأن المقصِدَ من قراءة تفسير الجلالين و تفسير البيضاوي، هو رفع المستوى طالب علم و استعداد ملكته فى مجال التفسير.ذالک؛ لانه بعد قراءتهما يقدر على الاستفادة من التفاسير المهمة بسهولة.

وهذا الشرح تحت النظر أمالي على تفسير البيضاوي للمحقق الشيخ رحيم الله الحقاني الذى اغتنى بجمعه تلميذه الفاضل محمد بن الشهيد البدري روعة الاسلوب و سهلة المأخذ. فالشرح نفيسٌ فى بابه و جامع لكل ما يتعلق بالكتاب.

وبالتالي، ان الشيخ رحيم الله حقِاني رزقه الله علوّ النظر و التفنن فى علوم المتنوّعة فى سنة المبتكر، لمئات طلبة العلم اطال الله عمره.

فلم أُتحْ لي ان اطالع الشرح كله، لاجل الضعف فى الجسد، والقيام بواجبات التدريس و كثرة قدوم الضيوف. الا أني قد اطلعت على مواضع شتى منه ، فوجدته نافعا ؛ أسأل الله آن ينفع به طلاب العلم.

مغفور الله
(شيخ الحديث جامعة الحقانية اكوره ختک)
١٣ محرم الحرام ١٤٤٣ هجري

پیلیزه

الحمد لله الذي انار قلوب العباد المتقين بنور كتاب المبين وجعل القرأن شفاءً لما فى الصدور وهدىً ورحمة للمؤمنين ، والصلاة والسلام على خاتم الانبياء و اشرف المرسلين سيدنا محمد النبي العربي الامين الذي فتح به الاعيانا عميا واذان صماً وقلوباً غلفاً واخرج به الناس من الظلمات الى النور صلاةً وسلاماً دائمين الى يوم البعث والنشور وعلى اله الطيبين الاطهار واصحابه الهادين الابرار و من تبعهم باحسان الى يوم .

وبعد:

انسان دژوند په هر قدم او هره برخه کې د علم او هدایت محتاج دی او هم یې په علم کې د بریا او کامیابۍ راز نغښتی دی ، علم هغه نبوي مشال دی چې تل یې انسان د فتنو له تورو تیارو د روڼ سحار تر ګودره رسولي دي، هغه قافلې تل تر خپل منزله رسیدلي چې د علم له سرمایې برخمنې وي .

هغه چې تاریخونو پرې ویاړ او افتخار کوي د علم لارویان دي، الله جل جلاله په خپل کتاب «قرأن کریم » کې انسان په تمامو مخلوقاتو افضل او اکرم ګرځولی دي او لامل یې بیا علماء دا بیانوي چې په مخلوقاتو انسانان یوازنی مخلوق دی چې تر منځ یې د تعلیم او تعلم سلسله روانه ده .

په انسانانو کې بیا هغه کسان چې علماء دي د الله جل جلاله په نزد ځانګړی مقام او مرتبه لري په ځانګړي ډول هغه علماء چې د تفسیر له علم سره تعلق لري او د کلام الله معاني، رموز، مقاصد او مطالب په ډاګه کوي د انبیاءعلیهم السلام حقیقي وارثان دي لکه څنګه چې کتاب الله په کتابونو کې عالي ده دغه راز یې علم په علومو او عالم یې په علماو کې عالي او فوقیت لري.

علم التفسیر یوازنی هغه علم دی چې نور تمام علوم یې خادمان او د حصول وسایل او زرایع دي قرأن نورو علومو ته د چشمې حیثیت لري او نور علوم دینیه دي او که عصریه دي له همدې منبع څخه سر چینه اخلي، امام جلال الدین سیوطي (رَحِمَهُ اللَّهُ) فرمایي: په اسلام کې چې ترننه

ځو مره کتابونه لیکل شوي دي په حقیقت کې دا ټول د احادیثو تشریح او وضاحت دی او تمام احادیث د قران تشریح ،تفسیر او ضاحت دی[1].

په هردور کې الله جل جلاله د قران د خدمت لپاره علماء پیدا کړي هرعالم یې جلا جلا خدمت کړی دی چایې د الفاظو ، چایې د معانیو ،چایې د احکامو ، چایې بلاغت او فصاحت او چایې اعراب او اعجاز خلکو ته بیان کړی ده تردې چې ښځو هم د قران خدمت ملا وتړله د هندوستان د مشهور واکمن او بادشاه او عالمګیر (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) لور« زیب النساء » هم دغه میدان کې خپل مسؤلیت ادا کړ او د زیب التفاسیر په نامه یې په فارسي د تفسیر یوه بهترینه نسخه تیاره (المؤلفات من النساء ومولفاتهن) لنډه دا چې هرچا یې د خپل علم او فهم مطابق تفسیراو وضاحت کړی ده .

یو له دغو خادمانو څخه نومیالی مفسر امام بیضاوي حمه الله دی نوموړي د قرأن تفسیر په داسې انداز کړی دی چې نورو تفاسیرو کې یېا د متن حیثیت لري همدا وجه ده چې تفسیر بیضاوي د بیشمېره تفاسیرو تر منځ علماو د درس نظامي لپاره انتخاب کړی او له یوې اوږدې مودې څخه راپه دیخوا یې په مدارسو کې درس او تدریس روان دی ، تفسیر بیضاوي که له یوه پلوه دومره اهمیت او ارزښتمن دی ؛خو بیا له بلې خوا په همدومره مشکلو او باریکو نکاتو مشتمل دی ، چې دهرچا فهم ورته په اسانۍ سره نشي رسېدلی او نه یې هرڅوک د حلولو توان لري، ځکه خو بیضاوي په جامعه کې هغه عالم ته ورکول کیږي کوم چې په نورو علومو کې متبحر او قوي ملکه ولري .

کوم وخت چې د څلورمې درجې طالب وم د موقوف علیه طالبانو به اکثره د تفسیر بیضاوي له مشکلاتو څخه شکایت او سر ټکاو له ځان سره مې ویل چې کاش یوه داسې زمینه برابره شوې وای چې طالبان له دغې ستونزې او شکایاتو خلاص شوي وای او په اسانه او ساده لهجه پښتو کې د بیضاوي دغه مشکلات حل شوي وای ، له دغه وخته مې دې کار ته تلوسه وه ، همدغسې شول په کال (۱۴۳۸)ه کې مې د پېښور په دارالعلوم زبیریه کې د موقوف علیه لپاره له شیخ الحدیث مولانا رحیم الله حقاني حفظه الله سره داخله واخسته او له لومړی ورځې مې دا عزم وکړ

(۱) الاتقان في علوم القرأن :۴۴۳/۴ و اثر الحديث الشريف فى اختلاف أئمة الفقهاء رضى الله عنه :۱۲۳ لشيخ محمد عوامه حفظه الله

چې د تفسیر بیضاوي د درس او تقریر د لیکلو په خاطر به هم د کال ترڅایه غیر حاضري نه کوم، په لومړیو ورځو کې مې له شیخ صیب سره مشوره وکړه ورته مې وویل : غواړم ستاسو درس ته لیکلې بڼه ورکړم شیخ صیب راته وویل چې داخو به ډېره ښه شي، له دې څخه وړاندې شیخ صیب په خپله په تفسیر بیضاوي د حاشیې لیکلو هوډ درلود او یو څه صفحات یې پرې لیکلي هم و خو د زیاتو علمي بوختیاو له امله ترې معطل پاتې وه، شیخ صیب هغه لیکلې صفحې هم راته وسپارلې چې ترڅوپه لیکلو کې ترې مرسته واخلم د لیکنې په اوږدو کې به مې وخت په وخت له شیخ صیب سره مشورې کولې او د تېروتنو سمونه به یې راکوله تر دې چې تر اخره ټول درسونه د الله جل جلاله په فضل ولیکل شول د شیخ صیب له نظر ثاني څخه ورسته مو چاپ ته وړاندې کړ همغه و چې طالبانو ته ډېر مفید ثابت شو خو بیا یې هم یو څه نیمګړتیاوې لرلې لکه : املایي تیروتنې د عباراتو ګډوډی او د احادیثو د تخریج نه شتون او دغسې له نورو حوالو هم بې برخې پاتې و؛نو په همدې اساس مو له دویم ځل چاپ نه وړاندې لومړی د همدغو نیمګړتیاو سمونه او تکمیل وکړ، دسمونې او تصحیح پر مهال راسره زما دکوچنیوالي ملګري محترم ورور او جید عالم مولوي صفت الله نعماني حفظه الله زیاته مرسته وکړه له الله جل جلاله څخه ورته فردوس جنت صالح اولاد او نافع علم غوښتونکی یم.

او د یادونې وړ ده چې د لیکلو پرمهال مې د حضرت شیخ صیب په اجازه له حاشیة الشهاب، حاشیة شیخ زاده او تقریر الحاوي څخه هم استفاده کړې دی تر څو کتاب عام فهمه او مستفید ثابت شي.

اخوکم فی الله: محمد «بدري»

۲۰ربیع الثاني/۱٤٤۲ هـ

د تفسیر بیضاوي اهمیت

تفسیر بیضاوي د حدیثو او سنت دقایقو، دکلام او حکمت دفوایدو، د معانیو د اسرارو، د فلسفې او میزان د رموزو، د معقول او منقول د تاویلاتو، د صرف او نحوې د بحثونو، د قرأت، قراني مقاصدو د منابعو، د اهل السنة د عقایدو او د ګڼو علومو ځانګړې مجموعه ده.

تفسیر بیضاوي په یوه فقره کې کتونکی په لسګونو علومو راګرځوي، له تفسیر کشاف نه وروسته د شاه جهان او عالمګیر تر زمانې بیضاوي ته په تفاسیرو کې لومړی مقام حاصل و او ښه ګرم بازار یې لاره، په روان دور کې بیا له کشاف څخه هم مخکې او لومړی مقام لري، تردې چې ځنې علماو د قران له حفظ سره تفسیر بیضاوي هم یاد کړی مولانا محمد معظم په خپل کتاب «تذکرة علماء هند» کې د خپل استاذ مولانا عبد الحکیم سیالکوټي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) چاچې په تفسیر بیضاوي ځانګړې حاشیه هم لیکلې په باره کې فرمایي: چې مولانا عبد الحکیم صیب له قران سره د تفسیر بیضاوي هم په یاده یاد کړی و.

د تفسیر بیضاوي د اهمیت لپاره همدومره هم بس ده چې د بېشمېره تفاسیرو تر منځ د سلګونو کلنو څخه تر ننه د مدارسو په نصاب او درس او تدریس کې ځای نیولی او څومره حواشي، شروح او تعلیقات چې په تفسیر بیضاوي لیکل شوي په بل تفسیر نه دي شوي.

د تفسیر بیضاوي منهج او تګلاره

د امام بیضاوي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) تفسیر ډېره جالبه او زړه وړونکې تګلاره او منهج لري همدا لامل ده چې تفسیر ته یې دومره مقبولیت حاصل دی.

(۱)... تفسیر بیضاوي د سورت په پای کې داسې احادیث راوړي چې د سورت عظمت او فضیلت ترې ثابت وي.

(۲)... تفسیر بیضاوي د صحابه کرامو اقوال او اثار هم ذکر کوي او د عقل په مټ ترېنه نکتې او اشارات را وباسي.

(۳)... ځنې وخت بيلا بيل قرأتونه ذكر كوي، د متواترو قرأتونو ترڅنګ شاذ قرأتونه هم ذكر كوي.

(۴)... فقهي مسايل ذكر كوي خو په اختلاف كې د شافعي مسلک تايد كوي او هم ورته دلايل ذكر كوي.

(۵)... كوم ځاى چې د اهل السنة والجماعة او معتزله و اختلاف وي هلته دواړه مسلكونه بيانوي او د اهل السنة ترجيح او هم ور څخه كلكه دفاع كوي .

(۶)... ځنې وخت اسرائليات هم په صيغې د تمريض (رُوِيَ او قيل) سره ذكر كوي.

(۷)... امام بيضاوي د احاديثو په نقل كې په ځان د صحت التزام نه دى كړى زياتره وخت ضعيف او موضوعي روايات ذكر كوي.

(۸)... د فلكياتو او طبعي امورو په ذكركولو كې زياتره د تفسيركبير لاره خپلوي او نورو مسايلو كې بيا د كشاف تقليد كوي ، امام جلال الدين سيوطي (رَحِمَهُ اللَّهُ) وايي: تفسير بيضاوي د كشاف بهترينه خلاصه ده [1]

په تفسير بيضاوي ليكل شوې ځينې حواشي

(۱)...حاشيه محى الدين محمد بن شيخ مصلح الدين مصطفى قوجوي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى(۹۵۱)هـ دا مفصله حاشيه په اته جلده كې چاپ شوې ده .

(۲)... حاشيه ابن المتجد مصلح الدين مصطفى بن ابراهيم (رَحِمَهُ اللَّهُ) كوم چې د محمد الفاتح (فاتح قسطنطنية) دى دا په درې جلده كې چاپ شوې ده .

(۳)... فتح الجليل ببيان خفي انوار التنزيل د زكريا بن محمد الانصاري المصري (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى(۹۱۰)هـ.

(۴)... حاشيه كمال الدين اسماعيل بن بالي القرماني (رَحِمَهُ اللَّهُ) چې مشهور ده په قره كمال سره.

---

(۱) المدخل المنير لشيخ مخلوف :۱۱

(۵)...نواهد الافكارفي شواهد الافكار د امام جلال الدين سيوطي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۱۱)هـ.

(۶)...حاشيه ابو الفضل صديقي قريشي (رَحِمَهُ اللَّهُ) چې په ګازروني سره مشهوره ده المتوفى (۹۴۵)هـ.

(۷)...حاشيه شمس الدين محمد بن يوسف بن علي بن سعيد كرماني الشافعي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۷۸۶)هـ.

(۸)... حاشيه محمد بن جلال الدين بن رمضان شيرواني (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۰۰)هـ.

(۹)... حاشيه جمال الدين اسحاق قرماني (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۳۳)هـ.

(۱۰)... حاشيه بابا نعمت الله بن محمد (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۰۰)هـ.

(۱۱)... حاشيه مصطفى بن شعبان سروري (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۶۹)هـ.

(۱۲)... حاشيه ملاعوض (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۹۴)هـ-.دا حاشيه غالبا په دېرش جلدونو باندې مشتمله ده.

(۱۳)... الحام الماضي في ايضاح غريب القاضي للشيخ ابي بكربن احمد بن صانع الحنبلي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۷۱۴)هـ.

(۱۴)... حاشيه شيخ وجيه الدين بن نصرالله بن عماد الدين علوي ګجراتي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى(۹۹۸)هـ.

(۱۵)... حاشيه شيخ شمس الدين احمد بن سلمان الرومي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۴۲)هـ

(۱۶)... حاشيه شيخ اسماعيل شيرواني (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۴۲)هـ.

(۱۷)... حاشيه شيخ محى الدين محمد افندي بن بير على بركلي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۹۷۱)هـ.

(۱۸)... حاشيه ملا عبدالسلام ديوي الاودهي (رَحِمَهُ اللَّهُ)

(۱۹)... حاشيه امان الله بن نورالله بن حسين بنارسي (رَحِمَهُ اللَّهُ) المتوفى (۱۱۳۳۹)هـ.

(۲۰)... حاشیه شیخ محمد بن علي الحصکفي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۸۸)هـ.

(۲۱) حاشیه شیخ ابو یوسف یعقوب البناني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفي (۱۰۹۸)هـ

(۲۲)... خاشیه علامه نور الدین بن محمد محمد صالح احمد ابادي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۱۵۵)هـ

(۲۳)... هدایة الراوي الی الفاروق المداوي للعجز عن تفسیر بیضاوي للشیخ محمود بن حسن الفضلي المشهور بصادق گیلاني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۷۰)هـ

(۲۴)... حاشیه محمد بن قراموز المشهور بملا خسرو (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۸۸۵)هـ

(۲۵)... حاشیه ملا عبد الحکیم سیالکوتي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفي (۱۰۶۷)هـ

(۲۶)... حاشیه محمد بن عبد الملک بغدادي الحنفي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) التوفي (۱۰۰۶)هـ

(۲۷)... تفسیر التفسیر للنورالدین حمزه قراماني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۸۷۱)هـ

(۲۸)... حاشیه عصام الدین ابراهیم بن محمد عرب شاه اسفرایني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۴۳)هـ

(۲۹)... حاشیه سعد الله بن عیسی المشهور بسعدي الافندي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۴۵)هـ

(۳۰)... حاشیه سنان الدین یوسف بن حسام الدین (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۷۶)هـ

(۳۱)... حاشیه محمدبن عبدالوهاب المشهور بعبدالکریم زاده (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۷۵)هـ.

(۳۲)... حاشیه شیخ احمد بن شهاب بن محمد الخفاجي الحنفي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المشهوره بحاشیة الشهاب المتوفی (۱۰۶۹)هـ دا حاشیه له نوي تحقیق سره په نهه جلده کې چاپ شوې ده ډېره اعلی او مفیده ده ماهم په څه ځایونو کې زیاته استفاده ترې کړېده.

(۳۳)... حاشیه شیخ عثمان بن عیسی بن ابراهیم السندي البرهانبوري (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۰۸)هـ

(۳۴)... حاشیه شیخ ابویوسف یعقوب البیاني لاهوري (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۹۸)هـ

په تفسير بيضاوي ليکل شوي تعليقات

(۱)... تعليق سنان الدين يوسف بردعي مشهور بعجم سنان (رَحِمَهُ ٱللَّهُ)

(۲)... تعليق شيخ محی الدين محمد الکلبي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۲۲)ھ

(۳)... تعليق مصطفی بن محمد المشهور ببستان افندي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۷۷)ھ

(۴)... تعليق محمد بن مصطفی بن الحاج حسن (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۱۱)ھ

(۵)... تعليق شيخ اصلح الدين محمد (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفي (۹۷۷)ھ

(۶)... تعليق ملا حسين خلخاني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۱۴)ھ

(۷)... تعليق نصر الله الرومي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ).

(۸)... تعليق غرس الدين حلبي طبيب (رَحِمَهُ ٱللَّهُ)

(۹)... تعليق محی الدين محمد بن قاسم المشهور باخوين (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۰۴)ھ

(۱۰)... تعليق سيد احمد بن عبد الله قريمي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۵۰)ھ

(۱۱)... تعليق محمد بن عبد الغني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۲۶) ھ دا تعليق تر نصف د سورت بقرې پورې دی او پنځوس جزه لري

(۱۲)... تعليق محمد امين المشهور بابن صدر الدين شرواني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی(۱۰۳۶)ھ

(۱۳)... تعليق هداية الله علائي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۳۹)ھ

(۱۴)... تعليق محمد سرانسي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ)

(۱۵)... تعليق محمد بن ابراهيم الحنبلي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۹۷۱)ھ

(۱۶)... تعليق محمد امين المشهور بامير بادشاه بخاري حسني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ)

(۱۷)... تعليق محمد موسی بسنوي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۴۶)ھ

(۱۸)... تعليق شيخ قاسم بن قطلوبغا الحنفي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۸۷۹)ھ

(۱۹)... تعليق احمد بن روح الله الانصاري (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفی (۱۰۰۹)ھ

(۲۰)... تعليق الاتحاف بتميز ماتبع فيه البيضاوي صاحب الکشاف

(٢١)... تعليق محمد بن يوسف الشامي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ)

(٢٢)... تعليق كمال الدين محمد بن أبي شريف القدسي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفى (٩١٠)هـ

(٢٣)... التعليق الحاوي على تفسير البيضاوي للشيخ عبدالحق بن سيف الدين محدث دهلوي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفى(١٠۵٢)هـ

(٢۴)... تعليق سيد شريف علي بن محمد الجرجاني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفى (٨١۶)هـ

(٢۵)... تعليق شيخ رضي الدين محمدبن يوسف المشهور بابن ابي اللطف القدسي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفى (١٠۴٨) هـ

(٢۶)... تعليق محمد بن محمد بن عبد الرحمن المعروف بامام الكامليه قاهري (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفى (٨٧۴)هـ

د تفسير بيضاوي د احاديثو تخريج

(١) تحفة الراوي في تخريج احاديث البيضاوي للشيخ محمد بن حسن المعروف بابن همات الحنفي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفى (١١٧۵)هـ

(٢)الفتح السماوي بتخريج احاديث البيضاوي للشيخ عبدالروف المناوي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ).

د تفسير بيضاوي د ابياتو حل

مولانا فيض الحسن بن فخرالحسن السهارنپوري (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) المتوفى (١٣٠٧)هـ دبيضاوي ابيات حل كړيدي.

طبقات المفسرين (د مفسرينو طبقې)

د هر علم ماهرين او ائمه په څو طبقو او صنفونو وېشلي شوي لكه طبقات الفقهاء، طبقات المحدثين، طبقات علم النحو او داسې نور دغه دول مفسرين هم څو طبقو لري خو دومره ده چې د مفسرينو طبقې د نورو طبقو په څېر منضبطې ندې او نه ورته هغه دول شرايط او حدود ټاكل شوي او نه هم پرې كوم امام قول كړى؛ بلكې ځينې علماوو قرونو او زمانو ته په كتلو سره په څو طبقو ته وېشلي شوي.

لومړی: طبقة الصحابه (رحمهم الله)

د قران لومړي مفسرين صحابه كرام رضوان الله اجمعين دي، صحابه كرام ټول د قرآن په تفسير او رموزو ښه پوهيده خو بيا هم ځينو له ځينو سره توپير درلوده په دوی کې بيا څو كسانو په تفسير کې زيات شهرت درلود لکه خلفاء الراشدين، عبادلة اربعة (عبد الله ان مسعود، عبد الله ابن عباس، عبد الله عمرو او عبد الله بن زبير)، انس بن مالک، ابو موسى اشعري، ابو هريرة، او جابر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ).

په خلفاو کې زيات روايات د تفسير له علي بن ابي طالب (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) څخه راغلي د حضرت معمر (رَحِمَهُ اللَّهُ) روايت ده: روى معمر عن وهب بن عبد الله عن أبي الطفيل قال: شهدت عليا يخطب وهو يقول: سلوني، فو الله، لا تسألوني عن شيء إلا أخبرتكم، وسلوني عن كتاب الله فوالله ما من آية إلا وأنا أعلم أبليل نزلت أم بنهار، أم في سهل أم في جبل.[1]

ترجمه: عبد الله بن طفيل (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) وفرمايي: حضرت علي كرم الله وجهه ته په داسې حال کې ورغلم چې خطبه يې ويله، او خلکوته يې ويل له ما پوښتنې وکړئ! كه د هر شي پوښتنه کوئ زه به ځواب دركوم او د الله جلا د كتاب په اړه رانه پوښتنې وکړئ زما دې په الله قسم وي داسې يو ايات نشته چې زه پرې عالم نه يم چې دا دورځې نازل شوی كه د شپې په سمه نازل شوی كه په غره.

او په نورو صحابه كرامو کې بيا زيات روايات له عبد الله ابن عباس او عبد الله ابن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا) څخه راغلي دي چې دوی دواړه په صحابه كرامو کې د تفسير امامان بللی شي.

دويمه: طبقة التابعين:

شيخ الاسلام ابن تيمية (رَحِمَهُ اللَّهُ) وايي: أعلم الناس بالتفسير أهل مكة.

په تفسير کې تر ټولو ماهرين خلک د مکې مکرمې دي؛ ځکه دوی د ابن عباس رضي الله عنه شاگران دي لکه مجاهد، عطاء بن أبي رباح، عكرمة مولى ابن عباس، وسعيد بن جبير، طاوس او داسې نور او په کوفه کې ابن مسعود شاگردان-

---

(١) مصنف لابن عبدالرزاق وتهذيب التهذيب: ١٧٠/١ و الفقيه والمتفقه للخطيب

لکه علقمة،اسود بن يزيد ، إبراهيم النخعي، او شعبي (رَحِمَهُمُ اللَّهُ) او د دوی له جملې څخه حسن بصري ، عطاء بن أبي مسلم الخراساني ،محمد بن كعب القرظي ، أبو العالية رفيع بن مهران الرياحي ، الضحاک بن مزاحم ، عطية بن سعيد العوفي، قتادة بن دعامة السدوسي ، الربيع بن أنس ، او مام سدي دی دغه له تابعينو څخه متقدمين مفسرين دي دوی اکثر اقوال له صحابه كرامو څخه نقل کړی دي وغالب، او په مدينه منوره کې زيد بن أسلم له کوم نه چې خپل زوی عبد الرحمن بن زيد روايت کوي اومالک بن أنس رضي الله عنهم دی .[1]

خو په دوی تر ټولو زيات روايات د امام مجاهد (رَحِمَهُ اللَّهُ) دي فضل بن ميمون (رَحِمَهُ اللَّهُ) وايي: چې ماته امام مجاهد وويل: ما دېرش ځله مکمل قران په خپل استاذ عبد الله ابن عباس رضي الله عنه باندې لوستلی او درې ځله مې داسې لوستل چې د هر ايت مې ترې جلا جلا پوښتنه کړې چې د څه لپاره او ولې نازل شوی دی.

دريمه طبقه تبع التابعين:

دا هغه خلک دي چې د صحابه کرامو او تابعينو اقوال يې را جمع کړل او په علم التفسير کې يې په لومړي ځل تفاسير وليکل لکه ، سفيان بن عيينة ، وكيع بن الجراح ، شعبة بن الحجاج ،يزيد بن هارون ، عبد الرزاق ، آدم بن أبي إياس ،إسحاق بن راهويه ، عبد بن حميد ، روح بن عبادة ،أبي بكر بن أبي شيبة (رَحِمَهُمُ اللَّهُ) او داسې نور.

څلورمه طبقة له تبع التابعينو څخه وروسته مفسرين:

دا هغه طبقه د چې له د صحابه كرامو، تابعينو او تبع التابعينو څخه يې سندا خالص تفسير روايت کړی لکه: علي بن أبي طلحة،ابن جرير الطبري، ابن أبي حاتم،ابن ماجه، حاكم،ابن مردويه، أبو الشيخ بن حبان، او ابن المنذر (رَحِمَهُمُ اللَّهُ) مګر ابن جرير (رَحِمَهُ اللَّهُ) په خپل تفسير کې د اقوالو توجيه، ځينو اقوالو ته په نورو ترجيح اغراب او استنباط هم ورېو ځای کړي.

---

(١) مقدمة اصول التفسير لابن تيمية: ١٥

پنځمه طبقه له دوی څخه وروستني مفسرين:

دا له څلورمې طبقې څخه ورسته مفسرين دي چې خپل تفاسير يې له لغوي فايدو، د اعراب له ډولونو. له هغو قرأتونو چې سندونه يې محذوف و ډک کړي او يو څه شيان يې د خپلې رايې هم ور يو ځای کړل لکه أبو إسحاق الزجاج ،أبو علي الفارسي ،أبو بكر النقاش او أبو جعفر النحاس.

له پورته ذکر شو مفسرينو څخه ورسته يوه ډله د متاخرينو راولاړه شوه له تفسيري رواياتو څخه سندونه لرې کړل او د ائمه و اقوال يې غوڅ شوي او بې له حوالو رنقل کړل، نو له دغه ځای څخه په تفسير کې لاس وهنه شروع شوه د صحيح او ضعيف تر منځ توپير ورک شو.

په دې طبقه کې د شپږمې پېړۍ مفسرين دي لکه امام راغب اصفهاني، امام غزالي، علامه جار الله زمحشري او ابو جعفر محمد بن حسين العلوي الطوسي او داسې نور.

اوومه طبقه:

دا هغه مفسرين دي چې په کوم علم او فن کې ماهره دي خپل تفاسير يې له همغه علم څخه ډک کړی ګويا که قران د همدغه علم لپاره نازل شوی لکه نحوي مفسر يو ازې له اعراب، نحوي قواعد او داسې نورو نحوي مسايلو څخه تاويږي لکه ابو حيان (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) وغيره

او که فقيه وي هغه بيا تمامه فقه په خپل تفسير کې رانقولوي لکه امام ابو عبد الله محمد بن احمد القرطبي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) او ماهر د علومو عقليه و تمام معقولات په خپل تفسير کې ځايوي لکه امام فخر الدين رازي او امام ناصر الدين عبد الله بن عمر البيضاوي (رَحِمَهُمَا ٱللَّهُ).

اتمه طبقه:

دا هغه مفسرين دي چې څه يې ليدلي او څه يې په زړه تېر شوي په هغې يې اعتماد کړی دیته يې نه دي کتلي چې د سلفو ائمو نه په دې اړه څه نقل شوي او که نا؟

لکه امام جلال الدين سيوطي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) په خپل تفسير کې په (غير المغضوب عليهم والضالين) کې لس اقول راوړي او حال دا چې له رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)، صحابه کرمو او

تابعینو څخه یوازې د یهودو او نصارى تفسیر نقل دی امام ابن ابي احاتم (رَحِمَهُ اَللَّهُ) فرمايي زه په دې کې د مفسرينو هيڅ اختلاف نه وينم.

او په دغه طبقه کې جلال الدين احمد بن محمد المحلي او امام شهاب الدين محمود الوسي (رَحِمَهُمَا اللَّهُ) هم شامل دي.

نهمه طبقه:

په دې طبقه کې ابوالبرکات عبد الله بن احمد بن محمود النسفي، هبة الله شرف الدين بن عبد الرحيم بارزي، ابوالفدأ عمادالدين اسماعيل بن عمر ابن اکثير القريشي، شرف الدين عبدالواحد بن المنير قطب الدين بن محمود بن مسعود الشيرازي او شرف الدين حسين بن محمد طيبي (رَحِمَهُمُ اللَّهُ) شامل دي.(۱)

د امام جلال الدين سيوطي رحمه الله تقسيم:

امام جلال الدين سيوطي (رَحِمَهُ اَللَّهُ) مفسرين څلورو طبقو ته ويشلي:

لومړی طبقه: دا د سلفو طبقه ده چې صحابه کرام، تابعين او تبع التابعينو ته شامله ده.

دویمه طبقه: دا هغه مفسرين دي چې محدثين دي په خپلو تفاسيرو کې يې د صحابه کرامو او تابعينو اقوال سندا ذکر کړي.

دریمه طبقه: د اهل السنة والجماعة باقي مفسرين کومو چې خپلو تفاسيرو ته علم کلام، علم النحو، فلسفه او احکام فقهية ور داخل کړي.

څلورمه طبقه: بدعتي مفسرين لکه معتزله، شيعيه او داسې نور دغه مفسرين لکه زمخشري، روماني، جبايي او داسې نور دي.(۲)

---

(۱) ظفر المحصلين :۲ صـ ۵۰ ـ ۱۵۹

(۲) طبقات المفسرين :صـ ۲ لامام جلال الدين السيوطي

د تفسير تدوين

2 لومړی باید ووایو چې د قرآن تفسير ځینې ځایونه کې قرآن په خپله کړی چې دیته تفسير القرآن بالقرآن وايي د غسې رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) هم د قرآن تفسير کړی هغه په دې معنی چې د نبوي دور خلک عرب و او قرآن هم په عربي ژبه نازل شوی و نو د قرآن د معانيو او مطالبو په فهم ورته څه ستونزه نه ځو بيا به چې به ځینو ځایونو زيات اجمال و صحابه کرامو به مخامخ له رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نه پوښتنه وکوله او رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به ورته تشريح او تفسير کولو ، د تفسير په اړه تر ټولو قيمتي ذخيره او پانګه هغه تفسيري روايات دي چې د احاديثو په بيلا بيلو کتابونو کې نقل شوي دي لکه امام بخاري هم دغه روايات داغونډ کړي او د کتاب التفسير القرآن په نوم يې نومولي دی.

ديته ورته د صحابه کرامو زمانه وه تر رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وروسته چې کله د فتوحاتو دايره پراخه شوه او په تمدني ژوند کې پرمختګ وشو نوي مسايل رامخته شول له هم دې امله د قرآن په ايتونو کې غور اوفکر ته اړتيا پيښه شوه د علامه ابن خلدون (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) په وينا ټول صحابه کرام د قرآن په فهم کې برابر نه و صحابه کرامو به هم هغه تفسير کاوه چې يا به يې بالواسطه يا بلا واسطه له رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او ريدلی و .

له صحابه کرامو څخه وروسته بيا د تابعينو دور پيل شو او دغه د تفسير لپاره هم يوه نوي لړۍ وه چاچې له صحابه کرامو څخه خپله علمي تنده خړوبه کړې وه هغوی د صحابه و په څير په تابعينو کې لوی مفسرين شول په دوی کې: مجاهد ، عطاءبن ابي رباح، عکرمه، سعيد بن جبير، حسن بصري، ابو العالية، ضحاک او قتادة (رَحِمَهُمُ ٱللَّهُ) ډېر مشهور دي غالباً تر ټولو مخکې د دې فن ابتداء سعيد بن جبير وکړه چې عبدالملک بن مروان ترې د تفسير ليکلو غوښتنه وکړه نو ده د عبدالملک په غوښتنه تفسير وليکه د عطاءِ بن دينار په نوم چې کوم تفسير مشهور دی په حقيقت هغه همدا تفسير دی.[1]

(۱) ميزان الاعتدال لامام شعراني

لنډه دا چې تفسیر د تدوین شکل اختیار کړ هغه د اموي خلافت له وروستیو څخه واخله د عباسي خلافت تر اولنیو وختونو پورې د تفسیر د تدوین او لیکلو دور بلل کیږي ،د تدوین تر زمانې مخکې ټول تفسیري روایات د احادیثو په کتابونو کې له نورو احادیثو سره ګډ ول د تدوین له مرحلې سره تفسیري روایات له نورو احادیثو څخه جلا او بیل شول او دیو مستقل فن هیئة یې اختیار کړ او د قرآني ترتیب موافق د هر ایت او سورت بیل تفسیر ولیکل شو په دې کې امام ابن ماجه ، ابن جریر الطبري، ابن ابي خاتم ، امام حاکم (رَحِمَهُمُ اللَّهُ)او نورو محدیثینو زیات ونډه لرله دا تفسیرونه د سند له مخې له رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)، صحابه کرامو ،او تابعینو او تبع التابعینو څخه نقل شوي ول په دې کې له مأثوره (نقل شوي تفسیر) پرته نور هیڅ نه ول البته ابن جریر له تفسیري اقوالو له ذکر کولو سره توجیه ذکر کوله .

تفسیر له تدوین څخه وروسته بیا تر ننه پورې

دلته د تفسیر پنځمه مرحله پیل کیږي دا د تفسیر تر ټولو ستره تاریخي دوره ده چې له عباسي خلافت څخه پیل بیا تر ننه پورې تر دې د مخه تفسیر یوازې په تفسیري روایاتو مشتمل و په دې دور کې د عقل او نقل ترمنځ اختلاط راغی ،صرف ،نحو او له عربیت سره تړلي علوم ایجاد شول ، فقهي مسلکونه جوړ شول او علم کلام هم سر راپورته کړ ، په عباسي خلافت کې مسلکي تعصب هم خپل اوج ته ورسېد اسلام ته منسوبو مختلفو جماعتونو خپلو فکرونو او عقایدو ته دعوت پیل کړ ، له منطق او فلسفې سره تړلي کتابونه له یوناني څخه عربي ته وژباړل شول پایله یې دا شوه چې دا ټول علوم له تفسیر سره ګډوډ شول ،چاچې له کوم علم او فن سره تعلق درلود د هغه تفسیر تر هماغه فن او فن پورې محدود پاتې شو لکه نحویانو په خپلو تفسیرونو کې په نحوي مسایلو زور اچولی ولکه امام زجاج او ابو حیان اندلسي ، حکماو او فلسفیانو پکې فلسفې او حکمت ته ځای ورکړ لکه امام فخر الدین الرازي (رَحِمَهُ اللَّهُ) ، موریخینو بیا خپل تفسیرو داسې ولیکل ته به وایې چې قرآن نړۍ ته یوازې د تاریخ لوستلو لپاره نازل شوی دی مبتدعینو د خپلو خوښو بدعتونو په

تائید او حمایت کې اقوال او ویناوې راجمعه کړې لکه له معتزله و څخه زمخشري ،رماني ، جبایي ، له شعیه و څخه طبرسي ، ملاحسن کاشي وغیره.

صوفیانو له قرآن څخه داسې نکتې را وه ایستلې چې د هغوی د مسلک تائید ور څخه کیږي لکه ابن العربي، عبد الرحمن السلمي او داسې نور او فقهاو پخپلو تفاسیرو کې بنه ژور فقهي بحثونه وکړل.

د تفسیر تقسیم په اعتبار د مضامینو

د دې ټولو مضامینو شمېر تقریباً اتیاو ته رسیږي او په هریو بیل بیل کتاب هم لیکل شوی دی.[1] دا تصانیف که څه هم بیشماره دي خو ټول په شپږو دولونو ویشل کیدای شي .

(۱) **فقهي تفسیر:** په دې کې یوازې هغه ایاتونه راوړل شوي چې یوه فقهي مسئله ترې ثابتیږي لکه احکام القرأن د اسماعیل بن اسحاق، احکام القرأن د ابوبکر رازي ، احکام القرأن قاضي یحی بن اکثوم او داسې نور.

(۲) **ادبي تفسیر:** په دې کې د قرأن فصاحت او بلاغت ته پاملرنه شوې او هڅه یې کړې چې اعجاز یې ثابت کړي په دې کې هغه تفاسیر هم شامل دي چې د قرأن د حقیقت او مجاز ، تشبیهاتو او استعاراتو وغیره په اړه لیکل شوي دي .

(۳) **تاریخي تفسیر:** په دې کې د هغو انبیاء علیهم السلام او خلکو د قیصو تفصیل او تشریح وي د کومو قیصو یادونه چې قرأن کړې ده .

(۴) **نحوي تفسیر:** په دې کې د قرأن له نحوي مسایلو څخه بحث شوی دی لکه اعراب القران او داسې نور.

(۵) **لغوي تفسیر:** یعنې د قرأن د مفردو الفاظو معنا او څېړنه کوي لکه مفردات القرأن د امام راغب (رَحِمَهُ اللَّهُ) لغات القرأن د ابوعبیدة او داسې نور .

(۶) **کلامي تفسیر:** په کومو ایاتونو کې چې د عقیدې مسایل وي پر هغې بحث کوي .[2]

---

(۱) الاتقان لعلوم القرأن

(۲) تاریخ التفسیر و المفسرون:۱/۵

لومړی مفسر څوک دی؟

د دې پوښتنې ځواب (چې د قران لومړی مفسر څوک دی) اګر که په ظاهر اسانه ښکاري خو په حقیقت کې دا څه معمولي سوال ند دی چې په څو ټکو به ځواب شي داسې مفسر په ښه کول چې د قرآن ټول تفسیر یې د قرآني ترتیب له مخې کړی وي یوه مُعمّا ده.

ابن ندیم په الفهرست: ۹۹ کې لیکلي چې د ابوالعباس ثعلب په اشاره امام فراه نحوي د «کتاب المعاني» په نوم ذ قرآن یو تفسیر لیکلی و چې د قاهري له دارالکتب څخه د دې لومړی ټوک په کال (۱۹۶۵)میلادي کې چاپ شو دا جلد تر سورة یونس پورې و خو تر دې وروسته بل ټوک نه دی چاپ شوی.

پیښه داسې وه چې عمرو بن بکیر له امیر حسن بن سهل سره اړیکې دلودې ده یو ځل فراه نحوي ته ولیکل چې امیر حسن ځینې وخت د قرآن د تفسیر په سلسله کې له ما څخه پوښتنې کوي او زه یې ځواب نه شم ورکولی، نو ښه به دا وي چې ته په دې اړه یو کتاب ولیکې، نو فراه خپلو شاګردانو او ملګرو ته وویل: راشئ! زه تاسو ته په قرآني تفسیر مشتمل ولیکم شاګردان او ملګري یې راغلل یو کس به تلاوت کاو او ده او فراه به تفسیر کاوه او شاګردانو به یې لیکه تر دې چې مکمل شو.

اوس پوښتنه داده چې موږ په پوره باور داحبره کولی شو چې فراه نحوي (مړ۲۰۷)ھ اولنی کس ده چې د قرآني ترتیت له مخې یې د قرآن پوره تفسیر ولیکه؟

همدا رنګه تر فراه مخکې مفسیرینو د قرآن د مشکلاتو په حل بسنه کړې وه او د قرآن تفسیر یې مفصل نه ولیکلی؟

داسې هیڅکله نه ده د ابن ندیم له پورتنې عبارت څخه همدا خبره بیاوري نه ښکاري.

که څه هم د احمد امین المصري په کتاب «ضحی الاسلام» ۱۴۱/۲: همدې لورته میلان څرګند کړی، دا ځکه چې د فراه کتاب «معاني القرآن» د ترتیب او تدوین له مخې د ابوعبیدة له کتاب «مجازالقرآن» سره تر ډېره حده مشابهت لري نو له دې څخه معلومیږي چې فراه په دې ډګر کې د لومړیتوب تاج نه دی ګټلی.

د سلفو علماو له وینا څخه معلومیږي چې د ټولو ایتونو او سورتونو تفسیر په مکمل ډول له پخوا څخه شروع شوی و د دې کار پیل د دویمي هجري پیړۍ په لومړیو کې نه دی شروع شوی.

ابن ابي ملیکه (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) وایي چې ما ولیدل چې امام مجاهد د ابن عباس رضي الله عنه څخه د قرآن د تفسیر په اړه پوښتنې کولې او له ده سره تخته وه ابن عباس رضي الله عنه ورته ویل چې لیکه یې آن چې امام مجاهد له ابن عباس (رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ) څخه مکمل تفسیر ولیکه[1]

حافظ ابن حجر (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) د عطابن دینار المصري د پیژندنې په سلسله کې په خپل کتاب «تهذیب التهذیب» کې لیکي: احمد بن صالح ویل: عطا بن صالح د مصر له نیکانو څخه و د تفسیر په لړ کې چې له عطا څخه کوم اوقول نقل دي هغه د سعید بن جبیر له کتاب څخه اخستل شوي دي، ده له سعید څخه مخامخ نه دي اوریدلي.

ابو خاتم (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) ویلي عطا ثقه دی مگر تفسیري اقوال یې د سعید بن جبیر له کتاب څخه اخستي دي، عبدالملک بن مروان (مړ ۸۶هـ) سعید بن جبیر (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) د تفسیر په لیکلو گومارلی و چې ده یې امر پوره کړ. عطابن دینار ته دا تفسیر یوځای تر لاسه شوی و ځکه هغه دا تفسیر له سعید څخه مرسلاً روایت کاوه.

له پورتنیو څرگندونو څخه دا حقیقت په ډاگه کیږي چې سعید بن جبیر (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) په قرآني تفسیر مشتمل یو کتاب لیکلی و بیا عطا بن دینار له هغه کتاب څخه تفسیري اقوال نقل کول، دا خبره مشهوره ده چې حجاج بن یوسف سعید بن جبیر د روایاتو د اختلاف له مخې په کال (۹۴یا ۹۵هـ) کې شهید کړ همدې ته په کتو سره ضروري ده چې سعید بن جبیر دې دا کتاب د مروان تر مرگ (۸۶هـ) مخکې تالیف کړی وي.

دا رنگه په وفیات الاعیان[2] کې لیکلي چې د معتزله و شیخ عمرو بن عبید له حسن بصري (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) څخه په روایت یو تفسیر لیکلی و کشهوره ده چې حسن بصري (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) په (۱۱۶هـ) کې وفات شوی وو.

---

(۱) تفسیر ابن جریر الطبري :۳۰/۱

، وفیات الاعیان :۳/۱

دغه راز تر دې مخکې ابن جریج (۱۵۰ه) په درې ضخیمو جلدونو کې یو تفسیر لیکلی و چې محمد بن ثور ترې روایت کړی و.

له دې ټولو ځرګندونو جوتیږي چې د تفسیر د لیکلو په میدان کې فراه اولیت نه لري بلکې تر ده دمخه د دې کال د بنسټ ډېره اینبودل شوي وه خو د ځېړنې له مخې مورږ د دې خبرې له په ډاګه کولو عاجزیو چې په اصل کې دا نیکمرغي د چا په برخه شوي وه !!!

فایدة جلیلة

متقدمین او متأخرین چاته وایي؟

په صحابه کرامو کې متقدمین او متأخرین

لومړی: کو مو صحابه کرامو چې له هجرت څخه مخکې ایمان راوړی هغوي ته متقدمین ویل کیږي او کومو چې له هجرت څخه وروسته ایمان راوړی هغوی ته متأخرین ویل کیږي.

دویم: کومو صحابه کرامو چې له صلحې حدیبیې نه مخکې ایمان راوړی هغوی ته متقدمین ویل کیږي او کومو چې له صلحې حدیبیې نه څخه وروسته ایمان راوړی هغوی ته متأخرین ویل کیږي.

دریم: کومو صحابه کرامو چې له فتحې د مکې نه مخکې ایمان راوړی هغوی ته متقدمین ویل کیږي او کومو چې له فتحې د مکې څخه وروسته ایمان راوړی هغوی ته متأخرین ویل کیږي.

فقهاؤ کې متقدمین او متأخرین

لومړی: علامه عبد الحی الکهنوي فرمایي: کومو فقهاو چې د امام ابوحنیفه (رَحِمَهُ اللَّهُ) او د صاحبینو، امام زفر او حسن بن زیاد زمانه موندلې ده هغوی ته متقدمین فقهاء وایي او له دوی څخه را په دېخوا فقهاء متأخرین دي: لکه امام جصاص، امام سرخسي او امام سمرقندي (رَحِمَهُمُ اللَّهُ).[1]

دویم: د امام محمد (رَحِمَهُ اللَّهُ) تر زمانې پورې فقهاء متقدمین دي له دغې زمانې څخه را په دېخوا فقهاء متأخرین دي.

(۱) النافع الکبیر لمن یطالع الجامع الصغیر

دريم: حافظ شمس الدين الذهبي (رَحِمَهُ اللّٰهُ) وايي چې تر دريمې صدۍ پورې فقهاء و ته متقدمين ويل کيږي او له دې څخه را په دېخوا فقهاء متأخرين ويل کيږي.

په مفسرينو کې متقدمين او متأخرين:

له تبع التابعينو څخه مخکې مفسرينو ته متقدمين ويل کيږي او له دوي څخه ورسته مفسرينو ته متأخرين ويل کيږي.

محدثينو کې متقدمين او متأرين:

(۱)..علامه ابن الصلاح (رَحِمَهُ اللّٰهُ) فرمايي: کوم محدثين چې د احاديثو تصحيح کولی شي هغوی ته متقدمين ويل کيږي او کوم چې دغه قوت نه لري هغوی متأخرين دي.[۱]

(۲)..محدث عصر علامه عبدالفتاح ابوغدة (رَحِمَهُ اللّٰهُ) فرمايی : له (۴۵۰هـ) نه مخکې علماء متقدمين دي له دې څخه ورسته متأخرين دي.[۲]

(۳)..علامه ابن حجر (رَحِمَهُ اللّٰهُ) فرمايی : له (۲۲۰هـ) نه مخکې د متقدمينو دور و او له دې څخه روسته متاخرين دي او دی له دې حديث څخه استدلال کوي : خير القرون قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم . لومړی قرن د ضحابه کرامو دی دويم د تابعينو او دريم د تبع التابعينو تر ټولو روستی تابعي په (۲۲۰هـ) کې وفات شوی.

(۴)..علامه صاوي (رَحِمَهُ اللّٰهُ) فرمايي: له (۵۰۰هـ) مخکې متقدمين دي او دېنه ورسته متأخرين دي.

(۵)..امام ابن عساکر (رَحِمَهُ اللّٰهُ) فرمايي: تر (۳۱۰هـ) پورې د متقدمينو دور و له دينه وروسته متأخرين دي دی هم له دې حديث څخه استدلال کوي:

خير القرون قرني ثم الذين يلونهم ثم الذين يلونهم. فرمايی: يو قرن سل کاله وي او په حديث کې درې قرنه ذکر شوي او دا حديث رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د هجرت لسم کال سره

(۱) مقدمة ابن الصلاح (معرفة انواع علوم الحديث)

(۲) التعليقات الحافلة على الاجوبة الفاضلة لشيخ عبدالفتاح ابوغدة

قريب ويلى دى نو لومړى پ (۱۱۰هـ) پوره كيږي او دا قول علماؤ راجح هم ګرځولى . د يادونې وړ ده چې له دينه عام علماء مراد دي

په فلاسفه وكې متقدمين او متأخرين

د فلسفي له عربۍ ته اوړېدلو مخكې (د خليفه مامون الرشيد تر زمانې) فلاسفه و ته متقدمين ويل كيږي او له دوى څخه وروسته متأخرين دي . (۱)

په مناطقه وكې متأخرين او متقدمين

د امام فخرالدين الرازي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) تر زمانې منطقيانو ته متقدمين او له دغې زمانې ورسته مناطقه متأخرين بلل كيږي خپله امام الرازي رحمه په متأخرينو كې دى (۲)



(۱) مارب الطلبة : ۷۵ (بيت العلم)

(۲) حاشيه يحكروزي على ايساغوجي :۲ (حقانية)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

داكتاب د تفسير په فن کې ليکل شوی او په هر فن کې د شروع کولو څخه مخکې د اووه (۷) شيانو پيژندل ضروري وي.

چې په دې اووه (۷) شيانو کې درې (۳) دوجوب او څلور (۴) داستحباب په مرتبه کې دي.

(۱) د تفسير تعريف (۲) موضوع دتفسير (۳) غايت دتفسير (۴) مابه الاستمداد (۵) حکم (۶) مرتبه (۷) دمصنّف مختصر حالات.

(۱) د تفسير تعريف:

لغوی معنی: تفسير صيغه دمصدر ده دباب دتفعيل څخه د فَسّر يُفسّرُ څخه په معنیٰ د کشف او وضاحت.[۱]

امام راغب اصفهاني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) فرمائي چې په کومه صيغه کې د -ف-س-ر-ماده وي په هغې کې به دکشف معنیٰ وي لکه - والصبح اذا اسفر - [۲] اوسفر ته هم ځکه سفر وائي چې په ديکې احوال العالم او اخلاق النّاس منکشف کيږي.

امام راغب (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) داهم فرمايلی دي چې فسر دسفر څخه مقلوب (عکس) دی لکن ددواړو په مابين کې فرق دادی چې سفر دکشف الاعيان لپاره استعماليږي او فسر دکشف المعانی لپاره استعماليږي[۳].

اصطلاحي معنی:

دتفسير اصطلاحي تعريفونه ډير دي لکن داعتماد وړ پکې دوه (۲) تعريفه دی:

لومړی: د جمهورو

دوهم: دعلامه تفتازاني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ)

---

(۱):- لسان العرب: ۱ / ۳٦۱ ، والقاموس: ۲ / ۱۱۰ ،

(۲):- سورة المدثر آية - ۳٤ ،

(۳):- المفردات القرآن: ٤۹٥ ، للامام الراغب الاصفهاني

دجُمهورو تعریف:

علمٌ باصول یعرف بها معانِي کلام لله علیٰ حسب الطّاقةِ البشریّة.

ترجمه: دایو علم دی په قواعدو چې پیژندلی شي په دې سره معنی ګاني دکلام د الله جلّ جلاله په اندازه دطاقت بشري.

دعلامه تفتازاني (رَحِمَهُ اللهُ) تعریف: هوالعلم الباحث عن اصول کلام الله من حیث الدلالة علی المراد.

ترجمه: دا یو علم دی چې بحث کوي له اصولو او قواعدو دکلام الله څخه له حیثیت ددلالت نه په مراد باندې.

فرق په مابین دتفسیر او تأویل کې

په دیکې مشهور څلور قوله دي:

(۱).. ابو عبیده (رَحِمَهُ اللهُ) فرمائي چې تفسیر او تاویل دواړه متراف دي.[۱]

(۲)..امام راغب اصفهاني (رَحِمَهُ اللهُ) پکې دوه فرقه کوي.

لومړی: داچې د تفسیر استعمال په الفاظو اومفرداتو کې کیږي اودتأویل استعمال په معانیو او جملو کې کیږي.

دوهم: داچې تفسیر عام دی په کتب الهیه وو او غیر الهیه وو دواړو کې مستعملیږي اوتأویل خاص په کتب آلهیه وو کې مستعملیږي.

(۳).. ابو منصور ماتریدي (رَحِمَهُ اللهُ) فرمائی چې تفسیر دیته وائي په کوم کې چې په قطعی طریقه باندې دالله (جَلَّ جَلَالُهُ) دمراد تعین وي اوتأویل عبارت دی له ترجیح داحد المحتملات څخه[۲].

(٤).. وقیل التّفسیر ما یتعلّق بالرّوایة والتّأویل مایتعلّق بالدّرایة[۳]

(۱):- الاتقان في علوم القرأن: ۲/ ۱۷۳،

(۲):- الاتقان في علوم القرأن: ۲ / ۱۷۳،

(۳):- الاتقان في علوم القرأن: ۲/ ۱۷۳،

(٥).. چا ويلي چې دقرآن دمعنیٰ تعين که له روايت څخه شوی وي دا تفسير دی او که درأيت څخه شوی وي دا تأويل دی.

(٦)..او چا ويلي چې کومه معنیٰ له عبارت نه معلومه وي هغه تفسير ده او کومه چې په اشاره سره معلومه شوی وي هغه تأويل ده خو دا دمتأخرينو اقوال دي [۱].

(۲) موضوع د تفسير:

دعلم التفسير موضوع ده «الايات القرآنية من حيث فهم المعاني».

(۳) غرض د تفسير:

د علم التفسير غرض: «الفوز بسعادة الدّارين: والمراد من الدّارين الدّنيا والآخرة»: کاميابۍ په دنيا کې داده چې اوامر اونواهي معلوم شي داوامرو امتثال وشي او دنواهيو څخه اجتناب وشي اوپه آخرت کې کاميابي داده چې جنت ته داخل اوله جهنّم څخه نجات پيدا کړی: دا امور دوجوب په مرتبه کې دي.

(۴) مابه الاستمداد:

يعنې هغه علوم چې له هغوئ څخه په فن دتفسير کې کومک اومرسته اخستل کيږي هغه څلور دي په هغه ترتيب په کوم چې د حضرت معاذبن جبل (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) حديث دلالت کوي کله چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يمن ته ليږلو ورته ئې وويل معاذه! په څه به فيصلې کوې هغه ورته وويل [۲]

(۱) بكتاب الله كما يقال انّ القرآن يفسّر بعضه بعضاً.

(۲) بسنّت الرّسول الله صلّى الله عليه وسلّم لکه امام شافعي (رَحِمَهُ اللهُ) فرمائي: كلّ ماحكم به رسول الله صلّى الله عليه وسلّم فهو ممّا فهمه عن القرآن.

---

(۱):- روح المعاني: ۱ / ٤،

(۲):- حدثنا حفص بن عمر.. انّ رسول الله صلّى الله عليه وسلّم لمّا اراد ان يّبعث معاذاً الى اليمن قال كيف تقضى اذا عرض لک قضاء؟ قال اقضى بكتاب الله قال فان لّم تجد فى كتاب الله ؟ قال فبسنّة رسول الله صلّى الله عليه وسلّم قال فان لّم تجد فى سنّة رسول الله صلّى الله عليه وسلّم ولا فى كتاب الله ؟ قال اجتهد رأيي... سنن ابى داؤد:۲/ ۱۵ ، رقم الحديث ۳۵۹۲.

(٣) باثار الصحابة والتابعين فيقدم الاعلم كالخلفاء والعبادلة په اثار د صحابه وكي په اول دهغه صحابه وو قول مقدم وي كوم چې په نورو زيات علم لري لکه خلفاء الراشدين او عبادله اربعه لکه عبد الله بن مسعود (رضي الله عنهما) ما عبد الله بن عباس (رضي الله عنهما) عبد الله بن عمر (رضي الله عنهما) او عبد الله بن زبير (رضي الله عنهما).

(٤)..دعربى النسل فصحاء وو كلام.

(٥) حكم د علم التفسير:

په ټولو كتب سماويه وو باندې اجمالي علم لرل فرض عين ده.

او په قرآن كريم باندې هم په دى حيثيت چې مونږ ددې داحكامو په امتثال باندې مكلف يو.

اوتفصيلي ايمان پرى فرض كفائي دى ځکه چې تفصيلي ايمان فرعه دعلم ده اوس كه تفصيلي ايمان هم فرض عين شي نو تفصيلي علم به هم فرض عين شي اوكه تفصيلي علم فرض عين شي نو زرائع دمعاش به معطل شي.

(٦) **مرتبه د علم التفسير:** مرتبه دعلم التفسير دټولو علومو څخه اوچته ده ځکه شرافت دعلم په اعتبار شرافت دمعلوم سره وي او دعلم التفسير معلوم دټولو معلومات څخه اوچت او عالي دى چې هغه مردا دكلام الله دى حضرت عبد الله بن عباس (رضي الله عنهما) د يؤتى الحكمة ترجمه په علم التفسير سره كوي فرمائي چې، (معرفة الناسخ والمنسوخ والحلال والحرام).

واضع دعلم التفسير:

دعلم التفسير واضعين الراسخون فى العلم من عهد النبى صلى الله عليه وسلم الى ههنا على التحقيق.

(٧) دمصنف مختصر حالات:

نوم او نسب: ابو الخير ناصر بن عبد الله بن عمر بن على بن محمد بن على (رحمه الله).

استوګنځى: قاضي بيضاوي اصل كې دپارس يعنې دايران وو اوپه شيراز ښار كې ئې دقاضي په حيث دنده ترسره كوله څه موده پس دقضاء څخه معزول كړى شو بيا يوبل ښار ته لاړ هلته ددۀ يو پير اوسيده چې ددې پير خواته وزير هم اوسيده نو قاضي بيضاوي (رحمه الله) دا اراده

وکړه چې دا پیر دې وزیر ته واسطه کړم او بیرته په خپل منصب وګومارل شم په دغه قریه کې یوه درسګاه وه دی هم هلته ورغی او په درس کې کښیناست د دغه استاذ طریقه داوه چې اول به ئې اعتراضات وکړل بیا به ئې په طالبانو تیرول له دې نه پس به ئې جوابات کول استاذ د اعتراضاتو نه پس وویل چې څوک به دا اعتراضات واوروي نو قاضي بیضاوي پاڅیده د ټولو اعتراضونو جوابونه ئې وکړل استاذ ورته وویل چې اول به اعتراضات معاد کوې بیا به جوابات کوي نو ده ورته په هماغه ترتیب اعتراضات هم معاد کړل په دې درس کې وزیر هم ناست وو د قاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللّٰهُ) ذهن ته حیران شو بیا دغه وزیر ورته د ډوډۍ دعوت ورکړ چې ډوډۍ ئې اوخوړه وزیر ترینه پوښتنه وکړه چې څوک ئې او چیرته ځې ده ورته وویل چې په شیراز کې قاضي وم له خپلې دندې ئې معزول کړم تاپسې راغلی یم چې بیرته خپل منصب ته لاړشم وزیر ورته وویل چې الله دومره لوی دولت درکړی او ته ادنیٰ پسې ګرځې.

له دینه پس خپل پیر ته راغی له هغه ئې د منصب خواست وکړم هغه وزیر ته وویل چې دا عالم ستاسره ځان په جهنم کې یو ځای کول غواړي قاضي (رَحِمَهُ اللّٰهُ) وویریدلو او د قضاء له منصب څخه تیرشو او د دې تفسیر لیکل ئې پیل کړل.

بیضاء: بیضاء په پارس کې دیو دري نوم دی دې درې سره یوه سپینه مانۍ وه د دغې علاقې خلکو به ورته قصر سفید ویلې او دې درې ته به ئې هم قصر سفید ویلې او اطرافو ته به ئې بیضا ویلې.

وفات: د قاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللّٰهُ) په وفات کې دوه قوله دي:

(۱) تاج الدّین سبکي صاحب د طبقات الکبریٰ وائې چې په سنة (۶۸۵) هجري کې په مقام تبریز کې وفات شو.

(۲) بعضو دا ویلي چې په سنة (۶۸۲) هجري کې وفات شو خو اول قول راجح دی.

تصانیف: (۱) شرح المصابیح په علم حدیث کې (۲) منهاج الاصول او شرح منهاج په اصول فقه کې (۳) شرح مرصاد الافهام الی مبادی الکلام لابن حاجب صاحب الکافیة (۴) طوابع الانوار او مختصر کشاف په علم کلام کې (۵) مختصر الوسیط یعني غایة القصوىٰ په فقه شافعي کې (۶)

مصباح الارواح په اصول الدّين كې (۷) شرح مطالع په منطقو كې (۸) منتهى المعنى بشرح اسماءالحسنى (۹) لبّ الالباب فى علم الاعراب (۱۰) نظام التّواريخ (۱۱) انوار التّنزيل واسرار التّاويل يعني تفسير بيضاوي دقاضي بيضاوي (رَحِمَهُ اَللّٰهُ) دتبحّر علمي اندازه له دي تفسير نه معلوميږي.

پنځه ضروري بحثونه: تفسير بالرأية

(۱)..هل يجوز التفسير بالرّأى:

ترجمه: آيا تفسير په رأئې سره جائزدى؟

دتفسير بالرّاى معنىٰ داده چې يو شئ په كتاب الله وسنّت الرّسول الله (صَلَّى اَللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) اوپه اثارو د صحابه وو رضوان الله عليهم اجمعين كې پيدا نشي.

نو اوس ايا مجتهد پخپله رأيه باندې ددى معنىٰ بيانولى شي او كه نه؟ دې كې دوه (۲)مذهبه دى.

(۱) مذهب بعضى علماء فرمائي چې تفسير بالرّأيه ناجائزدى اود دوى لپاره دوه (۲) دلائل دي.

لومړى دليل: قال رسول الله صلّى الله عليه وسلّم من تكلّم فى القرآن برأيه فاصاب فقد اخطأ[۱]

ترجمه: چاچې خبرې وكړې په قرآن كې په خپله رأيه او حق ته ورسيد په تحقيق سره دى خطاء شو.

دوهم دليل: قال رسول الله صلى الله عليه وسلّم من قال فى القرآن بغير علم فليتبوّأ مقعده من النّار[۲]

ترجمه: چاچې په قرآن كې بې له علمه خبرې وكړې نو تيارى دې وكړى ځاى داوسيدو له اورنه.

دوهم مذهب: جمهور علماء فرمائي چې تفسير بالرّأيه جائز دى او ددې لپاره ډير دلائل پيش كوي.

---

(۱):- حدثنا عبدالله بن محمد.. حدثنا ابو عمران عن جندب قال: قال رسول الله صل الله عليه وسلم من قال فى كتاب الله فأصاب فقد اخطأ: سنن ابى داؤد كتاب العلم: ٤ / ٤٣. رقم الحديث ؟٣٦٥٢ وفى روايت جامع الترمذي من قال فى القرآن: ٥ / ٦٦.. رقم الحديث ٢٩٥١؟.

(۲):- حدثنا محمودبن غيلان... عن ابن عبّاس قال: قال رسول الله صلّ الله عليه وسلّم من قال فى القرآن بغير علم فليتبوّأ مقعده من النّار: جامع الترمذي: ٥ /٦٥.. رقم الحديث ٢٩٥٠؟، ورواه احمد فى مسنده: ٣ / ٤٩٦ رقم الحديث ٢٠٦٩؟،

اول دليل: قال الله تعالى : (وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهُ مِنْهُمْ) [1]

ترجمه: كه دوى دامتنازع فيها مسئله واپس كړې وائى رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته او مجتهدينو ته نو ددى په ترجمة به مجتهدين پوهه شوى وائى.

دوى ته الله جلّ جلاله فرمائى چې كوم ايات په ترجمه نه پوهيږى نو رسول الله صلى الله عليه وسلم او مجتهدينو ته ئى واپس كړئ مجتهد ددى په معنى پوهيږي.

دوهم دليل: قال الله تعالى (كتابٌ اَنْزَلْنَاهُ اِلَيْک مُبَارَک لِيَدَّبَّرُوْا اٰيَاتِهِ وَلِيَتَذَكَّر اُولُو الْبَاب.) [2]

ترجمه: دا قرآن داسې يو عظيم كتاب دى چې ما نازل كړى ددې لپاره چې ددې په اياتونو كې (سوچ او فكر) وكړئ، او خاوندان دعقل ترينه پند اونصيحت والي.

دې آيت كې الله جلّ جلاله مسلمانانو ته په اياتونو كې دسوچ او فكر دعوت وركړى اودا تفسير بالرآيه ده.

دريم دليل: عن ابن عبّاس رضى الله عنهما القرآن ذلولٌ ذُو وُجُوه فاحملوه على احسن وجوهه [3] وحسن الوجه يدرک بالرّأى.

ابن عبّاس (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) فرمائي قرآن نرم كتاب ذې خاوند د ډيرو وجوهو (دډيرو وجوهو احتمال لرى) تاسو ئي ورحمل كې په خايسته وجه، اودحسن الوجه ادراک په رأى سره كيږي.

---

(۱):- سورة النّساء : ۸۳،

(۲):- سورة ص: آية- ۲۹،

(۳):- حدثنا محمد بن مخلد ... عن ابن عبّاس قال: قال لِى رسول الله صلّى الله عليه وسلّم القرآن ذلولٌ ذو وجوه فاحملوه على احسن وجوه. رواه دارقطني قال ابن الاثير فى نهاية الذّلول من الذّل بالكسر، ضد الصعب.

دجمهورو لخوا بعضو علماو ته جوابونه

(۱).. **جواب**: جمهور دبعضوعلماو له اولني دليل ځخه جواب کوي هغه دا چې دفقد اخطأ معنیٰ داده فقد اخطأ الطّریق لمخالفة التّرتیب.

ترجمه: يعنې څوک چې په قرآن کې خبرې کوي په خپله رأيه نو دا خطاء دی له وجې د مخالفت دترتیب نه ځکه ترتیب خودادی چې اول به کتاب الله ته ځې بیابه سنّت رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته ځې بیابه اثارالصّحابه ته ځې که دی ټولو کې دغه معنیٰ پیدا نشوه بیا به تفسیربالرّأيه کوی، نوکه څوک پرته له دغه ترتیب تفسیر بالرّأيه کوي دا خطاء دی ځکه چې د ترتیب لحاظ نه ساتي.

(۲).. **جواب**: دبعضوعلماو دوهم دليل دا و (من قال فی القرآن الخ) له دینه جمهور داسې جواب کوي چې: من قال فی القرآن ای فی مشکل القرآن او فی مجمل القرآن.

ترجمه: يعنې چاچې په مشکلاتو او مجملاتو دقرآن کې خپله رأيه استعمال کړه ځکه ددې مشکلاتو او مجملاتو تفسیر به دمتکلّم اوشارع نه اخستلی شي او ده پکې خپله رأيه استعمال کړه نو (فلیتبوّأ مقعده من النّار).

(۲) دمحکم اومتشابه تعریف

محکم:

لومړی تعریف: ماعرف المراد منه امّا بالظّهور او بالتّأويل.

ترجمه: هغه چې پیژندلی شي مراد يې يا په ظهور (قبل التّأويل) سره او یا په تأويل سره.

دوهم تعریف: مالایحتمل من التّأويل الّا وَجْهاً واحداً.

ترجمه: محکم هغه دی چې احتمال نلري له تأويل نه مګر يوه وجه (احتمال ديوی وجی پکې وي).

متشابه:

لومړی تعریف: متشابه هغه دی چې الله جلّ جلاله د هغې ترجمه تر خپل علم پورې خاص کړې وي.

دوهم تعریف: (المتشابه مَا احتمل أوجهاً).

ترجمه: متشابه هغه دی چې ددیرو وجوهو احتمال پکې وي.

په محكم او په متشابه كې اختلاف

دعلماوو په دې كې اختلاف دى چې آيا دقرآن ټول آياتونه محكمات دي او كه ټول متشابهات دي او كه بعضې محكمات دي او بعضې متشابهات دي نو په دې كې درې مذهبه دي.

اول مذهب: دا وائي چې دقرآن كريم ټول آياتونه محكمات دي او دليل دا وائي قال الله تعالى (كتابٌ أُحكِمَتْ أياته)﴿۱﴾

ترجمه: يعنې دقرآن كريم ټول آياتونه محكمات دي.

دوهم مذهب: دا وائي چې دقرآن كريم ټول آياتونه متشابهات دي او دليل دا وائي: قال الله تعالى (كتابًا متشابهًا)﴿۲﴾

دريم مذهب دجمهورو:

دا وائى چې دقرآن بعضې آياتونه محكمات دي او بعض متشابهات دي دليل دا وائي (مِنْهُ آيَاتٌ مُحكَمَاتٌ هُنَّ امّ الكتاب وأُخرُ متشابهات).﴿۳﴾

ترجمه: يعنې بعضې آياتونه دقرآن محكمات دي او بعض متشابهات دي او داراجح هم دى او هغه دوه مذهبونو ته داسې جواب كوي.

(۱).. **جواب**: چې دلته له اِحكام نه احكام اصطلاحي نه دي مراد بلكې لغوي مراد دي چې اتقا او مضبوط والى دى أُحْكِمَتْ آيَاتُهُ يعنې مضبوط دي آياتونه دقرآن تناقض پكې نشته دفصاحت او بلاغت نه خالي نه دي

(۲) **جواب**: د دوهم مذهب له دليل نه جواب ددوئ دا دليل داو (كتابًا متشابهًا) چې له متشابه نه متشابه اصطلاحي ندى مراد بلكې متشابه لغوي مراد دى چې تماثل (مشابهت) دي كتابًا متشابهًا داقرآن داسې كتاب دى چې آياتونو كې ئې تماثل او مشابهت دى چې ټول معجز

---

(۱):- سورة هود: ۱،

(۲):- سورة الزمر: / ۲۳،

(۳):- سورة آل عمران:/ ٦،

دي ټول په اعلیٰ درجه دفصاحت اوبلاغت کې دي ټول د تردُد او تناقض نه خالي دي مصد ق دمتشابهاتو حروف مقطعات دي او هرچه صفات ذاتيه دالله جلّ جلاله دي لکه (۱) علم (۲) حيات (۳) قدرت (۴) اراده (۵) سمع (۶) بصر (۷) کلام (۸) تکوين (کما في شرح العقائد) دا صفات له متشابهات څخه نه دي ځکه ددې معنیٰ کلي معلومه ده لکه د سمع معنی ده ادراک المسموعات او د بصر معنی ده ادراک المبصرات.

له دی صفاتو ذاتيو څخه ماسوا چې کوم صفات دي لکه يدالله فوق ايديکم، الرّحمٰن علی العرش استوی همدارنګه لکه د صحيح مسلم حديث دی عبدی جُوعتُ فلم تطعمنی[1].

ترجمه: اې زمابنده زه وږی وم تا ماته ډوډی رانه کړه دا صفات له متشابهاتو څخه دي يعني د دې معنی الله جلّ جلاله ته معلومه ده بل هيچا ته معلومه نده.

دمتشابهاتو په معانيوکې اختلاف

دمتشابهاتو په معناګانو باندې علماء پوهيږي او که نه؟

د جمهور علماءو رايه:

جمهور وائي چې دمتشابهاتو په معناګانو يوازې الله جلّ جلاله پوهيږي بل هيڅوک پرې نه پوهيږي.

د بعض علماءو رايه:

بعضې علماء وائي چې دمتشابهاتو په معناګانو راسخين علماء هم پوهيږي.

خو اصل اختلاف په دې آيات کريمه کې دی(وما يعلم تأويله الّا الله والرّاسخون فی العلم يقولونه امنّابه) [2].

---

(۱) :- حدثنا محمد بن حاتم ... عن ابی هريرة قال. قال رسول الله صلی الله عليه وسلّم انّ الله عزّ وجلّ يقول يوم القيامة يا ابن آدم مرضتُ فلم تعدنی قال يا ربّی کيف أعُود وانت ربّ العالمين ؟ قال اما علمتَ انّ عبدی فلانًا مرضَ فلمْ تعده اما علمتَ انّک لوعدتَه لوجدتنی عنده يا ابن آدم استطعمتک فلم تطعمنی قال ! يا ربّ وکيف اطعمک وانت ربّ العالمين قال اما علمت انّه استطعمک عبدی فلان فلم تطعمه اما علمت انک لو اطعمتک لو جدتَ ذالک عندی . . صحيح مسلم کتاب البرّ والصلّة:۱۳/۸ رقم الحديث ۲۵٦۹ .

(۲) :- سورة آل عمران.

جمهور علماء وائي چې واو په والرّاسخون کې استنافیه دی او یقولونه د والرّاسخون لپاره خبردی نو معنی داشوه چې نه پوهیږي په معنی ددې مګر یو الله او راسخین علماء وائي مونږ ایمان راوړی په دې متشابهاتو باندې.

بعضي علماء: وائې چې داواو عاطفه ده اویقولون حال دی نومعنی دا چې الله جل جلاله او راسخین علماء ددې په ترجمه او معنی پوهیږي په حال کون دراسخینو کې چې دوی وائې امنّا بِه مونږ ایمان راوړی په دې متشابهاتو؛ خو راجح قول دجمهورو ده چې دا واو استنافیه شي او والرّاسخون مبتداء شي

او یقولونه ورته خبرشي ځکه دلته دعبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) او عبدالله بن عباس (رضي الله عنه) بل قرائت دی هغه دا (وما یعلم تأویله الّا الله ویقول الرّاسخون فی العلم)[1] اوپه دې قرائت کې واو استنافیه[2] متعین دی.

(۳) قِدَم او حدُوث دقرآن

قرآن قدیم دی او که حادث ؟

دا مسئله مؤرّخین په فتنه خلق القرآن سره یاده وي یادې مسئلې دخلیفة مأمون الرّشید په زمانه کې زور واخیست اوپه خپله مأمون هم معتزلو په خلق او حدوث دقرآن قانع کړی ؤو نو ځکه مأمون په یاده مسئله کې ډیری علماء شهیدان او ځینې ئې زندانونو ته واچول تردې چې دوخت ستر امام اومحدث احمدبن حنبل (رحمه الله) پکې په دورو ووهل شو په دې مسئله کې دوه مذهبه دي.

(۱):- قال عبدالرّزاق : انبأنا معمر عن ابن طاؤس عن ابیه قال: کان ابن عبّاس یقرأ وما یعلم تأویله الّاالله ویقول الرّاسخون امنّا به ، المصنّف لعبدالرّزاق وکذا رواه ابن جریر عن عمربن العزیز ورواه قرائت ابن مسعود ایضًا.

(۲) واو په دوه قسمه دی واو اسمي او واو حرفي واو اسمي هغه ضمیر دجمعي دی چې دجمعو په صیغو کې راځي بیا واو حرفي په شپږ قسمه ده (۱) واو عطف (۲) واو معیة (۳) واو اشباع (٤) واو قسم (٥) واو حال (٦) واو استناف او دیته واو ابتداء هم وایي دا هغه واو دی چې له دې څخه د وروسته جملې له ماقبل سره معناً او اعراباً هیڅ تعلق نه وي.

د اهل السنّة مذهب

اهل السنة والجماعة وائي چې قرآن قدیم دی.

د معتزله مذهب

معتزله وائي چې کلام (قرآن) حادث دی.

د معتزله د خپلې دعوې لپاره دوه دلیله وایي:

لومړی دلیل: قال الله تعالی : (اللهُ خَالِقُ كُلِّ شيءٍ)[1]

ترجمه: الله جل جلاله د هر شي خالق دی ، او په هر شي کې قرآن هم شامل دي نو الله جل جلاله د قران خالق هم شو او قران مخلوق شو.

دویم دلیل: دا دی چې کلام مرکب دی له اصواتو او حروفو او له یو خاص ترتیب او دا صفات نه وي مگر په حادث کې وي ځکه اصوات،حروف او دا خاص ترتیب حادث دی نو مرکب له حادث نه حادث وي.

قیاس: لانّ الكلام مركّب من الاصوات والحروف فيها ترتيب وكلّ ماهذا شأنه يكون حادثًا.

نتیجه: فالكلام حادث.

داهل السنة دلیل: دوی کلام په دوه قسمه کوي (۱) کلام نفسي (۲) کلام لفظي کلام نفسي قدیم دی او کلام لفظي حادث دی اصل اختلاف په وجود د کلام نفسي کې دی اهل السنّة په وجود د کلام نفسي قول کوي او معتزله په وجود د کلام نفسي قول نه کوي.

اهل السنّة په وجود د کلام نفسي څو قسمه دلائل وائي:

---

(۱) سورت الرعد :اية ۱٦

(۱) **قرآني دلائل:**

(۱) قال الله تعالى: فَاَسَرَّهَا يُوسُفُ فِىْ نَفْسِهٖ وَلَمْ يُبْدِهَا لَهُمْ قَالَ اَنْتُمْ شَرٌّ مَّكَانًا[۱]

(۲) قال الله تعالى: وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِى نَفْسِكَ[۲]

(۳) قال الله تعالى: مَاتَعْلَمُ مَافِى نَفْسِى وَلَا اَعْلَمُ مَافِى نَفْسِكَ.[۳]

(۴) قال الله تعالى: وَيَقُولُوْنَ فِى اَنْفُسِهِمْ.[۴]

(۲) **احاديث نبويّة:**

(۱) حديث امّ سلمة: فى الطبرانى فى رجل سأل النّبى صلّى الله عليه وسلّم قائِلًا انّى لاحدث نفسى بالشئ لوتكلّمت به لاحبطت اجري فقال النّبى صلّى الله عليه وسلّم لايلقى ذالك الّا مؤمنٌ.(۵)

ترجمه: ام سلمه (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا) د يو سړي په باره کې فرمايي چې نبي (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته يې وويل ماته په نفس(زړه) کې يو څه خبرې راځي که په ژبه يې ووايم نو ټول اعمال به مې باطل شي رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ورته وويل دا ته ېښېږي مګر مؤمن ته.

(۲) عن ابى هريرة: رضى الله عنه قال: قال النّبى صلّى الله عليه وسلّم يقول الله تعالى آنَا عند ظنّ عبدى بى وآنَا معه اذا ذكرنى فانْ ذكرنِى فى نفسه ذكرته فى نفسى.(۶)

ترجمه: ابوهريرة (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) وايي چې رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمايلي چې الله (جَلَّ جَلَالُهُ) وايي زه د خپل بنده په ګمان يم او چې کله مې يادوي زه له خپل بنده سره يم او که په نفس (زړه) کې مې يادوي زه يې هم په نفس کې يادوم.

---

(۱):- سورة يوسف: آية ۷۷،

(۲):- سورة اعراف: آية ۲۰۵،

(۳):- سورة المائدة: آية ۱۱۶،

(۴):- سورة المجادلة: آية ۸،

(۵):- المعجم الطبرانى: ۱/ ۲۲۲ رقم الحديث ۲۵۶،

(۶):- صحيح البخارى ۲/ ۱۲۱ رقم الحديث ۷۴۰۵.

(٣) **دليل**: قال عمر رضي الله عنه اني زورت فى نفسى مقالة وكثيرًا مَا تقول لصاحبك انّي فى نفسى كلامًا اريدان اذكره لك[١].

(٣) **دليل: البداهة**:

فانّ الوجدان شاهد بوجودالتصوّر الجمالى قبل الكلام.

ترجمه: بيشكه وجدان شاهد دى په وجود دتصوّر اجمالي مخكې له كلام نه.

(٤) **دليل**: انّ الكلام لفى الفؤاد وانّماجعل اللّسان على الفؤاد دليلًا:[٢]

ترجمه: په تحقيق سره كلام په زړه كې وي او ژبه په هغه دليل دى.

د معتزله و له لومړي دليل نه ځواب داسې كوي چې (كل شيء) كې له شى ځخه شىء محدث وَغير الله مخلوق.

او له ديم دليل ځخه يې داسې جواب كوي چې كوم كَلام له حروفو او اصواتو ځخه جوړ دى هغه كلام لفظي دى او كلام لفظي ته موږ هم مخلوق وايو.

(۴) **ضرورت علم تفسيرته**:

علم تفسير ته دضرورت بعض وجوهات دادي.

(١).. قرآن كريم د ژوند قانون او دستور دي او د قانون تعميل لومړى بنه وضاحت او تفسير غواړي.

(٢).. قرآن د الله جل جلاله الفاظ دي او ددې په اسرارو پوهه غير له تفسيره شونې نه ده.

(٣) د قرآن حقائق او دقائق دكمال بلاغت اختصار په وجه وضاحت ته اړتيالري.

(۴) كله بعض شرائط او مكمّلات دظهور له وجې پرېږدي نو ډاخفي شي په غيرباندې.

(٥) كله يو لفظ ډيرو معانيو احتمال لري نو له دې وجې علم تفسير ته اړتيا ده.

---

(١):- شرح العقدئد النّسفية ٩٣ ومثله فى صحيح البخاري بلفظ وكنت قد زورت مقالة اعجبتنى اردت ان أقدمها بين يدي ابى بكر ٢/ ٥٢٠ رقم الحديث ٦٤٤٢.

(٢):- شرح العقدئد النّسفية ٩٣.

(۵) کیفیت نزول القرآن:

دقرآن لپاره دوه نزوله دي.

(۱).. نزول له لوح محفوظ نه اسمان ددنیا ته دفعتًا واحدتًا اودا نزول توفیقي دی.

(۲).. نزول له اسمان ددنیا څخه په رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ) باندې.

بیا په رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ) باندې (۸۲) سورتونه مخکې له هجرت نه او (۳۱) سورتونه روسته له هجرت نه په (۲۳) کالو کې نازل شوي دي.

په مکه مکرّمه کې اول اقرأ (سورت علق) نازل شو او آخري سورت عنکبوت یاسورت مؤمنین یاسورت مطفّفین نازل شو.

بعضې وائې چې سورت فاتحه په مکه مکرّمه کې نازل شوی او بعضې وائې چې په مدینه منوّره کې نازل شوی خو راجح قول دادی چې دا مکرّر نازل شوی دی یوځل په مکه مکرّمه کې او بل ځل په مدینه منوّره کې[۱].

سورتونه په اعتبار دناسخ او منسوخ

سورتونه په اعتبار د ناسخ او منسوخ سره په څلور قسمه دي.

(۱).. هغه سورتونه دي چې په هغې کې ناسخ او منسوخ دواړه وی او دا (۲۵) سورتونه دي.

(۲).. هغه سورتونه دي چې په هغې کې فقط منسوخ وي اودا (۴۳) سورتونه دي.

(۳).. هغه سورتونه دي چې په هغې کې فقط ناسخ وي اودا (۶) سورتونه دي.

(۴).. هغه سورتونه دي چې په هغې کې نه ناسخ وي او نه منسوخ اودا (۴۰) سورتونه دي.[۲]

---

(۱):- الاتقان فی علوم القرآن للامام السیوطی: ۱/ ۵٤،

(۲):- دناسخ او منسوخ په تعداد کې دعلماء اختلاف دی خو مونږ دلته په لنډ دول دومره یادونه کوو چې امام جلال الدّین السیوطی رحمه الله په خپل کتاب الاتقان فی علوم القرآن: ۲ / ۲۲ / ۲۳ - کې ښه وضاحت کړی او امام شاولي الله الدّهلوي رحمه الله په لفوزالکبیر فی اصول التفسیر کې ناسخ او منسوخ آیاتونه له (٤٠) نه تر (٤٦) پورې رانقل کړي د لا ښه وضاحت لپاره هلته لاړ شئ!.

بحث د اعجاز القرآن

قرآن د الله جلّ جلاله يو ه معجزه ده او معجزه صيغه داسم فاعل ده په معنی د عاجز کونکي.

او په اصطلاح کې امر خارق للعادات صادر بيد المدّعی النّبوت.

ترجمه: دا يو امر دی چې خارق العادات (مخالف العادت) صادر شوی دداسې کس په لاس چې هغه دنبوّت دعوه کړي وي.

خوارق: خوارق په شپږ قسمه دي (۱) معجزه(۲) ارهاص (۳) کرامت (۴) معونت(۵) استدراج (۶) اهانت.

وجه دحصر: وجه دحصر په شپږو اقسامو کې داده چې دا امرخارق العادات به خالي نه وي يابه له لاس د مسلمان نه صادر شوی وي ياد کافر نه که لاس دمسلمان نه صادر شوی وي بيابه خالي نه وي يابه دا مسلمان مدّعی دنبوّت وي يابه نه وي که مدّعی دنبوّت وه بيابه خالي نه ئې يابه قبل النّبوت ترينه صادر شوی وي يابعد نبوت که قبل النّبوت وه ديته ارهاص وائې اوکه بعدالنّبوت وه بيا ديته معجزه وائې اوکه دامسلمان مدّعی دنبوّت نه وه بيابه خالي نه وي يابه مؤمن کامل وي يابه نفس مؤمن وي که د مؤمن کامل دلاس نه صادر شوی وي ديته کرامت وائې اوکه دنفس مؤمن دلاس نه صادر شوی وي ديته معونت او اعانت وائې اوکه دلاس دکافر نه صادرشوی وي دا به بيا خالي نه ئې يابه دا امرخارق العادت دده دعوې سره موافق وي يابه مخالف وي که دده دعوې سره موافق وه ديته استدراج وائې اوکه دده له عوې سره مخالف وه نو ديته اهانت وائې د استدراج مثال لکه دجال به خلکو ته وايي چې په تاسو باران راوروم نو اسمان طرف ته به اشاره وکړي په خلکو به باران راوريږي داسې ډير کارونه به کوي لکه جادوګران چې کوم کارونه کوي.

داهانت مثال لکه مسيلمة الکذّاب چې دنبوّت دعوه کړي وه يو کس ورته راغی ورته ئې وويل چې زما دا يوه سترګه ړنده ده دعا راته وکړه چې الله جل جلاله ئې جوړه کړي کله چې ده ورته دعا وکړه نو دا روغه سترګه ئې هم ړنده شوه.

معجزات، عادیات او عجائبات

عادیات: هغه دي چې دداسې اسبابو او امورو سره تعلق لري چې خواص اوعوام ئې ټول پیژني لکه مړیدل داده د وږي دخوړلو پوري تعلق لري.

عجائبات: هغه دي چې دداسې امورو اواسبابو سره تعلق لري چې خواص پرې پوهیږي او عوام پرې نه پوهیږي لکه طیاره په هوا الوتل له داسې اسبابو سره ئې تعلق دي چې عوام پرې نه پوهیږي غیر له خواصو نه.

معجزات: هغه دي چې له اسبابو سره تعلق نه لري لکه ټول معجزات د رسول الله (صَلَّىٰ ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او دکومو شیانو تعلق چې له اسبابو سره دي دهغې مقابله کیدی شي ځکه دا مصنوعات د بنده ګانو دي اوکوم چې داسبابو سره تعلق نه لري دهغې مقابله نشي کیدی ځکه دا خالص قدرت الهي وي نو قرآن هم یوه معجزه چې ترقیامته ئې مقابله نشي کیدی.

وجوه د اعجاز (دلائل اعجاز)

وجهې داعجاز دقرآن ډیرې زیاتې دي هر څوک یوه وجه بیانوي مونږ ئې هم دلته یوڅو دلائل او وجهې بیانوو.

(۱) **بلاغت**: قرآن له داسې الفاظو او جملو څخه جوړ دی چې ددنیا ټول بلغاء او فصحاء ئې حیران کړي اودمقابلې نه ئې عاجز کړي.

توهّم: بعضې خلک دا توهم کوي چې کیدی شي دقرآن مقابله به کیدی شي خو چابه ضروري نه وي ګڼلي ځکه پاتې شوې دی خو دا خبره بیخي غلطه ده ددې داسې مثال دي لکه یوکس له تندې نه مړدی اوبل وائې چې اوبه وې خو ده ضروري نه ګڼلې ضرورت ئې ورته نه وو، هغه له تندې مړدی او ته وائې اوبو ته ئې ضرورت نه وو ، نو کفارو هم دمسلمانانو سره هلته جنګ ته غاړه ګیښوده چې کله دقرآن دمقابلې نه عاجزه شول ورنه دقرآن مقابله خوله جنګ نه اسانه ده کړې به ئې وائې ؟ او ډیر دې مقابلې ته راوتلي هم وه خو دمقابلې توان ئې نه لرلو چې یو له دغې جملې څخه مسیلمة الکذاب وه چې څه جملې ئې له ځانه جوړې کړي وې د وَالذَّاریات ذَرْوًا په مقابله کې

چې څه الفاظ ئې دادي وَالْمبزرات زَرعًا والحاصداة حصدًا وَالزاريات قمحًا والطّاحنات طحنًا والعاجنات عجنًا والخابزات حبزًا والشاردات ثردًا والّا قماة لقمًا اهالة وسمنًا.[۱]

ترجمه: قسم دی په هغه ښځو چې تخونه شيندي لپاره دفصل اوقسم ده په هغه ښځو چې لوونه کوي لو کول دوی را اوباسې وړو لره او قسم په هغه ښځو چې داوړه لمدوی الخ چې کله ئې دالفاظ جوړ کړل اوقرآن سره ئې مقايسه کړل نو خپله ئې ورپورې وخندل چې په دې سره چيرته دقرآن مقابله کيږي هغه خو دفصاحت اوبلاغت نه ډک کلام دی.

(۲) انباءالغيب: دوهم دليل د اعجاز القرآن انباء اوخبر ورکول دي له غيبونه، په دنياکې داسې کتاب نشته چې هغه دغيبو خبرورکړی وي اوهغه بلکل ريښتيا او ددې خبر سره مطابق وي سوا دقرآن نه چې څومره اخبارات ئې له غيبونه ورکړي ترقيامته پورې ټول سل په سله ريښتيادي لکه يو اخبار بالغيب الله جلّ جلاله رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ته ورکه (انّ الّذی فرض عليه القرآن لرآدّوک الی مَعَادٍ)[۲].

ترجمه: بيشکه کوم ذات چې په تا قرآن نازل کړی دی هغه به تا خامخا مکې ته واپس کوي داخبره مخکې دفتحې دمکې نه وه همغسې وشول چې په اتم کال دهجرت ئې مکه فتحه کړه همدغه رنګ الله تعالی فرمائې (انّا اعطينک الکوثرفصلّ لربّک وانحر انّ شانِئک هوالابتر)[۳].

مفسرين فرمائې چې په دې سورت کې څلور مغيبات دي.

(۱) (انّ اعطينک الکوثر) په ديکې کثرت داتباعو ته اشاره ده يعنې اخبار دی دکثرت امت نه اوپه ټولو امتونو کې درسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) امت زيات هم شو.

(۱):- دغسې ئې د الحاقّة په مقابل کې الفيل ماالفيل وَمَا آدراک ماالفيل له ذنب وبيل وخرطوم طويل.. علوم القرآن ص ٤٦ مولانا شمس الحق افغاني رحمه الله.

(۲):- سورة القصص: آية ٨٥ ،

(۳):- سورة الکوثر،

(۲) (وانحر) کې اشاره او اخبار دی مال داري ته چې ته به په قربانۍ باندې قادرشي همدغسې وشول دابوبکر صدیق (رضي الله عنه) او خدیجه (رضي الله عنها) په مال باندې مالداره شو چې هرکال به ئې قرباني کوله.

(۳) (انّ شانئک هو الابتر) کې اشاره او اخبار دی چې ستا دښمن میرات دی اولادونه به ئې نه وي همدغسې وشوه چې اوس دابوجهل اولاد نشته.

(٤) (انّ شانئک هوالابتر) کې اشاره ده چې ته میرات نه ئې ستا اولادونه به ډیر وي او همد غسې وشول چې په مخ دځمکه ټول مسلمانان دي دټولو روحاني پلار دی.

(۳) اعجاز سیاسي: بل دلیل داعجاز القرآن هغه سیاست دی عربان مخکې له نزول دقرآن نه په مخ دځمکه ذلیل ترین قوم وو یوظالم او بې علمه قوم وه حتّی چې خپلې لونه به ئې ژوندۍ خښبولې او همدارنګه نارینه اولادونه به ئې درزق دتنګ والي او ډار له وجې نه ژوندي خښبول داسې کارونه به ئې کول چې انسان ئې تصوّر نشي کولې په ټولو عربو کې دیولس (۱۱) کسانو خط یادوه اسباب دتسلط ورسره نه وو لکه تعلیم صنعت اتفاق زراعت هیڅ ورسره نه وو خو چې کله قرآن نازل شو په هغه وخت په ټوله دنیا دوه (۲) سپرطاقتونه (امپراطورۍ) وو یو دقیصر او بله دکسرې دغه دواړه سپرطاقتونه دغو عربو رانسکور کړل اوپه هغو طاقتورو خلکو ئې حکومت کولو دقرآن په برکت په دوی کې داسې خلک پیداشول چې ټوله نړۍ ئې سیاست او حکومت ته حیرانه شوه او اوس هم حیرانه ده لکه خلفاء الرّاشدین امیر معاویه (رضي الله عنه) سعد بن ابی وقاص (رضي الله عنه) حضرت زیاد (رضي الله عنه) وغیره د عربو وتلې سیاسي او بابصیرتها څهرې وې حتّی چې خلافت عمري (رضي الله عنه) نورو سیاستونو او حکومتونو ته دمتن مثال لري.

(۴) **اعجاز حفظي:** قرآن یوه معجزه داهم ده چې دانسانانو په تاریخ کې بل دومره غټ کتاب ندې تیر شوی چې هغه دې ماشومانو ته هم یادوي زنانه و ته هم یاد وي اونارینه وو ته دې هم یادوي سوا دقرآن نه چې داهرڅوک یادولی شي.

(۵) **اعجاز باعتبار العلم**: هغه دا چې په قرآن کې څومره علوم دي دومره علوم په نورو کتابونو کې نشته.

(۶) **اعجاز تأثیري**: او بل اعجاز دقرآن تأثیري ده دانسانانو په کتابونو کې دومره تأثیر او جاذبیت نشته څومره چې په قرآن کې موجود ده داسې ډېرې پیښې رامنځته شوي چې یوازې دقرآن په اورېدلو سره د خلکو په ژوند کې انقلاب راغلی.

(۷) **اعجاز قانوني**: بل اعجاز دقرآن قانوني دی انساني قانون که څومره ماهرینو هم جوړ کړی وي خو اوږده موده په یو ملک کې نشي پاتي کیدلی ضرور پکې داسې خامۍ ظاهرېږي چې تغیر اوتبدیل ته پکې ضرورت وي خو قرآن یو داسې قانون دی چې دسونو کلونو په تیریدو پکې نه دتغیر او نه تبدیل ضرورت پیښ شو.

شاه ولی الله (رَحِمَهُ ٱللَّهُ): فرمائې چې دقرآن دعلومو رجع پینځو علومو ته کیږي.

(۱) علم العقاید (۲) علم الاحکام (۳) علم التذکیربالاءالله (۴) علم التذکیر بایّام الله (۵) علم التذکیر بما بعد الموت.

علّامه سیوطی [1](رَحِمَهُ ٱللَّهُ) فرمائې: چې په قرآن کې اتیا (۸۰) علوم دي:

شیخ الاکبر ابن عربي[2](رَحِمَهُ ٱللَّهُ) فرمائې چې اویازره (۷۰۰۰۰) علوم پکې دي خو داخبره هرچا دخپل فهم اوعلم مطابق کړیده دقرآن علوم غیر متناهي دي ډېري اوږدې زمانې نه پرې تفسیرونه لیکل کیږي حتّی چې محمّد انورشاه کشمیري[3](رَحِمَهُ ٱللَّهُ) فرمائې چې زما تر زمانې پورې دوه لاکه (۲۰۰۰۰۰)تفسیرونه لیکل شوي دي تقریبًا اولنی تفسیر ابو عبیده معمربن صباح (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) لیکلی چې نوم ئې اعجازالقرآن دی له دې زمانې نه د تفاسیرو سلسله شروع شوه امام غزالي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) یو تفسیر په پنځه سوه (۵۰۰) جلدو کې لیکلی چې نوم ئې دی یاقوت التأویل فی اسرار التّنزیل.

---

(۱) عبد الرحمن بن كمال الدين ابي بكر بن محمد سابق الدين حضر الحضيري السيوطي المشهور بجلال الدين ولد سنة ٨٦٩ هـ وتوفى ٩١١هـ

(۲) محمد بن علي بن محمد بن عربي الحاتمي الطايي الاندلسي الشهير بمحى الدين ابن عربي ولقبه شيخ الاكبر ولد سنة ٥٥٨هـ قبل عامين من وفات شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله وتوفى في دمشق شنة ٦٣٨هـ

(۳) محمد انور شاه بن معظم شاه الحسيني الحنفي الكشميري ولد سنة ١٢٩٢هـ وتتوفى ١٣٥٢هـ

او ابي یوسف عبد السلام القزویني خپل تفسیر حدائق ذات بهجة په درې سوه جلدونو کې لیکل شوی چې نوم ئې دی چې پنځه (۵) جلده یوازې په بسم الله لیکل شوي او شل (۲۰) جلده په الحمد لله لیکل شوي او حافظ ابن شاهین په زرو (۱۰۰۰) جلدونو تفسیر لیکل شوی او قاضي ابو بکر بن العربي خپل تفسیر «انوار الفجر» په اته زره ورقو کې لیکلی.[1]

یوه ورځ ابن عربي (رَحِمَهُ اللّٰهُ) په خره باندې سپور وه چې ناڅاپه له خره نه راوغورځیده شاګردانو پورته کولو ده ورته وویل چې ماپریدئ لږ وخت پس ئې ورته وویل چې پورته مې کړئ شاګردانو ورته وویل چې اول دې ولې له پرته کولو منع کولو ده ورته وویل چې په قرآن کې د هرڅه خبره شته جزي وي او که کلي ما د ابن عربي د خره نه راغورځیدل پکې کتل چې دا پکې شته که نه نو په سورت فاتحه کې مې پیدا کړل.

دغسې دفیضي په نوم یو مفسّر تیر شوی چې دقرآن ټول تفسیر ئې په حروفو مهمله (هغه حروف چې ټکي نلري لکه الف ، حا، دال، سین، وغیره) سره کړی چې خطبه ئې داده کَلَامُ اللّٰهِ لَاحَدَّلِحَامِدِه وَلَاعدّ لِمکارمه واماءٌ لاساحل له.[2]

تفسیربیضاوي: (اَلْحَمْدُ لله الّذِی نَزّل الفُرقانَ عَلی عبْده لِیکونَ).

ترجمه: ثنا او صفت هغه ذات لره دی چې نازل کړیدی فرقان په بنده خپل.

د «الحمد لله» تفصیل په سورت فاتحه کې راروان دی دلته ئې نه کوو (الّذی نزّل) نزّلَ له تنزیل څخه ده او تنزیل په لغت کې (تحریک الشئ من الاعلی الی الاسفل) حرکت د یو شئ له پاس نه لاندې طرف ته.

---

(۱) قیمة الزمن عند العلماء صـ ۱۵۷ لشیخ الاسلام عبد الفتاح ابوغدة رحمه الله . دغسې تفسیر «مختزن» امام ابو الحسن الاشعري رحمه الله په (۵۰۰) جلده کې لیکلی و یوه ورځ صاحب ابن عباد المعتزلي په بغداد کې تیریده په یوه مکتبه کې یې دغه تفسیر ولیده د ډیر تعصب له امله یې د مکتبې مالک ته یې وویل زه به د دې مکتبې څو چنده قیمت درکړم ته مکتبه وسوزوه تر څو دغه تفسیر له منځه لاړ شي د مکتبې مالک خپله مکتبه وسوزوله نو تفسیر مختزن هم تر ننه ختم شو (القواصم والعواصم)

(۲):- علوم القرآن ص ۴۵ مولانا شمس الحق افغاني رحمه الله

تشریح: مصنف (رَحِمَهُ اللهُ) دلته درې بحثونه ذکر کوي: (۱) متحیز او اقسام یې (۲) د کا تقسیم نفسي او لفظي ته (۳) د صیغې د نزّل متعلق تحقیق.

لومړی بحث: په طریقې د تمهید داخبره زده کړه چې متحیز په دوه (۲) قسمه دی یو متح بالذّات دی او بل متحیز بالعرض دی متحیز بالذّات هغه ته وائې چې دا قابل د اشارې حسي و بالذّات لکه قلم، کتاب وغیره او متحیز بالعرض هغه ته وائې چې قابل د اشارې حسې نه و بالذّات بلکې بالتّبع وي لکه اعراض (رنګونه)[1].

متحیز بالعرض بیا په دوه (۲) قسمه دی اول مشاهد [2] کالسواد والبیاض لکه تور والی سپین والی دوهم غیر مشاهد لکه علم.

او حرکت هم په دوه (۲) قسمه دی اول حرکت بالاصالة دوهم حرکت بالتّبع حرکت بالاصالة متحیز بالذّات کې وي او حرکت بالتّبع په متحیز بالعرض کې وي.

دویم بحث: بیا کلام (قرآن) په دوه قسمه ده اول کلام نفسي دوهم کلام لفظي په کلام نفسي کې نه حرکت بالاصالة راتللی شي او نه حرکت بالتّبع راتللی شي حرکت بالذّات ځکه نشي راتللی چې هغه په متحیز بالذّات کې راځې لکه جوهر او کلام نفسي جوهر نه دې او حرکت بالتّبع ځکه نشي راتللی چې په دې سره حرکت دواجب لازمیږي ځکه کلام نفسي صفت د واجب دی او په کلا لفظي کې حرکت بالتّبع راځې په تبع د حضرت جبرائیل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) اصلًا متحرک جبرائیل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) دی دده په تبع حرکت په کلام لفظي کې موجودیږي.

نو معنی دا شوه ثنا او صفت هغه ذات لره ده چې نازل کړی ئې دی قرآن لفظي ځکه په قرآن کې هم حرکت دی له اسمان نه په واسطه د جبرائیل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) په رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) باندې.

(الفرقان) قرآن ته ئې فرقان وویل فرقان له فرق څخه دی او فرق جدا والي ته وایي نو قرآن هم فارق دی په مابین د حق او باطل کې.

---

(۱) :- دمتحیز مثال لکه مونږ کتاب ته اشاره کوو نو دکتاب ذات ته اشاره کوو او متحیز بالعرض مثال لکه مونږ دکتاب سپین رنګ ته اشاره کوو نو دا اشاره په ضمن او تبع کتاب کې کیږي.

(۲):- مشاهد هغه شی ته وائې چې په سترګو ښکاري.

دريم بحث: **سوال**: ولې قاضي بيضاوي (رَحِمَهُ اللَّهُ) صيغه دنزل مختاره کړه په صيغې د انزل

4 باندې داسې به يې ويلي و انزل الفرقان په ځاى د نزّل الفرقان.

جواب: تنزيل وائي تحريک الشئ تدريجًا ته او انزال وائي تحريک الشئ دفعةً واحدةً ته نو په ديکې دې خبرې ته اشاره ده چې په قرآن کې دواړه حرکتونه شته هم تنزيل او هم انزال ځکه قرآن اول نازل شوى له لوح محفوظ نه اسمان د دنيا ته په شپه د ليلة القدر دفعةً واحدةً بيا په تدريجي ډول سره له اسمان د دنيا څخه په درويشت (۲۳) کالو کې په رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) باندې نازل شو نو اکمال د نعمت ئې په نزول ثاني سره په سونړ وکړ نو له دې وجې نه يې نَزّل مختاره کړه په ځاى د انزل.

(عبده).

سوال: د رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په اوصافو کې يې ولې وصف د عبوديت غوره او ذکر کړ پکار ده چې وصف د رسالت ئې ذکر کړې واى ؟

جواب: د رسول الله عليه وسلم په اوصافو کې تر ټولو غوره او اولى وصف هغه وصف د عبوديت دى او له وصف د رسالت څخه ځکه غوره دى چې په وصف د عبوديت کې انصراف وي له خلق څخه حق ته او په وصف د رسالت کې انصراف وي له حق څخه خلق ته نو د عبوديت انتهاء حق ده[1] او د رسالت انتهاء خلق ده او حق له خلق څخه غوره دى.[2]

تفسير بيضاوي: (لِيَكونَ لِلعَالَمِينَ[3] نَذِيرًا).

ترجمه: چې شي لپاره د ټول عالم نذير او ويروونکي.

تشريح: په دې عبارت سره درې بحثونه ذکر کوي (۱) په ضمير د «يکون» احتمالات (۲) په لام د «يکون» احتمالات (۳) د «نزيرًا» تحقيق.

(۱):- رسالت معنى دا چې دالله (حق) پيغام ته راوړى نو انتهاء ئې خلق ته شوه اودعبوديت معنى داچې دمخلوق (بندګى) پيغام الله ته وروړې نو انتهاء ئې حق ته شوه.

(۲):- وصف دعبودية په اوصافو دبندګانو کې تر ټولو غوره صفت دى ځکه الله جلّ جلاله چې کله هم رسول الله صلّى الله عليه وسلّم عظيمو خايونو کې ذکر کوي په وصف دعبديت سره ئې يادوي لکه مقام د تحدي فرمائي (وان کنتم فى ريبٍ ممّا نزلنا على عبدنا فأتو بسورة من مّثله . . . سورة البقرة آية ۲۳) همدارنګې سبحان الذى اسرى بعبده ليلًا مّن المسجد الحرام . . سورة الاسراء آية ۱ ،

(۳):- عالمين جمع دعالم ده ماسوا دالله نه هرڅه ته وائي مراد ترينه پيريان او انسانان دي .

لومړی بحث: په اسم (ضمير) د «يكون» كې درې احتماله دي.

(۱) اول دا چې اسم ديكون ضمير دعبد شي (ضمير ديكون عبد ته راجع شي)

(۲) دوهم دا چې اسم ديكون ضمير دفرقان شي (ضمير ديكون فرقان ته راجع شي).

(۳) دريم دا چې اسم ديكون ضمير دلفظ د الله جلّ جلاله شي (ضمير ديكون لفظ دالله جلّ جلاله ته راجع شي) خو دا دريم احتمال غلط دی وجه د غلطۍ یې داده چې صفات دالله جلّ جلاله توقيفي دي [۱] اونذير په صفاتو دالله جلّ جلاله كې نشته (شرعه پرې نه ده وارده شوې) او اولنی احتمال راجح دی او دويم احتمال صحيح دی وجه درجحان داولني احتمال دادی چې اول كې قرب او نزديكت دی ځكه وائي الحقّ للقريب ثمّ للبعيد دوهمه وجه د رجحان ئې داده چې اسناد دضمير عبد ته اسناد حقيقي دی په خلاف داحتمال ثاني چې نه قريب دی او نه هم اسناد حقيقي شته.

دويم بحث: په «لام» د (ليكون) كې دوه احتماله دي اول دا چې دا لام لپاره دعاقبت (انجام) شي لكه «لدوا للموت» بچی وزيږوئ لپاره د مرګ. د مرګ لپاره خو څوک بچي نه زيږوي خو عاقبت ئې مرګ دی يا لكه «وابنوا للخراب» كورونه جوړكړئ لپاره دنړيدو ،دنړيدو لپاره خو څوک كورونه نه جوړوي خو عاقبت ئې نړيدل دي دلته هم داعاقبت لپاره د نازل دی يعنې قرآن ئې په خپل بنده نازل كړ عاقبت ئې څه دی ليكون للعالمين نذيرًا چې شي لپاره دټول عالم ويرونكی.

دوهم احتمال: داچې دا لام لپاره دتعليل شي.

سوال: په دې احتمال اعتراض واردیږي چې نزول خو فعل دالله جلّ جلاله دی او افعال دالله جلّ جلاله خو معلل بالاغراض نه وي نو څنګه به د رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نذير كيدل لپاره دعالمينو علت دنزول د قرآن.

---

(۱):- توقيفي معنی دا چې ثبوت د صفاتو د الله موقوف ده ترشرعي پورې كوم صفات چې په شريعت كې الله جل جلاله لره ثابت وي هغه به يې صفات وي او په كوموصفاتو چې شرعه نه وي وارده په هغې سره نشي موصوف كېدلی.

جواب: دا لام لپاره د تعليل دى خو چې افعال دالله جلّ جلاله معلل بالاعراض نه وي نو بيا د د عالمينو د مصلحت لپاره نزير دي او قائم مقام د علت دي عين علت نه دي هركله چې قائم مقام دعلت شو نو بيا ددې لپاره هم لام دتعليل استعماليږي.

دريم بحث:(نذيرًا) صيغه دمصدر ده په معنى دمنذِر سره او منذر صيغه د اسم فاعل دى په معنى ويرونكي ياپه خپل حقيقت ورحمل دى چې عين ويرول دائې ورته له وجې دمبالغې نه وويل لكه «زيد عدلٌ».

تفسير بيضاوي:(فَتحدّى بأقصر سُورة من سُورِهِ)

ترجمه: نو طلب دمقابلې اومعارضې ئې وكړ په يولنډ سورت دسورتونو دقرآن څخه.

تشريح: دلته دوه بحثونه ذكر كولي (۱) په ضمير د «تحدّى» كې (۲) په قران سره كفارو ته د تحدّى قسمونه.

لومړى بحث: (تحدّى) له باب دتفعيل څخه دى په معنى دطلب دمقابلې(چلنج) په ضمير دتحدّى كې دوه احتماله دي يو دا چې داضمير به راجع شي لفظ دالله جلّ جلاله ته په دې هيڅ اعتراض نه واردېږي دوهم احتمال دا چې ضمير دتحدّى راجع شي عبد ته نو په دې احتمال بيا اعتراض واردېږي.

سوال: دا قول چې تحدّى دى دا معطوف دى په قول د «نزّل» باندې يعنې نزّل ورته مَعطوف عليه ده اوضمير په نزّل كې راجع دى لفظ دالله جلّ جلاله ته (اوتحدّى) كې ضمير راجع دى عبد ته نو لازم شو مخالفت له قاعدې نه هغه داچې مرجع دضميرنو معطوفتينو واحده وي او همدارنګه لازم شوه خلوه دجملې معطوفې له ضمير دموصول نه.

جواب: دلته عطف په فاء سره شوى دى اوجمله معطوفه په كلمې دفاء سره دا په منزله د جملې واحدې وي . . . اوجمله واحده په افعالو باندې مشتمله وي نو جائز ده اكتفاء په ارجاع د ضمير واحد سره موصول ته.

په قرآن سره تحدّی (چلنج):

دویم بحث: اوس په دې خبره ځان پوهول پکار دی چې په قرآن کریم کې په درې طریقو سره طلب دمعارض شوی.

(۱)**لومړی**: په مثل د ټول قرآن راوړئ (فَلیَأتُوا بِحَدِیْثٍ مَثلِهِ[۱]) کله چې دټول قرآن دمعارض څخه عاجزه شول نو الله جلّ جلاله بل چلنج ورکړ.

(۲) **دوهم**: دوهم ځل طلب دمعارض په مثل دلسو سورتو اوشو(قُلْ فأتُوا بِعَشرِ سُوَرٍ مَثله مُفتریاتٍ[۲])نود لسو سورتونو (۱۰) دمقابلې څخه هم عاجزه شول نو الله جلّ جلاله بل چلنج ورکړ.

(۳) **دریم**: دریم ځل طلب دمعارضې وشو په اندازه دیو سورت (اِنْ کنتُم فِي رَیبٍ مّمَا نزّلنا علی عبدنَا فَأتُوا بسُورةٍ منْ مّثله) [۳] مراد له سورت نه اقصر وړوکی سورت دی او داقصریت دسورت له نکارت دلفظ دسورت نه معلومیږي.

سورت: سورت عبارت دی له هغه کلام نه چې هغه لره عنوان وي اومشتمل وي په درې آیاتونو یا زیاتو باندې.

اوپه سورت سره احتراز اوشو له کتب غیر سماویه وو څخه ځکه سورة خاصه دکتب سماویه وو دی.

تفسیر بیضاوي: (مَصاقِع الخُطَباء منْ العَربِ العَربَاء فَلمْ یَجِد بِه قَدِیرا وَ أَفحَم منْ تَصدّی لِمُعارضَته مِن فُصحاء عَدنَان وبَلغاء قَحطَان).

ترجمه: دفصیحو اوبلیغ خطباءو نه د اصل اوخالص عربو نه طلب د معارضې اوشو ،نو الله جل جلاله په معارضه قدرت لرونکي او نه موندل، اوقرآن ساکت (چپ) کړل هغه څوک چې د معارضې لپاره راوړاندې (مخامخ) شول دفصحاء دعدنان اوله بلغاءو دقحطان نه.

---

(۱):- سورة الطور آية ۳٤ ،
(۲):- سورة هود آية ۱۳ ،
(۳):- سورة البقرة آية ۲۳ ،

تشريح: (مصاقع) جمع د مصقع ده اودا مصدر ميمي ده مأخوذ دي صقع الدّيک (اواز دچرګ) نه ای صاح په معنی داسم فاعل دی مراد ترينه مكبّر الصوت(اوچت اواز کونکی) دی (والخطباء) جمع دخطيب دی په معنی دمقرِر او اضاقت دمصاقع الخطباء ته اضافت له قبيلې د غير معروف دی معروف ته لکه اضافت دليث اسد ته.

(العرباء العرب) العرباء تاكيد دی لپاره دعرب لکه ليل ليلًا ځکه داقاعده دی چې کله اراده دتاكيد ديو لفظ وکړې نو له همدې لفظ نه به صيغه په وزن فعلاء راوړې لکه ليل ليلاء او بيض بيضاء مراد ترينه خالص او اصل عرب دي [۱]

(فلم يجد) فاء د «فلم يجد» په معنی د «على» سره دی او عدم وجدانِ دمعارض كنايه دی له عدم وجود دمعارض نه ځکه (لانّ عدم وجدان الله جلّ جلاله للشّئ لازم لعدم الوجود الشّئ).

(قديرًا)

سوال: قدير په وزن دفعيل دی صيغه دمبالغې دی يعنې القادر الكامل معنی دا چې الله جلّ جلاله له كفارو څخه قادر كامل په معارض دقرآن پيدانه کړ او عدم وجود قادر كامل خو مستلزم نه دی عدم وجود دنفس قادر ته يعنې نفس قادر دې په معارض باندې وي اګر که قادر کامل نه وي؟

جواب: فعيل وزن خو هرچيرته لپاره د مبالغې نه وي ځکه فعيل وزن کله له باب دکرُم څخه وي او کله غير له کرُم نه وي خو کله چې له باب دکرُم څخه وي بيا لپاره دمبالغې وي او که له بل باب څخه وي بيا لپاره دمبالغې نه وي ځکه کله چې له باب دکرُم څخه وي نو داصيغه دصفته مشبه وي او صيغه دصفت مشبه مشتق وي له لازمي باب نه او دا دلالت په مبالغې کوي او دلته له باب د کرم څخه نه ده بلکې له ضرب څخه دی په معنی دمطلق قادر.

(افحم) افحام وائې الاسوداد (تور والې) ته وائې مراد ترينه دلته اسكات الخصم عجزًا دی ځکه دعاجز من الخصم هم مخ له وجې درسوائي نه توروي.

---

(۱):- العرب العرباء صرحاء خلصی: معجم الوسيط،

(والفصحاء والبلغاء) دلته دواړه په معنی واحدې سره دي اضافت د اول عدنان ته او دوهم قحطان ته تفنّن فی العبارات دي[1].

(عدنان والقحطان) دا دوه قبیلې دي اولې ته عرب مستعربه وائي او دوهمې ته عرب العاربه وائي دواړه يې ځکه ذکر کړې چې چلنج ټولو عربو لره دی.

تفسیر بیضاوي: (حتّٰى حَسبُوا أَنّهم سَحر تسحيرًا)

ترجمه: تردې چې دقرآن په معارضه کې داسې چپ پاتې شول چې گومان کیده گویا چې په دوی باندې سحر (جادو) شوی دی.

د سحر تعریف:

تشریح: سحر په لغت کې «كُلُّ مَا لَطُفَ وَدَقَّ، وَمِنْهُ قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا [2] وَسَحَرَهُ أَيْ خَدَعَهُ، وَمِنْهُ قَوْله تَعَالَى: {قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ}[3] أَيِ الْمَخْدُوعِينَ».

هرلطیف اوباریک شي ته سحر وايي یعنې دچا ادراک چې انتهائي باریک وي او له دې ځخه دا قول د نبي (عَلَيْهِ السَّلَامُ) چې بعضې له بیان ځخه سحر دی او په همدا رنگه په معنی د دوکې سره راځي.

بیا مسلک داحنافو په سحر کې دادی که چېرته په سحر کې رِدّ د رکن شرعي او یا دشرط شرعي وي(یعنې دشریعت مخالف وي) نو دا سحر بیا حرام دی او که داسې نه وي نو بیا جائز

(۱):- قحطان بن عود اصل عرب وه دمديني منورې اودشام او د يمن وه چې کله په قوم سباء باندې داوبو بندر راخلاص شو نو خلک ئې دغو درې (۳) ځايونو ته وتبتيدل اوهغه قبيله چې جرهم نوميده چې له يمن نه راغله او د اسماعيل عليه السّلام په زمانه کې ئې د زم زم خواته خيمې ووهلې د قحطان اولاد وو،

(۲):-حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ قَدِمَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا فَعَجِبَ النَّاسُ لِبَيَانِهِمَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا أَوْ إِنَّ بَعْضَ الْبَيَانِ لَسِحْرٌ أخرجه البخاري (الفتح ۹ / ۲۰۱- ط السلفية)

(۳):-سورة الشعراء / ۱۵۳

دی[۱] دوی هم دقرآن په معارضه کې داسې چپ او ساکت پاتې شول لکه په کوم انسان چې سحر شوی وي او هيڅ نشي کولی.

تفسير بيضاوي: (ثُمَّ بَيَّنَ لِلنّاس مَانَزّلَ اليهِم حَسْبَما).

ترجمه: بيا رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) هغه کتاب (مسائل) په همغه اندازه خلکو ته بيان کړ چې دوی ته نازليدل.

تشريح: دلته ئې دخطبې انداز بدل کړ دبيّن ضمير نبی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته راجع دی او حسبما له دوه کلمو څخه جوړ دی يو حسب په معنی دمقدار او اندازې دی او بل کلمه د (ما) ده چې موصوله ده (حسبما) ای قدر ما.

تفسير بيضاوي: (عَن لهُم منْ مَصالحِهِم)

ترجمه: ظاهر يدل به آيتونه دقرآن په مقدار د مصالحو دخلکو.

تشريح: په مخکې عبارت کې چې حسب ده دوه تقديره ده.

اول تقدير دعبارت داچې حسب دبين سره ولګيږي (بين قدر ما ظهر لهم ای مقدار شئ عنّ لهم) يعنې په مقدار د هغه شي څومره به چې ورته ضرورت ظاهرېږي ده نو هغومره به رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) بيانولو.

---

(۱):- ځيني علماء د سحر تعريف داسې کوي: اظهار خارق اللعادة من نفس شريرة خبيثة بما شرة الاعمال مخصوصة فيها التعلم والتلمذ. بيا فقهاء دساحر په حکم کې مختلف دي ځنې وائې چې د ساحر وژل واجب دي داهغه مهال چې سحر په داسې الفاظو وکړي چې هغه ڪکفری وي دا قول دامام ابوحنيفة امام مالک او دامام احمد دی تفسير قرطبي :۲ / ٤٨ ، او ځينې بيا ساحر ته کافر وائې خو دقتل خبره ئې نه ده کړې امام شافعي رحمه الله فرمائي که ساحر په خپله اقرار وکړ چې ما په سحر باندې کوم کس قتل کړی بيا قتل کولی شي.

دمعجزی اوکرامت له سحر سره څو فرقونه دي (۱) سحر له شرير اوخبيث نفس څخه ظاهرېږي اوکرامت له نفس کريمه اوپاک نه ظاهرېږي(۲) دسحر لپاره خاص ځای ، وخت او شرائط وي اوکرامت تر دغو شيانو خاص نه وي (۳) ساحر تل په خلاف دشرعي امر کوي اوصاحب دکرامت دغسې نه وي. دستورالعلماء: ۲ / ۱۲۰ ،

دوهم تقدیر: داچې حسب دنزول سره ولګيږي معنی به داشي چې نبی علیه الصّلاة والسّلام ورته بیان کړل هغه آیتونه چې کوم نازلیدل دخلکو دفائدې لپاره په مقدار دهغه حاجت چې کوم به ورته ظاهر پیښ شو (من مصالحهم) دابیان ده دکلمې «ما» لپاره.

تفسیر بیضاوي: (لیتدبّروا آیاته ولیتذکّر اولوالالباب تذکیرًا)

ترجمه: د دې لپاره چې سوچ او فکر وکړي په آیاتونو دقرآن کې او د دې لپاره چې پند حاصل کړي صاحبان دعقل په پند حاصلولو سره.

تفسیر بیضاوي: (فَکشفَ قِناعَ الانْغِلاق عَن آیاتِ مُحکماتِ)

نو لرې(ظاهر)یې کړې پردې دسختی له آیاتونو ظاهرالمراد څخه.

تشریح: دلته دوه بحثونه دي (۱)استعارې (۲)په محکمات باندې وارد سوال ته جوابونه.

لومړی بحث: قناع لوپټې ته وائې.

(عن آیات مّحکمات) محکم ظاهرالمراد ته وائې دلته اوس دریم قسم دخطبې ذکر کوې اضافت دآیات محکمات ته اضافت دمشبه به ده مشبه ته اصل عبارت داسې دی.

(فکشف عن انغلاق الآیات کالقناع) یعنې ظاهر ئې کړه هغه سخت دآیاتونو پشان دپردې چې لرې ئې کړې له ناوې نه.

استعاره: په دې عبارت کې څو استعارې دي.

استعاره په لغت کې طلب العاریة ته وائې اوپه اصطلاح کې هغه لفظ ته وائې چې دمشابهت او ورته والي له امله له معنی موضوع له نه په بله معنی کې استعمال شي.

استعاره په څلور قسمه ده (۱) مصرحه(۲) بالکنایة(۳) تخلیة(۴) مطلقة یا ترشیحیة او استعاره په اعتبار دلفظ مستعار په دوه ډوله ده (۱) استعاره اصلیة (۲) استعاره تبعیة استعاره اصلیة هغه ده چې لفظ مستعار اسم جنس وي بیا برابره خبره ده چې اسم جنس حقیقتًا وي اوکه تأویلًا لکه لفظ د اسد چې استعاره شي لپاره درجل شجاع تأویلًا مثال لکه حاتم چې استعاره شي لپاره د سخي دغه ډول هر عَلَم چې مشهور وی په وصف سره هغه هم تأویلًا اسم جنس وي لکه

موسى او فرعون او استعاره تبعية هغه دى چې لفظ مستعار اسم جنس نه وي لكه حرف او فعل او مشتقات د فعل (اسم فاعل اسم مفعول)[1]

بيا په استعاره كې اختلاف دى چې دا مجاز لغوي دى او كه مجاز عقلي ؟

جمهور وائې چې استعاره مجاز لغوي دى په دې معنى چې دا استعمال دلفظ دى په غير معنى موضوع له كې له وجهې دعلاقې دتشبيه نه.

او بعضې وائې چې استعاره مجاز عقلي دى په دې معنى چې په دې كې تصرف په امر عقلي سره شوى دى نه په لغوي سره.[2]

رائحو دعبارت استعارو ته اول دا چې تا مشابه كړه آيات محكمات له ناوې سره دا استعاره مصرحه[3] دى او ذكر دقناع استعاره تخيلية دى[4].

همدغه راز مشابه ئې كړه آيات محكمات له اشياو عاليه و سره دا استعاره بالكناية دى[5] او ذكر د انغلاق دا استعاره ترشيحيه دى[6].

دويم بحث: **سوال**: محكم خو عبارت دى له معروف (ظاهر المراد) نه او معروف خو محتاج كشف ته نه وي او كشف خو عبارت دى له ازالې د ستر نه او ازاله دستر مخكې ستر غواړي او په محكم كې خو ستر وي نه.

لومړى جواب: دلته چې كومه خَفاء منفي دى هغه داسې خفاء دى كومه چې ناشې عن دليل نه وي او داسې خفاء په محكم كې وي هغه خفاء په محكم كې نه وي كومه چې ناشې عن دليل وي.

دوهم جواب: مراد له كشف نه كشف په معنى دازالة الستر سره نه دى بلكې په معنى دازالة متكشفة دى يعنې اول الامر نه هغه په متكشفې طريقې سره نازول لكه: ضيق فم الركية يعنې د

---

(١):- دستورالعلماء: ١/ ٧٠،

(٢):- دستورالعلماء: ١/ ٧٤،

(٣) - مصرحه هغه استعاره دى چې ذكر دمشبه ترك د مشبه به مراد هم مشبه.

(٤):- هغه دى چې دمشبه به لوازم مشبه ته ثابت شي.

(٥):- استعاره بالكناية هغه دى چې ذكر دمشبه ترك دمشبه به مراد هم مشبه به.

(٦):- استعاره ترشيحيه هغه دى چې دشبه به مناسب مشبه ته ثابت وي.

کوهي خوله یې تنګه کړه یعنې له شروع نه یې تنګه کړې ده داسې نه چې مخکې فراخه وه روسته یې تنګه کړه.

حلّ اللغات

لغات	معنی	لغات	معنی
عنّ	ظهر	تدبّر	سوچ او فکر
مصالح	جمع دمصلح ده په معنی دلائق	تذکیر	پند او نصیحت
مصاقع	عالي الصوت (اوچت اواز	انغلاق	سخت
تحدی	چلنج	قناع	ټیکری (لوپټه)



تفسير بيضاوي: (هُنّ امّ الكتاب واُخرُ مُتَشابِهات هُنَّ رُموزُ الخِطَاب تأويلًا وتفسيرًا)

ترجمه: هغه آياتونه اصل دكتاب و او نور متشابهات (مستتر المراد) چې هغه (متشابهات) اشارات (رازونه) دخطاب د الله جلّ جلاله دي له جهته دتأويل او تفسير.

تشريح: دا معنى دمحكم او متشابه مولوي حسامي كړې ده او اُخَرُ جمع د اُخرٰى دى (رموز) جمع د رمز ده په معنى رامز، او رامز اشارې بالشفة (شونډې) ته وائې يا اشارې بالهاجب (په وروزو سره اشاره كولو) ته وائې.

خطاب وائې «توجيه الكلام نحو الحاضر» توجه دكلام دى طرف د حاضر ته يعنې متشابهات دالله دخطاب رازونه دي.(تأويل وتفسيرًا) په تركيب كې له كشف نه تميز واقع دي مراد دادى چې په جهت دتأويل يعنې قياس عقلي اوپه جهت دتفسير ئې كشف دمعنى مرادې كړي دى.

تفسير بيضاوي: (وَ أَبْرَزَ غَوامِضَ الحَقَائق وَلَطَائِف الدَّقَائِق لِيَتجَلّٰى لهُم خَفايا المَلك والمَلَكوتِ وَخَبايَا القُدْسِ والجَبَرُوتِ لِيَتَفَكّرُوا فِيها تَفْكيرًا)

ترجمه: راڅرګند ئې كړل پټ حقائق اوپټ باريكات د دي لپاره چې ظاهر شي خلكو ته هغه پټ اشياء د ملكوتيت اوسلطنت كامله دالله جلّ جلاله اوظاهر شي پټ صفات جماليه اوصفات جلاليه دالله جلّ جلاله ددې لپاره چې دوى فكر وكړي په دې كې په پوره فكر كولو سره.

تشريح: الغوامض جمع غامضة اويا جمع دغامض دى په معنى دمخفي اوپټ سره فاعل اسمې جمع كيږي په فواعل اوهمدارنګه فاعل صفتي هم جمعه كيږي په غير ذوى العقول كې.

(الحقائق) جمع دحقيقة دى په معنى د «ما به الشّئ هُو هُوَ» او اضافت دغوامض حقائق ته اضافت له قبيلې دصفت دى موصوف ته اى وابرزالحقائق الغامضة.

په(لَطَائِف الدَّقَائِق) كې هم اضافت دصفت دى موصوف خپل ته اي وابرز الدّقائق اللطيفة.

خفايا جمع دخفيفة دى په معنى دپټ سره اوملك نه مراد عالم الشّهود دى او ملكوت نه مراد عالم الغيب دى ځكه د فعلوتُ په وزن د مبالغې صيغې راځي نو د ملكوت معنى به كامل سلطنت وي خبايا جمع دخبية دى په معنى دخفيت سره (پټ) قدس صفات جماليه جبروت صفات جلاليو ته وايي.

حل اللغات

شمېره	لغات	معنى	شمېره	لغات	معنى
١	رمز	اشاره	۴	تجلّى	ظهور معنى (كشف)
٢	غوامض	پټ	۵	خبايا	جمعه د خيبة (پټ)
٣	متشابهات	هغه اياتونه چې مراد يې پټ وي			

تفسير بيضاوي: (وَمهَّد لهُمْ قَواعِدَ الاحكامِ و أَو ضَاعَهَا مِنْ نُصوصِ ألآياتِ وَ ألمَاعِهَا لِيَذْهَب عَنْهُم الرِّجْس ويُطهِّرهُم تطهيرًا)

ترجمه: او تيار يې كړل خلكو ته قواعد او علتونه داحكامو له صريحو او اشارات دآياتونو څخه د دې لپاره چې زائله كړي الله جلّ جلاله له خلكو نه پليتي د فسق ، كفر او الحاد او پ كيزه كړي دوى لره په پاكيزه كولو سره.

تشريح: (مهّد) له باب دتفعيل څخه دى په معنى داماده او تيار (قواعد) جمع دقاعدې دى او عبارت دى «عن قانون كليّ يستنبط منها احكام الجزيات».

ترجمه: دا يو قانون كلي دى چې راوځي له دې نه احكام دجزياتو (احكام) جمع دحكم دى دا عبارت دى له «خطاب متعلق بافعال المكلّفين» څخه او كله عبارت وي له «اثرهذا الخطاب» څخه چې وجوب او حرمت دى.

اوضاع جمع د وضع دى او له اوضاع داحكامو نه څلور احكام وضعية مراد دي اول علت الحكم لكه طواف علت لپاره دسقوط دنجاست دپيشو دى، نبي (عَلَيْهِٱلسَّلَامُ) فرمايي: (انّها منَ الطّوافين عليكم والطّوافات [1] دوهم اسباب دي دريم شروط دي څلورم امارات دي.

---

(١):- عن كبشة بنت كعب بن مالك وكانت تحت ابن ابى قتادة أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ، دَخَلَ فَسَكَبْتُ لَهُ وَضُوءًا، فَجَاءَتْ هِرَّةٌ فَشَرِبَتْ مِنْهُ، فَأَصْغَى لَهَا الْإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ، قَالَتْ كَبْشَةُ: فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: أَتَعْجَبِينَ يَا ابْنَةَ أَخِي؟ فَقُلْتُ: نَعَمْ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ، إِنَّهَا مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ وَالطَّوَّافَاتِ رواه سنن ابي داود باب السور الهرة و رواه احمد والترمذى ومالک وغيره»

دا (مِنْ نُصوصِ ألآیاتِ...) یا حال دی له «قواعد او اوضاعها» نه او یا بیان دی د له اوضاع څخه او متعلق دی تر مهد پورې (والنصوص) جمع د نص دی عبارت دی له کلام الظاهر الدلالت علی المعنی څخه. د الماع نه مراد اشارت النص[۱] دلالة النص[۲] او اقتضاء النص دی[۳].

(لیذهب عنهم) دا علت دی لپاره د (مهّد).

تفسیر بیضاوي: (فَمنْ کَان لهُ قَلبٌ أو الْقی السَّمْعَ وَهُوَ شَهِیْد)

ترجمه: نو چې چا لره بیدار زړه وي لپاره د معرفت (حق) او کیږدي غوږ او دی حاضروي (خپله زیرکتیا حاضره کړي).

تشریح: دا له دې آیت نه (کانَ لَهُ قَلبٌ اوْ اَلقَی السّمعَ وَهُوَ شَهِید[٤]) اقتباس دی اقتباس دیته وایي چې متکلم په خپل کلام کې د ایت یا د حدیث څه حصه ذکر کړي په داسې طریقي سره چې څوک په دې پوهه نه کړي چې دا ایت یا حدیث دی[٥].

(القی السمع) په معنی امال السّمع یعنې طاقت د اوریدلو یې وي اوغوږونه نصیحت کونکی ته مائل کړي.

(وهو شهید) ای حاضر فطنًا[٦] یاحاضر الفطنة[٧] یعنې خپله تولهٔ قوت مدرکه متوجه کړي او دا صفت د طالب العلم دی علماؤ د طالب العلم د علم د حصول لپاره دا صفت شرط گرځولی چې طالب به له استاذ څخه سمع هم کوي او بیدار او زیرک به هم ورته ناست وي.

---

(۱):- ماثبت باالنّص ولکن لم یسق الکلام لاجله فلایکون ظاهرًا من کلّ وجه،

(۲):- ماثبت بعلة النّص لغةً لاجتهادًا

(۳):- مالا یمکن العمل بالنّص الّا بشرط تقدّمه علیه.

(٤):- سورة القاف آیة ۳۷.

(٥):-الاقْتِبَاسُ فِي اللُّغَةِ : هُوَ طَلَبُ الْقَبَسِ ، وَهُوَ الشُّعْلَةُ مِنَ النَّارِ ، وَيُسْتَعَارُ لِطَلبِ الْعِلْمِ ، قَال الْجوهرِيُ فِي الصِّحَاحِ : اقْتَبَسْتُ مِنْهُ عِلْمًا : أَيِ اسْتَفَدْتُهُ وفِي الاصْطِلاحِ : تَضْمِينُ الْمُتَكَلِّمِ كَلامَهُ - شِعْرًا كَانَ أَوْ نَثْرًا - شَيْئًا مِنَ الْقُرْآنِ أَوِ الْحَدِيثِ ، عَلَى وَجْهٍ لا يَكُونُ فِيهِ إِشْعَارٌ بِأَنَّهُ مِنَ الْقُرْآنِ أَوِ الْحَدِيثِ (موسوعة الاصطلاحات العلوم الاسلامیة للتهانوي :۱۱۸۷/٥ والکلیات لابي البقاء الکفوي :۲٥۳/۱ وفي الاتقان في علوم القرآن للسیوطي :۱۱۱/۱ والادب الشرعیة لابن مفلح ج۲/۳۰۰ بحواله موسوعة الفقهیة.

(٦):- تفسیر نسفی

(۷):- تفسیر خازن،

او له قلب نه قلب یقظان مراد دی ورنه زړه خو هر چاسره شته خو هغه په منزله د «من لا قلب له» کې دی ځکه هر زړه معرفت دحق نشي کولي.

تفسیر بیضاوي: (فَهُو فِي الدَّارَيْنِ حَمِيدٌ وسَعِيدٌ ومَن لَّمْ يَرفَعْ اِليهِ رَأسَه وأطْفَاءَ نِبرَاسَهُ يَعِيشُ ذَمِيْمًا وَسَيَصْلى سَعِيرًا).

ترجمه: نو هغه به په دواړو جهانو نو کې لائق دصفت اونیک بختی وي او څوک چې دحق طرف ته خپل سر پورته نه کړي او مړ کړي چراغ خپل ژوند به تیروي هغه رټلي شوی او زردی چې ورداخل به شي اور سوزونکي ته..

تشریح: دلته درې بحثونه دي (۱) دفعه د یو اعتراض دی (۲) د مکلفینو درې اوصاف ذکر کوي (۳) په ـ یصلی کې دوه نسخې بیانوي.

لومړی بحث: (فهو فی الدّارین) سوال دلته مطابقت په مابین د راجع اومرجع کې نشته ځکه ضمیر د (هو) راجع دی مطیع کامل او نفس مطیع ته او دا دوه دي اوضمیر ورته دمفرد راجع شوی.

جواب: دا دواړه مذکور دي په کلیمې د (او) سره او هغه امران چې ذکر شوي وي په کلمې د (او) هغې ته د مفرد ضمیر هم راجع کول جائز دي.

(نبراسه) نه مراد دلته قابلیت د قبولیت داسلام دی کوم چې پیدا یشي و د هغه ضایعه کول مراد دي ځکه الله جلّ جلاله فرمائي (فَاَقِمْ وَجهک للدّین حنیفًا فطرة الله الّتی فطر النّاس علیها [1]).

دویم بحث: هر کله چې مصنف له اوصافو د الله تعالی نه فارغ شو اوس د بندګانو صفات ذکر کوي د الله تعالی په صفاتو کې یو صفت د منزِل (په کسرې د زاء) هم و ؛نو الله تعالیٰ منزل شو، اوس د منزَل علیهم یعنې بندګانو اوصاف ذکر کوي نو منزّل دمکلفینو په اعتبار د اوصافو په درې قسمه دی لکه نبی (عَلَيۡهِ‌السَّلَامُ) فرمائي: او همدارنګه محکې آیات کې تیر شو

---

(۱):- سورة الرّوم: آیة (۳).

(كلّ مولودٍ يولدُ على الفطرة [1]) هر ماشوم په اسلامي فطرت سره پیدا کیږي بیا روسته له بلوغ نه چې کله ورته دعوت رسول ورسیږي هغه قبول کړي او په اسلام کې داخل شي او یا دغه ماشوم د خپل فطرت نور مړ کړي او د رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) له دعوت څخه اعراض وکړي.

لومړی: ضایعه کی دغه فطرت نو انکار وکړي له دعوت درسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او له احکامو څخه.

دوهم: او حفاظت وکړي ددغه فطرت او قبول کړي دعوت درسول الله او احکام نو مصنّف تعبیر له اول قسم نه په دې عبارت سره کړی (له يرفع اليه رأسه) ځکه دا په معنی د اعراض سره ده او په دې عبارت سره چې (واطفاء نبراسه).

بیا دوهم قسم لره دوه صورتونه دي (۱) یا به تابع درسول وي کاملًا او پاک به کړي زړه خپل تر دې چې ادراک دحقائقو او دقائقو دقرآن وکړی (۲) یا به زړه خپل کامل پاک نه کړی تردې چې ادراک دحقائقو او دقائقو کاملًا دقرآن ونه کړي خو سره له دې چې بیا هم کوشش کوي په فهم داحکامو وکړي نو له اول تعبیر څخه یې په دې قول باندې وکړ (يعيش ذميمًا وسيصلّى سعيرًا) او له دوهم نه یې تعبیر وکړ په (من كان له قلب) او له دریم ئې تعبیر په دې قول وکړ (او القى السّمع وَهُو شهيد) بیا ئې په حق د فریقینو کې وویل (فهو فى الدّارين حميد وسعيد) نو خلاصه دا شوه چې مولود على فطرة په دوه قسمه دی اول مطیع بیا مطیع په دوه قسمه دی یو مطیع کامل (من كان له قلب) بل نفس مطیع (او القى السّمع وهو شهيد) د دې دواړو په باره کې فرمائي (هما فى الدّارين حميد سعيد) او دوهم معرض (اعراض کونکی) دی (لم يرفع رأسه واطفاء نبراسه) ددې باره کې فرمائې (يعيش ذميما وسيصلى سعيرًا) او یو قول دا هم دی چې فطرت نه مراد

---

(۱):- حدّثنا آدم . . . عن ابى هُريرة رضى الله عنه قال النّبى صلّى الله عليه وسلّم كلّ مولودٍ يولد على الفطرة فابواه يهودانه وينصرانه او يمجسانه كمثل البهيمة تنتج البهيمة هل ترى فيها جدعاء. صحيح البخارى: ۱ / ۳۱۵ .كتاب الجنائز رقم الحديث ۱۳۸۵ .وصحيح مسلم كتاب القدر رقم الحديث ۲۶۵۸ .

هغه وعده دعالم ارواح دی چې ټول انسانان ئې دسرو میږو په شکل کې مجسم کړي و، الله جل جلاله ورته وویل «اَلَسْتُ بِرَبِّکُم» نو ټولو ورته وویل (بلی) ونې نه [1].

دریم بحث: (یصل) کې دوه نسخې دي اول یَصلِ په کسرې لام سره په دې هیڅ اشکال نشته ځکه دا عطف دی په یعش او دواړه جزاګانې دی د «مَنْ» شرطیه لپاره او دواړه مجزوم دي.

دوهم نسخه: سیصلی سعیرًا په رفعې لام سره نو په دې اعتراض واریدیږي.

سوال: یعش فعل معطوف علیه مجزوم دی او سیصلی معطوف مرفوع دی او معطوف خو په حکم د معطوف علیه کې وي.

جواب: په نسخې درفعې کې دا عطف نه دی په یعش باندې بلکه دا جمله مستأنفه ده مصنف دوعید لپاره استعمال کړې دی.

او «سین» په سیصلی کې لپاره د استقبال نه دی بلکې لپاره دقطعیت دوقوع دی په استقبال کې

سوال: ولې دې سین په جزءثاني سیصلی داخل کړ او حال دا دی چې په جزء اوّله (یعش) کې نشته

جواب: ځکه چې مذهب په دنیا کې یقیني نه دی ځکه معرض (اعراض کونکی له اوامرو د الله او رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)) په دنیا کې خاوند دجاه او مال وی او دخول په نار کې یقیني دی نو ځکه ئې سین په یصلی داخل کړ او یعش یې داخل نه کړ.

تفسیر بیضاويَ: (فَیَاواجِبُ الوُجودِ ویَافَائِضَ الجُودِ وَ غَایَةَ لِکُلِّ مَقصودِ)

ترجمه: اې هغه ذاته چې ستا وجود ضروري دی او اې هغه ذاته چې خپله مهرباني ،سخا او کرم نازلوونکې ئې او اې هغه ذاته چې ته نهایت دهر مقصود ئې.

تشریح: دا التفات دی ځکه چې مصنف (رَحِمَهُ اللّٰهُ) وویلې نزّل نو تعین ددې خبرې اوشو چې الله جلّ جلاله فیاض دی او هر کله چې تعین ددې اوشو چې الله تعالی مبدءالفیاض دی نو خطاب اوکړی شو په خطاب دالتفات.

(الواجب الوجود) عبارت دی له «الّذی لایقبل العدم لذاته».

---

(۱):- قال الله تعالی: واذ أخذ ربّک من بنی آدم من ظُهُورهم ذرّیّتهم واشهدَهُم علی انفسهم الستُ بربّکم قالوا بلی. سورة الاعراف آیة ۱۷۲.

(فائض) له فاض يفيض څخه اسم فاعل دی او فيض وائي د اوبو دومره ډيرو اړولو ته چې دلوښي په اطرافو واوړي اوپه اصطلاح کې عبارت دی «المفيد للشئ بلاعوض» (والجود) عبارت دی «عن افادة الشئ النّافع بلاعوض».

تفسير بيضاوي: (وَصلِّ عَلَيْه صلوةً تُوازِي غَناءَهُ وتُجازِي عَناءَهُ وَعَلى مَن أعَانَه وَقَدر تِبيَانِه تقريرًا)

ترجمه: نزول د خير كثير اوكړه په رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) باندې هسې خير كثير چې د رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) لائق اومساوي د منفعت اوګرځي او درسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د مشقت عوض وګرځي اوپه هغه چا باندې(خير كثير نازل كړه) چې د رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) مدد او مرسته ئې كړې وي اوچا چې ثابت كړی وي بيانات دنبی (عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ) په ثابتولو سره.

تشريح: هغه زحمتونه او مشقتونه چې رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ګاللي لكه هيواد نه هجرت جهادونه شهيدان زخميان وغيره. څومره تكاليف چې نورو تمامو انبياو تېر كړي له هغې زيات تكليفو يوازې رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) تېر كړي دي .

(اعانه) نه مراد صحابه كرام(مهاجرين او انصار) اوتابعين دي او اعانت اعانت قولًا او فعلًا دواړه مراد دي.

(تبيان) مراد بيان داحكامو دی.

حلّ اللغات

شمېره	لغات	معنی	شمېره	لغات	معنی
۱	غاية	انتهاء	۳	غناء	نفع
۲	توازی	مساوات(برابر)	۴	عناء	مشقت

تفسیر بیضاوي: (وَافْضِ عَلَينَا مِن بَرکَاتِهِمْ وَاسْلُك بِنا مَسَالِكَ كَرَاماتِهِم وَسَلَّم عَلَيهِمْ وَعلَينا تَسْلِيمًا كَثِيرًا)

ترجمه: او راتوی کړې پرموږ برکتونه د دغې خلکو اوموږ روان کړې په لارو دکراماتو ددغې مخکینو خلکو سلامتیا نازله کړې په موږ اوپه دوی سلامتیا ډیره.

تشریح: دلته مصنفین چې په خپلو خطبو کې درود شریف ذکر کوي د هغې متعلق بحث کوي. مسالک جمع د مسلک دی لارې ته وائي. مصنفین چې د خپلو کتابونو په ابتداء کې صلوة او سلام ذکر کوي د دوه دلیلونو له وجه اول دلیل نقلي دوهم دلیل عقلي.

(په صلوة (درود) دلیل نقلي)

الله جلّ جلاله په قرآن کې فرمائې: (وَرَفَعنا لک ذِکرَک [1])

سوال: د «رفع ذکر» نه مراد څه شئ دی ؟

جواب: داسلام راوړلو په وخت کې شهادتینو کې درسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ذکر دی چې د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په رسالت دشهادت ورکولو نه بغیر څوک نشي مسلمانیدی دغسې پنځه وخته اذانونو کې .اقامت کې او د ماشومانو په غوږونو کې په اذان کولو کې دلمانځه په تشهد کې دا ټول درفع الذکر مثالونه دي اوداسې نورو ځایونو کې د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ذکر راغلی دی نړیوالو چې کوم تحقیق کړی هغوی دا خبره معلومه کړې چې په دنیا کې په شپه او ورځ کې داسې سحنه نه تیریږي چې په هغې کې د محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نوم نه یادیږي هغه په دې طریقې سره چې لومړی په کومو هیوادونو سحار راوخیژ نو هلته د سحار اذان شروع شي نو دغسې سحار په قرار قرار په نورو ښارونو او هیوادونو را خیژي او هلته اذانونه کیږي تر بل سحار پورې یعنې په دنیا کې په شپه او ورځ کې داسې سحنه نه تیریږي چې اذان پکې نه کیږي او په هر اذان کې د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نو یادیږي .

---

(۱):- سورة الانشراح.

خو من جمله د رفع الذکر نه مراد د حمد نه روسته تصليه دی [1] نو مصنّف هم په «ورفعنا لک ذکرک» باندې د عمل کولو لپاره د صلوة ذکر وکړو.

(په صلوة (درود) دليل عقلي)

داچې موږ د اسلام او هدايت له ستر نعمت نه برخمن يو او د شريعت کوم علم او عمل مو په نصيب دی دا موږ ته د محمّد (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په واسطه حاصل شوی دی او الله جلّ جلاله زموږ د هر څه مالک حقيقي دی چې کله الله جلّ جلاله خپلو بندګانو ته اراده د تعليم وکړه نو د الله جلّ جلاله او د بندګانو په منځ کې هيڅ مناسبت نه وه؛ ځکه الله تعالی په کمال تقدّس کې وه او بنده ګان په کمال کدورت کې وه د غسې الله جلّ جلاله نور دی او بندګان عبادي «مادي» دي نو د تقدس او نور د کدورت او ما دي په منځ کې کمال انقطاع ده نو د دوی په منځ کې يو داسې امر ته ضرورت وو چې من وجه ئې مناسبت له الله جلّ جلاله سره وي او من وجه له عباد سره نو الله جلّ جلاله انبياء او رسولان عليهم السلام پيدا کړل چې دوی لره دوه (۲) جهته دي يو جهت د نورانيت دی او بل جهت د بشريت (مادي) دی په جهت د نور ئې له الله جلّ جلاله سره مناسبت دی او په جهت د مادې کې يې له عبادو سره مناسبت دی.

نو د نور د جهت په وجه ئې کسب د علومو له الله جلّ جلاله نه کولو او د جهت مادې په وجه ئې خپل امت ته تعليم ورکولو نو هر مصنّف چې تصنيف کوي د علم په واسطه ئې کوي او د علم تر ټولو ستره واسطه نبي عليه السلام دی نو رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يو عظيم محسن دی نو په مونږ د دې احساناتو شکريه اداکول

---

(۱):- نوميالی مفسر او محدّث امام بغوي رحمه الله په خپل تفسير کې د دې آيت لاندې ليکي چې کله د آيت نازل شو نو رسول الله صلّى الله عليه وسلّم له جبرائل عليه الصّلوة والسّلام نه پوښتنه وکړه چې له ورفعنا لک ذکرک نه څه مراد دي هغه ورته ووېل چې د عرش والا وائي اذ ذکرت ذکر معي چير ته زما ذکر کيږي هلته به ستا ذکر کيږي (تفسير بغوي) نو مصنّف هم ځکه له حمد نه روسته صلوة په رسول الله صلّى الله عليه وسلّم باندې ووايه.

هم واجب او ضروري دي نو مونږ ددې شکر ئې د اداکولو لپاره په محمد (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) باندې درود وویلې[1].

په کلمه د «بَعَدُ» کې تحقیق

تفسیر بیضاوي: (وبعد).

تشریح: دلته درې بحثونه په (بعد) کې کوي (۱) د بعد اعراب او بناء (۲) د بعد ترکیبې حیثیت (۳) په بعد لومړی قول چاکړی.

لومړی بحث: بعدُ له هغو ظروفو څخه دی کومو ته چې غایات وایی غایات جمعه د غایت دی په معنی د «انتهاءالشیء»

د اعراب په اعتبار سره «بعد» درې حالته لري : د بعد مضاف الیه به یا مذکر وي او یا محذوف، که محذوف وي دا به بیا خالي نه وي یابه نسیاً منسیاً وي او یا به محذوف منوي وي، په اولنیو دارو حالاتو کې معرب ذی او په دریم صورت کې مبني دی.

مصنفین د خطبو په اخر کې «بعد» سره له اما شرطیه ذکر کوي او په جواب کې یې «فاء»جزائیه را وړي د دې مطلب دا وي چې یوه خبره ختمه شوه او بله شروع کیږي خو دلته له «بعد» سره امّا شرطیه نشته سره له دینه چې په جواب کې یې « فاء»جزائیه راوړې دی ؟

علماء د دې لپاره دوه وجې بیانوي

(۱) توهم د امّا : د توهم د امّا له وجې یعنې مصنف دا وهم وکړ چې په اکثره خطبو کې له بعد سره امّا ذکر کیږي نو دلته به هم ذکر وي نو په جواب کې یې «فاء» جزائیه راوړه.

---

(۱):- دغه مسئله چې رسول الله صلّ الله علیه وسلّم نور دی که بشر ددیوبندي اوبریلوي علماء تر منځ یو مشهور اختلافي مسئله ده هر جانب خپل دلائل وائي خو دومره ده چې له نورانیت څخه ئې یو جانب هم انکار نه کوي دیوبندي علماء ئې په نورانیت قول کوي په اعتبار دهدایت او بریلوي علماء ئې په نورانیت قول کوي په اعتبار د ذات سره چې ذات رسول الله صلّ الله علیه وسلّم نور وو خو په هیئت دبشر کې.

(۲)تقدیر د امّا: یعنې لفظ د اما په کلام کې مقدر دی قرینه په حذف روسته ذکر د «فاء» جزائیه دی. او قاعده دی «المقدّر کالملفوظ» نو چې کله امّا ملفوظ وي فاء یې په جواب کې راوړل کیږي نو د مقدّرې په جواب کې یې هم راوړه.

خو دا دواړه وجې علماو کمزورې کڼلي لومړی دا چې د توهم د امّ قاعده یو نحوي عالم هم نه دی بیان کې دویم د امّا مقدّرې جه ځکه ناسمه ده چې امّا هغه ځای مقدره وي چې فاء څخه ورسته د امر یا نهي صیغه وي.

د «فاء» د راوړلو لپاره بهترینه وجه دادی چې شارح د کافیه علامه رضي الدین وایي دلته ظرف(بعد)په خپله قائم مقام د شرط دی او د شرط په جواب کې فاء راوړلی شي لکه قرأن کې الله جل جلاله فرمایي:(إِذ لَم يَهتَدُوا بِهِ فَسَيَقُولُون هذا إِفک قَديمٌ) دلته په فـسَيَقُولُون فاء جزائیه دی او مخکې شرط نشته بلکې دلته د اِن حرف شرط قایم مقام «اذ» ظرف دی نو دغسې بعد هم د اما شرطیه قائم مقام دی.[۱]

په «امّا بعد» کې ترکیبونه

دویم بحث: په امّا بعد باندې د وخت ستر محدث مولانا موسی خان بازي الغزنوي (رَحِمَهُ اللهُ) د «النجم السعد في مباحث امابعد» په نوم یو نادر او نایاب کتاب لیکلی نوموړي په خپل کتاب کې د موضوع متعلق بهترین بحثونه کړي او په امّا بعد کې یې (۱۳۳۹۷۴۰) د اعراب وجوهات او ترکیبونه بیان کړي دي د زیاتو معلومات لپاره هلته مراجعه وکړئ!

د امّا بعد کلمه لومړی چا استعمال کړې دی

دریم بحث: په امّا بعد باندې لومړی چا تلفظ کړی په دې اړه هم علماء بیلا بیل نظرونه لري مولانا موسی خان (رَحِمَهُ اللهُ) زیات اقوال رانقل کړي دي.

(۱) امّا بعد کلمه لومړی د نبي علیه السلام په نیکونو کې یو کس دی د «کعب بن لویٔ» په نوم هغه استعمال کړې دی.

---

(۱) رضي شرح الکافیة :لعلامه رضي الدین استرابادي

(۲).. سحبان بن وايل استعمال کړې دی خو دا قول ځکه ضعيف دی چې سحبان بن وايل په تابعينو کې دی له ده نه مخکې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) استعمال کړی دی.

(۳).. علامه زمخشري په خپل تفسير کشاف کې د دې ايت (وَاتينه الحِكمَةَ وَفَصلَ الخِطَابِ)[1] لاندې ليکي چې له «فصل الخطاب» نه مراد امّا بعد دی يعنې داؤد عليه السلام به چې کله خطبه ختمه کړه بيا به يې امابعد ويلې خلاصه دا چې امّا بعد تر ټولو مخکې حضرت داؤد عليه السلام استعمال کړی[2]

دعلم تفسير عظمت

تفسير بيضاوي: (فَاِنَّ أَعْظَمَ العُلُومِ مِقدارًا وَارْفَعْهَا شَرَفا وَمَنارًا)

ترجمه: په تحقيق سره لوي دی (علم التفسير) له علومو نه په اعتبار د قدر او منزلت او اچت دی له علومو ټخه په اعتبار د شرافت او ظهور.

تشريح: اعظم العلوم مبتداء او علم تفسير ئې خبر دی دا عبارت جواب د يو سوال مقدره دی.

سوال: مصنّف لره څه باعث وو چې په علم تفسير کې ئې تصنيف وکړ ولې يې په نورو علومو کې تصنيف نه کولو لکه علم حديث علم فقه او اصول فقه وغيره؟

جواب: ځکه ئې تصنيف په علم تفسير کې وکړ فانّ اعظم العلوم مقدارًا.

(منار) صيغه د ظرف ده موضع النّار ته وائې او لازمي معنی ئې تشهير دی هغه داسې چې پخوا ابادي کمه وه ځوک به چې په دښتو کې اوسيده نو څه لرګي به ئې راټول کړل يا به ئې يو لوی (اوږد) لرګی ته اور واچولو هغه به ټوله شپه بليده ددې لپاره چې هسې نه دچا نه لار ورکه وي او هلاک شي نو مسافرو به په دې سره لار معلوموله نو موضع النّار ئې حقيقي معنی ده.

تفسير بيضاوي: (عِلمُ التَّفسِيرِ الَّذى هُو رَئِيسُ العُلومِ الدِّينِيَّةِ و رَأْسُها وَمَبْنَى قَواعِد الشَّرعِ وَأساسُها).

---

(۱) سورة ص اية ۲۰.

(۲) تفسير كشاف لعلامة جار الله الزمخشري بحواله النجم السعد في مباحث اما بعد

ترجمه: هغه علم تفسیر چې رئیس او اصل دټولو علومو دینیه و دی او ځای دبناء دقواعدو دشرعیه و دی او بنیاد دقواعدو دشرعیه دی.

تشریح: دلته دوه بحثه کوي (۱) علم التفسیر رئیس العلوم دی او وجوهات یې (۲) د مفسر لپاره شرائط.

لومړی بحث: رئیس د رأس نه دی او رأس په معنی داصل سره دی اعظم العلوم اسم د انّ دی او هو رئیس العلوم خبر د انّ دی[۱]. قواعد جمع دقاعدې دی او څومره قواعد چې دي داټول له قرآن څخه راوتلي دي.

(علم تفسیر ولې رئیس العلوم دی)

علم تفسیر ته ئې رئیس دعلومو وویل ځکه شرافت دعلومو په څلورو وجهو سره دی.

(۱) لومړی: شرافت دعلم په اعتبار موضوع سره وي او موضوع دعلم تفسیر اشرفه ده چې کلام الله دی نو ځکه رئیس العلوم دی.

(۲) دوهم: شرافت دعلم په اعتبار دغایې سره وي او غایه دعلم تفسیر هغه سعادت الدارین دی.

(۳) دریم: شرافت د علم په اعتبار دمعلوم ددې علم سره وي اومعلوم دعلم تفسیر مراد دباري تعالی دی.

(۴) څلورم: شرافت دعلم په اعتبار داحتیاج سره وي او علم تفسیر ته شدة الاحتیاج دی ځکه دا مدار داحکامو دینیه و دی.

تفسیر بیضاوي: (لَايَلِيقُ لِتَعَاطِيهِ والتَّصدِّي لِلتَّكلُّمِ فيهِ أَلَّا مَن بَرُعَ فِى الْعلُوم الدِّينيَّةِ كُلِّها أُصولِها وَفُروعِهَا وفاقَ فِي الصَّناعَاتِ العَربِيَّة، وَالفُنُونِ ألاَدبِيَّةِ، بِأَنْواعِها).

ترجمه: ندی لائق ددغې علم اخیستل او ځان په دغه علم کې دتکلم دپاره پیش کول مګر دهغه چا لپاره چې په ټولو علومو دینیه وکې فوقیت او مهارت لري په وصولو اوفروعو دعلومو دینیه کې اوپه صناعات دعربیة اوپه فنون د ادبیت کې اوچت والي لري سره له ټولو انواعو.

---

(۱): - کلمه د انّ حرف ده له حروفو مشبّه بالفعل څخه اسم منصوب خبر مرفوع غواړي.

تشریح: اصول نه مراد کلام الله جلّ جلاله سنّت الرّسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او اصول فقه ده او له فروعو نه مراد علم فقه او اخلاق دي.

صناعات او علوم عربية

دریم بحث: داعلم به خالي نه وي یابه تعلق لري تر کیفیت العمل پورې او یا به یې نه لري که تعلق تر کیفیت العمل پورې نه لاره داعلم الصّرف شو او که متعلق وي تر کیفیت العمل پوري دا به بیا خالي نه وي یابه موقوف وي تر کیفیت العمل پوري او یا به نه وي بلکې حا صلیږي به له محض نظر او استدلال څخه اول (موقوف ترکیفیت پوري) باندې اطلاق دصنعت محضه کیږي او په دوهم باندې اطلاق دعلم اوصنعت کیږي او مراد له صناعات عربیه و نه هغه علوم دي چې موقوف ترکیفیت العمل پورې نه وي لکه منطق او فلسفه وغیره. او مراد له فنون ادبیه وو نه فنون عربیه دي.

(والعلوم العربیة) علوم عربیة دولس دي اته علوم اصلیه دي (۱) لغة (۲) صرف (۳) اشتقاق(۴) نحو (۵) معاني (۶) بیان(۷) عروض(۸) قوافی او څلور علوم فرعیه دي (۱) خط (۲) شعر (۳) انشاء(۴) محاضرات.

مراد له انواع نه انواع معتبره دي څکه بعض انواع دعلم ادب لکه علم عروض او قافیه (شعر) نه په علم تفسیر کې بحث نه کیږي له دینه داخبره معلومه شوه چې هرچا ته دتفسیر کولو اجازت نشته ترڅو چې په دغو علوموکې ښه ملکه او اتقان ونلري ورنه ځان به هم ګمراه کړي او نور به هم ګمراه کړی لکه نن صبا په بعضې ځایونو کې چې دوه یا درې کاله په روژه کې دتفسیر دوره وکړی نور به په یو حرف هم نه وی ککړ ځان ته به شیخ القرآن وائي دا خو لا څه چې اوس دښځو دتفسیر درسونه هم شروع دي ښځي هم مفسرې شوې الله به له دغو علماء و نه پوښتنه وکړي چې هرڅوک دقرآن په درس ورکولو تیزوي[1].

---

(۱):- علماء داصول القرآن دتفسیر لپاره څوارلس (۱٤) علوم ضروري ګنلي (۱) علم حدیث (۲) علم اصول فقه (۳) علم الفقه(٤) علم کلام (٥) علم صرف (٦) علم النحو(۷) علم المعاني (۸) علم البیان (۹) علم البدیع (۱۰) علم الفرائض (۱۱) علم التاریخ (۱۲) علم اللغة (۱۳) علم الادب (۱٤) علم المنطق. ټر دې چې داصول التفسیر علماء وائي دقرآن کریم مترجمین اومفسرین باید داسې و نه وائي چې دقرآن کریم ژباړه یاترجمه کوم څکه دقرآن دالفاظو ژباړه دعربي ژبې دپراخوالي او بلاغت سر بیره داعجازه له امله ناشوني ده علماء چې دقرآن ترجمې کړې دا دقرآن دالفاظو ترجمه نه بلکې دمعانیو ترجمه ده څکه دالله جلّ جلاله دکلام مستقیمه ترجمه دمخلوق لپاره ناشوني ده (اسان تفسیر)

د مفسر لپاره شرائط

مولانا زكريا (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) وايي چې علماو د مفسر لپاره پنځلس علوم شرط ګرځولي دي (۱) علم اللغة : امام مجاهد (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) فرمايي چې څوک د قيامت په ورځ ايمان لري هغه ته جائز نه دي چې د علم لغت له مهارت پرته د قرأن تفسير وکړي . (۲) علم الصرف : ځکه ابن فارس (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) وايي چې له چانه چې علم الصرف پاتې شو له ده څخه ډېر څه پاتې شول او علامه زمخشري رحمه الله په «اعجوبات» نومي تفسير کې فرمايي چې يو سړي د دې ايت (يَوْمَ نَدْعُوْا كُلُّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ) تفسير داسې وکړ: په ورځ چې مورډ را اوبلو هر څوک په خپلو ميندو سره.

امام يې جمع د أُمْ وګرځولو نو که چيرته له علم الصرف څخه خبر واى امام به يې جمع د ام نه وه ګرځولې (۳) علم النحو (۴) علم اشتقاق (۵) علم المعاني (۶) علم بيان (۷) علم بديع (۸) علم القرآت (۹) علم العقائد (۱۰) علم اصول فقه (۱۱) اسباب نزول (۱۲) ناسخ او منسوخ (۱۳) علم الفقه (۱۴) علم الحديث (۱۵) علم الوهبي (۱)

تفسير بيضاوي: (وَلَطَالَ مَا أَحدثَ نَفْسى بِأَنَّ أُصنِّف فى هَذالْفنَّ كتابًا).

ترجمه: ډير ځله ماته نفس وسوسه کوله چې په دې فن دتفسير کې يو کتاب وليکم.

تشريح: په (لطال ما) کې لام موطئة للقسم دی او «ما» مصدريه دی ځکه په کثرو نسخو کې ميم جلا ليکل کيږي . او تحديث النّفس وائې نفس سره دخبرې کول.

(داسې کتاب چې په درې صفاتو مشتمل وي)

لومړی صفت:

تفسير بيضاوي: (يَحْتوِى على صَفْوَةِ مابَلغنِى مِنْ عُظَماءِ الصُّحابةِ وَعلماءِ التَّابعيْنَ وَمِن دُونِهم مِن السَّلف الصَّالحِينَ).

ترجمه: چې هغه مشتمل وي په غوره کړی شو او خلاصه کړی شو تفاسيرو کوم چې ما ته دلويو صحابه کرامو رضوان الله عليهم اجمعين ،علماء و او تابعينو نه رارسيدلي وي.

---

(۱) فضائل اعمال صـ ۳۱۱،۳۱۰،۳۰۹

دوهم صفت:

تفسیر بیضاوي: (وينْطوِى عَلى نُكتٍ بارِعةٍ).

ترجمه: چې مشتمل وي په اوچتو نکتو باندې.

تشریح: نکت جمع د «نکتة» دی نکته په لرګي يا په نوک باندې ځمکه ګرولو ته وائي مجتهدينو به چې کله په يوه مسئله کې سوچ او فکر کولو نو ځمکه به يې په نوک يا لرګي ګروله او په ديکې خاص اثروي.

دريم صفت:

تفسیر بیضاوي: (وَلَطائِفِ رائِقةٍ اِستنبَطْتَها اَنا وَمن قبْلِي مِن أَفَاضلِ المُتأخِّرِيْنَ وَاماثِلِ المُحقِّقِينَ) .

ترجمه: او مشتمل وي په صفا، خالصو او عجيبه باريکاتو چې ددې باريکو مسائلو استنباط ماکړی دی او که له مانه مخکې متأخرينو علماءو او بهترين محققين وکړی دی:

دقرأت اته امامان

تفسیر بیضاوي: (وَيعْرب عَن وُجوهِ القِراءَاتِ المَشْهورةِ المَعزيَّة الى الائِمَّة الثَّمانِيةِ المَشهُورينَ و الشّواذ المَروِيَّة عن القُراءِ المُعتبَرِينَ).

ترجمه: او دا کتاب اظهار دقرائت د مشهورو اقسامو کوي کوم منسوب دي هغه اته (۸) معتبر او مشهورو امامانو ته او دا کتاب مشتمل دی په قرائتو شاذه وو باندې چې دمعتبره قاريانو نه ئې روايت کړی شوی وي.

تشریح: دقرأت اته مشهور امامان دادي (۱) نافع (۲) ابن کثير (۳) ابو عمرو (۴) ابن عامر (۵) عاصم (۶) حمزه (۷) کسائي (۸) يعقوب خضرمي).[1]

---

(۱):- دغو اته (۸) قاريانو دا قرائت له هغو اووه (۷) قاريانو څخه بالذّات او يا بالواسطه زده کړی کوم چې د رسول الله صلّی الله عليه وسلّم په زمانه کې په قرائت سره مشهورو وو لکه (۱) عثمان رضی الله تعالی عنه (۲) علي رضی الله تعالی عنه (۳) ابی بن کعب رضی الله عنه (٤) زيد بن ثابت رضی الله عنه (٥) عبدالله بن مسعود رضی الله عنه (٦) ابو درداء رضی الله عنه (۷) ابوموسی اشعری رضی الله عنه (مناهل العرفان ج ۱ ص ٤۰۷)

اوله اوو (۷) قاريانو څخه ځکه روايت شوی چې قرآن دعربو د اووه (۷) قبائلو په ژبه نازل شوی چې ديته سبعة احرف وائي هغه اوو قبيلې دادي (۱) قريش (۲) هذيل (۳) تميم (٤) ازو (٥) ربيعه (٦) هوازن (۷) سعد بن بکر: (اتقان ج۱ ص ٤۷ .)

تفسیر بیضاوي: (اِلّا أَنّ قُصورَ بِضاعتِي يُثَبِّطُنِي عن الاِقْدَام وَيمنَعُنِي عن الاِنْتِصاب فِي هذا المَقامِ حَتّى سَنحَ لِي بَعد الاستِخارةِ مَاصَمَّمَ بِهِ عَزمِي على الشُّروعِ فِيما أَرَدْتُه والاِتيَانُ بمَا قَصَدتُه)

ترجمه: لکن د علمي پانګي کمښت زه منع کولم په مقام د تفسیر کې له دریدو او وړاندې کیدو څخه تردې چې روسته له استخارې راته ظاهره شوه چې مضبوط شو قصد او اراده زما په شروع د هغه کار کې او راتلل په هغه شي چې ما ئې قصد کړی وو.

تشریح: کلمه د (ما) فاعل دی لپاره د مخکې «سنحّ» فعل دا په ما قبل لفظ د «شروع» باندې عطف دی، اصل عبارت داسې وو (صمم به عزمي على شروع فيما ارادته وعلى الاتيان بما قصدته.

حل اللغات

شمېره	لغات	معنی	لغات	معنی
۱	صفوة	خلاصه	يعرب	ظاهر شو (يظهر)
۲	بارعة	اوچت (فائقه)	معزية	منسوبه
۳	رائقة	خالص (عجيبه)	يثبطنى	منع کولم
۴	امائل	افاضل او اکابر	سنح	ظهر

تفسیر بیضاوي: (نَاوِيًا أَنْ أُسمِّيهُ بَعدَ أَنْ أُتمِّمُهُ بِانوارِ التَّنْزِيلِ وَاَسرارِ التأويلِ فَها أَنَا اَلآن اَشرعُ وبِحسنِ تَوفِيقِه اقُولُ وَهوَ المُوَفِق لِكُلِّ خير والمُعطِي كُلِّ مَسْؤولٍ).

ترجمه: نیت کوونکی وم په دې حال کې چې زه به نوم کدم روسته له اتمام نه انوارات د قرآن او رازونه د تأویلاتو نه دې خبرشي چې زه اوس په دې کې شروع کوم او په ښه توفیق دالله جلّ جلاله دا وایم او هغه الله جلّ جلاله د هر خیر توفیق ورکونکي دی او د هر سوال او حاجت پوره کونکی دی.

تشریح: انوار التّنزیل واسرار التأویل دا د تفسیر بیضاوي خپل نوم دی.

(فها) کې دا (ها) لپاره د تنبیه دی مطلب دا چې تاسو ته دې خبرداریٔ وي [1].

---

[1] حروف تنبیه درې (۳) دي (۱) آلا (۲) آما (۳) ها.

سورة الفاتحة

تفسير بيضاوي: (سُورةُ الفَاتحة الكتاب).

تشريح: دلته درې بحثونه کوي (۱) د سورت تشريح (۲) د سورت اضافت فاتحې ته (۳) د سورت فاتحې نومونه.

لومړی بحث: (سورة) دسئَر يسئَرُ نه مهموز العين دی په معنی د ما بقي دشي.

سورة الفاتحه اولنی هغه سورة دی چې کامل او پوره سورة نازل شوی دی په خلاف دباقي سورتونو هغه نجما نجما نازل شوي او په دې اتفاق دی چې دا په مکه مکرمه کې نازل شو خو اختلاف په ديکې دی چې دا نازل شوی په مدينه منوره کې روسته ددتحويل دقبلې نه دابحث مخکې راروان دی، سورة نوم دی لپاره هغه کلام چې دهغې لپاره مستقل نوم وي او مشتمل وي په درې آياتونو يا زياتو.

سوال: آيت کرسي خو هم مستقل نوم دی، مستقل عنوان دی او مشتمل دی په درې آياتونو اوسره له دې چې سورة نه دی؟

جواب: آيت کرسي اسم نه دی اضافت دی لکه ماء البير (اوبه دکوهي).

سورت مأخوذ دی له «سؤر البلد» څخه څکه سؤرالبلد مشتمل وي په بلد (ښار) اوسورت مشتمل وي په آياتونو خپلو او يا سورت وائي فوقيت ته او داهم په ټولو انساني کلامونو اوخبرو فوقيت لري او ياسورت مأخوذ دی له سؤر نه او سؤر جوټې ته وائي يعنې مابقيه دشي اوهر سورت دنورو سورتونو مابقيه وي.

او آية مأخوذ دی له (ايي يئايي آييةً) نه په معنی دتشخص لکه اَيي زيد ای تشخص زيد، دوه (۲) يا ګانې يو ځای راغلی اوله يا، په الف سره بدله شوه آية شو نو هر آية هم جدًا جدًا مضمون دی او يا اية مأخوذ دی له (اوی يأوی اوية) څخه اجوف واوي اوناقص يايي دې په معنی د رجوع نو واو په الف بدل شو آيت شو نو قاري چې تلاوت کوي هر آيت دلوستونکی مرجع دی.

(اضافت دسورة فاتحې ته)

دویم بحث: اضافت دسورت فاتحې ته اضافت په معنی دلام سره دی لکه اضافت دفاتحې کتاب ته چې په معنی دلام سره دی بیا اضافت په درې قسمه دی لومړی په تقدیر د «لام» دویم په تقدیر د «فی» دریم په تقدیر د «مِن».

وجه دحصر : دامضاف الیه به خالي نه وي یابه کلي وي محمول به وي په مضاف اویا به نه وي اول قسم اضافت په تقدیر د مِن سره دی او دا دوهم به بیا خالي نه وي یا به مضاف الیه ظرف وي لپاره دمضاف اویا به نه وي اول قسم (چې ظرف وي) اضافت په تقدیر د فِی سره دی او دوهم (چې ظرف نه وي) اضافت په تقدیر د لام سره دی نو فاتحه هم نه ظرف دی لپاره د مضاف او نه محمول دی په مضاف .

فاتحه: په وزن د اسم فاعل دی په معنی دخلاصونکي یا په معنی د آلې دی په معنی دمایفتح به القرآن یا مراد ورنه جزء اول دی او (ة) دا فاتحة لپاره دنقل دی له وصفیت څخه اسمیت ته .

د فاتحې نومونه

دریم بحث: قاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللَّهُ) دفاتحې لپاره څوارلس (۱۴) نومونه ذکر کړي لکه (۱)فاتحة الکتاب دا ورته په دې اعتبار وائې چې دا مبداء دی (۲) امّ القرآن دا ورته په دې اعتبار وائې چې اصل دی (۳) اساس القرآن په دې اعتبار ورته وائې چې دا منشأ دی.

سوال: تا وویل چې فاتحې ته اساس القرأن په دې اعتبار سره وایي چې دا منشأ دی او منشأ خو مصدر وي لپاره دغیر او فاتحه خو مصدر لپاره دغیر نه ده ؟

جواب: فاتحه منشأ حقیقي نه دی بلکه کالمنشأ دی (لکه منشأ دی)

تفسیر بیضاوي: (وَتُسَمَّى أُمّ القُرآنَ لِانّهَا مَفتحَه ومَبدَءهُ)

ترجمه: او دیته امّ القرآن هم وائې ځکه چې دا شروع او مبدأ دقرآن دی.

تشریح: عربي کې «امّ» مورته وائي دلته ترینه اصل مراد دی مجازاً. «مفتحه» یا ظرف دی په معنی دځای دشروع کولو یا مصدر میمي دی په معنی دافتتاح او مبداء: ځکه ابتداء دقرآن هم له فاتحې کیږي.

تفسیر بیضاوي: (فَکأنّها أَصْلهُ ومَنْشأهُ ولِذالِک تُسمّٰی اسَاسًا اَو لِانّها تَشتَمِلُ عَلٰی ما فیهِ من الثَّناءِ علی الله عزّ وجلّ وَالتَّعبُّد بأَمْرِهِ ونَهیِهِ وبَیانه وَعدَهِ وَ وَعِیدهِ).

ترجمه: نوګویا دا فاتحه د قرآن کریم اصل او ځای دپیداکیدو دی او له همدې وجهې دیته اساس (بنیاد) هم وائي او یا ورته امّ القرآن ځکه وائي چې دامشتمله دی په هغه څه چې په هغې کې په الله جلّ جلاله ثناء دی او د هغه ذات په اوامرو او نواهیو سره بندګي کول دي او دوعد او وعید بیان دی.

تشریح: غرض دقاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللَّهُ) په عبارت «او لانّها تشتمل» سره بیان د وجې ثاني دی په تسمیې د امّ القرآن سره.

(اعظم مقاصد دقرآن)

په قرآن کې اوه (۷) مقاصد ذکر کیږي(۱) امر(۲) نهي (۳) وعد (۴) وعید (۵) قصص (۶) امثال (۷) احکام خو اعظم مقاصد دقرآن یا څلور دي: (۱) ثناء (۲) تعبد بأمره ونهیه (۳) بیان وَعید (۴) بیان وعد او دا ځکه اعظم دي چې مقصد دنزول دقرآن هغه معرفت دمبدأ او معاد دی نو په ثناء او تعبد باندې معرفت دمبدأ حاصلیږي او په وعد او وعید باندې معرفت د معاد حاصلیږي او فاتحه په څلورو وارو مقاصدو مشتمله ده (۱) تر مَالِکِ یَومِ الدّین پورې ثناء دی (۲) او په اِیّاکَ نَعبُدُ کې تعبّد دی (۳) او په انعمت علیهم کې وعد دی (۴) او په غیر المغضوب علیهم کې وعید دی.

سوال: په ایّاک نعبد کې بیان دعبادت دی دا خو مستلزم لپاره تعبد بالامر ونهی نه دی؟

جواب: عبادت عبارت دی له امتثال د اوامرو او نواهیو نه.

سوال: قاضي صیب (رَحِمَهُ اللَّهُ) ولې دلته څلور مقاصد ذکر کړل او نور ئې پریښودل؟

جواب: ځکه چې دا څلور مقاصد متبوع او اهم دي او باقي د دې تابع دي.

تفسير بيضاوي: (اَوعَلى جُملةِ معَانيهِ مِن الحِكَمِ النَظريَّة والاحْكامِ العَمليَّة الَتى هِىَ سُلوكُ الطَّريقِ المسْتقيمِ والاِطْلاعِ عَلى مَراتبِ السُّعَداء وَمنازِل الأشقِياءِ)

ترجمه: او يا امّ القرآن ورته ځکه وائي چې داپه اجمالي نظري حکمتونه او احکام عمليه باندې مشتمل سورة دی چې هغه حکمتونه او احکام په سمه برابره لاره باندې تلل دي او د نيک بختو خلکو مرتبې او د بدبختو خلکو آخري منزلو باندې خبريدل دي.

تشريح: (اوعلى جملة الخ) دا دريمه وجه دتسميى دی په ام القرآن سره. حاصل دا چې ټول شيان په قرآن کې په تفصيل سره ذکر کيږي.

الاحكام العملية: عبارت دي له هغو احکامو څخه چې مقصود له دينه معرفت وي.

احكام نظرية: عبارت دي له هغو احکامو څخه چې مقصود له دينه عمل وي او دا موجود دي په قرآن کې. تر مَالِک يَومِ الدّين پورې ذکر داحکام عمليه وو دی تر اِيّاکَ نَعبدُ واِيّاک نستَعِين پورې ذکر داحکام نظريه وو دی او په اِهْدِنَا الصّراط المُسْتَقيم پورې ذکر دسلوک دی او په اَنْعمتَ عليهم کې مراتب دسعداء و ذکر دي او په غير المغضوب الخ کې منازل داشقياء وو ذکر دي نو دا امور په فاتحه کې اجمالًا موجود دي نو معلومه شوه چې ټول قرآن اجمالًا په فاتحه کې موجود دی.

تفسير بيضاوي: (وسُورةُ الكَنز وَالوَافيَة والكَافيَة لذَالِك و سورةُ الحَمدِ والشُّكر والدُّعاءِ وتَعليمُ المَسئلَةِ لاِشتِمالهَا عليهَا والصّلوةُ لوجوبِ قِرآئتِها اَو اسْتحبَابها فِيها والشَّافية والشَّفاء لقوله صلّى الله عليه وسلّم هِىَ شِفاء مِّن كلِّ دآءٍ)

ترجمه: او د دې سورت بل نوم سورت الکنز، سورت وافية، او سورت کافية هم دی او سورت حمد، سورت شکر، سورت دعا او سورت تعليم المسئله هم ورته وايي ځکه چې داپه حمد، شکر، دعا او په تعليم دمسئلې مشتمل دی او سورت صلوة هم ورته وائي ځکه په لمونځ کې د دې لوستل يا واجب دي يا مستحب دي سورت شافيه او سورت شفاء هم ورته وائي له دې وجهې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وائي چې دا سورت د هر مرض دوآء دی.

تشريح: دي سورت كنز هم وايي ځكه ده هم د قرآن د تمامو مضامينو خزانه ده علي رضي الله عنه فرمايي (الفاتحة نزلت من كنز تحت العرش[1]) وافيه او كافيه هم له دې وجې ورته وايي چې دا سورت د قرآن ټولو معاني او مضامين پکې موجود دي او سورت حمد ورته ځكه وايي چې دالحمد تذكره ده پکې او سورت شكر ورته ځكه وايي چې د الله تعالى صفات پکې ذكر دي او صفات د الله تعالى په منعم كيدو دلالت كوي او د منعم صفات د تعظيم په ډول ذكر كول هم شكر دى او دعا ورته ځكه وايي چې دعا پکې ذكر ده او تعليم المسئله هم له دې امله ورته وايي چې بندګانو ته يې پکې د غوښتلو او سوال طريقه ښودلې ده

مسئله د قرأت خلف الامام

قرآئت دسورت فاتحې په لمانځه كې واجب دى په اولنيو ركعتونو كې او مستحب دى په آخرينو ركعتونو كې په نزد داحنافو اوشوافعو د دواړو مذاهبو په وجوب كې اختلاف نشته احناف اوشوافع دواړه وائې چې دفاتحې نه غير لمونځ نه كيږي بلكه اختلاف په دې كې دى چې قرائت دامام كافي دى لپاره د مقتدي اوكه نه ؟ داحنافو په نزد د امام قرأت مقتدي لره كافي دى او دَ شوافعو په نزد كافي نه دى[2] .

---

(١) حدثنا عبّاس ، نا أبو غسان مالك بن إسماعيل النهدي ، نا موسى بن محمد الأنصاري ، عن العلاء بن المسيب ، عن الفضيل بن عمرو قال : سئل علي عن فاتحة الكتاب ، فقال : حدثنا نبي الله صلى الله عليه وسلم . ثم تغير لونه ورددها عليه ساعة : أنها نزلت من كنز تحت العرش ، فقال له رجل : إن أخي مريض ، فقال : تحب أن يبرأ أخوك ؟ قال : نعم . قال : قل يا حليم يا كريم اشف فلانا" معجم ابن الأعرابي - باب الدال رقم الحديث:١٧٦٤

حدثنا محمد بن محمد الجذوعي القاضي ، ثنا عقبة بن مكرم ، ثنا أبو بكر الحنفي ، ثنا عبيد الله بن أبي حميد الهذلي ، ثنا أبو المليح الهذلي ، حدثني معقل بن يسار قال : سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول : " اعملوا بالقرآن ، وأحلوا حلاله ، وحرموا حرامه ، واقتدوا به ، ولا تكفروا بشيء منه ، وما تشابه عليكم فردوه إلى الله أو إلى الأمير من بعدي كيما يخبروكم ، وآمنوا بالتوراة والإنجيل والزبور ، وما أوتي النبيون من ربهم ، وليشفعكم القرآن وما فيه من البيان ، فإنه شافع مشفع ، وما حل مصدق ، ولكل آية منه نور إلى يوم القيامة ، أما إني أعطيت سورة البقرة من الذكر ، وأعطيت طه والطور من ألواح موسى ، وأعطيت فاتحة الكتاب وخواتيم البقرة من كنز تحت العرش ، وأعطيت المفصل نافلة" المعجم الكبير للطبراني - بقية الميم
ما أسند معقل بن يسار - أبو المليح بن أسامة الهذلي رقم الحديث:١٧٣٢١

(٢):- دېته مسئله د قرائت خلف الامام وائي چې زمونږ اودشوافعو ترمنځ يوه مختلف فيها مسئله ده خو لله الحمد موږ په خپله دعوه باندې قرآني آياتونه ، نبوي احاديث او ګڼ شمير دصحابه كرامو آثار او اقوال لرو لكه الله جلّ جلاله فرمائي : وَاِذَا قرء القرآن فاستمعوا له

روحاني علاج

(شفاء لکلّ دآء)[1] سورت فاتحه د هر مرض لپاره شفاء او علاج دی که هغه مرض روحاني وي که جسماني څوک پرې د مولی هم شي او تعویذ هم ورته ترې جوړېږی شي.

دم او تعویذ هم د عام علاج غوندې یو علاج دی چې ولي او فاسق دواړه ئې کولی شي د دې لپاره ولایت او بزرګي شرط نه دی یو سړی به لمونځ نه کوي خو دم به ئې ښه کار کوي داده د ولایت نښه نه ده بلکه دا د عام ډاکټري علاج غندې علاج دی چې جائز غیر او جائز دواړه پکې شته که د شریعت موافق وي کفري الفاظ پکې نه وي نو جائز دی او که د شریعت موافق نه وي یعنې استعانت له غیر الله پکې غوښتل شوی وي یا کفرې الفاظ پکې وي بیا حرام دی.

تفسیر بیضاوي: (وَالسَّبعُ المَثَانِي لِاَنها سَبع آیاتٍ بالاِتِفاق اِلّا أنّ مِنهم مَن عدَّ التَّسمِيَةَ آيةً دُونَ انعمت عَليهم وَمِنهم مَنْ عَكسَ)

ترجمه: او دې سورت ته سبع المثاني هم وائې ځکه دا اووه (۷) آیاتونه دي په اتفاق سره.

تشریح: دلته دوه بحثه کوي (۱) د (السّبع المثاني) دوه کلمې دي مصنف لومړی د (السبع) بحث کوي بیا د (المثاني) (۲) د مکي او مدني سورتونو ترمینځ توفیر بیانوي.

وانصتوا لعلّکم تُرحَمُون. سورة الاعراف آية ٢٠٤ ، دټولو سلفو اوخلفو اتفاق فیصله ده چې په دې آیت کې دقرائت خلف الامام مسئله پوره واضحه شویده یعنی دامام او مقتدي کارونه او وظیفې ئې سره جلا کړي دي دامام وظیفه قرائت کول دي اود مقتدي وظیفه چپ دریدل اوتوجه کول دي. ځینې له دغو سلفو څخه مشهور صحابه کرام لکه عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عباس، مقداد بن اسود، ابو موسی اشعری ، حضرت جابر، ابودردآء ، زیدبن ثابت، ابوبکر ، معاذ بن جبل ،رضوان الله علیهم اجمعین. تولو دقرائت خلف الامام نه منع کړې او له تابعینو څخه حسن بصری، سعیدبن جبیر، سعیدبن مسیب ، امام مجاهد ، عبیدبن عمیر،عطاءبن ابی رباح ، امام ضحاک، قتادة، ابراهیم نخعي، شعبي، امام ابوحنیفة ، عبدالرحمن بن زید بن اسلم، او امام سد رحمهم الله ټول په یوه خوله وائي چې قرائت خلف الامام ناروا دي همدارنګې نبوي احاد یث هم له قرائت خلف الامام څخه منع کوي لکه عن ابی موسی اشعری رضی الله تعالی عنه قال انّ رسول الله صلّی الله علیهم وسلّم خطبنا فبین لنا سنّتان وعلّمنا صلوتنا فقال اقیموا صفوفکم ثمّ لیؤمّکم احدکم فاذا کبّر فکبّروا واذا قرء فانصتوا واذا قال غیرالمغضوب علیهم ولاالضآلّین فقولوا امین. رواه مسلم. ١ / ١٧٤ .وابوداود: ١ / ١٤٠ . وابن ماجه: ٦١ ،

دلازیات معلومات لپاره دشیخ صیب بې نظیر تألیف «احقاق الحق» ته رجوع وکړئ هلته شیخ صیب په لسګونو احادیث او دصحابه کرامو فتوې راجمع کړی هیله ده چې تنده به مو پرې ماته شي.

(۱):- اخبرنا قبیصة انا سفیان ، بن عبدالملک بن عمیر قال: قال رسول الله صلّی الله علیه وسلّم فی فاتحة الکتاب شفاء مّن کلّ داء. سنن الدارمي رقم الحدیث ٣٢٤٧ وکذا رواه البیهقي.

لومړی بحث: السّبع نه مراد اووه (۷) آياته دي او مثاني وائي مکرّر ته نو دا سورت هم مکرر نازل شوی دی يو ځلې په مکه مکرّمه کې او بل ځلې په مدينه منوره کې نازل شوی، مکرر دومره خبره دی چې بعضې «بسم الله» آيات شماري او «انعمت عليهم» آيات نه شماري او بعضې عکس کوي يعني بسم الله آيات نه شماري او انعمت عليهم آيات شماري.

دا(الا أنّ منهم...) دليل دی لپاره د(السّبع) يعنې اووه (۷) آياته دي په اتفاق دا حنافو اوشوافعو؛ خو شوافع بسم الله ته آيات وائي او انعمت عليهم ته ئې نه وائي او احناف انعمت عليهم ته آيات وائي خو بسم الله ته آيات نه وائي امام حسن بصري (رحمه الله) وايي چې فاتحه شپږ اياته دی نوموړی بسم الله هم ايت نه ګڼي او انعمت عليهم هم ځانته ايت نه ګڼي له صراط الذين څخه تر اخره ټول ايت ګڼي او امام حسين جعفي (رَحِمَهُ اَللَّهُ) يې اته اياته منې هغه بسم الله او انعمت عليهم جلا جلا ايتونه شميري خو مصنف دلته د جمهورو رايه را نقل کړې ده.

تفسير بيضاوي: (وتُثنّى فى الصّلوةِ اَو الاِنْزالِ اِنْ صحَّ انّها نزَلتْ بِمكّةَ حينَ فُرِضَتِ الصّلوةُ وبِالمدينَة حين حوّلتِ الصَّلوةُ القِبلةَ وَقدْ صحَّ انّها مَكيّةٌ لقوله تعالى وَلقدْ آتَينک سَبعًا مِّن المثانِي [1] وَهُو مكيٌّ بالنّصِ).

ترجمه: او دا مکرّر کولی شي په لمانځه کې او يا مکرّر دی په انزال (نازليدو کې) که دا خبره صحيح شي چې دا سورت هغه وخت کې نازل شوی چې په مکه مکرّمه کې لمونځ فرض شو اوپه مدينه منوره کې روسته له تحويل دقبلې نه دا صحيح دی چې دا سورت مکي دی ځکه الله جلّ جلاله فرمائي په تحقيق سره ما تاته درکړي اووه (۷) آياتونه مثاني (مکرّر) او دا مکي دی.

تشريح: دلته د (المثاني) بحث کوي فرمايي مثاني جمع د مثنی ده او د اسم مفعول صيغه ده لکه مناهي جمع د منهي ده په معنا د تکرار شوي سره او دا سورت هم بيا بيا تکراريږي نو ځکه ورته مثاني وايي او بل دا چې دا سورت دوه ځله نازل شوی دی يو ځل په مکه مکرمه او بل ځل په مدينه

(۱):- سورة الحجر: آية ۸۷ ، اومثانی جمع دمثنی ده صيغه دظرف يا اسم مفعول ده دتثنيه نه مأخوذ ده.

منوره کې خو روايت د نزول د سورت فاتحې په مکه کې کله چې لمونځ فرض شو اتفاقي دی په
مدينه کې اختلافي دی. 6

سوال: کله چې دا سورت دوه ځله مستقل نازل شو نو پکار ده چې دوه سورتونه ورته وويل شي او دا خو يو سورت دی؟

جواب: دا به هغه وخت دوه سورتونه شمېرل کيدو چې چې دويم ځل د يو مستقل سورت کيدو په حيث نازل شوی وای او د اهميت نه وجې دوباره نازل شوی دی.

دا (وَلَقَدْ آتَيْنٰكَ سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي) دليل د دې خبرې دی چې دا سورت مکي دی ځکه الله تعالى په دې ايت کې نبي عليه السلام ته خپل انعام وريادوکړی او دغه انعام يې په مکه کې ورياد کړی نو لازمه شوه چې دا سورت (انعام) به هم مکه کې نازل شوی وي او بل دا چې د دې نزول هم د اهل مکه په اړه شوی.

دريم دليل دا چې لمونځ په مکه مکرمه کې فرض شوی نو که فاتحه مدني سورت شي هغه يونيم کال مکي لمنځونه به ټول بې فاتحې ادا شوي وي او دا خبره باطله ده ځکه فاتحه ترلمانځه خاصه شوې ده.

مکي او مدني سورتونه

دويم بحث: په دې اړه علماء کرام درې قوله بيانوي.

لومړی: کوم سورتونه چې له هجرت مخکې نازل شوي دي هغه مکي او کوم چې وروسته له هجرت څخه نازل شوي هغه مدني دي.

دويم: په کومو سورتونو کې چې خطاب اهل مکه ته شوی که هر ځای نازل شوي هغه مکي بللی شي او په کومو کې چې اهل مدينه ته خطاب شوی هغه مدني دي بيا که هر ځای نازل شوي وي.

دريم: کوم چې په مکه کې نازل شوي دي هغه مکي دي خوله مکې څخه خپله مکه او د دې مضافات او اطراف دي لکه منا، عرفات او حديبيه او کوم چې په مدينه کې نازل شوي هغه مدني سوتونه دي له دې څخه هم خپله مدينه او اطراف د مدينې مراد دي لکه بدر، احد وغيره خو د دې

قول به بنا چې کوم سورتونه چې په سفرونو کې نازل شوي يعنې له مکې او مدينه علاو بل ځاى کې هغه نه مکې دي او نه مدني، خو مشهور پکې لومړى قول دى[۱].

ابوبکر ابن العربي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) وايي چې د مکې او مدنى په اړه له رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) څخه کوم قول نه دى منقول دا به د صحابه کرامو او تابعينو څخه معلومولى شي[۲].

ابوالحسن بن الحصار (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) وايي چې شل سورتونه اتفاقي مدني او دولس مختلف فيها دى او باقي ټول مکي دي او د ابى بن کعب رضي الله عنه په نزد اوه ويست (۲۷) سورتونه مدني دي او باقي ټول مکې دي[۳].

بحث دبسم الله

تفسير بيضاوي: (بسم الله الرَّحمنِ الرَّحيْم منَ الْفَاتحَةِ ومن كلّ سورةٍ وَعلَيهِ قُرآءُ مَكَّة والكُوفَة وَفقهَاءهمَا و ابنُ مُبارك والشّافعى وخالَفَهم قُرَّآء المَدينَة وَالبَصرَة والشّام وفُقهائِها وَمَالِك وَالاوْزَاعى ولَمْ يَنُصَّ ابوحنِيفةَ رحمه الله فِيه بِشيءٍ فظُنَّ انّها لَيسَ مِن السُّورَةِ عِندهُ وَ سُئِل مُحمد بن الحسَنِ الشّيبانى عنها فَقال مَابَين الدُّفتَين كَلَامُ)

ترجمه: دا (بسم الله) آيت (جز) دى له سورت فاتحې نه او په دې خبره چې دا آيت دي له فاتحې نه قرآء د مکې، کوفي، او فقهاؤ دمکې او کوفې، او ابن مبارک (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) او شافعى (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) دي او مخالفت کړى قرآء وو دمدينې، بصرى، شام، او فقهاؤ ددې دغه رنګ امام مالک (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) او اوزاعي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ).. او تصريح نه دى کړې امام ابوجنيفة (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) په دې کې نو ګمان وکړى شو چې د امام ابوحنيفة (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) په نزد جزء له فاتحې څخه نه دى او پوښتنه وشوه له امام محمّد (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) نه د بسم الله په باره کې نو هغه ورته وويل چې په مابين دګتو کې کلام الله دى.

---

(۱) علوم القرآن صـ ۱٤٦ لعلامه شمس الحق الافغاني.

(۲) انتصار بحواله علوم القرآن صـ ۱٤٦

(۳) الإتقان في علوم القرآن عبد الرحمن بن أبي بكر، جلال الدين السيوطي (المتوفى: ۹۱۱هـ)

تشريح: علامه تفتازاني (رَحِمَهُ اللهُ) فرمائي چې د بسم الله لپاره دوه (۲) حيثيته دي اول كونها في اوائل سورة كيدل د دې په اوائيلو د سورتونو كې دوهم كونها في النمل كيدل د دې سورت نمل كې.

هغه بسم الله چې په سورت نمل كې ذكر دى (انه من سليمان وانه بسم الله الرحمن الرحيم[1])
داپه اتفاق سره جزء دقرآن دى او جزء د سورت نمل دى او هغه بسم الله چې په اوآئيلو دسورتونو كې ذكر كيږي په دې كې اختلاف دى.

په بسم الله كې اختلاف

لومړى قول: د امام مالك (رَحِمَهُ اللهُ) او د قدماء احنافو دى.

دوهم قول: د شوافعو اومتأخرينو احنافو دى بيا د دوى ترمنځ اختلاف دى.

اول قول: امام مالك اوقدماء داحنافو وائې چې داجزء دقرآن څخه نه دى له دې وجهې نه امام مالك (رَحِمَهُ اللهُ) بسم الله نه په سري (خفيه) او نه په جهري لمانځه كې وائې اوقدماء د احنافو وائي چې قرآن عبارت دى له (منقول عن النبى صلى الله عليه وسلم متواتر مابين دفتين بلاشبهة) يعنې قرآن هغه دى چې په تواتر سره منقول دى په مابين ددوه ګتو كې ليكلى شوى چې هيڅ شك او شبه پكې نشته. او د بسم الله په باره كې اختلاف دى نو دا منقول په تواتر سره نشو نو په دې كې شبهه راغله ځكه له قرآن څخه خارج دى.

دويم قول: شوافع اومتأخرين داحنافو وائي چې داجزء د قرآن څخه دى بيا د دوى په مابين كې اختلاف دى.

متأخرين داحنافو وائي: چې بسم الله نه له فاتحې او نه له هرسورت څخه جزء دى.

اوشوافع وائي: چې بسم الله جزء له فاتحې دى بيا بعضې شوافع وائي چې له باقي سورتونو څخه هم جزء دى اوځينې وائې چې له باقي له سورتونو څخه جزء نه دى له دې وجهې نه حنفي قاريان په ختم د تراويحو يوځل بسم الله وائې اوشوافع ئې نه وائې.

---

(۱) سورت النمل اية ۳۰

د احنافو دلایل

د متأخرینو احنافو دلایل: متأخرینو دوه دعوې کړې وې اوله دا چې بسم الله جزء له قرآن څخه دی او دیمه دعوه دا وه چې نه جزء له فاتحې دی او نه له هر سورت څخه جر دی.

لومړۍ دعوې دلیل: د احنافو دلیل په دې خبره چې بسم الله جزء له قرآن څخه دی او جزء له فاتحې نه دی روایت د ابو هریرة (رضي الله عنه) دی چې دا حدیث قدسي دی.

(عن ابي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ، فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ: { الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: حَمِدَنِي عَبْدِي، فَإِذَا قَالَ: { الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} ، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى : مَجَّدَنِي عَبْدِي، وَإِذَا قَالَ: {مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ}، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى : أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي ، وَإِذَا قَالَ : { إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ }، قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: هَذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ ، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ)[1]

ترجمه: له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام فرمایلي چې الله تعالی فرمايي: ما تقسیم کړې فاتحه په مابین زما او زما دبنده کې کله چې بنده ووائي الحمد لله ربّ العالمین . نو الله پاک ووائي حمدني عبدي زما بنده زما حمد ویلو. دا حدیث په فضائلو د فاتحې کې ذکر دی.

دویم دلیل: عَنِ ابْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعَنِي أَبِي، وَأَنَا أَقُولُ: {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} [الفاتحة:] ، فَقَالَ: أَيْ بُنَيَّ، إِيَّاكَ - قَالَ: وَلَمْ أَرَ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَبْغَضَ إِلَيْهِ حَدَثًا فِي الْإِسْلَامِ مِنْهُ - " فَإِنِّي قَدْ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ وَمَعَ عُثْمَانَ، فَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا مِنْهُمْ يَقُولُهَا، فَلَا تَقُلْهَا، إِذَا أَنْتَ قَرَأْتَ فَقُلْ: الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.[2]

---

(۱) أخرجه صحيح مسلم (۱ / ۲۹٦ ط عيسى البابي الحلبي).
حَدَّثَنَا إِسْحَقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْحَنْظَلِيُّ أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ عَنْ الْعَلَاءِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
(۲) مسند أحمد (۲۷/ ۳٤۲)رقم الحديث۱٦۷۸۷ - حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، قَالَ: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ إِيَاسٍ الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ قَيْسِ بْنِ عَبَايَةَ،

عبد الله بن مغفل (رضي الله عنه) فرمايي ما نه زما پلار په مانځه کې له الحمدلله نه مخکې بسم الله واوريده کله چې له لمانځه فارغ شوم نو راته يې وفرمايل بچيه په اسلام کې له نوي کار پيدا کولو ځان وساته ځکه ما له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) .ابوبکر الصديق.عمر فاروق (رضي الله عنهما) پسې لمونځ کړي هغوی به فاتحه له بسم الله څخه نه شروع کوله . نو له دې حديث څخه څرګنده شوه چې بسم الله د فاتحې جز نه دی

دريم دليل: حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، قَالَ: كَتَبَ إِلَيَّ قَتَادَةُ، حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ: " صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، فَكَانُوا يَسْتَفْتِحُونَ بِـ {الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} [الفاتحة: ٢] ، لَا يَذْكُرُونَ {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} [الفاتحة: ١] فِي أَوَّلِ الْقِرَاءَةِ، وَلَا فِي آخِرِهَا[1]

انس رضي الله عنه فرمايي چې ما له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ابوبکر ، عمر او عثمان رضي الله عنهم پسې لمونځ وکړ له يو مې هم د الحمد لله شروع او يا ی په بسم الله وا نه وريده

څلورم دليل: (وَ سُئِل مُحمد بن الحسَنِ الشَّيباني) له امام محمّد بن حسن الشيباني (رحمه الله) نه يوه ورځ چا پوښتنه وکړه چې قرآن څه ته وائې هغه ورته وويل «مابين الدّفتين كلام الله» يعني د دې دوه کتو مابين کې چې څه دي دا کلام الله دی او دا قول اوفتوی دامام صيب (رحمه الله) هم دی ځکه چې کله امام محمّد (رحمه الله) او امام ابويوسف (رحمه الله) چې يوه خبره ذکر کړي او ځان ته ئې منسوب نه کړي نو دا دامام ابو حنيفة (رحمه الله) قول وي.

د دويمې دعوې دليل: (ولَمْ يَنَصَّ ابوحنِيفةَ فِيه بِشيءٍ) هغه دا چې بسم الله د فاتحې نه هم جزء نه دی او له هرسورت څخه هم جزء نه دی دليل دادی چې کوفه کې په دې خبره کې ډير اختلاف وه دامسئله ډير مختلف فيها وه او امام ابوحنيفه (رحمه الله) ساکت (چپ) وه اوکله چې خلک

---

(۱) مسند أحمد (۲۱/ ۵۰)رقم الحديث ۱۳۳۳۷ – وايضاً في مسند أحمد (۲۱/ ۳۶۰)رقم الحديث ۱۳۸۹۲ - حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، وَحَجَّاجٌ، قَالَ: حَدَّثَنِي شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ قَتَادَةَ،... عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، فَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا مِنْهُمْ يَقُولُ: {بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ} [الفاتحة:] "

رائې پيش كوي او امام موجود وي نو دا دليل دانكار دى نو دامام صاحب هم دا قول دى چې دا نه جزء له فاتحې دى او نه جزء له هر سورت دى او قاضي بيضاوي (رَحِمَهُ اللهُ) وائي چې جزء له قرآن هم دى او همدارنګه جزء له فاتحې هم دى؛ ځكه دا شافعي مسلكى دى نو دلته قاضي (رَحِمَهُ اللهُ) دوه (۲) دعوې وكړې يوه دا چې بسم الله جزء دى له قرآن څخه. بله دعوه دا چې جزء دى له فاتحې څخه.

په اوله دعوه كې دمدينې منورې، دبصرې او شام، قاريانو او امام اوزاعي او امام مالك (رَحِمَهُمَا اللهُ) اختلاف كړى، او په دعوه ثاني كې اختلاف كړى امام ابو حنيفة (رَحِمَهُ اللهُ).

د شوافعو دلايل

تفسير بيضاوي: (لَنا احادِيث كثيرة مِنها: مارَوَى ابو هريرةَ رضى الله عنه انّه عَليه الصّلوة والسّلام قَال فَاتحةُ الكتَابِ سَبع آياتٍ أُولاهُنّ بسم الله الرّحمنِ الرّحيم).

ترجمه: زموږ لپاره ډير احاديث دي يو له هغې نه هغه حديث دى چې روايت كړى ابوهريرة (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمائې فاتحة الكتاب (سورت فاتحه) اووه(۷) آياتونه دي چې اول آيت ئې بسم الله الرّحمن الرّحيم دى.

تشريح: له دې څخه روسته مصنف د شوافعو دلايل ذكر كوي

شوافع دخپلې دعوې لپاره څلور دلائل بيانوي (۱) حديث دابو هريرة (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) (۲) حديث دامّ سلمه (رَضِيَ اللهُ عَنْهَا) (۳) اجماع (۴) وفاق.

(لنا) نه مراد شوافع دي ځكه مصنّف (رَحِمَهُ اللهُ) شافعي دى

لومړى دليل: دا حديث د ابوهريرة (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) د حديث يوه ټوټه ده مكمل حديث داسې دى:

(عن ابى هريرة رضى الله عنه عن النّبى صلّى الله عليه وسلّم انّه كان يقول الحمدلله ربّ العالمين سبع آيات احداهنّ بسم الله الرّحمن الرّحيم وهى السّبع من المثانى والقرآن العظيم وهى امّ القرآن وهى فاتحة الكتاب)[1].

---

(۱):- رواه سنن البيهقى بسند: اخبرنا ابوعبدالله الحافظ و ابوبكر احمدبن الحسن القاضي قالا حدثنا ابو العباس محمّد بن يعقوب حدثنا العباس بن محمد الدوري حدثنا سعد بن عبدالحميد بن جعفرالانصارى حدثناعل بن ثابت عن عبدالحميد بن جعفرحدثنى نوح بن ابى بلال عن سعيد المقبورى عن ابى هريرة رضى الله عنه.

تفسير بيضاوي: (وَ قولُ اُمّ سلَمةَ رضى الله عنها قرءَ رسُول الله صلّى الله عليه وسلّم الفَاتِحَةَ وعَدَّ بِسم الله الرّحمن الرّحيم الحمد لله ربّ العالمين آيةً وَمن أَجْلِهما اختَلَفَ فى انها آيةٌ بِرأسِها اَم بِما بَعدها).

ترجمه: او قول د امّ سلمة (رضي الله عنها) دی چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فاتحه ولوستله اوبسم الله الرّحمن الرّحيم ئې يو آيات وشميره ، له دې وجهې نه اختلاف دی په دې کې چې دا آيت برأسها (مستقل) دی او که مابعد آيت سره يو ځای دی

تشريح: دويم دليل دا د شوافعو دويم دليل دی او دا هم د امّ سلمى (رضي الله عنها) د حديث يوه ټوټه دی مکمل حديث داسې دی (وعن امّ سلمة رضى الله عنها انّ النّبى صلّى الله عليه وسلّم كان يقرء بسم الله الرّحمن الرّحيم الحمدلله ربّ العالمين الرّحمن الرّحيم مَالِكِ يوم الدّين ايّاک نعبد وايّاک نستعين اهدنا الصّراط المستقيم صراط الّذين انعمت عليهم غيرالمغضوب عليهم ولاالضّآلين فقطعها آية وعدّدها عدالاعراب وعدّ بسم الله الرّحمن الرّحيم ولم يعد عليهم[1].

تفسير بيضاوي: (وَالاجماعُ عَلى اَنّ مابَينَ الدُّفتَين كَلامُ اللهِ سبحانه وتعالىٰ)

ترجمه: او اجماع دی [2] په دې باندې چې په مابين د دوه ګتو (وقاية) کې کلام الله دی.

تشريح: دريم دليل : د شوافعو دريم دليل اجماع ده هغه دا چې په مابين د ګتو (وقايو) کې كلام الله دی نو بسم الله هم جز له قرآن شو ځکه دا هم مابين الدفتين دی.

تفسيربيضاوي: (وَالوِفاقُ على اثْباتِها فِى المَصاحِف معَ المُبالَغةِ فى تجْريْدِ القُرآن حتّى لَمْ تَكتُب آمِين)

(۱):- رواه الدر المنثور: ۱ / ۳۵ لامام جلال الدين السيوطى رحمه الله بسند: اخرج ابوعبيد و ابن فى الطبقات وابن ابى شيبة واحمد وابوداود وابن خزيمة وابن الانبار فى المصاحف والدار القطنى والحاكم وصححه والبيهقى والخطيب وابن عبدالبرّ كلاهما فى كتاب المسئلة عن امّ سلمة.

(۲):- الاجماع لغة: العزم والاتفاق واصطلاحًا: اتفاق المجتهدين هذه الامّة بعدالنّبى صلّى الله عليه وسلّم على حكمٍ شرعى ، والاجماع د اصل و دليل من دلائل الشرع.

ترجمه: اوبل وفاق دی په ثابت ساتلو د بسم الله په قرآن کې سره له ډیر مبالغې نه په خالي ساتلو د قرآن کې له غیر قرآن نه حتی چې امین پکې ونه لیکلي شو.

تشریح: څلورم دلیل: دعلماؤ اتفاق دی په دې خبره چې بسم الله دې په قرآن کې ولیکل شي اوحال دا چې صحابه کرامو اوتابعینو ډیرکوشش کولو په دې خبره کې چې غیر قرآن دې له قرآن څخه وویستلی شي خو چې بسم الله پکې ثابته پاتې شوه نو هم دا دلیل دجزئیت دی.

سوال: اجماع خو دلالت په دې کوي چې دابسم الله جزء له قرآن څخه دی نه په دې چې داجزء له فاتحې دی اوستا دعوه خو داده چې دا جزء له فاتحې څخه دی؟

لومړی جواب: مقصد دقاضی (رَحِمَهُ اللّٰهُ) دوه امره دي اول ذکر د دلیل په اثبات د دعوې. دوهم ردّ په مخالفینو؛ نو د اثبات د دعوي لپاره ئې احادیث ذکر کړل او په مخالفینو د ردّ لپاره ئې اجماع اوقیاس ذکر کړل چې په دې خبره اجماع ده چې مابین د فتین کې کلام الله دی په دی کې ئې ردّ وکړو په امام مالک (رَحِمَهُ اللّٰهُ) اوقدماؤ د احنافو څکه هغوئ جزئیت دبسم الله نه مني.

دویم جواب: یا دا وایو چې څلور واړه دلائل لپاره د دې خبرې او دعوې دي چې داجزء له قرآن څخه دی لکن جزئیت ئې له احادیثو څخه ضمنا ثابت دی او له اجماع او وفاق څخه صراحتًا.

دشوافعو له دلائلو نه جواب:

لومړی: کوم احادیث چې قاضی (رَحِمَهُ اللّٰهُ) په دلیل کې پیش کړل د ام سلمه (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا) د روایت مقصد دا دی چې بسم الله یې په قصد د تبرک لوستلې نه په قصد تلاوت او روایت ابوهریرة (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) متعارض دی او په متعارض روایت استدلال نشي کولی.

دویم: اجماع او وفاق خو په جزئیت دفاتحې دلالت نه کوي بلکې په جزئیت د قرآن دلالت کوي او دا زمونږ دعوه دی.

په قرآن کې د سورتونو د نومونو او ایاتونو تذکره

سوال: تا وویل چې د قرآن په تجرید کې د غیر القرآن څخه مبالغه شوې ده ، نو بیا ولې د سورتونو نومونه او د حروفو له ذکر کولو څخه سورتونه نه دي خالي شوی چې د هر سورت په سرکې د سورت نوم او د آیتونو تعداد لیکل شوی دي.

لومړی جواب: مراد له مصحف نه هغه مصحف (قرآن) د صحابه وو او تابعینو دی او دهغوئ په مصحف کې د سورت نوم او د ایاتونو د تعداد تذکره نه وه.

دویم جواب: یا دا وایو چې مراد له کلمې د (ما) نه په دې قول کې چې «مابین دفتین» دې هر هغه شئ دی چې احتمال د دې لري چې دا له قرآن څخه دی (من شانه ان یعد من القرآن).

د بسم الله بحث :

تفسیر بیضاوي: (وَالبَاءُ مُتعلّقةٌ بِمحذُوفٍ تَقدیرُهُ بِسم اللهِ أَقرأُ لأَنَ الّذِي يَتلُوه مَقرُوٌّ).

ترجمه: کلمه د «باء» په بسم الله کې تر محذوف پورې متعلق دی چې تقدیر یې بسم الله اقرأ دی ځکه هغه څه چې له قبیلې د متلو څخه وي هغه به مقرؤ وي.

تشریح: په بسم الله کې دقاضی بیضاوي (رَحِمَهُ اللهُ) غرض پنځه مباحث دي (۱) نحوي (۲) بلاغتي (۳) کلامي (۴) لغوي (۵) رسم الخطي.

نحوي بحث

دا باء حرف جر دی او حروف جاره وضعه شوي دي لپاره درسولو (راکاګلو) دمعانیو دافعالو اوشبهه الافعال اسمآءوو ته نو له دې وجهې نه به دا متعلق هم تر فعل او شبه فعل پورې وي.

بیا دا فعل یا شبه فعل که په لفظ کې ذکر شوي وي دیته ظرف لغوه وائي او که په لفظ کې نه وي ذکر بیا دیته ظرف مستقر وائي[1] بیا که فعل محذوف وي کله به فعل باندې قرینه مخصوصه دلالت کوي سوا د حرف جر نه او کله وربانديې قرینه مخصوصه دلالت نه کوي که چیرته په دې فعل

---

(۱) ظرف مستقر ته ځکه مستقر وايي چې دا د خپل متعلق (عامل) په ځای مستقر او قایم وي ، ظرف لغوه ته ځکه لغوه وایي چې د ده مستقرار د خپل متعلق پر ځای لغوه شوی وي یعني عامل اومتعلق یې په خپله ذکر وي، تحفه شاهجهاني حاشیة شرح التهذیب.

باندې قرينې مخصوصې دلالت كولو دلته به فعل خاص مقدروي اوكه مخصوصې قرينه وربانډې دلالت نه كولو نو دلته به بيا فعل عام مقدروي نو باء په بسم الله كې حرف جردی داهم د فعل اوشبه فعل معنى اسم ته راكاږي چې لفظ د الله جلّ جلاله دی نو متعلق به هم وي تر فعل اوشبه فعل پورې نو د دی په متعلق كې دوه احتماله دي:

(۱) چې متعلق شي تر فعل پورې (۲) چې متعلق شي تر شبه فعل پورې.

چې متعلق ئې فعل شي بيا په دې كې دوه احتماله دي (۱) يا به يې متعلق فعل خاص وي (۲) يا به ئې متعلق فعل عام وي.

په متعلق د باء كې مذاهب

په متعلق دباء كې درې (۳) مذاهب دي

اول مذهب: بعض وائي چې متعلق ئې عام دی (فعل عام مقدر كوي) چې ابداء دی د دې لپاره دوی دوه ولائل وائي:

(۱) دليل دادی چې فعل عام (ابداء) ځكه مقدر كوو چې دا فعل عام (ابداء) متعلق دی لپاره دډيرو افعالو.

(۲) دليل دادی چې په فعل عام (ابداء) سره موافقت له حديث سره حاصليږي لكه دا قول دنبی (عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ) كلّ امرٍ ذی بالٍ لم يبدأ فيه بسم الله[1] الخ) نو په حديث كې هم فعل عام ذكر دی.

دوهم مذهب: بعضې وائې چې دلته اسم مقدر دی چې «ابتدائي» دیٰ او د دی لپاره دليل دا وائې چې په تقدير داسم سره چې (ابتدائي)دی دا جمله اسميه گرځي اوجمله اسميه په دوام او استمرار دلالت كوي.

دريم مذهب: دا قول د قاضي بيضاوي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) دی او دا فعل خاص مقدركوي چې «اتلو» دی د دې لپاره دليل دا وائي چې دا روسته جمله له كومې قبيلې څخه وي نو مخكې فعل

---

(۱):- رواه حبان انّ النبي صلّى الله عليه وسلّم قال: كلّ امرٍ ذی بال لايبدء باسم الله الرّحمن الرّحيم فهو ابتر كذا فى دار قطنى ومسند احمد: ۱۴ / ۳۲۹، رقم الحديث ۸۷۱۲، واللفظ (لم يبدأ) رواه حافظ عبدالقادر الرهاروى فى اربعينه وكذا العينى فى شرحه.

به ورته له همغې قبيلې مقدر كولی شي نو بسم الله له قبيلې د متلو او مقروء څخه دی ـ ځكې به هم ورته فعل اتلو يا اقرء مقدر كولی شي.

تفسير بيضاوي: (وَكَذَالِكَ يضْمرُ كُلُّ فَاعِلٍ مَايجْعلُ التَّسْمِية مَبدَأً لهُ)

ترجمه: دارنگه به مقدر كوي هر فاعل د هغه فعل چې تسمية د هغې لپاره مبدأ گرځوي.

تشريح: په عبارت سره قاضي صيب پهاول مذهب درې ردونه (څوک چې ابدء مقدر كوي)

لومړی رد: دا قانون كلې بيانوي هغه داسې چې دروستني فعل لپاره به مخكې هغه فعل مقدر كوي كوم چې درستني فعل له جنسه وي لكه بسم الله موږ لولو نو مخكې به ورته اتلو او اقرأ فعل مقدر كوو يا كه د څښلو له قبيلې څخه وي هغې ته به اشرب فعل مقدر كوو يا له قبيلې د سوريدنو وي هغې ته به اركب فعل مقدر (متعلق) كوو وغيره.

سوال: ته وائې چې فعل مقدر به دروستني فعل له جنسه وي (هغه فعل كوم چې د بسم الله لپاره مبدأ وگرځي) نو كله چې خوراک يا څښاک كوم نو بسم الله ته به اكل او شرب څنگه مقدر كوم ځكه دا خو فعل حقيقي دی او فعل حقيقي خو نه مقدر كيږي.

لومړی جواب: په عبارت كې يوه نوعه مساهله ده يعنې عبارت مخذوف دی معنى دا «يضمر اللفظ الدّال على ماتجعل التّسمية مبدأ له» يعنې مقدر به كړي هغه لفظ چې دلالت كوي په هغه فعل كوم چې ته مبدأ لپاره د بسم الله گرځوې لكه په خوراک او څښاک كې به لفظ د اكل او شرب مقدر كوی نه فعل حقيقي كما زعمت.

دويم جواب: په لفظ د ما كې سنعت استخدام دی هغه داسې چې كله يې لفظ صراحتا ذكرو نو د دې نه مراد دال دی او كله چې مرجع د ضمير وگرځي بيا ترينه مراد مدلول وي

تفسير بيضاوي: (وَذالِك اَولى مِنْ أَن يُّضمرَ أَبدأ لِعدمِ مايُطابِقُه وَمايَدُلُّ علَيهِ)

ترجمه: او دا اولی دی له هغه نه چې مقدر كوي ابتدأ (ابدأ) له وجهې د عدم مطابقت او له وجهې د عدم قرينې نه چې دلالت پرې وكړي.

تشریح: په دې عبارت سره مصنف دویم او دریم رده کوي دویم رد په «العدم مایطابقه» سره کوي او دریم په «مایدلّ علیه» سره کوي

دویم رد: که چېرته ابدأ مقدر کړای شي نو داسې فعل حقیقي نشته چې مطابق له ابدأ سره وي یاصادق په ابدأ وي ځکه فعل حقیقي له قبیلې مقرؤ څخه دی او مقرؤ په «ابدأ» نه دی ورصادقیږي.

دوهم رد: که چېرته ابدأ مقدر او محذوف کړی شي نو د مقدر لپاره خو قرینه پکار ده او په تقدیر ابدأ دلته هیڅ قرینه نشته.

تفسیر بیضاوي: (اَوْ اِبتِدَائِي لِزِیادَتِ اِضْمارٍ فیهِ)

ترجمه: او تقدیر د اقرأ اولی دی له تقدیر د «ابتدائي» څخه ځکه په دیکې زیادت اضمار دی.

تشریح: داعطف دی په «ابدأ» باندې یعنې تقدیر د ابتدائي نه تقدیر د اقرأ اولی دی او په دې سره په دویم مذهب رد کوي.

هغه داسې که چیرته ابتدائي مقدر او متعلق کړای شي نو زیادت د اضمار راځي او قلت د اضمار اولی دی له زیادت د اضمار څخه نو تقدیر به داسې شي ابتدائي ثابت بسم الله الرّحمن الرّحیم.

دمذاهبو له دلائلو څخه جوابونه

لومړي مذهب ته **جواب:** لومړي مذهب په خپله دعوه باندې دوه دلایل وړاندې کړي و.

لومړی دلیل داو چې ابدأ (فعل عام) مقدر او متعلق دی ځکه دا د اکثرو د افعالو متعلق دی.

نو داورته جواب کوي چې فعل عام مقدر کول خو قاعده کلیه نه دی بلکه تقدیر د فعل عام به هلته کیږي چې قرینه دخصوص نه وي موجود ده او که چیرته قرینه دخصوص موجود ده وه نو بیا لابدي ده له تقدیر دفعل خاص نه لپاره عمل په مقتضی دقرینې د خصوص او که چیرته قرینه دخصوص موجوده نه وه بیا لابدې ده له تقدیر د فعل عام نه لپاره د عمل په مقتضی دقرینې د عموم نو دلته قرینه د خصوص موجوده ده ځکه به فعل خاص مقدر کولی شي.

دوهم جواب: دوهم دلیل یې داوه چې د فعل عام په تقدیر سره مطابقت له حدیث سره راځي.

دا ورته جواب کوي چې په حديث کې له ابدأ نه مراد هغه اثبات په ابتدأ کې دی چې بسم الله په اول او ابتداء کې راوړلی شي نه تلفظ په لفظ د ابدأ.

تفسير بيضاوي: (وَتَقدِيم المَعْمُولِ ههُنَا أَوقعَ كَما فى قوله (بِسمِ الله مَجْرِهَا[1])

ترجمه: او تقديم (وړاندې والی) د معمول دلته ډير اوقع دی لکه الله جلّ جلاله په دې قول کې فرمائلي دي په نوم د الله جلّ جلاله روانيدل د دې کشتۍ دي.

تشريح: دا عبارت د يو سوال مقدر جواب دی.

سوال: تاسو خو د بسم الله لپاره متعلق لفظ د «اقراء» وګرځولو نو لفظ د اقراء عامل شو او بسم الله معمول شوه او قاعده چې عامل په معمول مقدم وي ځکه چې عامل مقتضي دی او معمول مقتضَی دی او مقتضي مقدّم وي په مقتضَی باندې او دلته معمول مقدّم دی چې جار او مجرور دی؟

جواب: مصنّف په دې عبارت سره ورته جواب کوي چې تقديم المعمول اوقع ههنا دلته د معمول مقدم کول زيات صحيح دي لکه په دې قول د الله تعالى کې (بسم الله مجرها) چې معمول مقدم شوی.

سوال: مثال دې له ممثل سره مطابق نه دی هغه داسې چې لفظ د «مجرها» يا ظرف دی او يا مصدر ميمي دی که ظرف وي بيا خو عامل نه معمول دی خو که مصدر ميمي شي بيا عامل دی خو تقديم د معمول پرې نه شي راتللی ځکه ځکه مصدر په ماقبل کې عمل نشي کولی؟[2]

جواب: دا تمثيل په تقديم د معمول کې نه دی يلکې په مطلق تقديم کې دی قطع نظر له دې چې مقدم معمول دی لپاره د مؤخّر او که نه دی.

بسم الله مجرها په دې کې دوه (۲) ترکيبه دي.

لومړی: دا چې بسم الله حال شي له ضمير د «ارکبوا» ځکه معنی دا اي ارکبوا متلبّسين بسم الله وقت جريانها.

---

(۱):- سورة الهود: آية ٤١

(۲) قوله: (ولا يتقدم معموله)،(اى معمول المصدر) قيل: لأنه عند العمل مؤول بحرف مصدري مع الفعل، والحرف المصدري موصول، ومعمول المصدر في الحقيقة: معمول الفعل الذي هو صلة الحرف ومعمول الصلة لا يتقدم على الموصول، كما مر في باب الموصولات. شرح الرضي على الكافية لابن الحاجب (٣/ ٤٠٦) كذا في هداية النحو لاندلسى و فوائد الضيائية للجامي في مبحث المصدر وعمله

دویم: دا چې بسم الله خبرمقدم شي اومجریها مبتدأ مؤخره شي نو تقدیر به داشي بسم الله اجراها.

تفسیربیضاوي: (وَقَولُهُ اِيَّاكَ نَعْبُدُ لِأَنَهُ أَهمُّ وَ أَدلُ عَلَى الأخْتصَاصِ وَ أدْخَلُ فی التَّعْظِيمِ وَ أَوفقَ لِلوجودِ فَانَّ اِسْمُه سُبحانهُ وتعالى مُقدَّمٌ على الْقِرآءَةِ كيفَ لَا وَقدْ جَعَلَ آلة لهَا مِن حَيثُ أَنَّ الفِعْل لَايتِمُّ ولَايَعتَدُّ بِهِ شرْعًا مَالمْ يَصدِر بِاسْمِهِ تعالى)

ترجمه: او دغسې دا قول لکه الله جل جلاله فرمايي: خاص تالره عبادت کوو ځکه اسم د الله جلّ جلاله اهم اوزيات دلالت کونکی په اختصاص اوزيات دخل لري په تعظيم کې اوډېر موافق دی له وجود سره ځکه اسم دالله تعالیٰ په قرائت کې مقدم دی، څنګه به اسم دالله جلّ جلاله نه مقدم کيږي اوحال داچې اسم دالله جلّ جلاله آله ګرځولی شوې ده لپاره د قرآئت په دې حيثيت چې نه تماميږي يو فعل اونه وربانديې شرعاً اعتبارکولی شي ترڅو چې په اسم دالله جلّ جلاله سره مصدّر نشي.

تشريح: دلته هم تقديم د معمول دی په عامل، اصل عبارت داسې دی نعبدک او دا تقديم لپاره دتخصيص دی ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) فرمائی نَخُصّک بالعبادة.

قاضي بيضاوي (رَحِمَهُ اللهُ) د تقديم د معمول د «اوقعيت» لپاره څلور وجهې ذکرکړي.

لومړی: شرافت داسم الله تعالى تقاضا د اهتمام دخپل تقديم کوي.

دوهم: له وجهې ددلالت نه په اختصاص.

دريم: داچې په تقديم داسم دالله جلّ جلاله کې زيات دخل دی تعظيم لره.

څلورم: داچې تقديم د بسم الله موافق دی له وجود داسم دالله جلّ جلاله سره ځکه اسم دالله جلّ جلاله مقدّم دی په هر شي له دوه وجهونه اول (۱) داچې مسمّا د دې اسم مقدم دی نو اسم به ئې هم مقدم وي دوهم (۲) داچې اسم د ده آله دی لپاره دهرشي او آله مقدمه وي.

سوال: اسم دالله جلّ جلاله څنګه آله دی او آله خوتابع اوغيرمقصود وي؟

جواب: (مِن حَيثُ أنّ الفِعْل لايتِمّ ولَايَعتَدُّ بِهِ شرْعًا)مراد دلته له آلې نه دا نه دی چې دا تابع او غير مقصود بالذات دی بلکه مراد دلته دا دی چې فعل ترهغه پورې معتدبه شرعًا (په حسب دشرع) وربانديې اعتبار نشي کيدی) نه وي ترڅو چې په بسم الله باندې مصدّر نه شي.

سوال: لفظ د ادل ،اهم ، اوفق ، او ادخل صيغې داسم تفضيل دي او داسم تفضيل استعمال خو يو په دريو و طريقو سره کيږي[1] او دلته خو په يوه طريقه هم نه دی مستعمل شوی؟

جواب: دا قاعده مطلقه نه دی بلکې کله چې صيغه داسم تفضيل خبروي او مفضل عليه معلوم وي نو بيا د دغو دريې طريقو استعمال ته ضرورت نه وي[2].

سوال: قول د «ادلّ على الاختصاص» خو دلالت کوي په دې چې صورت د تأخير داسم د الله جل جلاله هم دلالت په اختصاص کوي ځکه د «اَدَلّ» معنى ده زيات دلالت کونکی نو په مخکې والي کې زيات اختصاص دی او په تأخير کې يې هم يوه نوعه اختصاص شته که څه زيات نه دی .

جواب: دلته اسم تفضيل په معنى داسم فاعل سره دی.

تفسير بيضاوي: (لِقولهِ عليه الصّلوة والسّلام كُلّ أَمرٍ ذِى بالٍ لَايُبدأُ فِيهِ بِبسمِ اللّه فَهُو أَبتَر[3])

ترجمه: چې دا له دې قول دنبي (عَلَيْهِ السَّلَامُ) نه معلوميږي هر ذی شان نيک کارچې په نوم دالله جل جلاله سره شروع نکړی شي هغه بې برکته وي.

---

(۱):- كله په الف لام سره وي لكه زيدن الافضل ياپه اضافت سره لكه زيد افضل الناس ياپه مِنْ سره لكه زيد افضل من عمر. كما في شرح الرضي على الكافية لابن الحاجب (۳/ ٤٥۲) قال ابن الحاجب:(ويستعمل على أحد ثلاثة أوجه. مضافا، أو بمن، أو)(معرفا باللام).

(۲) ـ فلو خلا عن الثلاثة، خلا عن ذكر المفضل عليه فلا يتم فهم المقصود الأهم من وضعه، وإذا علم المفضول جاز حذفه غالبا، إن كان (أفعل) خبرا، كما يقال لك: أنت أسن أم أنا، فتجيب بقولك: أنا أسن، ومنه قولنا: الله أكبر، وقوله: - إن الذي سمك السماء بنى لنا ـ بيتا دعائمه أعز وأطول .وقوله: - ستعلم أينا للموت أدنى ... إذا أدنيت لي الأسل الحرارا . ويجوز أن يقال في مثل هذه المواضع: ان المحذوف هو المضاف إليه، أي أكبر كل شئ، وأعز دعامة، شرح الرضي على الكافية لابن الحاجب.(۳/ ٤٥۳)

(۳):- رواه حبان انّ النّبى صلّى الله عليه وسلّم قال: كلّ امرٍ ذى بال لايبدء باسم الله الرّحمن الرّحيم فهو ابترٌ كذا فى دار قطنى ومسند احمد: ۱٤ / ۳۲۹ ، رقم الحديث ۸۷۱۲، واللفظ (لم يبدأ) رواه حافظ عبدالقادر الرهاروى فى اربعينه وكذا العينى فى شرحه.

تشریح: دا دلیل بیانوي د دې لپاره چې یو کار ترهغه، د شریعت له پلوه معتبر کیدنی نشي ترڅو چې په بسم الله مصدر نه څکه نبي علیه السلام فرمایي: هر فعل او کار به هلته بابرکته او معتبر وي چې په اسم د الله جل جلاله شروع شي.

الباء للمصاحبة

تفسير بيضاوي: (وَقِيلَ البَاءُ لِلْمُصاحِبَةِ وَالمَعنى مُتَبَرِّكًا بِاسم اللهِ تعالى أَقْرَأُ)

ترجمه: او ویلی شوي چې باء لپاره د مصاحبت دی [1].

تشریح: په معنا د مصاحبت یو اعتراض وارد دي هغه دا:

سوال: چې باء لپاره د مصاحبت شي نو معنی به دا شي «مصاحبا بسم الله اقرأ» چې زه په مصاحبت د اسم د الله لولم او په دې معنا کې خو رائحه د سوء ادب دی؟

جواب: معنی د مصاحبت دلته متبرکا دی (متبرکا باسم الله اقرأ) یعنې په حال کون زما کې چې تبرک حاصلوم او په نوم د الله جلّ جلاله زه لولم د مصاحبت د معنی رجع قصد د تبرک ته کیږي.

په کلمه د «باء» کې لومړی قول د استعانت و دا دویم قول دی چې لپاره مصاحبة شي او د قول ضعیف دی له دوه وجو څخه.

لومړی: دا چې د استعانت مطلب دا د چې رموږ کارونه ترهغه نیمګړي دي تر څو چې شروع په نوم د الله تعالی سره ونشي او د دویم قول مطلب دا دی چې د الله جل جلاله نوم یوازې د برکت په خاطر اخلم.

دویم: دا چې دویم قول یې په صیغې د قیل سره ذکر کړی او دا علامه د ضعف دی.

دریم: د قاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللَّهُ) منهج دا دی چې نو مو ړی اول قوي قول ذکر کوي روسته ضعیف قول ذکر کوي.

تفسير بيضاوي: (وَهذِهِ وَمابَعدهُ إلى آخِرالسُّورَةِ مَقُول على أَلْسِنَة العِبادِ لِيَعْلَمُوا كَيفَ يَتبرَّك بِاسمِهِ ويحمدعلى نِعَمِهِ وَيسْئَل مِن فَضْلِهِ)

---

(۱):- باء دځوارلسو معناګانو لپاره راځي لکه الصاق، تبعیض، ظرفیة، اومصاحبة، علامه سیبویه رحمه الله وایی دباء استعمال په الصاق کې اصل ده په نورو کې مجاز ده (معنی اللبیب لابن هشام الانصاري رحمه الله)

ترجمه: دا الفاظ او مابعد تر آخره سورت فاتحې پورې په ژبه د بندګانو ویلی شي د دې لپاره
7 چې دوی پوهه شي چې څنګه د الله جلّ جلاله په نوم تبرک حاصلیږي او څنګه د الله جلّ جلاله حمد بیانیږي په نعمتونو د الله جل جلاله او څنګه به د الله جل جلاله مهربانی څخه سوال کیدی شي.

تشریح: **سوال**: له بسم الله نه تر اخره دسورت پورې ټول د الله جل جلاله کلام دی او «باء» تاسو د استعانت او مصاحبت لپاره وګرځوله: نو مقصد د ذې ایتونو خو دا شو چې الله تعالی په خپل نوم سره استعانت او برکت حاصلوي او خپله د خپل ځان ستاینه کوي او خپله د خپل ځان عبادت کوي... نو آیا! داسې معنا د الله تعالی په حق کې محاله نه ده ؟

اول جواب: هو دا ټول کلام الله دی خو بیان یې د عبادو په ژبه دی د بسم الله نه تر اخر د سورت پورې چې کوم بیانات دي دا په نسبت سره عبادو ته دي د دې .

دویم جواب: د بعضو مفسرینو په نزد لکه امام الرازي (رَحِمَهُ اللَّهُ) دلته کلمه د قولو مقدره کړې ده یعنې د الله جلّ جلاله له طرف نه حکم دی چې داسې او وائي: قولوا بسم الله الرّحمن الرّحیم وقولوا الحمدلله الخ) نو د امر عبادتو نه دی.

(لِیعْلَمُوا کَیفَ یَتبرّک بِاسمِهِ) سره د همدې خبرې حکمت بیانوي چې بندګانو ته دا تعلیم ورکړې چې څنګه به د الله تعالی په نومونو سره برکت حاصلوي او په کومو الفاظو سره به د الله تعالی د نعمتونو شکریه ادا کوي او څنګه د الله تعالی څخه سوال کوي.

تفسیربیضاوي:(و اِنّمَا کُسِرتِ الباءُ ومَن حَقّ الحُروفَ المُفْردةِ أنْ تُفتحَ لِاخْتِصاصِهَا باللُّزُومِ الحَرفِیّة والجرّ)

ترجمه: او «باء» مکسوره کړی شوې ده او حق د حروفو مفرده و خو فتحه دی ځکه باء مکسوره کړی شوې ده چې حرف باء له حرفیت او جر سره لزوم لري.

تشریح: دا عبارت اصلاً د سوال مقدر جواب دی.

سوال: ولې د «باء» لپاره حرکت د کسرې غوره کړی شو او حال دا چې «باء» له حروف مفرده و څخه دي او حق د حروف مفرده و فتحه ده ؟

جواب: ځکه چې حرکت د دې حرف په اثر او عمل د دې حرف باندې دلالت وکړي لکه څنګه چې مصنّف په خپله دا وجه بیان کړې.

حروف مباني او معاني

سوال: حق د حروف مفرده و فتحه ولې دی ؟

جواب: ځکه حروف مفرده په دوه (۲) قسمه دي (۱) حروف مباني (۲) حروف معاني ،

حروف مباني: هغه حروفو ته وائي چې د کومو په زریعه کلمه جوړیږي خو خپله کلمه نه وي لکه حروف د اسمونو لکه ز- ی- د- په زید کې دا حروف ځان ځان له هیڅ معنی نه لري او نه د نحوي علماو کوم غرض ورپورې تړلي دی بل دا چې دا حروف د کلمې له اقسامو څخه هم نه دي او په اعراب او بناء کې هم څه حصه نه لري .

حروف معاني: هغه حروف دي چې په طریقې د تعداد او په نوم د عواملو ذکر کیږي لکه حروف جاره حروف ناصبه وغیره دا ټول مبني دي ځکه له دوی سره مقتضي د اعراب نشته او اصل په بنا کې سکون دی.

سوال: اصل په بناء کې سکون ولې دی؟

جواب: ځکه مبني په یو حال وي او د ساکن حال هم یو وي او په یو حال پاتې کېدو کې ثقل وي او ثقل تقاضا د خفت کوي او د خفت لقب سکون دی نو ځکه اصل په بنا کې سکون دی، د مبني زور، زیر او پېښ ته اعراب نشي ویلی دا القاب دي بیا دا حروف زیاتره وخت په ابتداء کې راتله نو ابتداء په ساکن لازمېده نو نحوي علماو حرکت د فتحې ورته غوره کړ ځکه فتحه اخف الحرکات دی، نو باء ځکه مکسوره کړی شوه چې حروفو مباني وو څخه دی.

سوال: قانون خو دادی چې حروف مفرده به مفتوح وي نو خلاف قانون باء ته کسره ولې ورکړی شوه؟

جواب: «لاختصاصها بلزوم الحرفيّة والجرّ» ځکه باء مکسوره کړی شوه چې د دې تخصیص جر او حرفیت سره دی جر سره ئې تخصیص ځکه دی چې حرکت د باء او عمل د باء سره موافق شي

او حرفيت سره د جر تخصيص ځکه دی اصل په حروف کې سکون دي او سکون وايي عدم حرکت ته او کسره هم د قلت له وجې په منزله د عدم حرکت دی.

دغه راز حق د باء داو چې ساکنه وائی ځکه چې بناء کې ثقل وي او دا حرف دی او اصل په حروفو کې بناء دی او اصل په بناء کې سکون دی او سکون عدم حرکت ته وائي او کسره هم په شان عدم دی له وجهې د قلت الوقوع نه ځکه کسره په افعالو، مبنياتو او غير منصرف کې نه راځې.

سوال: تا د کسرې د باء لپاره دوه دليلونه وويل اول د لزوم د حرفيت يعنې دا باء تقاضا د سکون کوي او سکون عدم الحرکت دی او کسره هم پشان د عدم حرکت دی او دوهم دليل د لزوم د جر چې موافقت د حرکت او عمل د باء راشي نو لومړی دليل په واو او فاء عاطفه سره منقوض دی ځکه له دوی سره هم حرفيت لازم دی خو مکسور نه دي؟

او دويم دليل دې په کاف تشبيهي سره منقوض دی ځکه دې سره جر لازم دی خو حرف نه دی ځکه دا په معنی د «مثلُ» دی؟

جواب: دا دواړه لزومين (لزوم د حرفيت اولزوم د جر) دليل واحد دي په کسرې د باء باندې هريو مستقل دليل نه دی. په واو عاطفه او فاء عاطفه او کاف تشبيه کې دواړه لزومين على سبيل الاجتماع نشته په واو او فاء کې لزوم ثاني (لزوم جر) نشته او په کاف تشبيه کې لزوم اول (لزوم حرفيت) نشته ځکه دا کله اسم وي په معنی د مثل.

سوال: واو قسم، تاء قسم، او لام جاره چې داخل وي په ضمير په دیکې لزوم د حرفيت او جر متحقق دی خو بيا هم مخالف دي له حکم نه مکسور نه دي يعنې مفتوح دي؟

لومړی جواب: واو قسم او تاء قسم نائبان دي له قسمونو نه (قسمي) چې مبتداء دی نو په دې کې شائبه د اسم موجود ده نو لزوم د حرفيت په کې منفي شوی دی.

دويم جواب: يا داسې وايو چې په دې کې لزوم ثاني نشته ځکه دا دواړه جاري کړی شوي دي لپاره د نيابت مضاف څخه نو په دې سره لزوم د جر منتفي شو.

دريم جواب: هغه لام چې په ضمير داخليږي سره له دوارو لزومينو ځکه مفتوح وي چې فرق راشي په مابين د هغه لام کې چې په ضمير داخليږي او په هغه لام کې چې اسم مظهر داخليږي.

سوال: عکس دې ولې او نه کړ يعني لام د ضمير به دې مکسور کړی و او هغه لام چې په اسم ظاهر داخليږي هغه به دې مفتوح کړی و په دې سره هم فرق حاصليده؟

جواب: مکسور کول د هغه لام چې په اسم ظاهر داخليږي اولی دی له ځکه چې توافق د حرکت د عامل راشي له خپل اثر سره په اسم ظاهر کې.

تفسير بيضاوي: (كَما كُسرتِ لامُ الامْر وَلَامُ الاِضَافةِ دَاخِلةً على المُظهَر لِلفَصلِ بَينَهُما وبَين لامِ الاِبْتدَاءِ ولامِ التَّاكِيدِ)

ترجمه: لکه څنګه چې مکسوره کړی شوي دی لام امر او لام اضافت چې په اسم ظاهر باندې داخل وي لپاره فرق په مابين د لام امر، لام اضافت او لام ابتداء او لام تاکيد کې.

تشريح: لام الاضافة: له لام جاره څخه ئې تعبير په لام اضافت سره وکړ ځکه حروف جاره ته حروف اضافت هم وائې او دا ځکه چې دا حروف کش کوي معنی د اسماء و افعالو ته او لام جاره چې داخل په مظهر وي ځکه مکسور دی چې توافق د حرکت او اثر راشي او لام امر په همدې ورحمل دی ځکه هغه عمل د جزم کوي او جزم په افعالو کې په منزله د جر ده په اسماؤ کې.

سوال: ولې دې هغه لام جاره چې په ضمير داخل وي مکسور نه کړ لپاره د فرق په مابين د لام جاره او لام ابتداء کې.

جواب: دلته فرق حاصل دی په جوهر د مدخول عليه سره ځکه لام ابتداء په ضمير نه داخليږي مګر په ضمير مرفوع باندې، لکه (لانت) او لام جاره په دې نه داخليږي.

تفسير بيضاوي: (وَ الاسْمُ عندَالبِصرِيينَ مِن الاسْماءِ الَّتِي حُذفَتْ اَعجازُهَا لِكَثرة اسْتعمَالِ)

ترجمه: اسم په نزد بصريينو د هغه اسماؤ څخه دی چې د کثرت استعمال په وجه ئې آخري حرف حذف شوی دی.

(په اسم کې اختلاف)

تشریح: دویم او ځلوم بحث: له هغو پنځو بحثونو ځخه دا دویم بلاغتي او ځلورم لغوي بحث دی.

په لفظ د اسم کې د بصریانو او کوفیانو اختلاف دی.

د بصریانو مذهب

بصریان وائي اسم مشتق دی له سموٌ ځخه او دا ناقص دی بیا د بصریانو په خپل منځ کې اختلاف دی بعض وائي چې دا ناقص واوي دی او بعض وائي چې ناقص یائي[1] دی وجه د اختلاف ئې په فعل ماضي کې دی چې سموت او سمّیت په واو او یا «یاء» سره دی لکه علوت او علیت.

دلیل: ورته دا وائي چې سموٌ له وجهې د کثرت استعمال او تعاقب د حرکاتو نه تقاضا د خفت کوي او خفت خو په اول او آخر د کلمه کې وي نوله دې وجهې نه مو اول ساکن کړ او په آخر کې مو حذف وکړ په اول کې مو حذف ونه کړ ځکه چې احجاف (ابقا د کلمې په حرف واحد) رانشي نو الف وصلي مو اول کې زاور اسم شو د دوی بیا اختلاف دی په وزن د اسم کې چې آیا دا په وزن د فِعلٌ په کسري د فاء سره او فُعلٌ په ضمې د فاء سره دی هر یو له دی نه جمع کیږي په افعالٌ باندې لکه جزع او اجزاع او قفل او اقفال نو جمع د اسم په دواړو تقدیرینو اسماء راځي.

تفسیر بیضاوي: (وَبُنِيتْ اَوائِلِهَا على السُّكُونِ فَأَدخَل عليْهَا مُبتدأ بِها هَمزةَ الوَصْلِ لاَنّ مِن دَأبِهم أن يَبتدِؤا بِالمُتحرِّك ويَقفوا على السَّاكِن وشَهِدلهُ تَصرِيفهُ على اسْماءِ واسَامِيّ وَسُمّيٍ وسمّيتُ وَمَجئُ سمّى كهدًى لغةٌ فيهِ)

ترجمه: او اول د دې اسم بناء کړی شو په سکون بیا همزه د وصل داخل کړی شوه په سین باندې په دې چې ابتداء په دی همزې راشي ځکه دعربو دا طریقه دی چې په متحرك لفظ ابتداء کوي او په حرف ساکن وقف کوي او د دې خبرې لپاره د اسم گردان شاهد دی چې اسماء سامی سمی راځي سمّی په شان هدًی راتلل هم دیکې یو بل لغت دی.

---

(۱) ناقص واویه هغه اسم یا فعل دی چې په مقابله د لام کلمه کې یې واو راغلی وي. او ناقص یایي هغه اسم یافعل دی چې په مقابله د لام کلمه کې یې یاء راغلی وي کذا فی ارشاد الصرف.

تشریح: یعنې ابتداء په ساکن راغله

ابتداء په ساکن جائز دی که ناجائز

من دأبهم: په دې سره اشاره ده یو اختلاف ته هغه داچې ابتداء په ساکن جائز دی او که ناجائز دی.

اول: بعضې وائي چې جائز دی.

دوهم: بعضې وائي چې ناجائز دی.

داول مذهب لپاره دلیل دادی چې ابتداء په ساکن په لغتو دعجمو کې واقع دی لکه سپی، سرائي، سوان، څرک، اوسکول وغیره چې نه مفتوح دی نه مکسور نه مضموم دی نو ځکه جائز دی.

ددوهم مذهب دلیل لپاره دلیل دا دی چې څومره تتبع او استقراء شوي دی په لغت عربي کې ابتداء په ساکن نه دی موندلی شوې او دقاضي (رَحِمَهُ اللهُ) په نزد اول مذهب مختار دی او جواب له دلیل د مذهب ثاني ځخه دادی چې عدم وجدان مستلزم نه دی عدم وجود لره او که اومنو چې عدم وجدان مستلزم دی عدم وجود لره نو عدم وجود مستلزم نه ده امتناع لره.

(ویشهد له) اوس د دې لپاره شاهد اوګواه پیش کوي چې لفظ د اسم له اسماء محذوفة الاعجاز ځخه دی او ناقص دی یعنې له هغه اسماءو ځخه دی چې آخر ئې حذف شوی وي د دوی په څو اومورو باندې اتفاق دی[1]

(۱) یو له هغې اومورو ځخه دادی چې تصغیر داسم سمّی راځي نو د اسم سُمّی اصل سمیو دی که چیرته مشتق وي وَسَمَ یَسِمُ یسمة ځخه نو اصل به ئې وسما لکه ځنګه چې کوفیانو ذکر کړی اوتصغیر به ئې وُسَیما وو.

(۱):- تصغیر وائي: په کلمه کې داسې تغیر کولوته چې په دې سره داکلمه په شفقت ،اعزاز او یا په اهانت دلالت وکړي دتصغیر لپاره قانون دادی چې دمکبّر لومړی حرف به مضموم او وبم مفتوح اوبه دریم ځای کې به یاء علامه دتصغیر راوړې که چیرته روسته له یاء دتصغیر نه یو حرف پاتې کیده هغه به متحرک کړې لکه د عبد تصغیر عبید اوکه روسته له یاء ځخه دوه حرف پاتې کیده بیابه اول مکسور اوبه دویم به هم حرکت جاري کړی لکه د مضرب تصغیر مضیرب اوکه روسته ترینه درې حروف و بیا به دویم حرف ساکن کړې لکه او باقي به په خپل حال پریږدې لکه دمضارب تصغیر مضیریب یا دسلمان تصغیر سلیمان.

(۲) نه دغو امورو څخه دادی چې جمع د اسم اسماء او جمع د اسماء اسامی دی که چیر ته مشتق له وَسِمَ يَسِمُ سِمَةً څخه وائي نو اصل به ئي وَسْما او جمع به ئې اوسام وه او نه او سام جمع به او اسیم وه.

(۳) له دغو امورو اتفاقيه و څخه دادی چې فعل ئې سمیته دی نه وسمته که چیرته داسی وائي لکه څنګه چې کوفيان وائي نو فعل ئي وسمت و.

(۴) دادی چې مجهول به ئې په وُسّمت سره راته.

(۵) دادی چې اسم سمّی په شان د هدّ یو لغت دی په دیکې که چیرته داسې وائي لکه کوفيان چې وائي نو واجب به وائي چې سمّی لغت رانشي ځکه په ناقص کې لغت له مثال څخه نه راځي.

تفسير بيضاوي: (وَاللّٰهُ أَسمَاك سُمًّى مُبارگا . . آثرا۟ك اللّٰه به ايثارگا. والقلب بعيد غير مطرد)

ترجمه: الله جلّ جلاله په يو بركت والا نوم سره نامداره کړی ئې يعنې الله جلّ جلاله په دې اسم ستا ذات غوره کړی لکه څنګه چې الله جلّ جلاله ستا ذات په ټولو ذواتو غوره کړی دی (نو ستا نوم ئې په نورو نومونو غوره کړی) او قلب بعيده او غير شائع خبره دی

تشريح: دا هم د اسم په ناقص کیدلو باندې یو دلیل دی خو دا شعر اصلا دیو سوال مقدر جواب دی.

سوال: دادی چې سمّی لغت په اسم کې نشته که وی نو یو نظیر او مثال ئې پیش کړه؟

جواب: والله اسماک سميً مبارگا الخ په دې شعر کې سميً په معنی داسم دی او دا شعر د خالد تفتازاني دی او په (ایثارگا) کې تشبه دی ای مثل ایثار الله نفسک ای ذاتک.

دې ټولو دلائلو ته د کوفينو له طرفه چا جواب کړی هغه دا چې تاکوم مثالونه داسم لپاره ذکر کړل دې کې واو په ځائ د لام کلمې راوړل شوي دي چې اصل کې وسم و خو قلب او شو او د وسم نه سموٌ ته منقلب شوی دی او جمع ئې چې اسمآء او آسامی دی دا روسته له قلب نه راغلی یعنې اصل د اسماء اوسام دی او اصل د اسامی اوسیم دی.

په (والقلب بعيد غير مطرد) سره جواب کوي چې قلب بعيده او غير شائع خبره دی.

تفسير بيضاوي: (و اِشتقاقهُ من السّموّ لانّه رفعَةٌ للمُسمّی وشعار له ومن السّمة عندالكوفيين واصله وسَم حذفت الواو وعوّضت عنها همزة الوصل ليقل اعلاله)

ترجمه: او اسم مشتق دی له «سمو» څخه ځکه اسم د خپل مسمّی لپاره اوچتوالی اونبنانه دی او اسم په نزد دکوفيانو له سمة څخه مأخوذ دی دا اصل کې وسَم دی بيا په وَسْم کې واو تخفيفًا حذف شو او په عوض کې ئي همزه وصليه راوړل شوه چې اعلال کم شي.

تشريح: دا اشتقاق ئې په نزد دبصريينو دی له سمو څخه او سمو په لغت کې ارتفاع او بلندی ته وائي نو دا هم د خپل مسمّی لپاره رفعت اوبلندی وي له زوايه وو دهجران څخه تر محل معتبر او عرفان ته ځکه ډيرو حقيرو شيانو ته خاص اسم نه دی وضع شوی بلکه تعبير ترينه په اسم جنس او نوعې کيږي.

او کوفيان وايي چې له سمة څخه اخستل شوی چې اصل يې وسم و نو بيا کې تخفيف شو واو حذف شو عوض کې همزه وصليه راوړل شوه لکه (وعد) اصل کې (عدة) وه[1] دلته عبارت دماتن کې (لِيَقُل) دی واصله (و-س-م) لپاره علت دی بيا نورباب کې طردًا حذف شوه اوعوض کې ئې اصل کې تاء راوړل شوی (سمة)شو خو واقعي خبره دبصرينو معلوميږي چې دقانون موافق ده.

تفسير بيضاوي: (وردّ بانّ الهمزة لم تُعهَد داخلةً على ماحُذف صدرُه فی كلامِهم)

ترجمه: دا مذهب (دکوفيانو) مردود دی ځکه په کلام دعربو کې داسې همزه نه دی معلومه کړی شوی چې همزه په يو داسې اسم داخله شوې وي چې اول ئې حذف شوی وي.

تشريح: د کوفينو په مذهب داسې رد کوي چې ستاسو په رايه اګر که اعلال کم دی خو خلاف القياس روان يی ځکه همزه وصليه په هغه کلمه داخليږي چې حذف يې په اخر کې شوی وي زمو په رايه اګر که اعلال زيات دی خو موافق القياس يو .

---

(١) قانون د عدة داسې دی چې کسره د واو په مابعد ته ورکولی شي واو به حذفولی شي او په عوض کې به يې تاء متحرکه راوړلی شي لکه وعد څخه عدة وسم څخه سمة او وصف څخه صفة جوړ شو(ارشاد الصرف : صـ٥٠)

خو لکن دقاضي بيضاوي (رحمه الله) په دې خبره بعضې علماء رد کوي چې فعل امر خو له فعل مضارع جوړېږي له (تنتصر) نه د(أنْتصر) امر جوړ دی نو په اول دکلمه کې حذف هم شوی او عوض کې ئې همزه هم راوړل شوي فتأمّل.

تفسير بيضاوي: (ومن لغاته سِمٌ وسُم قال بسم الله الّذی فی کلّ سورة سِمُهُ)

ترجمه: او بعضې د لغاتو داسم نه سِمٌ او سُم هم راځې ويلي په برکت د اسم دهغه ذات چې هرسورت کې دهغه اسم ذکر دی.

تشريح: دا جمله مستأنفه دی دلته د اسم لغات بيانوي حاصل دا چې په اسم کې پنځه لغات دي(سِم) او (سُم)هم دغه شان د(اِسْم) او(أسم) او(سمّی) د اسم په معنی راځې او د سم په استدلال کې يې د شاعر شعر پيش کړ: بسم الله الّذی في کلّ سورة سِمُهُ.

يعنې د هغه ذات په نوم شروع کوم د هر سورت په پيل کې د هغه نوم يعنې سم په معنا داسم دی او دا د شعر يوه تکړه دی چې يو شاعر ديو راعي صفت کوی چې نور شعر دا دی:

ارسل فيها بازلًا يقرمه فهو بها ينحو طريقا يعلمه

بسم الله الّذی فی کلّ سورة سمّه قد انزلت علی طريق تعلمه([1])

هغه شپونکی په خپلو هغه اوښوکې اته کلن اوښ پرېښوده په برکت داسم دهغه ذات چې هرسورت کې دهغه اسم ذکر کيږي نو دې اوښ نورو اوښانو ته هغه لار وروښودله چې ورته معلومه وه يعنې دا اوښانو د رمي مشري به ئې کوله.

تفسير بيضاوي: (فالاسم ان أُريد بهِ اللّفظُ فَغير المُسمّی لانّه يَتألّف من اصواتِ مقّطعةِ غَير قَارة ويختَلفُ باختلافِ الأمَمِ والأعْصارِ ويتعددُ تارةً ويَتحد أُخری والمسمّی لَايكُونُ كَذالِک).

---

(۱) حاشية شيخ زاده :۱/ ٤٠ قديمي

ترجمه: له اسم نه که چیر ته مراد لفظ وي نو اسم به غیر وي له مسمّی ځکه دا مرکب دی له اصواتو قطعه کړی شوونه چې غیر مجتمع فی الزّات دي او اسم مختلف کیږي په اختلاف د امّتونو اوزمانو سره او اسم کله متعدد وي او کله متّحد وي مسمّی داسې نه وي.

اسم له مسمی سره عین وي که غیر

تشریح: دریم بحث: دلته مصنف له پنځو مباحثو څخه دریم بحث د علم کلام ذکر کوي.

اسم هغه لفظ ته وایي چې د یو مسما لپاره وضعه شوی وي او مسما هغه ذات ته وایي چې د چا لپاره اسم وضعه شوی وي ، بیاپه بعضې مواردو کې اسم عین وي له مسمّی سره یعنې چې قرینه دعینیت موجود وي او په بعضې مواردو کې اسم غیر وي له مسمّی نه یعنې چې قرینه دغیریت موجود وي، دعینیت لپاره مثال لکه کَتَبَ زَیدٌ دلته لیکوال زید دی اسم د زید نه دی او د غیریت مثال لکه کُتِبَ زَیْدٌ مکتوب اسم د زید دی ذات د زید نه دی په داسې صورتونو کې اتفاق دی .

خو کله چې نه قرینه دعینیت وي او نه دغیریت یعنې مطلق اسم ذکر شي لکه رأیت زیدًا نو په دي صورت کې اختلاف دی یو خوا معتزله دي او بل خوا بعضې اشاعره دي.

دمعتزله و مذهب: اومعتزله وائي چې رأیت زیدًا معنی دا (رأیت لفظ زید) یا رأیت اسمه یعنې کله چې نه قرینه دعینیت وي او نه قرینه دغیریت وي نو مراد به ترینه لفظ وي نه ذات.

د معتزله ودلایل: معتزله هم دخپلې دعوې لپاره درې دلائل وائي.

اول د لیل: قال الله تعالی :(قُلِ ادعُوالله اَوِدْعُوالرّحمن ایّمًا مّاتَدعوا فله الاسمآء الحُسْنی) (۱) دا آیت دلالت په تعدد داسماء وو کوي نو که اسم او مسما کې عینیت راشي بیا به تعدد په مسما کې هم راشي او که مسما متعدد شي نو توحید به باطل شي ثابته شوه چې اسم غیر دی له مسما څخه.

---

(۱):- سورة بنی اسرآئیل : آیة ۱۱۰ ،

دوهم دليل: كذا قال عليه الصّلوة والسّلام (انّ لله تسعة وّتسعون اسمًا) [1] همدارنګه ويلي شي چې بيشكه الله جلّ جلاله لره نهه نوي (۹۹) نومونه دي دلته هم تعدد په اسماء وو كې دى او ذات واحد دى نو متعدد مغاير وي له غير متعدد نه (واحد).

دريم عقلي دليل: همدارنګه اسم مركب وي له اصواتو غير مجتمعه و څخه يعني له تلفظ څخه وروسته ختم شي او اسمونه په اختلاف د امتونو او زمانو مختلف كيږي لكه په سرياني كې الله تعالى ته «لاه» او فارسي كې ورته «خدا» وايي نو كه اسم عين مسما شي اختلاف به په ذات د الله تعالى كې هم راشي ، اختلاف خو په ذات كې نشته نو ثابته شوه چې اسم غير دى له مسما څخه.

د اشاعره و مذهب:

اشاعره (اهل السنّة) وائي رأيت زيدًا معنى دا رأيت ذاته يعني كله چې نه قرينه دعينيت وي او نه دغيريت وي مراد به اسم نه مسمّى او ذات وي.

داشاعره و دلائل: اشاعره دخپلې دعوې لپاره درې دلائل وائى.

لومړى دليل: قال الله تعالى تَبَارَكَ اسْمُ رَبِّكَ [2] مبارک د اسم درَبّ ستا دلته د بركت نسبت اسم ته شوى او مراد له اسم نه ذات دى ځكه نسبت دبركت لفظ ته نه كيږي.

دوهم دليل: قال الله تعالى سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ [3] تسبيح بيان كړه د اسم د ربّ دلته هم دتسبيح نسبت اسم ته شوى او مراد ترينه ذات دى نه لفظ ځكه مبارك كيدل او له نقايصو پاكيدل د ذات صفت دى نه د لفظ.

دريم دليل: يوه فقهي مسئله ده هغه دا چې يو سړى خپلې ښځې ته چې زينب نوميږي او وائي (انّ زينب طالق) زينب طلاقه ده نو دلته هم طلاق په ذات د زينب واقع كيږي نه په لفظ.

---

(۱):- حدثنا عمرو الناقد و زهير بن حرب و ابن ابي عمر جميعا عن سفيان و اللفظ لعمرو حدثنا سفيان بن عينية عن ابي الزّناد عن الاعرج عن ابي هريرة رضى الله عنه عن النّبى صلّى الله عليه وسلّم قال لله تسعة وّتسعون اسما من حفظها دخل الجنّة وانّ الله وترٌ يحب الوتر وفى رواية ابن ابي عمر من احصاها. رواه مسلم : ۸ / ٦۳ ، رقم الحديث ۲٦۷۷ ، والبخارى مرقم . . .

(۲):- سورة الرّحمن: آية ۷۸ ،

(۳):- سورة الاعلى: آية ۱ ،

تفسیر بیضاوي: (و إنْ أُرِيد بِهِ ذَاتِ الشيءِ فهُوَ مسمى لَكنَّه لمْ يَشْتَهِر بِهذ المعنى)

ترجمه: اوکه اسم سره ذات د شي مراد کړی شي نو اسم عین مسمی دی لکن اسم نو اسم په دې معنی کې نه دی مشهور: یعنې اکثر اسم غیر د مسمّی ګڼلی شي.

تشریح: خو دقاضي بيضاوي رحمه الله په نزد د معتزله مذهب غوره ښکاري ځکه اشاعره وو ته جوابونه کوي.

تفسیربیضاوي: (وقوله تعالی تبارك اسم ربّك[1] و سبّح اسم ربّك [2] المرادُ به الفْظُ لانَهُ كمَايجبُ تَنزِيه ذَاتِهِ سُبحانَه وتعالى وَصفَاتِه عنْ النقائصِ يجبُ تنزِيهُ الفاظِ المَوضُوعةِ لهَا عن الرَّفثِ وسُوءِ الادبِ او الأسم فِيه مُقحَمٌ)

ترجمه: دا قول د الله جل جلاله چې تبارک اسم ربک او وسبح اسم ربک دی مراد له اسم نه لفظ دی ځکه لکه څنګه چې دالله جلّ جلاله ذات او صفاتو پاکي د نقائصو څخه واجب ده نو دغسې دهغو الفاظو چې ددغه ذات لپاره وضع شوي دهغې الفاظو هم د فحش او دسوء ادب نه پاکي واجب ده او یا دلته (آیت) کې اسم زائد دی..

تشریح: دا لومړی جواب دی له دلیل دبعضې اشاعره وونه دوی په دلیل کې ویلې وو چې نسبت دبرکت اوتسبیح ذات ته کیږي اسم ته نه کیږي دا جواب کوي چې لکه څنګه ئې چې نسبت ذات ته کیږي دغسې ئې اسم ته هم کیږي. او همدارنګه اشاعره وو په بل دلیل کې ویلې وه چې طلاق په ذات د زینب واقع دی نه په اسم دا جواب کوي انّ زینب طالق معنی د المرأة المسمّاة باسم زینب طالق هغه ښځه چې مسمّی ده په اسم د زینب.

(الأسم فِيه مُقحَمٌ) سره دویم جواب کوي چې دا اسم په (سبّح اللّٰه ربّک) کې زائد دی ای سبّح ربّک.

تفسیر بیضاوي: (كمَا فِي قولِ الشَّاعرِ اِلى الحَول ثُمّ اسمُ السّلامِ عَلَيكمَا)

---

(۱) سورة الرحمن اية: ۷۸

(۲) سورة الاعلى اية:۱

ترجمه: لکه په دې قول د شاعر کې چې اسم زائد واقع شوي دی« يو کال پورې مې وژړل بيا د هغې نه روسته دي په تاسو سلام وي.

تشريح: دا د لبيد (۱) شاعر شعر دی چې پوره شعر دادی:

الى الحول ثمّ اسم السّلام عليكما ...... ومن يبك حولا كاملا فقد اعتذر

پوره يو کال پورې مې وژړل بيا د هغې نه روسته دې په تاسو سلام وي ځوک چې يو کال پورې وژاړي نو عذر ورته ثابت شي نو بيا هم هغه معذور شي او هغه ځای نه تللی شي نو دې شعر کې هم کلمه د اسم زائد دی.

تفسيربيضاوي: (وَ انْ اُرِيْدَ به الصفَةُ كَما هوَ رأىُ الشيخ اَبى الحسنِ الأشعرى[۲] اِنقَسمَ انقِسامُ الصفّة عِندهُ اِلى ما هو نَفسُ المُسمّى الى مَا هوَ غيْرهُ و اِلى مَاليس هو وَلاغَيره).

ترجمه: او که مراد له اسم نه صفت وي يعنې اسم صفتي وي لکه دا رأيه د امام ابى الحسن اشعري رحمه الله دی بيا دا اسماء به پشان دانقسام دصفت منقسم کيږي عين مسمّى ته او غير مسمّى ته او هغه قسم ته چې نه عين ذات د مسمّي وي او نه غيرذات د مسمّى وي.

تشريح: قاضي بيضاوي رحمه الله اوس محاکمه کوي په مابين دبعض اشاعره و او معتزله و کې هغه دا چې دا نزاع لفظي دی ځکه د اسم کله لفظ مراد وي او کله ترينه ذات مراد وي او کله ترينه صفت مراد وي خو د اسم نه چې کله لفظ مراد وي هلته اسم غير دي د مسمّى نه او له اسم نه چې کله ذات مراد وي هلته اسم عين دی له مسمّى سره او له اسم نه چې کله صفت مراد وي نو دا

---

(۱) هو ابو عقيل لبيد بن ربيعة بن مالک العامر من قبيلة هوزان ولد في سنة (٥٦٠)من الميلاد وتوفي في سنة (٦٦١) من الميلادي و(٤١) من الهجرة ادرک الجاهلية و وفد على النبي صلى الله عليه وسلم مسلماً ولذا يعد من الصحابة و من المؤلفة القلوب (بواية الصحابة وبوابة الشعر) .

(۲) الأشعري (٢٦٠ - ٣٢٤ هـ) هو علي بن إسماعيل بن أبي بشر إسحاق الأشعري ، أبو الحسن . ولد بالبصرة وسكن بغداد إمام المتكلمين ومشارك في بعض العلوم ، كان شافعي المذهب وتفقه على أبي إسحاق المروزي . رد على الملحدة والمعتزلة والشيعة والجهمية والخوارج وغيرهم . من تصانيفه : " التبيين عن أصول الدين " ، و " خلق الأعمال " ، " كتاب الاجتهاد "

طبقات الشافعية لابن السبكي ٢ / ٢٤٥ ، وهدية العارفين ، ومعجم المؤلفين ٧ / ٣٥]

صفت به خالي نه وي یا به صفت حقیقي وي یا به صفت اضافي وي که اضافي وي نو د هم غیر دي لکه خلق او که صفت حقیقي وي نو د اهل سنتو په نزد نه عین دی او نه غیر نه عین دي او د فلاسفه وو په نزد عین دی لکه وجود.

تفسیر بیضاوي: (وَانَّمَا قَال بِسم اللهِ ولمْ يَقلْ باللهِ لِانَّ التَبرُك والاستِعانَة بِذكرِ اسمِهِ اَو لِلْفَرقِ بَين اليَمين والتَّيمُن)

ترجمه: او بسم الله ئي وویلې او بالله ئي ونه ویلې ځکه چې تبرک او استعانت په ذکرکولو د نوم د الله جلّ جلاله سره حاصلیږي او یا لپاره د فرق په مابین د یمین او تیمن.

تشریح: دا عبارت جواب د سوال مقدر دی هغه دا چې:

سوال: تأخو مخکې وویل «کلّ امرٍ ذی بالٍ لم یبدأ فیه باسم الله فهو ابتر» او تا پخپله ابتداء په بسم او کړه پکار دی چې ابتداء دې په لفظ د الله کړې وائې او «بالله» دې ویلی وای.

جواب: په دوه طریقو سره قاضي بیضاوي رحمه الله د دې سوال جواب ذکر کړی دی.

اوله طریقه د جواب:

(لِانَّ التَّبرُك والاستِعانَة) ځکه ئې بالله ونه ویلي چې تبرک په لفظ او اسم سره حاصلیږي او بل دا بالله مو ویلی وای نو د الله تعالی ذات ډېر عظیم الشان دی له داسې ذات نه بلاواسطه اسعانت غوښتل لوی جزئت دی نو ځکه مو لفظ د اسم ورته واسطه کړ او «باء» مو په اسم داخله کړه.

دوهمه طریقه د جواب:

(أَو لِلْفَرقِ بَين اليَمينِ والتَّيمُن) کلمه د باء په دوه قسمه ده (۱) قسمیه (۲) تیمنية.

دلته دا «باء» قسمیه نه دی بلکې تیمنیه دی نو ځکه ئې بالله ونه ویلي چې فرق راشي په مابین دیمین او تیمن کي ځکه باء قسمیه یوازې په اسم د باري تعالی داخلیږي (بالله ویل کیږي) او دلته په اسم د باري تعالی نه دی داخله نو معلومه شوه چې دا قسمیه نه دی نو که په بالله ئې شروع کړې وائی نو د یمین او تیمن فرق به نه و شوی.

تفسيربيضاوي: (ولَم يَكتبِ الالفَ على مَا هُو وضعُ الخَطّ لِلكثْرةِ الاِستعْمالِ وطَوَلَتِ الباءُ عِوضًا عنهَا).

ترجمه: او الف ونه ليکي شو په هغه طريقه کومه چې دخط اوکتاب دی له وجهې دکثرت استعمال نه او باء اوږده کړی شوی دوجهې دعوض دهمزې نه.

تشريح پنځم بحث: له دې ځای څخه د رسم الخط بحث شروع کوي په همزه وصلية کې د حروفو قانون دا دی چې تثبت فی الابتداء لفظًا وكتابةً وتسقط فی الدرج لفظًا لاكتابة.

يعنې همزه وصلية په ابتداء کې په لفظ اوکتابت دواړو کې ثابته وي او په درج (مابين) کې په کتابت کې وي او په تلفظ کې نه وي [1].

سوال: دا قانون صحيح دی چې همزه وصلية په درج کې ساقطيږي خو له کتابت خو نه ساقطيږي لکه «اقرأ باسم ربّک الّذی خلق» او دلته په بسم الله کې خو لفظًا اوکتابتًا دواړه ساقطه شوې ده.

جواب: قاضي بيضاوي رحمه الله د دې جواب په دې عبارت سره ورکړ (ولم يكتب الالف على الخ) چې دا دکثرت استعمال له وجهې ساقط شو ؛ ځکه کثرت استعمال تقاضا دخفت کوي اوخفت په سقوط کې دی.

سوال: ته وائي چې دلته همزه وصليه د کثرت استعمال له وجهې حذفه شوي نو په حذف دهمزې قرينه څه دی؟

جواب: په حذف دهمزې قرينه هغه طوالت دباء دی چې په بسم الله کې دا باء لږ اوږده ليکلی شي نو دغه اوږدوالی په حذف د همزې قرينه او دلالت کوي ځکه به عمر بن عبدالعزيز رحمه الله

---

(۱) همزه په دوه قسمه ده وصلية او قطعية حمزه قطعية بيا ديارلس قسمه دی (۱) همزه د باب افتعال لکه اکرم (۲) همزه د واحد متکلم لکه اضرب (۳) همزه د اسم تفضيل لکه اضرَب (٤) همزه د جمعې لکه اصحاب (٥) همزه د اعلامو لکه اسماعيل او ابراهيم (٦) همزه د بناء لکه إنّ ، أنّ او انت (۷) همزه دفعل تعجب لکه ما اضربه (۸) همزه د استفهام لکه أ أنذررتهم (۹) همزه د ندا لکه أ عبد الله (۱۰) همزه د صفت مشبه لکه احمر او اسود (۱۱) همزه د لفظ د البتة (۱۲) همزه د لفظ دجلال چې کله پرې حرف ندا داخله شي لکه يا الله (۱۳) همزه د اسماء جوامدو اکثراً لکه ابريق

خپلو کاتبانو ته ويل باء اوږده کړئ او سين ښه ښکاره کړئ يعني د سين غاښونه ازاد ازاد وليکئ او ميم ښه مدور (گرد) کړئ د کتاب الله د تعظيم په خاطر.(۱)

(بحث په اسم دالله جلّ جلاله کې)

تفسيربيضاوي: (وَ اللّٰه أَصلُه اِلٰهٌ)

ترجمه: کلمه د جلال (الله) په اصل کې الٰهٌ وو.

تشريح: له دې ځای څخه په لفظ د جلال کې بحث کوي لکه څنګه چې ذات د الله جلّ جلاله مخير دعقلاؤ دی دغه شان اسم د الله مخير د بلغاؤ دی نو په لفظ د الله کې اختلاف دی اول اختلاف په دې کې دی چې دا لفظ عربي دی که عجمي دی که عجمي شي بيا په دې کې دوه مذهبه دي چې دا سراياني دی او که عبراني دی او که عربي شي بيا په دې کې درې مذهبه دي چې دا اسم مشتق دی که علم دی او که صفت مشتقه دی.

(وجه دحصر)

دا لفظ دجلال (الله) به خالي نه وي يابه عربي وي يابه سرياني وي که عربي وي نو دا اسم مشتق دی که علم دی او که صفت مشتقه دی نو قاضي بيضاوي خو اول دغه قول ذکر کړي دی چې عربي دی او که مشتق دی.

اوس اسم مشتق څه ته وائي مونږ په کافيه کې وايو الكلمة وضع لمعنى مفردٍ و هو اسم و فعل وحرف اسم ئې په مقابله د فعل او د حرف کې ذکر که بيا د اسم تعريف دا دی مَادلّ على معنى فى نفسها غيرمقترن باحد الازمنة الثلاثة.

---

(۱) قوله: وطولت الباء عوضًا عنها وعن عمر بن عبد العزيز أنه قال لكاتبه طول الباء وأظهر السينات وطول الميم وجه أمره بتحسين هذه الحروف تفخيم الاسم قال بعض الأفاضل من شراح الكَشَّاف وفي السينات نظر لأنه ليس في بسم الله سينات إلا أن يحصل عَلَى بسم الله المتعدد وحينئذٍ يجب أن يقول طول الباءات ودور الميمات فالأصح السنات جمع سَنة وهي النسخ المعتبرة السينات بالياء فيجب أن يرجع إلَى التَجاز مُبَالَغَة بأن يحمل كل سنة من أسنان السين بمنزلة سينة في الظهور فالسينات أصح رواية والسينات أصح دراية وصاحب الكشف جعل السينات أصح رواية ودراية من السنات بدلها قال جعل كل سنة سينة تجوز لإفادة المُبَالَغَة في الإظهار كأنه يقول اجعل كل سنة بمنزلة سينة . حاشيتا القونوي وابن التمجيد على البيضاوي (ط العلمية) (١/ ١١٤) كذا في حاشية الشهاب للخفاجي و حاشية شيخ زاده :١/١١٤ حقانية

اسم دیته وائې چې دلالت کوي په معنی فی نفسها باندې او دا معنی به مقترینه نه وي تر یو د ازمنه ثلاثه وو پورې اوس دغه معنی به خالي نه وي یابه نفس تصور د دې معنی مانع د شرکت 8
کثیرینو نه وي یا به نه وي که مانع وي داعلم شو اوکه مانع نه وي نو دابه خالي نه وي یابه ترینه رافهمیږي نفس ماهیت من حیث هی هی اویابه ترینه رافهمیږي ماهیت موصوف بصفةٍ نو اول اسم جنس دي او دوهم (ماهیت موصوف بصفة) اسم مشتق دي له دې نه معلومیږي چې اسم مشتق په مقابل د علم او اسم جنس کې راځي خو لکن د مصنف مراد دا نه دی بلکې دلته له مشتق نه هغه اسم مراد دی چې له یو اصل څخه اخستل شوی وي هغه بیا ثفت وي او اسم وي یا علم وي.

شیخ زاده: له دې وجهې نه د اسم مشتق داسې تعریف کوي مَادلّ علی ذاة مبهمة باعتبار بعضی معانیه و اوصافه:

ترجمه: اسم مشتق: هغه اسم دی چې دلالت کوي په ذات مبهم په اعتبار د بعضو معانیو او اوصافو.

په لفظ دالله کې مذاهب

په اسم د الله کې چې مشتق شي څلور مذهبه دي قاضي بیضاوي رحمهُ الله په دې ترتیب ذکر کړي.

اول :په دې عبارت سره والله اصله اله.

دوهم: په دې عبارت سره وقیل انّه علم لذاته المخصوص.

دریم: په دې عبارت سره ذکر کوي و الاظهر انّه وصف فی اصله.

څلورم: په دې عبارت سره وقیل انّه لاها بالسّریانیة.

تفسیر بیضاوي: (فَحُذفتِ الهَمزةُ وَعُوّضَ عَنها الألفُ وَالّلامُ)

ترجمه: همزه حذف کړی شوه اوعوض کې ترینه الف اولام راوړلی شو.

تشریح: همزه حذف کړی شوه اوعوض کې ترینه الف او لام راوړلی شو بیا یولام په بل لام کې مدغم کړی شو نو «الله» شو ځکه قانون دی چې له یو جنس نه دوه حروف راشي یو په بل کې مدغم کیږي علامه نسفي او زمحشري رحمهما الله ویلي چې د لفظ دالله جلّ جلاله لره دوه قانونه دی یو

اصل قريب او بل اصل بعيد (۱) اصل قريب دادى چې دا لفظ د الله جلّ جلاله مهموز الفاء دى او په اصل کې اَلِاٰله و همزه حذف شوه او يو لام په بل لام کې مدغم کړى شو (۲) اصل بعيد دا دى چې کوم قاضي بيضاوي رحمه الله په دې عبارت سره (والله اصله اله فحذفت الهمزة الخ) ذکر کړ.

سوال: محذوف خو پشان دمذکوروي له ده نه خو په عوض کې هيڅ شى نشي راوړلى ؟

جواب: محذوف پشان دمذکور وي خو هغه محذوف چې محذوف بعلةٍ(په علت سره) وي او دې محذوف ته بيا محذوف قياسًا وائې او دلته خلاف القياس حذف شوى دى.

تفسير بيضاوي: (ولِذٰلِك قِيلَ ياالله بِالقطعِ الّا انّه مُختصٌّ بالمعْبودِ بالحقِّ وَ الِالٰهُ فى الاصلِ لكُلِّ معبودٍ ثُمّ غُلب على المعبود بالحقِّ) .

ترجمه: اوله دې وجهې ويل کيږي ياالله په قطعيت سره لکن دا اله معبود بالحق پورې خاص دى اِلٰهٌ په اصل کې په هرمعبود واقع (ويلى شي) دى بيا په معبود بالحق باندې غلبه ورکړى شوه.

تشريح: له دې وجهې نه چې الف لام عوض دى له حرف اصلي نه او الف جزء دى له همزې نه او همزه اصلي وه نو عوض به ئې هم اصلي وي خلاصه دا چې الف لام عوض له همزې څخه دى او همزه جزء د کلمې وه نو الف لام هم جزء د کلمې څخه شو نو له دې وجهې نه په لفظ د الله کې همزه قطعي وي په حالت د ندا کې به ئې نه حذف کوي ځکه که په حالت دنداکې حذف کړى شي ديا الله په ځاى ياللهو ويل شي نو دا وهم پيدا کيږي چې دا همزه د هغه الف لام دى کوم چې د تعريف لپاره دى او جزء د کلمې څخه دى او که الف لام زائد دى او بل دا چې الف لام تعريفي خو له نداسره نه جمع کيږي او دا جمع شوى.

سوال: دا دليل خو دا تقاضا کوي چې همزه دلفظ د الله قطعي دى مطلقا په حالت د ندا او غير ندا دواړو کې به په درج کې اصلا نه ساقطيږي او جال دا دى چې په غير نداکې په درج کې خو ساقطيږي لکه بسم الله .

جواب: امام خليل رحمه الله فرمائي اصل دا همزه د قطع دى ځکه دا راځي لپاره د عوض نه لپاره د تعريف مگر دومره ده چې دا په درج کې په غير النداء کې ساقطيږي طلبًا لخفة له وجهې دکثرت استعمال نه د لفظ د جلال او په نداِ کې بيا ځکه نه ساقطيږي چې هلته توهم پيدا کيږي کما مره .

(الا انه یختصّ): دې عبارت سره دفع دیو سوال کوي.

سوال: هرکله چې لفظ د جلال په اصل کې اِلٰهٌ شو نو اله خو اسم جنس دی اطلاق يې په هرمعبود کیږي حق وي او که باطل وي لکه دا قول د الله جلّ جلاله (اُنظر اِلی اِلٰهِک الّذی ظَلتَ علیه عاکفا)[1]

او همدارنګه دا قول (ارأیت من اتّخذ اِلٰهَهُ هَواهُ)[2] نو لفظ د جلال به همدارنګه وي او حال دا چې لفظ دالله جلّ جلاله اسم مشتق دی په غیر الله ئې اطلاق نه کیږي.

جواب: په «الّا انّه یختصّ» سره جواب کوي د اِلٰهٌ نکرې اطلاق په هرمعبود کیده خو هرکله چې الف لام عهدي پرې داخل شو نو او ګرځید علم په غلبې سره لپاره د معبود برحق.

سوال: دلته په عبارت د ماتن کې تدافع ده هغه دا (و الا اله فی الاصل لکُلِّ معبودٍ) دا عبارت په دې دلالت کوي چې دا اسم صفت دی ځکه معبود له قبیلې د اوصافو څخه دی او روسته وائي چې غلبه ئې ورکړه او غلبه خو دا اسم راځي نه د صفت نو ځای کې وايي صفت دی بل ځای وايي اسم دی؟

جواب: مراد له (و الا اله فی الاصل لکُلِّ معبودٍ) څخه دانه دی چې دا په معنا د معبود دی بلکې مطلب دا دی (انه اسم یقع علی ذوات المعبود مطلقا) نو عبارت داسې شو (و الا اله فی اصل اسم).

تفسیربیضاوي: (و اِشْتقاقُه مِن أَلَهَ أُلهة وأُلوّهة وَالوُهیة بمعنی عَبَدَ منه تَألّه واِستَألَه)

ترجمه: اسم د الله د اله یَألَه اِلهًا و الهة و الوهیة نه مشتق دی په معنی د عبادت سره او له دې څخه تَألّه وَاِستَألَه (له مزید و څخه) هم راځي.

---

(۱) سورت طه ایة: ۹۷

(۲) سورت الفرقان ایة:۴۳

تشریح: دلته په لفظ د الله د اشتقاق بحث کوي د دې په مشتق منه کې مصنف قاضي بیضاوي رحمه الله د علماؤ اختلاف ذکر کوي په دې باب کې اووه (۷) اقوال بیانوي او وجه په آخر د دې شرح کې راشي ان شاءالله.

په لفظ د جلال کې اووه اقوال

لومړی قول: (أَلَهَ أَلِهة وأُلوهة وَالوُهية) څخه مأخوذ دی له باب د فتح څخه په معنا د عبادت او له باب تفعل څخه تأله را ځي په معنا د غلام پشان کېدل (صارکالعبد) او باب استفعال څخه استأله هم راځي په معنا د (صار مشابها للعبد)

تفسير بيضاوي: (وَ قِيْلَ مِن اَلِه اذَا تَحَيَّر لاَنّ العُقولَ تَتحَيَّرُ فی مَعرفتِهِ)

ترجمه: او چا ویلي دي چې اَلَهَ نه مأخوذ دی چې کله څوک حیران شي ځکه د الله جلّ جلاله په معرفت کې هم ټول عقلونه حیران دي.

تشریح: دویم قول : دا اَلَهَ څخه مأخوذ دی مهموزالفاء دی له باب سَمِع یسمع څخه په معنا د متحیر کیدلو دی د لکه ویلی شي «النّاس أَلهون له» خلک الله جلّ جلاله ته حیران دی په معنی د مألوه سره ای الله مألوه للنّاس معرفت د الله منشاء د حیرانتیا د خلکو دی.

تفسيربيضاوي: (اَو مِن اَلِهْتُ الی فُلانٍ ای سکنْتُ الَیْه لانّ القُلوب تَطْمَئِنُّ بذِکْرِه وَالأَرواحُ تَسکنُ الی معْرفتِهِ)

ترجمه: اویا د اَلِهتُ الی فلان محاورې نه مأخوذ دی چې کله ته په دغه فلان ارام حاصل کړې ځکه د الله جلّ جلاله په ذکر هم زړونو ته ارام حاصلیږي او ارواح د انسان هم په معرفت د الله جلّ جلاله ارام حاصلوي.

تشریح: دریم قول: دا د (اَلِهت الی فلان) څخه مأخوذ په معنا د (ماسکون او اطمنان حاصل کړو په فلاني نو الله ته هم ځکه الله وايي چې د ده په ذکر سره زړونه سکون حاصلوي.

تفسير بيضاوي: (اَومِن أَلَهَ اذَا فزَع مِن امر نزَلَ علیه وَ اَلِهَة غیره أجارهُ اذِ العائذُ یفزِع الیهِ وَ هو یجِیرُه حقِیْقة اَو بزَعْمِه)

ترجمه: دا يا مأخوذ دی اَلِه نه چې کله يو سړی وويرېږي له هغه امر نه چې نازل شوی وي په ده باندې اويا دا محاوره چې فلاني غير سره پناه اونجات حاصل کړ ځکه پناه نيوونکی پناه په طرف دالله جلّ جلاله کې نيسي او الله جلّ جلاله حقيقي پناو ورکوي اويا په ګمان دهغه چاچې د الهه وو باطله و عقيده لري.

تشريح: څلورم قول: دا مأخوذ دی له أله څخه په معنا د نازل شوي مصيبت نه وريدل مخکې اَلِهَ ذکر شو هغه په معنی دتحير سره وو دا اَلِه بله معنی لري «اذا فزع من امر نزل عليه» اودغسې لفظ د أَلِهة استعماليږي په معنا د ويرول شوي انسان ته پناه ورکول نو الله ته هم ځکه الله وايی چې د ويرول شويو انسانانو پټن ځای دی.

تفسيربيضاوي: (اَو مِن أَلَه الفَصيْلُ اذَا وَلَع بِامّهِ اذِ العباد مُولِعونَ بالتّضرعِ اِليهِ فی الشَّدائد).

ترجمه: اويا مأخوذ دی له دې محاورې دعربونه چې اَلِهَ الفصيل الی امّه) جونګی (د اوبن بچی) خپلې مورته مشتاق اوحريص شو کله چې مشتاق شي تي رودني دخپلي مور ته ځکه بندګان هم مشتاق اوحريص وي په عاجزی سره الله جلّ جلاله ته په تکاليفو کې.

تشريح: پنځم قول: دا مشتق دی له اَلِهَ الفصيل الی امّه څخه دا هغه وخت ويلی شي چې د بچي تي رودلو ته ضرورت او ډېر مستاق وي نو مور پسې ورځي او ورپورې نښلي نو الله جلّ جلاله په معنی د مألوه للنّاس دی ای محروص للنّاس.

تفسيربيضاوي: (اَو مِن وَلَهَ اذا تحيّر وتَخَبّط عقلُه وکَانَ اَصْلهُ وِلاَهٌ فَقُلِبَت الْوَاوُ همزةً لِاِستثقالِ الکَسرَةِ عَلَيها اسْتثقال الضمَّةِ فی وُجوهٍ فَقيلَ اَلاهُ کأِعَاءٍ و اِشَاحٍ وَيَرُدُّهُ الجمع عَلَی اَلِهَةٍ دون اَوْلِهَةٍ).

ترجمه: يا دا اسم دجلال وَلَهَ يلهُ نه مأخوذ دی معنی داچې کله څوک حيران شي اوعقل ئې مضطرب شي او لفظ د الله په اصل کې ولاه وو نو دکسری دثقل د وجهې نه دا واو په همزې سره منقلب شو پشان دثقل دضمی په واو د «وُجوْه» کې(لکه په «وجوه» کې چې واو نه همزه

جوړیږي) اجوه هم استعمال شوی دی او ویلی شوی دي: اله په شان د اعاء او اشاح دی چې په اصل کې وعاء او وشاح وو (نو واو په همزه بدل شوی دی) او دا قول رد کوي چې د اله جمع اَلِهَة راځي نه اولهة.[1].

تشریح شپږم قول: لفظ د جلال (الله) مشتق دی له «وله» څخه مثال واوي دی په معنا د حیرانیدلو او مخبوط العقل نو الله ته هم الله ځکه وایي چې په معرفت کې عقول حیران او مخبوط دي خو له دویم قول سره یې فرق دادی «وکان اصله» سره په دویم او شپږم قول کې فرق بیانوي چې هلته همزه په (اله) کې اصلیه وه او دلته له واو نه بدل دی لکه لفظ د الله په اصل کې وِلاه واو حرف علت ضعیف و کسره وریاندې ثقیله وه لکه څنګه چې په «وُجوهٌ» کې پرې ضمه ثقیله وه نو واو حذف شو لاَه پاتې شو نو الف لام د واو نه عوض راغی نو الِلاه شو بیا لام په لام کې مدغم شو الله شو.

خو په دې قول مصنف رد کوي هغه داسې که «أله» له «وله» مشتق وای نو جمع تکسیره به اولهه راتلل پکار و او حال دا چې د «اله» جمع أٰلهة راځي ځکه جمع تکسیره کلمه خپل اصل ته رد کوي نو معلومه شوه چې له «وله» څخه مشتق نه دی.

تفسیربیضاوي: (و قیل اصْلهُ لَاهُ مصدر لَاهَ یَلِیهُ لَیَهًا ولاهَا اذًا اِحتَجَب وَ ارتَفَعَ لِاَنّه سبحانهُ وتعالی مَحْجُوب عَن اِدراکِ الاَبْصارِ وَمُرتفعٌ علی کُلِّ شيءٍ ومِمَّا لَایلِیقُ به یَشهد لهُ قول الشّاعر

کحِلفة من ابی رَباح ..... یسمعها لاهه الکُبار)

ترجمه: اوویلی شویدي چې لفظ د الله جلّ جلاله په اصل کې (لاه یلیه) وو کله چې یو شئ پټ وي او له عقل نه پورته وي (الله محتجب عن رؤیة الابصار ومرتفع عن ادراک العقول) ځکه الله جلّ جلاله د ادراک د ابصارونه محجوب دی هیڅوک یې لیدلی نشي او د هرشي څخه مرتفع دی

---

(۱) د اشاح قانون دا سې دی چې واو په همزې سره بدلول واجب دي (۱)شرط واو به مضموم یا مکسور وي احترازي مثال وَعد (۲)شرط واو نه به روسته تاء متحرکه راغلي وي احترازي مثال وعدتْ (۳) شرط تاء به د باب افتعال نه وي احترازي مثال ادتغم اتفاقي مثال له وِشاح څخه اشاح شو

اوله هغه شیانو نه هم اوچت دی چې الله جلّ جلاله پورې لائق نه وي د دې لپاره دا قول د شاعر دلیل دی (چې دا جوف یائي دی) لکه قسم کول د ابی رباح چې هغه قسم لوی خدای اوریده.

تشریح اووم قول: دا چې دا مشتق دی له (لَاهَ یُلِیهُ لَیْهًا ولاهًا) څخه اجوف یائي دی د دې بیا دوه معناګانې دي لومړۍ معنا یې پټېدل او دویمه معنا یې پورته کیدل نو ا «له» به په اصل کې «لاه» ماضي ئې لاه او مضارع ئې یلیه راځي او مصدر ئې لیها اولاه راځي نو الف لام تعریفي وریاندې داخل شو نو الالاه شو بیا لام په لام کې مدغم شو الله شو او الله تعالی ته ځکه محتجب وایي چې د خلکو له سترګو پټ دی او مرتفع ورته ځکه وایې چې له هر شي او چت او له هر نقصان پاک دی.

د ابي رباح شعر یې د همدې اووم قول لپاره په تائید کې پیش کړ چې په شعر کې هم لفظ د «لاه» استعمال شوی دی.

تر دې ځایه مصنف اووه اقواله په لفظ د جلال کې بیان کړل چې دا اسم مشتق دی.

(وجه د حصر او خلاصة المذاهب)

دا اسم ذاتي د جلال چې مشتق شي دا به له درې حالاتو خالي نه وي یا به اجوف وي یا به مثال وي یا به مهموز وي که اجوف وي نو د دې اصل بیا (لاه) دی دا قول بیضاوي څلورم ذکر کړی او که مثال وي نو د دې مشتق منه بیا (وَلِه) دي او دا قول بیضاوي اووم ذکر کړی دی او که مهموز وي بیا پکې دوه صورتونه دي یا به له باب د فتح یفتح څخه وي او یا به د سمع یسمع څخه او په دواړو صورتونو کې معنی معبود حقیقي دی خو چې باب د فتح نه راشي بیا دا لومړی قول دی او که د باب د سمع نه راشي بیا پکې څلور (۴) قوله دي:

(۱) یا اَلِهَ نه مأخوذ دی په معنی د تحیر او دا قول ئې دوهم ذکر کړی.

(۲) یا د اَلِهت الی فلانی محاورې نه مأخوذ دی دا قول ئې دریم ذکر کړی.

(۳) یادا په معنی د فزع سره راځي او دا قول ئې پنځم ذکر کړی.

(۴) یا دا مأخوذ دی له دې محاورې دعربو نه ای الفصیل الی امّه دائی شپږم ذکر کړی نو خلاصه داشوه چې که په اصل کې اِلَهٌ شي نو په مشتق منه کې ئې دا اوه اقواله دي او که په اصل کې لَاهٌ شي نو بیا ئې په معنی کې دوه قوله دي یا په معنی داحتجب دی یاپه معنی دارتفع دی.

په کلمې د جلال (الله)کې د علامه زَبیدي او موسی خان بازي رحمهماالله قول

قاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللَّهُ) په دې خبره چې لفظ د الله له چا نه مشتق دی اووه اقوال بیان کړه خو علامه زَبیدي (رَحِمَهُ اللَّهُ) وایی چې زما شیخ علامه فاسي (رَحِمَهُ اللَّهُ) به ویل چې دې کې دېرش اقوال چې لفظ د الله له څه شي نه مشتق دی.

او علامه موسی خان بازي (رَحِمَهُ اللَّهُ) د لفظ د الله متعلق په دوه ضخیمو جلدونو کې کتاب لیکلي چې نوم یې دی «فتح الله في خصائص اسم الله» په دغه کتاب علامه صیب د لفظ د الله جل جلاله اونیم سوه (۷۵۰) خاصیتونه ذکر کړي دي او د لفظ د الله متعلق یې مستقل علم ایجاد کړی چې هغې ته «علم الجلالة» وایي.

کلمه د جلال (الله) اسم اعظم دی او که نه؟

دا چې د الله تعالی په نومونو کې اسم أعظم نوم کوم یو دی دا مسئله د وخت د عالمانو تر منځ سخته اختلافي مسئله ده په دې مسئله کې علامه امام محمد موسی الروحانی البازي (رَحِمَهُ اللَّهُ) په خپل کتاب «الکنز الأعظم في تعین إسم الأعظم» کې تقریبًا (۶۰) قولونه رانقل کړي او په اخر کې خپله فیصله داسې کوي چې د الله تعالی په نومونو کې اسم أعظم (الله) دی او دا قول د جمهورو عالمانو دی او دې ته د خیرالقرون د زماني ډیرو امامانو تګ کړی دی لکه امام ابو حنیفة (رَحِمَهُ اللَّهُ) وغیره.

پاتې شوه دا اعتراضونه چې له نورو روایاتو سره یې تعرض راځي همدا شان دا اعتراض چې اوس یې موږ وایو نو ولې دعا نه قبلیږي دا او دې ته ورته اعتراضونو ځوابونه علامه محمد موسی روحاني البازي رحمه الله په خپل کتاب کې په تفصیل سره ور کړي دي.[1]

---

(۱) الکنز الأعظم في تعین إسم الأعظم: ۱۸۰، ۲۵۴)ط: إدارالتصنیف والادب). وکذا في البدر الانوار شرح فقه الاکبر

د الله تعالی ذاتي نوم ته لفظ استعمالول جائز دي؟

د الله تعالی ذاتي نوم ته لفظ استعمالول یو ډول بې ادبي دی ځکه لفظ رمی ویشتلو ته وایي که هر څو مره توجیه ورته وکړو دا لغوي معنا خو بیا هم پکښې پرته ده ؛ ځکه خو دې مسئلې ته امام رضی رحمه الله د کافیه په شرحه کښې هم اشاره کړې ده.[1]

(دوهم قول که اسم د جلال علَم شي)

تفسیر بیضاوي: (و قِيل عَلَمٌ لِذاته المَخْصُوصة لأنّه يُوصَف ولا يوصفُ بِه)

ترجمه: او چا ویلي چې دا اسم د الله جلّ جلاله د ذات مخصوصه لپاره عَلَم دی ځکه چې دا په خپله موصوف کیږي خو د بل شي لپاره نه صفت کیږي.

تشریح: له دې ځای څخه دویم قول بیانوي چې کلمه د جلال مشتق نه دی بلکې علم دی او دا قول منسوب دی امام سیبویه او امام زجاج ته دوی وائي چې دا علم دی مشتقي نه دی دوی خپلې دعوې لپاره درې دلایل وایي:

لومړی دلیل: «لأنّه يوصف ولا يوصف به» لفظ د الله موصوف واقع کیږي خو صفت نه واقع کیږي دا صغری او کوم اسم چې موصوف واقع کیږي او صفت نه واقع کیږي هغه علم وي دا کبری نو لفظ د الله جلّ جلاله علم دی دا نتیجه.

د امام سیبویه د مغفرت سبب

حکیم الامت اشرف علي تهانوي (رَحِمَهُ اللهُ) په «حطبات حکیم الامت »کښې لیکلي چې سیبوبه عقیدهً معتزلي و کله چې وفات شو چاپه خوب ولید پوښتنه یې ترې وکړه چې الله جل جلاله درسره څه معامله وکړه، امام سیبویه ورته وویل چې الله جل جلاله یوازې په یوه خبره وبښلم هغه دا چې ما لفظ د الله ته اعرف المعارف ویلي و . وای الله جل جلاله راته وویل چې په دې خبره دې ښنم چې تا زما اسم ته اعرف المعارف ویلي دي[2].

---

(۱)۔ واللفظ خاص بما يخرج من الفم من القول، فلا يقال: لفظ الله كما يقال: كلام الله . شرح الرضي على الكافية: ۱/ ۲۲) ط: مكتبة رشيدية).

(۲) كذا في حاشية تحفة شا جهاني ناقلا عن الفوائد الشافية لزيني زاده افندي ناقلا عن القهستاني :صـ ٦

تفسیر بیضاوي: (ولاَ نّه لَابُدَّ له مِن اسمٍ تَجرِی علیهِ صِفاتُه ولَایَصلِح له مِمَّایَطلِق عَلیهِ سِواهُ)

ترجمه: او بل له دې وجهې نه الله جلّ جلاله لره داسې اسم ضروري دی چې نور صفات وربانديې جاري او حمل شي او بل اسم د الله جل جلاله اسمونو کې (چې اطلاق یې په الله کیږي) د دې صلاحیت نلري چې نور او صاف پرې حمل شي سواه د لفظ د الله نه.

تشریح دویم دلیل: دا دی چې اسم د الله عَلَم دی هغه دا چې لابدي ده الله تعالی لره له داسې اسم نه چې نور صفات دالله جلّ جلاله وربانديې جاري او حمل شي یعنې دالله جلّ جلاله نه نوي (۹۹) نومونه دي په دې کې د اسې اسم الله جلّ جلاله لره ضروري دی چې باقي نور صفات وربانديې جاري کیدلی شي او داسې اسم بل نشي کیدی سواه د لفظ د الله تعالی نه یعنې په دې ټولو اوصافو کې موصوفیت صلاحیت نشته سواه د لفظ د الله تعالی نه.

تفسیر بیضاوي: (وَلِانّه لَوکَان وصْفًا لَمْ یکُن قولُه لآاِله الّاالله تَوحِیدًا مِثل لآاِله الّاالرّحمن فأنّهُ لَایمنَع الشّرکةَ).

ترجمه: او بل له دې وجهې نه که چیرته اسم دالله جلّ جلاله وصف شي نو قول د «لآاِله الّاالله» به توحید پاتي نشي لکه دا قول «لآاِله الّاالرّحمن» ځکه دا قول منعه له شریک څخه نه راولي.

تشریح دریم دلیل: دا قیاس او عقلي دلیل دی په علمیت د لفظ د الله جل جلاله هغه داسې (لو کان اسم الله تعالی وصف). دا مقدم. لم یکن لآاله الّاالله توحیدًا. دا تالي. لکن التّالی باطل فالمقدّم مثله. دلیل ملازمي ظاهردی ځکه وصف په نفس ماهیت دلالت کوي یابه په ماهیت موصوفه دلالت کوي نو دواړه کلیات دي او مرتبه ابهام کې دي او کلیات او ابهام مانع دشرکت څخه نه وي نو که علم نه شي لآاله الّاالله کې به توحید پاتې نه شي او که علم شي بیا دا کلمه مفیده د توحید وګرځي ځکه علم په ذات معین دلالت کوي او ذات معین مانع وي له شرکت غیر څخه.

(دريم قول چې اسم دجلال صفت مشتق دی)

تفسير بيضاوي: (وَالأَظهَر أنَهُ وصْفٌ فى أصْلِه لَكِنَهُ غُلب عليه بِحيثُ لَايَستَعملُ في غَيرِهِ صَار كَالعَلم مِثل الثُرَيَّا وَالصَّعِق أجري مَجرَاهُ فى إِجراءِ الوَصْفِ علَيه وَ امتِناعُ الوصْفِ به وَعَدمِ تَطرق أحتِمالِ الشَّركة اِلَيه).

ترجمه: او دا ډيره ښکاره خبره ده چې په اصل کې وصف دی لکن هرکله چې تغليب ورکړی شو په داسې شان سره چې بغير د ذات نه نه استعماليږي نو په شان دعلم وګرځيده لکه ثريا اوصعق په ځای دعلم قائم کړی شوي دي په جاري کولو د وصف کې په دي باندې اومنع دی متصف کيدل بل څوک په دې صفت سره (په غير يې اطلاق نه کيږي) او د اشتراک احتمال هم نلري.

اسم مشتق اووصف مشتق کې فرق

تشريح: له دې ځای دريم مذهب بيانوي او مختاره مذهب هم ځکه يې په لفظ د اظهر سره ذکرکړ خو اول د مذهب او قول او د دې په مابين کې څه فرق دی؟ هغوې ورته اسم مشتق وائې او دا ورته صفت مشتق وائي.

دواړه وائې چې د الفظ د الله دلالت کوي د ذات په اعتبار سره په بعضې معانيو نو داسم مشتق په صورت کې هم دصفت رعايت شوي دی او دصفت مشتق په صورت کې هم دصفت رعايت شوی نو په دواړو کې څه فرق شو فرق دادی چې په اسم مشتق کې مقصود ذات وي اګرکه دلالت په وصف او ذات دواړو باندې کوي او د دې لپاره به قرينه څه وي چې دلته ذات مقصود دی او دلته وصف مقصود دی نو دې کلمې ته ګوري که دا موصوف واقع کيده نو دلته به ذات مقصود وي او که موصوف نه واقع کيده بلکه وصف واقع کيده نو هلته به وصف مقصود وي.

سوال: کله چې وصف مشتق شو نوپکاردی چې وصف واقع شي او اسم د الله خو هيڅيرته وصف نه دی وقع شوی؟

جواب: «لکنّه لما غلب» خلاصه د جواب ئې دا دی چې دلته غلبه دا اسمیت پرې راغلې ده نو په اصل کې وصف دی خو چې غلبه دعلم پرې راغله نو حیثیت دعلم ئې واخیست نو اوس موصوف واقع کیږي او صفت نه واقع کیږي.

لکه ثریا تصغیر دثروی دی مالدارې ښځې ته وائي مؤنث د ثروان دی نو اصل کې داوصف دی مالداری ته وائي او اوس دا نوم گرځیدلی لپاره دګڼو ستورو چې پښتو کې ورته پروین یا پیروني وایي او په بل څه ئي اطلاق نه کیږي او صعق سخت اواز ته وایي بیا دخویلد بن نفیل لقب گرځیدلی دا یو سړی وو په لاره روان و ده سره څادر و چې کله به ئې څادر واړولو او سم به کړو نو باد به ورته بیرته وران کړ بیا به ئې سم کړ بیا به ئې ورته وراون کړ بالآخرة ئي باد ته سپکې سپورې خبرې شروع کړې نو اسمان نه وربانډې تندر راغورځیده او هلاک شو او شیخ زاده ویلي چې ده به تهامه مقام کې طعام تقسیمولو او ورکولو یوه ورځ سخت باد راغی اولوښې ئې ورته له خاورو ډک کړ نو باد ته ئې بدې خبرې وکړې نو اسمان نه پرې تندر راغورځید او هلاک شو نو بیا به چې چا یادولو نو نوم به نه اخیسته بلکه صعق سره به ئې یادولو دائې علم تغلیبي وګرځیده[1].

په دې عبارت (وَ امتِناعُ الوصْفِ به وَعَدمِ تَطرق) سره ئې هغې علماو ته جواب وکړو کومو چې وویل که چیرته اسم دالله جلّ جلاله وصف شي نو په کلمه د توحید کې به توحید پاتې نشي نو ده ورته جواب ورکړ چې اصل کې وصف دی اوس غلبه وربانډې دعَلم راغلې نو اوس مانع دی له شرکت د غیر نه.

تفسیر بیضاوي: (لِأنّ ذَاتَه مِن حیثُ هُو بِلا اعتِبار امْرِ آخر حَقِیقی اوغَیرِهِ غَیرمعقُولٍ لِلْبَشرِ فَلایُمکنُ أن یَدلَّ علَیه بِلَفظ)

---

(۱) والصعق بفتح العین شدّة الصوت، وبکسر العین الشدید الصوت، والمتوقع للصاعقة والنازلة علیه، ولقب خویلد بن نفیل فارس بني کلابه وتسکن عینه ویقال صعِق کإبل لقب به لأنّ تمیما أصابوا رأسه بضربة، فکان إذا سمع صوتا صعق أو لأنه اتخذ طعاماً فکفأت الریح قدره، فلعنها فأرسل الله علیه صاعقة، وهما وصفان في الأصل صارا علماً بالغلبة، والغلبة في الله، والثریا تقدیریة، وفي الصعق تحقیقیة حاشیه الشهاب علي تفسیر البیضاوي -عنایه القاضي وکفایة الراضي (۱/ ٥۹)

ترجمه: ځکه دالله جلّ جلاله ذات په حیثیت د ذات سره بغیر داعتبار د امر آخرنه (نور صفا ورسره نه وي) د انسان په عقل کې نشي راتللی ترڅو چې د بل وصف او امر لحاظ ورسره ونه کړې که دا امر آخرحقیقي وي (لکه علم او قدرت) اوکه غیر حقیقي وي (لکه خالقیت اورازقیت) پس ممکن نه دی چې ذات من حیث الذات دې دیو لفظ لپاره مدلول شي.

تشریح: مصنف د لته د دریم مذهب د اظهریت لپاره دلایل بیانوي

لومړی دلیل: دا مذهب ځکه اظهر دی چې ذات دالله تعالی بغیر له امر اخر نه په عقل کې نه راځي داصغری او څوک چې په عقل کې نشي راتلی هغه مدلول دلفظ نشي کیدلی داکبری نتیجه داشوه چې ذات دالله جلّ جلاله مدلول د یو لفظ هم نشي کیدی دا ځکه چې مدلول د الفاظو هغه څه کیدی شي کوم چې په زهن کې او ذات د الله تعالی په زهن کې نه وي.

خو لکن بعضو دا دلیل رد کړی دی د دې نه دا جواب کوي چې ذات دالله جلّ جلاله په عقل بالکنه او بکنهه راځي بالوَجه او بوجهه خو راځي او دا مدلولینو د لفظ لپاره کافي دی یعنې که تصور بالکنه ئې نشي کیدلی تصور بالوجه خو ئی کیدلی شي.

تفسیربیضاوي: (وَلأنّه لَو دَلَّ عَلَى مُجَرَّدِ ذَاته المَخْصوصَةِ لما أَفَاد ظاهِر قَوله سبحانه وتعالى هُو اللّه فى السَّمواتِ معنًى صَحيحاً).

ترجمه: اوکه چیرته په صرف ذات مخصوصة د الله جلّ جلاله دلالت وکړي نو ظاهر کې به دالله جلّ جلاله دا قول د صحیح معنی فائده ورنکړي چې (هو الله فى السَّموات دی).

تشریح دویم دلیل: دا دریم قول د اظهریت لپاره دویم دلیل پیش کوي او رد کوي په قائلینو د علمیت: که لفظ د الله علم شی د ذات دالله جلّ جلاله لپاره نو په دې آیت کې خو بیا زمکه او اسمان دالله جلّ جلاله لپاره ظرف مکان جوړیږي ترجمة به داسې شي چې ذات الله جلّ جلاله په زمکه او اسمانونو کې دی حالانکه الله جلّ جلاله مکان او حیز څخه پاک دی.

الطريقة محمدية [1] ليکي که څوک دا عقيده لري چې اسمان د الله جلّ جلاله لپاره مکان او ظرف دی دا سړی کافر دی.

مصنف (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) (لما أفَاد ظاهِر قَوله) سره اشاره دېته کوي چې د ظاهر په اعتبار سره په ايت کې دا خرابي لازميږي يعنې چې علم وګرځي لپاره د ذات باري تعالى او که وصف شي بيا هيڅ نقصان نشته ځکه په دې صورت کې لفظ دالله په معنا د معبود شي نو معنا به دا شي «هو معبود في السموات والارض.

تفسير بيضاوي: (وَلِأنّ معنى الاشْتقَاقَ هُو كَونُ أحدِ اللَّفَظَينِ مشارِكًا لِلآخر فى المَعنى وَالتَّركيبِ وَهو حاصِل بَينَهُ وبَين الأصولِ المَذْكُورةِ)

ترجمه: ځکه معنى داشتقاق له دوه لفظونو نه يو لفظ د بل لفظ سره په معنى او ترکيب کې شريکيدل دي دا معنى په مابين دلفظ دالله جلّ جلاله او اصولو مذکوره (اَلِهَ وَلِهَ وغيره) کې حاصله دي.

تشريح دريم دليل: دا دريم دليل بيانوي په وصفيت د لفظ د الله او د مخکې نه بيا سلف بيانوي چې لفظ دالله جلّ جلاله مشتق دی اَلِهَ وَلِهَ وغيره ځکه د اشتقاق معنا ده دوه لفظين له يو بل سره شريکيدل په لفظ او معنا کې نو لفظ د الله تعالى هم له خپل مشتق منه سره هم لفظي او معنوي مناسب لري ثابته شوه دا علم نه دی چې علم نه شو نو وصف مشتق شو.

تفسير بيضاوي: (وَقيلَ أصلهُ لَاهًا بالسّريانيَّةِ فَعربَ بحذفِ الألِف الآخِرةِ و أُدْخال الَّامِ عليهِ)

---

[1]:- الطريقة المحمدية والسيرة الاحمدية لمحمد بيرعلي البركوى البركلي . كذا قال امام الشافعي رحمه الله من اعتقد ان الله جالس عل العرش فهو كافر (رواه ابن المعلم القريشي في كتابه نجم المهتدي ورجم المعتدي ص ٥٥١)
قال امام احمد بن حنبل رحمه الله : من قال الله جسم لا كا لاجسام كفر (رواه الحافظ بدر الدين الزركشي في تنشيف السامع)--
--قال شيخ نظام فى الفتاوى الهندية : ويكفر باثبات المكان لله .وقال امام محمد بن بدر الدين بن بلبان الدمشقي :فمن اعتقد او قال ان الله بذاته في كل مكان او في مكان فكافر (مختصر الافادات :صـ ٤٨٩).

ترجمه: اوچا ويلي دي چې اصل کې لَاهًا دی په سر ياني کې بياپه عربي کې ورداخل کړی شو په حذف د الف آخر او په اول کې لام پرې داخل کړی شو.

څلورم قول اسم د جلال عجمي کلمه دی

تشريح: له دې ځايه په لفظ دالله تعالى کې څلورم قول بيانوي چې لفظ د الله جل جلاله په اصل کې سرياني لفظ دی ځکه دا په اصل کې لاهاً و او لاهاً سرياني کلمه ده نو بياعربي ته ورداخل شو په داسې شان سره چې اخرنی الف يې حذف شو او په اول کې پرې لام داخل شو او ځينې علماء يې بيا عبراني لفظ بولي ځينې علماء په دوی دواړ باندې رد کوي او وايي چې لفظ دالله کلمه د قرأن دی او اکثر کلمات د قرأن عربي دي.

تفسير بيضاوي: (تفْخِيم لَامِه اذَا انفَتَح مَاقَبله أو انضمَّ سَنَة وقيل مُطلَقا)

ترجمه: او چې کله د اسم دالله جلّ جلاله نه ما قبل حرف مفتوح يا مضموم وي نو داسم دالله لام به ډک ويلی شي دا د ټولو قاريانو طريقه ده اوچا ويلي چې دلفظ دالله جلّ جلاله لام په هرحال کې ډک ويلی شي

تشريح: له دې ځای نه په لفظ د اللهتعالى کې د قرأت بحث کوي خو لومړی به دا ووايو چې تفخيم د حرف (ټکي) سخت ويلو ته وائي او د دې ضد تدقيق دی او دا نرمي سره ټکي ويلوته وائي دويم دا چې دلته له سنة نه کومه معنا مراد ده.

(سنة) په دوه قسمه دي.

(۱) يو سنت متوارثه دي.

(۲) سنت اصطلاحية دی.

سنت متوارثه دپلارونو اونيکونو طريقه ته وائي.

او سنت اصطلاحية مجتمع على النّاس ته وائي.

دلته له سنت نه سنت متوارثه مراد دي چې طريقه دقاريانو دی.

کله چې له لفظ دالله تعالی له اسم نه مخکې ضمه يا فتحه وي نو لام به ډک لوستل کيږي او که مخکې ترينه کسره وي وي بيا به لام باريک لوستل کيږي او بعضې وايي چې لام به په هر حالت کې ډک لوستل کي اگر که مخکې ترينه کسره ولينه وي او لومړی. د اسلافو قاريانو طريقه ده ځکه په لام ډک اداکولو کې عظمت د باري تعالی دی او د تفخيم په صورت کې لفظ د الله په ټوله ژبه ادا کيږي او که مخکې ترينه کسره وي بيا ځکه باريک لوستلی شي چې که تفخيم پکې کوي بيا ثقل لازميږي ځکه تفخيم د پورته کيدو او کسره لاندې کيدو تقاضا کوي.

تفسير بيضاوي: (وحذفُ اَلفهِ لحْن تُفسِد بِهِ الصّلَوٰةُ ولَايَنعقِد بِهِ صرِيح اليَمِينِ وقد جآء لِضرورةِ الشِّعر : آلَا بارک الله فی سهيل ..... اذا ماالله بارک فی الرجال)

ترجمه: اوله دې (اسم ذاتي دالله جلّ جلاله) نه الف حذفول يو داسې غلطي دی چې لمونځ ورسره فاسديږي اوصريح قسم هم ورباندې نه منعقد کيږي او هر چې شعرکې حذف دی هغه دوجهې دوزن شعري نه.

ترجمه شعر: خبردار الله جلّ جلاله دی په سهيل سړی کې برکت نه اچوي کله چې الله تعالی په سړي کې برکت اچوي.

لحن جلي اوخفي او احکام يې

تشريح: دلغت غلطي ته لحن وائي: بيا لحن په دوه قسمه ده (۱) لحن جلي (۲) لحن خفي لحن جلي هغې ته وائي چې په اعراب او يا حروف دکلمې کې داسې تغير او بدلون وکړې چې دکلمې معنی پرې غلطه شي.

اولحن خفي يو باريکه خطاء ده چې پرته له ماهرينو د قرآن څخه نور څوک پرې نه پوهيږي لکه مد متصل ،غنّه، او قلقلة پريښودل. په لحن جلي سره لمونځ فاسديږي اوپه لحن خفي سره لمونځ نه فاسديږي دلته مصنّف په فقهې مسائلو استدلال کړی دی چې په لفظ د الله کې د لام او د ها په منځ کې الف حذفول داسې غلطي ده چې لمونځ ورسره فاسديږي او قسم هم ورباندې نه منعقد کيږي او دا فساد لمونځ په اتفاق داحنافو او شوافعو سره راځي ؛خو دلائل ئې بيل بيل دي

د شوافعو دليل دادی چې د اصولو قاعده ده چې انتفاء د جزء انتفاء د کل لره مستلزمه وي چې الف په اسم د جلال کې پاتي او حذف شو نو په تسميه کې اسم د جلال پاتي شو نو چې تسميه کې حذف شو ګويا تسميه مکمل پاتي شوه نو ګويا سورت فاتحه مکمل پاتي شوه او د شوافعو په نزد قرأت د فاتحې فرض دی او د فرضو په پاتي کيدو لمونځ فاسديږي.

او د احنافو دليل دادی چې کله کلمه ثلاثي وی نو حذف د حرف له اول نه يا له وسط نه وکړې لکه په (عربي) کې «ربيٌّ» ووائې يا «عريٌّ» ووائې نو لمونځ وربانده فاسديږي ځکه دې سره يامعنی بدليږي يا کلام لغوه کيږي او صريح قسم دې ته وائي چې الفاظو د قسم نه روسته نيت د قسم ته ضرورت نه وی.

(دالرّحمن الرّحيم بحث)

تفسير بيضاوي: (الرّحمن الرّحيم) اِسمانِ بَنيَا لِلمُبالغةِ من رَحِم كالغضبَانَ من غضِب والعَليمُ من عَلِم والرَّحْمَةُ فى اللُّغةِ رِقَّة القَلبِ وانعِطافُ يَقتضِى التَفضّل والاِحسان ومِنه الرَّحم لانعطَافهَا على مافيها وَأسماءُالله تَعالى اسمًا تُؤخذُ بِاعتبارِ الغَاياتِ الَّتى هى أفْعالُ دون المَبادِى تكونُ اِنفعالات)

ترجمه: الرّحمن او الرّحيم دواړه اسمونه دي چې بناء او جوړ کړی شوي لپاره د مبالغې او داد رحم نه مشتق دي لکه غضبان چې د غضب نه مشتق دی او عليم د علم نه مشتق دی او په لغت کې رحم د زړه نرمی ته وائي او يا د زړه هغه ميلان ته ويلی شي چې د احسان او مهربانۍ کولو تقاضا کوي او رحم (بچه دانې) هم له دې ځخه مشتق دی ځکه هغه هم په هغو شيان نرمي کوي کوم چې په دې کې موجود وي او د اسمونو (نومونه) د الله جلّ جلاله ذکر په اعتبار د غاياتو (نتائجو اوآثارو) سره وي چې (تأثيرات) د الله جلّ جلاله دي او په اعتبار د مباديو (مصادرو) سره نه دي چې هغه انفعالات (آثرقبلول) دي.

تشريح: په کلمه د «بَنيا» باندې اعتراض وارديږي هغه داچې.

سوال: چې بنيا للمبالغة ئي وويلي ولي وضع للمبالغة ئې ونه ويلې؟

جواب: که د بنيا په ځای ئي وضع ويلي وای نو متوهم به دا وهم کولو چې په للمبالغة کې دا لام د صلې لپاره وضع دی يعنې دا مبالغه ورته موضوع له دی حالانکه دا موضوع له لپاره دالرّحمن الرّحيم نه دی ځکه ئې وضع ذکر نه کړ او بنيا ئي ذکر کړ چې دا لام لپاره د غائې شي.

سوال: تاخو وويل چې «الرّحمن الرّحيم» دواړه اسمونه دي حالانکه په دې کې دوه قوله دي لومړ د جمهورو په نزد خو دا دواړه صيغې صفت مشبه دي رحمن د فعلان او رحيم د فعيل وزن دی فايده د مبالغې ورکوي ځکه په دې صيغو کې دوام اوثبوت دی او دوام او ثبوت کې زيادت وي او بل علامه زمحشري وايي کومې صيغې چې له اصل نه عدول هغه د خپل اصل په مقابل کې بليغه وي دا دواړه صيغې هم له «رحم» څخه معدولې شوي.

دويم قول د امام سيبويه دی د ده په نزد الرّحمن صيغه دصفت مشبه ده او الرّحيم صيغه داسم فاعل ده لپاره دمبالغې بهرحال په دواړه قولونو دا صيغې دصفت دي اسماء نه دي ؟

جواب: دلته د اسم نه مقابل د فعل او دحرف مراد دی مقابل د مشتق نه دی مراد مطلب دا چې فعل او حرف نه دي اخوا ته که بيا صيغې د صفت مشبه وي او که د فاعل وي.

د «من الرّحيم» لاندې ناکت ليکلي «بکسرالعين» دې سره دفع د سوال کوي هغه دا چې.

سوال: رَحِمَ خو متعدي دی او دجمهورو په نزد دا دواړه صيغې د صفت مشبه دي او صفت مشبه خو له باب لازمي څخه دي د متعدي نه خو لازمي نه جوړيږي [1] ؟

جواب: بعد ما نقله الى رَحُمَ يعنې د رحِم بکسرالعين نه به ئی نقل کړی رَحُم (باب کرم) ته او له رَحُم نه به صيغې دصفت مشبه جوړي کړي.

والرّحمة فى اللّغة: دې سره هم دفع دسوال دی هغه دا چې.

---

(۱):- فعل په دوه قسمه لازمي اومتعدي لازمي هغه فعل دی چې مفعول ته محتاج نه وي يوازې په فاعل بسنه کوي لکه خرج زيد وذهب خالد او داسې نور او فعل متعدي هغه فعل دی چې مفعول هم غواړي او ورته محتاج وي لکه اخرج الاستاذ خالد وفهّم الاستاذ الطالب: بيا له فعل لازمي نه فعل متعدي هم جوړولی شي په دوه طريقو سره (۱) دفعل متعدي په اول کې همزه زياته کړه لکه ذهب نه اذهب (۲) دفعل لازمي دوهم حرف تضعيف (مکرر) کړه لکه فهم نه فهّم بيا د افعل متعدي کله يومفعول غواړي کله دوه اوکله دري.

سوال: تا وويل چې دا دواړه د رحِمَ نه مأخوذ دي او د رحِم مصدر رحمة راځي او رحمة رقّة القلب غواړي او رقة القلب قلب غواړي او د الله جلّ جلاله په جانب کې رقة القلب او قلب معناګانې دواړه محال دي نو د الله جلّ جلاله په جانب کې دا د رحمن او رحيم صيغې څنګه استعمال لوې؟

جواب: (وَأسماءُالله تَعالى اسمًا تُؤخذُ بِاعتبارِ الغَاياتِ) يو مبدأ د اسمونو دی او بله يې منتهاء دی رقة القلب دا مبدأ د رحمة دی او انتهاء ئې انعطاف (انعام- افضال) دی

نو دلته رحمة په اعتبار د انتهاء سره د الله جلّ جلاله صفت دی چې انعام او افضال دی.

خلاصه دا چې او الله جلّ جلاله لره مقوله د فعل حاصله ده د الله جلّ جلاله صفتونه په اعتبار د مصادرو سره نه دي بلکه په اعتبار د غاياتو سره دي يعنې کوم الفاظ چې له قبيلې د انفعال څخه وي (صفات د مخلوق وي) د هغې اطلاق په باري تعالی په معنا حقيقي سره نه وي بلکې په اعتبار د غاياتو سره وي لکه د رحمة حقيقي معنا رقة القلب دی دا معنا په جانب د باري تعالی کې محال دی او غايه يې انعام دی نو رحمان دلته په جانب د باري تعالی کې په معنا د منعم سره دی مجازاً يا په طريقه د استعارې تمثيلې د څکه الله جلّ جلاله لره تأثير ثابت دی او تأثر ورلره نشته دغه رنګ قهر او غضب هم د مقولې.

(ومنه الرحِم)او له دې څخه رحِم هم اخستل شوی چې معنا يې ده بچه داني او دې ته هم څکه رحِم وايي چې دا هم مهربانه وي په هغه څه چې په دېکې پراته وي.

حلّ اللّغات

شمېره	لغات	معنی	شمېره	لغات	معنی
۱	شعار	علامه، نښانه	۴	اوائل	جمع د اول ده
۲	غضبان	غوسه	۵	رقّة	نرمي
۳	انعطاف	ميلان	۶	غايات	نتيجې

تفسير بيضاوي:(والرّحمن أبلغُ منَ الرَّحِيم) لانَّ زِيادةَ البِناءِ تَدُلُّ على زِيَادةِ المَعْنى كمَا فى قَطَع وقَطّع وكبَار وكِبّار).

ترجمه: الرّحمن د الرّحيم نه په مبالغه کې زيات دی ځکه زيادت دالفاظو په زيادت د معنی دلالت کوي لکه په قطّع(مشدد) کې له قَطع(غير مشدد) نه او په کبّار(مشدد) کې له کِبار نه مبالغه زياته دي.

تشريح: له دې ځای څخه دا خبره بيانوي چې رحمن او رحيم په نفس مبالغه کې سره شريک دي او خو په رحمن کې مبالغه له رحيم څخه زياته دی ځکه قاعده دی چې زيادت د مباني په زيادت د معانيو دلالت کوي نو په رحمن کې مباني زيات چې پنځه حروف دي له رحيم څخه چې څلور حروف دي نو معنا به يې زياته وي له رحيم څخه لکه قطّع مشدّد کې حروف زيات دي له قطع غير مشدد څخه نو معنی کې ئي هم زياتوالی دی سخت پرې کولو ته وائي او کبّار مشدد کې هم حروف زيات دي له کبار غير مشدد څخه نو معنی کې ئي هم زيادت دي چې ډير لوی ته وائي.

تفسير بيضاوي: (و ذَالک انّمَا يُؤخذُ تارةً باعتبارِ الکمِيَّة وأُخرى باعتبارِ الکيْفِيَّةِ فَعلى الأَول قيل يَارحمَنَ الدُّنيا انّه يَعُم المؤمنَ و الکافِرَ و رَحيمَ الآخرةِ لأنّه يخْتَصُ المؤمنَ)

ترجمه: او دا صفتونه د رحمن او رحيم کله په اعتبار د کميت (شمار) سره مراد وي او کله په اعتبار د کيفيت (مقدار) سره مراد وي بنا په اول معنی سره ويلی شي يارحمن الدّنيا ځکه چې د دنيا نعمتونه کافر او مؤمن دواړو ته عام دي او يارحيم الآخرة ځکه چې د آخرت نعمتونه د مؤمن پورې خاص دي.

د مبالغې اقسام

تشريح: مورِ مخکې وويل زيات دبناء دلالت کوي په زيادت دمعنی باندې بيا ئې وويل الرّحمن کې زياته مبالغه ده له الرّحيم نه نو دا زيادت به ياپه اعتبار کم(شمار) سره وي ياپه اعتبارد کيفيت سره وي که مبالغه په اعتبار کم سره وي او د کميت لحاظ وکړی شي نو بيا به ويلی شي (يارحمن الدّنيا ورحيم الآخرة) نومعنی به ئی داوي چې الله منعم دنِعمو کثيروو دی او کثرت د نعمو په اعتبار د کثرت و منعم عليهم سره دی اومنعم عليهم په دنياکې زيات دي ځکه ټول کائنات دی نو دا دنيا نعمتونه ټول په الرّحمن کې راغله، او په رحيم کې نعم قليله دي (الرّحيم) نومعنی به دا شي الرّحيم- الله منعم دنعمو قليله وو دی او قلت دنعمو په اعتبار د قلت د منعم

علیهم سره دی او منعم علیهم په آخرت کې لږ دي ځکه یو اځي مؤمنان دي نو د رحیم تعلق له آخرت سره شو ځکه وویلی شو یا رحیم الآخرة او د رحمن تعلق له دنیا سره شو نو له دې وجهې نه ئې رحمن مقدم کړ په رحیم باندې.

تفسیر بیضاوي: (وعَلَی الثَّانِي قیل یارحمَنَ الدّنیا والآخرة و رحِیمَ الدّنیا لأنَّ النِّعَم الأُخروِیَّة کلّهَا جسام و امّا نِعم الدّنیویَّة فجلِیلةٌ و حقِیرةٌ)

ترجمه: او په اعتبار د دویمې معنی (کیفیت) سره ویلی شي یا رحمن الدّنیا والآخرة اورحیم الدّنیا ځکه چې اخروي نعمتونه ټول لوئ لوئ دي او هرچې د نیوي دی نو څه نعمتونه لوی دي اوڅه واړه دي.

تشریح: دا دویم قسم دی د مبالغه فی الکیف دی نو که د کیفیت لحاظ وشي نو د رحمن اضافت به دنیا او اخرت دواړو ته وشي او د رحیم اضافت به یوازې دنیا ته شي معنی به دا شي الرّحمن الله جلّ جلاله منعم د نعمو عظیمو دی نو دآخرت نعمتونه ټول عظیم دي هغه ټول پکې راغلي او د دنیا بعضې عظیم دي او بعض حقیر دي نو د دنیا عظیم په الرّحمن کې راغله یعنې د الرّحمن تعلق له دواړو جهانونو سره دې پاتې شوه د دنیا حقیر او واړه نعمتونه هغه په الرّحیم کې راغله معنا دا چې الرحیم الله د وړو وړو نعمتونو منعم دی نو الرّحیم تتمه د الرّحمن شوه او تتمه د شي مؤخروي د شي نه.

تفسیر بیضاوي: (و انّمَا قدَّم والقِیاسُ یقْتضِی التَّرقِّی مِنَ (الاذْنی الی الاعلی) لِتَقدُّم رحمةالدّنیا)

ترجمه: او مقدم ئې که رحمن په رحیم باندې او حال دا چې قیاس تقاضا کوې د ترقی د ادنی نه اعلی ته دا له وجهې د تقدم د رحمت د دنیا په آخرت باندې.

تقديم د رحمن په رحيم

تشريح: كه زيادت په اعتبار د كم سره وي او كه په اعتبار د كيف سره وي نو په رحمن كې زيادت راغى په رحيم باندې خو قانون دا دى چې په كلام كې ترقي د ادنى نه اعلى ته كيږي او دلته خلاف قانون دى هغه دا چې اعلى په ادنى مقدم دى پكار دا و چې اول رحيم ذكر شوى واى ځكه دا ادنى دى نو په دې عبارت سره دفع همدې اشكال دى.

سوال: رحمن ئې ولې په رحيم باندې مقدم كړ؟

جواب: د دې اعتراض څلور جوابونه مصنّف كړي اول جواب دادى.

تشريح لومړى جواب: (لِتَقدُّم رحمةِالدّنيا) دا لومړى جواب دى : رحمن په رحيم ځكه مقدم كړى شو علامه زمخشري ويلى دي چې رحمن زائد دى په اعتبار د كميت سره په رحيم باندې نو د رحمن مصداق د نيا دى او رحيم مصداق آخرت دى اسلوب عربيت په اعتبار د مصداق سره خلاف شوى دى نو په لفظ كې هم خلاف شو، رعايت دمصداق هم يو باعث دى او دا رأيه دقاضي بيضاوي رحمه الله هم دئ.

يعنې دنيا مقدمه وه په وجود كې په اخرت نو ځكه مو هغه لفظ هم مخكې كړ چې دلالت كوي په رحمت د دنيا په هغه چې دلالت كوي په رحمت د اخرت .

تفسيربيضاوي: (ولانّه صَار كالعَلم مِن حيثُ انّه لايُوصفُ به غيرهُ لِأَنَّ معناهُ المنعِم الحقِيقِي البَالِغ فى الرّحمة غايتِها و ذالک لايصدَّق على غيره).

ترجمه: او بل د دې وجهې نه چې دا د الله جلّ جلاله لپاره پشان دعلم گرځيدلى په دې حيثيت سره چې په الرّحمن باندې بغير د الله جلّ جلاله نه بل څوک نه موصوف كيږي ځكه چې د دې معنى ده حقيقي نعمتونه وركونكى چې د رحمت انتهاء ته رسيدلى وي او دا صفت بغير د الله جلّ جلاله بل هيچاله نشته.

د رحمن اطلاق په غیر الله کېدلی شي؟

تشریح دویم جواب: دا جواب امام رازي رحمه الله کړیدی او هغه دا چې صحیح دی اسلوب دعربیت نه خلاف شوی دی خو دا دیوې اهمي فائدې لپاره او هغه دا چې درحمن اطلاق په بل چا کیدلی نشي ځکه چې دا مفردًا مختص له ذات باري تعالی پورې دی لکه څنګه چې د چا نوم مفردًا او مضافا الله کیدی نشي لکه الله ئي نوم وي یا اِله الحق ئي نوم وي نو دغه شان رحمن هم مفردًا الله جلّ جلاله پورې خاص دی به بل چا یې اطلاق نشي کیدلی خو مضافًا ئي بل چا هم اطلاق کیدی شي[1] نو من وجه ئې مناسب له لفظ دالله سره راغلو او من وجه ئی له مابعد سره چې رحیم دی مناسبت راغلو نو دا مناسبت تقاضا د مینځ کوي چې رحمن الحق جائز نه دی نو عبد الرّحمن جائز دی.

علامه ابن عابدین الشامي رحمه الله وائي: چې الرّحمن معرفه په الف لام سره مختص دی له الله جلّ جلاله پورې اوغیر معرفه خاص نه دی تر الله پورې[2] او رحیم نه مفردًا خاص دی اونه مضافا خاص دی ځکه په قرآن کې رحیم صفت د محمّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) لپاره واقع شوی دی لکه الله تعالی فرمایي (حریصٌ عَلَیکم بالمُؤمِنِین رَؤُفٌ الرّحیم)[3] نو که لفظ د رحیم روسته د لفظ د جلال نه راشي نو بیا مناسبت نشته ځکه رحیم وصف دی او لفظ د جلال علم دی او هرچې لفظ رحمن دی دا مناسبت دی ځکه من وجه علم (مفرداً) او من وجه وصف دی (مضافاً) او علم مقدم وي په وصف نو ځکه دا اسلوب عربیت نه خلاف شوی.

---

(۱):- تفسیر کبیر لامام فخرالدّین الرازي الهروي.

(۲)وَذَهَبَ الْأَعْلَمُ إِلَى أَنَّهُ عَلَمٌ كَالْجَلَالَةِ لِاخْتِصَاصِهِ بِهِ تَعَالَى وَعَدَمِ إِطْلَاقِهِ عَلَى غَيْرِهِ تَعَالَى مُعَرَّفًا وَمُنَكَّرًا، وَأَمَّا قَوْلُهُ: فِي مُسَيْلِمَةَ
وَأَنْتَ غَيْثُ الْوَرَى لَا زِلْتَ رَحْمَانَا ۔ فَمِنْ تَعَنُّتِهِ وَغُلُوِّهِ فِي الْكُفْرِ
وَاخْتَارَهُ فِي الْمُغْنِي. قَالَ السُّبْكِيُّ: وَالْحَقُّ أَنَّ الْمَنْعَ شَرْعِيٌّ لَا لُغَوِيٌّ، وَأَنَّ الْمَخْصُوصَ بِهِ تَعَالَى الْمُعَرَّفُ(الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (۱/ ۷)

(۳):- سورة التوبة: آیة ۱۲۸.

تفسيربيضاوي: (لأنّ ماعدَاهُ فهو مُستَعِيضٌ بلطْفِه وانْعامِه ويُرد بِهِ جزِيلَ ثوابِ او جميلَ ثناءِ او مَزيح رقَّة الجِنسيَّة اوحُب المالِ عن القَلبثمّ انّه كَالواسِطةِ فى ذالک لانّ ذَات النّعِمِ و وجُودها و القُدرَة على ايصَالها والدَّاعيَة البَاعِثة عليهِ والتَمَكُن من الانْتفَاع بهَا والقوىّ الّتِى بها يحصل الانتفَاع الى غَير ذالک منْ خلْقهِ لايقْدرُ عليها أحدٌ غيرَه)

ترجمه: ځکه چې الله جلّ جلاله نه سوا نور ټول خلک د مهربانۍ او انعام کولو عوض کې په آخرت کې ډير ثواب او يا په دنياکې دخپل ځان ډير ښه تعريف کول غواړي او ياد خپل زړه هغه نرمي ختمول غواړي چې کومه د هم جنس کيدو په وجه وي او محبت د مال د خپل زړه نه ختمول غواړي بيا دابنده په حصول دلطف کې د واسطې په شان دی ځکه چې د نعمتو موجودګي او د دې بل چالره ورکولو طاقت او د دې ورکولو جذبه باندې راپورته کونکی او په دې باندې د نفعې ورکولو قدرت او په هغې مهربانۍ سره نفع حاصلونکي قوتونه او له دې علاوه نور ډير شيان دا ټول دالله جلّ جلاله په پيدا کولو سره وي او دالله جلّ جلاله نه سوا بل هيڅوک خپله د دغه شيانو قدرت او وس نلري.

تشريح: موږ وويل چې د رحمن اطلاق په غير الله باندې ځکه نه کيږي چې د رحمن معنا ده هغه منعم حقيقي چې د انعام انتها ته رسيدلی وي او دا معنا په غير کې محال دی ځکه منعم حقيقي په انعام کولو سره له چا نه بدله نه غواړي او بندګان چې انعام وکړي هغوي يې د بدل غوښتنه کوي دغه بدل په دوه قسمه دی (۱) جلب منفعت (۲) دفع مضرت بيا د جلب منفعت دوه صورتونه دي بيا دنيا پورې متعلق وي يا تر اخرت پورې نو بنده چې کله هم انعام وکړي د دې څلور واړو بدلو غوښتنه کوي که جلب منفعت تر اخرت پورې متعلق وي نو اخرت کې له الله تعالی نه اجر غواړي او که دنيا پورې تړلی وي نو په دنيا کې خپل تعريف او شهرت غواړي او که بدل دفع د مضرت وي هغه په دې طريقې سره چې د انعام کولو سره رقت جنسيت زايله کوي معنا دا چې د هم جنس پريشان کيدو په وجه چې انسان ته اضطراب عارض کيږي دغه اضطراب په انعام سره لرې کوی غواړي او يا د زړه نه د مال د محبت ختمولو په خاطر انعام کوي.

د منعم حقيقي صفت د غير الله نه ځکه منتفي دی چې بنده په انعام کولو کې صرف واسطه دی ځکه د نعمتونو پیدا کول، مستحق ته رسول، هغه جزبه او شوق چې بنده د نعمت په قربانئ تیاروي او له نعمتونو څخه د فایدې اخستلو قدرت پیدا کول او له دې پرته چې څومره لوازم د نعمتونو دي ټول الله تعالی په قدرت کامله کې دي.

تفسير بيضاوي: (اولأنّ الرّحمٰنَ لمَّا دلَّ على جلَائِل النّعِمِ و أموالِها ذكرَ الرّحِيم ليَتَناولَ مَاخرجَ منْها فيكُونُ كالتَّتمَّة والرّدِيف لَه)

ترجمه: او یا رحمن ځکه مقدم کړی شو چې رحمن په ډیرو او لویو نعمتونو دلالت کولو، نو روسته ئې ترینه رحیم ذکر کړی دی د دې لپاره چې رحیم هغو نعمتونو ته شامل شي چې له لویو نعمتونو نه خارج وي نو رحیم د رحمن لپاره په منزله د تتمې او ردیف شو.

تشريح دريم جواب : دا که زیادت په لفظ د رحمن کې په اعتبار د کیف سره اخلې نو بیا د رحمن مصداق ټول نعمتونه د دنیا او آخرت دي او د رحیم مصداق ټول واړه دنیوي نعمتونه دی.

نو نعمتونه له سورلۍ (مرکب) سره مشابه شو او معنی د رحمانیت په منزله د یو مَرکب اوسورلۍ شوه او رحمن په منزله د یو راکب دی او معنی د رحیم په منزله د ردیف دی ځکه چې پاتې شوو نعمتونو او معنی دلالت کوي او ردیف له راکب نه روسته وي نو رحیم په رکوب على المعنى کې مؤخر وو نو په لفظ کې هم مؤخر او روسته شو.

تفسيربيضاوي: (او لِلمُحافِظةِ عَلى رؤسِ الآی)

ترجمه: اویا رحمن مقدم کړی شو لپاره د محافظت د آخرني سرونو د آیتونو.

تشريح څلورم جواب: دا چې د اسلوب عربیت نه ئې ځکه خلاف له وجهې دیوې نکتې وکړو هغه دا چې د سورت فاتحې د هر آیت ماقبل آخر حرف علت «یاء» ساکنه ده لکه العلمین الرّحیم الدّین الخ وغیره نو ځکه ئې الرّحمن مقدم کړ چې سجع د سورت سره برابره شي او سجع په کلام کې معتبره وي دا جواب په نزد امام شافعي رحمه الله صحیح کیږي چې هغه تسمیّة د سورت فاتحې یو آیت گڼي.

سوال: ته وائې چې رحمن ځکه مقدم کړی شو چې سجعه برابره شي سجعه خو برابره نه شوه ځکه د الرّحیم په آخر کې خو میم دی او د نورو ایاتونو په آخر کې نونونه دي.

جواب: ناکت داسې جواب کړی دی دې لپاره چې فواصلو کې ئې تقارب راشي (لیکون فواصلها متقارب) میم او نون کې تقارب دی.

تفسیر بیضاوي: (و الاَظْهرُ انّهُ غیرُ منصرِفٍ و انْ حَظر اختِصَاصهُ باللّٰهِ تعالی أن یَّکونَ له مُؤَنَّث علی فُعلی او فُعلانَةَ الحاقًا لهُ بِما هوَ الغَالِب فی بَابِهِ)

ترجمه: او دا زیاته ظاهره خبره ده چې رحمن غیر منصرف دی اګرکه اختصاص د رحمن د الله جلّ جلاله منع کوي چې مؤنث د دې رحمن په وزن د فعلی یا فعلانة سره راشي سره له دې هر څه رحمن غیرمنصرف دی په هغه اوزانو د قیاس کولو له وجهې ګوم چې په باب د فعلی کې غالب وي (چې عدم انصراف دی).

تشریح: له دې ځای څخه په لفظ د رحمن کې نحوي بحث کوي په رحمن کې قاعده نحویه داده چې دا الف او نون زائدتان کله په اسم کې وي کله په صفت کې وي که اسم کې وي نو شرط د تأثیر پکې علمیت دی یَعنې الف ونون زائدتان هلته غیر منصرف وي چې دا اسم علم وي لکه عمران او عثمان او که الف ونون زائدتان په صفت کې وي بیا په دې کې دنحاتو اختلاف دی بعض وائي چې شرط د تأثیرکولو ئې دا دی چې مؤنث به ئې په وزن د فعلی راځي لکه سکران غیرمنصرف دی ځکه چې مؤنث سکری دی او بعض نحات وائي چې شرط ورته دادی چې مؤنث به ئې په وزن د فعلانة نه راځي نو سکران د دواړو مذاهبو په اتفاق غیرمنصرف دی ځکه وجود فعلی هم شته او سکرانة مؤنث ئې هم نه راځي او ندمان په اتفاق منصرف دی ځکه مؤنث ئې ندمی نه راځي او ندمانة راځي او س رحمن غیرمنصرف دی که اول مذهب ته ګورو چې په وصف کې الف نون زائدتان راشي نو شرط ورته انتفاء

د فعلانة دى نو په رحمن كښې خو وزن فعلانة نشته پكار دى چې غير منصرف شي او دوهم مذهب وائي چې شرط ورته وجود فعلى دى نو دلته خو فعلى مؤنث نشته پكار دى چې منصرف شي[1]

قاضي بيضاوي (رَحِمَهُ اَللَّهُ) وائي چې په دواړه مذهبونو دا غيرمنصرف دى په اول مذهب خو انتفاء د فعلانة په وجه او په دوهم مذهب اګر که وجو فعلى نشته حملًا على نظائره دى غير منصرف شي.

تفسير بيضاوي: (وإنّما خصّ التَّسمِيةَ بهذِهِ الاَسْمَاء لِيعْلَمَ العَارِفُ اَنّ المُستحق لانّ يَستَعانَ به فى مجامِعِ الامُور هو المَعْبود الحقِيْقِي الّذى هُو مَولى النّعم كلّها عاجِلها وآجِلّها جَلِيلهَا وحَقيرِهَا فَيتوَّجهُ بشرا شَره الى جَناب القُدسِ ويتمسّك بِحَبْلِ التَوفِيقِ وَيشغِل سرَّهُ بِذِكرِهِ والاستِمْدادِ به عن غَيْرِهِ).

ترجمه: او په دې درې اسماء و سره تسمية خاص كړى شوى ده د دې لپاره چې عارف بالله په دې پوهه شي چې په ټولو امورو كښې د امداد طلب كولو لپاره حقدار ذات هغه دى چې معبود حقيقي وي هغه معبود حقيقي چې د خپلو ټولو نعمتونو وركونكى دى دنقد او دنيتې والا دلويو او وړو نعمتونو او مكمل متوجه شي پاكي درګاه ته او په امر درّبّ منګلى ټينګې كړي خپل راز دزړه دالله جلّ جلاله په ذكرسره او دالله جلّ جلاله نه په مدد غوښتلو سره مشغول كړئ له غيرنه.

تشريح: دلته دا خبره بيانوي چې په بسم الله كښې ولې دا درې اسمونه خاص كړل په ذكر سره

سوال: (په بسم الله كښې ولې دا درې اسماء د الله جلّ جلاله خاص كړى شو ؟

جواب: ځكه چې الله ويل كيږي (لذات الواجب الوجود المستجمع بجميع محامد) ته او په دې لفظ دالله دال دى چې معبود حقيقي دى او په ټول عالم د نيا باندې صدق د لفظ د رحمن دى او په ټول عالم آخرت باندې صدق د لفظ درحيم دى نو بل عالم نشته چې د هغه لپاره يې بل اسم روړى وای نو دا درې اسماء كافي شوه او هر عالم برزخ دى هغه خو پټ امر دى .

---

(١) الكافية لابن الحاجب صـ ٢٢،٢٣ مكتبة البشرى ما فيه ألف ونون، ان كان اسما فشرطه العلمية. كعمران "أوصفة فانتفاء فعلانة وقيل وجود فعلي، ومن ثم" اختلف في رحمن، دون سكران وندمان".

مصداق د عاجل نعمتونه د دنیادي دې ته په لفظ درحمن کې اشاره دی مصداق د اجل نعمتونه د آخرت دي او دیته په لفظ د رحیم کې اشاره دی او په اجلها کې زیادت دی په رحیم باندې او دا زیادت په اعتبار د کم سره مرادی او په جلیلها کې نعمتونو د آخرت ته په لفظ درحمن کې اشاره ده او په حقیرها کې نعمتونه د دنیا ته په لفظ د رحیم کې اشاره ده او په جلیلها کې زیادت دی په رحیم باندې او دا زیادت په اعتبار کیفیت سره مراد دی.

او بل اشره دی دې خبرې ته چې مستحق د اعانت هم هغه ذات دی کوم چې معبود حقیقي وي او ټول هغه نعمتونه چې عاجل دي او که اجل لوی دي که واړه چې عارف دا خبره وپیژني او په پوره طریقې سره د الله تعالی په طرف متوجه شي او د هغه د توفیق رسۍ مضبوطه ونیسي او باطن د الله تعالی په ذکر سره مشغول شي او یوازې له الله تعالی نه مرسته غوښتونکی وي.

تفسیربیضاوي: (اَلْحَمْدُلِلّٰهِ)

ترجمه: ټول ثناء او صفت خاص الله جلّ جلاله لره دي.

سورت فاتحه شروع شو:

د الحمد بحث

تفسير بيضاوي: (الحمد: هُو الثَّناءُ على الجَمِيل الاخْتِيَارِي مِنْ نَعمَةٍ او غَيرِهَا)

ترجمه: حمد: ستاينه ده په ښه صفت چې دا صفت اختياري وي كه دا جميل اختياري په مقابل د نعمت كې وي او كه نه وي.

تشريح: قاضي بيضاوي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) دلته درې بحثونه ذكر كوي (۱) د حمد تعريف او د حمد، شكر او مدح تر مينځ فرق (۲) د الحمد متعلق نحوي بحث (۳) د الحمد په الف لام كې بحث.

لومړی بحث: حمد په لغت كې ثناء ته وائی او په اصطلاح كې (هُو الثَّناءُ على الجَمِيل الاختِيَارِي) په تعريف د حمد كې درې كلمې مهمې دي (۱) ثناء (۲) جميل اختياري (۳) نعمت.

(۱) ثناء په دې معناګانو سره دی

لومړی معنا: جمهورو علماء وايي وائي ثناء الذكر بالخير ته وائي.

دويم معنا: د عز ابن عبد السلام رحمه الله دي[1] دا وائي

چې ثناء عام ده الذكر بالخير او شر دواړو ته وائي. او دده لپاره دليل دا حديث دی چې ده يو كس جنازه تيريد له. . . فأثنو عليه شر صحابه وو پرې د شر ثناء ويلې له دينه معلوميږي چې ثناء په خير او شر دواړو كې مستعمليږي[2] لكن علماء د ده له دليل ځخه جواب كوي چې په دې حديث كې (فأثنوا عليه) كې ذكر د ثناء مشاكلتًا دی

دريمه معنا: ثناء ذكر باللسان ته وايي په دې معنا اعتراض وارديږي.

---

(۱)عز الدين بن عبد السلام (۵۷۷ - ٦٦٠ هـ)

هو عبد العزيز بن عبد السلام أبي القاسم بن الحسن السُّلَمي، يلقب بسلطان العلماء. فقيه شافعي مجتهد. ولد بدمشق وتولى التدريس والخطابة بالجامع الأموي. انتقل إلى مصر فولي القضاء والخطابة. من تصانيفه: " قواعد الأحكام في مصالح الأنام ". و " الفتاوى "، و " التفسير الكبير ". [الأعلام للزركلي ٤ / ١٤٥. وطبقات السبكي ٥ / ٨٠].

(۲):- عن انس رضى الله عنه قال مروا بجنازة فأثنوا عليها خيرًا فقال النّبي صلّ الله عليه وسلّم وجبت ثمّ مروا بأخرى فأثنوا عليها فقال النّبي صلّ الله عليه وسلّم وجبت فقال عمربن الخطاب رضى الله عنه ماوجبت قال هذا اثنيتم عليه خيرًا فوجبت له الجنة وهذا اثنيتم عليه شرّا فوجبت له النّار انتم شهدآء الله فى الارض (متفق عليه)

سوال: تا وویل چې ثناء الذکر بالخیر ته وائي او ذکر بالخیر په ژبه وي یعنې ثنا او لسان سره لازم او ملزوم دي نو له دینه خو هغه ثنا خارجه شوه کومه چې الله جلّ جلاله په خپله په ځان ویلې ده ځکه چې ثناء د الله جلّ جلاله خو په لسان سره نه دی ؟

جواب: په جانب د الله جلّ جلاله کې له ثناء نه کلام مراد دی دلته مجاز کوو یعنې دلته ذکربالخیر نه باللسان نه دی مراد بلکه له ذکر بالخیر نه ذکربالکلام مراد دی که بیا لسان نشته کلام خو شته.

(۲) جمیل الاختیاري:

جمیل الاختیاري : ویل کیږي (وصف حسن منسوبة الی المحمود) دا یو وصف حسن دی چې محمود ته منسوب دی لکه دا سړی ډیر لوئ عالم دی یاسخي دی او قید د اختیاري ئې ورسره ولګولو چې تاسو په میرزاهد کې وایئ (الجمیل صفت الفعل) دا صغری (والفعل لایکون الاختیاریا) داکبری (فالجمیل صفت الاختیاری) دا نتیجه دغه نتیجه بیا صغری کړه (فالجمیل صفت الاختیاري) داصغری (وصفت الاختیار لایکون الاختیاري) داکبری (فالجمیل لایکون الاختیاري) دا نتیجه نو ځکه ئې قید داختیاري ورسره ولګولو نو په غیر اختیاري کې چې کومه ثناء وشي هغه به حمد نه وي لکه ستا ښایسته ځواني ده دا ستا په اختیارکې نه ده ځکه ستا اختیار لره پکې دخله نشته نه کسبًا او نه خلقًا نو که په اعتبار د ځوانی سره زه ستا ثناء کومه دا حمد نشو.

(۳) نعمت

نعمت په کسرې د نون سره انعام ته وایي او په فتحې د نون سره تنعیم ته وایي او په ضمې د نون سره سرور او خوشالي ته وایي دلته په کسرې د نون سره دی مراد ترینه انعام دی.

سوال ته وائې حمد عام دی په مقابل د نعمت کې وي که په مقابل د غیرنعمت کې وي او حال دا دی چې په حمد کې پنځه شیان پکار وي: (۱) حمد (۲)حامد (۳) محمود (۴) محمودبه (۵) محمودعلیه او دا نعمت محمود علیه دی دا پنځه ارکان د حمد دي او ته وائي چې که نعمت وي او که غیرنعمت وي نو که غیرنعمت شي بیا خو ارکان د حمد نه پوره کیږي ځکه محمود علیه به پکې نه وي نو بیا خو حمد حمد پاتې نشو ؟

جواب: د «غیرها» مطلب دا نه دی چې دا نعمت (محمود علیه) به بلکل نه وي بلکه دغیرها
1 مطلب دا دی چې دا محمود علیه په دوه قسمه دی یو نعمت او بل غیر النّعمة که محمود علیه پکې نعمت وو دا حمد مقید. او که محمود علیه پکې غیر النعمة وو دا حمد مطلق.

تفسیربیضاوي: (وَالمدْحُ هُوَ الثَّنَاءُ عَلَى جَمِيل مُطْلقًا تَقُولُ حِمِدتُ زيدًا على عِلْمِهِ وَكَرَمِه ولا تَقولُ حِمِدتّه عَلَى حُسْنِه بَل مَدحتُه وقِيلَ هُما اخوانِ)

ترجمه: او مدحه ستاینه (ثناء) د صفت جمیله دی مطلقا ځکه ته وائې چې ما دزید صفت اوکړ په علم او عزت د هغه سره او دا نه وائې چې په د زید صفت مې وکړو په حسن د هغه سره او چا ویلي چې حمد او مدح یو شان دي.

تشریح: دلته د حمد مدح او شکر ترمینځ فرق بیانوي فرمایي مدح ثناء مطلقې ته وایي مقلقاً معنی دا چې دا وصف حسن پکې اختیاري وی او که غیر اختیاوي وي.

حمدتّ زیدًا علی علمه وکرمه جمیل اختیاري دي ځکه که په علم کې د ده دخلق لپاره دخل نشته دکسب لپاره خو شته کنه، دغه شان کرم هم دی او «حمد ته علی حسنه» نشې ویلی ځکه حسن کې د ده کسب او خلق لره دخل نشته یعنې غیر اختیاري دی بلکه دا مدح ده او چا ویلي چې دا دواړه اخوان دي یعنې متلازمان دي یعنې په اشتقاق کبیر کې سره یو دي.

تفسیر بیضاوي: (وَالشّكرُ فِي مُقابِلةِ النِعمةِ قولًا وعملًا واعتقادًا قال:

افادتكم النعماء منّي ثلاثه ... يدى وَلِسانى والضِميرُ المُحَجبَا

فهُو اَعمٌّ منْهمَا مِن وَجه واَخصّ من آخرَ).

ترجمه: او شکر په مقابله د نعمت کې وي برابره خبره ده که په قول سره وي او که په عمل سره وي او یا په زړه سره وي..

ترجمة شعر: ستاسو نعمتونو زما له طرفه د درې شیانو افاده وکړه زما ژبه زما لاس او زما پټ زړه یعنې ستا د احسان په وجه چې په ما دې کړی زما دغه شیان ستا شول، نو حمد او شکر نه من وجه عام او من وجه خاص دی.

په حمد او شکر کې نسبت

تشریح: شکر په لغت کې (فعل ینبئ عن تعظیم المنعم) هغه فعل ته شکر وايي چې د منعم د تعظیم خبر ورکوي او په اصطلاحي شکر ویلی شي (صرف جمیع ما انعم الله علی عبده الی ما خلق لاجله) د الله جل جلاله تمام نعمتونه چې په بنده یې کړې په هغه ځه کې خرچ کول د څه لپاره چې پیدا شوی.

قاضي صیب فرمايي شکر دحمد مقابل دی او «تعریف الاشیاء بازدادها» نو د زیات وضاحت له وجهې د شکر بیان نه کوي نو فرمائي چې حمد په اعتبار د مورد خاص دی چې په لسان سره ادا کیږي او شکر عام دی که په لاس وي که په خوله وي او که په زړه سره وي او په اعتبار د متعلق سره حمد عام دی که په مقابل د نعمت کې وي او که نه وي او شکر خاص دی چې یوازې په مقابل د نعمت کې وي نو په مابین د حمد او شکر کې نسبت د عموم خصوص من وجه دی درې مادې غواړي یوه ماده اجتماعي دوه مادې افتراقي ،ماده اجتماعي مثال لکه ثناء په مقابل د نعمت کې دا هم شکر دی هم حمد دی . ماده افتراقي له جانبه د حمد چې ثناء په مقابل د غیر نعمت کې وکړي . او ماده افتراقي له جانبه د شکر چې ثناء (خدمت) بالا ارکان په مقابله د نعمت کې وکړي او د حمد او مدح په مابین کې هم نسبت د عموم خصوص من وجه ده.

او علامه زمحشري (رَحِمَهُ اللَّهُ) فرمايي چې د حمد او مدح ترمینځ ترادف دی مصنف (انهما اخوان) سره دده قول ته اشاره وکړه.

سوال: دلته د جمیل نه مراد صفات دالله جلّ جلاله دي او صفات دالله جلّ جلاله خو نه په اختیار د الله جلّ جلاله کې دي او نه په اختیار د مخلوق دي نو دا تعریف څنګه کوي چې علی جمیل الاختیاري؟

جواب: چا دا جواب کړی چې هو الثناء باللسان علی جمیل فاعل المختار او فاعل مختار الله جلّ جلاله دی او یا جواب دادی چې د افعال اختیاره و معنا دانه دی چې بالاختیار حاصله وي بلکې معنا یې دادی چې افعال اختیاره بالقوة وي او صفات باري تعالی بالقوة اختیاریة دي.

سوال: دا تعريف دحمد چې هو الثناء باللسان الخ ثناء د الله جلّ جلاله ته شامل نشو كومه چې الله جلّ جلاله په خپل ځان ويلي او رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ترې عاجزي ښودلې لكه فرمايي: (لااحصى ثناء عليک كما اثنيت على نفسک[١]) ځكه دا ثناء باللسان نه دى ؟

جواب: مراد لسان څخه اله مظهره د ثناء ده تعريف دا شو هو الثناء بالة مظهرة الخ.

تفسير بيضاوي: (وَلَمَّا كَانَ الحَمْدُ مِن شِعَب الشُّكرِ اشِيع لِلنِّعمِ و اَدلّ على مَكَانِها لِخفاء الاعتِقادِ وَما فى ادابِ الجَوَارِح مِنَ الاِحتمَال جعَل رَأس الشُّكر و العُمْدةِ فيهِ فقالَ عليه السّلام[٢]: أَلحمدُ رأسُ الشُّكر وِمَا شَكرَالله مَن لَّم يَحمَدْه والذَّم نَقيضُ الحمدِ و الكُفرُ نَقِيضُ الشُّكر).

ترجمه: او هر كله چې حمد له اقسامو د شكر څخه و او ډير شائع كوونكى و لپاره نعمتونو (دا ډير استعماليږي په نسبت سره اركان او جنان ته) او ډير دلالت ئې كولو په مكان د شكر ځكه په اعتقاد كې خفاء دى او په ادابو د جواهرو كې احتمال د رياء او صنعت دى نو په حديث كې حمد د شكر بنياد او بنه كره قسم گرځولى شوى دى رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمائي چې حمد د شكر رأس (اصل) دى او چا چې د الله جلّ جلاله حمد ونكړ نو ده د الله جلّ جلاله شكر هم ادا نكړو او دحمد نقيض او ضد ذم دى او د شكر ضد كفران (ناشكري) دى.

تشريح: عرض د قاضى بيضاوي رحمه الله په دې عبارت سره دفع د اعتراض ده.

---

(١):- حدثنا ابوبكر بن ابي شيبة حدثنا ابو إسامة حدثني عبيدالله بن عمر عن حجک . يحى بن حبان عن الاعرج عن ابي هريرة عن عائشة قالت فقدت رسول الله صلّ الله عليه وسلّم ليلة من الفراش لتمسته فوقعت يدي علي بطن قدميه وهو فى المسجد وهما منصوبتان وهو يقول : اللّهمّ اعوذ برضاک من سخطک وبمعافاتک من عقوبتک و اعوذ بک منک، لا احصى ثناء عليک كما اثنيت على نفسک (

رواه مسلم : ٢ / ٥١ رقم الحديث ٤٢٢ .

(٢):- شعب الإيمان للبيهقي - العلمية (٤/ ٩٦) رقم الحديث ٤٣٩٥

- أخبرنا أبو الحسين بن بشران أنا إسماعيل بن محمد الصفار نا أحمد بن منصور نا عبد الرزاق أنا معمر عن قتادة أن عبد الله بن عمرو قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم :

الحمد رأس الشكر ما شكر الله عبد لا يحمده وكذا في كنز العمال (٣/ ٢٥٥) رقم الحديث -٦٤١٩

سوال: خلاصه د اعتراض دا دی چې تا وویل د حمد او شکر ترمینځ نسبت د عموم خصوص من وجه دی او حال دا چې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په حدیث کې فرمائي چې حمد رأس د شکر دی او سر د ټول بدن څخه جز وي او بدن ورته کل وي ، حمد چې سر د شکر دی نو حمد جز شو او شکر ورته کل شو او جز اعم وي د کل نه[1] نو حمد اعم شو د شکر نه او کله جز نه کل سره مساوي وي نو یا حمد اعم شو یا مساوي شو نو نسبت د عموم خصوص باطل شو؟

جواب: دا دی چې په حدیث کې کوم جزئیت ثابت شوی هغه حقیقي جزئیت نه دی بلکه ادعائي دی او ادعايي دیته وائي چې اصل کې دا جز نه وي خو د څه وجهې نه اصل او جزء ګرځولی شوی وي هغه دا چې دا حمد اشیع النعم دی او ادلّ علی مکانها دی .

تفسیر بیضاوي: (وَرفَعهُ بِالِابتدَاءِ وَ خبرهُ للهِ وَ اَصْلُه النَّصْب وقد قُرِءَ بِهُ و اِنَّما عَدل عنهُ اِلى الرَّفعِ لِيدلَّ على عُمومِ الحَمدِ وَثُبَاتِهِ لهُ تجدّده و حُدوثَه وهُو مِنْ المَصادِرالَّتى تُنْتصبُ بِافعال مُضمَرةِ لاتكادُ تَسْتَعمَلُ مَعهَا)

ترجمه: رفعه د الحمد بناء بر ابتداء ده او خبر ئې لله دی اصل د الحمد نصب و «اَلحَمْدَ» په قرائت شاذه کې لوستل شوی او عدول ئې وکړ له نصب نه رفعې ته چې دلالت وکړي په عموم او دوام د حمد نه په تجدد او حدوث باندې او دا له هغه مصادرونه دی چې هغه افعالو مضمره و لره منصوب کوي او قریبه نه ده چې دې مصادرو سره هغه افعال مستعمل (ذکر) شي.

تشریح دویم بحث: له دې ځای څخه د الحمد متعلق نحوي بحث کوي نو فرمايي :

الحمد په اصل کې منصوب و یعنې په اصل کې (حمدَ الله) وییا یې ځینې نصب بنا بر مفعول به ګڼي او ځینې یې نصب بنا بر مفعول مطلق ګڼي څوک یې چې مفعول به ګڼي هغوی (نوجدُ) فعل مقدر کوي تقدیر د عبارت به داسې شي : «نوجد حمد الله» او څوک یې چې مفعول مطلق ګڼي د

---

(۱):- جز (سر) څخه اعم دی چې سر د بدن سره هم وي او بې له بدن نه هم وي او بدن بې له سره بدن نه وي بلکه له سر سره بدن وي څکه بدن وائي سر له نه تر پښو پورې ټول ته نوځکه اخص شوی (یعنې چیرته چې کل وي هلته به جز هم وي څکه کل غیره له جز نه نشي راتللی او داسې نه ده چې چیرته جز وي هلته به خامخا کل وي فتأمّل.

هغوی په نزد یې تقدیر داسې دی «نحمد الله حمدا» او مفعول مطلق راجح هم دی اوس د مفعول لپاره فعل ناصبه پکار دی چې دا مفعول مطلق له هغه څخه په طریقې د صدور یا په طریقې د وقوع راغلی او واقع شوی وي نو هغه فعل «نحمد» دی بیا دغه فعل حذف شو او مصدر چې (الحمد) په ځای یې قایم شو، دا ځکه چې د نحویانو قاعده دی : چې کله له مصدر څخه روسته فاعل یا مفعول په اضافت یا په حرف سره ذکر شي او مفعول مطلق لپاره د بیان د نوعې وي په دغه صورت کې به فعل وجوبا قیاسا حذف کولی شي نو دلته هم دغه قاعده تطبیق دی چې له الحمد مصدر څخه روسته لفظ د الله تعالی مفعول دی او سره له حرف جر ذکر دی نو دلته هم نحمد فعل وجوبا حذف شو او الحمد مصدر یې په ځای قایم شو دېته مصنف په دې عبارت کې اشاره کړې (وهُو مِنْ المَصادِرالَّتِي تُنْتصبُ).

بعض علماء بیا چې په حمد مصدر الف لام داخل کړي نو منصوب یې وایي خو مصنف وا قرءت شاذ ګرځول ځکه یې قُرِءِ په صیغې د مجهولې

سره ویلی دی اشاره ده ضعف او شذوذ د دې قول ته او اکثره علماء یې د الف لام په دخول سره له نصب نه رفعې ته نقلوي او له جملې فعلیې نه جمله اسمیه جوړوي هغه داسې چې الحمد په اصل کې حمدتُ[1] الله حمدًا یا نحمد الله حمداً و بیا فعل ناصبه حمدت حذف شو نو الله حمدًا پاتې شو بیا الف لام تعریفي وربانديې داخل شو نو اجتماع په مابین د دوه الفینو کې راغله نوتنوین حذف شو په دخول د الف لام سره الحمد شو دا جمله فعلیه ده او جمله فعلیه په تجدد او حدوث دلالت کوي نو عدول ئې وکړ رفعې ته چې بنا بر ابتداییت او «لله» یې خبر نو دا جمله اسمیه ترینه جوړه کړه چې (الله الحمد) شو بیا تقدیم او تأخیر وشو نو الحمد لله شو دا د دې لپاره چې په دوام او عموم د حمد دلالت وکړي ځکه جمله اسمیه په دوام او عموم دلالت کوي.

یا په اصل کې حمدت حمدَ الله وو نو هم دغه اعلال پکې شو.

---

(۱):- مفعول مطلق دی لپاره د فعل مقدر خو ابن حاجب وائي چې عامل ئې حذف شوی په حذف وجوبي قیاس سره او علامه رضی وائي چې عامل ئې په حذف وجوبي سماعي سره حذف شوی.

د الف لام ضابطه

تفسیر بیضاوي: (و التَّعرِيفُ فيهِ لِلجِنْس ومعْنَاهُ اَلأِشارةُ الى مَايعرِفهُ كُل احدٍ انَّ الحَمْد ما هُو و قِيل لِلإستغْراقِ اذِ الْحمدُ فِي الحقيقَةِ كُلهُ لهُ)

ترجمه: او په الحمد کې الف لام تعریفي د جنس لپاره دی او په دې معنی سره اشاره ده هر هغه شي (حمد) ته چې هر څوک ئې پیژني چې جنس حمد څه شي دی. او چا ویلي دي چې الف لام د استغراق لپاره دی ځکه حقیقت کې ټول حمدونه الله جلّ جلاله لپاره دي.

تشریح دریم بحث: دلته دریم بحث د الف لام متعلق ذکر کوي لومړی دا خبره ذده کړه چې الف لام په څلور قسمه دی: (۱) الف لام جنسي (۲) الف لام استغراقي (۳) الف لام عهد ذهني (۴) الف لام عهد خارجي [1].

وجه د حصر: الف لام به خالي نه وي یا به پکې اشاره حصې معینې ته وي او یا به پکې اشاره حقیقت ته وي که اشاره حصې معینې ته وه دا الف لام عهد خارجي او په کومه قضیه کې چې راشي هغې قیضې ته موجبه جزئیه محصوره وائي او که اشاره حقیقت ته نو دا حقیقت به یا په ضمن د کل (ټول) افرادو کې معتبر وي او یا به په ضمن د بعض افرادو کې معتبروي او یا به حقیقت من حیث هي هيَ وي که دا حقیقت په ضمن د کل افرادو کې معتبر و دا الف لام استغراقي دی او په کومه قضیه کې ذکر شي هغې قیضې ته موجبه کلیه محصوره وائي او که په ضمن د بعضو افرادو کې معتبروي دا الف لام عهد ذهني دی او که اشاره حقیقت من حیث هی هی و ته وه دا الف لام جنسي دی او دې ته قیضې ته طبعیه وائي الف لام عهد ذهني مفید لپاره د تعریف نه دی او باقي درې واړه مفید دي لپاره د تعریف.

(۱):- الف لام په لغت کې کلمې د (أَلْ) ته وائي او په اصطلاح کې: کلمة تحلّ بها کلمة اخرى الف لام پۀ دوه قسمه دی (۱) اسمي (۲) حرفي اسمي هغه دی چې په اسم فاعل او اسم مفعول اتفاقًا داخلیږي اوپه صفت مشبه اختلافًا (۲) الف لام حرفي له دي نه علاوه دی بیا حرفي په دوه قسمه ده (۱) زائد (۲) غیر زائد. زائد بیآ په دوه قسمه ده (۱) لازم (۲) غیر لازم بیا لازم اوغیر لازم دواړه په دوه قسمه دي (۱) عوضي (۲) غیر عوضي او غیر زائد بیا په څلور قسمه دی (۱) جنسي (۲) استغراق (۳) عهد خارجي (٤) عهد ذهني نو شیخ صبب یوازې د الف لام حرفي غیر زائد اقسام ذکر کړي.

اوس په الحمد کې کوم یو الف لام دی ، نو فرمایي چې دا الف لام عهد خارجي دی ځکه معهود حمد نه دی معلوم او الف لام عهد ذهني نشته ځکه الف لام ذهني کې دا حقیقت په ضمن د فرد مبهم کې وي او دا مقام د مدحې دی او په فرد مبهم باندې مدح نه راځي.

پاتې شو الف لام جنسي او استغراقي که الف لام استغراقي شي نو معنی به دا شي ټول افراد دحمد مختص دي تر الله جل جلاله پورې او که الف لام جنسي شي نو معنی به دا شي چې ماهیت دحمد مختص دی تر الله جلّ جلاله پورې یا دا ماهیت که په مرتبه د مطلق شي کې واخلي دا قیضیه مهمله قدامیه ده او که په مرتبه د شي مطلق کې یې واخلی دا قیضه طبعیه ده نو د دواړو احتمال پکې صحیح کیږي چې یا الف لام لپاره د جنس دی یا لپاره د استغراق دی خو په دې دواړو کې کوم یو اولی دی نو دا وائي چې اوس الف لام جنسي دی ځکه مقصود دلته ټول افراد دحمد مختص کول دي لپاره د الله جلّ جلاله او دا په الف لام استغراقي کې صراحتًا مختص دي او په الف لام جنس کې التزامًا ځکه په جنسي کې ماهیت مختص وي تر الله جلّ جلاله پورې او ماهیت جزء دی فرد ورته کل دی چې جزء خاص شي نو کل چې افراد دی هم خاص کیږي ځکه که یو فرد غیر الله ته ثابت شي نو د دې په ضمن کې بیا ماهیت غیر الله ته ثابتیږي نو په دې کې به طریقه ئې برهانیه شي.

برهان: ټول افراد د حمد مختص دي تر الله جلّ جلاله پورې دا دعوه دی. ځکه ماهیت مختص دی تر الله جلّ جلاله پورې او په کوم ځای کې چې ماهیت مختص وي تر الله جلّ جلاله پورې هلته ټول افراد خاص وي تر الله پورې نو دلته هم ټول افراد خاص شوه تر الله پاک پورې په طریقې د برهان نو ځکه جنسي اولی دی.

سوال: دلته تا وصف مقدم کړی په اسم ذات باندې و اصل خو دا دې چې اسم ذاتي مقدم وي په وصف باندې باید لله الحمد دې ویلی وائې ؟.

جواب: وصف ئې ځکه مقدم کړ چې دا دبلاغت تقاضاده ځکه بلاغت دیته وائې مطابقة الکلام بمقتضی الحال او دا مقام دتصنیف نعمت علمي ده اومقام دنعمت علمي تقاضا دثناء کوي نو که د اهمیت د اسم ذاتي لحاظ کوې نو هغه د بلاغت خلاف دی.

تفسیر بیضاوي: (اذْ مَا مِن خیرٍ الّا وَ هوَ مُولّیهِ بِوسطٍ وبغیرِ وسطٍ کما قال الله تعالی (وَمَا بِکُمْ مِنْ نَعمَةٍ فَمِنَ الله [1])

ترجمه: ځکه چې د هر یو خیر ورکونکی صرف الله جلّ جلاله دی یا په واسطه یا بغیر له واسطې نه لکه الله تعالی فرمایلې دي تاسو پورې چې کوم نعمت پیوست دی دا د الله جلّ جلاله له طرفه دی.

تشریح: د اعبارت د یو سوال جواب دی هغه دا :

سوال: اختصاص د ټول افرادو دحمد تر الله جلّ جلاله پورې غیرصحیح دی؛ ځکه حمد خو کله دغیر الله هم کیږي لکه خلک وائې چې دا ملا ډیر تکړه دی دا طالب ډیر ذهین دی دا خو هم حمد دی ؟

جواب: قاضي صیب وایي چې د الله تعالی حمدونه دوه قسمه دي لومړی بلاواسطه دویم بالوسطه د غیر الله مدحه هم په حقیقت کې د الله تعالی مدحه خو بالواسطه ملا او طالب وغیره یې واسطه ده ځکه علم الله جل جلاله درکړی او ذهن هم الله تعالی درکړی. او په آیت کې کلمه د «ما» موصوفه ده او په (بِکُم) کې باء لپاره د الصاق دی اي بان انعامه ملصق بکم.

تفسیر بیضاوي: (وَ فیْهِ اِشعارٌ بِانّه تعالی حَيٌّ قادرٌ مُریْدٌ عالِمٌ اذِ الحمدُ لایَستَحِقُّهُ الّا مَنْ کان هَذا شأنُهُ).

ترجمه: په دې (الحمد لله) کې اشاره ده چې الله جلّ جلاله لره ژوند ،قدرت، اراده او علم بکل شي شته ځکه د حمد لائق صرف هغه ذات وي چې دغه شان لري.

تشریح: دلته له دې ایت څخه د علم کلام یوه ثابته شوې مسئله بیانوي هغه دا چې الله تعالی د حمد مستحق دی او د حمد مستحق هغه ذات وي چا کې چې دا څلور صفات وي چې: حي، قادر، مرید او عالم دی ځکه حمد ویلی شي ثناء علی جمیل الاختیاري ته چې اختاریت راغی نو فاعل مختار حیّ وي نو الله جلّ جلاله حیّ شو او فاعل مختار قادر وي نو الله جلّ جلاله قادر شو همدارنګه فاعل مختار مسبوق بالا اراده وي نو الله جلّ جلاله مرید شو او اراده او قدرت علم غواړي نو الله جلّ جلاله عالم شو.

---

(1):- سورة النحل: آیة ۵۳ .

تفسير بيضاوي: (وَقُرِءَ الحمدُللهِ بِإتْبَاعِ الدَّالِ اللّامَ وَبِالْعكسِ تَنزِيْلًا لَهُما من حَيْثُ اَنّهما يَستعْمَلانِ معًا منْزلة وَّاحدة).

ترجمه: او دا الحمدِ (د دال په كسرې سره) لوستل شوى د لام د تابعدارى كولو له وجهې او يا بالعكس هم جائز دى (دلام په ضمې سره الحمد لُله) د دې د واړو د كلمې واحدې د فرض كولو له وجهې د دواړو استعمال يو ځاى كړى شوى دى.

تشريح: دلته د الحمدلله د دال او د لام دوه حركته بيانوي امام حسن بصري رحمه الله وايي چې دال د لام تابع دى لام مكسور دى نو دال به هم مكسور وي لكه (الحمدِ لِله) امام ابراهيم بن ابي عبلة وايي چې لام د دال تابع دى دال مضموم دي نو لام به هم مضموم وي لكه الحمدُلُله)

تفسيربيضاوي: «رَبِّ الْعالَمِيْنَ ربِّ العالمين الرَّبُّ فى الأصلِ مَصدرٌ بمعنى التَّربيَة وهى تَبلِيغ الشَّئِ الى كمَاله شيئًا فشيئًا ثمّ وصَف به لِلمُبالغة كالصَّوْم والعَدْل »

ترجمه:-هسې الله چې پالونكى دټولو مخلوقاتو دى ربّ په اصل كې مصدر دى په معنى دتربيت سره اوتربيت وائي يوشى درجه په درجه حد دكمال ته رسول بيا په دې صفت سره الله جلّ جلاله مبالغتًا موصوف شوى دى لكه په صوم اوياعدل سره څوک مبالغتًا موصوف شي.

(بحث په كلمه دربّ كې)

تشريح: په كلمه د ربّ كې دوه احتماله ذكر كوي يو د مصدريت او دويم د صفت مشبه كه صيغه د مصدر شي نو په دې اعتراض واريديږي .

سوال: ربّ مضاف [1] دى او العالمين ئي مضاف اليه دى مضاف سره دمضاف اليه دا صفت لپاره د لفظ د الله جلّ جلاله دى موصوف ذات دى اوصفت وصف دى نو لازم شو حمل دصرف وصف په ذات باندې او دا ناجائز دى ؟

(۱):- اضافت په دوه قسمه ده (۱) اضافت لفظي (۲) اضافت معنوي اضافت لفظي ديته وائي چې صفت خپل معمول ته مضاف شي او دا مفيدْ دتخفيف دى.

اضافت معنوي ديته وائي چې اضافت دصفت دغير دخپل معمول ته وشي نوكه مضاف اليه معرفه وي نو بيا دا اضافت مفيد دتعريف وي اوكه مضاف اليه نكره وي نوبيا مفيد دتخصيص وي

جواب: دا له قبيلې د زيد عدل څخه دی يعنې حمل مبالغةً دی .

او که دا صيغه د صفت مشبه شي په دې بيا اعتراض دي.

سوال: صيغه د صفت مشبه ،اسم فاعل او اسم مفعول چې خپل خپل معمول ته مضاف شي نو هلته اضافت لفظي وي او اضافت لفظي تاسو په کافيه کې وائی لاتفيد الّا تخفيفًا فی اللفظ دا يوازې تخفيف فائده کوي نه تعريف او دلته هم اضافت لفظي دی صيغه د صفت مشبه خپل معمول ته مضاف شوي نو موصوف معرفه ده او صفت نکره ده نو موصوف او صفت کې مطابقت نه راځي او په موصوف او صفت کې په تعريف او تنکير کې مطابقت ضروري وي؟

جواب: دا صفت مشبه ده او لازمي ده او لازمي مفعول نه غواړي نو العالمين ئي مفعول نشو او فاعل الله جلّ جلاله دی نو صفت خپل معمول ته مضاف نشو نو دا اضافت معنوي شو او اضافت معنوي تعريف فايده کوي نو صفت او موصوف دواړه معرفه شوه که صفت مشبه شي نو ربّ په اصل کې ربيبٌ وو په وزن د فعيل ياء تخفيفًا ساقطه شوه يوه ياء په بله ياء کې مدغمه شوه نو ربّ شو او ديته حمل بالاشتقاق وائی [1].

کله چې ربّ مصدر شي نو معنی به دا شي هَسې الله جلّ جلاله چې عين پالنه د مخلوق ده.

تفسير بيضاوي: (وَ قِيلَ هُونَعتٌ من ربّه يَرُبّهُ فهو ربٌّ كَقوْلِک نَم يَنُمُّ فَهُوَ نَمّ (ثُمَّ سمّیٰ بِهِ (ای بربّ) المَالِک لِانّهُ يحفِظُ مَا يَمْلِكهُ و يربِّيه ولَايَطلِقُ عَلٰى غَيرِهِ تَعالى اِلّا مُقيِّدًا كقوله (ارْجِعْ الى رَبِّک [2]))

ترجمه: او چا ويلي چې دا (ربّ) صفت دی دا له ربّ يربه فهو ربّ نه مشتق دی لکه نَمّ يَنُمّ فهو نمّ کېښيا دغه ربّ سره مالک نامداری کړی شوی دی ځکه چې د کومو شيانو مالک دی د هغو حفاظت او پالنه کوي او د الله جلّ جلاله نه سوا په بل چا د دې اطلاق نه کيږي مګر مقيد (اضافت) ته کيږي لکه د الله جلّ جلاله دا قول (حکايت دی له قول د يوسف (عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ) نه) چې خپل مالک ته رجوع وکړه.

---

(۱):- حمل بالمواطاة. واني چې نسبت د محمول موضوع ته بلاواسطه وشي لکه الانسان حيوان. حمل بالاشتقاق ديته واني چې نسبت د محمول موضوع ته وشي په واسطې د ذو يا له يا فی سره لکه الانسان ذوبياض.

(۲):- سورة يوسف- آية (۵۰).

تشريح: يو قول دا دى چې دا صيغه نعت (صفت مشبه يا اسم فاعل دى) نه مصدر، له باب نصر ينصر څخه دى.

سوال: تا وويل چې داد نصر ينصر څخه دى او نصر خو متعدي دى او صيغه دصفت مشبه خو له باب لازمي نه جوړيږي ؟

جواب: دا صيغه دصفت مشبه دى له باب نصر ينصر څخه خو بعد النقل لومړى دا نقل كوو باب د كرُم يكرم ته له هغې نه روسته بيا ترينه صيغه دصفت مشبه جوړه وو .

دا قول(كَقَوْلِك نَمّ يَنُمُّ فَهُوَ نَمّ)

سوال: ته داسې يو مثال ښودلى شي چې له باب د نصر ينصر څخه صيغه دصفت مشبه راغلي وي؟

جواب: ولې نه نَمّ ينمّ فهو نم او نم له نمامت نه دى چغل خوري ته وائي.

په (ثُمّ سمّى بهِ (اى برب) المَالِك)سره په كلمه د ربّ كې دلته دوه اصطلاحات ذكري كوي يوه د اهل لغتو بله داهل شرع.

اهل لغت وائى چې كله كلمه د رب مطلقا ذكر شي لكه ربّ بيائې په غيرالله اطلاق نه كيږي او كه اضافت يې شوى وي بيا يې په غير الله اطلاق صحيح دى لكه په سورت يوسف كې ذكر دي (ارْجِعْ الى ربك) بل ځاي فرمايي (انه ربي احسن مثواى) دغه شان ربّ الدّار و ربّ زيد.

اِهل شرع وائي چې مضاف وي غير ذوى العقولو ته بيائې په غيرالله اطلاق كيږي لكه ربّ الدّار او چې ذوى العقولو ته مضاف وي او يا مطلق ذكر شوى وي نو بيا ئې په غيرالله اطلاق نه كيږي يعنې مكروه دى ځكه دا خاصه دالله جلّ جلاله ده لكه رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمايي (لا يقل أحدكم ، أطعم ربك وضئ ربك ، اسق ربك)[1] د دوډۍ خوړلو په وخت خپل مالك ته داسې مه وايه چې دوډۍ وخوره ربه . متن دكتاب داهل لغتو په اصطلاح تللى دى.

---

(۱) حدثنا محمد ، حدثنا عبد الرزاق ، أخبرنا معمر ، عن همام بن منبه ، أنه سمع أبا هزيرة رضي الله عنه ، يحدث عن النبي صلى الله عليه وسلم ، أنه قال : " لا يقل أحدكم : أطعم ربك وضئ ربك ، اسق ربك ، وليقل : سيدي مولاي ، ولا يقل أحدكم : عبدي أمتي ، وليقل : فتاي وفتاتي وغلامي صحيح البخاري - كتاب العتق باب كراهية التطاول على الرقيق - رقم الحديث:۲٤۳٤

(اَلعالَمِیْنَ)

بحث په کلمه د العالمین کي

تفسیر بیضاوي: (وَ الْعَالَم اِسْمٌ لِمَا يُعْلَم بِهِ كَالخَاتَم وَالقالِبِ غلبَ فِيْمَا يُعْلَمُ بِهِ الصَّانِع تعالى و هُو كُلُّ مَاسِواهُ مِن الجَواهِرِ و الاِعرَاضِ)

ترجمه: عالم اسم دی لپاره هغه څه چې په هغې سره وجود د الله جلّ جلاله معلومیږي لکه خاتم نوم دی لپاره آله مهر لګولو او قالب نوم دی لپاره د اله قلب یعنې د سانجې بیا غالب کړی شوی په هرهغه شي کې چې په هغې سره صانع(الله جلّ جلاله) معلومیږي (دلائل اینیه وي په وجود دصانع) اوهغه ټول ماسواه دالله ته وائي چې جواهر او اعراض دي.

په عالم کې درې توجیهات دي

تشریح: په عالم کې درې توجیهات دي (۱) ماسواه الله (۲) مکلفین (۳) یا انسانان.

عالم صیغه داسم آله دی او اسم آله په وزن د مفعل مفعال او فاعل سره راځي نو عالم په وزن فاعل سره دی یا عالم له علم څخه اخستل شوی دی په معنا د مایعلم به الشيء یعني د څه په زریعه چې د یو شي علم وي.

لومړی توجیه: په عالم کې اختلاف دی عالم څه ته وائي.

(۱) یو قول دا دی چې عالم مجموعة الاجناس ته وائي.

(۲) دا وضع شوی لپاره د قدر مشترک په مابین د مجموعة الاجناس او د هر جنس کې یو جنس ته هم عالم وائي لکه حیوان عالم جوهر عالم او مجموعة الاجناس ته هم وائي خو په یو فرد ئې اطلاق نه کیږي لکه زید ته عالم نشي ویلی او دا قول راجح دی ځکه که دا مجموعة الاجناس ته وویلی شي یا خو یې جمعه نشي راتللی او حال دا چې د عالم جمع عالمین راځي یا عالم له الله تعالی نه سواه هر شي ته شامل دی جواهر دي که اعراض مصنّف رحمه الله د جواهر او اعراض پرځای اجسام و نه ویلې چې «کل ماسواه من الاجسام» ځکه بیا «جزء لایتجزأ» پکې نه راتلو نو جواهر دي او که اعراض دي د ټول دلائل اینیه دی په الله جلّ جلاله باندې هغه داسې چې دا ټول کائنات دا ممکنات دي او ممکن کې خپل

وجود نه وي نو ده ته به وجود بل څوک ورکوي هغه بل څوک به ممکن نه وي ځکه ممکن د خپله خپل وجود موجد او علت نه وي یعنې موجِد به ورله غیره ته نو هغه به واجب وي.

(یو مشهور اعتراض)

سوال: العالم متغیر وکلّ متغیر حادث په عالم کې خو دوه قوله وو یو دا چې دا وضع شوی لپاره د مجموعة الاجناس بل دا چې دا وضع شوی لپاره قدر مشترک په مابین د مجموعة الاجناس او هر جنس کې بهر تقدیر په جزئي ئې اطلاق نه کیږي او د فلاسفه وو په نزد تغیر په جزئیاتو کې راځي په کلیاتو کې نه راځي نو ته څنګه وائې چې العالم متغیر او الزام کوې په فلاسفه وو باندې او فلاسفه خو دا نه مني چې العالم متغیر یعنې په کلیاتو کې دې تغیر راشي؟

جواب: شیخ صاحب حفظه الله وائي چې دا جواب دا په خپله کړی هغه دا چې العالم کې الف لام دی او دا له لپاره د استغراق د افرادو راځي یعنې افراد د عالم مراد دي یعنې العالم متغیر ای: افراد العالم متغیر دا قضیه صحیح ده خو چې افراد ترینه مراد شي.

تفسیر بیضاوي: (فَاِنَّهَا لَاِمَكَانَها و افْتِقارِهَا اِلٰى مُؤثِر واجِبٍ لِذاتِه تَدُلُّ عَلٰى وُجُودِهِ)

ترجمه: ځکه دا ټول ممکنات له وجهې د ممکن والي او احتیاج والي نه یو مؤثر واجب لذاته ته محتاج دي چې دا ممکنات په وجود د هغه ذات دلالت کوي.

تشریح: ټول جواهر او اعراض په وجود کې یو مؤثر ته محتاج دي او دا مؤثر به واجب لذاته وي ممکن به نشي کیدلی ځکه که بل ممکن مؤثر شي بیا به اجتماع د نقیضینو راشي لکه بالفرض والتقدیر دا دیوال دی او دا د کائناتو لپاره مؤثر شي اوس دا دیوال ممکن علت دی او کائنات ممکن معلول دی نو دا ممکن علت چې ممکن معلول موجود وي او راپیدا کوي نو ټول انواع د عدم به ئې ختموي بیا به ئې رپیدا کوي او یو د انواعو د عدم د ممکن معلول نه هغه عدم د ممکن دی (خپل عدم به هم ختموي) نو دا نه ده مګر اجتماع د نقیضینو دی غه دا سې چې خپل عدم چې ختموي نو عدم به پکې وي او چې ختموي ئې نو دا علت شو او علت موجود وي نو د عدم په وخت کې هم موجود شو او هم معدوم شو دا خو دا سې شو چې خپل عدم په خپله ختموي او که د ده عدم

بل ممکن ختمو ي بيا تسلسل را ځي اوتسلسل باطل دی نو ثابت شو چې د کائناتو مؤثر واجب لذاته دی بل ممکن نه دی .

تفسير بيضاوي: (وَ انَّمَا جَمعهُ لِيشمِلَ مَاتحتَه مِن الأجْناسِ المُخْتلِفةِ وَغُلِب العُقلاءُ منهمْ فَجمَعهُ بِاليَاءِ والنُّونِ كسَائِرِ أَوصَافِهم)

ترجمه: او عالمين ئې جمع ذکر کړ چې شامل شي خپل ماتحت اجناسو مختلفه وو ته او غلبه ورکړی شوي ده عقلاؤ ته له دوی نه نو جمع ئي کړه په ياء او نون سره لکه نور ټول اوصاف.

تشريح: دا عبارت دفع د يو اعتراض دی هغه دا

سوال: عالَم خو مجموعة الاجناس دی د ټولو اجناسو افرادو ته شامل دی ، سره له دې چې الف لام هم پرې داخل دی چې په الف لام سره هم د ټولو اجناسو افرادو ته شاملېږي نو بيا يې په صيغې د جمعې سره ذکر کولو ته څه ضرورت و.

جواب: هو په دغې سره هم مقصد حاصليده خو دا يې لپاره د دفع توهم په صيغې د جمعې سره ذکر کړ هغه دا چې عالم د قدر مشترک لپاره هم وضع شوي دی په يو جنس يې هم اطلاق کيږي لکه عالم انسان نو متوهم به دا وهم کولو چې له دې نه به د يو جنس ټول افراد مراد وي نو د دې توهم د دفعې لپاره يې عالمين په صيغې د جمعې سره ذکر کړ.

دا (وَغُلِب العُقلاءُ منهمْ) عبارت هم دفع اعتراض دی.

سوال: دا قاعده دی چې په ياء او نون او واو او نون سره هغه الفاظ جمعه کيږي کوم چې صفات حقيقي د ذوی العقولو وي لکه سامعون او ضاربون او يا په حکم د صفاتو د ذوي العقولو کې وي لکه اعلام د ذوي العقولو (زيدون، خالدون چې د څو کسانو لپاره مشترک نوم شي) او دا عالمين خو نه له صفاتو حقيقة وو د ذوی العقولو څخه دی او نه له صفاتو حکمي د ذوی العقولو څخه دی بلکې دا خو ذوي العقولو او غير ذوي العقول دواړو ته عام دی بيا يې په ياء او نون سره ولې جمع کړ ؟

جواب: ديکې تغليب دى يعنې غلبه ئې ورکړې ذوى العقول ته په غير ذوى العقول باندې له وجه د شرافت نه نو لکه څنګه چې نور صفات په يا، او نون سره جمعه کيد د غسې يې عالمين هم په يا، او نون سره جمعه کړو او کله چې تغليب بالعکس وشي نو هلته علت د کثرت د غير ذوى العقول وي.

تفسير بيضاوي: (وقِيلَ اِسمٌ وُضِعَ لِذوِي العِلمِ منْ المَلآئِکةِ وَالثَّقلين وَتَناوَلَهُ لِغَيرِ همْ عَلى سبِيلِ الاِستبَاعِ)

ترجمه: اوچا ويلي دي چې دا اسم د ذوى العلم لپاره وضع شوى دى چې ملائکې، انس اوجن دي او صدق د دې په نورو اجناسو په طريقې د استتباع دى (نور د دې تابع دي).

تشريح: تر دې ځايه په عالم کې لومړى توجيه ذکر شوه چې عالم ماسواه الله ته ويلى شي دلته دويمه توجيه بيانوي.

دويمه توجيه: چا ويلي دي چې له عالم څخه ذوي العلم چې ملائکې، انسانان او پيريان مراد دي لکه ويلى شي: عالم الملائکة ،عالم الانسان او عالم الجن. بيا پيريانو او انسانانو ته ثقلين هم وايي ثقلين تثنيه د ثقل دى او ثقل دروند والي ته ويل کيږي او دوى ته ځکه ثقلين وايي چې دوى دواړه انس اوجن په ځمکه ډير دي نو ځمکه ئې درنه کړې ده يا له وجهې د مکلفيت چې دواړه د الله جل جلاله له لوري مکلف دي ثقلين ورته وائي.

دا (وَتَناوَلَهُ لِغَيرِ همْ) عبارت دفع داعتراض دى.

سوال: ستا له عبارت خو دا معلومه شوه چې الله تعالى يوازې د ذوى العلمو ربّ دى او اطلاق يې هم په ذوى العلمو کيږي اوحال داچې دا خو د ذوى العلمو او غير ذوى العلمو دواړو ربّ دى ، ربوبيت د باري تعالى خو عام دى؟

جواب: هو الله تعالى د ذوى العلمو او غير ذوي العلمو دواړو رب دى او اطلاق يې هم په دواړو کيږي خو په غير ذوى العلم يې اطلاق په طريقې د تبعې سره کيږي چې تابع د ذوى العلمو دي.

تفسیر بیضاوي: (و قِیلَ عَنی بِهِ (ای بالعالمین) اَلنَّاسُ هٰهُنا فاِنَّ کُلَّ واحِدٍ مِّنهم (ای مِنَ النّاس) عالمٌ وَلِذالِک سُوِّی بینَ النَّظرِ فِیهما وقَال اللّٰهُ تعالی وَفِی اَنْفُسِکُم اَفَلَا تُبْصِرُوْن [1]).

ترجمه: اوچا ویلي دي چې مراد په عالمین سره انسانان دي دلته ځکه هر واحد د انسانانو ځان ځانته پوره عالم دی له دې وجه نه برابر دی نظر په عالم د انسان کې او په عالم د دنیاکې، الله جل جلاله فرمائي ستاسو په نفسونو کې (نمونې د قدرت دي) آیا تاسو نه ګورئ.

دریمه توجیه:

تشریح: دا دریمه توجیه ذکر کوي چې عالم نه مراد یوازې انسانان دي.

سوال: ستا له دې توجیه نه خو معلومه شوه چې الله جلّ جلاله یوازې د انسانانو ربّ دی بلکه الله جلّ جلاله خو د ټول عالم رب دی یوازې د انسانانو د تخصیص فائده څه ده ؟

جواب: انسانان ئې ځکه ذکر کړل او د ده د تخصیص فائده دا ده چې دا یو نمونه او خلاصه د عالم دی فان کلّ واحد عالم هر انسان داسې دی لکه ټول عالم په قرآن کې هم انسان باندې د عالم اطلاق شوی دي (اتأتُونَ الذکرَان من العالمِن) ایا تاسو له انسانانو څخه نارینه و ته راتک کوئ ! د غسې علي (رضی الله عنه) ته یو شعر منسوب دی هلته هم انسان ته عالم اکبر ویلی شوی دی لکه فرمایي:

دواؤك فيك وما تشعر ودواؤك منك فلا تبصر
اتزعم انّك جرم صغير وفيك انطو العالم الاكبر
وانت كتاب المبين الذى باحرفه يظهر المضمر.

تفسیر بیضاوي: (وَقُرِءَ ربُّ العالمِینَ بِالنَّصبِ علی المَدْج او النِّدآءِ أَو بِالفعلِ الّذِی دَلَّ علیهِ الحَمْدُ).

ترجمه: او ربّ العالمین په طریقې د مدحې سره منصوب لوستلی شوی اویا په طریقې د ندآء دی او یا په هغه فعل چې حمد و رباندې دال دی.

---

[1]:- سورة الذاريات: آية (٢١) .

تشریح: دلته په رب العالمین کې نحوي بحث کوي فرمایي چې په دې کې یو قرأت د نصب دی قاضي صیب یې د نصب لپاره درې وجهې ذکر کوي.

(۱) په طریقې د مدحې یعني دلته فعل د مدحې مقدر دي (اي امدحُ ربّ العالمین) نو رب العالمین د دغه مقدر فعل لپاره مفعول شي.

(۲) په طریقې د ندآء سره منصوب دی (ای یاربّ العالمین) رب العالمین به منادی مضافه منصوبه شي.

(۳) په طریقې د «نحمد یا أحمد» فعلِ مقدر کوم چې له مصدر د حمد نه مشتق دي نو تقدیر به داسې وي ای احمدُ ربّ العالمین.

تفسیر بیضاوي: (وَفیهِ دَلیلٌ علی أَنَّ المُمْکنات کمَا هیَ مُفتقِرةٌ الی المُحدِثِ حَال حُدوثِهَا فَهیَ مُفتَقرةٌ الی المُبقِي حَالَ بَقائِهَا).

ترجمه: او په رب العالمین کې دلیل دی په دې چې لکه څنګه دا ممکنات په وجود کې محدث ته په حال د حدوث کې محتاج دي نو هم دغسې په حال د بقاء کې باقي لرونکي ته هم محتاج دی.

تشریح: دلته د علم کلام یوه مسئله مستنبط کوي هغه دا لکه څنګه چې تمام ممکنات په وجود کې یو محدث ته محتاج دي دغسې په بقاء کې هم یو باقي ساتونکي ذات ته محتاج دي ځکه بقاء دیته وائي چې یو شی تر نیتې د قضاء او قدر د زوال او مختل کیدو نه محفوظ شي له هم دې وجهې نه ممکنات په بقاء کې الله جلّ جلاله ته محتاج دي اصل کې دا دلیل د دې خبرې لپاره بیانوي چې الله جل جلاله ځان ته ربوبیت ثابت کړی دی او رب وایي پالونکي او تربیت کونکي ته او تربیت په دې طریقې سره کیږي چې شي تر نهتې د قدر او قضاء له زوال او مختل کېدو محفوظ ورسیږي او همدا نوم دبقاء دی.

((الرّحمن الرّحیم))

(۲)**تفسیر بیضاوي:** (الرّحمنِ الرّحِیم) کَرّرَهُ لِلتّعلِیلِ عَلی مَا سَنَذْکرُهِ)

ترجمه: رحمن او رحیم ئې دعلت لپاره مکرر ذکر دي لکه موږ به یې زر بیان کړو.

تشریح: چونکه قاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللهُ) مسلکا شافعي دی تسمیه د سورت فاتحې جزء ګڼي نو ځکه ئې د تکرار لفظ ذکر کړ ځکه بعضې علماو له دې څخه د ستدلال کړی دی چې تسمیه له فاتحې جز نه دی ځکه که جز شي بیا خو تکرار لازمیږي رحمن او رحیم به مکرر ذکر شي نو قاضي صیب جواب ورکوي چې رحمن او رحیم د استحقاق حمد د علت بیانولو لپاره دی نو تکرار لازم نه شو.

(مَالک یَوم الدّین)

(۳)**تفسیر بیضاوي:** (مَالك یوم الدّین وَقرءَهُ عاصِمُ والْکَسائِی وَیعقوبُ ویَعضُده قوله تعالی: یَوْم لَاتَملک نَفسٌ لِنَفسٍ شَیْئًا والامرُ یَومَئذٍ لله)

ترجمه: هسې رب چې مالک دی د ورځې د جزاء دا قرآئت د عاصم، کسائی او یعقوب حضرمي رحمهم الله دی د دې تقویه او تائد دا قول د الله تعالی کوي چې د قیامت به هغه ورځ وي چې یو نفس مؤمنه به دبل نفس کافر لره د هیڅ شي مالک نه وي او امر به په د غه ورځ خاص الله جلّ جلاله لره وي.

تشریح: په مالک یوم الدّین کې درې کلمات دي (۱) مالک (۲) یوم (۳) الدین د دې هرې کلمې جلا جلا بحث او تحقیق کوي.

لومړی بحث: په مالک کې ټول څلور قرأته دي دوه شاذ دي او دوه قرآئتونه متواتر دي.

متواتر قرأتونه

اول: مالک یوم الدّین او دویم مَلِک یوم الدّین بیا مصنّف رحمه الله وائې چې په دې دواړو قرآئتونو کې راجح قرآئت دمَلِکِ یوم الدّین دی. اونور مفسّرین لکه علّامه الوسي رحمه الله صاحب دروح المعانی وائي چې راجح مَالِک یوم الدّین قرآئت دی همدا قرأت د عاصم، یعقوب، او امام کسایي رحمهم الله هم دي دوی د خپلې دعوي لپاره دوه دلایل وایي چې یو نقلي دی او بل عقلي دی.

دليل نقلي: مَالِک يَومَ الدين د دې درې واړه قاريانو قرآئت دى او تائيد يې دا آيت مباركه
1 كوي چې (يَوْم لَاتَملک نَفسٌ لِنَفسٍ شَيْئًا) دى هغه داسې چې دلته الله جل جلاله په (يَومَ
لاتَملک) كې تمليک ذكر كړى دى او دا له باب دضَرَبَ يضرِبُ څخه دى او دا چې له باب د ضرب
يضرب نه شي نو دا بيا مشتق له ملک څخه دى ملک څخه نه دى ځكه مُلکَ شفت مشبه دى او
صفت مشبه له لازمي باب څخه مشتق كيږي او متعدي كيږي په علی (حرف جر) او دلته تملک
متعدي دى بالذات نو كه له مُلک څخه وائې نو پكار ده چې په علی سره متعدي شوى وائى او بل
دا چې په دې آيت (يَوْم لَاتَملک) كې نفي د مالكيت دى د بادشاهي نه دى مِلک او مالک يوشى
دى او مُلک مَلِک يوشى دى نو معلومه شوه چې دلته هم مالک دى ملک نه دى.

سوال: (وَالاَمرُ يَومَئذٍ لله) په دې دلالت كوي چې تمليک له مُلک څخه دى ځكه دېكې
الله جل جلاله خپل ځان ته امرثابت كړى او امر په مُلک كې وي په مِلک كې نه وي ځكه امور
بادشاه كوي او تا خو اوس وويل چې مِلک او مُلک جدا جدا شيان دي.

جواب: اَمر په دوه قسمه دى يو هغه دى چې جمع يې اوامر راځي او بل هغه دى چې جمع يې
امور راځي نو كه امر مفرد د أوامر شي بيا خو دا له خواصو د بادشاه څخه دى خو امر مفرد د امور
دى او امور اشياء وو ته وائې او اشياء له خواصو د بادشاه څخه نه دي.

دليل عقلي: يو مِلک دى بل مُلک دى په دې كې فرق دا دى مِلک وائى تصرف فى الاعيان
المملوک بالاوامر وبغيره يعنې تصرف كوي په اعيانو د مملوكة كې.

مُلک وائې تصرف فى المأمورين فقط: يعنې تصرف كول په مأمورينو كې فقط نو مِلک عام شو
او مُلک خاص شو نو له دې وجهې نه مالک راجح شو ځكه دا معنى اعم ده او په اعم كې مبالغه وي.

تفسير بيضاوي: (وَقرأَ البَاقوْنَ مَلِك وهُو المُختارُ لأَنَّهُ قرآءَةُ أَهل الحرمَين وَلِقوله
تعالى لِمَنِ المُلك اليوم [1] وَ لِما فيه مِنَ التَّعظيْم).

---

(۱):- سورة الغافر: آية ۱۵.

ترجمه: او باقي قاریانو مَلِک لوستلی دی او دا راجح دي ځکه چې د اهل حرمینو قرآئت دی او له وجهې ددې قول د الله تعالی نه (لِمَنِ المُلک الیَوم) دچې لپاره دی بادشاهي دنن ورځ او بل له دې وجې نه چې په مَلِک کې تعظیم دی.

تشریح: دا دویم قرأت متواتره بیانوي چې دا د اکثره قاریانو قرآنت دی او دا مصنف په نزد راجح هم دی د رجحان لپاره یې درې وجهې بیانوي.

(۱) دا د اهل حرمینو قرأت دی او اهل حرمین اعلم بالقرأت دي:

ابن جریج دی او دا امام بخاری رحمه الله استاذ وو او لوی محدث وو خو یوه خبره پکې وه هغه داچې مدلس وو او هم به ئې متعې ته جائز ویلې اونوي (۹۰) متعې ئې کړې وې په مکه مکرمه کې د ده دا قرآئت دقاضي بیضاوي رحمه الله په نزد هم غوره دی او د دې لپاره اول دلیل دا دی چې دا داهل حرمینو قرآئت دی.

(۲)دا (لِمَنِ المُلک الیَوم) دویم دلیل دی چې دا مَلِک [1] دی ملک نه دی ځکه په دې آیت کې صراحتًا مُلک ذکر دی او الله تعالی په وورځ د قیامت کې ځان ته مُلک او بادشاهي ثابته کړې دی نو په مالک یوم الدین کې هم دغه قرأت کول پکار دي چې د دواړو ایاتو په معنا کې مناسبت پیدا شي او مناسبت هغه وخت پیدا کیږي چې «ملِک» ولوستلی شي ځکه ملِک له مُلک نه مشتق دی له مالک څخه نه دي.

(۳) دا (وَ لِما فیه مِنَ التَّعظیْم) دریم دلیل دی د قرآئت مَلِک لپاره هغه دا چې په مَلِک کې تعظیم اوعظمت دی په مالک کې تعظیم نشته اوس دا خبره چې په ملِک کې څنګه تعظیم دی د دې لپاره درې وجهې بیانوي.

تفسیر بیضاوي: (وَ المَالِك هو المُتصَرِّفُ فِي الأَعیَانِ المَمْلوکَةِ کیْفَ شاءَ مِن المِلكِ والمَلِك هُو المتَصرِّف بِالأَمرِ والنَّهيِ فی المَأْمُورِینَ المُتصرِّفُ مِن المُلْكِ)

ترجمه: او مالک متصرف دی په اعیان مملوکه وو کې څنګه ئې چې اراده وي او دا مأخوذ له مِلک څخه دی او ملِک متصرف دی په اوامرو اونواهیو سره په مأمورینو کې او دا له مُلک څخه مأخوذ دی.

---

(۱) :- مَلِک نه مأخوذ ده اوا آیت دمَلِک تائید کوي

تشریح: په دې عبارت سره مصنف د ملک قرأت لپاره د ېې وجهې د عظمت بیانوي:

لومړۍ وجه: دا چې مالک وايي په اعیان مملوکه وکې تصرف کلولو ته په اوامرو سره وي یا غیر له اوامرو څخه وي او اعیان مملوکه کله ارزل وي او کله اشراف د ارزل مثال لکه خره غوایان او داسې نور د اشرف مثال لکه وینځې او غلامان.

او ملِک وائي په مأمورینو کې تصرف کولو ته په اوامرو او نواهیو سره او د ملِک په مامورینو کې احرار (ازاد خلق) هم شامل دي نو د چا ملکیت چې په احرارو وي هغې کې تعظیم وي په نسبت سره هغه ته چې ملکیت یې یوازې په غلامانو وي.

دویمه وجه: د مالک په مُلک کې قلیل او کثیر دواړه راتللی شي او د مَلِک په مُلک کې یوازې کثیر وي او په کثرت کې عظمت وي.

دریمه وجه: مالک هر سړی کیدلی شي او مِلک یوازې اعظم الناس وي.

قاضي بیضاوي رحمه الله قرائت دمَلِک ته ترجیح ورکړه خو صاحب دروح المعاني قرائت دمالک ته ترجیح ورکوي او دا دلیل وائي چې په مالک کې یو حرف زیات دی له مَلِک څخه چې هغه الف دی او په حدیث شریف کې راځي.

(عن عبدالله بن مسعود قال: قال رسول الله صلّى الله عليه وسلم من قرء حرفًا من كتاب الله فله به حسنة والحسنة بعشرٍ امثالها لا اقول آلمّ حرفٌ ولكن الف حرف ولام حرف وميم حرف)[1].

ترجمه: نبي (عَلَيْهِ السَّلَامْ) فرمائي: چې چا یو حرف د قرآن تلاوت کړ ده لره یوه نیکي ده اویوه نیکي په لسو حسابولی شي زه دا نه وایم چې آلمّ یو حرف دی بلکې الف ځانته لام ځانته او میم ځانته او جلا حرف دی او بل حدیث کې راځي چې چا یو حرف دقرآن تلاوت کړ هغه ته به الله جلّ جلاله لس نیکۍ

---

(۱)- حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الحَنَفِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا الضَّحَّاكُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ كَعْبٍ القُرَظِيَّ يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ» رواه سنن الترمذي رقم الحديث: ۲۹۱۰ والدارمي

ورکوي او لس به ئې ګناهونه معاف کوي او لس به مرتبې اوچتوي نو په مالک کې دیرش (۳۰) زیاتـه دي په نسبت سره مَلِک ته نو ځکه مَالک راجح دی خو دواړه قرأته متواتر دي یو ته هم ضیف نه شي ویلی بلکې شیخ شهاب الدین رحمه الله ویلي دي چې زه په یو رکعت کې ملک او بل رکعت کې مَالک لولم.

تفسیر بیضاوي: (وقُرِءَ مَلْک بالتَّخْفیفِ وَمَلَک بِلفظِ الفِعل)

ترجمه: او لوستلی شوی مَلک په تخفیف سره او مَلَکَ په لفظ د فعل ماضي هم لوستلي شوی.

تشریح: دلته مصنف په مَلِک یَوم الدّین کې دوه شاذ قرأتونه ذکر کوي.

شاذ قرأتونه

په شاذ قرأتونو کې لومړی قرأت دا دی چې (مَلْک یَوم الدّین) دی یعنې په سکون د لام سره او دا مَلْک په اصل کې مَلِک دی کسره دلام حذفه کړی شوه او لام ته سکون ورکړی شو لپاره دتخفیف ځکه چې کوم فعل مکسور العین وي د هغې عین کلمې ته سکون هم تخفیفاً ورکولی شي.

په (وَ مَلَك بِلفظِ الفِعل) سره دویم شاذ قرائت ذکر کوي او په صیغې د فعل سره دی ،مخکې درې قرآئتونو کې صیغه د اسم وه په اول کې صیغه د اسم فاعل وه په دویم او دریم قرأت کې صینه دصفت مشبه وه او دا قرائت امام اعظم ابوحنیفة رحمه الله ته منسوب دی او ځینې علماو دې قرأت ته ترجیح ورکړې دی ځکه چې کله مَلَک صیغه د فعل ماضي شي نو احتمال د مُلک هم پکې دی او احتمال د مِلک هم پکې دی یعنې یا مأخوذ دمُلک څخه دی یا د مِلک څخه دی ؛نو چې کله ملک صیغه د فعل شي نو یوم الدین به یې مفعول به وي.

تفسیر بیضاوي: (وَمَالکًا بالنَّصبِ عَلَی المَدْح او الحالِ وَمَلِكُ بالرّفع منونًا ومضافًا علی انّه خبرُ مبتَداءٍ محذوف)

ترجمه: او مالکًا په نصب سره بناؤ په مدحه او یا په حال باندې دی او یا مالک مرفوع (په تنوین سره) او یا مضاف بنا په دې چې دا خبر د مبتداء محذوفې دی.

تشریح: دلته په مالک کې د اعراب اعتبار سره دوه صورتونه بیانوي.

ملک په کسرې سره لکه په تیر سبق کې مو وویل چې دا صفت دی لپاره د لفظ الله لکه څنګه يې چې الرحمن الرحيم صفتونه وله دې پرته دلته دوه نور صورتونه دي يو د نصب بل د رفعې.

(۱) مَالِكًا منصوب دی د نصب یې بیا دوه وجهې دي یا به مفعول وي لپاره د فعل مقدر ای اَمدَحُ مالکًا یوم الدین او یا به یې نصب بنا بر حالیت وي ای الحمدُ لله حال کونه تعالی مَالِکًا یَوم الدّین.

(۲) مالک مرفوع دی او د رفعې لپاره يې هم دوه صورتونه دي (۱) مُنوّن (په تنوین سره) دی هو مَلِکٌ یوم الدّین یوم منصوب ده بنا بر ظرفیت (۲) دوهم چې مضاف ئې کې یَوم ته هو مَالِکُ یَوم الدّین خو دا رفعه يې بنا ده په خبریت د مبتداء محذوفې ای هو مَالِکُ یَوم الدّین.

تفسير بيضاوي: (ومَلِكَ مضافًا بالرّفع والنّصب)

ترجمه: او مَالِک چې مضاف دی په رفع او نصب سره يې لوستلی شې.

تشريح: تر دې ځایه يې په مَالِک کې درې اعرابه بیان کړل اوس وایي چې په مَلِک کې هم درې اعرابه دي یو د کسرې چې صفت شي لپاره د لفظ د الله دویم مرفوع چې خبر د مبتداء محذوفې شي هومَلِک یَوم الدّین دریم منصوب چې مفعول شي لپاره د فعل محذوف اَمدَح مَلِکَ یَوم الدّین.

(يَومَ الدّينِ).

تفسير بيضاوي: (وَيَومِ الدّينِ يومُ الجزاءِ وَمِنه كَمَا تُدِينُ تُدَانُ وَبيْت الحَمَّاسَةِ ولَم يَبقِ سِوَى العدوانُ. . . دَنَّا هم كمَادَانُوا)

ترجمه: یوم الدّین ورځ د جزاء ته وائي او د دین د غې مادې نه دا محاوره مأخوذ ده لکه څنګه دي چې چا سره وکړل هغسې جزاء به درکولی شي لکه څنګه چې د دیوان حماسه بیت دی د دښمن نه سوا بل څه نشو پاتي نو جزاء مو ورکړ لکه څنګه ئې چې مونږ ته جزاء راکړې وه.

تشريح دويم بحث: دا بحث په کلمه د یوم کې دی د یوم تشریح کوي چې د یوم لپاره درې معانې دي (۱) یوم لغوي په معنی د مطلق وخت (۲) یوم عرفي په معنی د من طلوع الشمس الی غروبها (۳) یوم شرعي په معنی د من طلوع الفجر الی غروب الشمس.

په دې درېواړو معناګانو کې کومه معنی مراد دی فرمائي چې معنی لغوي مراد دی ځکه دلته حالات د قيامت بيانيږي او په معنی عرفي او شرعي کې طلوع او غروب مراد دي او په ورځ د قيامت کې طلوع او غروب نشته، د کلمه د دين لپاره هم درې معناګانې دي.

(۱) په معنی د جزاء سره.

(۲) په معنی شريعت.

(۳) په معنی اطاعت.

کله چې په معنی د جزاء سره وي بيا يې تقدير ته ضرورت نشته ای مالک وقت الجزاء او که دين په معنی د شريعت او اطاعت سره وي نو هلته به حذف د مضاف کوي چې کلمه د جزاء دی ای مالک يوم الجزاء الشريعت او يا مالک يوم الجزاء الاطاعت خو داذواړه ترجمې ضعيفه دي.

د اولې معنا په اعتبار سره په دين او جزا کې فرق دی هغه دا چې دين د خپل بدل مساوي ته وايي او جزا عامه دی د بدل مساوي وي او که کمه يا زياته وي لکه يو مشهور متل دی کما تدين تدان ای کما تصنع تجازي په مثال کې تدان په معنی د بدلې ورکولو سره ده يعنې د دين دويمه معنی مراد ده.

او د حماسې شعر هم په دې معنا کې استعمال شوی دی يعنې دين په معنا د جزا دی شعر داسې دی فلمّا صرح الشرّ فامسي وهو عريان... ولم يبق سِوى العُدوان. دناهم كما دانوا.

ترجمه: هرکله چې دواړو قبيلو په منځ کې جنګ ونښته په داسې حال کې چې دا جنګ بربنډ وو (شديد وه) نو باقي پاتې نشو سِوا د دښمن نه نو مونږ هم هغسې جزاء ورکړه لکه څنګه ئې چې مونږ ته راکړې وه.

تفسير بيضاوي: (اَضافَ اسْمُ الفَاعِلِ الى الظَّرفِ اِجراءً لهُ مَجرى المَفْعول بِه عَلى الاِتِّسَاعِ كقولهم يَا سَارِقَ اللّيلةَ أهلَ الدّارِ مَعناهُ مَلك الأُمورِ يَوم الدّين).

ترجمه: اضافت د اسم فاعل ئې ظرف ته کړی دی له وجهې قائم کولو د يوم په مقام د مفعول به کې په طريقه د پراخې لکه دا ترکيب ای غلاکونکيه د شپې د اهل دار نه معنی د دې دا چې مالک د امورو د ورځې د جزاء دی.

تشريح: دلته يو اعتراض وارديږي هغه دا چې مَالک صيغه د اسم فاعل دی دا مضاف دی او يوم الدّين مضاف اليه دی او دلته اضافت د اسم فاعل خپل معمول ته شوی ځکه يوم ظرف دی تسوع پکې شويده جار مجرى د مفعول دی يعنې يوم مفعول به دی نو مالک صيغه د اسم فاعل دی خپل مفعول ته مضاف شوي او اسم فاعل چې خپل مفعول ته مضاف شي هغې ته اضافت لفظي وائي نو په مالک يوم الدّين کې اضافت لفظي راغی او اضافت لفظي خو افاده د تعريف نه راولي نو په صفت کې تعريف نشته چې مالک دی او په موصوف کې شته چې لفظ د الله جلّ جلاله دی نو مطابقت رانغلو په مابين د صفت او موصوف کې ؟

(۱)**جواب**: مالک صيغه د اسم فاعل دی خو د دې معمول يوم الدّين نه دی نو خپل معمول ته نه دی مضاف شوی بلکه غير معمول ته مضاف شوی چې الامور دي مالک الامور يوم الدّين لفظ د يوم توسعاً د هغې قايم مقام ګرځول شوی دی لکه څنګه په «ياسارق الليلة اهل الدار» کې لفظ د ليلة کوم چې ظرف دی قايم مقام د مال مسروقه دی اصل عبارت داسې دی (ياسارق المال فى الليلة)نو چې اضافت د اسم فاعل خپل معمول ته ونشي هلته اضافت معنوي راځي او هغه افاده د تعريف او تخصيص کوي نو مطابقت راغی په صفت او موصوف کې.

(۲)**جواب**: صيغه د اسم فاعل چې مضاف شي خپل معمول ته هلته اضافت لفظي وي خو هغه وخت چې دا صيغه د اسم فاعل په معنی د حال يا استقبال سره وي او دلته په معنی د فعل ماضي سره ده.

(۳)**جواب**: صيغه د اسم فاعل چې مضاف شي خپل معمول ته هلته اضافت لفظي وي خو هغه وخت چې دا صيغه د اسم فاعل په معنی د حال يا استقبال سره او دلته په معنی د استمرار سره دی

سوال: صيغه د اسم فاعل لکه تاسو په ميرزاهد کې ويلي چې حرف مشتقي قيام د مبدأ غواړي لکه تا ته زه ضارب وايم نو دلته درې صورتونه دي يا به په معنی ماضي کې ظرف وي يا به ئې په استقبال کې ظرف کوي يا به فى الحال مباشر له ظرف سره وي که په استقبال کې دی ظرف کوي او اوس زه درته ضارب وايم نو دا مجاز دی اتفاقًا او که په ماضي کې ئې ظرف کوي او اوس

زه درته ضارب وايم نو وائ چې دا مجاز دی اختلافًا او که په حال کې ئې ظرف کوي نو دا حقيقت دی نو مالک همداسې دی که په استقبال کې ظرف کې او اوس ورته مالک وايي دا به مجازوي ؟

جواب : د مالک دا معنا نه دی چې په استقبال کې مالک ـ ی بلکه معنا دادی چې په ماضي کې مالک شوی او په حال کې هم مالک دی اینده به هم مالک وي.

سوال: ته وائې چې مالک يوم الدّين مالک دی له اوس نه د امورو د ورځې د جزاء او امورو د قيامت خو لانشته نو د څه شي مالک دی؟

تفسيربيضاوي: (عَلٰى طَرِيْقَةِ(وَنَادى اصحاب الجنّة ﴿١﴾ أَوْ لَهُ الْمُلْک فِى هَذ الْيَوْمِ على وَجْه الِاستِمرَار لِتكونَ الاضافَةُ حَقيقِيَّةً مُعِدّةً لِوُقوعِه صفَّةً لِلمَعرفة)

ترجمه: په طريقه د دې آيت چې وَنَادَى اَصحَابَ الجَنَّة) اواز به وو کې صاحبان د جنت او يا ده (الله) لره باذشاهي ده په دې ورځ په طريقې د دوام سره د دې لپاره چې اضافت حقيقي شي کوم چې په «مالک» کې د معرفې لپاره د صفت واقع کېدو صلاحيت پيدا کوي.

تشريح: جواب دا له وجهې دتحقق د وقوع نه يې تعبير په ماضي شوی يعنې کالمتحقق دی لکه په دې آيت کې نَادَی ماضي دی او حال دا چې دوی به اواز ه د قيامت نه روسته کوي.

دا هغه دريم جواب دی او له اضافت حقيقي څخه مراد د اضافت معنوي دی. او دا هم دفعه د اعتراض ده هغه دا چې مالک يوم الدين صفت د «الله» واقع شوی دی او هغه معرفه ده او دا جمله نکره ده نو مطابقت په مابين د صفت او موصوف کې رانغلو نو دا جواب ورکوي چې ستا اعتراض به هغه وخت وارد و چې دا اضافت لفظي وای بلکې دا اضافت معنوي ده او اضافت معنوي تعريف فايده کوي. کما مرا.

---

(١):- سورة الاعراف: آية ٤٤.

تفسیر بیضاوي: (وَقِيْلَ الدِّيْنُ الشَّرِيْعَةُ وَقِيلَ الطَّاعَةُ وَالمعنى يومُ جزَاءِ الدِّينِ).

ترجمه: او چا ويلي چې دين په معنى د شريعت دى اوچا ويلي چې دين اطاعت ته وائي او معنى ئي داده چې مالک د روځې د جزاء د شريعت اويا مالک دورځې د جزاء د اطاعت.

تشريح دريم بحث: دا دوه معانې ئې د دين روسته ذكر كړې ځكه په دې كې حذف د مضاف ته ضرورت دى.

د دين ، ملة ، اسلام او شريعت ترمنځ فرق

دين ، ملة، اسلام او شريعت معنى واحده ده فرق يكې اعتباري دى:

(۱). ملة ورته په دې اعتبار وايي (لانه تكتب وتملى) يعنې چې د دې كتابت او املاء كيږي.

(۲). او دين ورته په دې اعتبار سره وايي چې په دې كې جزا او بدله داعمالو وركولى شي.

(۳). اسلام ورته په دې اعتبار سره وايي چې په د دې انقياد او تابعداري كيږي.

(۴). او شريعت ورته په دې اعتبار سره وايي چې دا واضحه او ظاهره لار دى.

سوال: دين په معنى د شريعت او طاعت نه صحيح كې ځكه بيا به معنى داشي (مالک يوم شريعت) او (مالک يوم طاعت)

جواب: دلته ته حذف د مضاف دى يعنې مالک يوم جزاء الشريعت و مالک يوم جزاء الطاعت.

تفسیر بیضاوي: (وتَخصيصِ اليَومِ بِالاضافةِ اِمَّا لِتعظيمِه أَو لِتفَرُّدِهِ تعالى بِنفُوذِ الأُمُورِ فيهِ).

ترجمه: او تخصيص د يوم په اضافت سره يا خو له وجې د عظمت د يوم دى او يا له دې وجې نه چې په دغې ورځ به يوازې د الله امر نافذيږي.

تشريح: داعبارت دفعه ديو اعتراض ذ هغه دى

سوال: مالكيت د الله جلّ جلاله يې ولې خاص كړ تر ورځ د قيامت پورې، الله جلّ جلاله لكه څنګه چې دورځې دقيامت مالک دى دغسې د غير قيامت هم مالک دى يعنې دټولو امكنه وو او ازمنه وو مالک دى؟

قاضي (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) د دې لپاره دوه جوابه كوي :

اول جواب: دا چې ديکې عظمت ته اشاره دی چې د آخرت تصرفات په مقابل د تصرفاتو دنيا کې عظيم دي.

دوهم جواب: په دنيا کې حقيقي مالک الله جلّ جلاله دی خو مجازي مالکان هم شته اما په آخرت کې مجازي مالکان نشته هلته به تصرف د الله جلّ جلاله وي يعنې هلته بل نه ظاهري بادشاه شته او نه باطني شته يوازې به دالله جلّ جلاله امر نافذيږي.

تفسير بيضاوي: (وَإجراءُ هذهِ الأَوصافِ على اللهِ تَعالى مِن كوْنهِ مُوجِداً لِلعَالمينَ رَبّاً لَهم مُنعِمًا عَليهِم بِالنَّعِمِ كُلِّها ظاهِرِهَا وبَاطِنها عَاجِلِها وَأَجِلِها مَالِكًا لأُمُورِ هم يَوم الثَّوابِ والعِقابِ لِدَّلالةِ عَلى أَنّه الحقيقُ بالحمدِ لاأَحدٌ أَحقُّ بهِ منهُ).

ترجمه: او صدق د دې اوصافو په الله جلّ جلاله باندې نه دې وجهې دی چې الله جلّ جلاله ايجاد کونکی د مخلوقاتو دی چې پالونکی د دوی دی انعام کونکی په دوی دی په نعمتونو ټولو سره که ظاهر انعامات دي که باطن دی نقد دي که نيټه دار دي او مالک د دوی دی د امورو په ورځ د ثواب او عقاب لپاره د دلالت کولو په دې خبره چې الله جلّ جلاله حقدار د حمد دی او بل هيڅوک د الله جلّ جلاله نه حقدار د زيادت حمد نه دی.

تشريح: دلته مصنف د دغه څلور اوصاف چې (۱) ربّ العالمين دی(۲) الرّحمن(۳) الرّحيم (۴) مالک يوم الدّين دی د ذکر کولو او د خاص کولو تر الله جلّ جلاله پورې وجه او لامل بيانوي.

منطوق او مفهوم د صفاتو

يو منطوق دی د دې اوصافو دی او بل مفهوم دی:

منطوق: دا دی چې معبود به هغه څوک وي چې ربّ العالمين وي الرّحمن وي الرّحيم وي مالک يوم الدّين وي.

مفهوم: دا دی چې په چاکې دا څلور صفته نه وي هغه مستحق د عبادت نه دي د شوافعو په نزد خو مفهوم باندې څه اشکال نه راځي ځکه شوافع مفهوم مخالف معتبروي احناف خو د مفهوم

مخالف قایل نه دي نو بیا له دې ایت نه څنګه د غیر د استحقاق نفي رافهموي په ایت کې خو صرف د ذات د باري تعالی لپاره استحقاق د حمد ثابت دی او له غیر نه نفي نه دی راغلې.

جواب: دا څلور صفته علت د عبادت شو او په انتفاء د علت سره انتفاء د معلول راځي نو چې دا اوصاف اربعه په چاکې نه له هغه څخه به استحقاق د عبادت هم منفي وي.

(من كونه موجدا للعالمين) داول صفت دی.

سوال: موجدا للعالمین خو مخکې په صفاتو کې نه دی ذکر شوې ؟

جواب: فرمائي چې ربّ په موجد دلالت کوي هغه داسې چې رَب وائې: «تبليغ الشئ الى كماله شيئًا فشيئًا» نو په صفاتو کې الله پاک انسان کمال ته رسوي يعنې په توابعو کې يې کمال ته رسوي او په توابعو کې کمال ته هغه ځوک رسول کوي چې په متبوع کې ئې کمال ته رسوي او په متبوع کې کمال ته رسول ايجاد دی نو د «رب العالمين» معنا شوه موجد العالمين.

او د الرحمن الرحيم نه دا خبره ثابته شوه چې الله تعالی د ټولو انعاماتو منعِم دی هغه كه ظاهر سره تعلق لري او كه باطن سره قوري نعمتونه دي كه نېټه دار دي ، او له مالک یوم الدین څخه دا ثابته شوه چې الله جل جلاله د تمام عالم د امورو مالک دی .

په دې (لَاأَحدٌ أَحقُّ بِهِ منهُ) عبارت سره معترض اعتراض کوي هغه دا چې

سوال: احقّ خو صيغه د اسم تفضيل دی معنا يې دا چې زيات حقدار نشته ،په دې سره خو تا نفی د زيات حقدار وکړه د مطلق حقدار نفي خو دې ونکړه يعنې مطلق حقدار د حمد خو شته!!

جواب: په لاندې عبارت سره جواب کوي هغه داسې چې په حقيقت کې د نفس استحقاق د حمد هم په حقیقت کې غير الله ته نه دی ثابت نو دلته حصر د استحقاق د حمد د واجب تعالی لپاره حقيقي دی

تفسير بيضاوي: (بَل لَايستحِقُّه عَلَى الحَقِيقةِ سِواهُ فَانَّ تَرتِيبَ الحُكم على الوَصْفِ يُشعرُ بِعِليّتِهِ لَه)

ترجمه: بلکه مستحق د حمد په حقيقت کې سواه د الله جلّ جلاله نه بل څوک نشته ځکه

ترتب په وصف تنبه كونكى وي په علت د دغې وصف حكم لره (د حكم نه مراد حمد دی او وصف نه داخلو صفات دي)

تشريح: دا عبارت اصلاً د ريې قاعدې په طرف اشاره دی.

قاعده: يو حكم چې مرتب شي په مشتقي باندې نو مبدأ الاشتقاق (مصدر) د دې مشتقې د دغه حكم لپاره علت وي ټول محامد الله جلّ جلاله لره دي ځكه الله جل جلاله پالونكى د ټولو مخلوقاتو لپاره دی اكتساب درب الله جل جلاله لره دی نو دلته علت ربوبيّة شو نو په الرّحمن الرّحيم كې هم دغه خبره دی نو ترجمه به داكوې چې الله جلّ جلاله رحمن او رحيم دی ولې ؟ لرّحمانيّة ولرحيميّته علت يې رحمانيت او رحيميت دی اومالک يوم الدّين دی ولې؟ لمالكليته علت يې مالكيت دی نو دا ټول صفات به مجموعه علت وي لپاره د استحقاق د حمد او په غيز كې به د دې ټولو اوصافو يو فرد هم نه موندل كيږي.

تفسير بيضاوي: (وَلِلإِشْعارِ مِن طريقِ المَفْهومِ عَلى أَنَّ منْ لمْ يَتَّصِفْ بِتِلك الصِّفاتِ لَايَستَأْهلُ لأَنْ يُحْمَدَ فضلًا عنْ أَنْ يُعبَدَ لِيكونَ دلِيلًا على مَابَعدَهُ).

ترجمه: او دا لپاره تنبه د مفهوم مخالف دی نو څوک چې په دغه صفاتو مذكوره وو متصف نه وي هغه د حمد كولو لائق هم نه وي لا زياتي دا چې عبادت ئي وكړى شي چې شي دليل په مابعد باندې.

تشريح: اى و اجراء هذه الاوصاف على الله للاشعار. په اشعار سره مراد د قاضي (رَحِمَهُ اللهُ) سلب لازم د اشعار دى هغه داسې چې تربية علت دى او خاص دى تر الله جل جلاله پورې اشاره دېته دى چې غير لره حمد مختص نه دى ځكه عدم علت مستلزم دى عدم معلول لره چې هغه (غير) مربى نه دى ، تربية علت دى او اختصاص د حمد معلول دى چې غير لره غلت (تربيه) ثابت نه شو نو معلوليت هم ورلره ثابت نشو چې حمد دى او دا خبره چې غير لره اختصاص د محامدو ولې نشته ؟ هغه ځكه چې غير لره تفضل (رحمانية او رحيمية) نشته چې علت د اختصاص د محامدو دى.

(لِيكونَ دلِيلًا على مَابَعدَهُ) له مابعد نه مراد اياک نعبد دى نو دا نفي د حمد د غيرنه دى د راروان تخصيص لپاره دليل دى چې يا الله خاص تا ته بندگي كوو.

تفسیر بیضاوي: (فَالوَصف الأَوَّل لِبيانِ مَا هو المُوجِبُ لِلحمدِ و هو اِيجادُ وَالتَّربِيَةِ وَالثَّاني وَالثَّالثُ لِلدلالَةِ عَلى أَنَّهُ مُتفضِّلٌ بِذالک مُختَار فِيهِ).

ترجمه: نو وصف اول چې رب دی لپاره د بیان : هر هغه شي دی چې موجب د حمد دی چې هغه ایجاد او تربیت دی او وصف ثاني او ثالث چې رحمن او رحیم دی لپاره دلالت کولو چې الله جلّ جلاله مهربان دی په مخلوق باندې او دې مهرباني کې اختیارمند دی.

تشریح: تر دې ځایه اجمالي فواید بیان شول اوس تفصیل کوي نو فرمایي چې وصف اول چې رب العالمین دی په ایجاد او تربیت دلالت کوي او ایجاد او تربیت موجب د حمد دی نو باري تعالی ته د استحقاق د حمد ثابت دی.

او دویم او دریم وصف چې رحمن او رحیم دي په دې دلالت کوي چې الله تعالی په خپلو انعاماتو کې مختار دی انعام په د تفضل او احسان په طور کوي.

او د مصنّف دا عبارت توطیه او تمهید دی لپاره د رد کولو په هغه دوه فرقو وو چې فلاسفه او معتزله دي نو په دې سره په دواړو فرقو باندې ردّ کوي.

(رد په فلاسفه او معتزله وو)

فلاسفه او معتزله وائي چې الله جلّ جلاله په صدور د مخلوق کې یعنې پیدا کولو کې مضطر دی یعنې غیر اختیاري ترینه صادر شوي دي لکه رڼا له لمر نه چې غیر اختیاري صادره شوي ده دغه شان معتزله وائي بدله د اعمالو حسنه وو په الله جلّ جلاله واجب ده نو مصنّف په دې عبارت سره پرې رد وکړ.

تفسیر بیضاوي: (لَيسَ يَصدُرُ منهُ لِايجَابٍ بِالذّات أَو وُجوبٍ عَليهِ قِضيةٍ بِسَوَابِقِ الأَعمالِ حتّى يستحقّ بهٖ الحمد).

ترجمه: دا تفضل او ایجادات د الله جلّ جلاله نه په سبب د ایجاب بالذات نه صادریږي (اضطرارًا) یا د دې تفضل وجوب په الله جلّ جلاله باندې نشته د وجهې د تقاضا د سابقو اعمالو تر دې چې الله جلّ جلاله دې تفضل سره مستحق د حمد اوګرځي.

تشريح: دا «قصيه سوابق الاعمال» د «وجوب عليه» لپاره علت دی معتزله وائي چې جزاء د اعمالو په الله جلّ جلاله باندې واجبه ده ثواب د مطيع او عقاب د عاصي په الله جلّ جلاله واجب دی لکه چې ثواب د مطيع په الله جلّ جلاله واجب شو نو بيا خو دا تقاضا د عمل د مطيع شوه نو الله جلّ جلاله لپاره خو تفضل ثابت نشو چې تفضل ورلره ثابت نشو نو الله جلّ جلاله لائق د حمد هم و نه ګرځيده.

حتّى يستحق به الحمد د «مختار فيه» پورې متعلق دی.

تفسير بيضاوي: (وَالرَّابِعُ لِتَحقيقِ الاِختِصاصِ فاِنّه مِمّا لَايقبل الشَّرْكَةَ فيه وَتَضمِينُ الوَعدِ لِلحَامِدينَ والوَعِيد لِلمُعرضِينَ).

ترجمه: څلورم صفت مالک يوم الدّين د تحقيق د اختصاص لپاره ذکر دی ځکه دا آخرنی صفت دی د هغه صفاتو نه چې په هغې کې هيڅ طريقه د اشتراک نشي قبليدلی (په يوم الجزاء کې به د بل چا تصرف نه وي) دې کې حامدينو ته ضمانت د وعدې ده او مخ اړوونکو ته وعيد دی.

تشريح: څلورم صفت مالک يوم الدين تخصيص د حمد کوي تر الله جل جلاله پورې ځکه کله چې استحقاق د حمد په مالک يوم الدين باندې مرتب شو د يوم الدين مالک کيدل علت دی د استحقاق د حمد لپاره او دا علت په غير کې هيڅکله نه حقيقتا او نه ظاهرا موندلی نو معلومه شوه چې حمد تر الله تعالى پورې خاص دی او په دې صفت کې حامدينو سره وعده ده او معرضينو عن الحمد لپاره وعيد دی په دې طريقه چې کله الله تعالى مالک د يوم الجزاء دی نو څوک چې د هغه حمد کوي هغه ته ثواب ورکوي او څوک چې اعراض کوي نو هغه ته عقاب ورکوي.

د «إِيّاكَ نَعبُدُ» تحقيق

تفسير بيضاوي: (إِيَّاكَ نَعبُد و إِيّاک نَسْتعِين ثُمّ اَنّه لَمّا ذَكرَ الحَقِيقَ بِالحمْدِ وَ وَصفَ بِصفاتِ عِظامٍ تَمَيّز بِها عن سَائِرِ الذّواتِ وتَعلّق العِلمَ بِمَعلومٍ مُعيّن خُوطِبَ بذالك أىْ يَا مَنْ هذا شأْنُهُ نَخُصُّک بالعبادةِ وَالِاستعَانةِ)

ترجمه: خاص تا لره عبادت کوو او خاص تا نه مدد غواړو بيا شان داسې دی چې کله يې الله جلّ جلاله حقيق بالحمد ذکر کړ بيا ئي لويو لويو صفاتو سره موصوف کړ د ټولو ذواتونه جدا

وګرځیده او علم د مخاطب په معلوم متعین پورې متعلق شو په (ایاک نعبد وایاک نستعین سره) ئې خطاب وکړی شو معنا دا شوه ای هغه ذات! چې دا څلور صفات په تاکې موجود دي مونږ تا خاص کوو په عبادت او استعانت سره.

تشریح: دلته دوه اجزاء دي لومړی (ایاک نعبد) دویم (ایاک نستعین) قاضي بیضاوی رحمه الله په ایاک نعبد کې درې بحثه کوي.

(۱) په کاف د ایاک کې (۲) په مجموعه دایاک کې (۳) په تقدیم د ایاک په نعبد باندې او په تقدیم د ایّاک په نستعین باندې.

لومړی بحث: بیا په کاف دایّاک کې دوه تحقیقه دي.

اول دا کاف د خطاب لپاره دی نو په دې اعتراض راځي هغه دا:

سوال: مخکې چې کومې صیغې تیرې شوې دي هغه د غائب وې ځکه هغه اسم ظاهر وو او اسم ظاهر صیغه د غائب وي لکه الحمد لله نه تر مالک یوم الدّین پورې او په ایّاک کې دا کاف د خطاب لپاره دی یعنې صیغه د خطاب ده د دې صیغې د خطاب لپاره مجوّز څه شی دی او مرجّح څه شی دی؟

جواب: مصنف رحمه الله (ثُمّ انّه لَمّا ذَکر الحَقِیقَ بِالحمْدِ وَ وَصفَ بِصفاتٍ) سره دلته اوس د صیغې خطاب لپاره یو مجوّز او بل مرجح ذکر کوي خو مجوّز چې بیانوي دا په دوه ذوقونو سره بیانوي یو په ذوق د بلاغت او بل په ذوق د صوفیه کرامو.

مجوّز: دا چې مخکې څلور صفات د الله جلّ جلاله ذکر شوه (۱) ربّ العالمین (۲) الرّحمن (۳) الرّحیم (۴) مالک یوم الدّین دا څلور واړه الله جلّ جلاله پورې خاص وه او دا څلور صفات خو ظاهرًا او باطنًا الله جلّ جلاله پورې خاص وو نو په دې څلورو صفاتو الله جلّ جلاله د کل ماعدانه ممتاز او معلوم شو نو دا امتیاز (معلومیت) نازل شو په منزله د مشاهده والي او مشاهدې ته صیغه دخطاب استعمالیږي نو ځکه ئې دلته صیغه د خطاب راوړه چې کاف دی (ک) او دا «خوطب» جواب د «لمّا» دی.

نخصّک بالعبادت والاستعانة د ایّاک نعبد او ایّاک نستعین حاصل دی او دا د ابن عبّاس (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه نقل دی یعني مور تا په عبادت او استعانت سره خاص کوو .

قاعده: په باب دتخصیص کې دا قاعده ده چې باء په مقصورعلیه داخله وي نه په مقصور او دلته بالعکس شوی نو اصل عبارت داسې پکار وه «و یا مَن هو شأنه نخصّ العبادة بک» الله جلّ جلاله خو په عبادت پورې خاص نه دی ځکه له عبادت نه پرته نور هم ډیر کارونه دي نو وائي دا مجاز دی دا قسم مجاز په حروفو او جملو کې له محسناتو د کلام څخه وي د معنی لپاره به کلام اصل او حقیقت ته رد کوي چې هغه نخصّ العبادة بک دی الله جلّ جلاله عبادت پورې خاص نه دی بلکه عبادت الله جلّ جلاله پورې خاص دی.

تردې ځایه نکته دمجوّز بیان شوه.

تفسیر بیضاوي: (لِیکونَ أَدَلَّ علی الاِخْتِصَاصِ)

ترجمه: لپاره د دې چې دا طریقه د خطاب ډیر دلالت وکړي په اختصاص.

تشریح: په دې سره نکته د مرجح بیانوي هغه داسې که ایّاهُ نعبد ووایو نو هم اختصاص دی که ایّاک نعبد ووایو هم اختصاص دی په دواړو کې اختصاص دی ځکه چې په دواړو کې تقدیم معمول راغلی په عامل باندې او دا تقدیم د ماحقّه التّأخیر دی او تقدیم د ماحقّه التّأخیر یفید الحصر و الاختصاص.

خو دا صیغه د غائب (ایّاه) دي ولې ذکر نکړه او صیغه د خطاب چې (ایّاک) دي ذکر کړه دا ځکه چې په لفظ کې عبادت (نعبد) په کاف مرتب دی او کاف قائم مقام د تمیز بالاوصاف دی نو د تمیز بالاوصاف له وجهې نه یې کاف خطابي راوړی دی نو خلاصه دا چې دا عبادت مرتب په تمیز بالاوصاف دی نو دا تمیز بالاوصاف ورته علت شو دا علت الله جلّ جلا له پورې خاص دی نو دا معلول هم د الله جلّ جلاله پورې خاص شو نو دا په صیغې د خطاب کې دلیل د تخصیص دی او په صیغې د غائب کې دلیل د تخصیص نشته نو ځکه صیغه د خطاب اَدَلّ علی الاختصاص دی او په صیغې د غائب کې مجرّد او نفس اختصاص دی.

تفسیر بیضاوي: (وَللتَّرقِي مِن البُرهانِ اِلی العِیانِ وَ الانْتقَالُ مِن الغِیبَةِ إلی الشُّهودِ
فَكأَنَّ المَعلومُ صارَ عَیَانًا وَالمَعقولُ مَشَاهدًا وَالغیبةُ حضورًا) 12

ترجمه: او لپاره د دې چې ترقي شي له برهان نه عیان (لیدلو سترګو) ته او لپاره د دې چې دا خطاب انتقال کول شي له غائب نه حاضر ته ګویا چې دا معلوم (الله جلّ جلاله) وګرځید چشم دید (په سترګو لیدلی) او معقول (الله جلّ جلاله) محسوس وګرځید او غائب حاضر وګرځید.

تشریح: په دې عبارت کې دوه احتماله دي اول دا چې دا (للترقی) په لیکون ورعطف کړې نو بیا دا دوهمه نکته مرجحه ده لپاره د صیغې د خطاب معنی به دا شي چې صیغه د خطاب ئې ځکه راوړه لومړی: لیکون اَدَلّ علی الاختصاص دویم له دې وجهې: للترقی من البرهان الی العیان او که دا (للتَرق من البرهان) په اختصاص ورعطف کړې بیا په دا دواړو کې یوه نکته مرجّحه ده نو معنی به دا شي لیکون ادلّ علی الاختصاص او لیکون الترقی من البرهان الی العیان.

او بعض علماء وائې چې دا نتقال من الغیبة الی الشهود بعینه ترقی من البرهان الی العیان دی هیڅ فرق نشته په مابین د دې کې او بعض فرمائې چې فرق کې شته لکه محشّی صاحب چې فرق کړی دی هغه داسې چې په دې حیثیت چې دا صفات د الله جلّ جلاله دلالت کوي په آیاتو افاقیه وو انفسیه وو نو په دې حیثیت بیا دا افاده من البرهان الی العیان ده.

او په دې حیثیت چې هریو صفت امتیاز راولي د الله جلّ جلاله د کل ماعدا نه نو په دې کې انتقال دی غیبت نه شهود ته.

(فکأَنَّ المَعلومُ صارَ عَیَانًا) دې عبارت سره په ماقبل تفریع کوي هغه داسې چې کوم شی چې په درجه د علم کې و هغه په درجه د عیان کې شو او کوم چې په درجه د عقل کې و هغه په درجه د مشاهدې کې شو او کوم چې په درجه د غیبت کې و هغه په درجه د حضور کې شو نو فایده د تفریع دا شوه چې کوم شي طرفته طرقي کولی شي هغه په درجه د خطاب هغه وخت راځي چې کله د هغې مشاهده وشي.

تفسیر بیضاوي: (بَنى أَوَّلَ الْكَلَامِ على مَا هُو مَبادِی حالَ العَارِفِ مِن الذِّكرِ والفِكرِ وَالتَّأَمُّل فی أَسمَآیِه والنَّظر فی آلائِه وَالِاستِدلَال بصنَائِعِهِ فی عَظِیمِ شَأنه وَبَاهرِ سُلطانِه

ثُمّ قَفى بِما هو مُنْتهى أمرِه وَ هوَ أنْ يَخُوضَ لجّةَ الوصولِ وبصيرَ منْ أهلِ الْمشاهَدَةِ فَيَراهُ عيانًا ويناجِيه شفاهًا).

ترجمه: بناء ئې کړ اول د کلام په هغه طريقه چې هغه طريقه شروع د حال د عارف ذکر او فکر دی او سوچ کول په نعمتونو د الله جلّ جلاله کې او استدلال په مخلوق د الله جلّ جلاله په عظمت شان د الله جلّ جلاله او په ظاهري بادشاهي د الله جلّ جلاله کې بيا وروسته وې هرهغه شئ چې منتهى د امر د عارف وي چې په څپو د وصول الى الله کې داخل شي بيا د اهل مشاهدې نه وګرځي سترګو سره ئې وينې (په سترګو دزړه سره) او مخامخ ورسره مناجات کوي.

تشريح: تر دې ځايه پورې دا نکتې په ذوق د بلغاءوو بيان شوې اوس ئې په ذوق د صوفيه کرامو بيانوي.

صوفي په دوه قسمه دی

صوفي په دوه قسمه دی (۱) صوفي مبتدي (۲) صوفي منتهي.

صوفي مبتدي: مبتدي هغه صوفي ته وائې (فان لَم تَكن تراه فانّه يراک) که چيرته ته الله لره نه وينې نو الله جلّ جلاله خو تا وينې، دا د مبتدي مرتبه ده.

صوفي منتهي: منتهي هغه صوفي ته وائي (ان تعبد الله كانّک تراه[1]) چې ته د الله جل جلاله داسې عبادت وکړه ګويا که ته الله لره وينې دا ده منتهي مرتبه ده.

(۱):- حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا أَبُو حَيَّانَ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَارِزًا يَوْمًا لِلنَّاسِ، فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ: مَا الإِيمَانُ؟ قَالَ: «الإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَبِلِقَائِهِ، وَرُسُلِهِ وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ». قَالَ: مَا الإِسْلاَمُ؟ قَالَ: " الإِسْلاَمُ: أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ، وَلاَ تُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمَ الصَّلاَةَ، وَتُؤَدِّيَ الزَّكَاةَ المَفْرُوضَةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ ". قَالَ: مَا الإِحْسَانُ؟ قَالَ: «أَنْ تَعْبُدَ اللَّهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ»، قَالَ: مَتَى السَّاعَةُ؟ قَالَ: " مَا المَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ، وَسَأُخْبِرُكَ عَنْ أَشْرَاطِهَا: إِذَا وَلَدَتِ الأَمَةُ رَبَّهَا، وَإِذَا تَطَاوَلَ رُعَاةُ الإِبِلِ البُهْمُ فِي البُنْيَانِ، فِي خَمْسٍ لاَ يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ " ثُمَّ تَلاَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ} [لقمان: ٣٤] الآيَةَ، ثُمَّ أَدْبَرَ فَقَالَ: «رُدُّوهُ» فَلَمْ يَرَوْا شَيْئًا، فَقَالَ: «هَذَا جِبْرِيلُ جَاءَ يُعَلِّمُ النَّاسَ دِينَهُمْ» قَالَ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ: جَعَلَ ذَلِكَ كُلَّهُ مِنَ الإِيمَانِ رواه صحيح البخاري ١/ ١٩رقم الحديث : ٥٠

حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي چې (ان تعبدالله كانک تراه) داحالت دمراقبې دی او(فان لَم تكن تراه فانّه يراک) داحالت دمشاهدې دی .فتح الباری

نه «الحَمْد» نه تر «مَالِک يوم الدّين» د مبتدي مرتبه ده او «ايّاک نعبد وايّاک نستعين» د منتهي مرتبه دى

(وَهوَ أنْ يَخُوضَ لجَةَ الوصولِ) ک «هو» ضمير راجع دى منتهي ته يعنې دا منتهي چې ورننوځي په څپو او سمندر وصل الى الله کې تردې چې مشاهد وګرځې دې ته وحدت الشهود وائي او صوفيه کرام ورته وحدت الوجود وائي.

وحدة الوجود او وحدة الشهُود

د وحدت الشهود مثال داسې دى لکه د شپې مونږ ته ستورې ښکاري خو دورځې نه ښکاري او حال دا چې د ورځې هم ستوري موجود وي او يو ستورى د ځمکې نه څوچنده غټ دى خو چې نه ښکاري دا د لمر په مقابل کې نه ښکاري نو ته وائي چې ستوري نشته دغسې صوفيه کرام هم داسې دي چې د الله جلّ جلاله د وجود په مقابل کې دا نور وجودونه ورته نه ښکاري نو دوى وائي چې نور وجودونه ماسوا د الله جلّ جلاله نه نشته.

لکه شاعر وائي:

کلّ مافى الکون وهم اوخيال................ اوعکوس فى مرايا اوظلّا [1]

او ديته بيا صوفيه کرام حال وائي.

تفسير بيضاوي: (أللّهُمَّ اجْعَلنَا مِن الوَاصِلين لِلعَين دُونَ السَّامعينَ لِلاثرِ).

ترجمه: اې الله جلّ جلاله ته مونږ وګرځوې له واصلين للعين (چشم ديد) نه له او ريدونکو لپاره د قيصويعنې چې ستا ديداريې نه وي کړى.

تشريح: کوم خلک چې مخلوق ترک کړي او خالق ته متوجې شي هغه په درې قسمه دي:

(۱) سالک (۲) عارف (۳) واصل.

---

(۱):- بل بيت ئي داسې دى : لاح فى الظلّ الکون وهم اوخيال... لاتکن حيران فى تيه الضلال بل عارف بالله بيا وائي: انّما الکون خيال وهو حق فى الحقيقة... بل من قال بهذا. جاز اسرار الطريقة.(نثرالدر وبسطه فى بيان کون العلم نقطة: ۱۸.)

سالک: هغه کس ته وايي چې خپل ظاهر له بدو اخلاقو پاک کړي او خپل باطن هم له اوصافو رزیله و څخه صفا کړي، د سالک ابتداء له په شریعت باندې ابتداء څخه وي او انتهایي په اخلاق حسنه و ځان مزین کول دي.

عارف: هغه کس ته وايي چې د الله تعالی د معرفت قصد وکړي.

واصل: هغه کس ته وايي چې هغه ته مقام د مشاهدې حاصل وي.

او مشاهده هغه حالت ته وايي چې کوم چې بنده لره د الله تعالی طرفته له مکمل توجو نه روسته حاصلیږي نو د عارف د واصل ابتدار دی او د واصل درجه غیر متناهیة دی ځکه معرفت کې سیر الی الله کیږي یعني د ټول مخلوق پرېښودل او الله تعالی طرفته متوجې کیدل او مخلوق متناهي دی او په وصول کې ابتداء شوي وي له د سیر فی الله نه یعني د الله تعالی په اسماء او صفاتو کې مشغولیدل دي او اسماء او صفات د الله تعالی غیر متناهي دي نو ځکه درجه د واص غیر متناهي دی.

تفسیر بیضاوي: (وَ مِن عَادَةِ العَرَبِ التَّفَنُّن فی الكَلَامِ وَالعُدولُ مِن أَسلُوبِ الی آخر تَطرِیۃً لهُ وتَنشِیطًا لِلسّامعِ فَیَعدِلُ من الخِطابِ الی الغِیبَة وَمن الغِیبَة اِلیٰ التَّكلُّم وَبالعَكس كقوله تعالی (حَتّیٰ اِذَا كُنتُم فِی الفُلک وجَرَیْن بِهِم [1])

ترجمه: بعض د عاداتو د عربونه د کلام قسما قسم کول دی او دوی عدول او انتقال کوي د یوې طریقې نه بلې طریقې ته لپاره تجدید د کلام او لپاره د تشویق د سامع، له مخاطب نه غائب ته عدول کوي او له غائب نه متکلم ته او په عکس سره لکه دا قول د الله جلّ جلاله کله چې تاسو کشتۍ کې کیني او جاري شي په دوی.

تشریح: دلته مصنف د علم معاني یوه مسئله ذکر کوي کومې ته چې التفات وايي.

په عبارت کې مختلفې طریقې کارول لپاره د تحسین د کلام او لپاره د سامع د خوشالۍ دیته التفات وايي.

---

(۱):- سورة یونس: آیة ۲۲.

د التفات په تعریف کې د علامه سکاکي او جمهورو اختلاف دي جمهور فرمايي چې په طرقو ثلاثه و د تعبير کې په يوه طريقه کلام تعبيرولو نه روسته بله طريقه د تعبير اختيارولو ته التفات وايي يعنې شرط په التفات کې دا دی چې دواړه صيغې (له کومې چې التفات شوی او کومې ته التفات شوی) به بالفعل په کلام کې ذکر شوي وي ورنه دا التفات نه دی.

او علامه سکاکي فرمايي چې له مقتضا د ظاهر نه خلاف کلام استعمالولو ته التفات وايي د علامه سکاکي[1] په نزد التفات اعم دی که دواړه صيغې بالفعل په کلام کې ذکر شوي وي دا هم التفات دی او که دواړه نه وي ذکر بلکه محل تقاضا د يو صيغې کوله او تا بله صيغه ذکر کړې وه دا هم التفات دی لکه په شعر د امراء القيس کې چې «ليلک» مقام د متکلّم دی ځکه خپل ځانته خطاب کوي نو ليلي پکار وه ده ليلک سره خطاب وکړه نو دا ده جمهورو په نزد التفات نه دی. يعنې د جمهورو په نزد د التفات لپاره سبقت د تعبير شرط دی او د علامه سکاکي په نزد شرط نه دی.

د التفات اقسام

علامه تفتازاني (رَحِمَهُ اللّٰهُ) په مختصر المعاني کې التفات په شپږ قسمه کړی (۱) له غايب نه متکلم ته (۲) له غايب نه مخاطب ته (۳) له مخاطب نه غايب ته (۴) له مخاطب نه متکلم ته (۵) له متکلم نه غايب ته (۶) له متکلم نه مخاطب ته.

تفنّن نوع نوع د کلام ته وائي لکه کله د غائب صيغه ذکر کوي کله د مخاطب کله د متکلّم لکه په دې آيت کې دا تفنن شوی دی چې کُنتم صيغه د مخاطب ده او جرين صيغه د غائب ده عدول ئې مخاطب نه غائب ته کړی.

تفسير بيضاوي: (وَقَوله تعالى وَاللّٰهُ الَّذِى اَرسَلَ الرِّيَاح فَتُثِيْر سَحَابًا فَسُقناهُ[2]).

ترجمه: الله جلّ جلاله هغه ذات دی چې ليږي بادونو لره دا بادونه بيا وريځې پورته کړي داسې علاقوته ئې روانې کړي چې خشکې وي پس خړوب ئې کړي.

---

(۱) سراج الدين ابويعقوب يوسف بن ابى بكر بن محمد بن علي السكاكي الخوارزمي ولد سنة (۵۵۵) هـ وتوفى سنة (۶۲۶) هـ (معجم الادباء)

(۲):- سورة فاطر: آية (۹).

تشریح: دلته انتقال له غائب څخه دی چې ارسل دی متکلم ته چې سقناه دی.

تفسیر بیضاوي: (وقول امرِءُ القَیْس تَطَاوَلَ لَیلُک بالأُثْمد . ونامَ الخليُّ وَلم تَرقُد. . . . وبَاتَ وباتَتْ لهُ لَیلَة کَلیْلَة ذِی العَائِرِ الأرمَدِ وَ ذالِک مِن نَبأ جَائَنِي وَ خُبِرْتُهُ عن أَبِي الأَسْوَدِ)

ترجمه: او لکه دا قول د امراءالقیس شاعر: اوږده شوه شپه ستا (خطاب نفس ته کوي) په اثمد مقام کې او دی (امرءالقیس[1]) ویده شو یوازې د معشوقې نه او خوب ورنه غی ده هم شپه تیره کړه او شپې هم شپه تیره کړه لکه شپه د هغه چاچې صاحب دردناکو چخنو کوونکو سترګو او دا بې قراري له وجې دیو خبروه چې ماته راغلی وو زه خبر شوی وم له دې خبر له ابي الاسود نه..

تشریح: امرءالقیس عربي د جاهلیت د زماني مشهور شاعروو په شعرونو ئي ډیر زیات استدلال کیږي د ده اثمد مقام کې شپه وه هلته ورته خبر ورسید چې پلار دي مړدی د شپې کورته تللی نشو نو خوب نه ورتلو نو دغه خفګان وخت کې ئي له ځان سره خبرې کولې او ویل یې. د اثمد په همزې او میم باندې دوه قسمه حرکتونه جائز دي په کسرې د همزې سره (اِثمد) په فتحې د همزې سره (أثمد) او اثمد په لغت کې هغه کاني ته ویل کیږي چې له کوم نه چې رانجه جوړیږي اوس د یو ځای نوم دی او (الخلي) وایي خالي عن الغم والعشق ته او (عائر) د سترګو لوندوالي ته وایي او (نباء) عظیم الشان خبر ته وایي په شعر کې د جمهورو په نزد دوه التفاته دي لومړي له خطاب نه غیاب ته یعنې له (لیلک) نه د (باتَ) طرفته او دویم له غیاب نه تکلم ته یعنې له (بات) نه (جاءني) ته خو د جمهورو په نزد په (لیلک) کې التفات نشته ځکه له دینه مخکې بله صیغه نشته بلکې دا تجرید دی او علامه سکاکي په نزد دلته هم التفات شته ځکه دا مقام د (تطاول لیلی) دی خو ده (تطاول لیلک) وویل ګویا چې ده خلاف الظاهر کلام وکړو او له عبارت نه هم دا التفات ظاهریږي او د مصنف په نزد هم د علامه سکاکي مذهب راجح دی ځکه که د جمهورو مذهب غوره شي بیا دا مثال راوړل بې فایدې دي.

---

(۱) جندح بن حجر بن حارث الکندي ولد بنجد سنة (۵۰۱)م وتوفی سنة (۵٤۰)م فی الانقرة شاعر الجاهلیة یعد رأس شعراء العرب و اعظم شعراء العرب فی التاریخ (الجامع فی تاریخ ادب العرب) ٦

(ابوالاسود) دا يي د پلار نوم وه يا ابي الاسود د مرکب اسم کنيه دی.

حل اللغات

شمېره	لغات	معنی	شمېره	لغات	معنی
۱	رقد	خوب	۴	خلی	یوازې
۲	نبأ	خبر	۵	عائر	چخښې
۳	فُلک	کشتی	۶	ارمد	دسترګو درد

(دوهم تحقیق په ایّاک کښې)

تفسیر بیضاوي: (و إِیّا ضَمیرُ منصوب مُنْفَصل ،وَمُایلحِقهُ مِن الْیاءِ وَالْکافِ وَ الهاءِ حرُوفٌ زِیدَتْ لِبیانِ التَّکلُّمِ وَالخِطَابِ والْغِیبَةِ لَامَحلّ لَهَا مِن الإعرَابِ کَالتَّاءِ فی أنْتَ و الْکافِ فی أرَئَیتُك)

ترجمه: ایاء ضمیر منصوب منفصل دی او دا چې «یاء» «کاف» او «هاء» حروف دي دا حروف د متکلم او مخاطب او غائب د تمیز لپاره زیات شوي دي د دې د اعراب لپاره محل نشته لکه تاء په انت کښې او کاف په أریتک کښې.

تشریح: مخکښې مونږ ویلي وو چې په ایّاک کښې دوه تحقیقه کوې یو په کاف کښې او دوهم په مجموعه د ایّاک کښې د کاف تحقیق ختم شو او اوس د مجموعې تحقیق کوي، فرمائي چې په ایّاک کښې څلور مذهبه دي.

په ایّاک کښې څلور مذاهب

لومړی دا خبره زده کړه چې د محققینو نحویانو په دې اتفاق دی چې لفظ د (ایا) ضمیر دی خو کاف، یا هاء، یا لفظ د یاء وغیره په اړه امام خلیل وایي چې دا مضاف الیه دي د ضمیر او نور نحات وایي چې دغه حروف دي لامحل لها من الاعراب د غایب، مخاطب او متکلم لپاره زیات کړی شوي دي.

(۱) مذهب: چې ایّاک مرکبه کلمه نه دی بلکه بسیطه کلیمه دی یعنې ایاک ټول ضمیر دی.

(۲) **مذهب**: دا دی چې ايّاک مرکبه کلمه دی چې ايّاک مرکبه کلمه شي نو بيا په دې کې درې مذهبه دي.

(۱) **مذهب**: وايي چې ايّاک دا مرکبه ده له ضمير چې «ايّا» دی او دا کاف له لواحقو د ضمير څخه دی.

(۲) **مذهب**: وايي چې ايّاک مرکبه کلمه دی له ضمير چې (ک) دی او اياء له لوحقو د ضمير څخه دی.

(۳) **مذهب**: دا دی چې دا مرکبه له ضمير چې «ايّا» دی او دا (ک) اسم دی.

(وجه د حصر)

دا ياک به خالي نه وي يابه يوه کلمه وي يابه دوه کلمې وي که يوه کلمه وي دا اول مذهب چې دوه کلمې شي بيا به خالي نه وي يا به دواړه مستقلې وي يا به يوه مستقله وي او بله به ئې تابع وي چې د واړه مستقلې شي دا دوهم مذهب دا وائې چې دا دوه کلمې دي او دواړه اسمآء دي او که يوه پکې مستقله وي بيا به خالي نه وي يا به اوله مستقله وي دوهمه به ئې تابع وي اويا به دوهمه مستقله وي او اوله به ئې تابع وي که اوله مستقله وي او ثاني ئي له لواحقونه وي دا څلورم مذهب او که عکس وي دا دريم مذهب دی او په دې عبارت کې چې وَمَا يلحقه الخ دې کې څلورم مذهب ته اشاره ده.

مصنف (رَحِمَهُ اَللَّهُ) (كَالتَّاءِ فِى أَنْتَ و الْكَافِ فِى أَرَئَيتُك) سره د لحوق لپاره مثالونه ذکر کړل علامه شيخ زاده رحمه الله د بصرينو قول را نقل کړی هغوی وايي چې په «انت» کې ضمير «تاء» ده په «ان» باندې يې تکيه کړې ده او امام زفر (رَحِمَهُ اَللَّهُ) وايي چې «انت» مجموعه ضمير دی او جمهور وايي چې په «انت» کې ضمير «اَن» دی «تاء»، تُما، او تُم وغيره د مفرد، تثنيه، جمع، مذکر، مؤنث، غايب، مخاطب او د متکلم د تميز لپاره راوړل کيږي، لکه کاف په أرئيتک کې په اتفاق سره حرف دی او تا د خطاب ده .ارئيت په معنی د (اخبرني) دی ځکه ارئيت ملزوم او خبر ورسره لازم دی.

تفسیر بیضاوي: (وقَالَ الخَليلُ[1] إِيَّا مُضاف اِليهَا وَ احتج بِما حكَاه عَن بعضِ العَربِ اذَا بلَغَ الرَّجلُ السِّتِّينَ فَاِيَّاهُ واِيَّا الشَّوابَ وَ هُو شاذٌ لَايَعتمِدُ علَيه).

ترجمه: امام خلیل ویلي دي چې «ايّا» د غه کاف او یاء او تاء ته مضاف دی او ده استدلال کړی په هغه څه چې ده د بعضې عربونه حکایت کړی دی چې کله سړی شپیتو کالو ته ورسیږي نو دی د ځوانو ښځو نه ځان وساتي او ځواني ښځې دي له ځانه ځخه وساتي دا شاذ دی په دې اعتماد (استدلال) نشي کیدلی.

تشریح: امام خلیل فرمائي چې دا دوه کلمې دي او دواړه مستقلې دي.

امام خلیل د خپل قول لپاره په استدلال کې د عربو یو قول پیش کوي (اذَا بلَغَ الرَّجلُ السِّتِّينَ فَاِيَّاهُ واِيَّا الشَّوابَ) دلته هم د لفظ د (ایا) اضافت د (الشواب) طرف ته شوی دی لکه څنګه چې دلته ایا مضاف دی دغه شان په ایاک او ایاه کې هم مضاف دی خو مصنّف رحمه الله د خلیل په استدلال رد وکړو هغه دا چې تا په کوم حکایت د عربو استدلال کړی دی هغه شاذ دی او بل رد دا چې دلته خو ضمیر مضاف شوی او ضمیر خو معرفه وي او معرفه خو نه مضاف کیږي.

ای اتّق نفسه من الشوآب و اتّق الشوآب عن نفسه.

تفسیر بیضاوي: (وَ قِيلَ هِیَ الضَّمائِرُ و ايَّا عُمدَةٌ فَانَّها لَمَّا فَصلتْ عنْ الْعَوامِلِ تَعذَّرُ النُّطقُ بهَا مُفردةً فَضمَّ اليْهَا ايّا لِتَستقِلَّ بِهِ وَ قيْل الضَّميرُ هُوالمَجْموعُ)

ترجمه: او چا ویلي چې دا (ک) (هُ) (تاء) ضمائر دي او ايّا د دوی لپاره تکیه ده نو کله چې دا ضمائر د خپلو عواملونه راجدا شو نو یوازې ورباندې نطق متعذر شو نو منضم ئې کړ له دي ضمائرو پورې ايّا چې مستقل شي چا ویلي چې ضمیر مجموعه دا ايّاک دی.

تشریح: دا دریم مذهب کوفیانو ته منسوب دی دوی وایي چې دا (ک) (هُ) (تاء) ضمائر دي خو چې کله له خپلو عواملو څخه جلا شول یوازې او جدا تلفظ ورباندې متعذر وي نو اُیا پورې مو متصل کړل نو ایا د دوی لپاره عماد او تکیه دی.

---

(۱) ابو عبدالرحمن خليل بن احمد الفراهيدي البصري ولد سنة (۷۱۸) م ببصرة وتوفى سنة (۷۹۰)م ببصرة

د عواملونه مراد دا ضرب و غيره افعلا دي لکه (ک) په ضربک کې مفعول دی او (هٔ) په ضربه کې او ياء په ضربني کې مفعول دی خو دا مذهب هم ضعيف دی ځکه عماد ئې اوږ دی چې ايا دی د اصل کلمې نه اصل کلمه ياء، هاء دی.

او ځلورم مذهب دا دی چې دا مجموعه اياک ضمير دی نو د دوی په نزد اياک مرکب نه دی بلکې مفرد اسم دی.

تفسير بيضاوي: (وَ قُرِءَ ايَاک بِفتح الهَمزةِ هَيّاک بِقلبِها هاءً)

ترجمه: او لوستلی شوی دی په فتحې د همزې سره په قلب(بدلولو) د همزې په هاء سره.

تشريح: اوس قرائت په اياک کې ذکر کوي

په ايّاک کې قرأتونه

فرمائې چې په ايَاک کې درې قرائته دي (۱) ايّاک په کسرې د همزې سره (۲) ايَاک په فتحې د همزې سره (۳) هيّاک په قلب د همزې په هاء سره.

(بحث د نعبد)

تفسير بيضاوي: (وَالعِبادَةُ أقصى غايَة الخُضوعِ وَالتَّزلُّلِ وَ منْه طَريقُ مُعبَّد اى مذَلَّل وَ ثوَابُ ذُو عَبدَةٍ اذَا كانَ فِى غَايةِ الصَّفاقَةِ وَ لِذالِک لَاتسْتَعْمَلُ الَّا فى الْخُضوعِ للّٰهُ تَعالى).

ترجمه: او عبادت انتهائي درجه عاجزې او تزلل دی او د دې نه دا محاوره مأخوذ ده طريق معبد ای مزلل خلاصه لاره او خلاصه لاره د خلکو په قدمونو ذليله شوي وي او د دې نه دا هم مأخوذ دي ثوب «ذو عبدة» کله چې دا جامه په غاية سختوالي کې وي له دې وجې نه چې دا انتهائي ذلت دی دا نه مستعمليږي مګر په خضوع لله کې.

تشريح: دلته دريم بحث په کلمه د (نعبد) کې کوي، عبادت په لغت کې انتهائي عاجزې او ذلت ته وائي چې هغې نه اخوا ته نوره عاجزې نه وي او دا د هغه چا سره مناسب وي چې انتهائي منعم او لوئ وي او هغه نه دی مګر يو الله جلّ جلاله دی له همدې امله هغې لارې ته چې د خلکو تګ راتګ پرې زيات وي طريق معبد وايي ځکه دا هم خلکو په خپلو پښو سره زليله کړې وي او همدغه شان (ثوب ذو عبدة)

هغې جامې ته وايي چې سخته جوړه شوې وي ځکه سخته جامه د زياتو ضرورياتو د پوره کولو صلاحيت لري ګو که دا د ټولو ضرورياتو په استعمال باندې دليله شوې دی دا چې عبادت عبارت له انتهايي تزليل دی ځکه خو لفظ د عبارت صرف د الله تعالی لپاره استعماليږي.

او عبادت په اصطلاح کې ځينې علماء داسې تعريف کوي: عبادت هغه فعل ته وايي کوم چې الله تعالی د بنده د اظهار عبدية لپاره علامه ګرځولې دی تعلق يې يا له ظاهر سره وي لکه ارکان خمسه او يا يې تعلق له باطن سره وي لکه اعتقاديات.

او ځينې علماء يې داسې تعريف کوي: عبادت هغه فعل اختياري دی کوم چې د نفس خلاف او د الله تعالی د رضا لپاره شوی وي.

تفسير بيضاوي: (وَ الاِسْتِعانةُ [۱] طَلبُ المَعُونةُ وَهِىَ إمَّا ضرُورِيَّةٌ او غَيرضرورِيَّة وَالضَرورِيَّة مَا لَايَتأَتَّى الفِعلُ دُونهُ كَاِقْتداءِ الفاعِل وَتصَوُّرهُ وَ حُصولُ آلَة ومَادةِ يُفعلُ بهَا فِيها وَ عنْدَ اِسْتِجمَاعهَا يُوصفُ الرَّجلُ بِالاٍسْتطَاعةِ و يَصحُ أنْ يُكلفَ بِالفعلِ)

ترجمه: او استعانة طلب د مدد کولو دی او دا (معونة) به يا ضروري وي او يا به غير ضروري وي، ضروري هغه دی چې دا فعل د دې قدرت نه بغير بالکل نه کيږي لکه قدرت د فاعل په فعل باندې او تصور د دې فعل او حصول د آلې او مادې چې فعل وکړی شي په دې آلې سره په دې ماده کې او په وخت د جمعه کيدو د دې معوناتو ضروريه وو کې نو توصيف د سړي په استطاعت باندې کيږي نو بيا صحيح کيږي چې سړی بالفعل مکلف شي.

تشريح: دلته وضاحت د استعانت کوي فرمايي چې استعانت طلب د معونت ته وايي. دا سين او تاء لپاره د طلب دی مونږ په علم کلام کې وايو چې استعانة او استطاعة وائي «سلامة آلاتٍ وصحّت الاسباب» ته بيا په اصول فقه کې وايو چې استعانة او استطاعة په دوه قسمه دی.

---

(۱) استعانة په دوه قسمه ده يومافوق الاسباب، دوهم ماتحت الاسباب، مافوق الاسباب چې د مخلوق په وس کې نه وي اوماتحت الاسباب چې د مخلوق په وس کې وي په اياک نستعين کې مطلق استعانة مراد نه دې بلکه مافوق الاسباب مراد دی د مافوق الاسباب طلب له غيرالله نه نشي کيدی او د ماتحت الاسباب طلب له غيرالله نه هم کولی شي لکه سبب نه.

د قدرت اقسام

دوه قسمه دی (۱) قدرت میسرة (۲) قدرت ممکنه.

(۱) **قدرت میسرة**: مایتمکّن به العبد من اداء مأمور به مع یسر وسهولة. لکه زاد او راحله په حج کې.

(۲) **قدرت ممکنه**: ادنا مایتمکن به العبد من اداء مأمور به. یعني دومره قدرت چې عبد د هغې په وجې اجراء د مأمور به کولی شي.

دلته هغه په علم کلام کې چې ورته استطاعة وائي لکه (سلامة د آلات وصحت الاسباب) او په علم اصول فقه کې ورته قدرت ممکنه وائي دلته ورته مصنّف معونة ضرورية وائي او معونة غیر ضروریة هغه دی چې په اصول فقه کې ورته قدرت میسرة وائي او مدار د تکلیف معونة ضروري دی (استطاعة او قدرت ممکنه).

معونة ضرورية

هغه ته وایی چې له هغې نه بغیر فعل نشي حاصلیدلی او قدرت د فاعل په فعل باندې راتلل او حصول د آلې او مادې چې فعل وکړی شي په دې آلې سره په دې ماده کې ددې ټولو شیانو د حصول په وخت کې چې انسان د هغه فعل مستطیع دی او په دې وخت کې انسان مکلف کول هم صحیح دي.

تفسیربیضاوي: (وَ غيرِالضَّرورِيَّة تَحصِيلُ مَايَتيسَّربِه الْفِعلُ يَسهلُ كَالرَّاحِلةِ فى السَّفر لِلقادِرِ عَلى المَشْي أَوْ يُقرِّبُ الْفاعلَ الى الفِعلِ ويحُثُّه علَيهِ وَ هذا القِسمُ لَايَتوَقَّفُ عَليه صِحَّة التَّكْليفِ وَ المدارُ طلبِ المَعونَة فِي المُهمّاتِ كُلِّها او فى أَدآءِ العِبادَاتِ).

ترجمه: او بل غیر ضروري دی چې حاصلول د هغه شي دی چې په هغې سره فعل اسانیږي لکه په سفر کې سورلی لپاره د پیاده مزل طاقت لرونکی تهاو یا فاعل فعل کولو ته ور نزدې کوي او په دې باندې ئي باعث کوي او په دې (قدرت میسره) موقوف شوي نه دی صحت د تکلیف او (په نستعین کې) مدار د طلب د معونة (مدد) په ټول مهمو کارونو (مقاصدو) کې دی یا بالخصوص په اداء د عباداتو کې.

تشریح: یا خو د غیرضروري تعریف دا دی چې د هغه شیانو حاصلول چې د کومو په ذریعه فعل اسان شي یا هغه فاعل فعل ته نژدې کړي او هغه فعل ته یې تیار کړي.

سؤال: ته وائې چې قدرت میسره پورې صحت د تکلیف موقوف نه دی او دا خو موقوف دی لکه تکلیف بالحج د قدرت میسره پورې موقوف دی لکه راحله که له چا سره سورلي نه وي د حج اداکول پرې نه دي فرض.

جواب: توقف نه توقف شرعي نه دی مراد بلکه عقلیي مراد دی او توقف عقلي بغیر د قدرت میسره نه هم جائز دی او توقف شرعي نه دی ور پورې موقوف.

والمعونة: معونت کې مصنّف رحمه الله دې خبرې ته اشاره کوي چې ایّاک نعبد او ایّاک نستعین دا نستعین متعدّي دی او دمتعدي لپاره چې په لفظ کې مفعول را نشي دلته بیا دوه توجهات کیږي (۱) کله نازلیږي په منزله ده لازمي (۲) او کله نه نازلیږي په منزله د لازمي چې نازل شي په منزله د لازمي هلته بیا خاص مفعول ورته نه مقدر کیږي لپاره د تعمیم او کله چې نازل نشي په منزله د لازمي هلته به ورته یو خاص مفعول مقدر کولی شي دلته په نستعین کې دا دواړه توجهات جائز دي په اول قسم کې چې خاص مفعول ورته مقدر نه شي نو داسې به وائي ایّاک نستعین فی المهمّات کلّها او په دوهم قسم کې چې خاص مفعول ورته مقدرشي بیابه داسې وائي ایّا نستعین فی اداء العبادات.

(د نعبد او نستعین د جمع په ضمیر کې حکمت)

تفسیربیضاوي: (وَ الضَّمیرُ المُستَکَن فی الفِعلَینِ لِلْقارِی وَمَنْ معَهُ مِنَ الحَفَظَةِ وَ حاضِری صَلاةِ الجَماعَة او لَهُ وَ لِسائِرِالمُوحِّدِینَ أُدْرِجَ عِبادَتَهُ فِي تَضاعِیف عبَادتهِمْ وَ خلَطَ حاجَتهُ بِحَاجتِهِم لَعلَّهَا تُقبَلُ بِبَرکتِهَا وتُجابَ اِلیهَا وَ لِهذا شُرِعتْ الجَماعةُ).

ترجمه: او ضمیرمستکن (پټ) په فعلینو (نعبد اونستعین) کې لپاره د قاري او ورسره د حفظه ملائکو دي او لپاره د حاضرینو د جماعت دی او یا لپاره د قاري او ټولو موحدینو دی او قاري (لوستونکي) خپل عبادت په مینځ د عباداتو د مؤحدینو کې درج کړی دی او خپل حاجت

ئې خلط (گډوډ) کړو (په ایاک نستعین) کې له حاجت د نورو خلکو سره کیدای شي چې دا قبول شي په برکت د دې نورو خلکو او اجابت (قبول) شي سره د نورو خلکو (موحدین) او د دې لپاره شروع شوی دی جماعت.

تشریح: دلته د نعبد او نستعین په ضمیر بحث کوي هغه دا سې چې دا صیغې د جمعې یې د اظهار د عظمت لپاره نه دي راوړې ځکه دا مقام د عبادت دی او عبادت کې ذلت وي بلکې دا یې لپاره د کثرت د افرادو راوړي او کثرت د افرادو په دې طریقې سره دی چې لمونځ په دوه قسمه دی (۱) په جماعت سره (۲) انفرادي.

کله چې ته په حالت د جماعت کې لمونځ کوي نو نعبد او نستعین ئې صیغه د جمع راوړه ځکه چې دلته بیا عابدان او مستعینان ډیر دي عابدان ټول جماعت او حفظه ملائکي دي او مستعینان هم ټول جماعت او حفظه ملائکي دي او که په حالت د انفراد کې لمونځ کوي نو بیا یې ولې نعبد اونستعین صیغې د جمع راوړې ځکه چې په حالت د انفراد کې خو یا ځان او حفظه ملائکې یادوي او یا ځان او ټول موحدین (مسلمانان) یادوي.

او په دیکې یوه بله نکته هم د احنافو لپاره دی هغه دا چې د امام قرائت (فاتحه) د مقتدي لپاره کافي دی او په دې د عوي باندې احنافو سره ډیر دلائل دي د ځلویښتونه (۴۰) پکې زیات احادیث موجود دي خو یو دلیل دا هم دی چې امام وائې ایاک نعبد او ایاک نستعین صیغې د جمع دي امام ځان او مقتدیان هم یادوي نو که د امام قرائت (فاتحه) د مقتدیانو لپاره کافي نه وائي نو صیغه د جمعې به ئې نه ذکر کوله دغه سې په روژه کې په تراویحو کې کله کله وهابیان هم د قرآن ختم کوي ټول قرآن امام پسې ختموي او دوی چپ ولاړوي بیا چې پوښتنه ترې وکړې چې په تراویحو کې دي قرآن ختم وکړ نو وائي هو الحمد لله چې ورته ووائې تا په خپله ولوست او که امام پسې ولاړ وې، وائي نه امام پسې ولاړوم نو هلته په روژه کې ټول قرآن امام پسې ستا لپاره کافي دی نو دې یو سورت څه ګناه کړې چې ستا لپاره نه کافي کیږي.

تر دې ځایه پورې ئې مجوز [۱] بیان کړ لپاره د صیغې د جمع اوس ورنه مرجح بیانوي هغه داسې چې دا د خپل عبادت د قبلولو لپاره حیله جوړوي چې دا خپل عبادت په پوره جماعت کې داخل کړي که اوس په جماعت کې دیو کس عبادت هم قبول شي نو ـ ټول جماعت عبادت ورسره قبلیږي نو ځکه ئې نعبد او نستعین په صیغې د جمع سره ذکر کړي دي که د بعض خلکو لمونځ قبول کړي او د بعض رد کړي بیا خو تفریق الصفقه لازمیږي.

(تفریق الصفقه) [۲]

مونږ په هدایه شریفه وویل چې تفریق الصفقة حرامه ده تفریق الصفقه داده چې زه اوس په تا دا ټول کتابونه په یو عقد باندې خرڅ کړم خو که په بعضو کې عیب وي نو ته داسې نشي کولی چې عیب جن واپس کړې او روغ واخلې یا به ټول واپس کوې یا به ټول اخلې ځکه بیا خو تفریق الصفقه لازمیږي او دا حرامه دی [۳] نو دلته هم چې د پوره جماعت لمونځونه د الله جلّ جلاله حضورته ور وړلی شي نو الله جلّ جلاله به یاټول قبلوي یا به ټول رد وي ټول خونشي رد کولی ځکه په دې ټول جماعت کې خو به د یو کس لمونځ خامخا قبلوي او که صحیح قبلوي او غیر صحیح رد کوي بیا خو تفریق الصفقه زلازمیږي او تفریق الصفقه الله جلّ جلاله پر مونږ حرامه کړې نو د الله جلّ جلاله غیرت دا تقاضا نه کوي چې دا دې په خپله تفریق الصفقه وکړې نو ځکه ټول قبلیږي.

---

(۱):- وائي نعبد او نستعین د جمعیت لپاره مجوّز دی فقط مفرد ئې هم ویلی شی اعبد او استعن لکه څنګه ئې چې جمع ویلی شی.

(۲):- تفریق په لغت کې ضد د اجتماع ده او فقهاء ئې هم په همدې معنی کې کاره وي یعني د دوه ترون کونکو جلاوالي ته تفریق وائي کذا فی دررالاحکام شرح مجلة الاحکام: ۱ / ۱۲۸. شرح المادة ۱۷۷ . او صفقه په لغت کې د بیعې د ترون پر مهال یولاس پر بل یا د بل چا په لاس و هلو ته صفقه وائي کذا فی المعجم مالصطلاحات المالیة والاقتصادیة فی اللغة الفقهاء: ۱ / ۱٤٤ . او په اصطلاح د فقهاء وو کې په معلومو روپیو یوې سودا ته صفقه وائي (فهی العقد الواحد بثمن واحد کذا فی المعجم المصطلحات : ۱ / ۱٤٤. صفقه په درې دوله ده تفریق الصفقه ، تبعیض الصفقه ، تجزء الصفقه ، زمونږ فقهاء فرمائي کله چې صفقه واحده وي بیا ئې تفریق روا نه دی لکه په دې خبره علامه ابن نجیم، علامه خالد آتاسی، او علامه وهبةالزحیلي رحمهم الله تصریح کړي ده فرمائي لابدّ من معرفة ما یوجب اتحاد الصفقة و تفریقها و ذالک امّا بسبب العاقدین او بسبب المبیع. . . . و امّا بالنسبة للمبیع فان اتّحد العاقدین و قبل احدهما فی بعض المبیع دون بعض لم یصح العقد لتفریق الصفقة: الفقه الاسلامي وادلّته : ٤ / ۱۳۲ . وشرح مجلة الاحکام لعلامة خالدالاتاسي : ۱ / ٤۷.

(۳):- الهدایة : ۳ / ۳٦ . مکتبه حقانیة.

(في تَضاعِيف عبَادتهِمْ)ضعاف ویلی شي مینځ د خطبې ته لکه په حدیث د سنن ابن ماجه کې راغلي چې نبي علیه السلام به د خطبې په مینځ د خطبې کې تکبیر ویلې.[1]

او دا قول چې (لعلّها تقبل ببرکتها) دا په نعبد کې.

تفسیر بیضاوي: (وَ قُدِّمَ المَفعولُ لِتعظِيْمِ وَ الاِهْتمَامِ بِهِ)

ترجمه: او مقدم کړی شو مفعول (ایاک په نعبد او نستعین) لره وجې د تعظیم او مهتم بالشان کیدو.

تشریح: دلته څلورم بحث ذکر کوي چې تقدیم د ایاک دي په نعبد او نستعین باندې ځکه داسې چې ایّاک په نعبد او نستعین دواړو باندې مقدم کړی شو او حال دا چې ایّاک معمول دی او نعبد و نستعین عاملین دي او مرتبه د عامل مقدمه وي په معمول باندې او دلته معمول مقدم شوی نو د تقدیم د معمول لپاره پنځه وجې بیانوي.

د تقدیم د معمول لپاره پنځه وجې

(۱) لفظ د ایّاک نه مراد الله جلّ جلاله او نعبد نه مونږ(عباد) نو له وجې د تعظیم نه مقدم کړی شو.

(۲) لفظ د ایّاک نه الله جلّ جلاله مراد دی او نعبد نه مونږ مراد یو نو له وجې د اهتمام مقدم کړی شو.

تفسیر بیضاوي: (وَ الدَّلالَة عَلَى الحَصرِ وَ لِذالِك قَال ابنُ عبَّاس رضِيَ الله عنهمَا مَعناهُ نَعبُدكَ و لَانَعبدُ غيرَكَ)

ترجمه: او دلالت په حصر باندې پیدا کوي او د دې حصر له امله عبد الله ابن عباس رضي الله عنه فرمایي: یاالله مونږ ستا عبادت کوو ستا نه بغیر د بل چا عبادت نه کوو.

---

(۱) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَعْدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ سَعْدٍ الْمُؤَذِّنِ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يُكَبِّرُ بَيْنَ أَضْعَافِ الْخُطْبَةِ، يُكْثِرُ التَّكْبِيرَ فِي خُطْبَةِ الْعِيدَيْنِ» رواه سنن ابن ماجه (۱/ ٤٠٩)رقم الحديث - ۱۲۸۷

تشريح: دا دريمه وجه ده لپاره د تقديم د اياک په عاملينو

13 (۳) اياک په نعبد او نستعين ځکه مقدم کړى شو چې دلالت په حصر باندې وکړي ځکه تقديم ماحقه التاخير يفيد الحصر و الاختصاص.

خو دلته په دې حصر کې خفاء ده علامه ابن حاجب رحمه الله له حصرنه منکر دى ځکه هغه وائي چې دا جمله اياک نعبد سره مخاطب مؤمنان دي او مؤمنان د غير الله عبادت نه کوي نو ځکه حصر ته په اياک نعبد کې ضرورت نشته او هم د غه رنګ اياک نستعين دى چې حصرته پکې هيڅ اړتيا نه ليدل کيږي ځکه مسلمان په مافوق الاسباب کې له غير الله څخه مدد نه غواړي نو دلته نه قصر افرادي شته او نه قصر قلبي او کله چې دا دواړه قصرونه نشته نو حصر هم نشته.

مصنف رحمه الله وايي چې دلته حصر شته په تائيد کې د عبد ابن عباس (رضي الله عنه) قول پيش کوي حصر او اختصاص «مايوجد فيه ولا يوجد فى غيره» ته وائي په «نعبدک» کې «مايوجد» دى «ولانعبد غيرک» کې و «لا يوجد فى غيره» دي کومه خفاء چې د علامه ابن حاجب له قول پيدا شوې وه هغه ختمه شوه په دې طريقه چې دلته حصر حقيقي دى او حصر حقيقي د رد د خطا مقتضي نه وي نو له قصر افرادي او قصر قلبي څخه په خو له حصر نه بلکل انکار نشي کيدى.

تفسير بيضاوي: (وَ تَقْدِيمُ مَاهُو مقدَّمٌ فِى الوُجُودِ)

ترجمه: تقديم د هغه چا ئې او کړ چې هغه په وجود کې مقدم وه.

تشريح: دا څلورمه وجه بيانوي لپاره د تقديم د اياک په نعبد باندې.

(۴) اياک په نعبد او نستعين مقدم کړى شو له وجې د موافقت د تقديم ذکري له تقديم وجودي سره الله جلّ جلاله په وجود کې مقدم وه ځکه دا مبدأ دى د تمامو کائناتو لپاره نو په ذکر کې هم مقدم کړ له وجې د موافقت نه.

تفسير بيضاوي: (وَ التَّنِبه على أنَّ العَابدَ يَنْبغِي أنْ يكونَ نَظرهُ الى المَعبُودِ أوَّلًا وَ بِالذَّات).

ترجمه: او تنبه ده په دې خبره چې مناسب خبر داده چې د عابد نظر اولًا او بالذات خپل معبود ته وي.

تشريح: دا پنځمه وجه دی لپاره د تقديم د اياک په نعبد باندې.

(۵) اياک په نعبد او نستعين ځکه مقدم کړی شو چې اياک نه الله جل جلاله مراد دی او د عابد لپاره مناسب هم دی چې اول نظر ئې په الله جل جلاله لږيږي نو ځکه ئې مقدم کړو.

تفسيربيضاوي: (وَ مِنهُ إلى العِبادَةِ لَامِنْ حيْثُ أَنَّها عِبادَةٌ صَدَرتْ عَنهُ بَلْ مِنْ حَيثُ أَنَّها نِسْبةٌ شرِيْفَةٌ الَيهِ وَ وَصْلةٌ سَنِيَّةٌ بَينَهُ وَ بَينَ الْحَقِّ فَانَّ العَارِفَ إنَّمَا يَحِقُّ وُصُولُه اذَا اسْتَغْرقَ فِي مُلاحَظَة جَنابِ الْقُدْسِ وَ غَابَ عَمَّا عَداهُ حَتَّى أَنَّه لَايُلاحَظ نَفسَهُ وَ لَاحَالًا مِّن أَحوَالِها مِن حيثُ أَنها مُلاحَظةٌ لَه وَمُنْتَسِبَةٌ الَيهِ).

ترجمه: او بيا له معبود نه نظر عبادت ته وي خو په دې حيثيت نه چې دا عبادت دی او له ځنه صادريږي بلکه په دې حيثيت به ورته ګوري چې دا الله جلّ جلاله ته يو نسبت شريفه دی او يوه وسيله ده په منځ د ده او الله جلّ جلاله کې ځکه عارف بالله ته وصول الى الله حاصليږي کله چې دا مستغرق شي په ملاحظه د ذات او صفاتو کې او غائب شي له ماسوا ځنخه تر دې چې عارف بالله د خپل ځان لحاظ هم نه کوي او نه د يو حال د احوالو د لمونځ لحاظ کوي مګر د حال ملاحظه کوي له دې وجې نه چې دا ملاحظه ده له رب خپل سره او نسبت دی له الله جلّ جلاله سره.

تشريح: عبادت ته به په دې نيت نظر نه کوي چې دا زه کوم بلکه په دې نيت به ورته نظر کوي چې دا ما الله جلّ جلاله ته رسوي نو بيا نظر الله جلّ جلاله ته شو ورنه نظر الى الله نه دی ځکه عبادت خو يوه وسيله ده مقصود پکې معبود دی ته چې عبادت کوې په دې حيثيت يې کوه چې دا يو نسبت او وسيله ده ستا او د معبود په مينځ کې.

د ځان لحاظ به نه کوي هغه داسې چې يو سړی د ځان لحاظ کوي يو سړی د جنت لحاظ کوي اويو سړی د الله جلّ جلاله لحاظ کوي، څوک چې د جنت لحاظ کوي ديته ذُهد وائي. ذاهد وائي ياالله لمونځ کوم د دې لپاره چې جنت ته داخل شم اوڅوک چې د ځان لحاظ کوي دا د عبوديت مرتبه ده لکه وائي يا الله لمونځ کوم د دې لپاره چې لوی ولي الله رانه الله جلّ جلاله جوړ کړي او

ځوک چې د الله جلّ جلاله لحاظ کوي دا مرتبه د عبادت ده ځکه وائي یاالله لمونځ کوم نه د جنت حصول لپاره اونه د جهنّم ځخه د نجات لپاره او نه د خپل ځان لپارهٔ ، خاص ستا لپاره لمونځ کوم.

عبادت، عبودیة او عبودة

علماء کرام فرمائي چې یو عبادة دی بل عبودیة دی او بل عبودة دی عبادة مقام ایّاک نعبد ده او عبودیة مقام دایّاک نستعین ده عبودة مقام د شهود العبان دی ځینې بیا وائي:

(۱)فالعبادة عمل العبدلله و العبودیة عمل العبد بالله و العبودة عمل العبد فی الله

(۲) العبادة العمل بالشریعة والعبودیة سلوک الطریقة والعبودة مشاهدة الحقیقة

(۳) العبادة عمل المعبود والعبودیة عمل المرید والعبودة عمل العارف

(۴) العبادة عمل اصحاب الیمین والعبودیة عمل المقربین والعبودة مقام السابقین

(۵) العبادة عمل الظالم لنفسه والعبودیة عمل المقتصد والعبودة عمل السابق بالخیرات

(۶) العبادة عمل العالم والعبودیة عمل الولي والعبودة عمل العارف الکبیر

(۷) العبادة عمل الجوارح والعبودیة عمل القلب والعبودة عمل الرّوح.

(عارف) (صوفي یا پیر) (چاته وائي)

علامه الوسي رحمه الله صاحب د روح المعاني د دې آیت لاندې (اِنْ اَوْلِیَآءُهٗ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ [1]) لیکي چې ولي متقي ته وائي او په دې آیت کې الله جلّ جلاله د ولي تعریف کړی بیا وروسته وائې چې ما ډیر داسې کسان ولیدل چې تنور به ئې ځانته گرم کړو او پکې ورننه به وتل خو او حال دا چې دابه فاسقان و یعنې په خارق العادت کارونو سره ځوک ولي نشي جوړېدلی او نه داسې کړنې نښې د ولایت نه دي ،په هوا الوتل یا دچا ازار ځوک ووهل تر بزرگۍ پورې تړاو نه لري ځکه د کافر ازار هم لګیږي په سنتو عمل او په شریعت استقامت یوازې او یوازې د ولایت نښه ده نو خلاصه دا چې عارف هغه چاته وائې چې د هغه نظر یوازې او یوازې خپل رب او معبود ته وي خپل

---

(۱):- سورة الانفال: آیة (۳۳) .

ځان او دنیا ئې بالکلیة ترک کړي وي په ده کې چې کوم صفات دي دیته یې نظرنه وي او وائي چې داځه صفات چې ماکې موجود دي دا د الله جلّ جلاله په قدرت کې دي بیر ته ئې هم زانه اخیستلی شي او دا بل هم زما په شان انسان دی په ده کې دا صفات نشته نو الله جلّ جلاله نه دي ورکړي نو دا زما کمال نه دی او نه زما یکې اختیار شته نو بیا دا سړی له کبرنه خالي وي او دا چې له خپل ځان نه ورته بل څوک په دنیا کې نه ښکاري دا بیا هیڅ کله عارف نه دی شیخ صاحب (رحیم الله حقاني حفظه الله) وائي چې ما ته یو پیر وویل چې فلانې شیخ زما دومره عزت کوي چې ما نه مخکې هم نه ځي وائي ما ورته وویل چې ته پیر نه ئې ځکه ستا خپل ځانته نظر دي نو د تصوف غټ مقصد دا دی چې انسان کې عاجزي پیدا کوي.

اشرف علی تهانوي رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه چې په تصوف کې سړی ښه مخکې لاړشي آخر کومې مرتبې او مقام ته رسیږي او څه ترینه جوړیږي اشرف علی تهانوي رحمه الله ورته فرمائي چې تصوف کې مرتبه او مقام نشته په تصوف کې چې څومره مخکې ځې هغومره به پکې خاورې کیږي دا نفس به دي خاوې ایرې شي خپل ځان به په هیڅ او چت ونه ګڼې.

تفسیربیضاوي: (وَ لِذَالك فُضِّل مَاحَكَى اللّٰهُ عَنْ حَبِيْبِه حِينَ قَالَ (لَاتَحْزَنْ اِنّ اللهَ مَعَنَا وَ عَلى مَاحَكَاهُ عَنْ كَلِيمِهِ حِينَ قَالَ(اِنّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِين [1]).

ترجمه: له دې وجې نه فضیلت ورکړی شو هغې ته چې حکایت کړی الله (جَلَّجَلَالُهُ) له خپل حبیب محمّد رسول الله (صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) نه هغه وخت کې چې هغه وویل مه خفه کیږه الله جلّ جلاله مونږ سره دی او په هغه چې حکایت کړی الله جلّ جلاله د خپل کلیم (موسی (عَلَيْهِٱلسَّلَامُ)) نه کله چې وویل (موسی (عَلَيْهِٱلسَّلَامُ)) خپل قوم ته یقینًا ما سره مدد د ربّ زما دی زر ده چې هغه به ما ته لاروښائي.

تشریح: دا حکایت د رسول الله (صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) څخه کوي چې د هجرت په موقع رسول الله (صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) او ابو بکر صدیق (رَضِىَٱللَّهُعَنْهُ) په غار ثور کې د کفارو نه پناه اخیستي وه چې کله کفار د غار ثور خواته را ورسیدل نو ابوبکر (رَضِىَٱللَّهُعَنْهُ) په رسول الله (صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ) باندې ډیر

---

(۱):- سورةالتوبة : آية (۹۲).

خفه شو چې هسې نه زانه شهید نې کړي نو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته وویل «لَا تَحزَنْ اِنَّ اللہ معَنا» د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) اول نظر په الله جل جلاله و.

او د دغسې چې کله چې فرعونیان له موسی (علیه السلام) او قوم د هغه پسې شوه نو موسی علیه السلام ته مخکې رود نیل راغې او روسته فرعونیان وو نو د موسی (علیه السلام) نظر اول په ځان وو ځکه ئې «مَعِی» ذکر کړ د دې وجې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فضیلت (مرتبه) په موسی (علیه السلام) باندې لوړه او اوچته ده.

ايّاک يې ولې مکرر ذکر کړ

تفسیر بیضاوي: (وَ كَرَّر الضَّمِيرُ لِلتَنْصِيص عَلٰى أَنَّهُ الْمُسْتَعانُ بِه لَاغَيرُ)

ترجمه: او مکرر ئې کړ ضمير (ايّاک) لپاره د تنصيص ذکر کړ چې مدد يواځې له تا نه مطلوب دی بل چا نه مطلوب نه دی.

تشريح: دا عبارت دفع د يو سوال دی هغه دا

سوال: ايّاک ضمير دې ولې مکرر ذکر کړ داسې به دې ويلي و ايّاک نعبد ونستعين تکرار ته څه حاجت و؟

(۱)**جواب:** يو زَوَق د عامو شاريحينو دی هغوئ وائې چې ايّاک مکرر راوړل شوی دا لپاره د استقلال ځکه که يو ايّاک باندې اکتفا شوی وائي بيا به متوهم دا وهم کاوه چې مجموعه د عبادت او استعانت خاص تر الله پورې دی او هر يو به ځان ځان ته الله جلّ جلاله پورې خاص نه وي نو چې نعبد سره ئې ذکر کړ عبادت خاص شو تر الله جلّ جلاله پورې بيا يې چې نستعين سره ئې ذکر کړ نو استعانت هم خاص شو تر الله جلّ جلاله پورې نو په دې سره وهم د متوهم زائل شو.

(۲)**جواب:** او يو زَوَق د علامه سيالکوټي رحمه الله دی هغه وائې چې دا ځکه مکرر ذکر کړی شو چې دلته تصريح په حصر دی که ايّاک نعبد ونستعين ئې ويلي وائی متوهم به دا وهم کولو چې د نستعين معمول روسته مقدر دی يعنې په استعانت کې به حصر تر الله جلّ جلاله پورې نه وي نو چې ايّاک نعبد و ايّاک نستعين ئې وويل تصريح ئې په حصر وکړه چې څنګه په عبادت کې حصر دی د غه شان په استعانت کې هم حصر دی.

تقديم د عبادت په استعانت

تفسيربيضاوي: (وَقُدمَتِ العِبادَةُ على الِاسْتعَانةِ لِيتوَافَقَ رُؤُوس الآيِ وَ يُعْلَمَ مِنهُ أنّ تَقْديمَ الوَسِيْلةِ عَلى طَلبِ الحَاجةِ أدعى اِلى الِاجَابةِ).

ترجمه: عبادت په استعانة مقدم کړی شو يو له دئ وجې چې موافق شي آخري سرونه د آياتونو او له دې وجې او معلومه کړی شي دا خبره چې د ضرورت او حاجت د سوال نه مخکې وسيله کول د قبوليت لپاره زيات داعي او طلب کونکی وي.

تشريح: **سوال**: اياک نعبد ولې مقدم کړی شو په اياک نستعين ؟

(۱)**جواب**: «ليتوافق رؤوس الآی» چې موافق شي سرونه د آياتونو ځکه مخکې د ټولو آياتونو په آخرکې حرف متحرک ماقبله ساکن دی لکه العالمين الرّحيم يوم الدّين اياک نستعين نو ټول آياتونه په آخرکې متحرک ماقبل کې ساکن دی نو که نعبد مو مؤخّر کړی وائی بيا توافق نه راتلو په سرو د اياتونو کې .

(۲)**جواب**: ځکه نعبد مقدم کړی شوی په اياک نستعين باندې چې کله د الله جلّ جلاله نه مدد غواړې نو مخکې ورته وسيله وړاندې کړه نو ځکه دلته ورته عبادت مخکې کړی شو او ديته وسيله بالعبادت وائي.

(د وسيله اقسام او حکم)

وسيله په لغت کې نزديکت او قرب ته وائي [۱] وسيله هم يو له هغو مسئلو څخه ده چې نن صبا د اهل حقو او اهل بدعو ترمنځ معرکة الاراء ګرځېدلې ده، وسيله که څه هم ځيني ناروا صورتونه لري لکه الله جلّ جلاله فرمائي چې کفارو به د غير الله عبادت کولو او ويل به ئې (مايعبدهم الّا ليُقرّبنا الى الله زلفى) خو هغه وسيله چې د اهل السنّة والجماعة په نزد مستحبّة ده په شپږ قسمه ده.

(۱) (توسّل بالايمان و بالاعمال الصّالحة) بيا خپل عمل وي که دبل.

(۱):- مصباح اللغات: ۹٤٦ .والنهاية فى غريب الحديث لابن الاثير

(۲) د یو انسان له پیدائش نه مخکې د هغه ذات وسیله کول.

(۳) د نبی یا ولي څخه دعا غوښتل.

(۴) د نبي یا ولي له پیدائش نه روسته د هغه ذات وسیله کول.

(۵) د نبي یا ولي له وفات نه روسته د هغه ذات وسیله کول.

(۶) د توسّل سره متعلق مسئله د یو نبي یا ولي په آثارو باندې تبرک حاصلول دا ټول د توسّل هغه اقسام دي چې په دعاکې ئې وسیله کول مستحب دي لکه امام شاولی الله دهلوي رحمة الله فرمائي په دعا کې انبیاء علیهم السلام او اولیاء وسیله کول د دعا د اداټو څخه ده [۱] په دې موضوع کې په احقاق الحق کې شیخ صاحب ښه وضاحت کړی او په هر قسم د توسّل ئې ښه پوره دلائل راوړي او په لسګونو فتوګانې ئې د امّت داکابرو راجمع کړې دي نو که په بحث ځان مړول غواړې د احقاق الحق څلورم جلد رسالة التّوسل ته مراجعه وکړه.

تفسیر بیضاوي: (وَ أقولُ لَمَّا نَسبَ المُتكَلِّم العِبادةَ اِلى نَفسِهِ أوهَم ذَالک تَبَجُّحًا وَ اعْتِداٰدًا منْهُ بِمايَصدُرُ عَنهُ فَعقِبَهُ بِقَولِه وَ ايّاک نَستَعِين لِيدلَّ عَلى أنّ العبَادةَ أيضًا مِمّا لَايتمّ وَ لايسْتَتبُ لهُ اِلّا بِمعُونة منْهُ وَتوفِيقٍ).

ترجمه: او زه وایم چې کله متکلّم د عبادت نسبت خپل ځان ته وکړي په ایّاک نعبد سره د غه نسبت په ځان باندې د فخر وهم پیدا کوي او شماري د اعبادت له ځان څخه چې دا خو مانه صادریدلی شي دې نه پس یې دا قول ذکر کړو چې ایّاک نستعین د دې لپاره چې دا دلالت وکړي چې عبادت هم د هغه قسم څخه دی چې نه پوره کیږي او نه برابریږي مګر په مدد او توفیق د الله (جَلَّجَلَالُهُ).

تشریح: دلته قاضي بیضاوي (رَحِمَهُ اللَّهُ) په تقدیم باندې خپله یوه نکته بیانوي فرمائي چې د عبادت او استعانت څخه د الله تعالی د معبودیت اظهار مقصد دی نه د مستعان کیدلو او د خپل ځان د تذلیل او خاکساري اظهار مقصد دی نو کله چې سړی ووائي ایّاک نعبد مونږ عبادت کوو

(۱):- عزیزالفتاوی: ۸ / ۱۷۱. حجة الله البالغة: ۲ / ۶.

یعنې د عبادت نسبت ځان ته وکړي نو په سره سړي کې یو څه عجب راځې چې زه هم عبادت کولی شم خو چې نستعین ووائي دا عجب ختم شي.

تفسیربیضاوي: (وَ قِيلَ الوَاوُ لِلحالِ وَ المَعْنی نَعبدُكَ مُستَعِينِينَ بِك).

ترجمه: او چا ویلي دي چې واو په (وایاک نستعین) کې د حال لپاره دی نو معنی دا شوه چې یاالله مونږ ستا عبادت کوو په داسې حال کې چې ستانه مدد غواړو.

تشریح: دا واو عاطفه دی خو ځینې علماء وایي چې دا واو حالیه دی:

سوال: ایاک نستعین کې خو آینده کې مدد غوښتل شوی نو دا خو بیا مضارع شو؛ او مضارع چې کله حال واقع شي هغه له ذوالحال سره یوازې مربوطه بضمیروي او دا مربوطه بالواو ده او واو د جملې اسمیي په صورت کې راوړلی شي او په نستعین کې ضمیر نشته نو دا به څنګه حال شي!

(۱) **جواب**: علامه ابن مالک په الفیه کې داسې جواب کړی چې مضارع مربوطه بضمیر هغه وخت کې وي چې مضارع مثبته په صدر د کلام کې راغلې وي او دلته په صدر کې ایاک دی چې معمول د مضارع دی نو د جملې د اسمیې سره د مشابهت سا تلو له وجې یې په واو سره مربوطول کافي دي.

(۲) **جواب**: ستا سوال به هغه وخت وارد وې چې دا جمله فعلیه وای بلکې دا جمله اسمیه دی هغه داسې چې دلته (نحن) مقدر دی اصل عبارت داسې دی (نحن ایاک نستعین) او د جملې اسمیې ارظباط په واو سره صحیح وي.

تفسیربیضاوي: (وَ قُرِءَ بِكَسْرِالنُّونِ فِيهِمَا وَهِی لُغةُ بَنِي تَمِيم فَانّهُم يُكسِرُونَ حُروفَ المُضَارِعَة سِوَی الْيَاءِ اذَا لَم يُنْضَمَّ مَابعدهَا).

ترجمه: او لوستلی شوی دی په دواړو (نعبد او نستعین) کې په کسرې د نون سره چې دا ده بني تمیمو لغت دی ځکه دوی حروف مضارعت مکسور کوي سوا د یاء نه چې کله ما بعد د حروفو د مضارعت نه مضموم نه وي.

تشریح: دلته په نعبد او نستعین کې د قرأت بحث کوي فرمایي چې بني تمیم علامات د مضارع ته کسره ورکوي سوا د یاء نه خو په دې شرط چې روسته ترینه مضموم حرف نه وي او دلته

خو له نون څخه ورسته حرف (عين كلمه) مضموم دی بعض علماء دا جواب کوي چې دا قرأت يا شاذ دی او مصنف فرمايي چې (اذَا لَم يُنْضَمَّ مَابعدهَا) مطلب دادي چې له حروف اتين څخه روسته متصل چې کوم حرف دي هغه به مضموم نه وي او په نعبد کې متصل عين دی او دا غير مضموم دی نو عبارت به داسې شي اِيَّاک نِعْبُدُ وَاِيَّاک نِسْتَعِيْن.

(٥) اهدنا الصّراط المستقيم.

تفسيربيضاوي: (إِهْدِنا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقيمَ) بَيانٌ لِلمَعُونةِ المَطلُوبةِ فكَأنَه قَالَ كَيفَ أُعِينُكمْ فَقالَ اِهدِنا أَو إفرَادُ لِماهُوالمَقصُودُ الأَعْظمُ).

ترجمه: الله مونږ ته وښه ئې سمه لاره دا د مطلوب مدد بيان دی گويا چې الله و فرمايل چې زه ستا څنگه مدد وکړم نو دوی وائې اهدنا يا دا افراد د هر هغه شي دی چې هغه مقصود اعظم دی.

تشريح: دلته قاضي بيضاوی رحمه الله درې بحثه کوي (١) د دې آيت له مخکې آيانو او جملو سره د ربط بيان (٢) د هدايت متعلق تحقيق (٣) د صراط المستقيم تحقيق.

لومړی بحث: هغه دا چې دا يا جمله مستأنفه ده يا جمله مستقله ده.

جمله مستأنفه او جمله مستقله

جمله مستأنفه: که دا جمله مستأنفه شي دا به واقع شي په جواب د سوال د سائل کې لکه الله جلّ جلاله چې سوال کړی وي کيف اعينكم زه ستاسو څنگه مدد وکړم مونږ ورته وايو اهدنا الصراط المستقيم يا الله نيغه لار راته وښايه نو دا جمله مستأنفه شو په نزد قاضي بيضاوي رحمه الله او جمله مستأنفه مصدره په واو نه وي او دا مصدره په واو نشوه.

جمله مستقله: نور شارحين ئې ربط داسې بيانوي چې دا جمله مستقله ده په اياک نستعين او اهدنا الصراط المستقيم کې څلور احتماله دي.

دوه احتماله په نستعين کې دي.

(١) احتمال دا دی چې د اياک نستعين لپاره مفعول به عام شي چې (فی مهمات كلّها)

(٢) احتمال دا چې مفعول به د نستعين خاص شي (ای فی اداء العبادات).

او دوه احتماله په اهدنا الطراط المستقیم کې دي.

(۱) احتمال چې صراط المستقیم څخه عامه معنی واخلې ای طریقة الحق.

(۲) احتمال دا چې صراط المستقیم نه خاص معنی واخلې ای ملّت الاسلام او که د دواړو نه عامي معناگانې واخلې نو دا به د یو بل لپاره بیان شي نو د دواړو په مابین کې به کمال اتصال راشي نو بیا د کمال اتصال له وجې حرف عطف ته ضرورت رانغی، او که د دواړو نه خاص معناگانې واخلې نو بیا هم پکې کمال اتصال دی ځکه حرف عطف نه راوړي.

دریم دا که د اول نه عامه معنی واخلې او د دوهم نه خاصه واخلې په اول کې فی مهمات کلّها دی او دوهم کې ملّت الاسلام نو دا ذکر د جزئي دی بعد الکلي او ذکر د جزئي بعد الکلي بیان وي نو بیائې هم ځکه واو حرف عطف پرې نښې چې ضرورت ورته نه و نو په دې درې وو کې د حرف عطف د پرېښود مجوّز شته څلورم که اول نه خاصه معنی واخلې او دوهم نه عامه معنی واخلې چې په اول کې اداآء العبادات او په دوهم کې طریق الحق دی نو دا اخیستل نه دي جائز ځکه دلته د حرف عطف لپاره مجوّز نه جوړېږي.

خو قاضي بیضاوي رحمه الله اولنی ربط بیاوي چې دا جمله مستأنفه ده.

یا په ایّاک نستعین کې فی المهمّات کلّها ذکر دی او په اهدنا الصراط المستقیم کې ملّت الاسلام مراد دی نو دا ذکر د فرد عظیم دی روسته د کلي نه (ذکر د جزئي روسته کلي نه).

(بحث هداية)

تفسيربيضاوي: (وَالهِدَايَةُ دَلَالَة بِلطْفٍ وَلِذالِك تَسْتعمَلُ فِي الْخَيرِ).

ترجمه: هداية په نرمۍ سره ښودنې کولو ته وائي له دې وجې نه د هدايت استعمال د خير په کارونو کې کيږي.

تشريح: په هدايت کې هغه مشهور بحث دی لنډه دا چې معتزله وائي هداية ايصال الی المطلوب ته وائي د دوی په نزد په هداية کې مطلوب ته رسيدل شرط دي.

په دوی اعتراض راځي چې (فَأَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنَا هُمْ) دې کې خو ايصال الی المطلوب نشته ځکه دوی خو ايمان نه وو راوړی دا خو الله جلّ جلاله په حالت د کفر کې هلاک کړل.

اشاعره علماء وايي: هدايت ارائت الطريق ته وائي يعنې علی مايوصل به الی المطلوب په دوی هم اعتراض راځي چې(اِنَّکَ لَاتَهْدِیْ مَنْ اَحببتَ) دلته خو معنی د ارائت الطريق نه صحيح کيږي

ځکه رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)خو ارائة الطريق کړی وو او الله جلّ جلاله په دې ايت کې فرمائي چې هداية (ارائة الطريق) نشي کولی ؟ نو په دواړو معناګانو اعتراض راغلو اول اعتراض نه جواب کوي چې (فامّاثمود فهديناهم) کې ارائة الطريق معنی مراد ده

بيا ورته وائي چې دا معنی حقيقي ده که مجازي که حقيقي وي نو هدايت دې مشترک کړو او که مجازي وي نو مجاز ته دې عدول وکړو او اشتراک او مجاز دواړه خلاف الاصل دي ځکه اصل په لفظ کې حقيقت دی.

او له دوهم اعتراض نه چې (انّک لاتهدی من احببت) جواب کوي چې دلته معنی د ايصال الی المطلوب مراد دی بيا ده ته هم وائې چې دا معنی حقيقي ده که مجازي که حقيقي وي نو اشتراک راځي او که مجازي وي نو مجاز ته دې عدول وکړ او دواړه خلاف الاصل دي علامه تفتازاني رحمه الله هم په حاشيه د کشاف کې په دوی کې محاکمه کړي هغه داسې چې هداية کله مفعول ثاني ته متعدي وي بالذات او کله بالواسطه چې کله هداية متعدّي وي مفعول ثاني ته بالذات لکه

(اهدنا الصراط المستقيم) نو دلته به د معتزله وو معنى مراده وي چې ايصال الى المطلوب ده او چې كله هداية مفعول ثاني ته متعدي په واسطې د الى يا مِن سره وي لكه (والله يهدى من يّشاء الى صراطٍ مّستقيم) نو دلته به د اشاعرو معنى مراد ده وي چې ارائة الطريق دى.

نو قاضي بيضاوي د دې وجې نه دا دواړه معناګانې نه كوي بلكه يوه داسې معنى كوي چې دې دواړو ته ورمتناوله او شامله وي يعنې اعمه معنى وي چې (دلالة بلطف) ده دا بيا كه په ضمن د ايصال الى المطلوب كې وي او كه په ضمن د ارائة الطريق كې وي نو اعتراض پرې راځي دلالت بلطف والې (خلق اسباب الطاعات) پيداكوى د اسبابو د طاعاتو لكه عقل بلوغ ليږل د رسول او نازلول د كتاب او داسې نور.

تفسيربيضاوي: (وَقَوْلُهُ تَعالى(مِنْ دُونِ اللهِ فَهْدُوْهُم إلى صِرَاطِ الجحيم [1]) وَارِدٌ عَلى التَّهَكُّم وَمِنهُ الهِدايَةُ الهَوادِي الوَحِش لِمُقدِماتِهَا) .

ترجمه: او هر چې دا قول د الله (جَلَّجَلَالُهُ) دى هدايت وكړئ د دوى لارې د جهنم ته دا تهكم سخريه ده او د دې نه هديه (تحفه) هم ده او صحرائي ځناور چې مخكې روان وي د خپلې رمې ته رنه كوي.

تشريح: په دې سره دفع د اعتراض دى.

سوال: تا وويل چې هدايت په خيركې مستعمليږي په ذكر شوي آيت كې خو په شركې استعمال شوى چې بيودنه د جهنم دى!

جواب: (وارد على التهكم) د امجاز دى په طريقې د سخريه سره استعمال شوى لكه ګنجي ته چې وائې څنې دي ځنګه دي.

تحكم وايي احد الضدين د اخر په معنا سره استعمالول.

او هديه هم له هدايت څخه دى ، هديه مقدمه د محبت ته وائي نو د خيرمقدمه شوه دغه شان هوادي الوحش هغه ځناورو ته وايي چې په ځنګل كې له رمې نه مخكې روان وي نو دا ياله دي

---

(1):- سورة الصافات: آية (۲۳).

وجې مخکې ترينه ځې چې هسې نه کوم زمرى يابل حيوان حمله پرې ونکړي نو دغه مخکينو ځناورو ته هوادي وائي.

تفسيربيضاوى: (وَ الْفِعلُ مِنهُ هَدَى وَ أَصلُه أَنْ يُعَدى بِاللَّامِ أو اِلى فَعُومِلَ مُعَامَلة أختَار فِي قوله تعالى(وَاخْتَارَ مُوسَى قَومَه [1]).

ترجمه: د دې هدايت نه فعل هدى راځي او اصل د دې (هدى يهدى) دا دى چې دا به په لام او يا الى سره متعدي کيږي له دې سره عمل وشو په شان د عمل د اختار لکه په دې آيت کې و اختار مُوسَى قَومَه..

تشريح: دلته په هدايت کې صرفي بحث کوي . خلاصه دا چې دا د باب ضرب يضرب نه ناقص دى. اصل د دې دا دى چې دا دې متعدي شي په لام يا الى سره نو داسې عبادت پکاردى (اهدنا لِصراط المستقيم يا اهدنا الى الصراط المستقيم) خو دلته په يو سره هم متعدي نه شو ديته حذف الايصال وائي.

سوال: دې آيت کې خو صراط سره لام او الى نه دي ذکر ايا بل ځاى کې داسې مثال ښودلى شي چې هلته نه لام او نه الى ذکر وي يعنې حذف ايصال شوى وي؟

جواب: هو داسې مثال په قرآن کې هم موجود دى اختيار لازمي دى متعدي کيږي په مِن سره او مِن نه دې ذکر نو دلته هم حذف الايصال شوى دى.

---

(۱):- سورة الاعراف: آية (٥٥).

(د هداية انواع او اجناس)

تفسيربيضاوى: (وَ هِدَايَةُ اللّٰهِ تعالى تَتَنَوَّعُ أنواعًا لَايُحصِيهَا عَد كَمَاقَالَ اللّٰهُ تعالى (وان تَعدّوا نِعمَةَ الله لاتُحصُوها[1]) وَلَكنَّها تَنحصرُ فى أجْناسٍ مُتَرتبَةٌ ألاوّلِ أفاضه القُوى أَلَتى بِها يَتَمَكَّنُ الْمَرءُ منْ الاهْتِداءِ الى مَصالِحِهِ كَالقُوَّة العَقْليَّةِ وَ الحَواسِ البَاطِنةِ وَالمُشاعِر الظَّاهرةِ).

ترجمه: د الله جلّ جلاله هدايت ډيرو اقسامو ته تقسيمږي چې شمار ئې راګيرولى نشي لكه الله جلّ جلاله فرمائي كه تاسو د الله جلّ جلاله د نعمتونو شمار كوئ نو وبه ئې نه شمارئ؛ خو لكن دا هدايت په څو اجناسو كې مرتب دى اول بنده لره هغه قوتونه وركول چې د غو قوتونو سره خپلو مصالحو ته د رسېدو لارې قدرت مومي لكه قوّة عقلية او حواس باطنه او مشاعر ظاهره.

تشريح: انواع او اقسام د هدايت خو غيرمتناهي دي اما اجناس ئې څلور دي.

(۱) قوتونه وركول دي ، يعني اسباب د طاعت الله جلّ جلاله دركوي لكه عقل حواس باطنه او ظاهره.

حواس ظاهره او باطنه

حواس ظاهره پنځه دي (۱) باصره (۲) سامعه (۳) شامه (۴) ذائقه (۵) لامسه.

حواس باطنه پنځه دي (۱) حس مشترک (۲) وهم (۳) خيال (۴) متصرفه (۵) خزانه.

او دا قوتونه الله جل جلاله انسان ته په ابتداء كې يعني ماشوم توب كې وركوي او بيا په هرقوت كې بې شميره نعمتونه پراته دي.

تفسيربيضاوي: (أَلثَّانِي نَصْب الدَّلائِل الْفَارقَةِ بَيْنَ الحَقِّ وَالباطِلِ وَ الصَّلاحِ وَ الفَسَادِ وَ الَيهِ أَشَارَ حَيْث قال (وَهَدَيْنَاهُ النجدين[2]) وقال وَاَمّا ثَمُودُ فَهَدَيْنَاهُم فَاستَحَبّوا العَمى على الهدى[3]) .

---

(۱):- سورة ابراهيم: آية (۳٤).

(۲):- سورة البلد: آية (۱۰) .

(۳):- سورة السجدة : آية (۱۷).

ترجمه: دویم هغه دلائل قائمول دي چې د حق او باطل او د صلاح او فساد په مینځ کې فرق پیداکوي دې خبرې ته الله جلّ جلاله په دې آیات کې اشاره کړې ده مونږ انسان ته د خیر او شر ښودنه کړې ده او الله جل جلاله په حق د ثمودیانو کې فرمائې مونږ ثمودیانو ته هدایت وکړو نو هغوی ړندوالی (کفر) په هدایت غوره کړ.

تشریح: دا دوهم جنس د هدایت دی چې نصب الدلائل دي او دا په هغه وخت کې الله جلّ جلاله انسان ته ورکوي چې کله بلوغ ته په رسیدو شي یعنې مراحق شي نو په دې وخت کې بیا په دلائلو کې سوچ او فکرکولی شي او دلائل فارقه بین الحق او باطل او بین صلاح او فساد پیژني.

د بین الحق و الباطل نه قوت عملي مراد دی او د صلاح او فساد نه قوت نظري مراد دی.

تفسیربیضاوي: (وَالثَّالثُ أَلهِدَايَةُ بِارْسالِ الرّسُل وَ اِنْزَالِ الكِتَاب وَايَّاها عَنى بِقوله (وَجَعلْناهُم اَئِمّة يَهدون بِاَمْرنا [۱]).

ترجمه: دریم جنس د هدایت په لیږلو د رسولانو او نازلولو د کتابونو او دا معنی ئي په خپل دې قول سره مراد کړې ده مونږ دوئ (انبیاء علیهم السلام) د دین امامان گرځولي وو دوی به زمونږ د حکم مطابق خلکو ته حق ښوده او د اقول د الله جلّ جلاله: یقینا دا قرآن هغه طریقه ښائې چې نیغه او سمه ده.

تشریح: دا دریم جنس د هدایت دی دا روسته له قوت عملي او قوت نظري څخه انسان ته الله تعالی ورکوي چې ارسال الرّسل دی او انزال الکتب دي نو الله جلّ جلاله په دې سلسله کې یولک او څلیرېشت زره پیغمبران اوسل صحیفې او څلور کتابونه نازل کړي دي.

تفسیربیضاوي: (وَالرّابع أَن يَّكشِفَ على قُلوبِهمْ السَّرَائِر وَ يُرِيهمْ الأشيَاءِ كَمَاهِيَ بِالوَحْى أو الالهَام وَالمَنامَات الصَّادقَه وَ هَذا قِسمٌ يَختَصُّ بنَيلهِ الأَنْبِياءِ وَالأَوْلِياءِ وَايَاهُ عَنى بقوله(اولئك الّذين هَدى الله فَبِهُداهم اقتده [۲]) وقوله (والّذين جَاهَدُوا فِينَا لَنَهدِيَنّهم سُبُلنا [۳]).

---

(۱):- سورة الانبياء: آية (۷۳).

(۲):- سورة الانعام: (۹۰).

(۳):- سورة العنكبوت (٦٩).

ترجمه: (څلورم دا چې الله جلّ جلاله د دوی زړونو ته پټ رازونه ښکاره کړي او داسې اشياء ورته وښائي لکه څنګه چې دا اشياء په نفس الامر کې وي په واسطې د وحې (انبياء ووته) او يا په واسطې د الهام (اولياء وو ته) اويا په واسطې د ريښتيا خوبونو (کاملو مؤمنانوته) او دا قسم (څلورم) ته په رسيدو خاص دی انبياء عليهم السلام او دا هدايت الله جلّ جلاله په دې قول کې مراد کړي دی: انبياء عليهم السلام هغه څوک دي چې الله جلّ جلاله ورته هدايت کړی وو نو ته ای پيغمبره د دوی طريقو پسې اقتداء او کړه.

تشريح: دا څلورم جنس د هدايت دی کله چې درې واړه قسمه د هدايت مکمل حاصل شي او مجاهدو او رياضتونو خپل زړونه منور کړل شي نو الله تعالی دې کس ته څلورم قسم هدايت په دې ډول کوي چې دغه کس اسرار او حقايق د اشياؤ منکشف کړي نو که چيرته نبي وي د کشف د وحي په زريعه وي او که نبي نه وي هغه ته د الهام او ريښتونو خوبونو په زريعه منکشف کيږي او دا څلورم قسم د وحي په زريعه هدايت خاص دی تر انبياء عليهم السلام او که دالهام او ريښتونو خوبونو په زريعه وي بيا دا اولياء ؤو پورې خاص دی او دا قول د الله جلّ جلاله (والذين جَاهَدُوا فِينَا لَنَهدِيَنّهم سُبُلنا) چې هغه کسان چې زمونږ په لاره کې کوښښ کوي نو خامخا به ورته خپلې لارې اوښايو انبياءعليهم السلام وو ته کشف په ټټو رازونو کولو باندې دلالت کوي خو کلا نه بلکه بعضًا خو د انبياء عليهم السلام وو کشف(پټ رازونه) د ټول مخلوق نه زيات وي او د اولياؤو کشف بيا د عامو خلکونه زيات وي بلکه په بعضو اشياؤو وي او اعطائي وي يعنې عطائي جزئي دی مفتي فريد رحمه الله ليکي چې څوک ووائي چې رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) لره علم غيب کلي ذاتي ثابت دی نو دا سړی کافر دی.

مسئله د علم الغيب په نن دور کې د علماؤ تر مينځ معرکة الاراء دی له هم دې امله د پا دې مسئلې يو څه وضاحت ضروري دی.

مسئله د علم الغیب

د علم الغیب په مسئله کې زه د رته شیخ صیب مقاله وړاندې کوم هیله ده چې تنده په مو پرې ماته شي د اهل سنت والجماعت عقیده: 14

(۱)-علم غیب په اصطلاح کې ذاتي او کلي وي . لهذا علم غیب صرف د الله تعالی صفت دی، عالم الغیب صرف الله تعالی دی، څوک چې په اصطلاحي معنی باندې علم الغیب بل چاته ثابتوي او یا په اصطلاحي معنی باندې بل چا ته عالم الغیب وایي هغه کافر دی.

(۲)- انباء الغیب او اخبار بالغیب چې د دې څخه وروسته لغوي علم الغیب راځي دا غیر الله ته ثابت دی، او په دې کې د نبي کریم (ﷺ) برخه د نورو انبیاء علیهم السلام څخه زیاته ده، نبي کریم (ﷺ) ته د ډیرو غیوبو خبر ورکړل شوی دی، د دې څخه منکر هم ملحد او زندیق دی.

خلاصه دا چې علم الغیب اصطلاحي او شرعي ما فوق الاسباب او محیط یعنې ذاتي او کلي وي او علم الغیب لغوي، ماتحت الاسباب وي، علم الغیب اصطلاحي د الله تعالی خاص صفت دی.

مفتي محمد فرید رحمه الله لیکي چې: دعلم الغیب دوه معناګانې دي، یو علم ما فوق الاسباب، یعنې بغیر د اسبابو نه علم لرل، او دا شرعي او اصطلاحي معنی ده، دویم: دا چې علم په هغه شیانو چې د حواسو او عقل نه او چت وي او دېته غیب لغوي وایي، علم غیب په اولنۍ معنی سره د الله تعالی سره مختص دی، ځکه چې د ممکن د ټولو کارونو ذات او صفات د الله تعالی ورکړه ده، لکه فرمایي: ومابکم من نعمة فمن الله، او دویم قسم انبیاء علیهم السلام ته ورکړی شوی خو په قدر د ضرورت، نه دا چې ټول په ټوله الخ [1]

۳- څوک چې نبي کریم (ﷺ) ته عالم الغیب وایي او معنی لغوي مراد وي چې د وحي الهام او کشف په ذریعه وي، یعنې اظهار الغیب مراد وي نو دا ګناهګار شو، ځکه چې موهِم لفظ یې استعمال کړو، د علم الغیب د لفظ څخه متبادر علم غیب اصطلاحي دی، د شریعت په

(۱) فتاوی فریدیه ج۱ص ۸۶

اصطلاح کې همدې اصطلاحي ته علم الغيب وايي او په همدې اصطلاحي علم الغيب باندې د احکامو مدار دی، لکه د صلوة، زکوة، حج وغيره څخه چې اصطلاحي معنى ګانې مرادې دي او په همدې اصطلاحي معناګانو باندې يې احکام مرتب دي.

۴- دلته درې شيان دي، يو د نبي (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) علم. دوهم غيب او دريم علم الغيب دی. اختلاف په دې دريم کې دی يعنې په علم الغيب کې،نو هغو دلايلو ته اعتبار دی چې په هغې کې علم الغيب راغلی وي د علم په دلايلو علم الغيب نه ثابتيږي لکه: (وعلمناه من لّدنا علما) دعلم دليل دی ، د علم الغيب دليل نه دی، همدارنګه (أوتيت علم الأولين والاخيرين) دا د علم دليل دی خو د علم الغيب دليل نه دی.

۵- علم الغيب په شريعت کې هغه دی چې ذاتي وي او کلي وي د اسبابو د علم په وجه به نه وي، اساب د علم درې دي حواس، خبر صادق او عقل، د دې اسبابو د علم په وجه چې کوم علم راغلی وي هغه علم غيب شرعي او اصطلاحي نه دی، يوڅو حوالې وګوره :

۱-علامه الوسي رحمه الله فرمايي: «فاالعلم به لکونه بواسطة الاسباب لايکون من علم الغيب[1]

۲-مايدرک بالدليل لايکون غيباً[2]

۳- هو مالم يقم عليه دليل ولا اطلع عليه مخلوق.[3]

۴- ماغاب عن المشاهد ولم يقم عليه دليل.[4]

---

(۱) روح المعانى ج ۲۰، صـ۲۹۹

(۲) تفسير نسفي ج ۲صـ ۷۲۳

(۳) تفسير نسفي ج ۲صـ ۶۱۷

(۴) تفسير مظهري ج ۷ص- ۱۲۷

۵- والتحقيق ان الغيب ما غاب عن الحواس والعلم الضروري والعلم الاستدلالي وقد نطق القرآن بنفي علمه عمن سواه تعالى فمن ادعى انه يعلمه كفر ومن صدق المدعى كفر واما ما علم بحاسة او ضرورة او دليل فليس بغيب.[۱]

۶-وما اعلم الله لخيار عباده بالوحي او الالهام الحق لم يبق بعد الاعلام غيبا.[۲]

۷-ان علم الانبياء والاولياء هو باعلام من الله تعالى لهم وعلمنا بذلك هوباعلامهم لنا وهذا غير علم الله الذي تفرد به وهو صفة من صفاته القديمة الازلية الدايمة... فلايعلم الغيب احد الا هو وما سواه ان علموا جزئيات منه فهو باعلامه واطلاعه لهم وحينئذ لايطلق انهم يعلمون الغيب اذ لا صفة لهم يقتدرون بها على الاستقلال بعلمه.[۳]

۸- فان لبعض الغيوب اسبابا قد استدل بها عليه لكنه ليس بحقيقي.[۴]

د دې څخه معلومه شوه چې علم الغيب په شريعت او اصطلاح کې ذاتي او کلي وي، نو د علم الغيب تقسيم ذاتي او عطائي ته غلط دی، ځکه چې تقسيم يې ذاتي ته الى نفسه دی او عطائي ته الى غيره دی. همدارنګه چې علم الغيب شرعي او اصطلاحي د الله تعالى خاص صفت شو، نو غير الله ته بالکل نه دی ثابت، نه کلي او نه جزئي، څوک چې د الله تعالى خاص صفت غير الله ته کلي ثابت کړي، هغه کلي مشرک دی او څوک يې چې جزئي ثابت کړي هغه جزئي مشرک دی.

فائده:(۱) جديد بريلويان (چې په افغانستان ،کوزه پښتونخوا او بلوچستان کې په ښکاره ځان ته بريلويان نه وايي، بلکې وايي چې نه ديوبنديان يو اونه بريلويان يو، په حقيقت کې (۹۸) فيصده بريلويان دي) دوي وايي چې نبي کريم (ﷺ) ته علم الغيب جزئي عطائي ثابت دی، نو دوي شپږ غلطيانې کوي.

---

(۱) نبراس على شرح العقايد صـ ۳۴۳

(۲) فتاوى بزازيه ج ۶صـ ۱۱۹

(۳) رسائل ابن عابدين ج ۲صـ ۴۵۹

(۴) فتح البارى صـ ۴۹۱

اول: تقسيم د علم الغيب کوي ذاتي او عطائي ته ،حالانکې علم الغيب په اصلاح کې فقط ذاتي دی.

دوهم: تقسيم دعلم الغيب کوي کلي او جزئي ته . حالانکې علم الغيب په اصطلاح کې فقط کلي وي.

دريم: داچې د يو فن عالم هغه چاته وايي چې د دې فن اصول . کليات او قواعد ورته معلوم وي او د غيبو قواعد يواځې الله تعالى ته معلوم دي ، نو عالم الغيب يواځې الله تعالى دى (وَ عِنْدَه مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا اِلَّا هُوَ) د مفاتحو څخه همدا قواعد مراد دي. مثلا ډاکټر هغه چاته وايي چې د طب اصول . کليات ،قواعد او فارمولې ورته معلومې وي ، د جزئياتو د علم په وجه چاته ډاکټر نه شې ويلى، مثلا مونږ ته دا جزئي معلوم دی چې ډيسپرين ګولى د سر درد علاج دی ، نو د دې جزئي او همداسې د سلو او زرو جزئي ننسخو د علم په وجه چاته ډاکټر نه شې ويل کيدلى، تر څو چې د طب قواعد زده نکړي ، نو د غيبو د جزئياتو د علم په وجه چاته عالم الغيب نه شې ويلى. تر څو چې د غيبو قواعد ورته معلوم نه وي او د غيبو قواعد صرف الله تعالى ته معلوم دي.

څلورم: پکار دی چې د دوي په نيز هر مسلمان او کافر عالم الغيب شي ، ځکه چې علم الغيب عطائي که ثابت شي، نو بيا الله تعالى نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته اعطاء کړې ده او نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نورو انسانانو ته اطلاع کړې ده،نو ټولو ته علم الغيب ثابت شو ، فرق صرف په مطلِع کې شو ، چې نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته الله تعالى او جبرئيل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) اطلاع ورکړه او نورو انسانانو ته نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) اطلاع ورکړه ، همدارنګه فرق په قِلت او کثرة کې شو .

پنځم: د علم الغيب تقسيم جزئيْ اوْ عطائي ته يوه بدعتي اصطلاح ده، د عقائدو په هيڅ کتاب کې نه ده راغلې.

شپږم: د مخلوق علم ملکې ته وايي ، نو په مخلوق کې به عالم الغيب هغه چا ته وايي چې ملکه او قوت د غيب دانۍ ولري او په ملکه د غيب دانۍ کې کلي او جزئي ،ذاتي او عطائي ته تقسيم غلط دی.

(۲) قديم بريلويان(چې اقراري بريلويان دي) وايي چې دنبي كريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره علم الغيب كلي عطائي وو. نو دوي درې غلطۍ كوي:۱- چې تقسيم د علم الغيب كوي ذاتي او عطائي ته، حالانكې علم الغيب فقط ذاتي وي.

۲- دنبي كريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په ذريعه ټولو انسانانو ته اطلاع شوې ده، نو بيا پكار دي چې هر انسان عالم الغيب شي.

(۳) د مخلوق علم ملكې ته وايي، نو په مخلوق كې به عالم الغيب هغه چا ته وايي چې ملكه او قوت د غيب دانۍ ولري او په ملكه دغيب دانۍ كې كلي او جزئي، ذاتي او عطائي ته تقسيم غلط دى.

دغيب او علم الغيب په مابين كې فرق

دغيب او علم الغيب په مابين كې فرق دا شو چې: غيب په دوه قسمه دى،ماتحت الاسباب، يعني ما يدرك بالخبر الصادق او العقل او مافوق الاسباب يعنې ما لايدرك بالاسباب ،لكه د قيامت د ورځې علم، قاضي بيضاوي فرمايي چې: وهو (اى الغيب) قسمان: ۱- قسم لا دليل عليه .۲- وقسم نُصب عليه دليل، نو اول مافوق الاسباب دى او دوهم ماتحت الاسباب دى او علم الغيب اصطلاحي فقط ما فوق الاسباب دى.

خلاصه دا چې أهل سنت والجماعت فرمايي چې علم غيب اصطلاحي يعنې علم ذاتي، محيط ، تفصيلي چې بلا استثناء په ټولو معلوماتو باندې حاوي وي، د الله تعالى د خپل خاصو څخه دى، په دې كې ورسره نه رسول شريك دى او نه غيررسول، بيا چې الله تعالى چاته وغواړي ، نو دوحې يا د الهام او يا د عقل استدلالي په ذريعه باندې ډير غيوب ورته ښكاره كوي، د يته علم الغيب لغوي وايي چې د انباء او اخبار په ذريعې سره وي، چې په دې كې د ملايكو او انبياوو برخه دنور مخلوق څخه ډيره ده او د محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) برخه د هر چا په نسبت ډيره ده.

په علم غيب اصطلاحي كې ذاتي او عطائي همدارنګه كلي او جزئي ته تقسيم نشته ،ځكه چې علم غيب اصطلاحي فقط ذاتي او كلي وي او دا دالله تعالى خاص صفت دى، دبعضې اكابرو

په کلام کې چې دعلم الغیب تقسیم کلي او جزئي ته راغلی دی .نو هغه علم الغیب لغوي دی چې انباء بالغیب او اطلاع علی الغیب هم ورته وایي. علم الغیب لغوي کلي هم د مخلوق سره نشته.

تنبیه: علم الغیب لغوي ماتحت الاسباب وي سبب ورته کله عقل وي او کله خبر صادق چې د وحې یا د کشف یا د الهام وغیره په ذریعه اطلاع حاصله شي ، لکن بعد الاطلاع بیا دا غیب مشاهَد گرځي مثلاً: زید د دیوال شاته چې تا ته معلوم نه وي غیب دی. لکن که څوک اطلاع درکړي چې د دیوال شاته زید دی، نو بعده الاطلاع همدا زید مشاهد شو او بعد الاطلاع علم ، علم الغیب نه شو ، بلکې علم الشهادة شو ، نو دا په حقیقت کې علم الغیب نه دی،صاحب د فتاوی بزازیه فرمایي چې : لم یبق بعدالاعلام غیباً .(۱) نو قبل الاطلاع غیب وو او بعد الاطلاع مشـاهد شو. نو د اطلاع څخه وروسته علم الغیب نه راځي ، بلکې علم الشهادة راځي ،نو بعضې خلک چې وایي چې دانباء څخه وروسته علم الغیب راځي،نو دا مغالطه ده، ځکه چې دانباء څخه وروسته علم المشهود راځي، ځکه چې بعد الاطلاع دا معلوم غیب نه دی کما قال صاحب الفتاوی البزازیه وما اعلم الله لخیار عباده بالوحی او الالهام الحق لم یبق بعدالاعلام غیباً.(۲)

دأهل سنت والجماعت دعقیدې وضاحت

یو غیب دی او بل علم الغیب دی، د غیب تعریف علماء داسې کوي چې (ما لایدرکه الحواس ولاتقتضیه بداهة العقل) د دې تعریف تشریح دا ده چې اسباب د علم درې دي، حواس سلیمه، عقل او خبر صادق، چې وحی هم په دې قسم کې داخله ده ، یا په عقل باندې کله بداهةً علم مرتبیږي او کله استدلالاً، نو (۱) غیب دیته وایي چې په حواسو باندې به یې ادراک نه کیږي ، د کوم شي ادراک چې د حواسو په ذریعه باندې کیږي هغه غیب نه دی،او په دې مُدرک باندې علم هم علم غیب نه دی.

(۲) همدارنگه مدرک بالعقل بداهةً هم غیب نه دی او په دې مدرَک باندې علم هم علم غیب نه دی ، فبعد هذا نقول: چې غیب په درې قسمه دی، دوه په اسبابو د علم باندې مرتب وي، یو دا

---

(۱)فتاوی بزازیه ج ٤صـ ۱۱۹

(۲)فتاوی بزازیه ج ٤صـ ۱۱۹

چې: مدرَک بالعقل وي استدلالاً لکه د الله تعالی وجود او دوهم دا چې: مدرَک بالخبر الصادق وي لکه حالات د برزخ، د قیامت او د جنت او د جهنم وغیره د ماتحت الاسباب.

(۳) دا چې په دې اسبابو سره یې ادراک نه کیږي، نه په حواسو. نه په عقل او نه په خبر صادق، لکه د سبا د ورځې د کارونو علم، د مرګ د ورځې علم، د قیامت د ورځې علم دا مافوق الاسباب دي، نو د غیب د اول او د دوهم قسم علم او ادراک ذاتي نه دی، بلکې د ذرایعو او د اسبابو په وجه دی لهذا ماتحت الاسباب ورته وایو او د دریم قسم علم او ادراک ذاتي دی د اسبابو او د زرایعو په وجه نه دی، لهذا مافوق الاسباب ورته وایو، د اول او د دوهم قسم غیبو علم مخلوق ته ثابتیدلی شي خو د لغوی علم الغیب دی او د دریم قسم غیبو علم د الله تعالی خاصه ده، مخلوق ته نه شي ثابتیدلی او د بته اصطلاحي علم الغیب وایي، لغوي علم الغیب ماتحت الاسباب وي او اصطلاحي علم الغیب ما فوق الاسباب وي، په قرآن او په سنت کې د غیبو اطلاق په درې واړو قسمونو باندې کیږي، لکن چې کله د غیب سره د ایمان او د اظهار لفظ راشي نو هلته اول او دوهم قسم غیب مراد وي، ځکه چې ایمان فرع د علم ده او علم په اولو دواړو قسمونو باندې راتللی شي.

او کله چې د غیب سره د علم لفظ راشي، نو هلته دریم قسم غیب مراد وي او چونکې د هر انسان بلکې د هر مخلوق علم د زرایعو او د اسبابو په وجه دی، له دې وجې د مخلوق لپاره لفظ د ایمان بالغیب اظهار علی الغیب، اطلاع علی الغیب او انباء علی الغیب استعمالیږي، او د الله تعالی علم بغیر د اسبابو ځخه دی، نو د الله تعالی په جانب کې لفظ د(علم الغیب) او د(عالم الغیب) مستعملیږي په قرآن او په حدیث کې د مخلوق لپاره لفظ د عالم الغیب نه دی مستعمل شوی، (وعنده مفاتح الغیب لایعلمها الا هو) الانعام ۵۹) عالم الغیب فلا یظهر علی غیبه احداً، الجن).

نو اوس که یو څوک غیر الله ته عالم الغیب وایي په دریمه معنی باندې یعنې چې د علم لپاره یې هیڅ سبب او ذریعه نه وي، هغه مشرک دی ځکه چې دا د الله تعالی صفت او خاصه ده، او که ذکر د عالم الغیب کوي او مراد یې ترینه اظهار علی الغیب او اطلاع الغیب وي، نو دا اګر چې شرک نه دی لکن بیا هم غلطه وینا ده، ځکه چې د قرآن او د حدیث په اصطلاح کې اظهار علی

الغیب او اطلاع الغیب ته علم الغیب نه دی ویلی شوی ، دا داسې ده لکه چې یو سړی ووایي چې ان الله لایعلم الغیب او مطلب یې دا وي چې د الله تعالی څخه هیڅ شی غایب نه دی او یا لکه یو سړی چې د حق څخه مرګ، د فتنې څخه اولاد، او رحمت څخه باران مراد وي او وایي چې: (انی اکره الحق واحب الفتنة وأفر من الرحمة).

حکم

څوک چې په اصطلاحی معنی سره غیر الله عالم الغیب ګڼي هغه کافر دی.

تفصیل: که څوک غیر الله ته عالم الغیب وایي، نو دا ظاهراً مشرک دی، بیا یې که خپله عقیده بیان کړه چې زما مراد علم الغیب اصطلاحي او شرعي دی، نو دا په حقیقت کې هم مشرک دی او که خپله عقیده یې داسې بیان کړه چې زما مراد اظهار الغیب او علم الغیب لغوي دی، نو بیا مشرک نه دی..لکن داسې ویل نه دي پکار، ځکه چې دا لفظ موهِم د شرک دی لکه یو سړی چې ووایي چې زه صلوة نه منم ، نوظاهراً دا کافر دی ، بیا یې که خپله عقیده داسې بیان کړه چې زه صلوة اصطلاحي یعنې ارکان مخصوصه نه منم ، نو دا په حقیقت کې هم کافر دی او که خپله عقیده یې داسې بیان کړه چې زه صلوة لغوي یعنې تحریک الصلوین نه منم ،نو بیا کافر نه دی ، لکن دا وینا یې صحیح نه ده، ځکه چې موهِمه د کفر ده.

(۱)په فتاوی حقانیه کې د یو سوال په جواب کې داسې فرمایي چې علم غیب کلی او علم محیط د الله خاصه ده له الله تعالی څخه پرته له هیچا سره علم غیب کلي او علم محیط نه شته، همدارنګه نبي کریم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) هم علم غیب کلي نه درلود، بلکې د ځینو مغیباتو علم ورته الله تعالی د وحې په ذریعه ورکړی وو، یعنې د نبي کریم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره علم الغیب شرعي او اصطلاحي نشته او علم الغیب لغوي ورسره شته، بیا وروسته لیکي چې څوک چې د حضور (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په اړه دا عقیده لري چې هغه د جمیع ما کان ومایکون علم لري هغه د قطعي نص

څخه مخالف دی، نو د داسې عقيدې لرونکی سړی کافر دی او بايد چې خپل ايمان نوی کړي او که واده يې وي نو د نکاح تجديد هم پرې ضروري دی.[۱]

(۲) ملا علی القاري رحمه الله فرمايي چې: فالعلم بالغيب أمر تفرد به سبحانه تعالى ولا سبيل للعباد اليه الا با علام منه والهام بطريق المعجزة او الكرامة او الارشاد بالامارات فيما يمكن فيه ذلک، ولهذا ذكر فی الفتاوی ان قول القايل عند رؤية هالة القمر ای دايرته (يكون مطرٌ) مدعيا علم الغيب لابعلامة كفر.[۲]

(۳) علامه ابن عابدين رحمه الله فرمايي چې: قلت وحاصله ان دعوی علم الغيب معارضة لنص القران فيكفر بها[۳].

(۴) رجل تزوج بشهادة الله ورسوله كان باطلا لقوله عليه السلام لانكاح الا بشهود وكل نكاح يكون بشهادة الله ورسوله معظهم جعلوا ذلک كفرا لانه يعتقدان الرسول (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يعلم الغيب وهو كفر.[۴]

---

(۱) فتاوی حقانيه ج ۱ص ۱۴۱

(۲) شرح الفقه الاكبر ص ۱۵۱) تصديق الكاهن فيما يخبر

(۳) ردالمحتار، باب المرتد، مطلب فی دعوی علم الغيب

(۴) قاضي خان علی هامش الهنديه ، باب مايكون اسلاما من الكافر وما لايكون ج ۱ص ۳۳۴)(۵) په خلاصة الفتاوی کې راځي چې :رجل تزوج امرأة ولم يحضره شهود فقال: خدا ورسول يا فرشتګان را ګواه كردم ، بطل النكاح وكفر الناكح، لاعتقاد أن الرسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والملايكة تعلم الغيب)

(۶) لو تزوج بشهادة الله ورسوله لاينعقد ويكفر لاعتقاده ان النبی صلی الله عليه وسلم يعلم الغيب

۷- تزوجها بشهادة الله والرسول صلی الله عليه وسلم لاينعقد ويخاف عليه الكفر لانه يوهم ان النبی صلی الله عليه وسلم يعلم الغيب.

۸- اګر كسی بدون شهود ګفت كه خدا و رسول راګواه كردم يا فرشته راګواه كردم كافر شود.

(۹) ذكر الحنفية فی فروعهم بالتكفير باعتقاد ان النبي صلی الله عليه وسلم يعلم الغيب لمعارضة قوله تعالی قل لايعلم من فی السموات والارض الغيب الا الله .

(۱۰) زوج امرأة بشهادة الله و رسوله هل يكفر؟ ففيه الفاظ كفر.

داهل بدعتو (بريلويانو) عقيده

قديم بريلويان: احمد رضاخان بريلوي ليکي چې: د عالم د پيدايش څخه شروع تر محشر او تر دخول د جنت او د جهنم پورې د ټولو جزئي او کلي، ديني او دونيوي، تفصيلي او محيط علم نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته ورکړل شوی وو.[1] بيا دا علم محيط نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته د کوم وخت څخه ورکړل شوی وو؟ نو په دې کې بريلويان مختلفې عقيدې لري:

بعضې وايي چې کله چې نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د مور په ګيډه کې وو نو په همغه وخت کې ورته د ماکان او د مايکون علم ورکړل شو[2]

بعضې وايي چې د معراج په شپه باندې نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته علم د ماکان او د مايکون ورکړل شو (حواله سابقه)

احمد رضاخان وايي چې نبي کريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته علم د ماکان او د مايکون د ټول قرآن د نزول څخه وروسته ورکړل شو (انباء المصطفى ص ۴) دا د قديمو بريلويانو عقيده ده، چې علم الغيب کلي عطائي غير الله ته ثابتوي او د افغانستان، کوزې پښتونخوا او بلوجستان جديد بريلويان، علم الغيب جزئي عطائي غير الله ته ثابتوي.

دأهل بدعتو بريلويانو دلايل

فائده: د عقيدې د اثبات لپاره داسې دليل پکار دی چې قطعي الثبوت او قطعي الدلالة وي بريلويان هم دا اصل مني احمد رضا خان په رسايل علم غيب ص (۱۴۵) کې ليکي چې:

اعتقاديات ميں قطعيات کا اعتبار ہوتا ہے نہ ظنيات صحاحا کا.

قرآني دلايل:

الله تعالى فرمايي: (وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتٰبَ تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ)[3]،

مَا كَانَ حَدِيْثًا يُّفْتَرٰى وَلٰكِنْ تَصْدِيْقَ الَّذِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَتَفْصِيْلَ كُلِّ شَيْءٍ (يوسف/۱۱۱)

---

(۱) انباء المصطفى ص ۳ والكلمة العليا ص ۲۳)

(۲) انوار افتاب صداقت لز قاضي فضل احمد لدهيانوى ص ۱۳۷

(۳) سورت النحل ايت ۸۹)

قال الله تعالى :مافرطنا فى الكتب من شىء (انعام آيت ۳۸)

احمد رضاخان ليکي چې: نکره په سياق دنفی کې عموم راولي او په کلمې دکل کې داسې تعميم دی چې کله هم تخصيص نه قبلوي او بغير ددليل شرعي څخه نصوص هميشه په خپل ظاهر باندې حمليږي (انباء المصطفى ص ۴)

درسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) علم دشرق څخه ترغربه پورې، د أزل څخه تر أبده پورې دی، دهر صغير کبير، دهر رطب او يابس علم نبي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته حاصل دی او يوائې اجمالاً نه بلکې تفصيلا ورته حاصل دی.[1]

اول جواب: دا درې واړه آيتونه مکي دي او احمد رضاخان وايي چې نبي کريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته علم د ماکان ومايکون د ټول قرآن د نزول څخه وروسته ورکړل شو (انباء المصطفى ص ٤)

دوهم جواب: مفسرين فرمايي چې په دريم ايت کې د الکتب څخه لوح محفوظ مراد دی.[2]

دريم جواب: که ددې مکي ايتونو څخه نبي کريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته د هرې ذرې علم ثابت شي او عالم الغيب شي، نو بيا ددې ايتونو څخه وروسته دوحې نزول ته څه ضرورت وو؟ ځکه چې د را روانو ايتونو علم به هم له همدې ځای څخه نبي کريم (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته حاصل شوی وي، نو ايا ددې ايت دنزول څخه وروستني ايتونه او را روان احکام په ماکان وما يکون کې نه دي داخل؟.

څلورم جواب: چې نکره په سياق دنفی کې دعموم لپاره ده او کل هم داستغراق حقيقي لپاره دی ، نو په قرآن کې دهر شي بيان راغلو او بيا يوائې بيان نه دی بلکې مفصل بيان دی ، نو بيا سوال دادی چې په قرآن کې دمانځه د رکعتونو تفصيلات او د زکوة د نصاب تفصيلات کوم دي؟

پنځم جواب: خپله احمد رضاخان صاحب په يو ځای کې وايي چې کله د کل څخه اکثر مراد وي.[3]

---

(۱)(جاء الحق ص ۲۵ مقياس حنفيت ص ۲۹۱)

(۲) بغوي ، معالم التنزيل، تفسير کبير)

(۳) فتاوی رضويه ج ۱ص ۷۳۷

۲-الله تعالی فرمایي چې: (عٰلِمُ الْغَیْبِ فَلَا یُظْهِرُ عَلٰی غَیْبِه اَحَدًا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰی مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّه یَسْلُکُ مِنْ بَیْنِ یَدَیْه وَمِنْ خَلْفِه رَصَدًا[۱])

بریلیان وایي چې الله تعالی نبي کریم (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) ته خاص علم غیب حتی چې د قیامت علم هم ورکړو، نو اوس کم شی دی چې د نبی کریم (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) د علم څخه پاتې دی.[۲]

اول جواب: دا ایت مکي دی، ددې څخه وروسته هم دقرآن ډیره حصه نازله شوه، نو که ددې ایت څخه دعلم الغیب لپاره استدلال صحیح شي نو بیا سوال دادی چې ایا دقران باقي حصه په علم الغیب او په علم دماکان او مایکون کې داخله ده او که نه؟ که داخله وي نو دهغې نزول ته بیا څه ضرورت دی؟

دوهم جواب: داستثناء څخه علم الغیب کلي مراد دی او که جزئي؟ که جزئي مراد وي نو ستاسو مدعی نه ثابتیږي او که کلي مراد وي نو بیا یې د راروان ایت سره تعارض راځي چې (قُلْ اِنْ اَدْرِیْ اَقَرِیْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ یَجْعَلُ لَه رَبِّیْ اَمَدًا[۳]) ځکه چې په دې ایت کې د علم غیب کلي نفی ده.

دریم جواب: ددې ایت څخه ټول مفسرین دبعضې غیبو اظهار مراد وي (روح المعانی تحت هذه الایت).

۴- الله تعالی فرمایي چې: (وَمَا کَانَ اللهُ لِیُطْلِعَکُمْ عَلَی الْغَیْبِ وَلٰکِنَّ اللهَ یَجْتَبِیْ مِنْ رُّسُلِه مَنْ یَّشَاءُ) (ال عمرن ایت ۶۰)

په دې آیت کې راغله چې الله تعالی چې چاته وغواړي نو هغه ته دغیبو علم ورکوي.

اول جواب: دا ایت دسورت آل عمران ایت دی او دغزوې دأحد په وخت کې نازل شو، ددې څخه وروسته دقرآن شپاړس سورتونه نازل شو، نو که ددې ایت له وجې نبي کریم (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) ته دما کان وما یکون علم حاصل وي نو بیا خو پکاروه چې دا شپاړس سورتونه نه وی نازل شوی.

دوهم جواب: ټول مفسرین ددې ایت څخه بعض غیب مراد وي.

---

(۱) الجن ایت اية ۲۶

(۲) جاء الحق صـ ۵۵ خالص الاعتقاد صـ ۲۴)

(۳) الجن ایت ۲۵)

۵- وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ (نساء آیت ۱۱۳)

کلمه دما دعموم لپاره ده. نو ددې ځخه معلومیږي چې نبي کریم (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته دټولو تیرو شوو او د درا روانو واقعاتو خبر ورکړل شوی وو[1]

اول جواب: دا دسورت نساء ایت دی، چې په څلورم کال دهجرت باندې نازل شوی دی. ددې ایت ځخه وروسته ډیر سورتونه نازل شو. چې سورت توبه پکې په خاصه طریقه باندې دذکر کولو قابله ده، نو که ددې ایت ځخه دټولو غیبو علم مراد وی نو بیا خو ددې ایت دنزول ځخه وروسته دهیڅ سورت نزول ته ضرورت نه وو.

دوهم جواب: دا استدلال په دې باندې بنا دی چې کلمه دما دعموم او داستغراق لپاره ده، حالانکې په ډیرو ځایونو کې دعموم او داستغراق معنی غلطه وي لکه (ویعلمکم ما لم تکونوا تعلمون) البقره ۱۵۱) وعلمتم مالم تعلموا انتم ولا أباءكم (انعام ۹۲) نو بیا خو ددې آیتونو له وجې هر أمتي ته علم الغیب ثابت شو.

دریم جواب: مفسرینو په دې ایت کې د ما مصداق احکام او امور ددین ښودلي دي وګوره بغوي تحت هذه الایة، بعضو مفسرینو چې دلته خفیات الامور ذکر کړي دي نو دهغوي ترجمه هم بالکل صحیح ده ځکه چې نبی کریم (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته الله تعالی د ډیرو امورو غیبیه وو اطلاع ورکړې وه.

داحادیثو ځخه استدلالات

۱-عن حذیفه (رضی الله عنه) قال: قام فینا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مقاماً ماترک شیئا یکون فی مقامه ذلک الی قیام الساعة الا حدث به، حفظه من حفظه ونسیه من نسیه.[2]

جواب: دحضرت حذیفه رضي الله عنه ټول روایات چې مخې ته کیښودل شي نو نتیجه ترینه دا راوزي چې رسول الله صلی الله وسلم چې کوم شی بیان کړی دی، دهغې تعلق دفتنو او

(۱) (جاء الحق صـ۴۹)

(۲) صحیح مسلم، کتاب الفتن و اشراط الساعة ج ۲ صـ۳۹۰)

دعلاماتو دقيامت سره دی ټول اشياء نه دي، لکه څرنګه چې خپله حضرت حذيفه رضي الله عنه فرمايي چې: والله ماترک رسول الله صلى الله وسلم من قايد فتنةٍ الى أن تنقضى الدنيا يبلغ من معه ثلاثمأةٍ فصاعدا الاسماء لنا باسمه واسم ابيه واسم قبيلته (ابوداؤد کتاب الفتن ج ۲ صـ ۴۲) همدارنګه فرمايي چې: والله انى لاعلم بكل فتنةٍ هى كاينة فيما بينى وبين الساعة (مسلم ج ۲ صـ ۳۹۰)

۲-حضرت عمر (رضي الله عنه) فرمايي چې: قام فينا النبى صلى الله وسلم مقامافأخبرنا عن بدء الخلق حتى دخل أهل الجنة منازلهم، وأهل النار منازلهم جفظ ذلک من حفظه، ونسيه من نسيه[1]

جواب: دحضرت عمر (رضي الله عنه) دحديث تعلق هم دعلم غيب كلى سره نه دي، ځکه چې خپله حضرت عمر (رضي الله عنه) فرمايي:

أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قبض ولم يفسر ها لنا[2]

حضور (صلى الله عليه وسلم) وفات شو خو مونږ ته يې دسود تفصيلات ونکړل.

۳- دحضرت عمرو بن اخطب انصارى (رضي الله عنه) حديث دی چې: صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم الفجر وصعد المنبر فخطبنا حتى حضرت الظهر، فنزل فصلى ثم صعد المنبر، فخطبنا حتى حضرت العصر ثم نزل فصلى ثم صعد المنبر فخطبنا حتى غربت الشمس، فأخبرنا بما كان وبما هو كاين فاعلمنا أحفظنا[3]

همدارنګه دابو سعيد خدري (رضي الله عنه) حديث دی چې: صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم يوما صلوة العصر بنهارٍ ثم قام خطيباً فلم يدع شيئا يكون الى قيام الساعة الا أخبرنا به حفظه من جفظه ونسيه من نسيه (جامع الترمذى ج ۲صـ۴۲)

---

(۱) صحيح بخارى كتاب بدءالخلق ج ۱ صـ ٤٥٣)

(۲) ابن ما جه كتاب التجارات صـ ١٦٤)

(۳) مسلم كتاب الفتن واشراط الساعة ج ۲ صـ ۳۹۰)

جواب: ددې دواړو حدیثونو تعلق هم دفتنو سره دی، علامه ابن خلدون رحمه الله دداسې قسم احادیثو دراتللو ځخه وروسته لیکي چې: وهذه الأحادیث کلها محمولة علی ماثبت فی الصحیحین من احادیث الفتن والاشراط لاغیر لانه المعهود من الشارع صلوات الله وسلامه علیه فی أمثال هذه العمومات.[۱]

دأهل سنت والجماعت دلایل

قرآني دلایل:

۱- وَعِنْدَه مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهآ اِلَّا هوَ (انعام ص ۵۹)

۲- فَقُلْ اِنَّمَا الْغَيْبُ لِلهِ (یونس / ۲۰)

۳- (وأطلق الإیمان علی معنی أنهم لیسوا من الإیمان في شيء) (هود / ۳۱)

۴- وَلِلَّهِ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (هود / ۱۲۳)

۵- قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ (نمل / ۶۵)

۶- اِنَّ اللّٰهَ عٰلِمُ غَيْبِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (فاطر / ۳۸)

۷- عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِه اَحَدًا اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّه يَسْلُکُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْه وَمِنْ خَلْفِه رَصَدًا (الجن / ۳۰)

۸- وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْءُ (اعراف / ۱۸۸)

۹- يَسْئَلُکَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ (احزاب / ۶۳)

۱۰- وَيَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ (ملک / ۲۶)

۱۱- اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَه عِلْمُ السَّاعَةِ.

مفتي احمد یار خان دې ټولو ایتونو ته دخپل ځان ځخه توجیهات کوي، لکن ددې توجیهاتو حواله نه په کوم صحابي باندې ورکوي او نه په کوم تابعي او دده دعوی داده چې (نبی علیه السلام ته علم الغیب د ولادت ځخه مخکې ورکړل شوی وو) جاء الحق احمد یار خان ص ۱۱۸)

---

(۱) مقدمة ابن خلدون، الفصل الثالث والخمسون فی ابتداء الدول ص ۳۳۳

داحاديثوڅخه دلايل

۱- دجبريل عليه السلام په حديث کې راځي چې (مالمسؤل عنها بأعلم من السائل) همدارنګه پکې راځي چې : (فی خمس لا يعلمهن الا الله)

داپه دې خبره کې صريح دی چې دقيامت علم دالله تعالی څخه ماسوی هيچا ته هم نه دی حاصل حتی چې جبريل او نبی کريم صلی الله عنه ته هم ندی حاصل.

۲-دحضرت جابر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی چې: سمعت النبی صلی الله عليه وسلم يقول قبل أن يموت بشهرٍ تسألونی عن الساعة وانما علمها عند الله.[1]

۳-دحضرت حذيفه (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)څخه روايت دی چې: سئل رسول الله صلی الله عليه وسلم عن الساعة قال: علمها عند ربي لايجليها لوقتها الا هو، (مسند احمد ج ۵ صـ ۲۹۸)

همداسې مفهوم دابو موسی اشعری (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)په روايت کې هم دی (حاکم کتاب الفتن ج ۴صـ ۴۸۸)

۴-حضرت عبدالله بن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)د رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) څخه دمعراج واقعه رانقلوي په دې حديث کې داسې جمله هم شته چې (اما وجبتها فلايعلمها أحد الاالله)[2]

---

(۱) صحيح مسلم کتاب الفضايل ج ۲صـ ۳۱۰)

(۲) مستدرک الحاکم کتاب الفتن والملاحم ج ۱صـ ۱۸۸)۵-دحنين په غزوه کې نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دصحابه وو رضی الله عنهم څخه دهوازن دبنديانو دخوشې کولو مطالبه وکړه، تولو صحابه وو رضی الله عنهم وويل چې زمونږ خوښه ده لکن نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې: انی لا أدری من أذن منکم ممن لم يأذن ، فارجعوا حتی يرفع الينا عرفاء کم أمرکم) صحيح البخاری، کتاب الجهاد باب اذا بعث الامام رسولا فی حاجة ج ۱صـ ۴۴۲)

ددې څخه صفا معلوميږي چې دنبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره علم غيب کلي نه وو ځکه خو دهريو يو صحابي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه فردا فردا دپوښتنې ضرورت راغلو.

۶-دحضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه دحجة الوداع واقعه رانقل شوې ده په هغې کې دنبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا قول هم ذکر شوی دی چې: (لتأخذ أمتی منسکها فانی لا أدری لعلی لاالقاهم بعد عامهم هذا(مسند احمد ج ۳ صـ ۳۳۲)

۷-د غزوې دخندق څخه وروسته نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسلحه ايښی وه او غسل يې کولو، حضرت جبريل عليه السلام ورته راغلو او ورته وې فرمايل چې: تاسواسلحه کيښوده او ملايکو نه ده ايښې (أخرج اليهم ، قال فالی اين ؟ قال. ههنا، وأشار الی بنی قريظه

(کشف ، کرامت او سحر)

15 یو کشف دی بل کرامت دی کرامت خاص اولیاؤ ته کیږي ځکه کرامت عزت ته وائي او له دې وجې نه دا په مرګ سره هم نه ختمیږي ځکه دا له اعمالو صالحه سره لازم دی نو چې ملزوم (ایمان او اعمال صالحه) په مرګ نه ختمیږي نو لازم به ئې څنګه ختمیږي او دا د اهل السنة والجماعة عقیده ده خلاف للمعتزله دوی وائي که کرامت حق ومنل شي بیا به د جادوګر ، ولي او نبي ترمینځ هیڅ فرق پاتې نه شي ځکه د هریو له لاسه خارق العادة کار صادریږي او کشف [1]

(صحیح البخاری، کتاب المغازی ج ۲ صـ ۵۹) که درسول الله ﷺ سره علم غیب کلي وی نو ضرور به ورته دا معلومات هم وو چې دغروې دخندق څخه وروسته دبنی قریظه وو ته تلل دي .

۸-دبنی قریظه وو په باره کې چې کله دا فیصله وشوه چې بالغان دې ټول قتل شي ، نو دقریظه وو په بندیانو کې عطیة القرظی رضي الله عنه هم وو، دده په باره کې دا شک شو چې دا به بالغ وي او که نه؟ نو نبی کریم ﷺ حکم وکړو چې دده دنوم څخه لاندې ویښتان دې وکتل شی او بیا دې دده دبلوغ او یا دعدم بلوغ فیصله وشي، چې بیا دلیدلو څخه وروسته ثابته شوه چې نابالغ دی ،(مستدرک، کتاب الجهاد ج ۱صـ ۱۲۳) که دنبي کریم ﷺ سره علم الغیب وي ، نو بیا یې دنوم څخه دلاندې ویښتانو دکتلو حکم ولې کولو؟

۹-دحیبر په غزوه کې یوې یهودنې نبی کریم ﷺ ته د ووزې (چیلی)په غوښه کې زهر اچولي وو نبی کریم ﷺ ته په اوله لقمه کې معلومات وشو. (ابوداؤد کتاب الدیات ج۲صـ ۲٦٤)

که دنبي کریم ﷺ سره دماکان اودمایکون علم وی نو بیا یې زهر ولې خوړل؟

۱۰- په یوه غزوه کې دحضرت عایشې رضی الله عنها هار ورک شو ، نوصحابه کرامو او خپله نبی کریم ﷺ ډیر ولټولو ،کله چې ما یوسه شو او نوریې حرکت کولو نو چې سورلۍ یې اوچته کړې دیوې سورلۍ لاندې راپیدا شو (صحیح البخاری، کتاب التیمم ج ۱صـ ۴۸)

نو که دنبي کریم ﷺ سره دما کان او دمایکون علم وی نو بیا دهار دومره لټولو ته څه ضرورت وو؟

۱۱-دقیامت په ورځ به بعضې خلک دجهنم طرف ته روان کړلی شي، نبی کریم ﷺ به عرض وکړي چې یا الله تعالی دا خوزما امتیان دي، الله تعالی به ورته وفرمایي چې: (لاعلم لک بما أحدثوا بعد ک) صحیح البخاری، کتاب الحوض ج ۲صـ ۹۷٤)

۱۲-دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه مرفوعا روایت دی چې: انی وجدت تمرة ساقطة فأکلتها ، ثم تذکرت تمراً کان عندنا من تمر الصدقة فلا أدری أمن ذلک کانت التمرة أومن تمر أهلی (المستدرک، کتاب البیوع ج۲صـ ۱٤) .

•ددې احادیثو څخه ماسوی نورهم ډیر احادیث دي چې په هغوي کې دنبی کریم ﷺ څخه دماکان او دمایکون دعلم نفی راغلې ده.

دزیات تفصیل لپاره دامام أهل سنت علامه سرفراز خان صفدر رحمه الله کتاب وګورئ په نوم د(ازالة الریب عن عقیدة علم الغیب

(۱):- الکشف فی اللغة رفع الحجاب، وفی الاصطلاح هو اطلاع علی ماوراء الحجاب من المعاني العلیة والامور الخفیة وجودًا و شهودًا (دستورالعلماء)

اشرف علی تهانوي رحمه الله فرمائ د کشف حاصل دا دی چې کوم واقعات په عالم مثالي کې وي خو دعامو نظرونو نه مستور وي دغه واقعات چاته ښکاره شي دېته کشف وايي.

خو دا عمومًا هغه چاته کيږي چې د چا زړه له ماديا تونه فارغ وي دېته بيا اسلام او تقوی شرط نه ده [1] کشف د جادوګر نه هم صادريږي ځکه دا له رياضت (مجاهدې) پورې تعلق لري خو که دا رياضت په شرعي طريقه وي نو دا ولي دی او که په غير شرعي طريقه وي نو دا غير ولي دی بهر تقدير کشف اعم دی او کرامت اخص دی خو کله کشف په طريقې د کرامت وي بيا دا کس ولي متقي وي لکه مخکې تير شو

دتقوی درې مراتب دي

(۱) تقوی عن الشرک او دا قسم تقوا په هر مسلمان کې شته.

(۲) تقوی عن الکبائر دا د کاملو مؤمنانو تقوا ده.

(۳) تقوی عن للکبائر ومشتبهاتها دا تقوی د اولياؤو ده او علماء د دې درېم قسم تعريف داسې کوي: ان لايراک الله حيث نهاک ولايفقدک حيث امرک [2].

(**سحر**):

سحر هم په پټو امور باندې بنا وي خو فرق ئي دا دی:

(۱) سحر د يو فن په څير زده کولی شي په خلاف د معجزې او کرامت

(۲) سحر کې د شيطان د خل وي او معجزه او کرامت الٰهي فعل وي

(۳) سحر په اسبابو او ماديا تو بناوي او معجزه اوکرامت د الله جلّ جلاله يو مخفي قوة او د ارادې نتيجه ده.

(۴) سحر کې انانيت او عجب دی کرامت او معجزه کې عجز او انکساري وي [3].

---

(۱):- مجالس حکيم الامت: ۳/ ۸۹، ص ۱۱۹. ومأرب الطلبه: ٤٧٥.

(۲):- حدثنی ابن لسماک قال اوصاني اخی داود بوصية انظر ان لايراک الله حيث نهاک وان لايفقدک حيث امرک وَاستلح فی قربة منک وقدرته عليک. (حلية الاولياء لابن نعيم: ۹ / ۲۵، ترجمة داود بن نصير الطائی.

(۳):- مأرب الطلبة نقلًا از علوم القرآن ٤٩٠.

تفسیربیضاوي: (فَالمَطلُوب اِمَّا زِیادة ما مَنحُوه منَ الهدی أوالثُّباتِ عَلیهِ اوحُصُول المرتب المَرتبَةِ علیه).

ترجمه: مطلوب په اهدنا کي یا زیادت د هدایت مراد دی یا اثبات (په ایمان) مراد دی اویا حَصول د مراتبو دی.

تشریح: په دې عبارت سره دفعه د اعتراض کوي هغه دا

سوال: په «اهدنا الصراط المستقیم» کې مسلمان دا دعاکوي چې یاالله ما ته هدایت وکړې اوله دینه مخکي په ایاک نعبد او ایاک نستعین کې وائې چې یاالله مونږ خالص ستا عبادت کوو او خاص ستانه امداد غواړو، له دینه خومعلومیږي چې دا مهتدي(په هدایت) دی نوچې بیا اهدنا الصراط المستقیم وائې نو دا خو تحصیل دحاصل دی.

(۱)**جواب**: مراد له هدایت نه زیادت د هدایت دی نه نفس هدایت.

(۲)**جواب**: مطلوب له هدایت څخه ثبات دی په هدایت باندې یعنې یاالله جل جلاله چې کوم هدایت دې راکړی په هغې مي ثابت قدمي کړه.

(۳)**جواب**: مطلوب له هدایت څخه یاحصول د مراتبو د هدایت دي چې یاالله جلّ جلاله هدایت خو دې راکړی خو هغه مراتب چې په هدایت باندې مرتب دي هغه مې نصیب کړه.

بعضې علماء دا درې جوابه مستقل د دې ټولو مهتدینو لپاره ګرځوي اوبعض یې تفصیل کوي داسې چې «امّا زیادة ما منحوه» دا څلور مې مرتبې د هدایت ته راجع کوي او «والثبات علیه» دا د اولی مرتبې د هدایت ته راجع کوي او حصول المراتب المرتبة دا دوهمې او دریمې مرتبې ته راجع کوي.

تفسیر بیضاوي: (فَاذَا قالهُ الْعَارِفُ الوَاصِل عَنِّي به أَرشِدنَا الطَّرِیق السَیْر فِیك لِتَمحُو عَنا ظُلماتِ احْوالنَا وَتُمِیطُ غَوَاشِي أبْدَانِنَا لنَسْتَضئَ بِنورِ قُدسِك فَنَرَاك بِنورك).

ترجمه: عارف باالله چې کله واصل وي اهدنا ووائي نو اهدنا سره ئي مطلوب دا وي چې مونږ ته د سیر فی الله لارې وښائي د دې لپاره چې مونږ نه تاریکي د حالاتو لرې کړې اوته مونږ نه

لري کړي پردې د بدنونو زمونږ (پردې ګناهونو) لپاره د دې چې مونږ ستاپه مقدسې رڼا سره روښانه شو چې بیا په نور ستا باندې تالره وینو.

(سیر فی الله او سیر الی الله)

تشریح : قاضي رحمه الله دلته د تحصیل د حاصل د دفعې لپاره بله وجه بیانوي خو لومړی داخبره یاده کړه چې د صوفیه کرامو په اصطلاح د الله تعالی طرفته د سیر کولو دوه طریقې دي یوه سیر فی الله او بله سیر الی الله دی او دا دوه مرتبې دي.

(۱) **سیر الی الله**: دیته وائي چې شهوات د دنیا پرې ښودل او ځان الله جلّ جلاله ته رسول او متوجه کول لکه ابن عربی رحمه الله فرمائي «مَن ترک الدّنیا فقد خاص من شهد الخلق لا فعل لهم فقد فاز و من شهد الخلق لاحیوة لهم فقد جاز و من شهد الخلق عن العدم فقد وصل وهذا مرتبة عین الیقین و عند هذا یتم سیر الی الله » چاچې دنیا پرېښوده دا له خواصو څخه شو او کوم انسان چې مخلوق ته په دې نظر وګوري چې هغه د هیڅ فعل فاعل هم ونه ګڼي نو دا کس کامیاب شو او انسان چې مخلوق ته په دې نظر وګوري چې موجود یې ګڼي خو د هغو حیات حیات نه ګڼي هغه کس له اولنۍ مرتبې څخه نوره ترقي هم وکړه او چا چې مخلوق عین العدم وګڼلو نو هغه په درجه د وصول فایز شو او همدا مرتبه د عین القین دی.

د سیر الی الله یوه ابتداء ده او بله انتهاء ده ابتداء ئې ترک د شهواتو د دنیا ده او انتهاء ئې دنیا کالعدم فرض کول دي یعنې دا مرتبه متناهي دی انتها یې وصول دی.

(۲) **سیر فی الله**: وائي د الله جلّ جلاله په جمال او جلال کې استغراق ته، ابتداء د سیر فی الله هغه انتهاء د سیر الی الله ده چې دنیا کلعدم فرض کول دي چې دا مرتبه د مشاهدې ده او انتهاء ئې معلومه نه ده یو ژور سمندر دی ځکه صفات د جمال او جلال غیر متناهي دي یعنې دا مرتبه غیر متناهي دی.

نو دفعه د اعتراض په دې طریقې سره کوي چې دلته د تحصیل د حاصل نه لازمیږي ځکه چې کله واصل (اهدنا الصراط المستقیم) وایي نو مقصود یې دا وي چې اې! الله موږ ته د سیر الی الله د لارې رهنمایي وکړې چې زموږ د احوالو ګندګي رانه ختمه شي او زموږ د بدنونو پردې

او چتې شي چې موږ ستا د پاکوالي له نور څخه روښانه شو له دینه معلومه شوه چې د وصول کې فنا ده او ګویا چې د فناء په درجه کې حجاب دی نو چې کله د سیر فی الله درجه حاصله شي نو په دې کې بقاء وي نو تحصیل د حاصل لازم نه شو.

تفسیربیضاوی: (وَالأَمرُ وَالدُّعَاء يَتَشارَكانِ لفظًا وَمعنًا وَيتَفَاوتَانِ بِالاسْتِعْلاءِ وَالتَّسَفُلِ وقِيلَ بِالرتْبَة).

ترجمه: امر او دعا په لفظ او معنی کې یوشان دی او فرق پکې د استعلاء سره دي او چا ویلي دي چې فرق په اعتبار د رتبې سره دي.

تشریح: دلته مصنف د امر او دعا ترمینځ فرق بیانوي فرمایي اهدنا صیغه د امر دی او امر او دعا لفظاً او معنًا یوشان وي فرق په ئي په دې کې دی چې که طلب د اعلی نه ادناته وي د امر دی او که طلب له ادنا نه اعلی ته وي نو دا دعا ده او که طلب د مساوي له مساوي څخه وي دا التماس دی نو دا هم صیغه د امر دی خو په معنی د دعا ده.

خو له علوي نه علوه حقیقي نه دی مراد بلکه علوه معنوي مراد دی.

په دې مسئله کې د اشاعره و او معتزله و اختلاف دی اشاعره وایی آمر هغه چاته وایي چې ځان لوی او عالي ګڼي په واقعې کې لوی وي او که نه وي او دعا کونکی هغه چاته وایي چې ځان کمزوری ګڼي بیا په واقعې کې کمزوری وي او که نه وي.

معتزله وایي امر هغه چاته وایي چې په حقیقت او واقعې کوې لوی وي بیا که هغه ځان لوی ګڼي او که نا او دعا کونکی هغه چاته وایي چې په واقعې کې کمزوری وي هغه ځان کمزوری ګڼي او که نا.

(بحث الصراط)

تفسيربيضاوي: (وَالسِرَاط: مِن سَرِطَ الطُّعَام اِذَا ابْتَلعَهُ فَكأَنَه يَسْرُطُ السَّابِلَةَ وَلذالِك سُمّي الطَّريق لَقَمًا لأنّه يَلتَقمهم وَالصِّراط: مِن قَلبِ السِّينِ صادًا لِيُطابقَ الطَّاء فِي الأطْباقِ وَقدْ يُشمُّ الصَّاد صَوت الزاي لِيَكُون أقرَبَ الى المُبْدَل عَنه).

ترجمه: سراط له سرط الطعام نه مأخوذ دی کله چې دا طعام تيروي ګويا که دا قافله تيروي او له دې وجې لارې ته لقم وائي ځکه لارهم خلک تيزوي اوپه صراط کې قلب د سين په صاد سره شوی دی چې صاد له طاء سره په اطباق کې موافق شي او صاد نه او از د زاء بويولی شي د دې لپاره چې مبدل عنه يعنې سين ته نزدې شي.

تشريح: دلته مصنّف دوه بحثه کوي (۱) بحث د قرأتونه او لغات په اعتبار سره چې (۲) بحث د معنا په اعتبار سره.

لومړی بحث: په الصراط کې درې قرائته دي لومړی دا چې صراط په اصل کې په سين سره و (سراط) سين په صاد سره بدل شو نو صراط شو او دا ځکه بدل شو چې د سين او صاد صفات متضاد دي نو د دوی د جمعه کيدو له امله ثقل لازميده هغه داسې چې يو طاء ده بل سين دی او بل صاد دی او بل زاء ده.

(۱) په طاء کې درې صفات دي:

(۱) له حروفو مجهوره [1] څخه دی (۲) اوله حروفو مطبقه [2] وو څخه دی (۳) له حروفو مستعليه [3] وو څخه دی

(۲) سين دوه صفته لري (۱) له حروفو مهموسه څخه ده (۲) له حروفو منخفضه [4] وو څخه ده

---

(۱):- مجهوره هغه حروفو ته ويل کيږي چې په زور سره اداء کيږي ددې مقابل همس يعنې حروف مهموسه دي اودا حروف لس دي چې مجموعه ئې (فحثه شخص سکت) له دې علاوه نور تول حروف مجهوره دي

(۲) - مطبقه هغه حروف دي چې د اداکولو په مهال ژبه تالو سره لګيږي اودا اوه(۷) حروف دي چې مجموعه ئې (صططظض)دي.

(۳) مستعليه هغه حروف دي چې د اداکولو په برمهال ژبه اکثره دتالويه لور پورته کيږي مجموعه ئې (خص ضغط قظ) دي.

(٤):-حروف منخفضه (ح، ف، م، ح، ض.

نو د طاء سره بلكل تضاد دى ځكه طاء مجهوره او سين له مهموسه دى او طاء مستعليه وو څخه دى او سين د منخفضه وو څخه ده نو اصل كې السراط په سين سره وه خو د سين او طاء په منځ كې تضاد وو او له دې څخه ثقل لازميده نو له دې وجې نه مو سين په صاد سره بدل كړو

(۳) صاد له حروفو مهموسه وو مطبقه و او مستعليه وو څخه ده نو په مهموسه وو كې د سين سره مشابه دى او په مطبقه او په مستعليه كې د طاء سره مشابه دى نو ځكه مو سين په صاد سره بدل كړو نو صراط شو

(۴) او زاء له حروفو منفتحه[1] وو څخه ده.

او بعض علماء سين په صاد يره د بدليدو نه پس اشمام كوي اشمام وايي يو حرف له بل حرف سره يو ځاى كولو ته دلته سين له زاء سره يوځاى كوي دا خبره چې د زاء داواز اشمام ولي كوي دا ځكه چې صاد له خپل مبد عنه سره زيات نژدې شي ځكه چې سين او زاء منخفضه او منفتحه دي او صاد مستعليه مطبقه دى نو چې صاد كې د زاء اواز اشمام شي نو سين ته نژدې كيږي.

لكه چې سين سره لوستلى شي نو ګويا په الصراط كې درې حالته وموندل شول (۱) حالت اصلي بالسين (۲) حالت منقلبه بالصاد (۳) حالت بالاشمام او په صراط كې همدا درې قرأتونه راغلي هم دي.

تفسيربيضاوي: (وَقَرأَ ابنُ كَثيْر بِروَايةِ قُنْبَلَ و رُوَيْس عَن يَعقُوبَ بِالأَصْل، وَحَمْزة بِالاشْمَام وَالبَاقونَ بِالصَّادِ و هُو لُغةُ قُرَيْش وَالثَّابِتِ فِى الامَامِ).

ترجمه: او قرائت كړى ابن كثير په روايت د قنبل او رُويس له يعقوب نه په اصل سره (په سين سره) حمزه اشمام سره او باقي قاريانو صاد سره لوستلى دى او دا لغت د قريشو دى او په هغه مصحف كې چې د حضرت عثمان (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) مصحف دى هغې كې ثابت او ليكل شوى دى.

تشريح: دا هغه درې قرائته بيانوي اول په سين سره چې ابن كثير په روايت د رُويس او قنبل سره كړى او دوهم د حمزه دى په اشمام سره.

(۱):- منفتحه هغه حروف دي چې دمطبقه وو ضد دي اوله حروفو مطبقه وو نه علاوه نور حروف منفتحه دي

اشمام وائي چې دوه مخرجونه سره خلط کړی شي او بين بين اداء کړی شي نو دلته اشمام په صاد اوزاء کې دی او دا بعينه د سين سره اشمام راځې او دريم قرائت د باقي قاريانو دی چې داد قريشو قرائت دی په صاد سره او همدا د حضرت عثمان رضي الله عنه په مصحف کې موجود دی[۱].

تفسيربيضاوي: (وَجَمعهُ سُرُط ككُتُب وَهوَ كَالطَّريقِ فِي التَّذكِير وَالتَّأنيث)

ترجمه: او د صراط جمع سرط راځې لکه د کتاب جمعه کتب او دا صراط په تأنيث اوتذکير کې په شان د طريقې دی .

تشريح: **دويم بحث**: سراط له سرط الطعام څخه مأخوذ دی دا هغه وخت ويلی شي چې کله انسان ډوډی تېره کړي نو سراط ته هم سراط ځکه وايي چې قافله تېروي او دېته لقم هم وايي ځکه چې لارې لقمه کوي او جمعه يې سرط راځي لکه د کتاب جمه کتب داځي د صراط لفظ کې تأنيث معنوي سماعي دي يعنې دواړو ته استعماليږي .

تفسيربيضاوي: (وَالمُستَقيْم المُستَوِي والْمُرادُ بِهِ طرِيقُ الحقِّ وَقيْلَ هُومِلَّةُ الِاسْلامِ).

ترجمه: (او د مستقيم معنی مستوي ده (سمه لار) اومراد په دې سره طريقه د حق دی اوچا ويلې چې صراط نه ملت اسلام مراد دی.

تشريح: دلته د مستقيم دوه معنی ګاني ذکر کوي يوه خاصه او بله عامه اوله معنی ملت الاسلام او دوهمه معنی طريق الحق دی .

اومعنی د ملت الاسلام ئې په صيغې د قيلِ ذکرکړه ځکه داکمزورې معنی دی که ملت الاسلام مراد کړي نو روسته انعمت عليهم منعم عليهم نبيّين دي صدّيقين دي، شهداء دي اوصالحين دي د هغوئ طريقه يوازې ملت الاسلام نه وه او بل صراط الذّين انعمتَ عليهم دا بدل دی د صراط مستقيم نه او د بدل اومبدل منه مصداق يو وي نو د انعمت عليهم مصداق عام دی او دصراط المستقيم مصداق خاص شو .

---

(۱):- دعلم قرائت لس (۱۰) امامان دي (۱) امام نافع مدني (۲) امام ابن کثير عبدالله مکي (۳) امام ابوعمرو بصري (٤) امام ابن عامر شامي (٥) امام عاصم کوفي ٦٧) امام حمزه کوفي (۷) يا امام کسائی کوفي (۸) ابو جعفر مدني (۱۹) امام يعقوب حضرمي (۱۰) امام خلف بزاز.

(صراط مستقیم نه څه مراد دی)

امام مجاهد رحمه الله فرمائي له صراط المستقیم نه مراد حق دی دغه راز ابن ابي خاتم او ابن جریر رحمهما الله له ابي نضر هاشم بن قاسم هغه بیا له حمزه بن مغیره هغه له عاصم الاحوال او هغه له ابو العالیة نه روایت کوي چې صراط مستقیم نه رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او د هغه صحابه کرام مراد دي[1]

حافظ ابن القیم رحمه الله فرمائي چې عبد الله ابن عباس او جابر بن عبد الله (رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمَا) فرمائي چې له صراط مستقیم نه مراد اسلام دی او عبد الله ابن مسعود او علی (رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمَا) فرمائي چې د صراط مستقیم نه مراد قرآن دی او سهیل بن عبد الله (رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ) فرمائي چې صراط مستقیم نه مراد اهل السنة والجماعة دی[2].

تفسیربیضاوي: (صِراطَ الّذِينَ اَنعمتَ عَلَيهِم) بَدلٌ مِنَ الاوّل الكُل وَهوَ فِي حُكمِ تَكرِير الْعَاملِ مِن حيثُ اِنّه المَقصُود بِالنِّسبَةِ وَفَائِدته التَوكِيدُ والتَّنْصِيصُ على انّ طَرِيقَ المُسْلمِينَ هُوالمَشْهودُ علَيهِ بِالاستِقامَة عَلى أَكّد وَجْه وَأَبلغهِ لأنَهُ جعل كَالتَّفسِيرِ وَالبَيانِ لهُ فَكأَنَّه مِن البَيّنِ الذَّى لاخَفَاء فِيه أنّ الطَرِيقَ المُستَقِيم مَايَكونُ طرِيْقُ المؤْمِنِينَ).

ترجمه: صراط (منصوب) د اول صراط نه بدل الکل راغلی دی او دا په قوت د تکرار د عامل کې وي په دې حیثیت چې ۱۰ بدل مقصود بالنسبة وي او بدل او مبدل منه کې فائده د تاکید وي او دې کې تنصیص په دې خبره هم دی چې د مسلمانانو لار هغه لار دی چې د هغې د مستقم کېدو شهادت ورکړی شوی دی په تاکید او بلیغي وجې سره (چې دا لار سمه ده) ځکه دا بدل ئې د تفسیر او بیان پشان د مبدل منه لپاره ګرځولی ګویا که دا حقیقت او استقامت د لارې د مسلمانانو هغه ښکاره شئ دی چې پټوالی پکې نشته چې طریقه مستقیمه د مسلمانانو دی.

تشریح: دلته اوس نحوي بحث کوي چې دا صراط د مخکې صراط المستقیم نه بدل الکل دی په دې اعتراض وارديږي.

---

(۱):- تفسیر ابن کثیر: ۱ / ٥٤ . تفسیر قرطبي: ۱ /٤٧ و تفسیر طبري.

(۲):- مدارج السالکین: ۱ /۸ ، ونضرة النعیم: ۱ /٤٥٦

سوال: د بدل الکل او مبدل منه مصداق خو یو وي نو چې مصداق یو شو بیا د دې په ذکر کولو کې فائده نشته نو ذکر کولو ته یې څه اړتیا وه.

جواب: د دې په ذکر کولو کې دوه فائدې دي یو فائده ئې تاکید دی هغه داسې چې په بدل او مبدل منه کې مقصود بالنسبت بدل وي یعنې د کوم فعل نسبت چې متبوع طرفته شوې دی په دغه نسبت کې متبوع نه بلکې تابع او بدل مقصود دی هر کله چې بدل مقصود بالنسبت نو دا تقاضا دا کوي چې د فعل نسبت دې دده طرفته براه راست وشي او راه راست نسبت هغه وخت کیږي چې کله فعل مکرر ذکر شي نو چې کله فعل مکرر شو همدا تاکید شو.

او بله فایده یې تنصیص دی هغه داسې چې دا خبره په صراحت سره بیانوي چې د مومنانو لار مشهود بالاستقامت دی او دا تصریح بلیغه دی ځکه کله مبدل منه کې ابهام وي او بدل رفعه د ابهام کوي او دا هغه مهال کیدی شي چې بدل زیات واضحه او مشهور وي ګویا چې

دلته په صراط المستقیم کې خفا وه په صراط الذین انعمت سره یې رفعه د خفا وکړه.

مایکون طریق المؤمنین: دې سره اوله ترجمة د انعمت علیهم بیانوي چې هغه څلور ډلې دي (۱) انبیاء علیهم السلام (۲) صدّیقین (۳) شهداء (۴) صالحین.

(د اَنعَمتَ علیهم مصداق)

تفسیر بیضاوي: (وَقیلَ الّذِینَ اَنْعَمْتَ عَلَیهِم) اَلأنبِیاءُ وَقِیل أصْحابُ مُوسی وَعِیسی عَلیهِما الصّلوة والسّلام قَبلَ التَّحرِیفِ وَالنَّسخ وَقرَءَ صِرَاطَ مَن اَنْعَمتَ عَلَیْهم).

ترجمه: او چا ویلي دي چې انعمت علیهم نه انبیاء علیهم السلام مراد دي او چا ویلي دي چې د موسی او عیسی علیهما السلام اصحاب مراد دي مخکې د تحریف او منسوخ کیدونه چې کوم وو او دا صراط مَن انعمت علیهم هم لوستلی شوی دی.

تشریح: دلته مصداق د انعمت علیهم بیانوي په دې کې څو قوله دي لومړي جمهور مفسرین دوی وایي چې مصداق د انعمت علیهم انبیاء علیهم السلام، صدیقین، شهداء او صالحین دي او د خپل قول په تائد کې دا قول دالله تعالی پیش کوي ﴿ وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ

عَلَيْهِم مِنَ النَّبِيِّنَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا[1] دې ايت کې الله تعالی څلور قسمه خلک منعم علیهم شمارلي دي نو د انعمت علیهم نه په هم دغه خلک مراد وي له یو حدیث: خه هم ددوی د قول تائد معلومیږي چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د انعمت علیهم په باره کې ویلي دي چې: (هم الملائکة والصدیقین والشهداء ومن اطاعه وعبده)

دویم قول دا دی چې د انعمت علیهم نه انبیاء علیهم السلام مراد دی ځکه انعمت مطلق ذکر شوی او شئ چې مطلق ذکر شي نو مراد ترینه فرد کامل وي نو ځکه ترینه انبیاء علیهم السلام مراد دي.

دریمه قول داده چې اصحاب د موسی او عیسی علیهما السلام مراد دي او د دوئ دلیل دا دی چې انعمت علیهم نه روسته الله جلّ جلاله فرمائي غیر المغضوب علیهم ولا الضآلین د مغضوب علیهم نه یهود مراد دي او ولا الضآلین نه نصاری مراد دي خو دا بعد التحریف او نسخ دی نو له دینه مخکې به قبل التحریف و النسخ هم یهود ونصاری مرادوي بیا بعض علماء وائي چې تحریف اصحاب د عیسی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته راجع دی او نسخه اصحاب موسی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته راجع دی او بعض عکس کوي خو راجحه دا دی چې تحریف او نسخه دواړو ته راجع ده او بعض وائي چې دا نسخه یوازې اصحاب د عیسی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته راجع دی ځکه زمونږ دین یوازې د عیسی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) دین منسوخ کړی د یهودو دین خو د عیسی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) په دین سره منسوخ شوي دی.

دا روستني دواړه قولونه قاضي صیب په قیل سره ذکر کړل اشاره ده ضعف د دې اقوالو ته.

تفسیربیضاوي: (وَالِانعَام اِيصَالُ النِّعمَةِ وَهِيَ فِى الأَصلِ الحَالَةُ الَّتِي يِستَلِذُّهَا الِانسَان فَأُطْلِقتْ لِمَا يَستلِذُّهُ مِن النّعمَة وَهِي اللّين).

ترجمه: انعام رسولو دنعمت ته وائي او دا په اصل کې هغه حالت وي چې انسان تلذّذ حاصلوي نو بیا هر هغه شي ته وویل شو چې لذّت ورنه حاصلیږي او دا له نَعمَةٌ نه مأخوذ دی نرمي ته وائي.

تشریح: د انعام درې معنی ګانې (۱) اِیصالُ النعمت (۲) د سترګو یخوالی (۳) یو چاته نعم ویل.

---

(۱) سورة النساء: اية ٦٩]

د نعمتونو اقسام

تفسیربیضاوي: (وَنِعم اللهِ وَانْ كَانتْ لَاتُحصى كماقَالَ (وَانْ تَعُدّوا نِعمَتَ الله لَاتُحْصُوهَا) تَنحصِرُ فى جِنسَينِ دُنيَويٌّ وَ أُخروي)

ترجمه: او د الله جلّ جلاله نعمتو اګر که بي شماره دي لکه څنګه چې الله جلّ جلاله فرمايلي دي که تاسو د الله تعالى نعمتونه شمارئ نو شماربه ئې نکړئ دا په دوه جنسونو کې منحصر دي دنيوي او اخروي.

تشريح: اقسام او انواع د نعمتونو غيرمتناهي دي خو اجناس ئې دوه دي يعنې په دوه جنسونو کې منحصر دی (۱) دنيوي (۲) اخروي بيا دنيوي په دوه قسمه دي (۱) وهبي (۲) کسبي بيا وهبي په دوه قسمه دي (۱) روحاني (۲) جسماني.

تفسیربیضاوي: (وَالأَوّل قِسمانِ: مَوهَبِي وَكِسْبِي وَالموهَبِي قِسمانِ رُوحانِي كَنَفخ الرُّوحِ فِيه وَاِشرَاقِهِ بِالعَقلِ وَمَايَتَّبِعه مِن القَوِي كَالفَهمِ والفِكرِ والنُّطق وَجِسمَانِي كَتَخْلِيق البَدنِ وَالقوى الحَالةِ فيه والهَيئَات العَارِضةِ له مِن الصِّحّة وكمَالِ الأَعضاءِ).

ترجمه: او اولنی (دنيوي) په دوه قسمه دی وهبي اوکسبي بيا وهبي په دوه قسمه ده روحاني لکه پوکول د روح په انسان کې او روښانه کول د انسان دي په عقل سره او په هغه شيانو چې د عقل تابع دي لکه نور قوتونه لکه فهم او فکر او خبرې کولو او بل جسماني نعمتونه دي لکه د بدن پيداکول او هغه قوتونه چې بدن کې يې پيداکړي دي او د صحت څيني هيئت عارضه او کمال د اعضاء وو.

تشريح: وهبي وائي مالادخل فيه للكسب العبد: چې د عبد کسب لره پکې دخله نه وي اوکسبي ئې عکس دی يعنې چې د انسان په کسب سره حاصليږي.

تفسیربیضاوي: (وَالْكسْبِي تَزْكيةُالنَّفسِ عَنِ الرَّذَائِل تَحلِيَتها بِالأَخلاقِ السَّنيّة وَالمَلكاتِ الفَاضِلة وتَذيِين البَدَن بِالهَيئاتِ المَطبُوعة وَالحلِي المُستَحْسنَة وَحصُول الجَاهِ وَالمَالِ).

ترجمه: او کسبي لکه تزکیه د نفس د بدو اخلاقونه او ښایست په ښو اخلاقو سره حاصلول د ملکاتو فاضله وو او ښایسته کول د بدن په ښایسته کالیو ښکلی کول (په ګاڼو ښایسته وو) او د مال او مرتب حاصلول.

تشریح: کسبي هم په درې قسمه ده یو روحاني لکه تزکیه د نفس له رزائلو او ښایسته کول د نفس په اخلاقو حسنه وو او بل جسماني دي لکه ښایسته کول دبدن په هیئاتو مطبوعه و هیئت مطبوعة دا معنی چې لکه ته مولانا سړی یې د شرعې موافق دې سپینې جامې ښکلې پګړی تسبیح او مسواک دې په لاس کې وي داهم د الله جل جلاله یو نعمت دی او دا دریم چې نه روحاني او نه جسماني وي لکه حصول المال او جاه.

تفسیربیضاوی: (وَالثَّانی أَن یُغفَر مَافرَط منْهُ وَیرْضی عنْه وَیُبوِئَه فی أَعلی عِلّیِین مَع المَلائِکة المُقرّبِینِ أَبد الآبدینَ وَالمُراد هُو القِسم الآخِیر وَمایَکونُ وَصْلةً اِلی نَیلهِ مِن القِسم الآخِر فَانّ مَاعدَا ذالک یَشترِک فِیه المُؤمِن وَالکَافرُ).

ترجمه: او دوهم (اخروي نعمتونه) چې سړی ته د هر هغه شیانو بخښنه وشي چې کوم تجاوز د دغه بنده نه شوی وي او راضي شي له ده نه الله تعالی او اووسوي (ځای ورکړي) الله جلّ جلاله ده لره په هغه ټولو بلندو مکاناتو کې د مقرّبینو ملائکو سره همیشه همیشه او مراد دلته ځلور واړه نعمتونو کې قسم آخیرنعمتونه دي (اخروي) او هغه چې د قسم آخر رسیدو ته وسیله دي ځکه چې دی نه ماسوا نعمتونو کې مؤمن او کافرشریک دي.

تشریح: دلته د اخروي نعمتونو امثال بیانوي. بعض علماء اخروي نعمتونه هم په دوه قسمه کوي: وهبي او کسبي . د وهبي مثال لکه مغفرت د الله تعالی د کسبي مثال لکه جزاء الاعمال او کسبي بیا په دوه قسمه دی: روحاني لکه د الله جلّ جلاله رضا او بل جسماني لکه د جنت میوې او نور نعمتونه ځینې بیا وایي چې د جنت تمام نعمتونه وهبي دي خو قاضي صیب فرمایي چې اخروي نعمتونه دا دي چې له انسان څخه په دنیا کې کوم ګناهونه شوي وي الله تعالی هغه ورته وبښي او ترینه راضي شي او هغه ته په علین کې له ملایکو سره تل پاتې ځای ورکړي پاتې شوه دا خبره چې دلته له

انعمت علیهم څخه کوم نعمتونه مراد دي نو فرمايي چې اخروي نعمتونه او دنيوي هغه نعمتونه کوم چې د اخروي نعمتونو د حصول وسيله وي او دا نعمتونه ولې مراد دي ځکه چې دلته منعم علیهم نه خاص مؤمنان مراد دي او تخصيص د مومنانو هغه مهال راځي کله چې د غه نعمتونه مراد شي ځکه له دې نه علاوه خو په نورو نعمتونو کې مؤمنان او مشرکان شريک دي.

صراط الّذين انعمت عَلَيْهِم غَيرِالمَغضوب عليهم ولاالضّآلين (۷)

تفسیربیضاوي: (غَيرِالمَغضُوبِ عَلَيهم وَلَاالضَّآلِّين بَدلٌ مِن الّذِينَ عَلَى مَعنى أَنّ المُنعِم علَيهِم هُم الّذينَ سَلِمُوا مِن الغَضَب وَالضَّلال أو صِفَّةٌ لهُ مُبَيِّنه اومُقيِّدةٌ على مَعنى أنّهم جَمَعُوا بَينَ النِّعمةِ المُطلَقةِ وهىَ النِّعمةُ الايمَان وَبَين السّلامَة مِن الغَضبِ وَالضَّلال).

ترجمه: دا غيرالمغضوب عليهم ولاالضّآلين بدل دی د الّذين څخه معنی دا چې په کومو انعام کړی شوی دا هغه خلک دي چې د غضب او ضلالت نه بچ دي او يا دا صفت مبينه دی (چې صرف مؤمنان مراد شي) اوياصفت مقيّده دی (چې مؤمنان او کافران دواړه شي) په دې معنی سره چې منعم عليهم دلې په منځ د نعمت مطلقه چې نعمت د ايمان دی او په منځ د سلامتيا کې د غضب او ضلال نه جمع والی کړی دی.

تشریح: دلته اول ترکيب کوي منعم عليهم مبدل منه دی او غيرالمغضوب عليهم ورنه بدل دی او بدل ئې مطلق ذکر کړی دی او مراد ترينه فرد کامل دی چې بدل الکل دی او بدل او مبدل منه ذاتًا اومصداقًا يو وي نو دا دواړه به هم يووي نو چې يو (متحد) شو بيا ئې يو په بل حمل هم صحيح کيږي نومعنا به دا شي چې کوم خلک منعم عليهم دي هم د غه خلک سالم دي له غضب او ضلال څخه.

دويم ترکيب دا دی چې دا صفت دی د منعم عليهم لپاره. صفت وائې التابع الّذی يدلّ على معنى فى متبوعه نو غير المغضوب عليهم تابع دی او متبوع الّذين انعمت دی نو په الّذين کې دوه جهته دي يو د موصوليت دی او بل د موصوفيت دی نو په جهت د موصوليت ئې د صلې معنی واخيسته او په جهة د موصوفيت ئې د صفت معنی واخيسته.

د صفت اقسام

صفت بیا په درې قسمه دی (۱) صفت مبینه یا کاشفه (۲) صفت مقیده (۳) صفت مادحه.

(۱) **صفت کاشفه**: دیته وائې چې رفعه د ابهام د موصوف را ولي او دا صفت له موصوف سره مساوي وي.

(۲) **صفت مقیده**: دیته وائې چې مقصود پکې تخصیص د موصوف وي.

(۳) **صفت مادحه**: دیته وائې چې نه پکې رفع د ابهام د موصوف وي او نه پکې تخصیص د موصوف وي بلکه محض مدحه د موصوف وي اوس د انعمت علیهم نه که نفس ایمان واخلی نو د نفس ایمان په وجه دخول ابدي په جهنّم کې نشته خو دخول اولی شته نو نفس ایمان والا سالم د غضب او ضلال نه نه دي ځکه چې جهنّم ته داخل شو نو غضب او ضلال نه سالم نشو.

او که ایمان کامل واخلی نو د ایمان کامل والا دخول اولې هم جهنّم ته نه کیږي نو سالم شوه د غضب او ضلال نه.

اوس که د انعمت علیهم نه نفس ایمان واخلی چې دا سالم د غضب او اضلال نه نه دي نو په غیر المغضوب سره ئې تقید راوستئ د نفس ایمان والا او که ایمان څخه ایمان کامل واخلی نو بیائې په غیر المغضوب صفت مبینه دی ځکه موصوف ئي سالم دی له غضب او ضلال نه او صفت ئې هم سالم دی.

سوال: دلته دې له نعمتونه نعمت د ایمان مراد کړ او مخکې دې ترېنه اخروي نعمتونه اخستي و دا خو ستا په کلام کې تدافع دی.

جواب: دلته هم ټول نعنتونه مراد دي لکن په وخت د تقابل د صفت او صلې کې د نعمت مطلقه نه فرد کامل مراد دی چې ایمان دي.

تفسیربیضاوي: (وَ ذالك اِنّما يَصِحُّ بِاحدِ تَأويلَينِ اِجراءَ المَوصُولِ مَجرى التَّكِرةِ اِذَا لَم يَقصدْ بِهِ مَعهود كَالمُحلى فى قوله وَلقدْ اَمُرُّ على اللَّئِيم يَسبُّنى وقوْلِهم اِنِّى لأَمرّ على الرّجلِ مِثلِك فيكرمني أو جُعلَ غَيْرمَعرفَة بِالاضَافةِ لأَنّه أُضِيفَ الى مَالهُ ضِدٌّ وَّاحِدٌ وهو المُنعِم علَيهِم فَيَتعَيّنُ تَعِين الحَركة مِن غَيرالسُّكون)

ترجمه: او دا صفت کیدل په یو د دووه تاویلینو سره صحیح کیږي چې الذی په ځای د نکرې جاري شي چې په دې سره معلوم مقدار قصد نه کړئ شي لکه په دې قول کې ولقد امر الخ زه تیریدم په یو رزیل چې کنځلې ئې راته کولې او دا قول د عربو: ستا په شان په یو سړي تیریدم هغه زما عزت وکړ یا غیر معرفه کولی شي په اضافت سره ځکه د دې اضافت یو داسې شي ته شوی (مغضوب) چې د هغې ضد یو دی چې هغه منعم علیهم دي له دې سره هغه متعین شو لکه تعین په الحرکت غیرالسکون کې.

تشریح: قاضي صیب دلته د دې لپاره چې الف لام عهد ذهني په حکم د نکرې کې دي دوه دلایل بیانوي اول دلیل شعر دویم قول دی

پوره شعر داسې دی: ولقد امُرّ علی اللّئیم یسبّنی. . . فمضیت ثمّه وقلت لایعنینی، غضبان ممتلئا علی اهابه. . . انّی وربّک سخطه یرضینی [۱]، د دې شعر په اړه مشهوره دی چې دا د حضرت علی (رضي الله عنه) شعر دی خو دا خبر غلطه ده علامه بهاءالدّین السبکي فرمائي چې دا شعر د هغه نه دی بلکه د عمیربن جابرالحنفي دی.

او بل په دې عبارت سره دفع د اعتراض دی هغه دا

سوال: غیرالمغضوب علیهم تا صفت کړ د الّذین انعمت علیهم لپاره او موصوف خو معرفه دی او صفت یې نکره دی نو مطابقت په مابین د صفت او موصوف کې رانغلو که ته وایې چې صفت هم معرفه دی ځکه اضافت یې المغضوب ته شوی او اضافت علامه د تعریف دی خو دا خبره باطله دی ځکه ځینې کلمات داسې دي چې هغه په اضافت هم نه معرفه کیږي له دغې جملې څخه غیر هم دی نو مطابقت رانغلو په مابین د صفت او موصوف کې؟

(۱)**جواب**: اول جواب په دې طریقه ورکوي چې په جانب د موصوف کې تأویل کوي هغه داسې چې الّذین انعمت علیهم دا موصول او موصول په افاده د تعریف کې د الف لام په شان وي الف لام په څلور قسمه دی نو موصول او صله به هم په تعریف کې په څلور قسمه وي په الف لام کې

---

(۱):- حاشیة الشهاب علی تفسیرالبیضاوی: ۱ / ۲۱۶.

یو عهد ذهني دی کوم چې په حکم د نکرې کې وي یعنې په لفظ کې معرفه وي او په معنی کې نکره وي نو رعایت د لفظ ئې هم جائز دی او رعایت د معنی ئې هم جیز دی نو دلته له الذین څخه معهود فی الزهن مراد دی او دا په حکم د نکرې کې وي نو مطابقت راغی په مابین د موصوف اوصفت کې دلته الف لام عهدخارجي ولې نه اخلی ځکه دلته یو فرد معهود نه دی مراد او استغراق هم نشو اخیسلتی ځکه قرائن د استعراق نشته او جنس هم نشو اخیسلتی ځکه صراط ورته مضاف دی اوصراط د حقیقت لپاره نه ئې بلکه د فرد لپاره ئې همد غه بحث په علی اللئیم کې هم دی چې اللئیم کې الف لام عهد ذهنی دی ځکه چې د شاعر مقصد خپل کمال او وقار بیانول دي او کمال او وقار به هغه وخت وي چې کله د حلم او صبر معامله له یو کس سره نه وي بلکې په حلم کې عموم وي دلته هم الف لام جنسي او عهد خاجي نه سهي کیږي ځکه په شعر کې په لئیم باندې مرور واقع شوی او مرور په جنس او حقیقت د شي نشي واقع کیدلی او الف لام استغراقي هم نه سهي کیږي ځکه په یو وخت کې د دنیا په ټولو لئیمانو باندې تېریدل محال وي.

(۲)**جواب**: (أو جُعِلَ غَيْرمَعرفَة بِالاضَافَةِ لأَنّه أُضِيْفَ الى مَالهُ ضِدٌّ وَّاحِدٌ) داسې کوي چې تأویل په جانب دصفت کې کوي هغه داسې چې ته وائي غیر په اضافت سره هم نه معرفه کیږي هغه هلته چې د غیر د مضاف الیه لپاره اضداد ډیروي او چې اضداد ئې ډیرنه وي (یو وي) بیا معرفه کیږي لکه علیک بالحرکت غیر السکون دلته د غیر مضاف الیه السکون دی او د سکون ضد یو دی چې حرکت دی نو دلته «غیر» هم معرفه دی ځکه د مغضوب علیهم ضد یو دی چې منعم علیهم دی.

تفسیربیضاوي: (وَعَن ابنِ كثيرٍ نَصبُه عَلَىْ الحَال مِن الضَّميرِ المَجْرورِ والعَامل أَنعمتَ اوْ بِاِضمَار عَنّی اوْ بِالاستِثنَاءِ اِن فُسرَالنّعمُ بِمايَعمّ القَبيلتَين).

ترجمه: او د ابن کثیر رحمه الله نه د غیرنصب منقول دی بناپه حالیت د ضمیر مجرورنه د (انعمت علیهم) او عامل د نصب انعمت دی یا په اضمار د اعنّی سره منصوب دی ای اعنّی غیر المغضوب او یا منصوب بنا بر استثناء دی چې د نعمتونو هغه تفسیر اوکړی شي چې دواړه ډلوته عام دی.

تشریح: دلته دریم ترکیب بیانوي:

(۱) **سوال**: ته وايي چې دا حال دی له ضمیر مجروره د انعمت علیهم څخه او حال خو یا د فاعل نه وي یا د مفعول نه او دلته خو هِمْ ضمیر مجرور دی نه فاعل دی نه مفعول دی؟

(۲) **سوال**: عامل د حال او د ذوالحال یووي دلته خو د هِمْ عامل علی دی او غیرعامل په انعمت کې دی عامل د حال او ذوالحال بیل بیل شو ؟

جواب: دا وائي چې والعامل انعمت په دواړو کې عامل انعمت دی دا هِمْ مفعول به غیرصریحې دی د انعمت لپاره.

(بحث الغضب)

تفسیربیضاوي: (وَالغَضَبُ ثَورانُ النَّفسِ عِندَ اِرادةِ الِانتِقامِ فَاِذَا أسندَ الی اللّٰهِ تعالی أرِید بِه المُنتَهی وَالغَایة عَلی مَامرّ).

ترجمه: غضب خوټکیدل (جوشیدلو) وو د نفس ته وائې په وخت د ارادې د انتقام اخیستلو کې او کله ئې چې الله جلّ جلاله ته نسبت اوشې نو د دې مراد انتهاء او غایه د غضب وي.

تشریح: دلته د غضب معنی حقیقي او معنی مجازي ذکر کوي د غضب خپله معنی ده ثوران النفس او ثوران په معنی د غلیان سره دی یعنې خوټکیدل د نفسي وینو ته وائې لکه تاسو په هدایه کې وائی وبموت مالانفس له یعنې او به نه نجسیږي په مرګ د هغه حیوان چې وینه نه لري او الف لام عوض د مضاف الیه څخه دی چې قلب دی نو معنی به داشي چې غضب وائي ثوران نفس القلب خوټکیدل د وینو د زړه، دا دريې واړه خبرې چې وینه، خوټکیدل او قلب دی په جانب د الله جلّ جلاله کې محال دی نو دلته په جانب د اثر کې تأویل کوي چې انتهاء او غایه (انتقام) به مراد وي او دا ده متأخرینو رأیه ده چې تأویل کوي او متقدمین تفویض کوي چې دا معنی الله تعالی ته معلومه دی [۱].

---

(۱):- په صفاتو متشابه وو کې د اهل السنة والجماعة اتفاقي فیصله د تنزیه د باري تعالی ده چې الله جلّ جلاله له صفاتو د مخلوق او هم له لوازمو د صفاتو د مخلوق نه منزه دی خو دومره ده چې متقدمین تفویض کوي اومتأخرین تأویل دا دزمانې خبره ده د متقدمینو په زمانه کې مجسمه ګله وه نو دصفاتو متشابهه وو تفسیر اوبیان ته ضرورت نه وو چا به چې پوښتنه ترې وکړه هغوی به ورته وویل قرأتها تفسیر یعنې تفویض به ئې کولو چې د دې معنی یوازې الله ته معلومه دی او د متأخرینو په زمانه کې مجسمه زیات شول خلک به تجسیم طرفته بلل اوشکونه به ئې په دغو صفاتوکې وراچول نومتأخرینو د خلکو دتجسیم نه د خلاصون لپاره په دغو صفاتو کې تأویل وکړ چې (ید) نه قدرت او استواء نه غلبه مراد ده یعنې دمتقدمینو اومتأخرینو دواړو مذهب دتنزیه دی خو طروق د دفاع بدل دي د دوی مذهب جلا کول یوه لویه سهوه ده.

تفسیربیضاوي: (وَعَلیهِم فِی مَحلِّ الرَّفعِ لأَنّه نَائِب مَنابَ الفاعلِ بِخلافِ الأَوّلِ وَلَامَزِیدة لِتاکید مَا فِی غَیرمن مَعنی النَّفی فکَانّهُ قَالَ لَاغضبَ عَلیهم ولَاالضّآلین وَلذلِك جَازَ أَنا زَیدًا غَیرضاربٍ کما جازَ زیدًا لَاضارب و اِنْ اِمتَنع انا زیدً مثل ضارِب).

ترجمه: علیهم په محل د رفع کې دی ځکه د فاعل قائم مقام دی په خلاف د اولني علیهم چې هغه محلًا منصوب دی او کلمه د لا په روسته جمله کې زانده ده لپاره ده تاکید د کوم مفهوم د نفی چې په معنی د علی کې ده ګویا که دا کلام داسې وي المغضوب علیهم ولاالضآلین او د دې جهت نه چې دا لام زائد دی دا ترکیب جائز دی چې انا زیدًا غیرضارب لکه څنګه چې دا ترکیب جائز دی انا زیدا لاضارب او اګر چې دا ترکیب منع دی انا زیدًا مثل ضارب.

تشریح: علیهم کې علی زائد دی (هِم) فقط نائب فاعل دی او (لا) زائده دی او دا له حروفو عاطفه وو څخه دی او په دې سره عطف په هغه اسم کولی شي د کوم په مفهوم کې چې نفي موجوده وي او ی سابقې نفي د تاکید لپاره ذکر کولی شي لکه یو سړی ووائي ماجاءني زید ولاعمرو دلته نفی د مجئت د زید او عمرو دواړه وشوه په طریقې اقتران او هم په طریقې د تباعد او په طریقې د تقارب درې واړه نفي شوې خو په دې درې واړو کې فرد کامل مجئیت په طریقې د اقتران دی نومتوهم دا وهم کولو چې مجئیت علی القتران به نه وي بلکه په طریقې تباعد اوتقارب به وي نو د دې توهم د دفع لپاره ئي پکې یوبل لام هم زیات کړ لکه ماجاءنې زید ولاعمرو نو دلته هم داسې دی غیرالمغضوب والضآلین چې بغیر د لام نه ئې ووائې د دواړو نفی راغله هم په طریقې د تقارب هم په طریقې د تباعد او هم په طریقې د اقتران نو دلته هم کیدی شي متوهم وهم وکړي چې دلته هم فرد کامل مراد دی چې اقتران دی چې د مغضوبینو او ضالینو په لاره تلل په طریقه د اقتران ممنوع دي او په طریقې د تباعد اوتقارب به جائز وي نو د دفع د دې توهم لپاره ئې دوهم لام پکې زیات کړ غیرالمغضوب ولاالضآلین نو دې لام د هغې مخکې نفی تاکید راوستو.

سوال: تا وویل چې (لا) د سابق کلام د نفي د تاکید لپاره ذکر کولی شي او د معطوف علیه مفهوم منفي ساتي نو دلته د (ولاالضالین) د معطوف علیه مفهوم خو یې مثبت ساتلی دی نو قاعده دې منقوضه شوه او قاعده درسته وي بیا قراني ترکیب خلاف القاعده دی.

جواب: دا معطف علیه مثبت دی منفي نه دی ځکه (لا) کلام منفي کې زایده راځي او دا ځکه منفي دی چې د معطوف علیه په جانب کې لفظ د غیر دی او غیر د دوه معناګانو لپاره راځي (۱) د نفي لپاره (۲) د مغایرت د اثبات لپاره. که دلته د نفي لپاره شي بیا خو څه اشکال نشته او که د مغایرت لپاره شي نو بیا به د معطوف علیه مفهوم التزاماً منفي وي بهر حال نفي موجوده دی که غیر د مغایرت لپاره شي بیا په دې طریقې چې منعم علیهم او مغضوب کې مغایرت دی خو له دې سره سره مغضوب نفي کیږي هم ځکه کله یې چې د مهعم علیهم له لارې هدایت طلب کړو او هغه مغایر دی له معضوب نه نو معنا دا شوه چې د مغضوب نفي یې وکړه او که غیر د نفي لپاره شي نو بیا (لا) د تاکید په طور ذکر کول به د قاعدې مطابق وي

(وَلِذٰلِكَ جَازَ أَنَا زَيْدًا غَيْرُضَارِبٍ) دا تفریع دی چې غیر په معنا د لام تاکید دی حاصل دا چې دا ترکیب(أَنَا زَيْدًا غَيْرُضَارِبٍ) ځکه جائز دی چې دا غیر په معنی د لام سره دی ورنه بیا غلط دی دلته انا مبتداء دی او ضارب ورته خبر ده او زیداً منصوب دی او عامل پکې ضارب دی او دا ترکیب (انا زیدا مثل ضارب ممتنع دی ځکه چې انا مبتدا دی او مثل مضاف مقدم او ضارب مضاف الیه دی او زیدا د دې مضاف الیه معمول دی د ضارب مضاف الیه په لفظ د مثل باندې مقدم کیدل نا جائز دي.

سوال: په لومړي ترکیب اعتراض دی تا وویل چې په زیداً کې ضارب عامل دی ضارب خو مضاف الیه د غیر دی دا خو معمول د مضاف الیه په مضاف هم مقدم شو او معمول د مضاف الیه په هغې ځای کې راتلی شي په کوم ځای کې چې خپله مضاف الیه راتلی شي ضارب مضاف الیه د غیر دی او معمول ئي زید دی او س ضارب د زید په ځای کې نشي راتلې نو تا دا ترکیب ولې جائز کړو؟

جواب: دلته غیر په معنی د لام سره دی او لام حرف دی مضاف نشو نو ضارب مضاف الیه شو او په ځای د زید هم راتلی شي هم د غسې انا زیدًا لا ضارب هم دی.

تفسیربیضاوی: (وَقرِءَ وغيرالضَآلِين وَالضَلالُ العدولُ عَن الطَّرِيقِ السوى عمدًا اوخَطاءً وَلهُ عرض عَرِيْض والتَفاوت مابَين أدناه وأقصَاه كثِير).

ترجمه: او لوستلی شوي دي ولاالضآلین په ځای غیرالضآلین اوضلال دلارې برابری نه قصدًا یاخطاءً عدول کولو ته وائي او د ضلال لپاره ډیر لوییه فراخي دی په منځ د نزدې او لرې کې ډیر فرق دی

تشریح: دا یو قرائت وه په ولاالضآلین کې چې د لام په ځای غیر راغلی او د ضلالت لره ډیر لوی میدان دی چې ادنی د دې ضلالت ترک اولی دی اقصاءئې کفردی نو د ترک اولی او کفر په مابین کې ډیرې درجې دي چې انحصاریې نه شي کیدي.

(الضآلین نه مراد څوک دي)

تفسیربیضاوي: (قِيل)(المَغضوبِ عليهِم)اليَهُود لِقولهِ تعالى فِيْهِم من لَعنَهمُ الله وَغَضِب عليه [1](وَالضّآلين) النَّصارى لقوله تعَالى (قَدضَلّوا مِن قَبلُ وَاَضَلّوا كَثيرًا[2]) وَقَدرُوِىَ مرْفوعًا)

ترجمه: او ځا ویلي دي چې مغضوب علیهم یهودیان دي د وجې د دې قول د الله تعالی نه (من لَعنه الله وغضب علیه) او ضآلین نه مراد نصارى دي د دې قول د الله په وجه (قدضلّوا من قبل اوضلّوا کثیرًا) ذا تفسیر د مغضوب علیهم او د الضّآلین رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نه مرفوع روایت شوی.

تشریح: **سوال**: له قول د قیل نه خو دا معلومیږي چې ګویا که تا مخکې یوه ترجمه د مغضوب علیهم ذکر کړې ده او تاخو مخکې یوه ترجمه هم نه ده کړې؟

---

(۱):- سورة المائدة : (٦٠).

(۲):- سورة المائدة : (۷۷).

جواب: که مخکې ترې صراحتًا ترجمه نه وی ذکر شوی ضمنًا خو ذکر ده ځکه انعمت علیهم نه مؤمنان مراد وه او مغضوب علیهم د هغې مقابل وو نو له دې نه به کافران مراد وي.

ځینې علماء فرمایی چې له مغضوب علیهم نه یهود مراد دی په دې خبره دا قول د الله تعالی دلیل دي (فِيْهِم من لَعنَهُمُ الله وَغَضِب علیه) او له الضالین څخه نصاری مراد دي په خبره دا قول د الله تعالی دلیل دی ((قَدضَلّوا مِن قَبلُ وَاَضَلّوا كَثيرًا))

مرفوعًا: په حدیث د عدی ابن حاتم (رضي الله عنه) کې دي چې دا د هغه حدیث جزء دی (قال فانّ الیهود مغضوب علیهم والنّصاری الضّآلین [1] او تفسیرطبري هم روایت کړی: (عن عدی بن حاتم قال سألت النبيّ صلّی الله علیه وسلّم عن قول تعالی عزّ وجلّ غیرالمغضوب علیهم قال هم الیهود) [2].

دغسې په روایت د مسند احمد کې دي چې: سئل رجل النبي صلی الله علیه وسلم فقال یارسول الله من هؤلاء المغضوب علیهم فقال الیهود ومن هؤلاء الضالین فقال النصاری.

او په عقل سره هم دا څرګندیږي چې چې یهود مغضوب علیهم او نصاری ضالین دي، نصاری خو ځکه ضالین دي چې د دوی اکثره جاهلان و او اعتقادات یې ټول فاسد و او یهود ځکه مغضوب دي چې دوی له ټولو نه زیات دوښمني کونکي دي له مسلمانانو سره او په خپلو اعمالو او افعالو کې یې له هرچا زیاته سرکشي وکړه.

تفسیربیضاوی: (وَيتَجهُ ان يُقال المَغضوب عَليهِم العُصاةُ وَالضّآلّين أَلجَاهِلُون بِالله لأنّ المُنعمَ علَيهم مِن وَفّق لِلجمْع بَين معْرفةِالحقّ لِذاتهِ وَالخَير لِلعملِ به فَكَان المُقابِل لهُ مَن اِختَلّ اِحدى قُوتيهِ العَاقلةِ والعَاملةُ والمُخلّ بالعَملِ فَاسقٌ مَغضوبٌ عليهِ لقولِه

(۱):- مسند ابوداود الطیاسی: ۹۱.

(۲):- تفسیرطبري: ۱/ ٦٥. کذا رواه ابن کثیر عن حماد بن سلمة هم سملاء هم مري بن قطري عن عدي بن حاتم. ورواه عبدالرزاق عن معمر عن بریل العقیل عن عبدالله بن شقیق انّه اخبره من سمع النبيّ صلّی الله علیه وسلّم وهو بوادي القری و هو علی فرسه وسأله رجل من بنی القین فقال یارسول الله من هؤلآء قال المغضوب علیهم واشار الی الیهود والضّآلون هم النصاری.

تَعالی فِي القَاتِلِ عمدًا(وَغِضِبَ الله علیهم) [۱] والمُخِل بِالعقْل جَاهلٌ ضَالٌ، لقولهِ تعالی (فماذا بَعْدَ الحقّ الّاالضّلال [۲])).

ترجمه: او دمغضوب علیهم او ضلال دا وجه هم کیدی شي چې دمغضوب علیهم نه مطلق ګناهګاران واخلی او دضآلین نه جاهلان بالله مراد شي ځکه چې منعم علیه هغه څوک وي چې توفیق ورکړی شوي وي د جمع په منځ د معرف الحق (علم په حق) لذات الحق اوتوفیق ورکړی شوی وي د خیر لپاره د عمل په دې نو اوس به د منعم علیهم مقابل هغه څوک دي چې یو د دوه قوتونو ته ئې خلل رسیدلی وي چې قوت عاقله او قوت عامله ده نو مخل بالعمل فاسق وي مغضوب علیه وي د دې قول دالله جلّ جلاله په وجه وغضب الله علیه او مخل د عقل و علم جاهل او ضال وي له وجې د دې قول دالله جلّ جلاله فماذا بعد الحق الّا الضّلال د حق نه روسته نه وو مګر ګمراه.

تشریح: دا توجیه د تفسیرکبیر دی هغه دا چې انعمت علیهم نه مراد باعمله علماءدي او غیر المغضوب علیهم او ضآلین ئې مقابل دی نو په دوی کې به دواړه یعني علم اوعمل نه وي راجمع شوی مغضوب علیهم نه بې عمله علماء مراد دی (علم شته عمل نشته) اوضآلین نه به جاهلان مرادوي (عمل شته علم نشته) اومعرفة الحق لذاته نه به مراد قوت نظري دي و الخیرللعمل نه به مراد قوت عمل وي.

یو علم نظري دی او بل علم بالاحکام دی علم نظري لکه الله احد ، الله الصمد ، الرسول الحق، القرأن حق او دا علم له جملې د عقایدو څخه دی او د کوم عمل لپاره وسیله هم نه دی بلکې دا مقصود بالذات وي او علم بالاحکام مقصود بالذات نه وي او دا وسیله وي لپاره د عمل لکه فقهي احکام.

تفسیربیضاوي: (وَقرءَ وَلاَ (الّاالضّآلین) بِالهمزة عَلَی اللُّغة منْ جَدَّ فی الهَربِ مِن التقَاءِ السّاکنینِ)

---

(۱): - سورة النساء . آية (۹۳).

(۲) سورة یونس: آية (۳۲).

ترجمه: اولوستلی شوي ضألين په همزې سره په لغت د هغه چاچې ډیر کوشش کوي په منع د کې د التقاء الساکنین څخه.

تشريح: په الضألين كې التقاء الساكنين على غيرحده دى او على غير حده ديته وائي چې اول حرف ساکن مده يا ياء د تصغير وي لكه الف وي او دوهم حرف به هم ساكن مدغم مشدد وي لكه لين كې نوڅوک چې التقاء دساکنينو نه مني دوی اول حرف چې الف دی متحرک کوي او څوک ئې چې مني هغوئ ئې ساكن وائي.

التقاء الساكنين په دوه قسمه ده على حده او على غير حده على حده ديته وايي چې درې شرطونه پکې وي (۱) اول ساکن به مده او يا يا د تصغير وي (۲) دويم ساکن به مدغم وي (۳) دواړه به په يوه كلمه كې وي لكع احمار او غير حده د دې خلاف ده

(بحث آمين)

تفسيربيضاوي: (آمين إسم الفِعل الّذِى هُو اسْتجبّ وَ عنْ ابنِ عبّاسِ رضى الله عنه قَال سَألتُ رَسول الله صلّى الله عليه وسلّم عَن مَعنَاه فقَال:إفعل[1] بُنى عَلى الفَتح كأَينَ لِالتقاءِالساكنَين وَجآءَ مدّ ألفهُ وَقَصره قَالَ ويَرحَمْ الله عبْدًا قَال امِينا وَقَالَ امِين فَزادَ اللهُ مَابَيننا بُعدًا).

ترجمه: آمين اسم فعل په معنی د استجب دعائې سره دی ابن عباس (رضي الله عنه) نه نقل دي چې ما د نبی عليه السلام نه د دې د معنی پوښتنه وکړه نو وي فرمايل چې فعل دی په فتحې سره مبني کړی شوی دی لکه آين له وجې د دفع د التقاءالساكنين الف مده او الف مقصوره دواړو سره راغلی دی. الله جلّ جلاله دي رحم وکړي په هغه بنده چې زما په دعا آمين وائي او الله جلّ جلاله دې زيات کړي هغه لرې والئ چې کوم زما او د ده په منځ کې راغلی امين الله دې دادعا زمونږ قبوله کړي.

تشريح: له دې ځايه مصنف درې بحثونه ذکر کوتي لومړی د امين متعلق نحوي بحث دويم د امين فقهي حيثيت دريم د سورت فاتحې فضايل.

---

(۱):- تفسير ابن كثير: ۱ / (۵۵) ، وكذا فى تفسيرالدارالمنثور : ۱ / (٤٤).

لو موی بحث : آمين اسم دی او فعل ئې استجب دی دا له روايت د ابن عباس رضي الله عنه څخه څرگنده ده چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د امين معنا په افعل سره وکړه يعني افعل فعل الاستجابة او جوهري رحمه الله فرمائي معنی ئې فليکن دی امام ترمذي رحمه الله وائي معنی د آمين لاتخيب رجاءنا دی او اکثر مفسيرين او اهل لغت وائي معنی ئي اللهم استجب لنا دی [1] او دغه ډول امام مجاهد رحمه الله فرمائي چې آمين د الله جل جلاله له نومونو څخه يو نوم دی [2].

سوال: د استجب معنی خو مقترنه دی تر احد الازمنة الثلاثة پورې او اسم خو مقترن نه وي تر ازمنه ثلاثه وو پورې پکار دی چې آمين فعل شي؟

جواب: يو د امين معنی دی بل ئې د معنی معنی دی د امين معنی مقترنه نه دی تر ازمنه ثلاثه پورې بلکه د استجب معنی مقترنه دی تر ازمنه ثلاثه پورې خپله استجب نه دی مقترن.

سوال: تا وويل چې امين مبنی دی او اصل په بناء کې سکون دی پکار دی چې امين ئې ساکن ويلی وائی؟

جواب: هو! اصل په بنا کې سکون دی خو دا مبنی په فتحې شو له وجې د التقاء ساکنينو په مابين د ياء او نون کې.

(قَالَ ويَرحَمُ الله عبْدًا قَال امِينا) په آمين کې دوه لغته دي يو الف ممدودی لکه په دې شعر د مجنون کې بل الف مقصوره دی لحو الف ممدودی فصيح دی له الف مقصوره څخه دا د مجنون [3] حکايت کوي چې په ليلی عاشق وو نو داسې عاشق وو چې چائې پلار ته وويل چې زوئ دې ديوانه دی حرم ته ئې بوزه پلار ئې کعبې شريفې ته بوتلو چې الله ئې د ليلی نه زړه موړ کړي او

(۱):- تفسير ابن كثير : ۱ / (۵۵)، وتفسير قرطبي : ۱/ (۵٦) .

(۲):- تفسير زادالمسير : ۱ / (۲۲).

(۳):- دمجنون دپلار نوم ملوح بن مزاحم دی په مجنون اوليل باندې مشهوررو نوموړي دعربو دنجد دقبيلې اوسيدونکی وو په کال (٤؟ هجری کې زېږيدلی وو اويه (٦٨ هجري /٦٨٨ م) کې وفات شو دمرّوان بن حاکم په زمانه کې کوچنی وو اودوخت وتلی شاعروو ابن جوزي په خپل کتاب ذم الهوى (۲۹٤) کې دی چې دليل په باره کې دوه قوله دي (۱) نوم ئې ليل بنت مهدي وو (۲) ليل بنت ورد اوربيعه قبيلې څخه وو خو شعرآء العصر الاموي ليکي چې ليل دمجنون دتره لور وه دوی دنجد دهوازن قبهلې اوسيدونکې وه په کال (۲۸ هجر / ٦٤۸ م) کې وزېږيده اونسه تکړه شاعروو چې دديوان ليلى المرية په نوم دشعرونو کتاب هم نري.

ورته ئې وويل چې الله جلّ جلاله ته سوال وکړه چې الله زما زړه د ليلى د محبت نه مور کړي کله چې د کعبې پردو پورې ونښتو نو وويل:

يارب انّك ذومنّ ومغفرة==بيت بعافية ليل المجيبنا الذاكرين الهوى من بعد مارقدوا== الساقطين على الايدي المكبينا==﴿١﴾ باتت اقود اوسار الركب مزلجا==ومالا وانس فى فكر كسارينا== كان ريقتها مسک على ضرب شيب باصهب من بيع الشآمين.

پلار يې ورته وويل چې داسې ووايه: اللّٰهُمَّ ارحمني من ليلى وحبها. اى الله ماته د دليلى د محبت په زايله کولو سره راحت راکړه. نو مجنون د دې په ځاى دا شعر وويلې

يارِبِّ لاتسلبني حبها ابداً

ويرحم الله عبداً قال امينا

اې الله د ليلى محبت زما د زړه مه زائلوه هميشه او الله دې رحم وکړي په هغه بنده چې زما په دعا آمين وائي نو دلته ئې آمين ممدود او ويلى.

(وَقَالَ امِين فَزادَ اللّٰهُ مَابَيننا بُعدًا) دلته دا شعر شاهد دى چې امين مقصوردى دا هغه دوهم لغات دى لکه شاعروائي:

تباعدني فطحل اذا دعوته ..... امين فزاد الله مابيننا بُعدًا[٢].

جبير د تره زوى فطحل نه د اوښ درخواست وکړو هغه اوښ ورنه کړو نو دا شعر يې وويلو د شعر معنا داده: کله چې ما له فطحل نه اوښان او غوښتل نو فطحل رانه ځان لرې کړ الله دې زيات کړي هغه لرېوالى چې زما او ده په مينځ دى امين الله دې دا دوعا قبوله کړي.

تفسيربيضاوي: (وَلَيس مِنَ القُرآن وِفَاقًا لَكنْ يُسَنّ خَتمُ السُّورَة بِه لِقَولِهِ عليه الصَّلوة والسَّلام عَلّمَنى جِبرِيلُ آمين عِندَ فَراغى مِن قِرائتِ الفَاتحَه وَقالَ اِنّه كَالخَتِمِ عَلى الكِتابِ وَفى مَعناهُ قول عَلي رضى الله تعالى عنهُ اِمين

---

(١) التعليق على تفسير الكشاف الزمخشري : ١ / ١٢٤. وحاشية الشهاب على البيضاوى : ١ / ٢٢٨.

(٢): بيت جبير بن الاضبط المشوف المعلم ١ / ٧٧٩.

خَاتم رَبّ العَالِمين [1] خَتمَ بِه دُعاء عَبدهُ يَقولهُ الإمام وَيُجهَربِهِ فى الجَهرِيةِ لمَارُوى عن وَائل بن حُجَر أَنّه عليه الصّلوة والسّلام كَان اِذا قَرأَ وَلَاالضّآلّين قَال آمِين وَرفعَ بِها صَوتهُ [2])

ترجمه: او امين د قرآن څخه نه دي په اتفاق د علماء سره.ليكن د دې سورت په ختميدو سره د امين ويل سنت دي له وجې د دې قول د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) چې تعليم راكړ ماته جبريل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) په ويلو د امين په وخت د فراغت كې له قرائت د سورت فاتحې نه او جبريل ويل چې امين داسې دى لكه په كتاب باندې مهر لګول او په معنى د مهر دى له وجې د دې قول د على (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) امين د الله جلّ جلاله له طرفه مهر دى د دغه امين په وجه د بنده په دعا مهر لګوي امام به ئې په جهري لمونځ كې په جهر سره وائې لكه د دغه شان روايت د وائل ابن حجر (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه شوى دى چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) به كله ولاالضّآلين ولوست نو امين به ئې ويلو او خپل اواز به ئې اوچتولو.

تشريح: دويم بحث: د امين فقهي حيثيت : امين ويل روسته له سورت فاتحې نه سنت دى برابره خبره ده په لمانځه كې وي او كه بغير له لمانځه څخه وي يا محشي په حديث د حضرت على (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) باندې رد كړى چې دا حديث موضوعي دى په كتبو د احاديثو كې نشته امام جلال الدّين السيوطى رحمه الله هم وائي چې له على (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) دا حديث نه دى ثابت [3] قاضي بيضاوي رحمه الله اكثره احاديث موضوعي يا ضعيف راوړي ځكه دا تفسير كې امام دى نه په فن د احاديثو كې او وائې امين به په زوره وائې په هغه ځايو كې چې په زوره لوستل كيږي دا مسئله اختلافيه دى په احاديثو كې تعارض دى كله چې په نصوصو كې تعارض راشي نو مسئله يا اجتهادي شي او په مسئله اجتهادي كې مجتهد ته رجوع كيږي نو مجتهد به يا ترجيح كوي يا به تطبيق كوي يا به نسخه كوي يا به توقوف كوي نو امام

---

(١):-عن ابي هريرة رضى الله عنه انّ رسول لله صلّ الله عليه وسلّم قال امين خاتم ربّ العالمين على عباده المؤمنين تفسير الدرالمنثور واخرجه الطبرانى فى الدّعاء : ٢١٩ قال النسائى والطبرانى متروک.

(٢):-رواه سنن ابي داود :رقم الحديث (٩٣٢) والترمذي رقم الحديث(٢٤٨) واحمد من طريق الثوري عن سلمة بن كهيل عن ابي العنبس عن وايل ابن حجر وصححه البيهقي والحافظ في تلخيص :٦٣٧/١ رواه درالقطنى ابن كثير.

(٣):- خو طبراني په دعاكي ذكركري او ابن عدي په كامل او ابن مردوية په خپل تفسيركي په سندضعيف سره نسائي اوطبراني وائي چې داحديث متروک ده ځكه په سندكي اسماعيل بن يعلى الثقفي دى (ميزان اعتدال)

صاحب رحمه الله ترجیح کوي امین سرّيَ راجح گرځوي په جهري [۱] باندې او امام شافعي رحمه الله فرمائي چې امام به ئې بالجهر وائي او مقتدي به ئې بالسر وائي دا د امام شافعي قول جدید دی او قول قدیم کې د مقتدي او امام لپاره جهر غوره دی [۲] او امام مالک رحمه الله فرمائي چې امام به امین بالکل نه وائي او مقتدي به ئې بالسّر وائي [۳] او امام احمد رحمه الله فرمائي چې امام او مقتدي دواړه به ئې بالجهر وائي نو د جمهورو په نزد امین بالسّر بهتر شو.

او د وهابیانو امین په احادیثو نه دی بناء ځکه هغوئ نه مجتهدین دي او نه د مجتهدینو تقلید کوي بلکه د هغوئ امین بالشر دی او حدیث د وائل ابن حجر (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) د شوافعو لپاره دلیل نشي کیدی ځکه د وائل ابن حجر (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) قول په احقاق الحق کې ذکردی هغه فرمائي چې امین بالجهر رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په دي لمونځونو کې ویلی بیا وائي: ما أوراه الا لیعلّمنا. زما پرې بل گمان نه دي مگر زمونږ د تعلیم لپاره ئې ویلی.

اوبل په حدیث کې اضطراب دی په صحیح حدیث کې ومدّ بها صوته دی اومدّ نه بالقصر او بالمدّ معنی مراده دی او بل دا چې امین دعا دی او اصل په دعا کې اخفاء دی لکه الله جلّ جلاله فرمائي: (أُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً).

تفسیربیضاوي: (وَعن أبِي حَنيفَةَ رحِمه اللهُ أَنَهُ لَایَقولهُ وَالمَشهُورُ عنْه أنّه یُخیفُه کَمَا رَواه عَبدالله بن مُغَفَّل رَضی الله عنه وَأنس رضی الله عَنهُ).

ترجمه: او امام ابو حنیفة رحمه الله نه نقل دي چې ده به امین نه ویلو او حکم به ئې کولو چې مقتدي دي امین نه وائي لکن مشهور قول د امام ابو حنیفة رحمه الله څخه دا دی چې امام او مقتدي به امین پټ وائي لکه دا نقل دي له عبد الله بن مغفل [۴] (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) او انس (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) څخه.

---

(۱):- کتاب الآثار: (۲۳).

(۲):- احقاق الحق: ۱ / ۳۱۷.

(۳):- المحلی: ۳ / ۱۵۸. وعارضة الاحوذي ۳ / ۵۰۰، والمدونة الکبری: ۱ / ۷۱.

(٤) حفاظ د احادیثو فرمائي چې دا حدیث په دغې طریقې نشته خو امام طبراني په معجم الکبیر کې ابي وائل نه روایت کړی عن ابي وائل کان علي او عبدالله بن مسعود لایجهران بالتأمین (حاشیة الشهاب علی تفسیر بیضاوی: ۱ / ۲۳۱.)

تفسیربیضاوي: (وَالمأمُوم يُؤَمِّن معهُ لقوله عليه السّلام اذَا قَالَ الامَام وَلا الضَّآلِّين فَقولُوا امِين فَانّ الملائِكة تَقولُ امِين فَمَنْ وَافقَ تَأمينُه تأمِينُ الملائِكةِ غفرلهُ مَاتقَدّمَ مِن ذَنْبه [۱])

ترجمه: او مقتدي به د امام سره امين وائي له وجې د دې قول د رسول الله صلّى الله عليه وسلّم كله چې امام ولا الضّآلين او وائي نو تاسو امين ووائى ځكه چې د چا امين د ملائكو د امين سره يوځاى شي نو هغه ته مخكې ټول ګناهونه بخښل كيږي.

تشريح: د ملائكو په امين كې درې صفته دي (۱) د ملائكو امين چا نه دې اوريدلى نو په كيف كې د احنافو امين د ملائكو د امين سره برابر دى.

(۲) د ملائكي امين د ولا الضّآلين نه روسته دى نو د احنافو امين هم د امام د ولا الضّالين نه روسته دى خلافا للوهابيين نو په دې وخت كې هم ورسره برابردى (۳) د ملايكو امين غفرله ماتقدم من ذنبه دى او بل له دې حديث څخه دا خبره واضحه شوه چې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د امام او مقتدي ترمنځ دوه كاره تقسيم كړي دي د امام وظيفه دا دى چې دا به ولا الضالين وايي او مقتدي به امين واويي.

دغه راز په مصنف عبد الرزاق كې روايت دي:

عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ حَمَّادٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ: أَرْبَعٌ يُخْفِيهِنَّ الْإِمَامُ: بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، وَالِاسْتِعَاذَةِ، وَآمِينَ، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ قَالَ: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ.[۲]

څلور شيان به امام پټ وايي يو بسم الله دويم اعوذ بالله دريم امين او څلورم ربنا لک الحمد د زيات وضاحت لپاره احقاق الحق ته رجوع وكړى هلته د امين په اړه ښه پوره بحث شوى او په لسګونو داسې دلائل ذكر شوي چې د امين د پټ ويلو په سنت والي دلالت كوي.

---

(۱): - رواه البخاري عن طريق عبدالله بن يوسف قال اخبرنا مالک عن ابن شهاب عن سعدبن المسيب وابي سلمة بن عبدالرحمن انهما اخبره عن ابي هريرة : ۱/ ۱۵۶ رقم الحديث ۷۸۰ ومسلم برقم ۴۱۰ وابوداود برقم ۹۳۶ والترمذي برقم ۲۵۰.

(۲) مصنف عبد الرزاق الصنعاني (۲/ ۸۷) رقم الحديث (۲۵۹۶).

تفسیربیضاوي:(وَعن أبي هرَيرة رضی الله عنه قَال لأُبي اَلَا اُخبرُک بِسورةٍ لم يَنزل فِی التَوراةِ والانجِيلِ والقرآنَ مِثلهَا قَال قُلت بَلی يَارسولَ الله صلّی الله عليه وسلّم قَالَ وَفَاتحةُ الکتَاب انهَا السَبْع المَثانی وَالقرآن العَظيم الّذِی اوتيتَه [۱]).

ترجمه: له ابو هريرة (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) نه نقل دی چې يوځل رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ) ابیّ ابن کعب ته او فرمايل چې زه تا د يو داسې سورت نه خبرنکړم؟ چې د اسورت په توراة، انجيل او قرآن کې هم بل ځای دد ې په شان سورت نه دې نازل شوی ابیّ ابن کعب ورته ووېل چې ولې نه ماته خبر راکړه رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمايل چې فاتحة الکتاب د مکرر لوستلو والا اووه (۷) آيتونه او دا قرآن عظيم هم دی چې ماته راکړی شوي دي.

تشريح: **دريم بحث**: د سورت فاتحې فضيلت بيانوي له علامه زمخشري نه چا پوښتنه وکړه چې تاسو ولې د سورت فضايل د سورت په اخر کې ذکر کوئ هغه ورته ووېل چې فضايل او صاف دسورت وي او اوصاف د شي له اصل شي نه روسته وي نو ځکه يې رووسته ذکر کوو او ځوک يې چې مخکې ذکر کوي هغوی يې د ترغيب لپاره ذکر کوي نو دا حديث ئې دسورت فاتحې د فضيلت لپاره راوړئ او مثاني مکرر نزول ته وائي.

تفسیربیضاوي: (وعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بَيْنَمَا نحن عِنْدَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جالس اذ اتاه ملک فقال أَبْشِرْ بِنُورَيْنِ أُوتِيتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ: فَاتِحَةُ الْكِتَابِ، وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ " [۲]) .

ترجمه: له ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) څخه نقل دي چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ) ناست وو چې يوه ملائکه راغله ورته ئې ووېل چې تا لره په دې دوه رڼاګانو زيرد ی دا رڼاګانې تا ته درکړی شوي دي چې دا کوم نبي ته له تانه مخکې نه دي ورکړی شوي چې فاتحة الکتاب دی او خواتم د سورت بقرې دي ته د دغې نه کوم حرف نه لولې لکن د هرحرف به درته ثواب درکولی شي.

---

(۱):- اخرجه الترمذي : ۲/ ۲٤ برقم ۲۸۷۵ . عن طريق قتيبة . . . عن ابي هريرة والنسائی : ۲/ ۱۳۹ وصححه ابن خزيمة وابن حبان والحاكم : ۱ / ۵۷ ووافقه الذهبي.

(۲):- رواه المسلم : ۱ / ۱۹۸ رقم الحديث ۸۰٦ صحيح مسلم (۱/ ۵۵٤) حَدَّثَنَا حَسَنُ بْنُ الرَّبِيعِ، وَأَحْمَدُ بْنُ جَوَّاسٍ الْحَنَفِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ رُزَيْقٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عِيسَى، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ،

تفسيربيضاوي: (وعَن حُذيْفَةَ ابنُ اليَمَان رضى الله عنه انّ رسُول الله صلّى الله
عليه وسلّم قَال انّ القَوم لَيبعث الله علَيهم العَذابَ حتمًا مقْضيًا فَيقرأ صُبيّ من 17
صُبيانِهم فِي الكِتاب أَلحمدللهِ رَبّ العَالمينَ فَيسمعُه الله تعالى فَيرْفعُ عنهمْ بذَالك
العَذابَ ارْبعِين سنةً).

ترجمه: له حضرت حذيفة (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) څخه نقل دي چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ) فرمايلي دي چې يو قوم وه چې الله جلّ جلاله په دوی د عذاب ليږلو لازمًا او حتمًا فيصله کړې وه نو د دغه قوم د ماشومانو څخه يو ماشوم وه چې په مکتب (مدرسه) کې ئې الحمد لله رب العالمين او لوستل نو الله جلّ جلاله واوريدل نو په دې سره الله جلّ جلاله د دغې قوم نه تر څلويښت کالو پورې عذاب لرې کړ.

تشريح: حافظ عراقي رحمه الله وائي دا حديث موضوعي دی او امام سيوطي رحمه الله وايي: لا اصل له او ځينو علماء وو پرې د ضعيف قول کړی [۱].

دغه راز له عبدالملک بن عمير رضي الله عنه څخه مرسلا روايت دی چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ) وفرمايل چې فاتحة الکتاب د هر مرض لپاره شفآء دی دا حديث دارمي او امام بيهقي په شعب الايمان کې په صحيح سند سره روايت کړی دی.

سعيد بن العلي (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) څخه امام بخاري، امام بيهقي او حاکم روايت کوي چې له ټولونه لوی سورته په اعتبار د ثواب يا په اعتبار د قدر سورت فاتحه دی.

امام بخاري په حپل سند سره له ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) څخه وروايت کوي چې فاتحه د قرأن د دوه ثلثو برابره دی.

---

(۱):- حاشية الشهاب على تفسيرالبيضاوى: ۱ / ۲۳۵ وكشف الخفاء ومزيل الإلباس عما اشتهر من الأحاديث على ألسنة الناس لإسماعيل بن محمد العجلوني الجراحي (المتوفى: ۱۱۶۲هـ)

وقال ابن حجر رحمه الله فى تخريج الكشاف: ۱ / ۱۹ اخرجه الثعلبي من روايت ابي معاوية عن ابي مالک الاشجعي عن ربعي عنه الّا انّ من دون ابى معاوية من لايحتج به . وله شاهد من مسند والدارمى عن ثابت بن عجلان قال كان يقال انّ الله ليريد العذاب باهل الارض فاذا سمع تعليم الصبيان بالحكمة صرف ذلک عنهم، يعني القرآن

سورت البقرة

بسم الله الرّحمن الرّحيم

الٓمّٓ (١).

تفسيربيضاوي: (الٓمّٓ) وَسائِرالأَلفاظِ الّتى يَتهجأبِها أَسمآء مُسمياتِها الحُروف الّتى رُكبَت مِنها الكَلم لدُخولِهَا فى حَد الاسْم وَاعتِوار مَايختَصّ بِهِ من التّعريف والتّنكيرِ وَالجَمع والتّصغيرِ ونَحو ذَالك علَيها وبِه صَرّح الخَليل وَابُو عَلى).

ترجمه: الف ،لام، ميم او ټول هغه الفاظ چې هغې سره شمار کيدلی شي اسمآء دي (حروف نه دي) د دې مسميات هغه حروف دي چې کلمات ورنه جوړيږي له وجې د دخول په تعريف د اسم کې او بل له دې وجې اسمآء دي چې پې در پې هغه معاني ورباندې واقع کيږي چې کومې د اسم پورې خاص دي چې تعريف ،تنکير ،تصغير ،جمع وغيرها دي او خليل او ابو علي په دې تصريح کړي،، چې دا اسمآء دي.

(بحث د حروفو مقطعاتو)

تشريح: قاضي بيضاوي رحمه الله له دې ځای څخه د سورت بقرې تفسير شروع کوي او دې سورت ته بقره ولې وايي علماء خو فرمايي چې د سورتونو نومونه توقيفي دي خو د دې سورت يوه وجه دا هم دی چې په دې سورت کې د بني اسرايلو د بقرې يوه اهمه واقعه ذکر ده.

قاضي صيب دلته درې بحثونه کوي اول نحوي بحث دويم د رسم الخط بحث دريم الفاظ تهجي د سورتونو په سرونو کې ولې ذکر کولی شي د تهجي خپله معنی تعداد دی دا درې حروف هم دي او اسمآء هم دي ځکه چې تعريف د اسمورباندې صادق دی الف اسم دی او مسمّی ئې ، «آ»، دی او لام اسم دی مسمّی ئې، «لا»، ميم اسم دی مسمّی ئې ، «ما»، دی اسماء بيل دي او مسمّيات ئې بيل دي ليکن اسمآء کې حروف زيات دي الف کې يوه همزه بل لام او بل فاء دی دغه شان نور هم دي.

د اسميت د تائيد لپاره يې د دوه لويو امامانو قولونه ذکر کړي دي يو امام خليل نحوي دی او بل ابو علي فارسي دی.

یاده دې وي چې یو ابوعلي البصري دی کوم چې په اوو مشهورو قاریانو کې یو قاري دی او د امام خلیل شاګرد دی او بل ابوعلی الفارسي دی د کوم تذکره چې دلته شوې دی.

اعتوار معنی ده پې در پې د معانیو راتلل مثلًا الف نکره دی او مکبر دی او الف معرفه ده او أُلَیف ئې تصغیر شو.

زده کړه دا خبره چې حروف په دوه قسمه دي: (۱) حروف معاني (۲) حروف مباني. حروف معاني هغه دې چې د اسم او په فعل په مقابل کې راځي او حروف مباني هغه حروف دي چې کلمات ورځنه جوړیږي خو خپله کلمه نه وي لکه په زید کې ز. ی. او دال حروف مباني مستقل نوم دی د کلمې د حروفو د شمیرلو په وخت کې هم د دې اسماء و په زریعه له دغو حروفو نه تعبیر کولی شي په همدې وجه دېته الفاظ تهجي هم ویلی شي لکه په ضرب کې ض، ر، ب حروف مباني دي او ضاد. را. باء حروف تهجي دي حروف مباني خو حروف دي خو د هغې د اسماء یعنې د الفاظ تهجي باره کې اختلاف دی ځینې علماء دېته هم حروف وایي خو قاضي بیضاوي رحمه الله ورته اسماء وایي ځکه دا فرمایي چې د اسم کیدو لپاره درې شیان ضروري دي (۱) د اسم تعریف پرې صادقیږي (۲) د اسم علامې پکې موجودې وي (۳) د فعل او حرف نفي ترینه شوي وي او الفاظ تهجي کې دا دریواړه شیان موجود وي او د اسمیت د تائید لپاره یې د دوه لویو امامانو قول په دلیل کې پیش کړ چې یو امام خلیل او بل ابو علي فارسي رحمهما الله دي دوی دواړو هم الفاظو تهجي ته د اسمیت قایل دي.

تفسیربیضاوي: (وَما رُوی ابنُ مسعُود رضی الله عنه أَنّه علیه الصّلوة والسّلام قَالَ مَن قَرأَ حَرفًا مِن کتابِ اللّهِ فَلهُ حسَنةٌ وَالحسنةُ بِعشرتِ أَمثالهَا لَا أَقولُ الٓمٓ حَرفٌ بل الِفٌ حرفٌ ولَامٌ حرفٌ وَمِیم حرفٌ [۱] فَالمُرادُ به غَیرالمَعنی الّذِی اِصطلَح علَیه فَانَّ تَخصِیْصهُ بِهِ عُرف مجدَّد بَل لمَعنی اللُّغوی ولَعلّهُ سمَّاهُ بِاسم مَدْلولِه وَلَمّاکانَت مُسمَّیاتهَا حروفًا وحدانًا وَهی مُرکبةٌ صدَرَتْ بها لِیکونَ تَأدِیتها بِالمُسمَّی اوَّل مَایقْرَع السَّمعُ).

---

(۱):- رواه جامع الترمذي : ۲ / ۵٦ رقم الحدیث ۲۹۱۰ والبخاری فی تاریخه : ۱ / ۲۱٦ واخرجه الدارمي : ۲ / ٤۲۹ من وجه آخر من حدیث ابن مسعود موقوفًا.

ترجمه: او هغه چې عبدالله بن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) نه روایت دی چې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دا فرمایلي دي چې څوک یو حرف د کتاب الله (قرآن) نه ولولي نو د هغه لپاره یوه نیکي ده او یوه نیکي په لس چنده حسابیږي زه دانه وایم چې الٓمٓ یو حرف دی بلکه الف یو حرف دی لام بل حرف دی او میم بل حرف دی نو مراد په حروفو سره بغیر د هغې معنی دي چې کومه اصطلاحي مراد دی ځکه چې تخصیص د حرف له دغې معنا پورې نوی عرف دی بلکې مراد دلته معنا لغوي دی او شاید چې د اسم مدلول ئې مسمی کړې وي هرکله چې د دې اسمآءوو مسمّیات ځان ځان ته حروف وو او دا اسمآء مرکب دي نو په آوئلو د سورتونو کې راوړل شوي چې د ادا کونکی د مسمّیات اول ټنکول د غوږونو شي.

تشریح: ابو عمر الدواني رحمه الله په کتاب العدد کې فرمائي د دغو حروفو لپاره یو تلفظ دی او بل کتابت دی ، په تلفظ کې د الف درې حروف دي او کتابت کې یو حرف دی نو د تلفظ په اعتبار په الف کې دیرش (۳۰) نیکي دي او د کتابت په اعتبار لس نیکي دي نو چې کله ئې وویل الٓمٓ درې حروفه دي معلومه شو چې دلته د کتابت اعتبار دی او صاحب د مصاعد النظر فرمائي چې هرچا ته د خپل عمل اجر ورکول کیږي قاري ته د قرائت اجر دی بیا الفاظ مکتوب وي او که نه وي، خو ده پرې تلفظ کړي نو قاري الف کې په درې حروفو تلفظ کوي نو دیرش (۳۰) نیکي دي په مجموعه الٓمٓ کې نهه (۹) حروف دي او نوي نیکي دي[1] دلته اعتراض واردیږي هغه دا

سوال: تا خو وویل چې دا اسماء دي حروف نه دي او د ابن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) په حدیث کې راغلي چې چا یو حرف د قرآن ولوست هغه لره لس نیکي دي نو په حدیث کې حروف ذکر دي نو معلومه شوه چې دا اسمآء نه دي د مصنف قول له حدیث سره په ټکر کې دی؟

(۱) **جواب**: دلته خاص اصطلاح د نحاتو مراد دی مخکې په ابتداء د اسلام کې خو د اسم ، فعل او حرف و غیر اصطلاحات نه وو نو ابن مسعود (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) حرف په معنی لغوي سره اخیستې دی اصل حرف لغت کې طرف ته وائي او په حدیث کې هم طرف مراد دی ای الف طرف لام طرف میم طرف.

---

(۱):- حاشیة الشهاب علی تفسیر البیضاوی: ۱ / ۲٤۰.

(۲) **جواب**: په حدیث کې يې دال مسمی کړی دی په اسم د مدلول سره ، اصل کې مدلول مراد دی ده چې ویلي الف حرف مطلب دا چې الف دالّ علی حرف او لام دال علی حرف میم دال علی حرف.

دویم بحث: (وَلَمّا كانَت مُسمَّياتها) سره د رسم الخط بحث شروع کوي :

په اوآئلو د سورتونو کې حروف مقطعات ذکر دي چې الف حساب کړی نو ټول نه ویشت (۲۹) حروف دي او که الف نه حسابوي نو اته ویشت (۲۸) دي دا دابو العباس قول دی ، الله جلّ جلاله د دې اته ویشت حروفو نه نصف راټول کړي (یعنې هغه مقطعات چې قرأن بعیر له تکراره ذکر دي) له (الٓمّ) نه «نون» پورې څوارلس (۱۴) حروف دي بیائې جدا جدا ځایو کې راوړي او دا حروف مقطعه په نهه ویشت (۲۹) سورتونو کې ذکر دي په دې کې اعجاز دا دی چې د هرې نوع د حروفو نه په دې څوارلسو کې نصف حروف موجود دي نو داسې الفاظ ذکر کول چې په دې ټولو انواعو د حروفو مشتمل وي د انسان له وس نه وتلی خبره ده.

او بله دا چې حروف مقطعه په اته (۸) سورتونو کې (الٓمّ) ذکر دی په پنځه سورتونو کې (الر) ذکر دی یو سورت کې (یٰس) ذکر دی یو سورت کې (کهیعص) ذکر دی یو سورت کې (طه) ذکر دی دوه سورتونو کې (طسم) ذکر دی یو سورت کې (طس) ذکر دی یو سورت کې (صٓ) ذکر دی او په شپږو سورتونو کې (حم) ذکر دی یو سورت کې (حم عسق) ذکر دی یو سورت کې (ق) ذکر دی او په یو سورت کې (ن) ذکر دی نو مسمّیات څوارلس دي او ټول اسمآء شپږ اویا (۷٦) دي.

تفسیربیضاوي: (وَاستُعيرتِ الهَمزةُ مكانَ الالِفِ لِتعَذُّرالابتِداءِ بهَا مَالمْ تَلها العوَامل مُوقُوفة خَاليَة عَن الاعْرابِ لَفَقدِ مُوجبه وَمُقتَضيهِ لَكنّها قَابِلةٌ ايّاهُ ومعرَضَةً لهُ اِذَا لمْ تَناسب مُبنى الأَصلِ وَلذَلك قِيل(ص) و(ق) مجموعًا فِيهما بَين السّاكنَينِ وَلمْ يُعامِل مَعامَلة أَينَ وَهؤلآءِ).

ترجمه: او استعارې سره په ځای د الف همزه اخستل شوي دی ځکه (الف ساکن وضعې دی) چې د تلفظ ابتداء ورباندې نه کیږي او له اسمآء و پورې چې ترڅو عوامل قائم شوي نه وي په درجه عدد کې دي اعراب ئې موقوف دی د اعراب نه خالي وي دوجې د عدم موجب او مقتضی د

اعراب نه لکن قبلونکي د اعراب دي اعراب ورته عارض کیږي چې کله ئې مبنی الاصل سره مناسبت نه وي له دې وجې ویلی شي صاد او قاف په دې حال کې چې په دوی کې ساکنین جمع دي او دوی سره د اين او هؤلآء عمل ونشو (ځکه هغې کې سکون البناء دی).

تشریح: دریم بحث: له دې ځایه نحوي بحث او تحقیق شرع کوي او په دې کې درې ټکي ذکر کړئ (۱) دا چې د مبني په تعریف کې د جمهورو او ابن حاجب رحمه الله اختلاف دی ابن حاجب د مبنی تعریف داسې کوي مَانَاسَبَ مبنی الاصل او وقع غیر مرکب چې مناسبت یې د مبنی اصل سره وي او غیر مرکب واقع شوی وي.

جمهور: داسې تعریف کوي مَانَاسَبَ مبنی الاصل چې مناسبت یې د مبنی الاصل سره وي او د معرب په تعریف کې ئې هم اختلاف دی ابن حاجب رحمه الله ئې داسې تعریف کوي المرکب الذی لم یشبه مبنی الاصل چې مرکب به وي او مبنی الاصل سره به مشابه هم نه وي.

جمهور: وایې المعرب الذي لم یشبه مبني الاصل.

اختلاف دا دی چې دابن حاجب په نزد اعراب بالفعل د معرب والي لپاره ضروري دی او جمهور فرمائي چې اعراب بالفعل د معرب والي لپاره نه دی ضروري نو د جمهورو په مذهب معرب عام دی او د ابن حاجب رحمه الله په مذهب معرب خاص دی نو زید د ابن حاجب رحمه الله په نزد مبني دی ځکه د معرب تعریف پرې نه دی صادق چې المرکب الذی دی او دا مرکب له عامل سره نه دی اګرکه مشابه مبنی اصل سره نه ده او د مبنی تعریف پرې صادق دی چې واقع غیرمرکب دی او د جمهورو په نزد دا معرب دی ځکه د مبنی تعریف پرې صادق نه دی چې ماناسب مبنی الاصل دی او تعریف د معرب پرې صادق دی چې لم یشبه مبنی الاصل دی.

بل سکون دی سکون هم په دوه قسمه دی (۱) سکون الوقف دی (۲) سکون البناء دی په سکون البناء کې اجتماع د ساکنینو ناجائز دی لکه این کې نون ته ئې فتحه ورکوو له وجې د اجتماع ساکنینو او هؤلآء کې همزې ته کسره ورکوو له وجې د اجتماع ساکنین او په سکون الوقف کې التقاء ساکنین جائز دی لکه الحمد لله ربّ العالمین دلته نون باندې وقف کوو نو ساکن کوو ئې

او یا هم ساکنه ده . سکون البناء په مبنی کې راځي او سکن الوقف په معرب کې راځي نو اوس دلته (الٓمٓ) دا د جمهورو په نزد معرب دی که مبنی نو دا وائي چې معرب دی ځکه معرب وائي مالم یشبه مبنی الاصل او دا همداسې دی د ابن حاجب په نزد خو مبنی دی ځکه مرکب له عامل سره نه دی او دا مبنی وي مذهب د جمهورو راجح ښکاري ځکه که مبني وای بیا به یې سکون سکون البناء وو او دلته خو خلک (ص) او (ق) وائي سکون الوقف کوي اجتماع د ساکنینو راولي نو معرب شو چې دا معرب شو (الٓمٓ) هم معرب شو .

تفسیربیضاوي: (ثُمّ اِنّ مُسمّیاتهَا لَمّاکانَت عُنصَرالکَلامِ وَبسَائِطهِ الّتِي یَترکبُ مِنها أُفتُتِحتْ السُّورة بِطائِفةِ مِنهَا أَیقَاظًا لِمَنْ تُحدی بِالقرآنِ وتَنبِیهًا علی أَن أَصلهُ المَتْلو عَلیهِم کَلام مَنظومٍ مِمَّا یُنْظمُون منْهُ کَلامهُم فَلوکَان منْ عنْدِ غَیرِاللّٰهِ لَمَا عَجزُوا عن آخِرهِم معَ تَظَاهُرهِمْ وَقُوة فصَاحتِهِم عنِ الاتْیانِ بمَا یدَانیه).

ترجمه: بیا هر کله چې دا مسمیاتو (الفاظ تهجي) اصل د کلام او هغه بسائط وو چې له هغې نه کلام مرکب کیږي نو په یوې طایفې د دې حروفو سره د سورت ابتداء وکړه لپاره د بیدارولو د هغه چاچې د قرآن معارضې طلب ورنه کیدلو او لپاره د تنبه کولو چې دا لوستلی شوی کتاب منظوم کلام جوړ دی د هغه څه نه چې دوی ترینه خپل کلام جوړ که دا کتاب د الله جلّ جلاله نه سوا د بل چا وائي نو اول نه تر اخر به سره د یو بل مدد اوسره فصاحته د دې په مثل او قریب کلام له راوړلو نه عاجز شوی نه وائي.

د سورتونو په مقطعاتو سره په تصدیر درې دلایل

تشریح: دریم بحث: له دې ځایه هغه دریم بحث شروع کوي : اصل کې په تفسیر کشاف کې د تصدیر د دې حروفو مقطعاتو لپاره درې وجې بیان کړي دي یعنې درې دلائل ئې بیان کړي.

(۱) **اول دلیل:** دا چې دا (الٓمٓ) دا د دې سورت لپاره اسم دی او اسم مقدم دی په مسمّا باندې له دې وجې نه ئې په ټول سورت مقدم کړ دا دلیل په کشاف کې شته دی خو مصنف نه دی رانقل کړی.

(۲) **دليل: ايقاظ**: د مخاطب را ويښيدل دي چې دا د قرآن بنفسه جزء دی يعنې د دلايلو د اعجاز لپاره.

(۳) **دليل: دلالت**: دهغو خلکو راپيدا رول دي چا ته چې قران د مقابلې دعوت ورکړې وه ورته وايي چې دا قرآن هم له هغو حروفو څخه جوړ دی له کومو څخه چې تاسو خپل کلام مرکب او جوړوئ نو که دا د غير الله له طرفه وای تاسو به هم پرې راتګ کړی وای او بل دا چې داسې عجيب او غريب کلام له امي نه اوريدل هم د اعجاز دليل دی[1].

تفسيربيضاوي: (وَلِيَكونَ أَوّلَ مَايقرعُ الأَسماعَ مُستقلًا بِنوعٍ مِن الاعْجازِ فإنّ النُّطقَ بأَسماء الحُروفِ مُختص بِمن خَطّ وَ درَس فَامّا مِن الأُمّى الّذِى لَم يُخالِطِ الكتَاب فَمستَبعدٌ مُستغربٌ خارقٌ للعَادةِ كَالكتَابةِ وَالتّلاوةِ سيّمًا وقَد رَاعى فِى ذلِک مَا يُعجِز عَنه الأَديبُ الأرِيب الفَائق فِى فَنّه وهُو أَنّه أرادَ فى هَذهِ الفَواتِح أَربعَة عشَرَاسمًا هىَ نِصف أَسامِى حُروف المُعجَم اِن لَم يُعد فيهَا الأَلف حرفًا بِرأسهَا فِى تِسع وّعشرِينَ سُورةً بِعددهَا اذَا عدّ فيهَا الأَلفُ أَصليةً مُشتَملة عَلى انْصافِ أَنواعِها).

ترجمه: اوچې اول ټکونکی د غوږونو په يوه مستقل نوعه د اعجاز شي ځکه په اسمآء الحروف خبرې کول د هغه چا لپاره وي چې څوک ليکل او لوستل کولی شي او څوک چې امّي وي او د ليکوالانو سره ئې ګډون نه وي کړی نو دا د عقل نه لرې او ډيره عجيبه خبره دی او خلاف العادت هم دی ددغه سې امّي ليکل او تلاوت کول بيا خاص کر په خپل تلفظ کې د هغه شيان لحاظ ساتل او کيفيت ساتل چې اديب او د خپل فن ماهرو ورنه عاجز پاتي کيږي الله جلّ جلاله په اول د سورتو کې څوارلس اسمآء راوړي چې د انيمائې د اسامې د حرف المعجم دی چې الف پکې مستقّل حروف حساب نکړی شي ،په نهه ويشت سورتونو کې ذکردي په عدد د دغه حروفو چې کله الف پکې حساب کړی په دې حال کې چې د اسمآء په نيمې د هرې نوعې د حروفو مشتمل دي.

تشريح: په دي سره هغه دويم دليل چې دلالت دی بيانوي چې داسې عجيب او غريب کلام له

---

(۱):- تفسيرالکشاف : ۱ / ۳٤ لعلامه زمخشري.

امّي نه او ريدل د اعجاز دليل دی.

أمّي: امّي دا معنی نه دی چې علم نه لري او پوهه ئې کمه وي بلکه امّي معنی دا چې په دنيا کې استاذ نه لري د ده استاذ الله جلّ جلاله دی دنيا کې ئې مکتب او مدرسه نه دی ويلې ورنه په اعتبار د علم سره له ټول مخلوق نه لوی عالم او خوبنيار دی او دا چې په دنيا کې استاذ نه لري دا کمال دی [1].

سوال: متوهم دا وهم کوي چې کيدا يشي چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) پټ پټ له چا نه ليکل او درس ويلی وي او هيڅوک دي پرې خبر نه وي ؟

(۱) **جواب**: د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په زمانه کې په ټوله جزيرة العرب کې د يو لسو کسانو نه د بل هيچا هم خط نه وو ياد چې اکثره ئې په يمن کې وو نو په دومره لږ استاذانو کې به ئې پټ څنګه ويلی.

(۲) **جواب**: که ويلیّ ئې هم وي بيا هم د (الٓمٓ) غوندې معجز کلام نشي پيش کولی ځکه د دې داسې عجيب رعايت شوی چې د انسان له وس او طاقت نه وتلې دی هغه دا چې ټول حروف هجاء (مقطعات) شپږ اويا (۷۶) دانې دي او له حذف د مکرراتونه روسته څوارلس پاتي کيږي او په نهه ويشت (۲۹) ځايو کې راغلي اونه ويشت (۲۹) حروف هجاء دي په نزد دجمهورو او اته ويشت (۲۸) دي په نزد ابو العباس ځکه دا يکې الف نه شماري د اته ويشتو نيمائې څوارلس دي او څوارلس مقطعات هم دي د حذف د مکرراتونه بعد او په نهه ويشت سورتونو کې راغلي ځکه د جمهورو په نزد حروف تهجي نه ويشت دي نو اشاره وشوه د ابو العباس مذهب ته چې حرف هجاء اته ويشت دي ځکه نيمائې څوارلس دي او اشاره وشوه د جمهورو مذهب ته چې حروف هجاء نه ويشت دي ځکه په نهه ويشت سورتونو کې راغلي نو دا اعجاز دی داسې نکتې د بلاغت د طاقت د بشر نه وتلی دي.

کوم حروف مقطعات چې په اوائلو د سورتونو کې ذکر دي هغه دا دي: (۱) ا (۲) ل (۳) م (۴) ص (۵) ر (۶) ک (۷) ه (۸) ي (۹) س (۱۰) ط (۱۱) ع (۱۲) ح (۱۳) ق (۱۴) ن.

---

[1]:- قال علامه شهاب الدين الحنفي في عناية القاضي حاشية البيضاوي : ۱ / ۲۴۹ . الامّي الّذي لايقرأ ولايكتب نسبة الى الامّ لانّه خرج من بطن امّه اونسبة الى امّة العرب لانّهم كانوا كذالک او الى امّ القرآء لانّه اهلها كذلک.

(د حروفو هجاء تقسيم)

تفسيربيضاوي: (فَذكَر مِن المَهمُوسةِ وهِي مَايُضعَفُ الاِعتِماد عَلى مَخْرجِهِ ويجْمعهَا (سَتَشَحَثُك خَصْفَه) نِصفهَا الحَاء والهَاء والصاذ و السِّين والكَاف وَمنَ البَواقِي المَجهُورة نِصفهَا يَجمعُهُ (لَنَّ يقْطعَ أمر).

ترجمه: او له حروف مهموسه وو څخه هم پکې نيم ذکر شوي او دا هغه حروف دي چې د دې په مخرج اعتماد ضعيف وي چې د دې مجموعه (ستشحثک خصفه) راځې هغه نيمايې دا دي حاء ،هاء ، صاد ، سين ، کاف ، دی له باقي حروفو چې مجهوره دي د هغې څخه هم نيم ذکر دي چې مجموعه ئې لن يقطع امر ده.

تشريح: دلته په حروفو کې تقسيمات کوي اول تقسيم دا چې حروف په دوه قسمه دي يو مهموسه او بل مجهوره دي.

(۱) مهموسه:

ديته وائې چې د دوی دا اداکولو په وخت کې ساه نه بنديږي يعني ساه به پکې نه دروې مجموعه د مهموسه وو (ستشحثک خصفه) راځي له دېنه يې هم نيمايي ذکرې [۱].

حاء ،هاء ، صاد ، سين ، کاف ، دی. يعنې مهموسه لس حروف دي له دغو لسو څخه يې پنځه راوړي دي.

(۲) مجهوره:

ديته وائې چې د دوی د اداکولو په وخت کې ساه بنديږي يعني ساه به پکې دروئ او ما سوا د مهموسه وو نه نور ټول مجهوره دي.

نو په دې حروفو کې چې او اتلو د سورو کې راغلي نيم مهموسه دي او نيم مجهوره دي او دا تقسيم په حروفو کې په اعتبار د ساه سره ده [۲].

---

(۱):- جمال القرآن : (۱۲) وفوائد مکية : (۷) .

(۲):- جمال القرآن : (۱۲) وفوائد مکية : (۷) .

حروف مهموسه چې له دي حروف هجاء نه لري کړی نو نونس (١٩) پاتي کيږي د دی نصف تقريبي مراد دي ځکه دنونسو (١٩) نصف تحقيقي نهه نيم راځي (لن يقطع امر) معنی د خپل کار فيصله کولی نشي نو دحروفو مجهوره وو څخه هم حروف مقطعات تو کې نيم راغلي.

تفسيربيضاوي: (وَمِن الشَّديدةِ المَثانِية المَجمُوعة فِي (أَجِدتُ طَبَقَك) أَربَعة يَجْمعُها (أُقِطك وَمنَ البَواقِي الرَّخوَة عَشرة يَجمعهَا (خُمس عَلَى نَصرِهِ)

ترجمه: او له حروفو شديده وو څخه چې مجموعه ئې (اجدت طبقک) دی څلور ذکر دي چې جمعه ئې (اقطک) دی او د باقي حروفو شلو (٢٠) نه لس ذکر دي چې مجموعه ئې خمس على نصره دي.

تشريح: دا دويم تقسيم دی په حروفو کې په اعتبار د اواز سره په دې اعتبار سره حروف په دوه قسمه دي يو رخوه بل شديده دي.

(١)رخوه:

هغه حروف دي چې اواز سره سره حرف هم اداکيږي يعنې داواز ودرولو ته پکې ضرورت نه وي.

(٢) شديده:

هغه حروف دي چې د حروف په اداکولو سره د اواز ودرولو ته پکې ضرورت وي [١] اجدت طبقک معنی دا ای أُحسْتُ حالك او اقطك معنى دا حسبک د دې هم نصف پکې راغلی چې نصف تحقيقي دی.

اته شديده چې د حروفو هجاء وو نه لري کړی يو ويشت (٢١) پاتي کيږي او ديته رخوه وائې د دې نصف هم پکې راغلی چې لس دي مجموعه ئي (حمس على نصره) دی او دا نصف تقريبي دي معنی يې دا شوه دا خلک په نصرت دهغې بهادران دي.

---

(١)- جمال القرآن: ١٢ وفوائد مكيّة: ٨.

تفسیربیضاوي: (وَمِن المُطبِقةِ الّتی هِی الصَّاد والضاد والطاء والظاء نِصفُها وَمِنَ البَواقِی المُنفَتحة نِصفُها)

ترجمه: او د حروفو مطبقه وو نه چې صاد ،ضاد ، طاء ، ظاء، دي نصف ذکردي او دا باقي چې منفتحه دي له هغې نههم نصف ذکردي.

تشریح: دا بل تقسیم دی په حروفو کې په دې اعتبار سره هم حروف په دوه قسمه دي مطبقه او منفتحه.

(۱) مطبقه:

هغه حروف دي چې د حرف په اداکولو سره د ژبې کوم طرف له تالو سره لږېږي.

(۲) منفتحه:

هغه حروف دي چې د حرف په ادا کولو سره د ژبې کوم طرف له تالو سره نه لږېږي د دې هم نصف پکې راغلي چې صاد او طاء ده.

مطبقه څلور دي چې دا له حروفو هجاء څخه لرې کړی څلورویشت پاتي کیږي د دې نصف دولس (۱۲) دي نو دولس پکې راغلي دي.

تفسیربیضاوي: (وَمنَ القَلْقَلةِ وَهیَ حُروفٌ تَضطَربُ عندَ خُروجِها وَيجْمعُها (قَد طَبَجَ) نِصفُها الأَقل لِقلّتِهَا وَمِن اللَّينَتَين (الْیاءُ لأنّها أقلّ ثِقلًا)

ترجمه: او د حروفو قلقله وو نه دا هغه حروف دي چې په وخت د اداکولو کې اضطراب پیداکوي چې مجموعه ئې (قد طبج) دی د دې نه ئې نصف اقل ذکرکړي له وجې دکموالي نه او د دوه حروف لینه وو څخه ئې یاء ذکر کړي ځکه چې دا په ثقل کې (واو) نه کم دی.

تشریح: حروف قلقله هغه حروفو ته وائې چې په وخت د اداکولو کې اواز په تالوکې کرنګیږي چې مجموعه ئې (قد طبج) دی د دې نصف اقل راغلي چې قاف او طاء دی.

حروف لینیه په اصل کې ثلاثه لینات دي چې الف ، یاء ، او ،واو ، دی خو دا الف پکې نه حسابوي ځکه الف یابدل د واو نه وي یا بدل د یاء نه وي ورنه الف د حروفو لینیه وو څخه دی نو د دې لینتین نه ئې هم نصف راوړی چې یاء دی.

تفسیربیضاوي: (وَمنَ المُستَعْلیةِ وَهیَ الّتی یَتَصعَّدالصَّوت بِها فِی الحُنُک الأعلی وَهی سَبعة القَاف والصَّاد والطَّاء والخَاء والغَین والضَّاد والظَّاء نِصفها الأَقل ومن البَواقی المُنخَفضَة نِصفها).

ترجمه: او د حروفو مستعلیه وو نه دا هغه حروف دي چې په دې سره پاس د تالو خالي ځای کې اواز اوچتیږي او دا اوه (۷) دي (ق) (ص) (ط) (خ) (غ) (ض) (ظ) د دې ئې هم نصف اقل ذکر کړي او د باقي منخفضه وو نه ئې نصف اکثر ذکر کړي.

تشریح: مستعلیه وو ته مستعلیه ځکه وائې چې ژبې د پاس طرف نه اداکیږي نصف اقل ئې، ق ، ص ، ط ، ده اوس چې اته ویشتو څخه اوه (۷) حروف لرې کړې یویشت پاتې کیږي دا منخفضه دي د دې نصف اکثر دولس دي او دائې هم ذکرکړي دي هغه دا دي ، ا ، ل ، م ، ک ، ه ، یا ، ع ، س ، ف ، ح ، ن ، ر ، [۱].

تفسیربیضاوي: (وَمنَ حُروفِ البدَل وهِیَ أَحدَعشرَ عَلی مَا ذکرَهُ سِیْبَوَیْه وَاخْتارهُ ابنُ جِنِّی وَیجْمعُها (أجِدُ طَوَیتُ مِنها) السِّتَة الشَّائعَة المَشهوُرة الّتِی یَجمعُها (أَهْطَمِین).

ترجمه: او له حروف بدل نه چې دا یولس(۱۱) دي بنا په هغه طریقه چې سیبویه ذکرکړي او دا قول ابن جني هم غوره کړی چې مجموعه ئې (اجد طویت منها)دی د دې نه ئې شپږ ذکر کړي چې کوم مشهور دي چې مجموعه ئې اهطمین دی.

تشریح: حروف بدل هغو حروفو ته وایي چې دونورو حروفو په عوض کې داځي علامه زمحشري د حروف بدل تعداد دیارلس ښودلی دی او مام سیبویه یولس ښودلی دی بیا دغه قول علامه ابن جني هم مختاره کړی دی.

---

(۱):- جمال القرآن : (۱۳) وفوائد مکیّة : (۹).

اجد طویت منها معنی دا چې ماخپل ځان او مندلو چې دیوال مې چاپیره ولو دا یو لس حروف دي چې د دې نصف اکثر ئې هم ذکر کړي چې اهطمین دی. اهطمین د طئ قبیلې د دوو غرونو نوم دی. دبدل او عوض مثال یې دا دی چې همزه له واو نه بدل او عوض راغلي وي لکه اصل چې په اصل کې وصل وو. جیم له یاء مشدد دې نه بدل راغلی دی لکه ابو علج په اصل کې ابو علي و

تفسیربیضاوي: (وَقد زَادَ بعْضهُم سَبعةً أُخرى وَهى اللَّام فى (أصيْلَالَ) والصَّاد والزَّاء فى (صِراطَ و زَراطَ) والفَاء فى (جَدفٍ) والعَين فِى (أُعِنَ) والثَّاء فى (ثُرُوغِ الدَّلوَ) والبَاء فِى (بِاسْمِک) حَتَّى صَارتْ ثَمانِية عَشر وقَد ذكَرَمنْها تِسعة السِّتَة المَذكُورة وَاللَّام والصَّادُ والعَينْ).

ترجمه: او بعض حضراتو دا اوه (٧) حروف نور هم زیات کړي دي او هغه لام په اصیلال کې اوصاد او زاء په صراط او زراط کې او فاء په جدف کې او عین په اعن کې او ثاء په ثروغ الدلو کې اوباء په باسمه کې تردې چې اتلس شوي او د دې نه نهه ذکر دي شپږ خو له مخکنیو ذکر دي اولام اوصاد او عین د روستنیو نه ذکر کړی شوي.

تشریح: اصیلال دا تصغیر داصیلا دی دلته نون په لام بدلیږي جدف کې فاء په ځای د ثاء ذکر دی ای جدث (اعن) اصل کې ائن وو دوه همزې وي دویمه همزه په عین بدله شوه، ثرغ الدلو کې په ځای د فاء بدله شوه په باسمک کې په میم بدله شوې دی او دا (ما) استفهامیه دی ای ماسمک.

حل اللغات

شمېره	لغات	معنی
١	جدف	قبر
٢	ثروغ الدلو	دبوقې طرف
٣	اهطمین	د دوو غرونو نوم دی
۴	یتصعد	اوچتیږي
۵	الحنک	تالو

تفسیربیضاوي: (وَمِمَّا یُدغَم فی مِثلِهِ لَایدغمُ فِی المَقارِبِ وهیَ خَمسَةَ عَشرَ الهَمزة والهاء والعین والصاد والطاء والمیم والیاء والخاء والغین والضاد والظاء والشین والزاء والفاء والواو ونِصفُها الأقل وَمِمَّا یُدغم فِیهِمَا وَهی الثَلاثَةُ عَشر البَاقِیه نِصفهَا الأَکثر الحَاء والقاف والکاف والراء والسین واللّام والنون لمَا فِی الادْغَام مِن الخِفَّة والفَصاحَة وَمنَ الأَربَعةِ الّتی لَاتُدغمُ فِیما یُقَاربُها وَیُدغمُ فِیها مُقاربُها وهی المیم والرآء والشین والفاء نِصفُها).

ترجمه: او هغه حروف چې په خپل مثل کې مدغم کیږي او په مقارب کې نه مدغم کیږي هغه پنځلس حروف دي همزه ،هاء . غین ،صاد ، طاء ، میم ، یاء ، خاء ، عین ،ضاد ،شین ، زاء ، فاء ، او واو له دې څخه ئې نصف اقل ذکرکړي او کوم حروف چې په مثل او قریب المخرج دواړو کې مدغم کیږي او هغه د یارلس باقي دي د هغې ئې نصف اکثر ذکرکړي چې ، خاء ، قاف ، کاف ، راء ، سین ، نون ، ده او په ادغام کې خفت او فصاحت وي او له هغه څلورنه چې په خپل مقارب (قریب المخرج) کې نه مدغم کیږي اومقارب په دې پکې مدغم کیږي چې هغه میم ، راء ، شین ، اوفاء ، ده د دې نه ئې نصف ذکرکړي.

تشریح: له دې ځانه د حروفو د اغام بحث کوي : چې بعضې حروف داسې دي چې په خپل مثل کې مدغم کېږي او په قریب المخرج کې نه مدغم کیږي ، چې تعداد یې پنځلس دی له هغې څخه نصف اقل ذکر کړي چې همزه هاء عین صاد میم طاء دی. او هغه حروف چې په مثل او قریب المخرج دواړو کې مدغم کیږي هغه د یارلس حروف دي نصف اکثر ئې ترې ذکر کړي چې حا ، قاف ، را ، سین ، لام ، او نون دی.

(لمَا فِی الادْغَام مِن الخِفَّة والفَصاحَة) دې عبارت سره دا خبره بیانوي چې کوم حروف په مثل کې مدغم کیږي له هغې یې نصف اقل ذکر کړل او کوم چې په مثل او قریب المخرج کې مدغم کیږي له هغې یې نصف اکثر ذکر کړل د دې وجه او لامل بیانوي نو فرمایي چې دا ځکه چې د ادغام له وجې خفت او فصاحت دواړه پیدا کیږي نو په چا کې چې اسباب خفة او فصاحت زیات وي له هغو څخه یې نصف اکثر ذکر کړل او په چا کې چې کم وي له هغو څخه مو نصف اقل ذکر کړل.

او څلور حروف داسې دي چې هغه په خپل قريب المخرج کې نه مدغم کيږي خو مدغم فيه جوړيږي هغه دا دي ميم، راء، شين، او فاء له دې څخه يې هم نصف چې ميم او راء دی ذکر کړل.

تفسيربيضاوي: (وَلَمَّا كَانتِ الحرُوفُ الزَّلقيةَ الّتي يُعتمَدعَليها بِذَلَقِ اللَّسانِ وهِيَ سِتَّةٌ يَجمعُها (رُبَّ مُنَفَل) والحَلْقيَّة التي هِي الحاء والخاء والعين والغين والهاء والهمزة كثِيرةُ الوُقوعِ فى الكَلامِ ذَكر ثُلثيها وَلَمّاكَانَتا أبْنِية المِزيدِ لَاتتجَاوز عَن السُّباعِية ذَكَر الزَّوائدَ العَشرة الّتي يَجْمعُها (اليوم تُنساه) سبْعة أَحرف مِنها تَنبيهًا على ذلك وَلوْ اسْتَقرَيَت الكلمَ وَتركِيبِها وَجدتَ الحُروف المَترُوكةَ مِن كُلّ جِنسٍ مكْثورةٍ بالمَذكُورةِ).

ترجمه: او هر کله چې حروف زلقيه هغه وو چې اداء کيږي په طرف د ژبې چې هغه شپږ حروف دي چې مجموعه (رب منفل) دی او د حروف حلقيه وو نه چې ، حاء ، خاء ، غين ، عين ، هاء ، همزه ، دی له دې نه ئې کثير ذکرکړي دا کثير الوقوع وو په کلام کې له دې وجې نه يې دوه ثلثين ذکر دي او هرکله چې ابنيه (مثالونه) د مزيدو له اوو اوزانو نه زيادتيدل ذکر کړي ئې دي دهغې زوائد وعشره وو نه چې مجموعه ئې اليوم تنساه ده اوه (۷) لپاره دتنبه په دې خبره چې مزيدله له دې اووه (۷) زيات نه دې او که ته چيرته استقرأ د کلمو او تراکيبو د کلمو وکړې ته به حروف متروکه د هريو جنس نه په مقابلې مذکوره و کې مغلوب (کم) بيامومې

تشريح: زلق طرف دژبې ته وائې منفل معنی زيات کړی شوی يعنې حروف زلقيه هغه حروف دي چې د اداکولو په وخت دژبې طرف پرې اعتماد اوتکيا کوي.

او حروف زيادت هغه حروف دي چې په کلام کې زائد واقع کيږي زايد معنا دا چې په زيادت د دې حروفو سره په معنا کې زيادت نه راځي او په حذفولو سره په معنا کې نقصان نه راځي او هغه لس دي چې مجموعه ئې اليوم تنساه ده او شاعر دغه حروف په شعر کې داسې بيانوي :

هويت السمانا فشيبنني... وقد كنت قدمًا هويت السمانًا

(وَلَواسْتَقرَيَت الكلمَ وَترَكِيبِها) له دې ځای څخه د هغو حروفو ترجيح بيانوي چې د سورتونو په سرونو کې ذکر شوي دي په مقابل د هغو حروفو کې چې متروک دي فرمايي چې که ته څومره

تحقیق او تفتیش وکړي په کلام او تراکیبو د کلام کې نو در معلومه به شي چې کوم حروف د سورتونو په سرونو کې نه دي ذکر شوي هغه قلیل الاستعمال دي په مقابل د هغه حروفو کې کوم ذکر شوي نو د کثرت استعمال له وجې یې دې حروفو ته ترجیح ورکړه.

تفسیربیضاوي: (ثمّ اِنّه ذَکرهَا مُفْردة وَثُنائِیّة وثُلاثِیّة و رُباعیّةٍ وخُماسِیَّة اِیذَاناً بِأنّ المُتَحدّی به مُرکبٌ مِن کَلماتِهِم الّتِی أُصولهَا کلمَاتٍ مفردَةٍ أومُرکَّبة مِن حَرفَین فَصاعدًا الی الخَمسةِ).

ترجمه: او الله جلّ جلاله بعضې مفرد ذکرکړې او بعض ثنائې ذکر کړې او بعض ثلاثي، بعض رباعي او بعض خماسي ذکرکړې لپاره د اعلان کولو چې په کوم کلام طلب د معارضې شوی د هغې کلمات د دوی له حروفو نه مرکب دي چې اصول د هغې کلماتو مفرد او مرکب دي څه د دوه حروفو او څه د زیاتونه تر پنځو پورې دي.

تشریح: له دې نه مخکې مصنف د کلام الله او کلام الناس تر منځ شرکت په اعتبار د مادې ثابت کړی و دلته په اعتبار د هیئة او ترکیب سره شرکت ثابتوي نو فرمایي چې قران کریم کې حروف مفرده، ثنائیه، ثلاثیه، رباعیه او خماسیه د دې لپاره ذکر کړل چې په کوم قران تاسو ته د مقابلې دعوت درکړل شوی هغه هم له هغو کلماتو څخه جوړ دی د کومو کلماتو حروف بنائیه چې یا مفرده دي یا ثنائیه، ثلاثیه او رباعیه او خماسیه دي نو د ستاسو او قراني کلام تر مینځ شرکت ترکیبي او هیئتي موجود دي او سره له فصاحته د دې پشان کلام نشئ جوړولی نو معلومه شوه چې قرأن معجز دی. حروف مفرده لکه، ص، ق، ن، او ثنائیه لکه، طه، طس، یس، الٓم، ثلاثیه لکه، الر، رباعیه لکه، المص، خماسیه لکه، کهیعص، یعنې د هرې نوعې نه ئې اکثر حروف مذکور او کم حروف متروک دي.

تفسیربیضاوي: (وَ ذکرَ ثَلاثَ مفردَاتٍ فِی ثلاثَ سُورٍ لِأَنّها تُوجدُ الأَقسامَ الثّلاثَةَ أَلاسْم وَ الفعلُ وَ الحَرفُ وَ أَربع ثُنائِیَّاتٍ لأَنّها تکُونُ فی الحَرف بِلاحَذفٍ (کبل) وَفی الفِعلِ بِحذف کَقُلْ وَفی الاِسمِ بِغیرِحَذف کَمَن وَبِه کَدم وَفی تِسع سُورٍ لِوقُوعهَا فی کُلّ

وَاحِدٍ منَ الأقسَام الثَّلاثِة على ثَلثةِ أَوجُهٍ فَفى الأَسمآءِ اذ و ذُو وَمِن وَفى الأفعَال قُل وَبع خِف وَفى الحُروفِ اِنْ وَمِن ومُذ عَلى لُغة مَن جَرَّبها).

ترجمه: او ذکر کړي ئې دي درې مفردات په درې سورتونو کې ځکه دا مفردات په اقسامو ثلاثه وو کې موجودیږي چې اسم فعل حرف دی او څلور ثنائيات ذکر کړې دي ځکه چې دا په حرف کې بلاحذف موجوديږي لکه بل او په فعل کې په حذف سره موجوديږي لکه قل او په اسم کې په دواړو طريقو سره بغير د حذف نه وي لکه مَن او که سره له حذف نه وي لکه دم او دا څلور ثنائيات په نهو سورتو کې ځکه ذکر دي چې په هم دې درې اقسامو کې دا حروف په درې طريقو سره موجود دي په اسماءو کې اذ بالکسر او ذو بالضم او من بالفتح او په افعالو کې قل، بع،او خف او په حروفو کې ان، من،او مذ هم په همدې قياس دی خو مذ د په لغة د هغه چا دی چې مذ له حروف جاره و ښخه گڼي.

تشريح: درې مفردات ،ق ، ص ، ن، دي په اسم کې لکه کاف د «مثلُ » او ضمير ته اشاره، په فعل ک لکه «قِ» په حرف کې لکه حروف قسم دا مفردات په اسم ، فعل او حرف کې موجوديږي نو ځکه ئې په درې سورتونو کې ذکرکړه. څلور ثنائيات ،طه ، يس، طس، حم، دي

سوال : دا ثنائيات يې څلور ولې راوړه کم او زيات يې ولې ذکر نه کړل ؟

جواب: دا حروف ثنائي په کلماتو ثلاثه و(اسم ، فعل، حرف) کي په څلورو طريقو سره موجود دی په دوه طريقو سره په فعل او حرف او په دوه طريقو سره په اسم کې په حرف کې خو بغير له حذف نه دي لکه بل او په فعل کې سره له حذف لکه قل ، بع ،خف او په اسم کې بغير له حذف نه لکه مَن او سره له حذف نه لکه دم چې په اصل کې دمو و.

سوال: په نهو سورتونو کې يې ولې ذکر کړه ؟

جواب: د حروف ثنائيه استعمال په اقسامو ثلاثه و کې په دريو طريقو سره دی : په ضمې د اول حرف سره په فتحې د اول سره او په کسرې د اول حرف سره د اسماءو مثال : اِذ ، ذُوا او مَن د فعل مثال : قُل ، خَف او بِع او د حرف مثال اِن ، مِن او مُذ . خو دا مذ د هغه چا په نزد دی څوک يې چې له حروف جاره و نه گڼي نو درې ضرب درې نهه شوه.

تفسیربیضاوي: (وَثلاثُ وثُلاثِياتٍ لمَجِئيهَا فى الأَقسامِ الثَّلثةِ فى ثلَاثَةَ عشرةَ سُورة تَنبيهًا عَلى أَنَّ أُصولَ الأَبنِية المُستَعمَلةِ ثلاثَةُ عشر، عشرةٌ مَّنهَا لِلاسْمآء وثَلاثَةٌ لِلأَفعالِ ورُباعِيتَين وخُماسِيتَين تَنبِيهًا عَلى أَنَّ لِكلّ مّنها أصلا كجعْفر وَسفرْجَل وَمُلحقًا كَقَرْدَدٍ وجَحَنْفَلٍ)

ترجمه: او درې ثلاثيات يې ذکر کړل له وجې د راتلو د دې ثلاثياتو په اقسامو ثلاثه (اسم،فعل ،حرف) ووکې او په د يارلس سورتونوکې يې ذکرکړې لپاره د تنبه چې بناءګانې د اصولو مستعمله وو ديارلس دي د هغې نه لس اصول د اسمآء لپاره دي او درې لپاره دافعالو دي او دوه رباعي اودوه يې خماسي ذکر کړي دي ديکې تنبه دی چې هريو سره اصل اوملحق شته لکه جعفر اصل رباعي دی او سفرجل اصل خماسي دی قردد ملحق د رباعي دی اوجحنفل ملحق دخماسي دی.

تشريح: هغه درې ثلاثيات دا دي : الٓم، الر، طسم، دا د قاضي بيضاوی رحمه الله خپل اجتهاد دی چې ثلاثيات ئې درې ولې ذکرکړي ځکه ديکې اشاره دی چې ثلاثي په درې اقسامو اسم، فعل او حرف کې واقع کيږي په اسم کې لکه فرس په فعل کې لکه نصر په حرف کې منذ بيا يې په ديارلس سورتونو کې ذکر کړل ديکې دې خبرې ته اشاره دی چې د اسم او فعل ټول اوزان ديارلس دي لس د اسم دي او درې د فعل دي د فعل اوزان دا دي چونکه اصل په فعل کې ماضي دی او د ماضي فاء کلمه هميشه مفتوحه وي او په عين کلمه کې يې درې حالته دي ضمه ،فتحه اوکسره فرق د مضارع نه معلوميږي کله مضارع مکسورالعين وي لکه ضرب يضرب کله مضموم العين وي نصر ينصر کله مفتوح العين وي لکه فتح يفتح دي درې وو ته دعائم او اصول دابوابو وائي او د اسم اوزان دا دي فاء کلمه کې درې حالته دي ضمه ، فتحه او کسره سکون نشي پکې راتللی ځکه بيا ابتدا په ساکن راځي او څلور حالته په عين کلمه کې دي ضمه، فتحه، کِسره او سکون نو درېو ته چې په څلوروکې ضرب ورکړې دولس کيږي دوه د ثقل دوجې ساقط شوي هغه دا دي ،چې فاء مضموم اوعين مکسور لکه فُعِل اوبله چې فاء مکسوره او عين مضموم وي لکه فِعُل نو لس اوزان دا شوه اودرې دفعل ټول ديارلس شول او دلته دوه رباعي دوه خماسي ،حم عسق ، کهيعص ، ذکر دي چې په دي کې اصل اوملحق د اصل ته اشاره دی.

تفسيربيضاوي: (وَلعلّها فُرِقَتْ عَلى السُورِ وَلم تُعد بأجْمَعِها فِي أول القُرآن لِهذِهِ الفَائِدَة مَع مَافِيه من اِعادة التَّحدى وَتكْرِيرالتَّنبِيه وَالمُبالَغةِ فِيه والمَعنى أَنَّ هَذا المُتحدى بِه مُؤلف مِن جِنس هَذه الحُروف أَو المؤَّلف مِنهَا كذا)

ترجمه: او شايد چې دائې بيل بيل ذكركړې وي په نهه ويشت سورتونوكې د دغه فوائدو لپاره(كوم چې مخكې بيان شو) اوټول ئې په قرآن كې يوځاى شمارلې نه وي سره له دې چې په متعدد ذكر كولو كې د تحدى (چلنج) بيابيا اعاده دى اوتكرار د تنبه ، اومبالغه دى په دې كې او د الم معنى دادى چې دا متحدى بِه جوړدى له جنس د دغه حروفو په كومو چې تاسو تلفظ كوئ او(جوړ) له دغو حروفونه هم دغسې دى څنگه يې چې تاسو جوړئ،

تشريح: مخكې مونږ وويل د بعضې سورتونو په اوائل كې بعض حروف مقطعات ذكردي د دې لپاره مصنف دوه وجې ذكركړي وې يو ايقاظ دوهم دلالت چې امي داسې عجيب اوغريب كلام راوړى دى دلته اعتراض واردېږي.

سوال: چې امّي داسې عجيب اوغريب كلام جوړ كړ دا عجايب او اعجاز خو په مجموعه د حروفو تهجيه كې دى لكه تاوويل چې د مجهوره وو نيمائې پكې دي د مهموسه وو نيمائې پكې دي دا نيمائې خو په مجموعه حروفوكې دي يوازې الم كې خونه دى نو دا مجموعه به دې په اول د قرآن كې راوړې وو چې تنبه پر اعجاز په اول سر كې راغلى وه ؟

(۱)**جواب**: (لعلما فرقت الى انّ لهذه الفائدة) سره جواب كوي څكه ئې يوځاى په اول كې رانه وړه تقسيم اوبيل بيل ئې راوړه لپاره د دغې فائدې كومه چې په تير درس كې بيان شوې وثلاث ثلاثيات لمجئيها فى اقسام الثلاثة فى ثلاث عشرة سورة الخ.

(۲)**جواب**: ته وائې چې دا نكتې د بلاغت په مجموعه د حروفو تهجيه ووكې دي په يوازې الم كې نشته نو مونږ وايو چې بعد ختم القرآن خو پكې راځي او بعد ختم القرآن بيا مجموعه دى او بل دا چې څكه ئې متفرق راوړه په قرآن كې او مجموعه يې ذكر نه كړل دېكې اعاده دى په چيلنج

چې څو مره مکرریږي هغو مره تکرار د چیلنج راځي او بل تکرار دتنبه دی او مبالغه په تنبه کې دی چې دا قرآن دی دغه ئې مواد دي که نران ئې مقابله ئې و کړئ.

مؤلف من جنس: دې قول سره ترکیب د (الٓمٓ) ذکرکوي هغه دا چې ده (الٓمٓ) نه یې تعبیروکه په المؤلف من جنس هذه الحروف دا خبر لپاره د مبتداء مقدرې دی هذاالمتحدی به ئې مبتداء اویا المؤلف منها الٓمٓ دی دا مبتداء کذا ئې خبر تردې ځایه پورې د الٓمٓ معنی لغوي ذکرشوه چې د الف، آ دی، دلام، ل، دی اود، میم، م، دی اوس معنی مراد ئې څه دی

(په حروفو مقطعاتو کې اختلاف)

تفسیربیضاوي: (وَقِيل هِي أَسماءٌ لِلسُّور وَعلَيه اِطباقُ الأكثَر سُميت بُها اِشعارًا بانّها كَلمَات مَعرُوفة التَّركيبِ فلَولَم تَكُن وَحْيا مِن اللهِ تعالى لَم تَتسَاقَطْ مقْدرتُهم دُون مُعارضَتها وَاستَدلَّ علَيه بِأَنّها لَولمْ تكُن مَفْهمَةٌ كان الخِطابُ بها كَالخِطاب بِالمُهل وَالتَّكلم بِالزَّنجِي مَع العَربِ وَلمْ يكنِ القُرآن بِأسرِهِ بيانًا وَهدى وَلمَّا امْكن التَّحدى بِه).

ترجمه: اوچا ویلي چې دا حروف مقطعات اسمآء دي لپاره د هغو سورتونو په کومو کې چې ذکردي او په دې باندې داکثرو اهل علمو اتفاق دی دا سورتونه په دغو اسمآء د دې تنبه لپاره مسمّی شول چې دا دهریو سورت کلمات معروفة التركيب دي که چیرته د الله جلّ جلاله له طرف نه نه وائي نو په وخت د معارضې کې د معاندینو قدرت نه ساقطیدلی اوکه چیرته دا الفاظ مفهوم نشي نو په دې حروفو سره خطاب کول دا په الفاظو مهمله وو باندې خطاب کول دي لکه خبرې په زنجي ژبه له عربي سړی سره اوبله دا چې ټول قرآن به تبیان (بیانوونکی) لکلّ شئ نشي او په دې باندې بیا تحدی هم ممکنه نه دی.

تشریح: معنی مراده د حروفو مقطعاتو معلومه دی او که نه دی معلومه په دې کې اختلاف دی یو مذهب د متکلمینو دی بل مذهب د غیرمتکلمینو دی.

متکلمین: دوئ وائې چې معنی مراده د حروفو مقطعاتو معلومه دی.

غیرمتکلمین: دوئ وائې چې معنی مراده د حروف مقطعاتو نه دی معلومه.

د متکلمینو دلائل:

متکلمین په خپلې دعوې پنځه دلایل وایي دوه نقلي او درې عقلي

(۱) **دلیل نقلي**: قال الله تعالی (بِلِسَانٍ عربِیّ مّبین) الله تعالی فرمائې چې ما دا قرآن په عربي ژبي نازل کړی همدارنګه(اِنّا اَنْزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا[1])موږ دا قرأن په عربي ژبه نازل کړی ټول قرآن عربي دی او د عربي معنی معلومه وي نو حروف مقطعات هم عربي دي ځکه دا هم قرآن دی نو معنی ئې معلومه شوه

(۲) **دلیل نقلي**: الله جلّ جلاله فرمائې (هُدًا لّلنّاس) دا قرآن هدایت دی لپاره د خلکو نو هدایت به هلته وي چې معنی مراده ئې معلومه وي نو که د حروفو مقطعاتو معنی مراده معلومه نشي نو بیا خو هدایت لپاره د خلکو نشو دغسې بل ځای فرمایي چې (قد جاء کم من الله نورٌوکتاب مبین) بېشکه تاسوته د الله تعالی له طرفه نور او واضحه کتاب راغلی دی نو که د متشابهاتو او مقطعاتو معنا معلومه نشي نو څنګه به نور ورته وویل شي .

(۳) **دلیل عقلي**: الله جلّ جلاله په قرآن سره چیلنج ورکړی او چیلنج په هغه سره ورکول کیږي چې خپله خو ئې معنی مراده معلومه وي ورنه بیا خو چیلنج نه صحیح کیږي دا به داسې شي لکه حبشي سړي خبرې کول له عربي سره .

(۴) **دلیل عقلي**: که د حروف مقطعاتو معنی مراده معلومه نشي نو په الٓمّ و غیره باندې مونږته خطاب کول به داسې وي لکه عربي سره په زنجي ژبه خبري کول او عربي سره په زنجي خبري کول عبث وي دا به هم بیا عبث شي نو اوس (الٓمّ) او (یس) وغیره څه معنی ده نو په دې کې د یارلس قوله دي چې یو یکې دادی چې دا نومونه دي لپاره د سورتو ، نو خلاصه دا چې بعدالنقل ئي نومونه دي او قبل النقل ئې معناګاني وې ،آ، ل، م، له اسمآء منقوله وو څخه شو په منقول عنه کې چیلنج وو نو په منقول کې هم چیلنج دی.

---

(۱):- سورة یوسف: آیة (۲).

(٥) **دلیل عقلي** : دا خبره متفق علیه دی چې قرأن کلام الله دي او په دې هم اتفاق دی چې الله جل جلاله حکیم مطلق ذات دی او فعل د حکیم له عبث نه خالي وي نو اوس که د متشابهاتو مقصد مخاطب ته معلوم نه شي د متشابهاتو په ذریعه کلام کول به لغوه شي نو په دې صورت کې به باري تعالی طرفته نسبت د عبث او لغوې وشي او الله تعالی ته د لغوې نسبت باطل دي

دغیر متکلمینو دلائل

دوی هم په خپله دعوه باندې درې دلایل وایي:

(١) **دلیل**: الله تعالی فرمائي : (وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيْلَهُ اِلَّا اللّٰه وَالرَّسِخُونَ فِى الْعِلْمِ يَقُولُوْنَ امَنَّا [1]) نه پوهیږي په معنی د دې متشابهاتو مګر یو الله جل جلاله دلته په الَاالله باندې وقف ضروري دی او راسخون په لفظ د الله نه دي ورعطف بلکې هغه جمله مستأنفه دی ځکه که په لفظ د الله باندې ورعطف شي نو معنا به دا وي چې په تاویل ددې الله تعالی او راسخین پوهیږي او حال دا چې مخکې فرمايي (فَاَما الذين فى قلوبهم زيغٌ فيتبعون ماتشابه) یعنې د کومو خلکو په زړونو کې چې کوږوالی وي هغو د متشابهاتو د مراد او معنا معلومولو کوشش کوي نو د راسخینو په زړونو کې خو کوږوالی نشته هغه ممدوحین دي مقصد دایت داشو چې د متشابهاتو علم یوائې الله تعالی لره ثابت دی.

(٢)**دلیل**: رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمایي (اصحابي کالنجوم بأيهم اقتديتم اهتديتم [2])

---

(١):- سورة آل عمران : آية (٧).

(٢) الشريعة للآجري - كتاب الإيمان والتصديق بأن الجنة والنار مخلوقتان

باب ذكر فضل جميع الصحابة رضي الله عنهم - حديث:١١٤٨

حدثنا أبو محمد يحيي بن محمد بن صاعد قال : حدثنا عبيد الله بن سعد بن إبراهيم بن سعد الزهري قال : حدثني عمي يعني : يعقوب بن إبراهيم قال : حدثنا سلام أبو عبد الله التميمي قال ابن صاعد : ابن سلم الطويل المدائني ، عن زيد العمي ، عن أبي الصديق الناجي ، عن أبي سعيد الخدري قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " إن أرحم هذه الأمة لها أبو بكر ، وأقواهم في دين الله عمر ، وأصدقهم حياء عثمان بن عفان ، وأقضاهم علي ، وأقرأهم لكتاب الله عز وجل أبي بن كعب ، وأفرضهم زيد بن ثابت ، وأمين هذه الأمة أبو عبيدة بن الجراح ، ومعاذ بن جبل أعلم الناس بحلال الله وحرامه ، وأبو هريرة وعاء من العلم ، وسلمان علم لا يدرك " وذكر صدق أبي ذر قال محمد بن الحسين رحمه الله تعالى : وقد حدثنا ابن صاعد بهذا الحديث من غير طريق عن أبي سعيد ، وعن ابن عمر ، وغيرهما ، عن النبي صلى الله

زما صحابه په شان د ستورو دي کوم پسې مو چې اقتدا وکړه هدايت به بيامووموئ . له دې حديث نه دصحابه کرامو پسې د اقتدا وجوب معلوميږي اقتدا په اقوالو کې وي او که په افعالو کې و او له خلفاء اربعه و نه دا نقل دي چې متشابهات اسرار دي د الله او د هغه د رسول (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ترمينځه او راز له راز دار څخه بل چاته معلوم نه وي.

(۲) **دليل**: بنده ګان چې په کومو احکامو (عبادت) مکلف دي هغه په دوه قسمه دي يو قولي دی او بل فعلي دی په فعلي عباداتو کې د بعضو په حکمتونو ته پوهيږي او د بعض په حکمتونو ته نه پوهيږي نو بعضې متشابهات دي او بعض غير متشابهات دي لکه د لمونځ په حکمت ته پوهيږي ځکه ئې کوي چې الله منعم د نعمتونو کثيره وو دی او د منعم شکر اداکول پکار وي هغه دا چې اشرف الاعضاء چې تندی دی ته په خاورو الله تعالى ته ګدي ذغسې روژه ځکه نيسې چې دوړي حال درته معلوم شي شهوت دې مات شي د جهاد علت او حکمت اعلاء دکلمة الله دی او داسې نور، خو حج ولې کوي د دې په حکمت ته نه پوهيږي طوافونه سعې وغيره د څه لپاره کوي نو دا له متشابهاتو څخه دي نو چې افعال په دوه قسمه شوه ، نو اقوال هم په دوه قسمه دي چې د بعض په معنى ته پوهيږي او د بعضې په معنى نه پوهيږي او دا مذهب حق هم دی.

تفسيربيضاوي: (وَ إِنْ كانَت مَفهمةً فإمّا أن يُراد بِها السُّور الّتى هىَ مُستهلّها عَلى أنّها القَابهَا اوغَير ذالِك وَالثّانى بَاطِلٌ لأَنّهُ امّا أَن يَّكونَ المُراد مَاوضَعت لهُ فى لُغة العَربِ فَظاهرٌ انّه لَيس كذَلک أوغيره وَهو باطلٌ لأَنّ القُرآن أنزِل على لُغتِهم لقوله تعالى: (لِسَانٍ عَرَبِيّ مّبين) فلَايحمل على مَالَيس فى لُغتهِم).

ترجمه: او که دا حروف پوهه کونکي د مخاطب وي (مفهم وي) يابه مراد په دې سره هغه سورتونه وي چې دا حروف ئې په اوائلو کې راغلي وي چې دا القاب د دغو سورتونو وي او يا به د

عليه وسلم قال محمد بن الحسين رحمه الله : وقد روي عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال : " أصحابي كالنجوم بأيهم اقتديتم اهتديتم " قلت : فلو فعل إنسان فعلا كان له فيه قدوة بأحد من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم ، كان على الطريق المستقيم ، ومن فعل فعلا يخالف فيه الصحابة فنعوذ بالله منه ، ما أسوأ حاله "

دې مدلول نه مراد غير د سورتونو وي او دوهم شق باطل دی او يا به معنی موضوع له د دې حروفو په لغت دعربوکې غير د دې سورتونو څخه مراد وي ظاهره خبره ده چې داسې خو نه ده او يا به معنی موضوع له د دې په غير د لغت عربي کې وي دا شق هم باطل دی ځکه چې قرآن په لغت د عربوکې نازل شوی دی له وجې د دې قول د الله تعالی نه بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُبِيْنٍ نو دا نه حمل کيږي په هغه څه چې په لغت د عربوکې نه وي.

تشريح: دا تفريع بناء ده په هغه قول چې معنی مراده ئې معلومه نه وي.

سوال: متوهم دا وهم کوي چې د قاضي بيضاوي رحمه الله د نهج نه دا معلوميږي چې مذهب د متکلمينو د ده په نزد غوره دی ځکه هيڅ رد ئې پرې ونکړ؟

جواب: دا د قاضي بيضاوي له قوله پخپله څرګنديږي چې نوموړي څلور شقه ذکر کړه (۱) دا چې معنی مراده ئې معلومه نشي دا باطل دی ځکه بيا به خطاب له بندګانو سره پهرر الفاظو مهمله و راشي (۲) دا چې معنی مراده ئې معلومه شي او هغه دا سور شي د کومو په اول کې چې دا حروف راغلي دي (۳) دا چې معنی مراده ئې په عربي کې له سورتونه غير شي دا هم باطله ده ځکه دا په کُتبو د عربو کې مونږ نه دی موندلی چې دا حروف دي دسورتونو نه غير دبل څه لپاره وضع شوي وي (۴) دا چې معنی مراده ئې بله شي په عجمي کې دا هم باطل ده ځکه قرأن عربي دی الله جل جلاله فرمايي : (بلسان عربي مبين) نو که به بله ژبه يې ورحمل کړي له نص د قرأن به خلاف راشي کله چې دا ټول شقونه باطل شول نو دويم شق ثابت شو په ظاهره خو قاضي بيضاوي د همدې قول تائيد کوي اګر که دا هم ضعيف دی.

تفسيربيضاوي: (لَايُقال لمَ لَايجُوز أَن تَكونَ مَذيدةً للتَنبيهِ وَالدَّلالَة عَلى اِنقطَاعِ كَلام واستِينَاف أخر كَما قَالَ قُطرَبُ أَو اِشارة اِلى كَلِماتٍ هِىَ منها اُقتُصرتْ عَليها اِقتصارُالشَّاعرِ فِى قوله قُلتُ لها قِفِى فَقالتْ قَافْ).

ترجمه: دا دې ونه ويلی شي چې ولي جائز نشو چې شي دي دا حروف لپاره د تنبه او دلالت په قطع دکلام سابق او استيناف د کلام اخر لکه دا خبره قطرب کړيده او يا اشاره وي هغو کلماتو ته

چې دا الم له هغو کلماتو څخه مختصر ذکرشوی وي چې په دي کلماتو اختصار شویدی په شان اختصار د شاعر چې ما معشوقې ته وویل چې ودریږه هغې وویل قاف یعنې (قفتُ).

تشريح: له دې ځایه څلور اعتراضه نقل کوي

اول اعتراض ئې په لایقال سره ذکرکړی دی او روسته یې مصنف جواب په لانقال سره کړی دی اول اعتراض: دا دی چې تاسو مخکې وویل که دا حروف په یوه معنا هم دلالت ونه کړي په کلام کې خرابي او نقصان لازمیږي نو دا وایي چې هیڅ نقصان نه لازمیږي ځکه دا حروف دي صرف په خبرداري او انقطاع د کلام باندې دلالت کولو لپاره زاید اومنلی شي لکه قطرب د دې خبرې قایل دی قطرب وایی کله چې عرب اوږد مضمون لیکي نو د جملو د ختمیدونه پس داسې الفاظ لیکي چې د مابعد کلام له ماقبل سره تعلق برقرار ساتي او هغه حروف چې د تعلق لپاره ذکر کیږي هغه هم حروف تهجي دي.

(أو اِشارة اِلى كِلماتٍ) سره دویم اعتراض ته اشاره ده

دويم اعتراض: دادی چې تاسو وویل که دا حروف په یوه معنا هم دلالت ونه کړي خطاب بالمهمل به لازم شي دا وایي چې خطاب بالمهمل نه لازمیږي ځکه موږ وایو چې دا مقطعات اصل کې له کلماتو طویله څخه را مختصر شویدي په دې سره هغو طویلو کلموته اشاره ده لکه د شاعر په شعر کې وایی (قلت لها قفی فقالت قاف) دلته په قاف کې اوږدې جملې ته اشاره دی له کومې نه چې دا قاف را مختصر کړی شوې دی.

قطرب د سیبویه شاګردی او قطرب دیو حیوان (مرغه) نوم دی چې د شپې یا سحر وختي ښکاز پسې وځې نو دا به هم په تیاره کې سیبویه ته ورتلو یو ورځ په توره تیاره کې ورغئ دروازه ئې ور وټکوله سیبویه چې راووت ګوري چې دا طالب ولاړ وو نو ورته ئې وویل: (ما انت الّا قطرب لیل) نو په دې لقب مشهور شو او خپل نوم ئې محمد بن المستنیر وو پوره شعر داسې دی:

- قلت لها قفی فقالت قاف . . . . . لاتصیبنا قد نسیتنا الایجاف

والمنشورات من المعتق صاف . . . . وعذف قینا عذاف

تفسيربيضاوي: (كما رُوى عَن ابن عَبَّاس رضى الله عنه قَالَ الأَلْفُ آلآءُ الله وَاللّامُ لُطْفُه وَالمِيْمُ مُلكُه وَعنهُ أَنّ الٓمٓ و (حم) و(ن) مَجْمُوعهَا الرَّحمن [۱] وَعنْه أَنّ الٓمٓ مَعناه اَنَا الله أَعلم وَنَحْو ذلِک فى سَائِرالفَوَاتِح [۲] وَعنه أَنّ الألفُ مِن اللهِ واللّامُ من جِبرِيلِ والمِيمُ مِن مُحمّد أى القُرآنُ مُنَزّل من اللهِ بِلسَانِ جبرِيل عَلى مُحَمَّدعلَيها الصَّلوة والسَّلام [۳])

ترجمه: لکه څنګه چې روايت دی له ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) نه چې الف مخفف (مختصر) دی له الاءالله نه او لام له لطف د الله نه اوميم د ملک د الله جلّ جلاله نه او د ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) روايت دی چې (الر) او (حم) او (ن) دی د دې مجموعه الرّحمن دی او دا هم ترينه نقل ده چې د الٓمٓ معنی (انا الله اعلم) دی او د دې په شان په نورو فواتحو (مقطعاتو) کې او د ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) دا هم روايت دی چې الٓمٓ مخفف له (الله) دی او لام د جبريل نه اوميم د محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ) نه مخفف دی نو معنی دا شوه چې قرآن نازل دی له طرفه د الله جلّ جلاله په لاس د جبريل په محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ) باندې [۴].

تشريح: د ابن عباس رضي الله عنه له رواياتو څخه هم دا څرګنديږي چې که د دغو حروفو خپله معنا معلومه نه شي نو څه نقصان نه لازميږي ځکه په دې سره اشاره دی صفاتو د الله تعالی طرف ته په الف احد، اول، ازلي او ابدي ته اشاره دی لام سره لطيف طرف ته اشاره دی او ميم سره مالک، مجيد، منان طرف ته اشاره دی نو معنا دا شوه ازلي ابدي لطيف مالک.

دويم: يا په دې سره اشاره دی صفاتو فعليه طرفته په الف سره آلآء (نعمت) طرف ته اشاره دی او لام سره لطف طرف ته اشاره او ميم سره ملک ته طرف ته اشاره دی.

(۱):- رواه ابن جرير وابن ابى خاتم.

(۲):- اخرجه عبدبن حميد وابن جرير وابن المنذر وابن ابى خاتم.

(۳):- اخرجه البخارى فى تاريخ الكبير وابن جرير وزاد المسير: ۱ / ۲۶.

(٤):- ابوالعالية رحمه الله فرمائي الف معنا الله لام معنا لطيف ميم معنا مجيد: زادالمسير: ۱ / ۲۵.

همداراز شعبة له سري رحمه الله څخه روايت كوي هغه وائي چې ماته دابن عباس رضى الله عنهما خبر راسيدلي چې ويل به الٓمٓ اسم اعظم دي (تعليق زاد المسير: ۱ / ۲۵.

دريم: دا چې په الر، حم، او ن، دا ټول د الرحمن اجزاء دي په دې سره الرحمن طرفته اشاره دي

څلورم: او يا دا چې الف سره ذات د الله ته اشاره دي او په لام او ميم سره علم ته اشاره دي نو معنا دا شو انا الله اعلم

پنځم: يا په دې سره مختلفو ذاتونو ته اشاره دي په الف سره أشاره دي الله طرفته او لام سره اشاره دي جبريل طرفته او په ميم سره اشاره دي محمد (ﷺ) طرفته نو معنا داشوه القرأن منزل من الله تعالى بلسان جبريل على محمد (ﷺ).

تفسيربيضاوي: (أو إلى [1] مُدَد أَقوم وآجَال بِحسابِ الجُمَل كماقَالَ أَبو العَالِية مُتمسِّكًا بِماروى أنّه عليه الصّلوة والسّلام لمَّا اتَاه اليَهود تَلاَ عليهم الم البَقرة فَحسِبُوه قَالوا كَيف نَدخُل فى دِينٍ مُدّته اِحدى وسَبعونَ سنةً فَتبَسّمَ رسُول الله صلّى الله عليه وسلّم فقَالُوا فَهل غَيره فَقال (المّص) (الر) (المّر) فقَالُوا خُلِطتْ علَينَا فَلانَدرِى بِايّها نأْخذُ فَانّ تِلاوتَه إِيّاها بهَذا التَّركِيْب عَليهِم وتَقْريرِهِم عَلى اِستِنباطِهم دَلِيل عَلى ذلک).

ترجمه: اويا په دې کې عمرونو اومدو د قومونو ته اشاره دی په حساب د جملو او ابجدو لکه څنگه چې ويلي ابوالعالية په دې حال کې چې استدلال کونکی دی په دې قول د رسول الله (ﷺ) چې کله ورته يهوديان راغله نو ورته ئې الم (بقره) ولوستـ نو يهودو حساب وکړ بيا ئې وويل چې مونږ په داسې دين کې څنگه داخل شو چې د هغې عمر يو اويا (۷۱) کاله دی نو رسول الله (ﷺ) تبسم وکړ بيا ئې ورته وويل چې د دې نه غير نور الفاظ شته رسول الله (ﷺ) ورته وفرمايل (المّص) (الر) (المّر) نو دوئ وويل چې په مونږ خلط راغئ (حساب پرې گډوډ شو) مونږ نه پوهيږو چې کوم عمل وکړو [2] نو رسول الله (ﷺ) دوئ ته په دې

(۱):- دي سره رديم اعتراض ته اشاره ده

(۱) جامع البيان في تفسير القرآن للطبري - سورة البقرة

القول في تأويل قوله تعالى الم - حديث:۲۲۱ حدثنا به محمد بن حميد الرازي، قال: حدثنا سلمة بن الفضل، قال: حدثني محمد بن إسحاق، قال: حدثني الكلبي، عن أبي صالح، عن ابن عباس، عن جابر بن عبد الله بن رئاب، قال: مر أبو ياسر بن أخطب برسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يتلو فاتحة سورة البقرة: الم ذلك الكتاب لا ريب فيه فأتى أخاه حيي بن أخطب في رجال من يهود فقال: تعلمون والله لقد

ترتيب تلاوت کول او دوئ ته ئې تقرير کول او د دوئ استباط باندې د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) خاموشي د دې دليل دی چې په دې حروفو تهجي کې د قومونو عمرونو طرفته اشاره دی.

تشريح: دريم اعتراض: هغه داسې چې له دې حروفونه د قومونو عمرونه مراد دي لکه څنګه چې ابو العالية دليل نيولی په دې قول د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ابن عباس رضي الله عنه وايي رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته درې يهود راغله (۱) ابو ياسر ابن اخطب (۲) حُيَي ابن اخطب (۳) اوکعب ابن اشرف چې دا د يهودو لوئ علماء او سرداران وو رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) الٓمّ تلاوت کولو دوئ واوريده نو رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)سره کيناسته رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ته ئې وويل چې ته په الله قسم وکړه چې دا اسماني کتاب دی رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ورته وويل په الله مې دي قسم وي چې دا اسماني کتاب دی نو وي ويل که داسې وي نو بيا ستا د امت عمر يو اويا (۷۱) کاله دي نو رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ورته وخندل نو دوئ وژړته وويل چې داسې نور الفاظ شته چې راته ويلولې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ورته (الٓمّص) تلاوت کړ نو دوئ سوچ وُکړ بيا ورته وويل چې ستا د امت عمر يوسل اويوشپيته (۱۶۱) کاله دی بيا رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)ورته وخندل نو دوئ وويل چې داسې نور الفاظ شته رسول الله

سمعت محمدا يتلو فيما أنزل الله عز وجل عليه : الم ذلك الكتاب فقالوا : أنتَ سمعته ؟ قال : نعم فمشى حيي بن أخطب في أولئك النفر من يهود إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم ، فقالوا : يا محمد ألم يذكر لنا أنك تتلو فيما أنزل عليك : الم ذلك الكتاب فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : " بلى " فقالوا : أجاءك بهذا جبريل من عند الله ؟ قال : " نعم " قالوا : لقد بعث الله جل ثناؤه قبلك أنبياء ما نعلمه بين لنبي منهم ما مدة ملكه وما أجل أمته غيرك فقال حيي بن أخطب : وأقبل على من كان معه ، فقال لهم : الألف واحدة ، واللام ثلاثون ، والميم أربعون ، فهذه إحدى وسبعون سنة ، قال : فقال لهم : أتدخلون في دين نبي إنما مدة ملكه وأجل أمته إحدى وسبعون سنة ؟ قال : ثم أقبل على رسول الله صلى الله عليه وسلم ، فقال : يا محمد هل مع هذا غيره ؟ قال : " نعم " قال : ماذا ؟ قال : " المص " قال : هذه أثقل وأطول : الألف واحدة ، واللام ثلاثون ، والميم أربعون ، والصاد تسعون . فهذه مائة وإحدى وستون سنة ؛ هل مع هذا يا محمد غيره ؟ قال : " نعم " قال : ماذا ؟ قال : " الر " قال : هذه أثقل وأطول الألف واحدة ، واللام ثلاثون ، والراء مائتان ، فهذه إحدى وثلاثون ومائتا سنة ؛ فقال : هل مع هذا غيره يا محمد ؟ قال : " نعم ، المر " قال : فهذه أثقل وأطول : الألف واحدة واللام ثلاثون ، والميم أربعون ، والراء مائتان ، فهذه إحدى وسبعون ومائتا سنة . ثم قال : لقد لبس علينا أمرك يا محمد ، حتى ما ندري أقليلاً أعطيت أم كثيرا ثم قاموا عنه ، فقال أبو ياسر لأخيه حيي بن أخطب ولمن معه من الأحبار : ما يدريكم لعله قد جمع هذا كله لمحمد : إحدى وسبعون ، وإحدى وستون ومائة ، ومائتان وإحدى وثلاثون ، ومائتان وإحدى وسبعون ، فذلك سبعمائة سنة وأربع وثلاثون ؛ فقالوا : لقد تشابه علينا أمره .

(صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) (الر) تلاوت کړنو بیا ئې ورته وویل ستا د امت عمر دوه سوه اویو شپیته(۲۶۱) کاله دی بیا یې ورته المّر تلاوت کړنو دوئ وویل چې پر مونږ خبره ګډوډه شوه مونږ په داسې دین کې څنګه داخل شو چې عمر ئې دومره وي اولاړل.

له دې حدیث نه دا خبره ثابتیږي چې په دې الفاظو سره مدې او عمرونو ته اشاره دی ځکه رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په دې ترتیب سره تلاوت کولو او بیایې د یهودو په استنباط باندې څه انکار هم نه کولو.

(حروف ابجد او معاني ئې)

حروف ابجد الف یو (۱) لام دیرش(۳۰) میم څلویښت (۴۰) نود دې امت عمر به یو اویا کاله وي بیا المّص کې الف یو (۱) لام دیرش (۳) میم څلویښت (۴) ص نوي (۹۰) وائې د دې امت عمربه یوسل اویو شپیته کاله وي الخ.

ابجد: الف (۱) ب (۲) ج (۳) د (۴).

هوز: ه (۵) و (۶) ز (۷).

حطی: ح (۸) ط (۹) ی (۱۰).

کلمن: ک (۲۰) ل (۳۰) م (۴۰) ن (۵۰).

سعفص: س (۶۰) ع (۷۰) ف (۸۰) ص (۹۰).

قرشت: ق (۱۰۰) ر (۲۰۰) ش (۳۰۰) ت (۴۰۰).

ثخذ: ث (۵۰۰) خ (۶۰۰) ذ (۷۰۰).

ضظغ: ض (۸۰۰) ظ (۹۰۰) غ (۱۰۰۰).

تفسیر بیضاوي: (وَ هذِه الدَّلالَة وَانْ لم تَكنْ عَرَبِيَّة لَكنّها لِاشْتهارِها فيمَا بَين النّاس حتّى العَرب تلْحِقها بِالمُعرباتِ كَالمِشكاة والسجيل والقِطاس).

ترجمه: او دا دلالت اګرکه عربي نه دی (عجمو ایجاد کړی) لکن د ډیر شهرت له وجې نه عربي ګرځیدلی دی تردې چې عربو ترعربی پورې ملحق کړو لکه مشکاة او سجیل او قسطاس.

تشريح: په دې سره دفع د اعتراض کوي هغه دا

سوال: په عربي کې خو له دې الفاظو نه مودې او عمرونه د قومونو چې د الّم يو اويا (۷۱) معنی دی او د الّمص يو سل اويو شپيته دی نه اشارةً رافهميږي او نه صراحتاً بلکې داخو د سورياني او عبراني ژبې معاني نو د عربيت په اعتبار سره دا الفاظ په مودې څنګه دلالت کوي ؟

جواب: د دې الفاظو دغه دلالت اګر چې عربي نه دی خو د خلکو تر منځ د شهرت له امله تر عربي پورې لاحق شو دی لکه مشکوة حبشي لفظ دی طاقچې ته وايي سجيل فارسي لفظ دی له خټو څخه چې کومه تيږه جوړه شوي وي هغې ته وائي قسطاس رومي لفظ دی دا ټول د شهرت له وجې په عربي کې استعماليږي .

تفسيربيضاوي: (أو دَلالة [۱] على حُروفِ المَبسوطَةِ مَقْسَمًا بِها لِشَرفِها مِن حَيث أَنّها بَسائِطُ أَسماَء الله تعَالى وَمَادَة خِطابِه هَذا).

ترجمه: او يا دا حروف مقطعه دال دي په حروفو مبسوطه مقسم بها (چې قسم وربانديې کيږي) له وجې د شرف د دغه حروفو په دې حيثيت چې دا بسائط د اسمآءو د الله تعالى دي (اسمآء آلهيه له دې جوړ دی) د الله جلّ جلاله د خطاب او کلام ماده دی هذا ای خذ هذا.

تشريح: دا شپږم او اوم قول دی هغه دا چې يا دا حروف مقسم بها دي الله جلّ جلاله په الّم باندې قسم خوړلی او په کوم شي چې قسم کيږي د هغې عظمت ته اشاره وي نو دلته تنبه او ايقاظ دی چې ای عربانو دا قرآن د ،ا ،ل، م، نه جوړ دی دا مواد تاسو هم لرئ که نران ئې مقابله به ئې وکړئ.

اصل کې دا څلورم اعتراض دی:

څلورم اعتراض: هغه دا چې تاسو وويل که چيرته دا مقطعات په په اعتبار د وضعې په کومه معنا دلالت نه کوي بيا خو خطاب بالمهمل دی لکه عربي سره په زنجي ژبه خبرې کول دا وايي چې دا خبره نه منم ځکه دا حروف په بسايطو دلالت کوي چې دا د اسماء الحسنى بسايط دي.

---

(۱):- ديځکې اعتراض ته اشاره ده

تفسيربيضاوي: (وَاِنّ القَول بِأَنّها أَسمآءُ السُور يُخرِجُها الى مَالَيسَ فِي اللُغة العَربِ لِأَنّ التَّسمـيَة بِثلاثَة أَسمآء فَصَاعِدًا مُستكْره عِندهُم وَتُؤَدّى الى اِتّحاد الاِسمِ وَالمُسمّٰى وَيَستدْعِي تَأخُرِ الجُزءِ عَن الكلّ مِن حَيثُ أَنّ الاسْمَ يَتأخَرُ عن المُسمّى بالرُّتبَة).

ترجمه: او دا قول چې الٓمّ او حروف مقطعات اسمآء د سورتونو دی دغه حروفو مقطعه هغه ... خارجوي چې په لغت د عربو کې نه وي ځکه نوم کیښودل په درې اسمآء او یا په زیات د درې اسماء وو نه د عربو په نزد بد ګڼل کیږي او دا به مفضي شي اتحاد د اسم او مسمی ته او بل دا چې دا تقاضا کوي د روسته والي د جزء د کل نه له دې حیثیت نه چې دا اسم دی نو اسم متأخروي له مسمّی نه په رتبې سره [1].

تشريح: مصنف په دې سره رد وکړ په هغه چاچې هغوئ وائې چې دا الٓمّ د دې سورت لپاره نوم دی وائي الٓمّ د دې سورت لپاره اسم نه دی ولې که اسم شي په عربي کې به داسې اسم راشي چې له درې اسماء وو نه مرکب وي او داسې اسم په عربي کې نشته چې له درې نومونو مرکب وي په عربي کې داسې اسم شته چې له دوه اسمونو نه مرکب وي لکه بعلبک او حضرموت خو د درې وو څخه مرکب نشته بل رد پرې کوي که الٓمّ اسم د دې سورت لپاره شي نو اسم به عین مسمّی شي ځکه الٓمّ هم داخل دی په دې سورت کې نو الم اسم هم شو او مسمی هم.

(وَيَستدْعِي تَأخُرِ الجُزءِ عَن الكلّ)دا بل رد دی په هغه چاچې څوک دغو حروفو ته اسماء د سورتونو وائې که اسم شي د سورت لپاره نو که له دې حیثیت ئې واخلې چې دا جزء دی نو بیا تقاضا د تقدیم کوي ځکه جزء مقدم وي په کل او که له دې حیثیت ئې واخلې چې دا اسم دی نو بیا تقاضا د تأخیر کوي ځکه اسم روسته وي د مسمّی نه نو دا پرې رد کوي چې دا حروف د سورتونو لپاره نومونه نه دي ځکه که نومونه شي بیا دغه نواقص لازمیږي.

---

(۱):- تقدیم په پنځه قسمه ده (۱) زماني (۲) طبعي لکه یو په دوه وو مقدم (۳) تقدیم شرفي لکه تقدیم د ابوبکر رضی الله عنه په عمر رضی الله عنه (٤) علقي لکه تقدیم دحرکت دلاس په قلم (٥) رتبي لکه امام بیضاوی رحمه الله ئې مثال ذکر کړی یاتقدیم دخیني صفونو دمسجد په ځینو: حاشية الشهاب: ۱ / ۱۷۳.

تفسيربيضاوي: (لأنَا نَقولُ أنَّ هَذهِ الأَلفاظ لَم تَعهد مَزيدةً لِلتَنبيْه وَالدَّلالة عَلى الاِنقِطاع وَالاستِيناف يَلزمهَا وَغيرهَا مِن حَيث أَنَّها فَواتِح سُورُ).

ترجمه: (دا ټول اعتراضونه دې ونکړی شي)ځکه مونږ وايو چې دا الفاظ په دې معنا مشهور نه دي چې دا دې د زايد کيدو سره دلالت په تنبه او انقطاع اوکړي او فايده د استيناف لازم دي له دې سره او له دينه غير له نورو سره له دې حيثيته چې دا په اوائلو د سُورتونو کې راځي.

تشريح: له دې ځايه مصنف د ټولو اعتراضاتو جوابونه کوي خو په طور د مقدمې مخکې له جواب نه څلور خبرې اورېدل ضروري دي اول د احکام لغويه د اجراء لپاره قياس کولو ته هيڅ دخل نشته بلکې د اهل لسان استعمال سره احکام مستنبط کيږي دويمه خبره دا چې که يو لفظ نه التزاماً يوه معنا را فهميږي نو له دې نه لازميږي چې د دې لفظ به بله معنا نه وي بلکې بله معنا هم کيدی شي دريمه خبره دا چې يولفظ د معنا د تعين لپاره خاص کول ضروري دي لفظا وي او که معنا څلورمه خبر دا چې د يو لفظ معرّب کولو لپاره ضروري دي چې اهل عرب دې لفظ لره په همدې معنا کې استعمال کړي په کومه معنا کې يې چې غير عرب استعمالوي.

اوس رازو خپلې خبرې ته هغه دا چې د سيبويه او نورو علماو مذهب داوو چې حروف مقطعات د دې سورو لپاره اسمآءدي بيا د سيبويه په مذهب اعتراضات راغله اول اعتراض د قطرب وو هغه داوويل چې الّٓم دا لپاره دلالت اوتنبه ده په انقطاع د کلام چې مخکې کلام ختم شو او بل کلام شروع شو دې اعتراض د قطرب نه جواب کوي هغه داچې يو انقطاع ذ کلام دی او بله نفسې انقطاع دی دا الّٓم په نفس انقطاع دلالت نه کوي پاتي خو لادا چې په انقطاع د کلام او په استيناف د آخر دې لالت وکړي نو په لغت د عربوکې مونږ لادا معنی نه دی اوريدلي اوکه غيرعربي وي نو قرآن خو عربي دی.

سوال: چيرته چې په قرآن کې مونږ دا الفاظ (مقطعات) ګورو نو انقطاع ورسره راغلي دی او ته وايي چې په انقطاع دلالت نه کوي ؟

جواب: (و الاستيناف فيلزمها و غيرها) استناف له دي سره هم لازم دی او له نورو سره هم لازم دی خو له دې حيثيته چې دا فواتح د سورو دي له حيثيته نه چې دا مقطعات دي.

تفسيربيضاوي: (ولَايَقتَضي ذَلک أَن لايَكونَ لها مَعنى فى حِيزِها وَلَم تُستَعمل لِلاخْتصَار مِن كَلمَات مُعَيَّنة فى لُغتِهم أَمَّا الشّعر فَشاذٌ).

ترجمه: او دا دلالت په انقطاع او استيناف تقاضا نه کوي چې د دې لپاره به په خپل ذات کې معنی نه وي او دا نه دی مستعمل شوي لپاره داختصار د کلمو معينو په لغت د عربو کې او هرچې شعر دی هغه شاذ دی.

تشريح: دلالت په انقطاع او استيناف خو دا تقاضا نه کوي چې د دې لپاره دې خپله معنی نه وي خپله معنی دي هم وي اولازمه معنا دي هم ورسره وي چې انقطاع دی ځکه دلالت التزامي منافي له دلالت مطابقي سره نه وي.

(ولم تستعمل) دا له هغه دوهم اعتراض نه جواب دی چې (او اشارة الى كلمات هى منها الخ) مطلب دا چې دا الّم مخففات دي له کلماتو نه او بيائې يو شعر پيش کړی وو هغه دا و «قلت لها قفى فقالت قاف».

جواب: داسې کوي چې په لغت د عربو کې دا مخفف دی که د غير عربو کې مخفف دی، که په لغت د عربو کې ئې مخفف وائي نو قياسًا ئې مخفف وائې که لغتًا ،که قياسًا ئې مخف وائې نو قياس دلته کارنه ورکوي او که لغتًا ئې وائې نو په لغتو د عربو کې مونږ دا نه دي اوريدلې اولغت د غيرعربو معتبر نه دی ځکه قرآن عربي دی او هرچې تا شعر ويلې وو هغه شاذ دی يجوز فى الشعر مالايجوز فى غيره.

تفسيربيضاوي: (وَ أَمّا قولُ ابن عبَّاس رضى الله عنه فَتَنبّهٌ على أَنّ هَذه الحُروف مَنبَع الأَسمآء وَمبَادى الخِطابِ وتَمثِيل بأَمثلَة حَسنَة اَلا تَرى أَنه عَدَّ كلّ حرفٍ مِن كلِماتٍ مُتبَايِنَةٍ لاتَفسِير وتَخصِيص بِهذه المَعانى دُونَ غيرهَا اِذ لَا مُخَصِّص لفظًا ومعنًا).

ترجمه: او هرچې قول د ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) دی دا تنبه دی په دې خبره چې دا حروف منبع ده د اسمآء وو د الله تعالى اومبادي د خطاب دي او تمثيل ئې کړي په امثله وه حسنه وو باندې آيا ته

نه ګوري چې هريو حرف يې د کلماتو متباينه وو نه شمارلى دى دا معاني يې نه تفسير دى او نه مخصوص دى تر دې معانيو پورې چې په بغيرنه دې نه په نورو به دلالت نه کوي ځکه دلته مخصص لفظًا او معنًا نشته.

تشريح: دا جواب دى له هغه دليل چې د ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) قول ئې پيش کړى وو نو دا ورته وائې قول د ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) تنبه دى په دې خبره چې دا حروف منبع ده د اسمآءوو لکه الف د اسم د الله جلّ جلاله منبع دى او لام منبع د جبريل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) دى ميم منبع د محمّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دى او دا ئې لغوي معنى نه دى اونه د ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) دا مطلب دى له دې وجې نه خو ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) متفرقې اومباينې معنى ګانې ترينه مراد کړي دي يو طرفته وائې الف د الله څخه دې بل طرفته وائې الف د آلآء څخه دى نوله دې نه معلوميږي چې د ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) لغوي معاني نه دې مراد اومعنى مراده ئې هم نه دى بلکه دا داسمآء وو لپاره منبع دى او ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) بېکلې مثالونه ورته پيش کړى دي کني لکه لام منبع د جبريل دى دغسې منبع د لعن هم کيدى شي ميم منبع د محمّد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او منبع د مکر هم کيدى شي خو دا امثله بيا حسن نه دى.

(اَلا تَرى أَنّه عَدَّ كلّ حرفٍ مِن كِلماتٍ مُتبَايِنَةٍ) دا د ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) د قول لپاره وجه بيانوي چې د هغه مطلب معنى لغوي اومعنى مراده مقصود نه دى ځکه ئې متباين معناګانې ترينه مراد کړي کله له الف نه آلآ او کله ذات د الله جل جلاله او له لام نه کله لطف او کله جبريل او له ميم نه علم د الله جل جلاله او کله محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ).

تفسيربيضاوي: (وَلَا بِحِسَاب الجُمل فَتُلحقُ بِالمُعربَاتِ والحَديثِ لَا دَلِيلَ فِيه لجَوازِ أَنّه عَليه الصّلوة والسّلام تَبَسّمَ تَعَجُّباً مِن جَهلِهم).

ترجمه: داحروف په حساب د جملوسره نه دې استعمال شوى نو بيا به د معرباتو سره ملحق شي. (د غير عربي نه به عربي جوړه شي) او هرچې حديث دى نو هغه په دې خبره دليل نه دى د دې جواز هم شته چې رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د يهود په جهل تبسم کړى وى.

تشريح: سوال: تاسو خو مخکې وويل د الٓمٓ معنی يو اويا ده (۷۱) او رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) چې يهودو ته خندل نو معلوميږي چې همدائې معنی دی.

جواب: تبسم کله د خوشحالئ لپاره وي او کله د تعجب لپاره وي نو دلته کيدی شي د تعجب لپاره وي چې د؛ خومره جاهلان دي کلام عربي دی او دوئ ترينه عجمي مراد وي.

سوال: رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)خو يوازې تبسم نه دی کړی بلکه مخکې تللی د الٓمٓ نه روسته ئې ورته آلٓمٓرٓ وويل بيا الٓمٓصٓ ورته وويل؟

جواب: دا مجازات لخصم دي يعني چې خصم سره په لاره ځې ځې په آخرکې يې کندې ته وغورځوي.

تفسيربيضاوي: (وَجَعلهَا مُقسماً بهَا وإنْ كانَ غَيرمُتنع لكِنّه يَحوِج الى اِضمارِ أَشياء لَادَليلَ عَليهَا).

ترجمه: اوګرځول د دې حروفو مقسم بها اګرچې دا ممنوع نه دی لکن دا بيا کلام محتاج کوي اضمار د ډيرو اشياؤو ته چې په هغې هيڅ دليل نشته.

تشريح: هرچې څلورم اعتراض وو چې دا حروف دي د قسم څخه شي نو دا ورته وائي چې ګرځول د دې مقسم بها منعه نه دي خو احتياج پکې ډيرو تقديراتو ته پيښيږي لکه ته به وائې و «أ» قسم دې وي په الف و «لٓا» قسم دې وي په لام و«مٓ» قسم دې وي په ميم نو مخکې به ترينه ادوات د قسم مقدرکوې او روسته به ترينه جواب قسم مقدرکوې ځکه «لاريب فيه» خو جواب نشي کيدی ځکه په جواب د قسم کې يا «لا» وي يا «اِن» وي لکه والله لزيد.

تفسيربيضاوي: (وَالتَّسمِيةُ بِثلاثةِ اسمآءٍ انّمَا تَمتنِعُ اذًا رُكِبَتْ وَجَعلتْ اِسمًا وَاحدًا على طَريقَةِ بَعلَبک فَامّا اذَا نَثَرتْ نَثْرَ اسمآءِ العَدَدِ فَلا وَنَاهِيک [1] بِتَسويةِ سِيبَويه بينَ التَّسميةِ بِالجُملةِ والبَيت مِن الشّعر وطَائفةٍ من أَسماءِ حُروفِ المُعجَم).

---

(۱):- اى حسبک ويکفيک تقول هذا رجل ناهيک من رجل وتأويله انّه يجدّه وغنائه ينهاک عن طلب غيره قال ابن الانباري رحمه الله فى الزاهر قوله ناهيک بفلان معناه كافيک به.-

ترجمه: تسمیه په دې نومونو هغه وخت منع وي چې دا درې واړه اسماء مرکب شي او په طریقې د بعلبک یو اسم ترینه جوړ کړی شي :خو که دا درې واړه اسمونه خواره واره ذکر کړی شي په شان د خوارو ورو اسماء عد دو بیا مستنکرنه دی تالره دا کار د سیبویه کافي دی چې هغه تسویه او برابروالی جایز ګڼلی په منځ د تسمی په جملې ،بیت د شعرکې او په طایفې د اسماء المعجم.(د شعر یوې حصې ته بیت ، جمله او طائفه د اسمآء د حروفو معجم هم ورته ول شي.

تشریح: دا جواب دی هغه اعتراض ته چې ویلې ئې وو دا الٓم دې اسم شي لپاره د دې سورت بیا خو به یو اسم مرکب له درې اسمآء وو نه شي او په کلام عربي کو خو مونږ یو اسم له درې اسمآء وو نه مرکب نه دی موندلی ؟

جواب: دا ورته جواب کوي چې یو اسم مرکب له درې اسماء وو نه هلته ناجائزدی چې کله له دینه مرکب امتزاجي جوړشي لکه بعلبک او دلته ترینه مرکب امتزاجي نه دی جوړشوي بلکه درې اسمآء په طریقې د تعداد کې ذکر شوي الف لام میم اومجموعه ئې بیا د دې الٓم لپاره نوم دی او داسې جائزدی لکه اسماء عدد د تایئد لپاره د امام سیبویه قول پیش کوي چې هغه ویلي چې د شعر یوې حصې ته بیت هم ویلی شې ، جمله هم ورته ویلی شې او د حروفو معجم د اسماء یوه حصه هم ورته ویلی شې او ګوره سیبویه یو شي ته په درې نومونو سره نومول جائز ګڼلي دي نو فواتح د سورتونو هم دغسې دي چیرته درې اسمونه دي لکه دغه الم او چیرته څلور دي.

تفسیربیضاوي: (وَالمُسَمَّى هُو المَجموعُ السُّورة وَالِاسم جُزْءُها فَلا اِتِّحَاد وَهُومُقَدَّمٌ من حَيث ذَاتِه مُؤخَّر باعْتبارِ كَونِهِ اسمًا فَلا دَور لِاِختِلاف الجِهتَين).

ترجمه: مسمی خو ټول مجموعه سورت دی او اسم جزء د سورت دی نو اسم اومسمی کې اتحاد نشته که الٓم اسم شي نو په اعتبار د ذات سره مقدم وي او په اعتبار د اسمیت سره مؤخر وي نو دور نه راځي له وجې د اختلاف ده جهاتو.

تشریح: دا هم جواب دی له هغه اعتراض نه چې تا ویلي وه چې کله دا الٓم اسم لپاره د دې سورت شي نو اتحاد به راشي په مابین د اسم او مسمی کې ځکه الٓم هم په دې سورت کې داخل دی

نو دا ورته جواب کوي چې اګرکه اتحاد د اسم او مسمی راځي خو فرق اعتباري پکې شته هغه دا چې مسمی مجموعه (مجموع من حيث المجموع) د دې سورت دی او اسم جزء دی له دې سورت څخه نو اتحاد رانغلو بلکې يو کل شو او بل جز.

او بل اعتراض داوو چې که دا الٓمٓ اسم کوي نو اسم خو مؤخر وي او که جزئې له دې سورت بولې بيا خو جزء مقدم وي دا نه دی مګر دور دی ؟

دا ورته جواب کوي چې دور نشته ځکه دلته جهات بدل دی دا الم مقدم دی من حيث الذات اومؤخر دی باعتبار کونه اسمًا.

تفسير بيضاوي: (وَالوَجْهُ الأَوّل اَقربُ الى التَّحقِيق وَ أَوفَقُ لَلطَّائف التَّنزِيل وَأَسلم مِن لزُوم النَّقل وَوُقوعِ الاِشتِراک فِي الأَعلَام مِنْ واضِع وَاحِدٍ فَانّه يَعودُ بالنَّقضِ عَلى مَاهو مَقصُود بالعَلَميَّة).

ترجمه: او اولنی وجه تحقيق ته ډير نزدي دی اوموافقه دی د باريکونکاتو د قرآن سره او ډيره سالمه(محفوظه) دی د لزوم د نقل د حرفيت نه اسميت ته او محفوظه دی له وقوع د اشتراک نه په اعلامو کې کوم چې يو واضع ثابت کړي ځکه دنقل او اشتراک واقع کيدل هغه نقض ته راجع کيږي چې دعلميت نه مقصود دی. (مقصود دعلميت نه تميز تخصيص اوعدم التباس وي).

تشريح: په دې اتو اقوالو کې اوله وجه دا وه چې الف اسم د (آ) دی او لام د (ل) دی اوميم اسم د (م) دی او دوهمه وجه داوه چې دا ئې معنی لغوي دی اومعنی مراده ئې اسم د دې سورت دی خو اوله وجه اقربه دی تحقيق ته ځکه چې په دې کې نکتې دی چې هغه تنبه او ايقاظ دی اوموافقه دی له باريکاتو د قرآن سره چې کفارو ته چيلنج دی چې همدغه مواد دي چې تاسو سره هم شته که نران ئې مقابله ئې وکړئ او کوم شی چې موافق وي له نکاتو د قران سره هغه انسب وي په مقابل د غير اوفق کې او بل دا چې اوله وجه سالمه دی له لزوم د نقل او اشتراک نه يعنې چې دا اسماء حروف اومنل شي په اعلامو کې نقل او اشتراک نه راځي ؛ځکه هلته (د سيبويه په مذهب) نقل او اشتراک لازميږي هغه داسې که دا حروف اسماء د سورو شي خو دا خبره خو متحقق دی چې

دا الفاظ علم دي د خپلو مسمیاتو لپاره اوس که تاسو دا علم منئ د دې دوه صورتونه دي یا خو به د سوتونو لپاره اصالتاً علم وي یا به نقل شو وي له اول صورت نه نقل شوی وي که اصالتاً وي نو اشتراک لازم شو او که په طور د نقل وي نو نقل لازم شو بهر الحال په دې صورتونو کې په اعلامو نقل او اشتراک لازمیږي حال دا چې له واضع نه اشتراک او نقل په اعلامو کې قبیح دی ځکه دا دعلمیت د مقصود خلاف دی ځکه مقصود دعلمیت دا د چې د علم په ذریعه به ذی عَلم ممتاز شي له نورو اشیاو څخه او په اشتراک او نقل کې التباس وي نو اول صورت اسلم من لزوم النقل و الاشتراک شو او دویم صورت غیر سالم شو.

تفسیربیضاوي: (وقِیلَ أَنّها أسمَاءُ القُرآن ولذَلک أَخبرعَنهَا بِالکتَابِ وَالقُرآن [1])

ترجمه: او ویلی شوي دي چې دا حروف د قرآن نومونه دي نو له همدې وجې نه دا حروف مبتداء او کتاب او قرآن ئې خبر واقع کیږي.

تشریح: او داسې هم ویلې شوي دي چې دا حروف نومونه د سورتونو دي ځکه دې حروفو ته کتاب خبر واقع شوی لکه الٓمٓ مبتداء ذلک الکتاب ئې خبر (الر کتابٌ أُحکِمَتْ اٰیتُه) [2] و الٓمٓر کتَابٌ اَنزَلْنَاهُ اِلَیْک [3] او خبر په مبتداء ورحمل وي نوچې حمل شو اتحاد راغې په وجود خارجي کې نو دا عین کتاب شو او وجه د حمل یې یوازې علمیت دی نو موږ اوایل د سورتونو د قرآن کریم لپاره علم مقرر کړ.

سوال: دلته عینیت له کتاب سره راغئ له قرآن سره خوئې رانغی ؟

جواب: لکه څنګه چې کتاب ورته خبر واقع شوی دغسې ورته قرآن هم ورته خبر واقع شوي لکه تِلْک اٰیَات وقُرآن مبین نو له قرآن سره یې هم عینیت راغی.

---

(۱):- اخرجه ابن جریر عن مجاهد فی تفسیر طبري : ۱/ ۸٦ و عبدالرزاق و عبد بن حمید عن قتادة .

(۲):- سورة الهود : آیة : (۱).

(۳):- سورة ابراهیم : آیة: (۱).

تفسيربيضاوي: (وَقِيل اِنّها أَسمآءُ اللهِ تَعالى وَيَدُلّ عَلَيه أَنّ عَلياً كَرَم الله وجهَهُ كَانَ يَقولُ يا (كهيعص) ويا (حم عسق) وَلَعلّهُ أَرادَ يا مُنَزِّلَها)[1].

ترجمه: او ويلى شوي دي چې دا (حروف تهجي)د الله تعالى نومونه دي اوپه دې باندې دلالت كوي د اقول د حضرت على (رَضِيَ اللهُ عَنهُ) (يا كهيعص يا حم عسق) شايد چې د حضرت على (رَضِيَ اللهُ عَنهُ)مراد له دي نه يا مُنزلها وي نازولونكى د دې حروفو.

تشريح: دا قول د متكلمينو دى چې الفاظ تهجي د الله تعالى نومونه دي دليل دا وايي چې په (الم الله لا اله الا الله)كې د الله حمل په الم شوى دى او وجه د حمل يې علميت دى نو معلومه شوه چې دا د الله تعالى نومونه شول او دويم دليل يې قاضي صيب د علي رضي الله عنه قول ذكر كړى هغه چې علي رضي الله عنه به ويل : يا (يا كهيعص يا حم عسق) او دا كلام په مقام د استمداد كې دى او د موحد شان دا دى چې هغه مدد يوازې له الله تعالى څخه غواړي نو علي رضي الله عنه خو په طريقه اولى له الله نه مدد غواړي نو معلومه شوه چې دا د الله تعالى نومونه دي قاضي بيضاوي رحمه الله له دې دليل نه جواب كوي هغه دا چې له دې دليل نه استدلال نه شي كيدلى ځكه كيداى شي دلته مضاف محذوف وي اى مُنزلها وي او مضاف اليه دهغې قايم مقام وي اى يامنزل كهيعص نو د الم ذلک الكتاب معنا دا چې منزل ذلک الكتاب ، اذا جاء الحتمال بطل الاستدلال.

تفسيربيضاوي: (وَقِيل أَلألفُ مِن أَقصى الحَلقِ وَهو مَبدَاءُ المَخارِجِ وَاللَّام مِنْ طَرفِ اللِّسان وَهوَ أَوسطُها وَالمِيمُ مِن الشَّفة وَهوَ أَخرهَا جَمع بَينَها اِيمَاء اِلى أَنّ العَبد يَنبغِي أَن يّكونَ أَوّل كلامِه وَ اوسَطه وَأَخْره ذِكرُاللهِ تعَالى).

ترجمه: اوچا ويلي دي چې الف د انتهاء د حلق نه اداء كيږي او دا ابتداء د مخارجو دى اولام د وسط د ژبې نه اداكيږي چې دا وسط د مخارجو ده اوميم د سر د شونډو نه اداكيږي چې دا آخر د

---

(۱)- اخرجه ابن جرير فى تفسيره عن طريق نافع بن ابى نعيم القارى عن فاطمه بنت على بن ابى طالب انّها سمعت عليّا رضى الله عنه يقول يا (كهيعص اغفرلي) تفسير طبري : ۱٦۱ ورواه ابن ماجه فى تفسيره ورواه متقى الهندى فى كنزل العمال والتفسير قرطبى و اسناده ضعيف جدًا.

مخارجو دی ،دا حروف ئې د دې فائدې لپاره جمع کړي چې اشاره دی دې خبرې ته چې مناسب دی بنده لره چې اول ،وسط او آخر د کلام ئې دالله جلّ جلاله ذکر وي.

تشريح: دا يولسم قول دي هغه دا چې د سورتونو په سرونو کې يې دا الفاظ ځکه راوړل چې الله تعالى انسان ته تعليم ورکوي چې الف له اقصى د حلق نه اداء کيږي او دا ابتداء د مخارجو دی لام د ژبې له غاړې نه ادا کيږي چې دا وسط د مخارجو دی او ميم د شونډو نه ادا کيږي چې دا انتهاء د مخارجو دی نو بنده ته پکار دي چې په دريواړو مراحلو (ابتداء ، توسط او انتهاء)کې به دالله تعالى ذکر کوئ خو دا وجه د الٓمّ پورې خاصه دی ، تر دې ځايه د متکلمينو تول يولس اقوال شوه دوه نور هم شته چې صاحب د تفسير نه دې ذکر کړي.

لومړي قول: دا چې دا حروف يې د کفارو د مکې د متوجه کولو لپاره په اول د سورتونو کې ذکر کړي دي چې هغوی به (لاتسمعوا لهذا القران والغوا فيه) چې دا قران مه اورئ او د قران د لوستلو پرمهال شور جوړوئ تر څو نور خلک ورته متوجه نه شي نو الله تعالى د سورتونو په ابتداء کې داسې الفاظ ذکر کړل چې هغوی يې په معنا نه پوهېدل نو دا دهغوی د توجه الى القران سبب وګرځېد ځکه دوی په تعجب کې پرېوتل او يو بل ته به يې ويل (اسمعوا الى مايجئ محمد صلى الله عليه وسلم).

دويم قول: دا چې الف له ابتداء د مخارجو څخه ادا کېږي اشاره ديته ده چې انسان ته پکار دي چې د هدايت درميانه مرتبې ته هم متوجه شي چې هغه طريقت او سهي تصوف دی او ميم له انتهاء د مخارجو ادا کيږي نو انسان ته پکار دي چې د هدايت په انتهاء باندې فائز شي.

یوه علمي نکته

ځيني علماء وايي چې دلته د مخاطب ذهن ته يو سوال راځي هغه دا سې چې د حروفو مقطعاتو په ابتداء د قرآن کې ذکر کولو کې څه حکمت دي روسته حصو د قرآن کې يې ذکر کول کافي و کنه؟

جواب دا کوي چې الله جل جلاله په ابتداء د خپل کلام کې مفسر ته دا خبر داری ورکوي چې خيال کوه په خپل علم باندې غرور ونه کړې له کوم ځای نه چې زما د علم ابتداء (چې قرآن دی) دغه ځای ستا د علم انتهاء دی

(حروف مقطعات دالله سر(راز) دی)

تفسیربیضاوي: (وَقِيل اِنّه سِرّ اِستأثَرهُ الله بِعلمِه وقَد رُوِىَ عَن الخُلفَاءِ الأَربعَة وَغيرِهِم مِن الصُّحابةِ مَايَقْرُبُ منْه وَلَعلَهُم أرادُوا أنّها أَسرارٌ بينَ الله تعالى وَ رَسُوله وَ رُموزٌ لم يُقْصدبِها اِفهامُ غَيره اِذ يَبعُد الخِطاب بِما لَايُفيدُ)

ترجمه: اوچا ويلي دي چې دا يو راز دی چې الله تعالی پخپل علم سره غوره کړی دی او له خلفاء ازبعه او نورو صحابه کرامو وو نه د دې د قريب قريب مضمون نقل شوی دی او شايد چې د صحابه کرامو د دې (سِر) سره مراد د الله تعالی او د رسول الله صلّی الله عليه وسلّم په منځ کې اسرار وي چې د رسول الله (عَلَيْهِ السَّلَامُ) نه غير پر دې د بل چا پوهول مقصود نه وي ځکه که څوک ورباندې نه پوهيدلی نو بيا دا خطاب په داسې قول دی چې هيڅ فائده پکې مخاطب ته نشته.

تشريح: دلته د هغه چا قول نقل کوي کوم چې د متکلمينو په خلاف متشابهاتو ته غی معلوم المراد وايي دوی وايي چې دا متشابهات د الله تعالی د راز خبرې دي صرف الله تعالی ته يې علم شته بل څوک پرې نه پوهيږي او خلفاء راشده و او نورو صحابه کرامو څخه چې کوم اقول نقل دي هغه هم تقريبا د همدې قول تائيد کوي.

(۱) حضرت ابوبکرصديق (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) فرمائي انّ لله فی کلّ کتاب سرّ وسرّ القرآن اوائل سور[۱]) د الله تعالی لپاره په هرکتاب کې سِر وي په قرآن کي د الله تعالی سِر اوائل د سُوَرُو دي.

---

(۱):- تفسير معالم التنزيل لامام بغوي : ۱ / (۵۸).

(۲) حضرت عمر (رضي الله عنه)و حضرت عثمان (رضي الله عنه)او عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) فرمائي: الحروف مقطعه من المكتوم الّذی لا یفسر[۱]) دا حروف مقطعه له هغو رازونو څخه دي چې تفسير ئې نه کيږي.

(۳) حضرت علی (رضي الله عنه)فرمائې فی کلّ کتاب صفوة وصفوة هذا الکتاب الحروف الهجاء[۲] په هريو کتاب کې د الله جلّ جلاله څه خبرې غوره کړی شوې وي او غوره کړی شوې خبرې د دې کتاب حروف هجاء دي . قاضی بیضاوي رحمه الله فرمائې چې و لعلهم ارادوا انّها اسرار بين الله) دا د ده مذهب دی ځکه دا شافعي مسلکی دی او د شوافعو مذهب په شان د متکلمینو دی او هغوئ وائې چې د دې معنی مراده معلومه دی وائې الله جلّ جلاله دلته قصد د افهام نه دی کړی او له عدم قصدالافهام نه عدم افهام نه راځي او د احنافو په نزد دا له متشابهاتو څخه دي لکه څنګه چې له امام شعبی رحمه الله نه سوال و شو هغه ورته وويل : انّ لکلّ کتاب سرًّا وسرّ القرآن فواتح السّور فدعها وسل عما بدالک فهی من المتشابه الّذی لایعلم تأویله الّا الله، امام شعبي ورته وويل د دې په اړه سوال مه کوه دا پرېږده دا د الله تعالی راز دی او له متشابهاتو څخه دی بل څوک په دې نه پوهيږي[۳].

شوافع وايي چې د دې تفسیر او منعا معلومه دی ځکه دوی په (ومایعلم تأویله الله)باندې وقف نه کوي بلکې(والراسخون فی العلم) ور باندې عطف کوي او له تاویل نه تفسیر مراد کوي

او احناف وايي په (الا الله)باندې وقف لازم دی او والراسخون مبتداء دی او روسته یقولون ورته خبر دی ، امام شافعي رحمه الله وايي که په د متشابهاتو په مراد راسخون فی العلم هم علم نه لري بيا خو د عالم او جاهل فرق رانغی.

---

(۱):- تفسير معالم التنزيل لامام بغوي : ۱ / (۵۸).

(۲):- تفسير معالم التنزيل لامام بغوي : ۱ / (۵۸).

(۳):- تفسير معالم التنزيل لامام بغوي : ۱ / (۵۸).

احناف (رَحِمَهُمُ اللَّهُ) ورته داسې جواب کوي چې علم په دوه قسمه ده يو بالاصالة او بل بالتبع، الله تعالى له ځان سره علم بالاصالة منحصر کړى دى بالتبع نه دى کيداى شي چې راسخون في العلم ته د متشابهاتو علم بالتبع وي.

تفسيربيضاوي: (فَاِنْ جَعلتَها أَسماء اللهِ تعالى او القُرآن أوالسُّورِ كَان لهَا حَظٌّ منْ الاعْرابِ اِمَاالرَّفع عَلى اِبْتداءِ أوالخَبر أوالنَّصبِ بِتَقديرِالفِعل القَسمِ عَلى طَريقَة الله لأَفعلنَ بَالنَّصب أوغَيرها كمَا ذَكرَ وَالجرُّ على اِضْمار حَرفِ القَسمِ وَيتَأتَّى الاِعرابُ لفظًا وَالحِكايَة فيمَا كَانَت مُفردَة أوموازِنة لمُفردٍ كَحم فَانّها كَهابيل وَالحِكاية لَيستْ الّا فيمَا عَدا ذلک وَ سيَعُود اليک ذِكرُه مُفَصّلًا ان شاءالله تعالى)

ترجمه: که چيرته دا اسمآء د الله جلّ جلاله يا د قرآن يا د سورتو نو لپاره نومونه شي نو بيا به دې لره حصه دا عراب وي يا به مرفوع وي بنا په ابتدائيت او يا به مرفوع وي بنا په خبريت او يا به منصوب وي په تقدير د فعل قسم په دې طريقه، چې قسم په الله زه به دا کارکوم اويا غير د فعل قسم نه (بل فعل ورته مقدر که) او يا مجرور دى په اضمار د حرف قسم او په دې کې لفظًا او حکايتًا اعراب راتلى شي په هغه حروفو کې چې مفرد وي ياموازن د مفرد وي لکه (حم) په وزن مفرد دى په شان د هابيل او اعراب حکائي نه دى مګر په هغه الفاظوکې ده چې سوا د مفرد اوموازن د مفرد ځخه وي زر ده چې د دې ذکر به درته راشي په تفصيل سره ان شاءالله تعالى.

تشريح: تر دې ځاى پورې د معنى بحث وو اوس دلته په اعراب کې بحث کوي.

اعراب په دوه قسمه دى (۱) اصلي (۲) حکائي:

اعراب اصلي(لفظي): په مفرد اويا په موازن د مفرد کې راځي لکه (حم) په وزن هابيل دى.

اعراب حکائي: دې ته وائي چې په منقول کې اعراب داسې پاتي شي لکه ځنګه چې په منقول اليه کې وه لکه په يو کلام کې په يو لفظ باندې کوم اعراب وي نو ته دغه لفظ له همدغه اعراب سره بل کلام ته نقل کړې بغير له څه تغير او تبديل نه او اعراب حکائي په هغې کې راځي چې نه مفرد وي اونه هم وزن د مفرد وي لکه تأبّط شرًا د يو سړى نوم دى جاء تأبّط شرًا، رائيت

تأبّط شرّا، مررت بتأبّط شرّ، د ټولو اعراب يو دي او س الٓمٓ لره دوه حالته دي يو حالت د منقول عنه او بل حالت د منقول اليه دى د منقول عنه حالت داوو چې مونږ وويل الف اسم د (آ) دى لام اسم د (ل) او ميم اسم د (م) دى او د منقول اليه حالت داوو چې دا نوم لپاره د دې سورت شي يا د الله جلّ جلاله نوم شي يا د قرآن نوم شي نو د منقول عنه په صورت کې هم درې اعراب دي او د منقول اليه په صورت کې هم پکې درې اعرابه دي نو ټول شپږ اعرابه شوه.

حالت رفع: که اسمآء د الله تعالى شي الٓمٓ مبتداء انا لله خبر او که اسم د قرآن شي يا اسم د سورت شي بيا الٓمٓ مبتداء هذا ذلک الکتاب خبر يا هذه السورة ورته خبر.

حالت نصب: چې فعل قسم مقدر کړى لکه بالله لافعلنّ ،الله لافعلنّ، والله لافعلنّ دلته به داسې وائې اقسم الٓمٓ نو دا به منصوب وي په تقدير د فعل قسم.

(وَالجرُّ على اِضْمار حَرفِ القَسمِ) په منقول کې دريم قسم اعراب د جر دى او جر په اضمار د حرف قسم سره وي چې حرف قسم به دلته مقدر وي نو په منقول کې درې قسمه اعراب راغى بيا په دې هريو قسم کې به يا اعراب اصلي وي يا به حکائي وي که مفرد وي لکه «ص» «ق» يا هم وزن د مفرد وي لکه «يس» «حم» په دې کې به اعراب اصلي وي او که نه مفرد وي او نه موازن د مفرد وي هغې کې يوازې اعراب حکائي راځې لکه الٓمٓ او کهيعص وي.

تفسيربيضاوي: (وَان أَبقَيتَها على مَعانِيها فَانْ قَدَرْتَ بِالمُؤلَف من هذِه الحُروف كَان فِي حِيَزِالرَّفعِ بِالاِبتِداءِ أَوالخَبر على مَا مَرّ).

ترجمه: او که ته دا باقي پرېږدې په خپل حال باندې په خپلو معانيو چې المؤلف من هذه الحروف دى نو په محل د رفع کې به وي په ابتداء سره يا په خبرسره کمامرّ.

تشريح: خپلې معانې يې دادي چې د الف معنى (آ) دى د لام معنى (ل) دى او د ميم معنى (م) دى او که تا مقدر که يعنې تأويل دې پکې وکړ چې المؤلف من هذه الحروف المتحدى به المتحد به مؤلف من هذه الحروف دى نو دا مبتداء او ذلک الکتاب ئې خبر اويا هذا مبتداء او المؤلف من هذه الحروف ئې خبر.

تفسیربیضاوي: (وَانْ جَعَلْتَها مُقسَمًا بها يَكونُ كلّ كَلِمةٍ مِنها مَنصوبًا اومجرورًا على اللُّغتَينِ فى اللهِ لأَفعلنّ وتَكُون جُملة قَسَمِية بِالفِعل المُقدر لَهُ وإنْ جعَلْتَها أَبعاض كَلماتٍ أَو أَصواتًا مُنَزَّلة مَنْزِلة حُروفِ التَّنبه لَم يَكنْ لها مَحل مِن الاعْرابِ كالجُمَل المُبْتَداةِ وَالمُفرَدات وَالمَعدُودةِ).

ترجمه: اوکه ته وګرځوې دا حروف مقسم بها نو هره یوه کلمه به د دې نه منصوب یا مجرور وي بنا په هغه دوه لغتینو چې په الله لافعلنّ کې و او دا به جمله قسمیه شي د خپل فعل مقدر لپاره اوکه وګرځوې دا حروف اجزاء د کلماتو او یا اصوات او نازل ئې کې په منزله د حروفو د تنبه بیا به نه وي دوئ لره محل د اعراب لکه څنګه چې محل د اعراب نه وي هغو جملو ته چې په ابتداء کلام کې راغلي وي او هغه مفردات چې ته هغه شماري.

تشریح: که چیرته دا حروف مقسم بها کړې یعنې نقل ئې نه کړې بلې معنا ته د الف معنی (آ)کړې او د لام معنی (ل) کړې او د میم معنی (م) کړې نو قسم په (آ) (ل) (م) راغلو نو هره کلمه ئې منصوبه اومجروره کید شي که اقسم مقدرکې اللهلافعلنّ لفظ د الله به منصوب وائې او که باء مقدره کې باللهلافعلنّ مجروربه ئې وائې نو په دې کې به هم دغه سې دوه اعرابه جاري کیږي لکه اقسم المّ اوکه اجزاء د کلمو ئې کړی یائې اصوات کړی بیا دی لره محل داعراب نشته.

(وقف او اقسام یې)

تفسیربیضاوي: (وَيُوقَف عليها وَقْف التَمام اذَا قُدِرَت بِحَيْث لَاتَحْتَاجُ الى مَابَعدِها ولَيسَ شَئ مِنهَا آية عِندَغَيرِالكُوفِيين وأَمّا عِندَ هم ف(المّ) فى مُواقِعها و(المّص) و (كهيعص)و(طه)و (طس)و (يس) و(حم)آية و(حم)و(عسق) آيتَانِ والبَواقِي لَيسَت بآيَات وهَذا تَوقيفٌ لَامَجال لِلقِياس فِيه).

ترجمه: وقف به کولئ شي په دې حروفو وقف تمام چې کله په دې کې تقدیر په دې حیثیت وکړی شي چې مابعد ته ئې احتیاج نه وي او په نزد د هغو علماو چې علاوه دي له کوفیانو هغوی وایي دا حروف یو هم آیت نه دی او هر چې په نزد دکوفیانو دی دوی وایي چې الم په موقع د آیت کې دی او المّص اوکهیعص او طه او طسم او طس او یس او حم دي دا یو آیت دی او حم عسق دوه آیاتونه دي او باقي حروف هجي آیاتونه نه دي او دا حکم توقیفي دی دې کې قیاس لره دخل نشته.

تشریح: وقف په دوه قسمه دی (۱) وقف حسن (۲) وقف قبیح دی.

وقف حسن:

وقف حسن دیته وائي چې په داسې کلام وقف وکړئ چې مفید د فائدې وي لکه بسم الله باندې وقف کول وقف حسن بیا په دوه قسمه دی یو وقف کافي او بل وقف تمام.

وقف تمام: په یو کلام وقف کول چې ما بعد یې ما قبل ته محتاج نه وي لکه په پوره بسم الله الرّحمن الرّحیم وقف کول.

وقف کافی: په یو کلام وقف کول چې ما بعد ددې کلام ماقبل ته محتاج وي خو کلام مفید د فائدې هم وي.

وقف قبیح:

په داسې کلام وقف کول چې مفید د فائدې نه وي لکه یوازې په بسم باندې وقف کول یا په الله یا په الرّحمن یا په الرّحیم وقف کول.

حروف مقطعات ایت دی او که نا؟

او بل دا خبره ذکرکوي چې دا حروف آیات دي او که ایت نه دي په دې کې دوه مذهبه دي.

(۱) د کوفیانو په نزد دې کې څلور قوله دي:

(۱) بعضو ته لکه کهیعص، یس او طه آیات وائي

(۲) بعضو ته دوه آیاته وائي لکه حم او عسق

(۳) او بعضو ته موقع الآیات (واقع په ځای دآیات کې) وائي

(۴) بعضو ته آیات نه وائي لکه (ق) قاف (ص) صاد (ن) نون.

(۲) غیرکوفیان: یو ته هم آیات نه وائي [1]

(ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ).

---

(۱) الدر المنثور في التفسير بالمأثور (۱/ ۵۵) أخرج وَكِيع وَعبد بن حميد عَن أبي عبد الرَّحْمَن السّلمِيّ أنه كَانَ يعد {الم} آيَة (وحم) آيَة --
-وَأخرج البُخَارِيّ فِي تَارِيخه وَالتِّرْمِذِيّ وَصَححهُ وَابْن الضريس وَمُحَمّد بن نصر وَابْن الْأَنْبَارِي فِي الْمَصَاحِف وَالْحَاكِم وَصَححهُ وَابْن مرْدَوَيْه وَأَبُو ذَر الْهَرَوِيّ فِي فضائله وَالْبَيْهَقِيّ فِي شعب الإيمان عَن ابْن مَسْعُود قَالَ: قَالَ رَسُول الله صلى الله عَلَيْهِ وَسلم من قَرَأَ حرفا من كتاب الله فَلهُ بِهِ حَسَنَة والحسنة بِعشْرَة أَمْثَالهَا

(د ذلک بحث)

تفسیربیضاوي: (ذَلِك الكِتَابُ) ذَلك اِشارةٌ الى (الٓمّ) انْ اُوِلَ بالمُؤلِفِ مِن هذه الحُروفِ أَوفُسِّر بالسُّورةِ او القُرآن فاِنّه لما تُكُلِّم به وَتُقْضى او وَصل مِن المُرسل الى المُرسل اَلَيهِ صَار مُتباعدًا أُشيرَ اليهِ بِما يُشارُبِه الى البَعِيد).

ترجمه: ذالک اشاره ده الٓم ته چې دا الٓم تأویل په مؤلف من هذه الحروفو سره اوشي اویا یې تفسیر وکړی شي په سورت یا په قرآن سره کله چې په الٓم تکلم وکړی شي نو تیر او ختم شي (فتلاش) اوکه وصل شي مرسل اومرسل الیه (الله جلّ جلاله رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)) ته وګرځید لرې نو اشاره وکړی شوه ورته په هغه څه چې په هغې سره اشاره بعید ته کیږي.

تشریح: د ذلک مشارالیه کې دوه احتماله دي یا الٓم دی یاکتاب دی که مشارالیه الکتاب شي نو بیا کتاب صفت لپاره ذلک دی ځکه الکتاب معرفه باللام دی اومشارالیه چې معرفه باللام راشي بیا د اسم اشارې اومشارالیه په منځ کې درې ترکیبه کیږي (۱) موصوف او صفت (۲) بدل او مبدل منه (۳)معطوف او عطف بیان وي نو په ذلک الکتاب کې احتمال خبریت هم شته د ذلک لپاره احتمال صفتیت هم شته.

د ذلک لپاره په الٓم کې دوه احتماله دي (۱) چې تأویل د الٓم نه پکې په دې طریقه وکړی شي ذلک المؤلف من هذه الحروف.

(۲) چې تعبیر په سورت یا په قرآن سره وکړی شي ذلک السورة (۳) یا ذلک القرآن.

سوال: په ذلک سره خو اشاره بعید ته کیږي او الٓم خو قریب دی ؟

(۱)**جواب**: الٓم عرض سیار دی یعنې غیر مجتمع للاجزاء دی اذا وجد فتلاش چې موجود شي نو معدوم شي اوکوم شئ چې معدوم شي هغه بعید شي ما ابعد مافات نو ځکه په ذلک سره ورته اشاره وشوه.

(۲)**جواب**: یا دا چې الٓم د اسمان څخه را نازل شو او اسمان دیر لرې دي بیا و رپسې ذلک الله جلّ جلاله نازل کړی نو ځکه ورته په ذلک سره اشاره وشوه.

سوال: په ذلک سره اشاره الّم ته وشوه په الّم کې خو درې احتماله دي (۱) لمؤلف من هذه الحروف (۲) قرآن (۳) دریم السورة دی که سورت شي بیا خو ذلک ویل پکارنه وو بلکه تِلْک ویل پکار وو ځکه سورة مؤنث دي چې د اشارې او مشار الیه په مابین کې مناسبت راشي.

جواب: کله چې اسم اشاره دائره شي په مابین د مرجع او خبر کې نو رعایت د خبر اولی وي نو دلته رعایت د خبر شوي چې الکتاب دی نو ځکه ذلک وویل او تلک یې ونه ویلې[۱].

تفسیربیضاوي: (وَ تَذْکِیره مَتی أُرید بِ (الٓمّ) السُّورة لِتذکیرِالکتَاب فَاِنّه خَبرُهُ أَوصفَّتُه الَّذی هُوَ هُو).

ترجمه: او مذکر کیدل د اسم اشارې چې کله په الّم سره سورت مراد شي دا له وجې د تذکیر د کتاب ه، ځکه کتاب خبر د ذالک دی او یا صفت د ذلک دی ځکه مبتداء او خبر متحد وي ذاتًا اومصداقًا.

تشریح: دا وجه بیانوي چې تلک ئې ولې زانه ووړ کما مرّه آنفًا الذی هو هو مطلب دا دی چې رعایت د خبر او یا صفت ولې اولی ده دا وائي ځکه چې مبتداء او خبر او یا صفت متحدی وي ذاتًا اومصداقًا.

سوال: ته وائې چې رعایت د خبر ځکه اولی دی چې مبتداء او خبر متحد وي ذاتًا اومصداقًا خو نفس تغیر په مبتداء او خبر کې وي او د اشارې له مرجع سره بالکلیة عینیت وي نو رعایت دعین اولی وي که دمتحد؟

جواب: خبرله مبتداء سره متحد دی ذاتًا اومصداقًا او داخل هم دی په کلام کې، مرجع اومشار الیه ورسره عین دی خو خارجه دی له کلام نه ،نو د داخل رعایت اولی دی له خارج ځخه.

تفسیر بیضاوي: (أَو الی الکِتابِ فَیکونُ صِفَّته والمُراد بِه الکتَاب المَوعُودُ اِنزالهُ بِنحْو قَوله تَعالی (اِنّا سَنُلْقِیْ عَلَیْک قَوْلًا ثَقِیْلًا [۲] أَو فی الکُتُب المُتقدمةِ).

---

(۱):- ذلک په معنی د هذا سره ده د اقول د ابن عباس ، مجاهد ، عکرمه، کسائی ، ابوعبیدة ، او اخفش ده لکه په دې شعر د خفاف بن ندبة کې : اقول له و الرمح یأطر متنه... تأمّل خفافًا انّنی انا ذلکا. ای انا هذا .تفسیر زادالمسیر: ۱ / ۲۷.

(۲):- سورة المزمل : آیة (۵)

ترجمه: او يا په ذلک سره کتاب ته اشاره ده نو کتاب د ذلک لپاره صفت شو مراد ورنه هغه کتاب دی چې د هغې د نازلولو وعده شوې وه په دې قول د الله تعالى کې انّا سنلقى عليک قولا ثقيلا اويا هغه کتاب ته اشاره ده چې په کتب متقدمه کې وو.

تشريح: مونږ مخکې وويل چې که په ذلک سره اشاره کتاب ته شي بيا په دې کې درې ترکيبه دي دا په هغو درېوو ترکيبونو کې يو ترکيب ذکر کوي چې موصوف او صفت دی.

سوال: په ذلک سره خو اشاره مذکورته کيږي او کتاب خو نه دی ذکر؟

(۱)**جواب**: د ذلک الکتاب (سورت بقرې) نه مخکې سورت مزمل نازل شوی او په سورت مزمّل کې کتاب ذکر شوی (وعده د کتاب شوې) هغه ترينه مراد دی.

(۲)**جواب**: يا کتاب نه مراد هغه کتاب دی په متقدمو کتابو کې ئې وعده شوې ده.

(۳)**جواب**: يا په دې سره هغه کتاب ته اشاره ده کوم چې له دې سورت مخکې نازل شوی.

د کتاب معنا

تفسيربيضاوي: (وَهوَ مَصدَرٌ سمّى بِهِ المَفعولُ لِلمُبالَغة وَقِيل فَعال بمعنى المفعول كَاللبَاس ثُمَّ أُطلِق عَلى المَنظُوم عِبارَة قَبل أَن يَكتُب لأَنَه مِمّا يكتُب وَ أَصل الكتب الجَمع وَمنْه الكَتِيبَة).

ترجمه: کتاب مصدر دي کله مبالغتًا مفعول ته هم ويل کيږي چا ويلي چې فعال مبنى للمفعول ده لکه لباس په معنى د ملبوس بيا ئې اطلاق په منظوم عبارت وشو اوچاويلي چې کتاب د هغې جملې څخه دی چې کتابت ئې کيدلی شي او اصل د کتاب په معنى د جمع ده لکه کتب يکتب په معنا د جمع جمع او د دې مادې نه کتيبة مأخوذ دی.

تشريح: اوس د کتاب لغوي معنى درته ذکر کوي فرمائي کتاب په لغت کې جمع ته وائي کتيبة هغه فوج ته وائي چې راجمع شوي وي ای ذلک الجمع.

سوال: ته وائې چې کتاب په معنا دجمعې نو معنا دا شوه ذلک الکتاب اي ذلک الجمع او قرآن خو مجموع دی جمع خو نه ده نو د جمعې اطلاق په قرآن څنګه کوې؟

جواب: دا صیغه د مصدر دی خو تسمیه د مفعول ورباندې د مبالغې لپاره شوې لکه زید
20 عدل او یا فعال یعنې اسم صفتي دی مبنی للمفعول دی.

سوال: کتاب خو لیکلی شوي مضمون ته وایي چې کله یې وویل ذلک الکتاب د غه مهال خو ټول قران نه لیکل شوی و او نه نازل شوی و نو څنګه ته کتاب په معنا د مکتوب اخلې؟

جواب: دا اطلاق مجازا دی لکه لباس په معنا د ملبوس مکتوب هغه منظم او مرتب عبارت ته وایي چې په ذهن کې وي خو په اینده کې لیکل کیږي نو دا تسمیه د شي ده په اسم د مایؤل الیه سره.

تفسیربیضاوي: (لَارَیْبَ فِیْهِ) مَعناهُ أَنّه لِوضُوحِه وَ سُطُوع بُرهَانِه بِحَیث لَایَرتَابُ العَاقِل بَعد النَّظر الصَّحِیح فِی کَونه وَحیًا بَالغًا حَدَّ الاِعجَاز لَا أَن اَحدًا لَا یرتَاب فِیْهِ).

ترجمه: هغه کتاب دی چې شک پکې نشته معنی د لاریب دا دی چې قرآن له وجې د خپل وضاحت او له وجې د ظهور د دلیل نه یو عاقل هم روسته د صحیح نظر کولو نه د دې په وحې کیدلو کې چې حد اعجاز ته رسیدونکې دی شک نه کوي داسې نه دی چې قران کریم کې هیڅوک شک نکوي.

تشریح: لاء لپاره د نفي د جنس دی یعنې جنس ریب په دې کتاب کې نشته.

سوال: ته وائې چې جنس ریب په قرآن کې نشته او یهودو او نصاری وو پکې ریب کړی نو معلومه شوه چې ریب پکې شته؟

(۱)**جواب:** نفي د ریب نه دی بلکه نفي د محلیت د ریب دی یعنې قرآن محل د ریب نه دی لکه ډیران محل د لمونځ نه دی که څوک ئې پرې کوي نو کوي به ئې یا مسجد د دنیوي خبرو ځای نه دی داسې نه چې څوک پکې دنوي خبرې نشي کولی که څوک یې کوي نو کوي به ئې.

(۲)**جواب:** یا نفي د لیاقت د ریب ده یعنې ریب پکې مناسب نه دی.

(۳)**جواب:** یا داسې ووائې چې یو ظهور د ریب دی او یو ثبوت د ریب دی ثبوت د ریب په قرآن کې نشته.

(۴) **جواب**: قرآئت د عبدالله بن مسعود (رضي الله عنه) مراد اخلو اى لاريب فيه للمؤمنين.[1]

تفسير بيضاوي: (آلاَ تَرى الى قَوله تعالى (وَإِنْ كُنْتُمْ فِي رَيْبٍ مِمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ) الآية فَانَّهُ مَا أَبعدَ عنْهُم الرَّيبَ بل عَرفَهم الطَريقَ المُزيح لَه وَهوَ أَن يَجتَهدوا فى مُعارَضة نَجم مِن نُجُومه وَيَبْذلُوا فِيها غَايةَ جُهدِهِم حَتى اذَا عَجزُوا عَنها تَحَقَّق لهُم أن ليس فِيه مَجال لِلشُّبْهة ولَامَدخلَ لِرِيبةِ).

ترجمه: ته نه ګورې دي قول د الله جلّ جلاله ته (ترجمه) كه تاسو په شک کې يئ د هغه کتاب نه چې مونږ په خپل بنده نازل کړی نو په شان د دې کتاب يو سورت راوړئ او دا دليل په اثبات د ارتياب دی او ريب ئې بعيد نه دی ګرځولی له دوی نه بلکه کافرانو ته ئې د شک کولو طريقه ښودلې او هغه طريقه دادی چې دوئ دې کوشش وکړي په معارضه د يوې حصې (يو آيات) د حصول د قرآن نه او په معارضه اومقابله کې دې نهايت جهد خپل خرچ کړی تردې چې دوئ له دې مقابلې کولو عاجزه شي دوئ ته به داثابته شي چې په قرآن کې ځای د شبهې نشته او نه ځای د دخول د ريب پکې شته.

تشريح: دا نفی د ريب نه دی بلکه لاره د زائليدو د ريب ورته ښه ئې او د ريب د ازالې طريقه دا دی كه تاسو شكمن ياست په قران کې د قرآن د يو وړوکي سورت په مثل يو سورت جوړ کړئ نو كفارو خپل كوشش وکړو خو د قرآن د سورت مثل سورت نه عاجزه شول نو د دوی ريب او شک پخپله زايله شو چې په قرآن کې ريب نشته.

تفسير بيضاوي: (وَقِيل مَعناهُ لارَيبَ فيهِ لِلمُتَّقين)

ترجمه: اوچا ويلي دي چې په دې کې ريب د مؤمنانو نشته.

---

(۱) تفسير حدائق الروح والريحان في روابي علوم القرآن (۱/ ۱۰۷)

فإن قلت: الكفّار شكّوا فيه فلم يقرّوا بكتاب الله تعالى، والمبتدعون من أهل القبلة شكّوا في معاني متشابهه، فأوّلوها وضلّوا بها، والعلماء شكّوا في وجوهه، فلم يقطعوا القول على وجه منها، والعوامّ شكّوا فيه فلم يفهموا معانيه، فما معنى نفي الريب عنه؟

فالجواب: إنّ هذا إنما هو نفي الريب عن الكتاب لا عن الناس، والكتاب موصوف بأنّه لا يتمكّن فيه ريب، فهو حقّ صدق معلوم ومفهوم شكّ فيه الناس، أو لم يشكّوا، كالصدق صدق في نفسه وإن وصفه الناس بالكذب، والكذب كذب وإن وصفه الناس بالصدق، فكذا الكتاب ليس مما يلحقه ريب،

تشریح: دا دهغه اعتراض نه جواب کوي کوم چې تیر شو.

ریب اسم د لا دی فی حرف جر او (ه) ضمیر ذو الحال هدًا ورته حال ذو الحال سره د حال نه مجرور دجار چې (فی) ده جار سره د مجرور نه په اعتبار د متعلق صفت دریب، ریب موصوف سره د خپل صفت نه اسم د لاءاو للمتّقین ورته خبر ای لا ریب کائنا فی القرأن حال کون القرأن هادیا للمتّقین.

(د ریب معنی)

تفسیربیضاوي: (وهدًی حالٌ منَ الضَّمیرالمَجرُور وَالعَامل فِیه الظَّرف أَلواقع صفَّة للمَنفِي وَالرَّیب فی الأَصل مَصدر رَابنی الشَّئ اِذا حَصلَ فیْک الرَّیبَة وهیَ قَلقُ النَّفس وَاِضطرابُها سَمی به الشَّک لأَنّه یَقلقُ النفْس وَیَزِیل الطّمانِینةَ وَفی الحَدیث(دعْ مایُرِیبُک اِلی مَا لَایرِیبُک) فَانّ الشَّک رِیبة وَالصِّدق طَمانینةٌ ﴿۱﴾ وَمنْه ریب الزَّمان لِنَوائبِهِ).

ترجمه: او هدًی حال دی له ضمیر مجروره نه او ظرف په دي کې عامل دی چې واقع شوی صفت لپاره د منفی او ریب په اصل کې مصدر دی د رابنی الشئ څخه مأخوذ دی چې کله په تاکې ریب راغلی وي او دا حرکت د نفس او ناقراری د نفس دی چې مسمی کړی شو په دی باندې شک ځکه شک هم نفس په حرکت کې اچوي او زائلوي سکون او اطمینان او په حدیث شریف کې دي پریږده هغه څه چې تا په شک کې غورځوي زه هغه طرف ته چې تا په شک کې نه غورځوي ځکه شک ریب دی او رښتیا سکون دی او له دې قبیلې نه ریب الزمان دی چې د حوادثو د زماني لپاره استعمالیږي.

تشریح: دلته اوس د ریب معنی ذکرکوي فرمائې چې ریب قلق النفس ته وائې ای حرکت النفس د ریب او شک په مابیین کې فرق دا دی چې د ریب خپله معنی ده متزلزل کیدل او تشویش کې غورځېدل دا سبب دی او شک ورته مسبب دی نو د دوئ په مابیین کې علاقه د سبب او مسبب

---

(۱):- عن ابی الحوراء السعدی قال قلت للحسن بن علی ماحفظت من رسول الله صلّ الله علیه وسلّم قال حفظت من رسول الله صلّ الله علیه وسلّم دع مایریبک الی ما لایریبک فانّ الصّدق طمانینة وانّ الکذب ریبة. رواه جامع الترمذی: ٤ / ۲۸٦ رقم الحدیث ۲۵۱۸. ورواه السنن النسائی: ۸ / ۲۳۰ رقم الحدیث ۵۳۹۷ والدارمی: ۱ / ۲٦٤ رقم الحدیث ۱٦۷ ومسند احمد: ۳ / ۲٤۸ رقم الحدیث ۷۲۳.

ده کله چې ریب ته شک ویل شوی وي نو هلته به ذکر د مسبب وي او مراد به ترینه سبب وي او کله د دې عکس وي.

فانّ الشک ریبة: هم په فرق د دواړو دلالت کوي ځکه ریبة په شک ورحمل دی نو چې حمل شو بیا په دواړو کې تغیر ضرور وي ځکه که فرق پکې نه وائ نو دا قضیه به داسې وه فانّ الشک شک بیا به حمل اولي وه او حمل اولي مفید د فائدې نه وي[1].

(د ریب او شک ترمینځ فرق)

د ریب او شک ترمینځ د علماو درې اقوال دي:

(۱) په شک او ریب کې ترادف دی دواړه یو شي دي.

(۲) ریب خاص دی شک مع التهمت ته وائې او شک عام دی مع التهمت وي او که بلا تهمت وي یعنې په شک او ریب کې نسبت د عموم خصوص مطلق دی

(۳) په ریب کې درې شیان وي (۱) شک (۲) تهمت (۳) حاجت کله کله ریب مجازًا په شک کې استعمالیږي ځکه شک اطمنان ختموي او د اضطراب سبب دی[2]

قاضي بیضاوي رحمه الله د ریب او شک ترمنځ د فرق ثابتولو لپاره په تائید کې حدیث پیش کوي (دعْ مایُریبُک اِلی مَا لَایرِیبُک) له دې حدیث نه په دوه طریقو سره تائید کوي او دا چې په حدیث کې ریب په شک ور حمل شوی او د محمول او محمول علیه ترمینځ فرق وي دویمه طریقه دا چې د ریب په مقابل کې لفظ د طمانیة راځي نو له دې نه هم معلومیږي چې ریب د شک په معنی نه دی بلکې په معنا د اضطراب او قلق ده.

---

(۱):- عبدالرحمن الجوزی رحمه الله فرمائي د ریب درې معناګانې دي (۱) ظاهراً نفي ده خو په معنی د نهي ده معنی داچې مناسبه نه ده چې څوک پکې شک وکړي ځکه احکام د قرآن متقن اومظبوط دي دا مذهب د خلیل او ابن الانباري دی (۲) شک پکې څکه نشته چې داکتاب هدایت لپاره د متقیانو دی دا قول د مبرد دی (۳) شک پکې ځکه نشته چې داکتاب من عندالله دی (تفسیر زادالمسیر: ۱/ ۲۷ (مکتبه حقالیة)

(۲):- مأرب الطلبة: ۱/ ۳۲٤.

د هدایت معنی:

تفسیربیضاوي: (هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ) يَهدِيهم الى الحقِّ وَالهدى فى الأَصل مَصدرٌ كَاالسُرى وَالتُقى وَمعناهُ الدّلالةُ وَقيلَ الدّلالةُ المُوصِلة الى البُغْيةِ لأَنّه جعَل مُقابل الضَّلالة فى قَوله تعالى لَعَلَى هدًى اَوفِي ضلالٍ مّبين [1])

ترجمه: قرآن لاربنونکی دی لپاره د مؤمنانو نو رهنمائي کوي مؤمنانوته د حق طرف ته او هدًى په اصل کې مصدر دی لکه سُرى اوتقی پرهیزګاري ته وائي معنی د هدًى دلالت دی اوچا ویلي دي چې هدایت دلالت موصله الی المطلوب ته وائي ځکه چې الله (جَلَّجَلَالُهُ) په خپل دې قول کې هدایت دضلالت مقابل ګرځولی دی (ترجمه) زمونږ اوتاسې څوک په هدایت اوڅوک په ښکاره ګمراهۍ کې دي.

تشریح: له دې ځای څخه درې بحثونه شروع کوي او بحث د هدًى تحقیق کوي دویم بحث د متقین تحقیق کوي او دریم بحث د هدًى للمتقین مجموعه تحقیق کوي

اول بحث:یهدیهم الی الحق: غرض د قاضي رحمه الله په دې سره دفع د یو سوال دی

سوال: دلته هدًى حال دی اوحال حمل وي خو دلته حال مصدر دی او د دې حمل مواطاط نه دی جائز؟

جواب: دا وائي چې هدًى دلته مبني للفاعل دی په معنی د هادیٌ سره دی او هادی یهدیهم الی الحق کوي او معنی ئې الدلالة دی دلالت نه مراد دلالت بلطف دی چې خلق اسباب طاعة دی چې دا دلالت موصله او ارائت الطریق دواړو ته راځي دا ځکه چې الدلالة کې الف لام عهدي دی او معتزلهٔ ویلي دي چې مراد له دلالت نه دلالت موصله الی المطلوب دی، د دې لپاره دوئ دوه دلائل وائي:

(۱) هدایت مقابل دضالت دی نو ضلالت کې عدم ایصال وي نو هدایت کې به ایصال وي.

ردالدلیل: لکن دا دلیل د دوئ غلط دی ځکه دلته ضلالت مقابل د هدایت لازمي کې راغلی یعنې اهتداء دی او زمونږ خبره په هدایت متعدي کې ده او بل دا چې دائې په صیغه د تمریض سره ذکر کړی.

---

[1]:- سورة السباء : آية ٢٤.

تفسیربیضاوي: (وَلأَنّه لَایُقال مُهدی الّا لِمَنْ اِهتَدی اِلی المَطلُوب واخْتِصَاصُه بِالمُتَّقِین لأنّهم المُهتَدُون بِهِ والمُنْتَفعُون بِنَصبِه وإن کَانتْ دَلالة عَامَة لِکُلِّ نَاظِر من مُسلم او کَافِرٍ بِهذا الاعتِبار قَالَ تعالی (هُدًی لّلنّاس) أو لأَنّه لَایَنتَفع بِالتأمّل فِیه الّا مِن صَقَل العقلَ وَاسْتعمَلهُ فی تَدبِیرالآیاتِ وَالنّظر فِی المُعجزاتِ تَعرف النبوات لِانّهُ کَالغذاءِ الصَّالح لحِفظِ الصِّحة فَانّهُ لَایَجْلِب نَفعًا مَالمْ تَکنِ الصّحة حَاصِلة وَالیهِ أَشار بِقوله تعالی (وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَاهُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لّلْمُؤْ مِنِیْنَ وَلَایزِیْدُ الظّالِمِیْنَ اِلّا خَسَارًا[1])

ترجمه: او بل له دې وجې چې داسې نه ویل کیږي فلاني په سمه لاردی مګر هغه چاته ویل کیږي چې مطلوب خپل ته رسیدلی وي او اختصاص د دې هدایت لپاره د متقینو دی ځکه دوئ په قرآن سره هدایت حاصلونکي دي او دوئ په دلائلو د قرآن نفع حاصلونکی دي اګر چې هدایت د قرآن هر ناظر لره عام دی که مسلمان وي او که کافر وي په دې اعتبار الله جلّ جلاله فرمایلي دي دا قرآن د ټولو خلکو لپاره هدایت دی.[2] او بل دا چې نفع نه اخلي له هدایت د قرآن په سبب د فکر مګر هغه څوک چې عقل ئې صفا کړی وي او خپل عقل ئې په سوچ او فکر د آیاتونو کې استعمال

(۱):- سورة الاسرآء : آية ۸۲.

(۲) تفسیر القرطبي (۱/ ۱٦۱)

قَوْلُهُ تَعَالَى: لِلْمُتَّقِينَ خَصَّ اللَّهُ تَعَالَى الْمُتَّقِينَ بِهِدَايَتِهِ وَإِنْ كَانَ هُدًى لِلْخَلْقِ أَجْمَعِينَ تَشْرِيفًا لَهُمْ، لِأَنَّهُمْ آمَنُوا وَصَدَّقُوا بِمَا فِيهِ

و تفسير الزمخشري - الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل (۱/ ۳۵)

فإن قلت: فلم قيل: هُدىً لِلْمُتَّقِينَ والمتقون مهتدون؟ «۱» قلت: هو كقولك للعزيز المكرم: أعزك الله وأكرمك، تريد طلب الزيادة إلى ما هو ثابت فيه واستدامته، كقوله: (اهْدِنَا الصِّراطَ الْمُسْتَقِيمَ) . ووجه آخر، وهو أنه سماهم عند مشارفتهم لاكتساء لباس التقوى: متقين، كقول رسول الله صلى الله عليه وسلم «من قتل قتيلا فله سلبه» «۲» وعن ابن عباس: «إذا أراد أحدكم الحج فليعجل فإنه يمرض المريض وتضل الضالة، وتكون الحاجة» «۳» فسمى المشارف للقتل والمرض والضلال قال محمود رحمه الله: «فان قلت: فلم قيل هدى للمتقين والمتقون مهتدون ... الخ» . قال أحمد رحمه الله: الهدى يطلق في القرآن على معنيين: أحدهما الإرشاد وإيضاح سبيل الحق. ومنه قوله تعالى: (وَأَمَّا ثَمُودُ فَهَدَيْناهُمْ فَاسْتَحَبُّوا الْعَمى عَلَى الْهُدى) . وعلى هذا يكون الهدى للضال باعتبار أنه رشد إلى الحق، سواء حصل له الاهتداء أولا.-

-والآخر خلق الله تعالى الاهتداء في قلب العبد، ومنه: (أُولئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُداهُمُ اقْتَدِهْ) فإذا ثبت وروده على المعنيين فهو في هذه الآية يحتمل أن يراد به المعنيان جميعاً. وأما قول الزمخشري: إن القرآن لا يكون هدى للمعلوم بقاؤهم على الضلالة، فإنما يستقيم إذا أريد بالهدى خلق الاهتداء في قلوبهم. وأما إذا أريد معناه الأول، فلا يمتنع أن الله تعالى أرشد الخلق أجمعين، وبين للناس ما نزل إليهم فمنهم من اهتدى، ومنهم من حقت عليهم الضلالة. هذا مذهب أهل السنة.

کړی وي او خپل نظر ئې په معجزاتو او پیژندنه د دلائلو نبویه وو کې استعمال کړی وي قرآن یشان صالح غذاء دی لپاره د حفاظت د صحت ځکه چې صحت صحیح نه وي نو غذاء څه فائده نه ورکوي او دې مضمون ته الله جلّ جلاله په خپل دې قول کې اشاره کړي ده مونږ نازله وو د قرآن هغه حصې چې په هغې کې شفاء او رحمت دی او نه زیاتوي ظالمانو لره مګر تاوان.

تشریح: دا دوهم دلیل د معتزله ؤو بیانوي چې هدایت نه مراد دلالت موصله الی المطلوب دی ځکه مهدي مشتقي دی او مهدي هغه چاته ویل کیږي چې مطلوب ته رسیدلی وي نوچې مشتقي کې ایصال معتبر شو نو په مبداء کې چې هدایت دی خو په طریقه اولی معتبر وي.

ردالدلیل: په دې مشتقي کې که ایصال دا د ذات له وجې نه دی معتبر بلکه د قرائنو خارجیه وو له وجې معتبر دی په مقام د مدحې کې هم استعمالیږي او په مقام د ذم کې هم استعمالیږي لکه (وَاَمّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنَاهُمْ).

سوال: الله جلّ جلاله قرآن ته هدایت لپاره دمتقینو ویلی دی هدًی للمتّقین او حال دا چې قرآن متقي او غیر متقي دواړو ته هدایت دی؟

له دینه ورته دوه جوابونه کوي چې دواړه به دمتقین په دوه معناګانو بناء وي.

(۱)**جواب**: یو د متقي معنی ده چې التقوی عن الکبائر ځان ساتل له غټو ګناهونو ،نو که دغه معنی واخلی نو معنی به دا شي قرآن هدایت دی هغه چاته چې ځان ساتي له غټو ګناهونو څخه یعنې هدایت دی اولیاؤو ته دغسې غیر ولي ته هم هدایت دی خو غیر ولي په مقابله د دوئ کې کالعدم دي نازلة منزلة المعدوم.

(۲)**جواب**: (أو لأنّه لَايَنتَفع بِالتأمّل فِيه الّا مِن صَقَّل العقلَ) چې د متقي معنی اجتناب عن الشرک واخلی په دې کې ټول مسلمانان وَلِیّان دی ځکه ټولو اجتناب د شرک نه کړی دی نو په دې معنی ئې هدایت تر متقینو پورې ولې خاص کړو وجه دا ده چې قران کریم نه فایده هغه کس اخستلی شي چې عقل یې له ګندګي څخه صفا کړی وي په معجزاتو او په دلایلو د نبوت کې یې غور کولو سره یې ایمان راوړی وي ځکه هدایت په منزله د غوړیو دی او دا تقوی په منزله د صحت دی نو چې صحت

دې خراب وي غوړي دي نور هم خرابوي او كه صحت دې ښه وي نو غوړي به دې نور هم ښه كړي يعنې ايمان په منزله د صحت دی او دا هدايت په منزله د هغې دوائې دی چې نافعه وي له دې وجې نه كافرانو ته قرآن نور هم مرض ورزياتوي ځكه هغوی ايمان نه لري د غسې لكه د ګلمُو مريض باندې چې غوړي وخورئ نورئې هم خرابوي او كه صحت دې ښه وي نور دې هم قوي كوي.

لكه الله تعالى فرمايي: (وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَاهُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِيْنَ وَلَايَزِيْدُ الظَّالِمِيْنَ اِلَّا خَسَارًا) له قران څخه موږ داسې مضامين نازلو چې د مومنانو لپاره روحاني شفا او رحمت وي او د ظالمانو لپاره يوازې تاوان زياتوي. نو چې كله قران د كفارو لپاره تاوان زياتولو نو ځكه تخصيص د متقينو وشو په هدايت سره

او همدارنګه الله جلّ جلاله نبي عليه الصّلوة والسّلام ته وائې (اِنَّمَا اَنْتَ مُنْذِرُ مَنْ يَّخْشَهَا)[1] ته هغه چالره ويرونكی ئې چې ويريږي او حال دا چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ويريدونكو او غير ويريدونكو دواړو لپاره ويرونكی دی.

تفسيربيضاوي: (وَلَايَقدحُ مَافيهِ مِن الجُمَل والمُتشابِه فِي كَونه هُدًى لِمَا لَم يَنفَكّ عَن بَيان تَعين المُراد مِنه).

ترجمه: او د قرآن په هدايت كيدو كې هيڅ ايات مجمله اومتشابه عيب او نقصان نه پيداكوي ځكه چې هغه هم د مراد د تعين نه خالي نه دي.

تشريح: دې سره دفع د اعتراض ده هغه دا

سوال: تاخو قرآن ته هدايت وويل او په قرآن كې خو مجملات اومتشابهات دي لكه الٓمّٓ وغيره د دې په معنى خو څوک نه پوهيږي او هدايت خو د دې تقاضا كوي چې په معنى به ئې خلک پوهيږي؟

---

(۱):- سورة النزعات :آية (۸۱).

جواب: (ولايقدح من الجمل والمتشابه فى كونه هدًى لما لم ينفك عن بيان تعين المرادمنه) ستا اعتراض په هغه چا وارد دی چې هغوی متشابهاتو ته غير معنا مراد وايي او موږ متشابهاتو ته معلوم المراد وايو لکه قاضي بيضاوي رحمه الله وايي: هيڅ عيب نه لګوي چې مجمل او متشابه دې په قرآن کې هدايت شي ځکه دا مجمل او متشابه نه دي خالي له بيان د تعين د مراد نه (منه) ضمير مافيه ته راجع دی.

دا **جواب**: په طريقه د شوافعو دی ځکه مصنف شافعي دی.

او احناف چې هغوی متشابهاتو ته غير معلوم المراد وايي داسې جواب کوي دا مجمل او متشابه هم هدايت دی خو په دې طريقه چې يو د جاهل امتحان دی او بل د عالم امتحان دی په جاهل دا امتحان دی چې علم وکړه مهملي پريږده فرائض و غيره ياد کړه او د عالم امتحان دا دی چې عالم خو په علم کې شپه او ورځ مشغول وي يعنې علم او زده کړه ئې معشوقه وي نو ده ته الله جلّ جلاله وائي د متشابهاتو معانيو پسې مه ګرځه نو د خپلې معشوقې نه ئې حصاروي نو که عالم تر يته حصار شو نو عدم علم د معنى مرادې د عالم لپاره هدايت دی.

تفسيربيضاوي: (وَالمُتَّقى اِسمُ فاعلٍ منْ قولِهم وَقَاهُ فاتَّقى والوِقايَة فَرط الصِّيانَة وَ هوُ فى عُرف الشَّرع اسْمٌ لمَن يَقِيْ نَفسهُ ممّا يَضُره فى الآخِرةِ)

ترجمه: متقى اسم فاعل دی له دې قول د عربو نه مأخوذ دي هغه لره ئې محفوظ کړ (زيد عمرو لره محفوظ کړ) نو هغه محفوظ شو و قايه نهايت محفوظيت ته ويل کيږي او په عرف د شرعه کې د هغه چا نوم دی چې خپل ځان محفوظ کړی د هر هغه شي نه چې په آخرت کې ده ته ضرروي.

تشريح: دويم بحث: متقى له باب افتعال نه د اسم فاعل صيغه دی په اصل کې موتقى وو واو په تاء سره بدل شو بيا تاء په تاء کې مدغم شوه متقي شو او مجرد يې وقى يقى وقاية راځي په معنا د انتهايي احتياط او پرهيز سره متقي هغه انسان ته وايي کوم چې له داسې شيانو ځخه ځان ساتي کوم چې په اخرت نقصان ورکونکي وي او دا د متقى اصطلاحي تعريف دی.

(مراتب التقوی)

تفسیربیضاوی: (وَلهُ ثَلاثَ مرَاتِبِ الأُولی التوَقی مِن العَذابِ المُخَلَّد بالتَبَرِّی مِن الشِّرک وعَلیه وقوله تعالی (وَاَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التقْوی) [١]

ترجمه: او تقوی لره دري مراتب دي اوله مرتبه د همیشه عذاب نه ځان ساتل په سبب دبې زارۍ د شرک څخه او په دې مرتبې دا قول دالله تعالی دلالت کوي ترجمه الله جلّ جلاله هغوئ (صحابه) پورې کلمه د توحید لازمه کړې وه.

تشریح: دا اوله مرتبه دتقوی دی او په دې مرتبه کې ټول مسلمانان داخل دي او د کلمې د تقوی نه کلمه د توحید چې لااله الاالله مراد دی او دې معنی سره ایمان ظاهري مراد دی.

تفسیربیضاوي: (الثَّانیةُ التَجنُّب عَن كلِّ مَایُؤثِم مِن فِعلٍ اوتَرکٍ حَتَّی الصَّغَائِرعِند قَومٍ وَهو المُتعارَف بِاسم التَقوی فِی الشَّرع وَهوالمَعنی بقوله تعالی (وَلَوْ انّ اَهلَ الْقُری اٰمَنُوا وَاتّقوا [٢])

ترجمه: دوهمه مرتبه د تقوی دادی چې د هر هغه شي نه ځان ساتل دي چې تا په ګناه کې مبتلا کوي هغه کول د یو شي وي او یا پریښودل د یو شي وي تردې چې د صغائرو نه هم اجتناب وکړی شي په نزد د یو قوم او په شریعت کې په اسم د تقوی سره هم دامعنی متعارفه دی او همدا معنی مقصود د الله تعالی هم ده لکه دا قول دالله جلّ جلاله ترجمه که چیرته د کلیو والا ایمان راوړي وائې او اجتناب ئې له ټولو معاصی وو څخه کړی وائې او اِتیان ئې په ټولو حسناتو کړی وائې نو مونږ به پرې د هرشي دروازې راخلاصي کړی وائې.

تشریح: دویمه مرتبه دادی چې د هغې فعل یا ترک تا په ګنا کې غورځوي ،فعل لکه زنا کول او ترک لکه ترک الصلوة دواړه تا په ګناه کې مبتلا کوي.

---

(١):- سورة الفتح : آية (٢٦).

(٢):- سورة الاعراف : آية (٩٦).

اجتناب عن الصغائر داخل دی په مفهوم د تقوی کې

دلته د معتزله و او متکلمینو اختلاف دی هغه دا چې اجتناب له صغائرو په مفهوم د تقوی کې داخل دی او که نه؟

متکلمین وايي: چې داخل دی او دلیل دا وايي چې رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمايي:

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: إن الرجل لا يكون من المتقين حتى يدع ما لا بأس به حذرا لما به بأس.[1]

سړی تر هغه د متقیانو درجې ته نه شي رسېدلی تر څو پورې چې هغه شیان پرې نه ږدې په کومو کې چې هیڅ باک نشته ځکه د دې شیانو په وجه چېرته په ګناه کې اخته نشي.

معتزله وايي: اجتناب عن الصغائر د تقوی په مفهوم کې داخل نه دی ځکه بیا به انبیاء علیهم السلام د متقیانو له ډلې خارج شي ځکه انبیاء علیهم السلام له صغائرو څخه قبل البعثت او بعد البعثت معصوم نه دي، خو اصل او بنیادي اختلاف په دې کې دی چې اجتناب عن الکبایر مکفر د صغایرو دی او که نه.

(۱) بعضې علماء وائې چې اجتناب عن الکبائر دا مکفر صغائرو دی یعنې غټو ګناهونو نه ځان و ساته واړه د رته الله هسې معاف کوي یعنې دصغائرو لپاره د توبې ضرورت نشته دا د معتزله و قول دی اګر که بعض اهل سنتو هم دا قول غوره بللی.

(۲) بعضې علماء فرمائې چې اجتناب عن الکبائر مکفر د صغائر نه دی بلکه صغائرو نه هم اجتناب پکار دی یعنې دصغائرو لپاره د مستلقې توبې ضرورت دی.

او د قوم (متکلمینو) خبره ئې په صیغې د تمریض ذکر کړه ځکه که د تقوی دا دوهمې مرتبې لره اجتناب عن الصغائر شرط شې نو په ټوله دنیا کې به اولیاء پیدا نشي حتی چې د بعضو خلکو په

---

(۱) المستدرك على الصحيحين للحاكم - كتاب الرقاق حديث:۷۹۷۱

أخبرنا عبد الله بن الحسين ، بمرو ، ثنا الحارث بن أبي أسامة ، ثنا هاشم بن القاسم ، ثنا أبو عقيل عبد الله بن عقيل الثقفي ، عن ربيعة بن يزيد ، وعطية ابن قيس ، عن عطية بن سعد رضي الله عنه وكان من أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال : ... هذا حديث صحيح الإسناد ولم يخرجاه "

نزد به انبياء عليهم السلام هم اولياء نتني ځکه دوی وائي چې انبياء و نه قبل النبوة اوبعدالنبوة صغائر صادرېږي لاعندنا.

تفسيربيضاوي: (وَالثَّالثةُ أَن يَتَنَزَّه عمّا يَشغِل سِرّه [1] عَن الحقِّ ويَتَبَتَّل اليه بَشرا شِرِهِ وَهو التَّقوى الحَقِيقى المَطلُوب بِقوله تعالى (يَآيَهاالّذِيْنَ اٰمَنُوْا اتّقُوالله حَقّ تُقَاتِه [2] وقدْ فسَّرقوله (هُدًى لّلمتّقين) هَهُنا عَلى الأوجه الثلاثة).

ترجمه: دريمه مرتبه دا چې ځان وساتي د هر هغه څه نه چې د ده زړه او فکر د حق نه مشغوله وي او بالکليه د الله جلّ جلاله طرفه متوجه شي او دا حقيقي تقوی دی او همدا د الله جلّ جلاله په دې قول سره مطلوب دی اې ايمان والاوو د الله جلّ جلاله نه وويرېږئ په حقه ويرې سره اوتفسير شوي دی د دې قول چې هدًی لّلمتّقِين په دې درې واړو مراتبو سره.

تشريح: هُدًی لّلمُتّقِيْن تفسيرپه درې واړه مراتبو د تقوی شوی هغه داسې .

(۱) هدًی لّلمتّقين دا هدايت کوي هغه چاته چې ځان د شرک نه ساتي لکه الله تعالى فرمايي والزمنهم کلمة التقوى نو څوک چې شرک نه ځان ساتي هغه خو په هدايت دی دا وائي چې دې نورو دواړو مراتبو طرف ته ورته هدايت کوي نو تحصيل دحاصل رانغلو او دا عوامو مرتبه دی.

(۲) هدًی لّلمتّقين دا هدايت کوي هغه چاته چې ځان له څه ساتي چې دی په ګناهونو کې اخته کوي که له قبيلې د فعل څخه وي او که له قبيلې د ترک څخه وي او دېته الله تعالى په دې قول کې اشاره (ولو انّ اهل القرى امنوا والتقوا) دا مرتبه بيا هدايت هغې دريمې مرتبې ته کوي او دا دخواصو مرتبه دی.

(۳) هدی لّلمتّقين دا هدايت هغه چاته کوي چې هرهغه شي نه ځان ساتي چې د ده روح د الله نه غافله کوي او په پوره ډول الله جل جلاله طرفته متوجه شي او دېته الله تعالى په دې قول کې اشاره کړې ده (والتقوا الله حق تقاته) دې کس ته په دې شان هدايت دی چې دا مرتبه يو

---

(۱):- يېر ډېر خبروته ويل کيږي چې د انسان په نفس کې پيداکيږي لکه الله جلّ جلاله فرمائي يَعْلَمُ سِرَّهُم وَنَجْوَاهُمْ اومراد ترينه محل ده چې زړه اوفکر ده (حاشية الشهاب : ۱ / ۱۹۸.

(۲):- سورة آل عمران : آية ۱۰۲ .

بحر عمیق دی چې مخکې پکې لاړشي په دې کې خپله ډیر مراتب دي چې څوک ئې آخر ته نه دې رسیدلي، نو دا بیا هغو مراتبو ته هدایت کوي او د اخص الخواص مرتبه دی.

حل اللغات

شمېره	لغات	معنی
۱	تبری	بیزاري
۲	تبتل	متوجه
۳	شراشر	بالکلیه
۴	تنزه	پاکي

(الٓمّ ترکیب)

تفسیربیضاوي: (وَاعْلمْ أَنّ الآيَةَ تَحتَمِلُ أَوجهًا مِن الإعرابِ انْ يَكونَ (المّ) مُبتداء عَلى أَنّه اسمٌ للقُرآن أو السُّورة أَومُقدَّرٌ بالمُؤَلَّف مِنهاوَ(ذلک)خَبرُه وَإن كانَ أَخصّ من المُؤلَّف مُطلقًا وَالأَصلُ انّ الأَخصَّ لَايَحمِل عَلى الأَعمِّ لأَنّ المُرادَ به المُؤلفُ الكَامل فِي تَأْلِيفه البَالِغ أَقصى دَرَجات الفَصاحَة وَمرَاتبِ البَلاغَة وَالكتَابُ صفَّة ذلِک.

ترجمه: پوهه شه چې دا آیات د اعراب د یوڅو وجوهاتو احتمال لري اول دا چې الٓمّ مبتداء شي بناء په دې چې دا اسم د قرآن دی او یا اسم د سورت دی او یا د «المؤلف من هذه الحروف» په تاویل سره واخستل شي بیا به ذلک د دې لپاره خبر وي او ذلک (خبر) اګر که په مقابل د «المؤلف من هذه الحروف» کې خاص دی او قاعده هم داده چې خاص په عام باندې نه حمل کیږي خو دلته حمل کیدیشي ځکه دا المؤلف نه مراد مؤلف کامل دی چې انتهاء درجې د فصاحت او مراتبو د بلاغت ته رسیدونکی وي او دا کتاب به د دغه ذلک صفت وي.

تشریح: **دریم بحث**: په الٓمّ ذلک الکتاب کې شپږ ترکیبه دي دري اوس کوي او دري د لاریب فیه د ترکیب نه روسته کوي.

اول ترکيب: دا چې الٓمٓ اسم د سورت شي دوهم دا چې الٓمٓ اسم لپاره د قرآن شي او دريم دا چې الٓمٓ مؤول په المؤلف من هذه الحروف شي، په دې درې واړو احتمالاتو کې دا مبتداء او ذالک ورته خبر دی او کتاب صفت د ذالک لپاره دی.

سوال: الٓمٓ تا مؤول که په المؤلف من هذه الحروف او دا اعم دی او ذلک ئې خبر دی او دا اخص دی.

او حمل د اخص خو په اعم نه دی جائز [1] لکه الحيوان انسان خو خلک نه وائې بلکه الانسان حيوان دی ؟

جواب: المؤلف من هذه الحروف په ظاهر کې تا ته اعم ښکاري خو په حقيقت کې اخص دی چې المؤلف الکامل دی او المؤلف الکامل يوازې ذلک الکتاب دی اومساوي دی له ذلک الکتاب سره نو حمل د مساوي په مساوي راغئ.

تفسيربيضاوي: وَأَن يكونَ (الٓمٓ) خَبرمُبتداءِ مَحْذُوف وَذلک خَبرًا ثانيًا أَوبدلًا وَالكِتاب صِفَّته)

ترجمه: يا الٓمٓ د مبتداء محذوفې لپاره خبر دی او ذلک ئې خبرثاني دی اويا ورنه بَدل دی اوکتاب صفت د ذلک دی.

تشريح: دا دوهم ترکيب دی هغه دا چې که الٓمٓ اسم د قرآن يا د سورت شي اويا مؤول په المؤلف من هذه الحروف شي نو بيا به مبتداء محذوفه وي لکه هذا مبتداء الٓمٓ خبر يا المتحدی به مبتداء او المؤلف من هذه الحروف ئې خبر او ذلک موصوف او کتاب صفت ،صفت سره له موصوفه خبر ثاني د مبتداء.

تفسيربيضاوي: (وَلَارَيْبَ) فِى المَشهُورةِ مَبنِيٌّ لتَضَمُّنه مَعنى مِن ،مَنصُوبُ المَحلِّ على أَنَه اسمُ لا النَّافية لِلْجِنس العَاملة عَمل اِنّ لأَنّها نَقِيضُها ولازِمة لِلأَسمآء لُزُومَها).

ترجمه: او لاريب په قرائت مشهور کې چې داد محققينو نُحاتو مذهب دی مبنی دی ريب مبنی بالفتحه دی له وجې د متضمن کيدو معنی د مِن لره محلًا منصوب دی په دې شرط چې دا

---

(۱):- اخص په اعم نه ورحمليږي ځکه اعم انتزاعي اوتابع دی له انسان نه منتزع دی انسان زړه ته وائې ځکه مرکز ئې زړه دی دا زړه له دې حيثيته چې مبداء د حيات ده حيوان ترينه منتزع دی اوله دې حيثيت چې دا مبداء د ادراک المعقولات ده نو ناطق ترينه منتزع دی.

اسم د لاء نفی جنس ده چې دغه عمل د ان په شان کوي ځکه چې لاء نافيه نقيض د انّ دی، او لاء نفی جنس د اسمآء سره لازم دی لکه لزوم د انّ له اسمآء وو سره.

تشريح: له دې ځای څخه د لاريب تحقيق کوي: په لاريب کې دوه قرآئته دي (۱) لاريبَ په فتحې د با (۲) لاريبُ په ضمې د باء سره خو متواتر قرائت د لاريب په فتحې د باء سره دې او په دې کې دوه ترکيبه کوي (۱)

دا کلمه د لاء لنفی الجنس دی [(۱)] اوريب اسم د لاء دی او چې کله اسم د لاء نفی جنس نکره مفرده راشي نو مبنی به په فتحې سره وي او منصوب به محلًاوي اوس مبنی به ولې وي ، ځکه چې دغه نکره مفرده متضمنه ده معنی د مِن لره او مِن حرف دی او حروف ټول مبنيات دي نو د دې مشابهت له امله دا نکره هم مبنی شوه او متضمن معنی د مِن لره ولې وي ځکه چې دا غالبًا په جواب د مِنْ استغراقي کې راځي لکه سائل چې سوال کړی وي هَل مِن ريب دا ورته جواب کې وائي لاريب ای لا مِن ريب.

او منصوب به محلًا ولې وي ځکه چې دا لاء نفی جنس عمل د انّ کوي انّ اول اسم ته نصب دويم ته رفعه ورکوي دغسې لا لنفی الجنس هم اول ته نصب دويم ته رفعه ورکوي پاتې شوه دا خبره چې لا لنفی الجنس عمل د انّ ولې کوي نو دا ورته جواب کوي چې ځکه د لا لنفی الجنس له انّ سره شبه تضاد او شبه د تجانس لري شبه د تضاد هغه داسې چې انّ راځي لپاره د تحقيق د اثبات او لا لنفی الجنس راځي لپاره د تحقيق د نفي ګويا چې په دې دواړو کې تناقض پيدا شو نو احد النقيضين مو په اخر ور حمل کولو نو لا ته مو انّ عمل ورکړو .

او شبه د تجانس ده داسې چې لکه څنګه چې انّ په اسماء باندې داخليږي فعل او حرف باندې نه داخليږي دغسې لا لنفی الجنس هم په اسم داخليږي او په فعل او حرف نه داخليږي ګويا دا لزوم

---

(۱):- لاء نفی جنس عمل دحروف مشبه بالفعل په شان کوي چې کله ئې اسم مضاف وي لکه لاغلام رجل ظريف فی الدّار اوکه اسم ئې نکره مفرد وو بيا دا اسم مبنی په فتحې سره وي لکه لارجل فی الدّار اوکه اسم ئې معرفه وو دالام له بلې معرفې سره مکرر وو نو دلته به لام ملغاة العمل وي اواسم به مرفوع بنا برابتدائيت وي لکه لازيد عندی ولا عمرو اوکه اسم د لام نکره و اودا لام له بلې نکرې سره مکرر وو بيا په دې کې پنځه وجې جائزدي (نحومير).

په اسم کې په دواړو کې مناسبت شو او دواړه د یو بل مثالونه شول نو احد النظیرین په یو بل حمل کولو سره مو لا ته د انّ عمل ورکړو.

تفسیربیضاوي: (وَفی قِراءَة اِلی ابي الشَعَثَاء مَرفُوع بِلا أَلتِّي بِمعنی لَیس فِیه خَبرهُ وَلَم یُقدَم کماقَدَّمَ فی قوله تعالی (لَافِیْهَا غَوْلٌ [1]) لِأَنّه لَم یَقصدْ تَخصِیص نَفی الرَّیبِ به مِن بَین سَائِرالکتَاب کَمَا قَصدَ ثَمَّة اوصِفَّته ولِلْمتَّقِینَ وَخبَرهُ وَهُدی نَصب عَلی الحَالِ)

ترجمه: او «ریب» په قرائت د ابی شعثاء کې مرفوع دی په هغې لا چې په معنی د لیس سره دی او «فیه» ئې خبر دی او دا فیه په لاریب مقدم نکړی شو لکه ځنګه چې په دې قول دالله جلّ جلاله کې مقدم کړی شوی «لا فیها غول» ځکه د ټولو اسماني کتابونو ترمینځ تخصیص د نفی د ریب یوازې له قرآن پورې نه ده قصد کړی شوي لکه ځنګه چې په «لافیها غول» کې تخصیص قصد شوی دی او یا ئې کائنٌ صفت دی اوللمتقین ورته خبر ده او هدًی بناء په حالیت منصوب ده.

تشریح: دلته د خبر متعلق بحث کوي. ابوشعثاء مشهور تابعي دی چې نوم ئې سلیم بن اسود دی دا وائې چې دا لاء لنفی الجنس نه دی بلکه لام په معنی د لیس دی ریب اسم د لیس دی او فیه ورته خبر دی، خو اول قرائت قوي دی ځکه هلته لاء لنفی الجنس ده او هلته نفی د ټولو افرادو د ریب راغلي ده ځکه په انتفاء د جنس سره انتفاء د ټولو افرادو راځي لکه په انتفاء د حیوان سره انتفاء د ټولو حیواناتو راځي یعني د لته نفی د ټولو افرادو یقینًا راځي په خلاف د لا مشابه بلیس هلته نفی د ټولو افرادو راځي خو احتمالًا ځکه دلته لام لپاره د نفی جنس نه ده بلکه لام لنفی نکرة ده چې ریب دی او ریب نکره ده کله له دې نه فرد غیرمعین مراد وي او کله جنس مراد وي نو که فرد غیرمعین مرادشي نو یو فرد دې نفی کړ او که جنس ترینه مراد شي جنس دې نفی کړ نو یقین په نفي د ټولو افرادو نشته محتمل د احتمالینو دي.

---

(۱):- سورة الصافاة : آیة ۴۷.

په لاريب کې درې ترکيبه

21 لَا فِيْهَا غَوْلٌ: په دې کې درې ترکيبه دي

(۱) چې دا لاء فيها ته متوجه کړې نو دا به قضيه موجبه معدولة المحمول[۱] شي نو معنی به داشي چې دا غَوَل مقصور دی تر «لافيها» پورې ای عدم کون فی خمور الجنة، (نشتوالی دفساد عقل يا سر درد په شرابو د جنت کې)

(۲) اوکه لاء غول ته متوجه کړی نو دا به قضيه موجبه معدولة الموضوع شي نو معنابه دا شي چې عدم سر درد (غول) چې دی دا مقصور تر کون پورې فی خمر الجنة.

(۳) او که لاء دې نسبت ته متوجه کړې کوم چې په «لافيها او غول» کې دې نو دا قضيه سالبه بسيطه دی نو معنی به دا شي چې دا سر درد (غول) لافيها يعنې نشته په خمورو د جنت کې نو په دې ترکيب کې تقديم د اسم لپاره د قصردی او دا قصر صحيح دی ځکه غول په خمور د جنت کې نشته او په خمورو د دنيا کې شته ما يوجد فيه ولايوجد فی غيره.

نو که دلته داريب مقدم کړې اولافيه ريب ئې ووائې، او دا قضيه معدولة المحمول کړې نومعنی به دا شي داريب چې دې مقصوردی ترعدم کون فی القرآن اوکه معدولة الموضوع ئې کړی نومعنی به دا شي عدم د ريب مقصوردی ترکون فی القرآن پورې او که سالبه بسيطه ئې کړی نومعنی به دا شي چې ريب په قرآن کې نشته بهر تقدير دلته معنی د قصرنه ده صحيح ځکه قصر وائې مايوجد فيه ولايوجد فی غيره ته نو قرآن کې به ريب رانشي اوپه نورو کتب سماويه وو کې به ريب راشي او حال دا چې په هغو کې هم ريب نشته.

تفسيربيضاوي: (أوِ الخَبرُ المَحذُوف كَمَا فِی لَا ضَيْرَ ولِذٰلک وُقِفَ علی (لَاريبَ) عَلی أَنّ فِيه خَبر هدًى قَدَّم علَيه لِتنْكِيرهِ وَالتَّقديرُ لاريبَ فِيه فِيه هُدًى)

---

(۱):- قضيه حمليه په دوه قسمه ده يوه معدوله دوهمه محصله : معدوله هغه قضيه ده چې حرف نفی ئې جزء گرځيدلې وي بيا داپه درې قسمه ده (۱) معدولة الموضوع (۲) معدولة المحمول (۳) معدولة الطرفين ، معدولة الموضوع هغه ده حرف نفی جزء دموضوع وي معدولة المجمول هغه ده چې حرف نفی جزء دمحمول وي اومعدولة الطرفين هغه قضيه ده چې حرف نفی جزء دطرفينو وي.

ترجمه: او یا دلته خبر محذوف دی لکه په «لاضیر» کې فیه محذوف دی ای لاضیر فیه) او له دغه سبب نه په لاریب وقف کیدلی شي او مقدم کړی شو په دې باندې له وجې د نکارت نو تقدیر داشو لاریب فیه فیه هدًی للمتّقین.

تشریح: دا دریم ترکیب دی او دلته معانقه دی معانقه دې ته وائي چې د یو آیات په منځ کې چې درې نقطې راشي، هدی مبتداء او فیه ئې خبر ای فیه هدی للمتقین د ادنی تخصیص لپاره خبر په هغې مبتداء مخکې کولی شې چې کومه مبتداء نکره واقع شي چې د ابتدائیت مستحقه وګرځي په لاریب فیه فیه هدی کې اوله فیه مقدر دی.

تفسیربیضاوي: (وأَن یکونَ (ذَلک) مُبتدَاء و(الکتَاب) خَبرهُ عَلی مَعنی أَنّه الکِتَاب الکَامِل الَّذی یَستَأهِل أَن یُسمّی کتَاباً أَو صِفَّته وَمابَعده خَبرهُ والجُملَة خَبرُ(الٓمّ)

ترجمه: او یا ذلک مبتداء او الکتاب ئې خبر دی معنی به داشي چې دا کامل (پوره) کتاب دی چې د دې لائق دی چې کتاب ورته وویلی شي یا ذلک موصوف او کتاب ورته صفت دی (موصوف سره دصفت نه مبتداء) اومابعد (لاریب فیه) ورته خبر دی مبتداء سره د خبرنه ټوله جمله خبر د الٓمّ شوه (المؤلف من هذه الحروف ذلک لاریب فیه شو).

تشریح: په الٓمّ کې درې ترکیبه مخکې مونږ کړی وو او درې ترکیبه اوس نور کوي

(۱) الٓمّ مبتداء او ذلک مبتداء ثاني او الکتاب خبر د مبتداء ثاني مبتداء ثاني سره له خپل خبر دا بیا خبر د مبتداء اولی.

سوال: مونږ په تلخیص المفتاح کې وایو چې مبتداء او خبر دواړه معرفې وي او یو پکې بیا معرفه بلام وي نو دا معرفه بلام په مقصور وي او غیرمعرفه بلام به مقصورعلیه وي لکه زید الرجل دلته رجلیت تر زید پورې مقصوردی نو ذلک الکتاب کې به دا کتاب یوائې تر ذلک (قرآن یا سورت یا المؤلف من هذه الحروف) پورې مقصوروي او حال دا چې کتاب خو ذلک پورې مقصورنه دی بلکه بیضاوي هم کتاب دی مطول هم کتاب دی احقاق الحق هم کتاب دی یعنې تردې درې معانیو د الٓمّ پورې مقصورنه دی چې یاقرآن دی یا سورت دی یا المؤلف من هذه الحروف دي ؟

جواب: كتابو الى تر ذلك پورې مقصورنه دى بلكه كاملو الى تر ذلك پورې مقصوردى يعنې كامل كتاب يو ازې ذلك دى.

(۲) الٓمّ مبتداء اوله ذلك موصوف الكتاب ئې صفت موصوف سره دصفت نه دا مبتداء ثاني لاريب فيه ئې خبر مبتداء سره دخبرنه دا خبر دمبتداء اولې.

تفسيربيضاوي: (وَ ألاوْلى أن يُقالَ أَنّها أربعُ جُملٍ مُتناسِقةً يُقَرِّرُ اللّاحقَة مِنْها السَّابقَة وَلِذلك لَم يَدْخُل العَاطِف بَينَهُما فـ(الم) جُملةٌ دَلَّت عَلى أَنّ المُتحدَّى به هُو المُؤلف مِن جِنس مَايُركّبونَ منْه كَلامَهم و(ذلِك الكتابُ) جِملةٌ ثَانيَة مُقرِّرةٌ لجِهةِ التَّحدَّى بانّه الكِتابُ المَنعُوت بِغايةِ الكَمَالِ ثُمَّ سَجَل على كمَالِه بِنَفى الرَّيب فيْهِ و(لَارَيْبَ فِيْهِ) جُملةٌ ثَالثَة تَشهَد على كمالِه اِذ لَاكمَالَ أَعلى مِمّا لِلحَقِّ واليَقِين وَ(هدًى لّلمتّقين) بِمايُقَدَّر لهُ مُبتداء جملة رَابعَة تُؤَكّد كونَه حقًّا لَايَحُوم الشَّك حَولَه بانّه (هدًى للمتَّقين).

ترجمه: غوره خبر دادى چې وويلى شي چې دا څلور جملې دي چې د يو بل سره منضمې او پيوستې دي سابقه جمله لاحقه جمله ثابتوي نو له دې وجې نه ئې په منځ كې حرف عطف رانه وړل شونو (الٓمّ) جمله دلالت كوي په دې چې داكتاب په كوم چې طلب دمعارضې شوى له جنس د هغه حروفو تهجيه وو څخه جوړ دى كومو نه چې دوئ خپل كلام مركب كوي او (ذلك) جمله ثانيه ده دا جهت د تحدى لره ثابتوونكې ده (مطلب داچې په دې كتاب سره طلب د معارضې شوى چې دا حق دى ځكه كامل كتاب دى اوڅوك ئې معارضه نشي كولى) چې دا كتاب په نهايت كمال سره موصوف دى بيائې محكمتيا كړې ده د دغه كتاب په نفى دريب سره په دې كتاب چې دې كتاب كې هيڅ ريب نشته اولاريب فيه دريمه جمله ده دا په كمال د دغه كتاب شاهد ده ځكه نشته كمال اعلى د هغه كمال نه كوم چې حق ا و يقين لره دى او(هُدًى لمتقين) سره د دې نه چې دې لپاره مبتداء مقدره ده اى هو هدى للمتقين دا څلورمه جمله ده د دې كتاب د حق كيدلو تاكيد كوي او شك له دينه گيرچاپيره نه گرځي ځكه دا هدايت دى متقيانوته.

تشریح: مخکې چې کوم تراکیب ذکر شوه هغه د احتمال په درجه کې دي کوم نکته او د بلاغت څه فایده پکې نه ښکاریده قاضي صیب داسې ترکیب ذکر کوي چې په هغې کې بلاغت موجود وي نو فرمایي چې ښه خبره داده چې له الم نه تر هدی للمتقین پورې دا څلور جملې اومنلی شي او هره جمله له خپل ماقبل سره وتړلی شي

(۱) الٓمٓ خبر د مبتداء محذوفې که اسم د قرآن شي هذا مبتداء الٓمٓ خبر او که اسم د سورت شي هم هذه مبتداء الٓمٓ خبر اوکه عبارت له المؤلف من هذه الحروف شي نو المتحدی به مبتداء الٓمٓ خبر شي.

(۲) ذلک مبتداء او الکتاب خبر دابله جمله.

(۳) لاریب فیه مستقله جمله ده څنګه چې مونږ مخکې وویل.

(۴) هدًی للمتّقین دلته هدی مبتداء للمتقین ئې خبر.

د ربط دوه طریقې

او د هرې جملې له بلې سره ربط دی او د ربط دوه طریقې دي:.

لومړی ربط: هره روستنۍ جمله د مخکینۍ جملې لپاره تاکید اومنلی شي یا داسې ووایه هره روستنۍ جمله په مخکې جملې مشتمله وي او د تاکید او مؤکد په مینځ کې کمال اتصال وي او د کمال اتصال له وجې حروف عاطفه پرېښودل شول لکه المتحد به الٓمٓ (المؤلف من هذه الحروف) دایوه جمله دی ولې (المتحدبه) دي؛ ځکه ذلک الکتاب یعنې دا کامل کتاب دی ،بله جمله دا چې ولې کامل کتاب دی ځکه لاریب فیه دی شک پکې نشته او په کامل کتاب کې شک نه وي دابله جمله شوه او ولې پکې شک نشته ځکه هدی للمتقین دی نو په دې څلورو وارو جملو کې روستۍ جمله د مخکې لپاره تاکید دی او ربط مصنف راروان درس کې ذکرکړی.

تفسیربیضاوي: (أَو تَستتبِع السَّابقَة مِنهَا اللَّاحقَة اِستِتباع الدَّليلِ لمَدلُول وَبَيانُه أَنّه لمّا نَبَّه أَولًا على إِعْجازِ المُتحدَّى به من حَيثُ انّه من جِنسِ كَلامِهِم وَقَدعَجزُوا عَن مُعارضَتِه اِستَنتَج مِنه انّه الكتَاب البَالِغ حَدَّ الكمالِ وَاستلزَم ذَلك أَنْ لايَتَشبَّث الرَّيب بأَطرَافه اِذ لا أَنقَض مِمَا يَعتَرِيه الشَّك والشبْهَة وماكَان كذَلك كَان لَامحَالةَ (هدًى لّلمتّقين).

ترجمه: او يا مستلزمه دى مخکني جمله روستني لره لکه څنګه چې مستلزم دى دليل مدلول سره او بيان د دې دا دې هر کله چې الله تعالى تنبيه وکړه په اعجاز د متحدبه له دې حيثيت نه چې دا د دوئ د کلام جنس دى او حال دا چې دوئ د معارضې د قرآن نه عاجز شوى وه د عجز د دې قومونو نه دا نتيجه راوځي چې دا کتاب حد د اعجاز ته رسيدلى دى او دا کمال د کتاب مستلزم شو چې ريب له اطرافو د دې کتاب سره تعلق نه لري او د هغه کتاب نه به بل ناقص کتاب وي چې شک او تردد ورته عارض کيږي او کوم کتاب چې په دغه صفت وي نو خامخا به متقيانو لپاره هدايت وي.

تشريح دويم ربط: مصنف په دې سره دويم ربط بيانوي هغه دا سې چې هره سابقه جمله د لاحقې لپاره مدلول او منلى شي ځکه څنګه چې دليل خپل مدلول لپاره مستلزم وي دغه شان هره سابقه جمله لاحقې لره مستلزمه وي او هر کله چې سابقه جمله لاحقې لره مستلزمه شوه نو سابقه جمله مدلول او لاحقه ورته دليل شوه او دليل خپل مدلول لره شامل وي نو سابقه جمله به په لاحقې مشتمله وي او د دويمې جملې به حيثيت سره د جملې په مقابل کې په شان د بدل اشتمال وي او د بدل او مبدل منه په مابين کې کمال اتصال وي او د کمال اتصال په وجه حرف عطف ترک کړى شو هغه په دې طريقې سره الله تعالى وويل «المتحدى به الم» دا متحدى به هم د همدوى د کلام له جنسه دى خو بيا هم دوى عاجزه شول نو ثابته شوه چې دا کامل کتاب دى نو الم مستلزم شو ذلک الکتاب لره او دا کامل کيدل مستلزم شو دې لره چې دېکې هيڅ شک نشته نو ذلک الکتاب مستلزم شو لاريب لره بيا عدم شک دا خبره ثابته کړه چې دا به ضرور هدايت وي نو لاريب مستلزم شو هدى للمتقين لره.

تفسيربيضاوي: (وَفِى كُلِ وَاحِدَةٍ منهَا نُكتَةُ ذَات جَزَالَةٍ فَفِى الأَولى الحَذفُ والرَّمزُ الى المَقصُود معَ التَّعليل وَفِى الثَّانِية فَخَامَةالتَّعريف وفى الثَّالثِةِ تَأخيرُ الظَّرف حذرًا عن اِبهامِ البَاطل وَ فى الرَّابعَة الحَذف وَالتَّوصيفُ بِالمَصدرِ لِلمُبالغَةِ وَ ايرَادهُ مُنكر اللتَّعظيْم وتَخصِيص الهُدى بِالمتَّقينَ باعْتِبار الغَايَةِ تسْمية المُشَارِف للتَّقوى مُتقيًا اِيجازًى اوتَفْخيمًا لِشانهِ) .

ترجمه: او په هره يو جمله کې د عظمتو نو والا يوه نکته ده په اوله جمله کې حذف دى او مقصود ته اشاره ده او ورسره په دې کې تعليل او علت ته هم اشاره ده او په دوهمه جمله کې

(ذلک الکتاب) کې عظمت د تعريف ته اشاره ده او په دريمه جمله کې (لا ريب) تأخير د ظرف دی چې (فيه) دی لپاره د اجتناب د وهمِ باطل نه چې د باطل وهم پيدا نشي په څلورمه جمله کې (هدًی للمتقين) کې حذف د (مبتداء) دی او دمبالغې لپاره توصيف بالمصدردی او هدًی د تعظيم لپاره نکيره راوړلی شوی دي او دا هدايت د متقيانو پورې خاص کول په اعتبار د غائې دی اومتقي نوم کيښودل دي هغه چالره چې تقوی ته مقارب وي په دې کې عظمت د شان دمتقي دی.

څلور نکتې

تشريح: دلته په خپلو ترکيبونو کې د بلاغت نکتې بيانوي وائې په هره جمله کې د عظمت والا نکته دی لکه په اوله جمله کې حذف وو يامبتداء حذف وه ياخبر حذف وه دلته ئې حذف ته نکته ويلې دی مبالغتًا خو اصل کې حذف مقتضي د نکتو دی او بل اشاره دی مقصود ته مقصود دلته تحدی او چيلنج ده اوسره د دې نه چې علت ته هم پکې اشاره دی او هغه دا چې ماده د قرآن اوماده ستاسو د کلام يو شئ دی بياهم تاسو مقابله د قرآن نشئ کولي او دوهمه جمله چې ذالک الکتاب دی د يکې فخامت ته اشاره دی لکه په تير درس کې مونږ وويل چې مبتداء او خبر دواړه معرفې وي بياوګوره چې کوم پکې ذو اللام دی نو ذواللام به مقصوروي تر غير ذو اللام پورې نو دلته هم کتاب په اعتبار د کمال سره تر ذلک پورې مقصوردی او په دريمه جمله کې چې لاريب فيه دی دفع د ابهام باطل دی په تأخير د ظرف کې ځکه که لافيها ريب ئې ويلی وائی بيا قصر راتلو او دلته قصرغير صحيح دی څلورمه جمله چې هدًی للمتقين دی د يکې يو جذف دی اګر که حذف نکته نه دی خو دې ته نکته ويل مبالغتًا دي او بل توصيف بالمصدر راغلی دی چې قرآن عَين هدايت دی مبالغتاً يې توصيف بالمصدر شوی ځکه قرآن هادي دی لکه زيد عدلٌ او بل ئې هدًی نکره ذکرکه لپاره د تعظيم او بل تخصيص ئې د هدايت ترمتقينو پورې کړی دا په اعتبار غائې او انتهاءدی.

يو ابتداء د هدايت دی بل انتهاء د هدايت دی لکه څنګه چې ابتداء د هدايت ترمتقينو پورې خاص ده نو انتهاء ئې هم ورپورې خاص ده او بل تسميه د مشارک الی التقوی ئې وکړه په متقې

باندې او دا ئې ورته اختیارَی ویلي دي که داسې ئې ویلی وائې چې «هدًى لمشارک للمتقین» په دې کې طوالت راتلو او بل ئې اشاره تعظیم د شان د مشارک الی التقوی ته وکړه.

(اَلَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَمِمَّا رَزَقْنٰهُمْ يُنْفِقُوْنَ) [۱]

تفسیربیضاوي: (اَلّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْغَيْبِ) اِمّا مَوصولٌ بالمُتَّقين عَلى انّه صِفَةٌ مَجرُورةٌ مُقَيِّدةٌ له اِنْ فُسِّرالتَّقوى بِتَرک مَالَا يَنبغي مُتَرَتِّبة عَليه تَرَتُّب التَّحْليةِ عَلَى التَّخْلية وَالتَّصوير على التَصْقِيل أوموْضحَةً انْ فُسِّربمايَعُمُّ فعْل الحسناتِ أوتَرک السيِّئاتِ لِاشتماله على مَاهو أَصل الأَعمال وأَساس الحَسناتِ منَ الاِيمان وَالصّلوة والصّدقة فَانّها اُمّهاتُ الاعمَال النّفسانِيَّة والعبادَات البَدنِيَّة والمَالِيَّة المُستَتْبِعة لِسائِرالطّاعات والتّجنبِ عنِ المَعاصى غَالبًا)

ترجمه: دا متقین هغه کسان دي چې دوئ ایمان په غیبو راوړی دی یا دا (یؤمنون بالغیب) له متقینو سره په دې شرط متصل او متعلق دی چې دا صفت مجروره مقیده دی(للمتقین مجرورو) که د تقوی تفسیر په ترک د مالاینبغی سره وشي معنی د صفت به مرتب شي په متقین باندې په شاند ترتیب د تحلي په تخلي یالکه ترتب د تصویر په تصقیل (صفاء) او یا صفت موضحه دی که چیرته د متقین عام تفسیر وشي چې فعل د حسناتو او ترک د سیئاتو دی . ځکه چې دا مشتمل دی په داسې شیانو چې هغه اصل د اعمالو دی او بنیاد دنیکیو دی چې ایمان ، لمونځ اوصدقه ده نویقینًا دا اصول د اعمالو نفسانیة او عباداتو بدنیه او مالیة وو دي او مستلزم دی ټولو طاعاتو لره او هم دغه شان مستلزم دی له بچ کیدلو د معاصیو نه هم غالبًا.

تشریح: دلته قاضي صاحب درې بحثونه ذکر کوي اول بحث د جملې د ترکیب متعلق دویم بحث د ایمان د تحقیق متعلق او دریم بحث د غیب د تفصیل متعلق.

---

(۱):- سورة البقرة: آية ۳

اول بحث: په الذین کې دوه احتماله دي یا مفصول دی له متقین څخه یا موصول دی له متقین نه که مفصول شي نو الذین یؤمنون مبتداء ده او اولئک علی هدًی ورته خبر ده او که موصول ئې کې بیا پکې درې احتماله دي یا به مجرور وي یا به منصوب وي یا به مرفوع وي که مجرور ئې کې بیا پکې درې احتماله دي یا به صفت موضحه وي یا به صفت موقیده وي یا به صفت مادحه وي

(۱) **احتمال دجر**: دا درې واړه احتمالات دجر په ترجمه د متقین باندې بناء دي.

(۱) که د متقین ترجمه په ترک مالاینبغی سره وشي یعنې متقین یوازې تارکین شوه عاملین پکې رانغله نو په اَلذین یُؤمنون کې ورسره ذکر دعاملینو وشو چې دا قرآن یوازې هدایت تارکینو ته نه دی بلکه ورسره عاملینو به هم وي چې دواړه یوزاې شي بیاور ته هدایت دی یعنې ترک مالاینبغی او عامل په ماینبغی یا داسې ووایه چې د متقین ترجمه په تخلي وکړې نو الذین ورسره د تحلی ذکردی او یا دریم تعبیر وکړه چې په متقین کې د تصقیل بیان دی او په الذین کې د تصویر بیان دی نو په دې صورت کې الذین صفت مقیده دی.

(۲) که د متقین ترجمه په ترک مالاینبغي ، عمل ماینبغی ، تصقیل ، تصویر ،تحلی اوتخلی سره وشي یعنې په دواړو سره وشي نو اَلذین یؤمنون به ورته صفت موضحه وي.

سوال: دلته په موصوف متقین کې دوه صفته دي ترک د مالاینبغی اوعمل په ماینبغی تخلي اوتحلي تصویر او تصقیل او په صفت کې خو دواړه نشته یوازې تحلی ده هغه هم په بعضو مأموراتو یعنې عمل کول په بعض ماینبغي نو دا څنګه صفت موضحه شو ؟

جواب: دلته اګرکه صراحتًا ترک د مالاینبغي او عمل په ماینبغي نه دی راغلئ خو التزامًا راغلئ ځکه ماینبغي به تړل یا تعلق د قلب سره لري یا به تعلق د قالب سره لري یا به ئې مال سره لري که تعلق د قلب سره لري نو له هغې نه ئې ایمان ذکرکړو ځکه د قلب په اعمالو کې اصل ایمان دی او که تعلق د قالب سره لري له هغې نه صلاة ذکرکړو ځکه د قالب په اعمالو کې اصل صلاة دی اوکه تعلق له مال سره لري له هغې نه ئې زکوة ذکرکړو ځکه اصل پکې زکوة دی نو عمل په ټول ماینبغي راغلو او عمل په ماینبغي مستلزم ده ترک د مالاینبغي لره.

(۳) او که چيرته د مخاطب علم وي په متقين باندې او تقيد د مخاطب نه وي له الذين يؤمنون څخه او نه ئې توضيح وي نو بيا الذين يؤمنون صفت مادحه دی.

تفسيربيضاوي: (الآ تَرى اِلى قَوله تَعالى: (انّ الصَّلوة تَنهى عن الفَحشاء والمُنْكرِ[1] وَقَوله عليه الصَّلوة والسَّلام: الصَّلوة عِمادُ الدّين وَالزّكاةُ قِنطرةُ الِاسلام[2] أومَادِحة بِماتَضمَّنهٔالمُتَّقين.

ترجمه: ته د الله جلّ جلاله قول ته نه ګورې چې فرمائي يقينًا لمونځ منعه کوي بې حيائې او بدو کارونو څخه او دا قول د نبی عليه الصّلوة والسلام چې لمونځ د دين ستن ده اوزکات د اسلام پول دی او يا صفت مادحه دی په هغه اوصافو سر چې کومو او صافو لره متقين متضمن دي.

تشريح: الله جلّ جلاله لمونځ موقوف عليه د فعل حسنات لپاره ګرځولی او په حديث کې زکات موقوف عليه د فعل حسنات لپاره ګرځولی شوی دا په دې دلالت کوي چې په مالي عبادت کې زکات او په بدني عبادت کي لمونځ اولی دی او دا حديث بيهقي به شعيب الايمان کې حضرت عمر (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) نه روايت کړی.

(قنطره) پول ته وائې لکه اسد الاحناف علامه امام زاهدکوثري رحمه الله فرمائي: اللامذهبية قنطرة اللادينية، او شيخ صاحب ورسره کبری لګوي والمماتية قنطرة اللامذهبية نتيجه داشو چې المماتية قنطراللادينية[3].

---

(۱):- سورة العنكبوت : آية ٤٥.

(۲):- دا يو حديث نه دي بلکه دوه احاديثه دي دا لُف نشر غيرمرتب ده لومړی حديث اخرجه الديلمي : ۲۷۹٥ والطبراني كما المقاصد ٦۳۲ من حديث علي رضى الله عنه وذكره السخاوي فى المقاصدحسّنه : ٦۳۲ ايضا وقال اخرجه البيهقي بسند ضعيف حديث عكرمه عم عمر مرفوعًا ونقل البيهقى عَن شيخه الحاكم انّه قال عكرمة لم يسمع من عمر قال : رواه ابن عمر و اورده خاحب الوسيط ولم يقف عليه ابن الصلاح فقال فى مشكل الوسيط انّه غير معروف وقال النّووي فى التنقيح: منكر . قال السخاوي : ثم رواه ابو نعيم شيخ البخاريفى كتاب الصلوة عن حبيب بن سليم عن بلال بن يحيى قال جاء رجل الى النبي صلّ الله عليه وسلّم يسئله عن الصلوة فقال: ا لصّلوة عمودالدين وهو مرسل ورجاله ثقات. وله شواهد (۱) اخرجه الترمذي: برقم ۲٦۱٦ . والنسائي فى الكبرى برقم ۱۱۳۹٤ . وابن ماجه برقم ۳۹۷۳ عم معاذبن جبل رضى الله عنه رأس الامر الاسلام وعموده الصلوة) وقال الترمذى هذا حديث حسن صحيح.

(۳):- قنطره اوجسر کې فرق دادی چې قنطره هغه پول ته وائي چې په اوبو تيرشوی وي او جسر عام دی (فروق اللغات : ۹۹ والبروق فى انواع الفروق :۱۷۲.

فرق په مابین د صفت مادحه او صفت موضحه کې دا دی: په صفت موضحه کې صرف وضاحت مقصود وي او په مادحه کې صرف مدحه د موصوف مقصود وي.

تفسیربیضاوي: (وَتَخْصِيص الِايمانِ بالغَيب وَاقامَةالصَّلاةِ وَإيتاءِ الزَّكاةِ بِالذّكر اِظهار لفَضلهَا عَلى سَائريَدخلُ تحتَ اسمِ التَّقوى أَوعلى أَنّه مَدح منْصوب أَومرفُوع بِتَقديرِ أَعنى أوهُم الذِينَ وَإمَّا مفْصولٌ عنه مَرفُوع بِالابْتداءِ وَخبرُه (أُولئك عَلَى هُدًى) فَيكُون الوَقْف على المُتَّقين تامًا)

ترجمه: او تخصیص د ایمان بالغیب او اقامت الصلاة او أیتاء الزکاة یې وکړو په ذکر سره (یوازې یې دا ذکر کړل) لپاره د اظهار د فضیلت د دې په نورو ټولو هغو اشیاء باندې چې داخلیږي لاندې د اسم دتقوی نه. او یا «الذین» د للمتقین لپاره مدح ده منصوب ده په تقدیر داعنی سره اویا مرفوع ده په تقدیرد هم الذین سره او یا مفصول دی للمتقین نه یعنې څه تعلق ورسره نه لري اومرفوع ده بناء برابتدائیت او خبرئې اولئک علی هدًی دی نو بیا په للمتقین باندې وقف تام دی.

تشریح: تردې ځای پورې د مجرور بحث وو اوس د منصوب اومرفوع احتمالات ذکرکوي.

(۲) **احتمال د نصب**: دا «الذین» یا مدح ده لپاره دللمتقین او منصوب ده په تقدیر داعنی سره دی ای اعنی الذین یؤمنون.

(۳) **احتمال درفعې**: یامرفوع ده په تقدیر دهم سره نو «هم» مبتداء الذین یؤمنون ئې خبر.

د وقف اقسام مونږ مخکې بیان کړي دي دلته وقف تام دی ځکه وقف تام دې ته وائې چې په داسې ځای وقف وشي چې مابعد د کلام ماقبل ته محتاج نه وي او دلته هم داسې ده.

(بحث الایمان)

تفسیربیضاوي: (وَالایمَانُ فی اللُّغة عِبارةٌ عن التَّصدیقِ مَأخوذٌ منَ الأَمن كأنّ المُصدِق أمن المُصدَّق مِنَ التَّكذِیب وَالمُخَالَفة وَتَعدیَّته بِالباءِ لِتَضمُّینهِ معنی الاعْتِرافِ وقَد یُطلقُ بمعنی الوُثُوق مِن حَیثُ أَنّ الوَاثِقَ صَار ذَا أَمْنٍ، وَمنه مَا أَمنتُ أنْ اجدُ صُحابةَ وكِلا الوَجهینِ حُسْنٌ فِی یؤمنونَ بالغَیب)

ترجمه: او ایمان په لغت کې له تصدیق څخه عبارت دی او له امن نه مأخوذ دی ګویا چې تصدیق کونکی مصدق خپل د تکذیب او مخالفت نه په امن کړو او تعدیت د ایمان په باء سره دی ځکه دا متضمن ده معنی د اعتراف لره کله په ایمان باندې د وثوق اطلاق کیږي له دې حیثیت چې وثوق کونکی هم په امن او مطمئن شي او له دې نه «ما امنت» مأخوذ دی ای ما وثقت زما اعتماد نه وو چې زه به دوستان وموم (دلته یؤمنون په معنی د یوثقون شو) او دلته په یؤمنون بالغیب کې دواړه وجې حسنې دي (یعترفون اویوثقون).

تشریح: **دویم بحث**: له دې ځایه د ایمان بحث او تحقیق کوي چې ایمان په لغت کې څه ته وائې او دا یوه مشکله مسئله ده شیخ الحدیث شهید حسن جان رحمه الله به فرمائل چې زه تر اوسه د ایمان په معنی نه پوهیږم.

ایمان مزید دی او د دې مجرد امن راځي امن اطمینان ته وائې او دا امن متعدي دی یو مفعول ته نو چې کله مجرد متعدي وي یو مفعول ته او بیا ته له دې نه صیغه د مزید جوړه وې نو همزه د باب افعال به پکې راوړې نو د امن نه به ایمان جوړشي په دې کې بیا دوه کاره کیږي کله داسې کیږي چې دا متعدي شي دوه مفعولوته او کله داسې وشي چې دا متعدي لازمي شي؛ نو که ته دا متعدي یو مفعول ته متعدي کړې دوه مفعولو ته نو بیا به داسې وائې امنته غیری معنی دا چې د غیرنه مي مطمئن کړو او که لازمي ئې کړي نو بیا به داسې وائې صرت ذا امن زه په خپله مطمئن شوم دا یو معنی د ایمان شو چې منقول عنه ده.

دوهم معنی: دوهمه معنی د ایمان تصدیق او وثوق دی او دا منقول الیه معنی ده بعضو علماءؤو پکې فرق کړی هغه داسې چې ایمان د امنته غیری نه رانقل کړی شو تصدیق ته او د صرت ذا امن نه رانقل کړی شو وثوق ته یعنې د تصدیق لپاره منقول عن متعدي معنی ده او د وثوق لپاره منقول عنه لازمي معنی ده اوس ایمان په دې دواړو معناګانو کې استعمالیږي او په دې دواړو کې استعمال د ایمان حقیقت لغوي ده او که حقیقت عرفي دی او که مجازدی نو په دې کې د علماءوو اختلاف دی.

(۱) بعضې علماء وائي چې په دې کې ئې استعمال په طریقه د مجاز دی لکن دا صحیح نه قوي ده.

(۲) بعضې علماء وائې چې په دې کې ئې استعمال په طریقې د حقیقت عرفي ده او دا صحیح او راجح دی.

(۳) او د قاضي بیضاوي رحمه الله د عبادت نه دا معلومیږي چې په دې کې ئې استعمال حقیقت لغوي دی خو دا لغت په مقابله د مجازکې دی چې متناول شي لغوي او عرفي دواړو ته کله چې ایمان په معنی دتصدیق وي بیا به دا متعدي بالذات وي او کله چې متعدي په باء سره وي نو بیا به متضمن وي معنی د اعتراف لره، او دا دواړه معناګانې چې تصدیق او وثوق دی استعمال ئې په یؤمنون بالغیب کې حسن دي لکه وائې (یصدقون بالغیب) نو معنی به داشي دوی د غیبو په شیانو تصدیق کونکي دي. (ویوثقون بالغیب) نو معنی به داشي دوی دغیبو په شیان اعتماد کونکي دي.

(په ایمان کې د مذاهبو اختلاف)

تفسیربیضاوي: (وَأَمَّا فى الشَّرعِ فَالتَّصدِيق بمَا عُلِمَ بِالضَّرورُة أَنّه مِن دينِ مُحَمّدصلّى الله عليه وسلّم كَالتَوحيْد وَالنّبوةِ وَالبَعث وَالجَزَاء وَمَجْمُوع الثَّلاثَة أُمور اِعتِقادِ الحَقّ والاِقْرار بِه والعَمل بِمقتَضاهُ عنْد الجُمهُورِالمُحدِّثينَ وَالمُعتزِلةِ وَالخَوارِج [1]) -

ترجمه: او ایمان په شرع (اصطلاح) کې تصدیق په هغه احکامو او عقائدو چې کوم بداهۃ او قطعًا معلوم شوي وي چې دا له دین د محمد (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) څخه دي لکه توحید نبوت بعث

(۱):- دا مسئله محدثین د ایمان د بساطت اوترکیب ترعنوان لاندې څیري او همدغه مذاهب پکې دي چې (۱) جهمیه (۲) مرجیه (۳) معتزله اوخوارج (٤) امام شافعي اوجمهور محدثین (٥) امام ابوحنیفة او جمهور متکلمین.

بعد الموت او جزاء د اعمالو نو مجموعه د ایمان دړي امور دي عقیده په حق او اقرار په حق او په مقتضی د حق عمل کول په نزد د جمهورو محدثینو ، معتزله[1] وو او خوارجو.

تشریح: ایمان کښې ټول دولس مذاهب دي د هغې هسې تفصیل درته په مشکوٰة کښې تیرشوي دلته یوازې اجمالاً څو مذاهب بیانوو،

(۱) ایمان په اصطلاح کښې فقط تصدیق قلبي نه مراد دی او اقرار لساني د دنیوي احکامو د جاري کولو لپاره ورته شرط دی او دامذهب د محقیقینو دی لکه امام ابو منصور الماتریدي رحمه الله ، امام ابو حنیفه رحمهٔ الله هم یو روایت دی او حمهور محققین.

(۲) یا ایمان په اصطلاح کښې عبارت دی له تصدیق قلبي او اقرار لساني دواړو نه دا مذهب داکثرو احنافو دی لکه شمس الائمه السرخسي فخر الاسلام بزدوي و غیره (رَحِمَهُمُ اللهُ).

(۳) یا ایمان په اصطلاح کښې عبارت دی له تصدیق قلبي ، تصدیق لساني اوعمل بالارکان دړې واړو نه او دا مذهب د جمهورو محدثینو ، متکلمینو ، معتزله او خوارجو دی .

(۴) ایمانعبارت دی یوازې له شهادتینو څخه دا مذهب د کرامیه و دی

(۵) ایمان صرف اعمالو نوم دی هغه کول د یو فعل وي او یا ترک د فعل وي

(۶) ایمان عبارت دی یوازې له اعمالو مفروضه و څخه.

(۷) ایمان عبارت دی یوازې له معرفت د الله (جَلَّ جَلَالُهُ) څخه دا مذهب قدریه و د یو جماعت دی.

(۸) ایمان عبارت له معرفت الهي او له معرفت ماجاء به رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ).

---

(۱): تاج العروس (۲۹/ ٤٦٨)

والمُعْتَزِلَةُ: فِرْقَةٌ مِنَ القَدَرِيَّةِ، زَعَمُوا أَنَّهُم اعْتَزَلُوا فِئَتَي الضَّلاَلَةِ عِنْدَهُم، أَي أَهْلَ السُّنَّةِ والجَمَاعَةِ، والخَوَارِجَ الذينَ يَسْتَعْرِضُونَ النَّاسَ قَتْلاً، أَو سَمَّاهُمْ بِهِ سَيِّدُ التَّابِعِينَ الحَسَنُ بنُ يَسارٍ البَصْرِيُّ، لَمَّا اعْتَزَلَهُ واصِلُ بْنُ عَطاءٍ، وكانَ مِنْ قَبْلُ يَخْتَلِفُ إِلَيْهِ، وَكَذَا أَصْحَابُهُ، مِنْهُم عَمْرُو بنُ عُبَيْدٍ، وغيرُه، إلى أُسْطُوانَةٍ مِن أُسْطُوانَاتِ المَسْجِدِ، فَشَرَعَ وَاصِلٌ يُقَرِّرُ القَوْلَ بِالْمَنْزِلَةِ بَيْنَ المَنْزِلَتَيْنِ، وأَنَّ صَاحِبَ الكَبِيرَةِ لاَ مُؤْمِنٌ مُطْلَقٌ وَلَا كَافِرٌ مُطْلَقٌ، بَلْ)هُوَ بَيْنَ المَنْزِلَتَيْنِ، كجَمَاعَةٍ مِنْ أَصْحَابِ الحَسَنِ، فقالَ الحَسَنُ: اعْتَزَلَ عَنَّا واصِلٌ، فسُمُّوا المُعْتَزِلَةَ لذلكَ. وقالتِ الخَوارِجُ بِتَكْفِيرِ مُرْتَكِبِي الكَبائِرِ، والحَقُّ أَنَّهم مُؤْمِنُونَ، وإِنْ فَسَقُوا بالكَبائِرِ،

د بالضرورة دوه ترجمې:

اوله ترجمه: يوه علامه زمخشري رحمه الله کړې هغه دا چې بالضرورة نه هغه احکام مراد دي کوم چې مشهوره وي عندالخواص والعوام دا به خواصو او عوامو ټولو ته معلوم وي او په دې معنا او ترجمې سره تصديق ايمان دی او عدم تصديق بيا کفر دی نو د ايمان معنی به داشي په هغو احکامو د صديق کول کوم چې خواصو او عوامو کې مشهور وي.

سوال: که چيرته يوه مسئله عوامو کې نه وي مشهوره ، لکه عواموته اکثره د لمانځه او ودس فرائض نه وي معلوم نو پکار دی چې دا عوام کافر شي ؟

جواب: دلته له عوامو نه مراد علماء دي اوله خواصو نه مراد مجتهدين دي .

دوهمه ترجمه: علامه سعدالدين تفتازاني رحمه الله د ماعلم بالضرورة نه مراد هغه چې د هغې ثبوت په دليل قطعي سره وي يعنې چې قطعي الثبوت او قطعي دلالت وي او دا معنی صحيح هم ده.

قاضي بيضاوي رحمه الله د محققينو مذهب غوره کړی دی او دوهم مذهب ئې روښته ذکر کړی او دريم مذهب ئې هم دلته ذکر کړی دی چې ايمان مجموعه د دې شيانو ده تصديق قلبي اقرار لساني او عمل بالارکان په دې درې واړو کې دوه اتفاقي دی او يو اختلافي ده.

تفسیربیضاوي: (فَمنْ أَخلّ بِالاعْتقَادِ وَحدهُ فهُو مُنافِق ومَن أَخلّ بِالاقْرارِ فَكافِرٌ ومَن أَخلّ بِالعَمل فَفاسقٌ وَفاقًا وَ كافِرٌ عندَالخَوارِجِ[1] وَخَارِجٌ عنِ الايمَانِ غَير دَاخِل فى الكُفرعِندَالمُعتَزلة).

ترجمه: نو چا چې خلل (نقصان) يوازې په اعتقاد کې وکړو دا منافق دی او چا چې خلل په اقرار کې وکړو دا کافر دی او چا چې خلل په عمل کې وکړو نو دا فاسق دی اتفاقًا او کافر دی په نزد د خوارجو او خارج دی له ايمان څخه او داخل نه دی په کفر کې په نزد د معتزله وو.

---

(۱) الخَوَارِجُ : يَقُولُ الجُرْجَانِيُّ : هُمُ الَّذِينَ يَأْخُذُونَ العُشْرَ مِن غَيْرِ إِذْنِ السُّلْطَانِ . وَهُمْ فِي الأَصْلِ كَانُوا فِي صَفِّ الإِمَامِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي القِتَالِ ، وَخَرَجُوا عَلَيْهِ لَمَّا قَبِلَ التَّحْكِيمَ . قَالُوا : لِمَ تُحَكِّمْ وَأَنْتَ عَلَى حَقٍّ وَيَقُولُ ابْنُ عَابِدِينَ : إِنَّهُمْ يَرَوْنَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى بَاطِلٍ بِقَبُولِهِ التَّحْكِيمَ ، وَيُوجِبُونَ قِتَالَهُ ، وَيَسْتَحِلُّونَ دِمَاءَ أَهْلِ العَدْلِ ، وَيَسْبُونَ نِسَاءَهُمْ وَذَرَارِيَّهُمْ ، لأَنَّهُمْ فِي نَظَرِهِمْ كُفَّارٌ . وَأَكْثَرُ الفُقَهَاءِ يَرَوْنَ أَنَّهُمْ بُغَاةٌ ، وَلا يَرَوْنَ تَكْفِيرَهُمْ ، وَذَهَبَتْ طَائِفَةٌ مِنْ أَهْلِ الحَدِيثِ إِلَى أَنَّهُمْ كُفَّارٌ مُرْتَدُّونَ . الموسوعة الفقهية

تشریح: په اولنیو دوه وو حکمونو (چې منافق او کافر دی) کښې اتفاق دی چې اقرار او عمل ئې وي او تصدیق ئې نه وي دا منافق دی اتفاقًا دوهم چې تصدیق او عمل ئې وي خو اقرار ئې نه وي دا کافر دی اتفاقًا ده دریم چې اقرار او تصدیق ئې وي خو عمل ئې نه وي د ده په فسق کې اتفاق دی خو خوارج ورته بیا هم کافر وائي او معتزله خارج من الایمان او غیر داخل په کفر کې ورته وائي.

خوارج ورته ځکه کافر وائي چې دوی وائي چې کفر عبارت له عدم الایمان څخه دی نو د ده ایمان هم نشته ځکه کافر دی او معتزله نه ورته کافر وائي او نه مؤمن ځکه دوئ وائي کفر عبارت دی له تکذیب نه په عدم عمل سره خو له ایمان نه ووت خو تکذیب ئې لا ندی کړی نو په کفر کې نه دی داخل.

معتزله د خپلې دعوې لپاره دلیل وایي:

عن أبي هريرة رضي الله عنه، قال : قال النبي صلى الله عليه وسلم : لا يزني الزاني حين يزني وهو مؤمن، ولا يشرب الخمر حين يشرب وهو مؤمن، ولا يسرق حين يسرق وهو مؤمن، ولا ينتهب نهبة، يرفع الناس إليه فيها أبصارهم حين ينتهبها وهو مؤمن.[1]

کوم کس چې زنا کوي په دغه وخت هغه مومن نه وي کوم کس چې غلا کوي په دغه وخت کې هغه مومن نه وي.

نو له دې حدیث څخه ثابته شوه چې د ارتکاب د کبیرې په وخت کې ایمان نفي کیږي نو علومه شوه چې عمل د ایمان په حقیقت کې داخل دی

(۱) صحيح البخاري - كتاب المظالم والغصب
باب النهي بغير إذن صاحبه - حديث:۲۳٦۳ احدثنا سعيد بن عفير، قال : حدثني الليث، حدثنا عقيل، عن ابن شهاب، عن أبي بكر بن عبد الرحمن، وعن سعيد، وأبي سلمة، عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم مثله " إلا النهبة "

تفسیربیضاوي: (وَالَّذی یَدُلّ علی أَنَّه التصْدیقُ وحدَه أَنه سُبحانَه تعالی أَضافَ الاِیمانَ الی القَلْب فَقالَ (اُولئِک کَتَبَ فِی قُلُوْبِهِم الاِیْمَان) ﴿١﴾ (وَقَلْبُهُ مُطْمَئِنٌّ بِالایمان)﴿٢﴾ (وَلَمْ تُؤمِنْ قُلُوْبهم)﴿٣﴾ (ولَمّا یَدْخُل الایْمان فی قُلُوبکُمْ ﴿٤﴾).

ترجمه: او په دې بره باندې چې ایمان صرف د تصدیق نوم دی دا دلیل دي چې الله جلّ جلاله د ایمان نسبت او اضافت زړه ته کړی الله تعالی فرمائي [٥] الله جلّ جلاله په زړه دمؤمنانو کې ایمان کلک کړی وو (١) او زړه د هغه په ایمان باندې مطمئن وي (٢) او زړونو د دې خلکو ایمان نه دی راوړي (٣) لا تراوسه ایمان په زړونو د دوئ کې نه دی داخل شوی.

تشریح: دلته مصنف درې قسمه دلائل وړاندې کوې اول د د مذهب د اثبات لپاره دویم دمخالف مذهب د نفي لپاره دریم داړه طرفه جامع دلیل.

اول قسم دلایل : محقیقینو وایي ایمان یوازې تصدیق قلبي دی عمل او اقرار دواړه خارج دي، ځکه ایمان په زړه کې دی او اقرار اوعمل په زړه کې نشته بلکې په جوارحو سره کیږي او په دلیل کې یې څلور ایاتونه پېش کړي له دې پرته نور هم ګڼ ایاتونه شته چې د ایمان نسبت پکې زړه ته شوی دی.

تفسیربیضاوي: (وَعطفَ عَلیهِ العَمل الصَّالح فِی مَواضِع لَاتُحصی وَقَرَنَه بِالمَعاصِی فَقَال تعالی(وان طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِیْنَ اقْتَتَلُوْا [٦] (یَاَیها الَّذِیْنَ اَمَنُوْا کُتِبَ عَلَیْکم القِصَاصُ فِی القتلی) [٧] (اَلّذین اَمَنُوا وَلَمْ یلبسوا اِیْمَانهم بظُلمٍ)[٨].

---

(١):- سورة المجادلة : آية (٢٢).
(٢):- سورة النحل : آية (١٠٦).
(٣):- سورة المائدة : آية (٤١).
(٤):- سورة الحجرات: آية (١٤).
(٥):- سورة الحجرات: آية (٩).
(٦):- سورة الحجرات: آية (٩).
(٧):- سورة البقرة: آية (١٧٨).
(٨):- سورة الانعام: آية (٨٣).

ترجمه: او الله جلّ جلاله په بې شماره ځايو کې عطف د عمل صالح په ايمان کړی دی او الله جلّ جلاله يو ځای ذکر کړی ايمان د معاصيو سره الله جلّ جلاله فرمائي: که دوه ډلې دمؤمنانو په خپل منځ کې سره جنګ کوي، بل ځای فرمائي ای مؤمنانو په تاسو قصاص فرض کړی شوی دی په باره د مقتولينو کې، کې بل ځای فرمائي: هغه خلک چې ايمان ئې راوړی وي اوظلم سره ئې يوځای کړی نه وي. 22

تشريح: دلته مصنف رحمه الله دويم قسم دلايل بيانوي او رد کوي په محدثينو خوارجو اومعتزله وو هغه داسې که عمل په ايمان کې داخل وائي نو الله جلّ جلاله عطف د اعمالو ولې؟ په ايمان کولو اوپه معطوف او معطوف عليه کې تغيروي دغسې يې له ايمان سره د ګناهونو تذکره کړې ده نو معلومه شوه ايمان اوعمل کې تغاير دی او ايمان د ګناهونو باجود هم باقي پاتې کيدی شي لکه په اياتوونو کې تذکره وشوه.

قانون: يو حکم دی بل موصوف دی او بل صفت دی نو دا صفت به په موصوف کې په وخت د حکم کې وي لکه دلته چې ذوات ذمؤمنانو موصوف دي په صفت د ايمان سره اويو حکم پرې مرتب شو چې اقتتلو دی نو داحکم به په وقت الايمان کې پرې مرتب وي همدغه شان په دې نورو آياتوکې نو د دې قاعدې د قتال په وخت کې په طائفتان کې ايمان موجود دی اګر که فتل اشدّ ګناه ده .

(دلائل عقلي)

تفسيربيضاوي: (مَع مَا فيهِ منْ قِلَّة التَّغيِيْر فانّه أقرب الى الأَصل وَهومُتعيّن الارَادةِ فِي الأُيةِ اذَالمُعدَّى بِالباءِ هُو التَّصديق وَفاقًا)

ترجمه: سره له دينه چې په مذهب دمحقيقينو کې قلت تغير دی ځکه دا معنی لغوي ته ورنزديده او ايمان په معنی د تصديق متعين الارادة ده ځکه متعدي بالباء تصديق دی اتفاق.

تشريح: له دينه مخکې دلائل نقليه وو اوس دليل عقلي ذکرکوي او دا دريم قسم دليل دي کوم چې جامع دی دواړو مفهومونو لره هغه داچې دلته په لغوي معنی چې وثوق دی او اصطلاحي معنی چې التصديق بماعلم مجئ النبی (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) بالضرورت صرف قيدونه زيات شو نور

فرق نشته یعنې یو مطلق دی او بل مقید دی او په نورو تعریفونو کې په لغوي او اصطلاحي معنی کې صرف قیدونه نه زیاتیږي بلکه ډیر فرقونه راځي ځکه لغوي معنی کې ایمان بسیط دی چې یوازې تصدیق دی او اصطلاحي معنی کې مرکب کیږي چې التصدیق والاقرار والعمل دی نو په دې مذاهبو کې فرق د بساطت او ترکیب دی او په اول مذهب کې فرق د مطلق او تقید دی او د مطلق او مقید په مابین کې فرق کم وي په نسبت سره بسیط او مرکب ته نو معلومه شوه چې د محققینو مذهب اقرب الیالاصل دی او نور ابعد من الاصل دي او اقرب راجح وي په نسبت سره ابعد ته.

د معتزله و له دلیل ځخه جواب: په حدیث کې چې نفي د ایمان راغلي په وخت ګناه کبیرې کې هلته له ایمان ځخه کامل ایمان مراد دی یعنې زاني په وخت زنا کې کامل مومن نه دی یا له ایمان ځخه مراد طاعت دی په دغه وخت د ګناه بنده مطیع نه وي یا دا په طور د تشبیه ده یعنې د زنا په وخت کې مومن داسې دی لکه لامومن.

تفسیربیضاوي: (ثُمّ أُختُلِف فِي أَنّ مُجرّد التّصدیق بِالقلْب هَل هُوکَافٍ لأَنّه المَقصُود أَم لَابُدّ مِنَ انْضِمام الإِقْرار بِه لِلْمُتَمَكّن مِنه وَلَعل الحَقَّ هُوالثَّانی لانّه تعالی ذَمَّ المُعَانِد أَكثرَ مِن ذَمِّ الجَاهل المُقْصِر وَلِلمَانع أَن يجْعَل الذّم لِلانكَار لَا لعدمِ الاقْرارِ لِلمُتمَكّن منهُ)

ترجمه: بیا په دې خبره کې اختلاف دی چې یوازې تصدیق بالقلب کافي دی لپاره د حصول د نجات او که نا، ځکه تصدیق قلبي مقصود دی او که لابدي ده له انضمام د اقرار نه لپاره دهغه چاچې قدرت ئې په اقرار حاصل کړی وي او کیدی شي چې دا دوهم مذهب حق وي ځکه الله جلّ جلاله دمعاند زیات مذمت کړی دی د مذمت د جاهل نه هغه جاهل چې مقصروي او د معاند او معترض لپاره داخق شته چې وګرځوي (متوجه کړی) ذم لپاره د وجود د انکارنه لپاره د عدم اقرار د چا چې قدرت په اقرار وي.

تشریح: دا هغه دوهم مذهب دی داکثراحنافو دلته د محققینو او ا اکثر احنافو په مسلک کې فرق کوي په دې کې خو د دواړو اتفاق دی چې ایمان عبارت له تصدیق قلبي ځخه دی اختلاف په دې کې دی چې اقرار لساني د مجابت او خلاصي لپاره ضروري دی او که نا؟ محققین وایي چې

صرف تصديق قلبي كافي دي اقرار ضروري نه دی لکه امام غزالي رحمه الله وايي كه يو سړی الله تعالی په دلايلو سره وپيژني او دومره وخت هم ورته ميلاو شي چې اقرار په کې وکړي و ده اقرار ونه کړو نو د ده دا عدم اقرار د هغو گناهونو قايمقام دی کوم چې د ايمان سره له سړي نه صادر يږي هم دا رنګه په حديث کې راځي چې که د چا په زړه کې د زرې برابر ايمان هم وي هغه به مخلد في النار نه وي او اکثر احناف وايي چې اقرار د ايمان رکن زايد دی .

قاضی صيب دويم مسلک ته حق ويلي او دليل يې دا بيان کړی چې څوک سره له تصديق قلبي اعتراف او اقرار نه کوي هغه معاند دی او الله تعالی د معاند مذمت زيات بيان کړی په نسبت سره جاهل ته لکه الله تعالی جاهل ته کلمه د لايعلمون استعمال کړې (ومنهم لايعلمون الكتب الا امانيّ وان هم الا يظنون) او معاند ته يې کلمه د «ويلٌ» استعمال کړې ده (فويل للذين يكتبونه الكتاب ...) نو معلومه شوه چې له تصديق قلبي سره د اقرار ضرورت شته[1] .

(۱):- په ايمان کې بله اختلافي مسئله دزيادت اونقصان ده : (۱) امام ابوحنيفة اوجمهور متکلمين وائي ايمان بسيط دي زيادت اوکمې (نقصان) پکې نشي راتلل، ځکه زيادت اونقصان په هغه څه کې راځي چې مرکب له اجزاء څخه وي. (۲) آئمه ثلاثه اوجمهور محدثين وائي ايمان مرکب دی اعمال پکې داخل دي نوپه اعمالو کې زيادت اونقصان راځي ځکه ايمان زيادت اونقصان قبلوي، اصل کې دا اختلاف يو ظاهري اختلاف دی حقيقي ندی امام ابوحنيفة رحمه الله چې وائي ايمان زيادت اونقصان نه قبلوي هغه نفس ايمان يادوي اوله دينه آئمه ثلاثه هم انکارنه کوي او آئمه ثلاثه دزيادت اونقصان قائل دي هغه کمال دايمان يادوي اوله دينه امام ابوحنيفة رحمه الله انکارنه کوي (۳) اختلافي مسئله په ايمان کې هغه نسبت ده په مابين دايمان او اسلام کې په دې مسئله کې څلور قوله دي (۱) آئمه ثلاثه جمهور محدثين معتزله اوخوارج دوئ وائي د ايمان او اسلام په مابين کې دوجود اومفهوم په اعتبار سره مساوات اوترادف دی (۲) امام ابوحنيفة رحمه الله اوجمهور متکلمين وائي دمفهوم په اعتبارسره جدا جدا دي خو د وجود په اعتبار سره پکې نسبت دعموم خصوص من وجه ده (۳) ملاعلي القاری رحمه الله وائي د ايمان او اسلام په مابين کې نسبت دعموم خصوص مطلق دی (٤) سيدمرتضی زبيدي رحمه الله وائي تغاير في المفهوم تلازم في الاعتبار دی (مرقاةالمفاتيح :۱ / ۱۷ وفيض الباری : ۱ / ٤٥.

(بحث دغیب)

تفسیربیضاوي: (وَالغيْب مَصدرٌ وُصِفَ به لِلمُبالِغةِ كَالشَّهادة فى قَوله تعالى (عالم الغَيْبِ وَالشَّهادَة) [(١)] وَالعَرب تُسمَّى المُطمَئِنَّ منَ الأَرض وَالخِمصَةالَّتى تَلِىَ الكُلية غَيبًا)

ترجمه: اوغیب مصدردی او په دې سره ذوات مبالغةً موصوف کیدای شي لکه شهادت په دې قول دالله تعالی کې الله جلّ جلاله عالم دی په ښکاره او پټو شیانو اوعرب ژورې ځمکې ته غیب وائې.

تشریح: **دریم بحث** : له دې ځای نه د غیب تحقیق کوي په صیغه د غیب کې دوه احتماله دي یاصیغه دمصدرده یا صیغه دصفت مشبه ده که مصدر شي معنا به یې د پټېدو وي او دا په ځلورو اوزانو سره راځي ،غیباً، غیبةً، غیاباً له دینه روسته معنی دغیب ذکرکوو هغه داچې په دې کې درې احتماله دي که دا باء د تعدیت لپاره شي نوغیب نه به اشیاء غائبه مرادوي اوکه باء دمصاحبت لپاره شي نو د غیب نه به مراد خفاء او غیبوبت وي اوکه باء د الی په معنی شي نو دغیب نه قلب مرادوي (١) که اوله ترجمه شي چې غیب نه اشیاء غائبه مرادشي نومعنی به داشي چې ددوئ ایمان په اشیاء غائبه و باندې وو نوه په دې بیا اعتراض واردیږي.

سوال: ته وائې چې ددوئ ایمان دی په اشیاء غائبه و باندې وو ایمان خو تصدیق دی اوتصدیق علم دی نو د دوئ علم دی په اشیاء غائبه باندې وو او علم په غیبو خو دالله جلّ جلاله خاصه ده ؟

جواب: اشیاء غائبه په دوه قسمه دي یو هغه اشیاء غائبه دي چې دلیل عقلي یانقلي وربانديې نه وي اوبل هغه اشیاء غائبه دي چې دلیل عقلي اونقلي وربانديې وي نو زمونږ هغه اشیاء غائبه مراد دي چې دلیل عقلي یانقلي وربانديې وي لکه په عذاب قبر پل صراط وغیره.

سوال: دلته تاله غیب نه اشیاء غائبه واخیسته او بیادې پکې تخصیص وکړ چې هغه اشیاء غائبه مراد دي چې دلیل عقلي یانقلي وربانديې وي په دغو شیانو به ایمان وي نو په دې نورو به ایمان نه وي ؟

---

(١) سورة التوبة : آية (٩٣).

جواب: په هغو شيانو چې دلائل نقلي يا عقلي ورباندې نه وي په هغوئ ايمان اجمالي دی چې (الله يعلم الغيب كله) اوپه كومو چې دلائل نقلي يا عقلي وي په هغوئ ايمان تفصيلي دی. (۲) او كه غيب نه غيبوبت اوخفاء واخلې ددې بيا خپله دوه ترجمې دي (۱) داده چې مغيب عنه نبی عليه الصلوة والسلام دی (۲) داده چې مغيب عنه مؤمنان دي. كه مغيب عنه مؤمنان كړې نو ترجمه به داوي چې يؤمنون بالغيب دوئ ايمان لري په حالت دغيبوبت كې يعني رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)كه مؤمنان سره حاضروي هم ايمان ئې شته اوكه غائب وي هم ايمان ئې شته دمنافقانو په شان نه دي.

اوكه مغيب عنه نبی (عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ)كړې نو معنی به داشي يؤمنون بالغيب په حالت دغيبوبت عن النبی (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)كې دوئ ايمان لري په دې سره ټول مسلمانان مراد دي له تابعينونه ترقيامته پورې چې نبی (عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ) ئې نه دی ليدلی او دوئ پرې ايمان لري (۳)كه دغيب نه قلب مراد كړې نو ترجمه به دا شي يؤمنون بالغيب دوئ دزړه نه مؤمنان دي په خوله نه دي لكه منافقان[۱] نو په دې ټولو ترجموكې كومه ترجمه اولی ده د قاضي بيضاوي رحمه الله نه دا معلوميږي چې اوله ترجمه اولی ده او صاحب دروح المعانی وائې چې دوهمه اولی ده ځكه په اوله ترجمه دوه اعتراضات راغلي وو .دا دننۍ ورځ دټول درس خلاصه شوه.

---

(۱):- امام عبدالرحمن بن جوزي رحمه الله فرمائي چې په غيب كې شپږ اقواله دي (۱) ابن عباس او ابن جريج رضی الله عنهم وائي له غيب نه وحي مراد ده (۲) ابو رزين العقيلي او زربن حبيش رحمهما الله وائي الله جلّ جلاله ترينه مراد ده (۳) امام سدي له خپلو شيوخو څخه روايت كوي او ابوالعالية او دقتادة هم دغه رأيه ده دوی وائي چې له غيب نه مراد هغه څه دي چې په قرآن كې ذكردي خوله بندګانو څخه پناه دي لكه جنت، جهنم وغيره (٤) امام زهري رحمه الله وائي له غيب نه قَدَر وقار، جلال، اويا قضاء، د الله جلّ جلاله مراد ده (٥) ايمان په رسول الله ترينه مراد ده دهغه چا په حق كې چې ليدلی ئې نه ده عمروبن مرة رحمه الله فرمائي عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته خپلو ملګرو وويل څومره خوش نصيبه ئې له رسول الله صلّى الله عليه وسلّم سره دې ناسته او جهادونه كړي عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ورته وويل هو هغه چاچې نبی عليه الصلوة والسلام ليدلی دهغه مرتبه خو روښانه ده خو زه تعجب هغه چاته كوم چې يوازې په يوليكلي شوي كتاب به ايمان راوړي اورسول الله صلّى الله عليه وسلّم به هيڅ ليدلی نه وي بيا ئې دا آيت تلاوت كړ (الّذين يؤمنون بالغيب (زادالمسير: ۱ / ۲۸.)

تفسيربيضاوي: أوفَيعَلٌ خُفِّف كَقَيلَ وَالمُرادُ بِه الخَفَى الّذى لَايُدرِكُه الحِس وَلَايَقْتَضِيه بَدَيهة العَقل وَهُوقِسمان قسمٌ لَادَليلَ عَليه وَهوالمُعنى بِقولِه تعالى (وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَايَعْلَمُهَا اِلّا هُوَ [1]).

ترجمه: اويا دا فيعل وزن دى تخفيف يكې شوى لكه قيل اومراد په غيب سره هغه خفي شي دى چې حس ئې ادراک نه كوي اونه ئي بداهة العقل تقاضا كوي او دا غيب په دوه قسمه دى يو هغه قسم دى چې دليل ورباندې نه وي اوهمدغه مراد دى په دې قول دالله جلّ جلاله سره چې الله جل جلاله سره چابيانې دغيبو دي نه پوهيږي پرې بل څوک مگريو الله جلّ جلاله.

تشريح: غيب په وزن دفيعل دى په غيب كې خو درې حروف دي اوپه فيعل كې څلور دي نو څنگه هم وزنه شوه نو داوائې چې داپه اصل كې غييب دى بيايوه ياء په بله كې مدغمه شوه غيّب شو په تشديد سره نوبيا يكې تخفيف وشو يوه يا حذفه شوه نو غيب ترينه جوړشو لكه قيل كې چې تخفيف شوى په اصل كې قييل و نو قيل ترينه تخفيفا جوړ شو (والمراد) سره قاضي صيب دلته دا خبره بيانوي چې كوم ځاى كې د غيب لفظ راغلي د هغې معنا مراده به هغه شيان وي چې د هغې ادراک په حس سره نه كيږي او نه عقلا بديهي وي دا بيا دوه اقساموته تقسيموي يو هغه چې دلايل نقليه او عقليه ورباندې وي او دويم چې دا دلايل ورباندې نه وي

تفسيربيضاوي: (وَقسمٌ نُصِبَ عَليهِ دَلِيل كَالصّانِع وَصِفَاته وَاليَومِ الآخِر وَأَحوَالِهِ وَهُو الْمُرادُ بِهِ فِى هذهِ الآيَة)

ترجمه: دوهم قسم دغيب دادى چې دليل ورباندې وي لكه وجود د صانع (الله جلّ جلاله) اوصفات د الله جلّ جلاله او ورځ آخرنۍ او احوال ددې ورځې او مراد په دې آيت سره همدغه معنى ده.

تشريح: نو په دې باندې دليل عقلي يا نقلي شته چې الله جلّ جلاله صانع دعالم دى دالله جلّ جلاله صفات شته او ورځ آخرنۍ او دحوال د دې ورځې په دې ټولو دلايل موجود دي.

---

[1]:- سورة الانعام : آية (٥٩).

تفسيربيضاوي: (هَذا إِذَا جَعَلْتَه صِلة لِلايْمَان وَأَوقَعْتَه مَوقِع المَفعول بِهِ وإنْ جَعلْتَه حَالًا على تَقدِير مُلْتَبِسينَ بِالغَيبِ كَانَ بِمعنى غَيبَة وَالخَفَاء وَالمَعنى أَنّهم يُؤمنوهُ غَائِبِين عَنكُم لَا كَالمُنافِقين الّذينَ (إِذَا لَقُوالّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَالُوْا اٰمَنّا وَإذَا خَلَوْ اِلَى شَيَاطِيْنَهِمْ قَالُوْا اِنّا مَعَكُمْ [1]) .

ترجمه: له غیب نه دا معنی (چې دلایل نقلیه یا عقلیه وړاندې وي) په هغه صورت کې ده چې دا (بالغیب) صله لپاره دایمان شي او دا یؤمنون په ځای د مفعول به کې واقع کړې او که ته دا (جار مجرور) حال کړې نو په معنی دغائب والي اوپټ ولي به وي او معنی به داوي (ترجمه) چې دوئ (متقین) ایمان لرونکي وو په دې حال کې چې دوئ له تانه غائب وو ،نه په شان دمنافقانو (ترجمه) چې کله دمؤمنانو سره مخامخ شي نو وائي چې مونږ ایمان راوړی دی او چې کله دخپلو مشرانو د شیطانانو سره مخامخ شي نو وائې چې مونږ له تاسو سره ملګري یو.

تشريح: په دې ایت کې چې له غیب نه څه مرأد دي د دې باره کې درې اقوال دي او دریواړه موقوف دي په تعین د باء د بالغیب باندې ځکه د باء درې قسمونه دي اول د صلې لپاره دویم مصاحبت او دریم د استعانت لپاره نو که باء لپاره د صلي شي غیب صله د ایمان کړي او واقع ئې کړي په ځای دمفعول به یعنې مفعول به غیرصریحې ئې کړي د یؤمنون لپاره کمامرّ ، او که باء لپاره د مصاحبت شي نو غیب معنا به پټوالی وي او په دې وخت کې به بالغیب حال وي د یؤمنون د فاعل لپاره نو معنا به داشي او کوم کسان چې ایمان یې راوړی په داسې حال کې چې هغوی له تاسو نه غایب دي داسې لکه منافقان، نو له دینه زمونږ عقیده هم روښانه شوه چې دغیبو علم الله جلّ جلاله سره دی خو هغه غیب چې په هغې دلیل عقلي اویا نقلي نه وي نو د دې علم ذاتا او کلاً دواړه الله جلّ جلاله سره دي اوبل هغه غیب دي چې دلائل پرې قائم دي نقلي اویا عقلي نو دا غیب ئې بندګانو ته وربښودلی دی نو د دې علم مونږ سره شته خو الله راکړی یعنې جزي دی او اعطائي دی.

---

(۱):- سورة البقرة : آية (۱۳).

تفسيربيضاوي: (وَ عَن المُؤمِن بِهِ لمَا روى أَنّ ابن مَسعُود رضى الله عنه قَالَ وَالّذِى لَااِلَهَ غَيرهُ مَا أَمنَ أَحد أَفضَل مِن اِيمَان بِغَيب ثُمّ قَرأ هَذه الآية) [1] .

ترجمه: اويا حال شي دمؤمن به (محمد (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ)) نه لكه روايت كړى شوي د عبد الله بن مسعود (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ)چې په هغه الله جلّ جلاله مي دې قسم وي چې د هغه نه بل لائق دعبادت نشته ايمان نه دې راوړى هيچا چې افضل دي دهغه چانه چې ايمان ئې په غيبو راوړى بيائې دا آيت تلاوت كړ يؤمنون بالغيب.

تشريح: كله چې ايمان راوړونكى غايب شي نو مغيب عنه په څوک وي مغيب عنه صحابه كرام هم كيدلى شي او رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) هم كه صحابه كرام مغيب عنه شي معنا به داشي په داسې حال كې ايمان لري چې هغوى غايب دي له صحابه كرامونه او كه رسول الله مغيب عنه شي معنا به داشي په داسې حال كې ايمان لري چې هغوى غايب دي له رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نه او د دې قول تائيد دابن مسعود (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ)قول هم كوي چې د غائبينو ايمان له حاضرينو عند رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) غوره دى.

تفسيربيضاوي: (وَقِيل المُرادُ بِالغَيبِ القَلْبُ وَالمَعنى يُؤمنُون بِقُلُوبِهم لَا كَمَن يَقولُونَ بِأُفواهِهم مَا ليْسَ فِى قُلوبِهم فَالبَاء عَلى الاوّل لِلتَعدِيَّة وَعلى الثَانِى لِلمُصاحَبة وَعلى الثَّالِثِ لآلَة)

ترجمه: اوچا دغيب معنى په قلب سره كړي ده نومعنى به ئې دا وي چې دوى له زړونو ايمان راوړي نه پشان د هغه كسانو چې وائې په خپلو خولو هغه څه چې په زړه كې ئې نه وي نو بناء په اول باندې باء دتعديت لپاره ده او په ثانې كې دمصاحبت لپاره ده او په ثالث كې دآلې لپاره ده.

---

(۱):- قال سعيد بن منصور حدثنا ابو معاوية عن الاعمش عم عمارة بن عمير عن عبدالرحمن بن يزيد قال كنّا عند عبدالله بن مسعود جلوسًا فذكرنا اصحاب رسول الله صلّى الله عليه وسلّم وما سبقوا به قال: فقال عبدالله ان امر محمدصلّى الله عليه وسلّم كان- - بينًا لمن رأه وَالّذى لااله الّا غيره ما امن احد ايمانًا افضل من ايمان بغيب ثم قرأ (الٓمٓ ذلک الكتاب الى قوله (المفلحون) رواه الحاكم (۲۰۳۳)وصححه وابن مندة فى كتاب الايمان :(۱ /۳۷۱) باسناد صحيح وابن ابي حاتم وفى معنى هذالحديث رواه احمد.

تشریح: دا د باء دریم قسم دی چې دا لپاره د الې شي په دې صورت کې به د غیب نه مراد قلب شي نو معنا به دا شي چې هغوی له زړو څخه ایمان راوړی د هغو کسانو پشان نه دې چې په خولو څه وایي او په زړونو کې یې هیڅ نه وي دا درې اقوال دي د اول بنا به د تعدیت لپاره وي او دویم د مصاحبت او د دریم د الې لپاره.

(بحث یقیمون الصّلوة)

تفسیربیضاوي: (وَيُقِيْمُوْنَ الصَّلَوٰةَ) أى يُعَدِّلونَ أَرْكَانَهَا وَيَحْفَظُونها مِن أَنْ يَّقَعَ زَيْغٌ فِي أَفعَالِهَا مِنَ العود اِذَا قَوّمَهُ أَو يُواظِبُون علَيها مِن اِقامَت السُوق اِذا نَفَقَت أو اَقَمْتها اِذَا جَعَلتَها نَافِقَةً)

ترجمه: او دوئ قائموي لمونځونه ای هررکن دلمانځه برابر اداکوي او حفاظت کوي د نقصان واقع کیدلونه په افعالو دلمانځه کې دا دقام العود څخه مأخوذ ده چې کله زمیندار لرګی سیده کړي او یامعنی داچې په لمونځ باندې دوام کونکي وي او دا د اقامت السوق نه مأخوذ دی چې کله بازار رواج شي او ته ووائې چې ما بازار رواج کړ.

تشریح: له دې ځای مصنف دوه بحثونه کوي اول د یقیمون متعلق او دویم د صلاة متعلق د یقیمونه معناګانې بیانوي اول تعدیل الارکان دویم مواظبت او دریم تشتمرلاداء الصلاة څلورم مطلقه اداکول.

اوله معنا یعدلون دا چې یقیمون د یعدلون ارکانها په معنا ده یعنې د لمانځه ارکان په بغیر له کمې او زیاتې سره اداکوي او دا اخستل شوې له اقامت العود څخه عرب دا هغه وخت وایي چې کله کوږ لرګی نېغ کړي او استعاره تبعیه ده.

استعاره دیته وائې چې یو فعل مشابه کړې له یو مصدر سره او بیا د دې مصدر مشتقي په دې فعل کې مستعمل کړی نو دا استعاره بالتبعیه ده لکه یقیمون الصّلوة معنی ده یعدلون ارکانها یعدلون یو فعل دی او دا مشابه کړی شو د اقامت سره او اقامت دریدلو ته وائې یا له قیام سره چې دریدلو ته وائې دائې معنی لغوي ده او معنی حقیقت عرفي د اقامت تسویت الاجسام سره مشبه به یا د اقامت مصدر

مشتقي راغلو چې يقيمون ده په دې مشبه چې يعدلون دی په دې کې ئې مستعمله وو نو دا استعاره بالتبعيه شوه (يقيمون الصّلوة) وجه دشبه داده چې په يعدلون ارکانها کې تسويت افعال دی او په مشبه به کې چې اقامت دی تسويت الاجسام دی نو په دواړو کې تسويه ده.

دويمه معنا يواظبون: بله معنا د يقيمون يواظبون ده او دا اخستل شوې ده له قامت السوق څخه دا هغه وخت ويلی شي چې کله بازار رائج شي اقمت السوق هغه وخت ويلی شي چې کله بازار رائج کړې په دې معنا سره بله طريقه داستعارې بالتبعيه ده هغه دا چې يواظبون مشبه او اقامت په معنی د رواج اسوق (چليدل دبازار) سره اخلو چې دائې بله معنی حقيقت عرفي ده بيا د دې مشتقي مو را وا خيستلو چې يقيمون دی په دې فعل (يواظبون) کې مو مستعمل کړو نو دا استعاره بالتبعيه شو خو اوله استعاره قوي ده ځکه هلته وجه د شبه قريبه ده چې دواړه په تسويه کې سره شريک وو او دلته وجه دشبه لګ بعيده ده چې حسن ده ځکه په کوم شي چې هميشه والی کيږي هغه هم حسن وي او کوم بازار چې چليږي او رائج وي هغه هم حسن وي.

تفسيربيضاوي: (قَال أَقَامت غَزَالَةُ سُوق الضَّرَابِ.... لأَهلِ العِراقِين حَولًا قَمِيطًا.

ترجمه: شاعر وائې چې رائج کړ غزالې بازار د جنګ لپاره د اهل دکوفي او بصري پوره کال.

تشريح: مصنف دا شعر د دې لپاره ذکر کوي چې اقامت په معنا رائج کولو سره ده.

غزاله ديوې ښځې نوم وو او د دې د خاوند نوم شبيب الخارجي وو نو موړي حجاج قتل کړ کله چې د ښځه خبره شوه هغه ډېره شجاعه وه د مقابلې لپاره راغله او له ځان سره ئې د بصرې اوکوفې لښکر راوست په حجاج باندې يې حمله وکړه په دغه جنګ کې د حجاج سره دېرش زره لښکر و او له غزالې سره يوازې زرکسيز لښکر و په ډېره ثابت قدمۍ ورسره پوره يو کال وجنګېده اخر حجاج شکست وخوړ او غزاله راغله په جامع جومات کې يې د سحار لمونځ ادا کړ[1].

---

(۱):- دا د ايمن ابن حزيم د يوې لوئي قصيدې بيت ده قصيده دا ډول ده:

ابی الجناء من اهل العراق - علی الله والناس الاسقوطا-
- ايهزبهم مائتا فارسًا - من السافکين الحرام العبيطا
وخمسون من مارقات النساء - يجرون للمندبات المروطا

تفسیربیضاوي: (فانّه اِذا حُوفِظَ علَیها کَانَت کَالنَّافِقِ الّذِی یَرغَب فِیه وَاذَا ضَیَّعتْ کَانَت کَالکَاسِدِ المَرغُوب عنْه)

ترجمه: کله چې دا لمونځ په حفاظت وکړی شي دا پشان د چلیدلي بازاردی هغه چې خلک ورته رغبت کوي اوکله چې دا لمونځ ضائعه کړي شي بیا داسي دی لکه کوته روپۍ بازار کې څوک ورته رغبت نه کوي یعنې نه ورځې.

حل اللغات

معني	لغات	شماره
جنګ (قتل قتال)	حزّاب	۱
یوکال	قمیطًا	۲
چلیدونکی	نافق	۳
کوته	کاسد	۴
بازار	سوق	۵

تفسیربیضاوي: (أو یَتَشمّرُون لأَدائها مِن غَیرِ فُتُورٍ لَاتَوَان مِن قَولِهم قَامَ بِالأَمرِ وَأَقامَهُ اِذا جَدّ فِیه وتَجَلَّد وَضِدّهُ قَعَد عَنِ الأَمر وتَقاعَد او یُؤدُونها غَیرعن الأَدائهَا بِالاقَامة لِاِشْتمالهَا علی الْقِیام کَمَاعَبَّرعنِهَا بِالقُنوت وَالرُّکوع والسُّجودِ وَالتَّسبِیح وَالاوَّل أَظهر لأَنّه أَشهر و اِلی الحَقِیقَةِ أَقرب وأَفْیَدُ)

ترجمه: اوبدې ئې راوهلي وي لپاره اداء کولو د لمانځه بغیر دسستی او قصورنه او دا مأخوذ دی د دې قول نه چې قام بالامر و اقامه لکه فلانی کوشش اوسختي په کارکې کوي د دې

رأیت الغزالة اذ طرحت - بمکة هو دجها والغبیطا
سیمت للعراقین من سومها - فلاقی العراقان منها البطیطا
الا یتقی الله اهل العراق - اذا قلدو الغانیات السـوطا
وخیل غزاله تغتالهم - فیقتل کهل ابو فاء الوسیطا
اقامت غزاله سوق الضراب - لاهل العراقین حولًا قمیطًا

ضد قعد عن الامر دی چې فلانی دکار نه کیناست اویا مراد داچې دوئ لمونځ اداکوي لمونځ په اقامت مشتمل وي ځکه یې د صلاة تعبیر په اقامت سره وکړو لکه څنګه چې دصلوة نه تعبیرپه قنوت ،رکوع ،سجده اوتسبیح سره کیږي او اوله معنی اظهره ده ځکه دا اشهره ده او اقربه ده حقیقت ته اوډیره مفیده ده.

تشریح: دریمه معنا: دا د یقیمون دریمه معنا ده چې یتشمرون للأداء یعنې لمونځ بغیر له سستی او کوتاهی نه په ښه راستۍ او بیدارۍ سره ادا کوي دا اخستل شوي له قام الامر واقامه څخه دا عرب هغه وخت وایي چې کله یو کار په طاقت او کوښښ سره ادا کوي او د دې په مقابل کې قعد عن الامر وتقاعد راځي یقیمون په دې معنا سره مجاز مرسل دی.

مجاز مرسل: دیته وائې چې ذکر د ملزوم مراد ترینه لازم یا ذکر دکل مراد ترینه جزء او یا ذکر دسبب اومراد ترینه مسبب وي، چوستي اوچالاکي دا سبب دئ اودریدل (اقامت) ورته مسبب دی نو دلته ذکر د مسبب دی چې یقیمون الصّلوة دی او مراد ترینه سبب دی چې چستي اوچالاکې سره لمونځ کول دي نو دا مجازمرسل دی.

څلورمه معنا: د یقیمون بله معنا اداکول د لمانځه ده یعنې اقامت سره ادا کول مراد شوې ده نو دا هم مجازمرسل دی ځکه ادا کل دي او اقامت ترینه جزء دی، یعنې ذکر د جزدی او مراد ترینه کل دی او داسې مثالونه چې ذکر د جز او مراد ترینه کل وي په قران ډیر زیات دي لکه قنوت یو جز دي چې قیام ته وایي او په قرأن کې ټول لمونځ ترینه مراد کړی شوی دی لکه فرمایي (وکانت من القانتین) بل ځای الله تعالی فرمایی (والرکعوا مع الراکعین) دلته هم ذکر د جز دی چې رکوع ده مراد ترینه ټول لمونځ ده بل ځای فرمایي (وکن من الساجدین) دلته هم ذکر دسجدې او مراد ترینه ټول لمونځ دی بل ځای فرمایي (ولو لا انه کان من المسبحین) دلته هم ذکر د جز دی چې تسبیح ده او مراد ترینه ټول لمونځ دی، خو اوله ترجمه چې یعدلون ارکانها دی اظهره ده ځکه اشهره ده او حقیقي معنی ته اقربه ده ځکه دواړه سره شریکې دي په تسویه کې اوډیره مفیده ده.

تفسيربيضاوى: (لِتَضمّنهِ التّنبِيه عَلى أَنَّ الحَقِيق بِالمَدح مَن رَاعى حُدُودَها الظّاهرةِ مِنَ الفَرائِض وَالسّننِ وحُقُوقها البَاطِنة مِن الخُشُوع وَالاِقبال بِقَلبه عَلى اللهِ تَعالى لَا المُصلّون(الّذين هُمْ عن صَلَاتِهم سَاهُون [۱] وَلِذلِک ذَکر فِي سِياق المَدْح (والمقيمين الصّلوة [۲]) وَفِي مَعرَض الذَّمّ (فويلٌ للمصلّين [۳]

ترجمه: او له معنی ځکه مفيده ده چې متضمنه ده معنی د تنبه لره په دې خبره چې (يقيمون په ځای د مدح کې ذکردی) لائق د مدحې هر هغه څوک وي چې رعايت د حدودو د لمانځه کوي هسې حدود چې له فرائضو او سنتو څخه ظاهروي او هغه څوک چې د حقوقو باطنه وو د لمانځه رعايت کوي چې خشوع او په زړه سره الله جلّ جلاله ته متوجه کيدل دي نه هغه لمونځ گذار چې خپل لمونځ نه غافل وي له دې وجه نه يقينون الصلاة په سياق د مدح کې ذکر ده او په معرض د ذم کې فويل للمصلين ذکر ده [٤]

درې وجې د ترجيه

تشريح: له دې ځای نه مصنف رحمه الله د اولې معنا چې يعدلون ده درې وجې د ترجيه بيانوي او له وجه داده چې يعدلون معنا زياته مشهوره ده په نسبت سره نورو ته ، دويمه وجه دا چې يعدلون خپلې خقيقي معنا ته قريبه او نزدې ده په نسبت د نورو معناگانو دريمه وجه د ترجيح دا ده چې يعدلون ارکانها زياته مفيده ده په نسبت سره نورو ته؛ ځکه ډيره مفيده ده چې متضمنه د تنبه لره په دې خبره چې لائق په مدحه هغه څوک دی چې رعايت د حدودو کوي ځکه يقيمون الله جلّ جلاله په مقام د مدحه کې ذکر کړی ده حکم چې په مشتقي مرتب شي نو مبداء ئې ورته علت وي نو الله جل جلاله چې مدحه د يقيمون والا کړی ده هغه د تسويت الافعال په وجه ئې کړي تسويت الافعال ورته علت دی.

---

(۱):- سورة الماعون : آية (٥).

(۲):- سورة النساء : آية (۱٤۱).

(۳):- سورة الماعون : (٤).

(٤):- امام عبدالرحمن ابن جوزي رحمه الله وائي اقامت کې درې قوله دي (۱) ابن عباس رضی الله عنه او امام مجاهد رحمه الله وائي اقامت نه مراد تماموالی د ارکانو دلمانځه ده په طريقې دمأموربه (۲) قتادة اومقاتل رحمهماالله وائي مراد ترينه ساتنه اومحافظت د اوقاتو ده، د اوداسه ، درکوع ، اوسجدې ده (۳) ابن کيسان رحمه الله وائي مراد اقامت نه دوام ده په لمانځه (زادالمسير : ۱ / ۲۸)

(دصلوة معنى لغوي اواصطلاحي)

تفسيربيضاوي: (وَالصّلوة فَعْلَة من صَلّ اذَا دَعَا كَالزَّكَاةِ مِن زكّى كُتِبَتَا بِالوَاو على الفظِ المُفَخَّم)

ترجمه: صلوة د فعلة وزن دى د صلّى يصلى نه چې كله دعا وكړي لكه زكوة دزكى نه مأخوذ دى اوپه دې دواړو كې واو د هغه چا د لغت مطابق ليكلې شي څوک چې الف كې تفخيم كوي.

تشريح: دويم بحث: مصنف رحمه الله له دې ځايه د لفظ د صلوة تحقيق كوي.

دجمهوراو علامه زمحشري اختلاف

هغه داسې چې د صلوة لپاره معنى لغوي اومعنى شرعي بيانوي (١) معنى شرعي دصلوة اركان مخصوصه دي (٢) په معنى لغوي دصلوة كې دوه قوله دي يو د جمهورو قول دى او بل د علامه زمحشري قول دى.

جمهور: وائي چې صلوة په وزن د فعلة دى د دې اصل صلوَة و واو پكې متحرک و ماقبل حرف صحيح ساكن و نو د واو حركت ماقبل ته نقل شو او واو په الف سره بدل شو لكه زكوة چې له زكوَة څخه جوړ شو خو واو په دواړو كې د تفخيم په بنا ليكلى شي

د تفخيم درې معناګانې دي (١) ترک اماله (٢) لام ډک لوستل (٣) وجود اماله او دلته دريمه معنى مراد ده يعنې په صلوة كې د لام فتحه او زكوة كې د كاف فتحه ضمې طرفته مايل كولو سره لوستل او دا قسم تفخيم هغه وخت كيږي چې كله د فتحې نه پس الف منقلب عن الواو واقع شي

نو د صلوة لغوي معنى دعاده نو دشرعي او لغوي معنى په مابين كې مناسبت د كل اودجزء دى چې شرعي معنى كل ده اولغوي معنى جزء ده نو په طريقې د مجاز مرسل سره له دعا څخه اركان مخصوصه واخستل شو.

تفسيربيضاوي: (وإنّما سمّى الفِعلُ المَخصُوص بِها لاشتِمالِه على الدُّعاء وقِيلَ أَصلُ صَلى حرّك الصلوَين لاَنّ المُصلّ يَفعلهُ فِي رُكوعِهِ وَسُجُوده)

ترجمه: اوپه صلاة سره خاص فعل مسمی کړی شوی دی له وجې د اشتمال د دې فعل مخصوصه په دعا باندې اوچا ويلي دي چې صلاة اصل کې دکوناټو خوزولوته وائي ځکه چې په لمونځ کې هم د افعل په رکوع اوسجده کې کولی شي.

تشريح: په قيل سره د علامه زمخشري مذهب بيانوي او قيل مجهول صيغه د تمريض ده په دې کې اشاره ضعف د مذهب ته.

علامه زمخشري: وائي چې صلوة په معنا لغوي سره د صلا څخه دی اوصلا اسم دی لپاره د تحريک الصلوين يعنې اسم دی لپاره دمصدر چې تحريک الصلوين دی نو د ده په نزد د معنی لغوي اوشرعي په مابين کې مناسبت د اشتمال دی ځکه ارکان مخصوصه مشتمل دي په تحريک الصلوين دا هم په طريقې د مجاز رسل سره

تفسيربيضاوي: (وَاشتهَار هذَا اللَفظ فِي المَعنى الثَّانِي مَع عَدم اِشتِهارِ فى الأَوَّل لَايَقدَحُ فِي نَقلِه عَنهُ وانّما سمّي الدَّاعى مُصلِيًا تَشبِيهًا لهُ فى تَخَشّعه بِالرَّاكِعِ والسَّاجد).

ترجمه: او په اشتهار د دغه لفظ (صلوة) په معنی ثاني کې سره دعدم اشتهار نه په معنی اوله کې (تحريک الصلوين) او په نقلولو کې د دې لفظ (صلوة) دمعنی حقيقي نه څه غيب نه شته اومسمی کړی شو دعاکونکی په مصلي سره له وجې دمشابهت دده په عاجزي کې له رکوع کونکي اوسجده کونکي سره.

تشريح: په دې عبارت يو سوال ده هغه دا

سوال: ته وائي چې دا تحريک الصلوين منقول عنه معنی ده او ارکان مخصوصه منقول اليه معنی ده اومونږ چې صلوة مطلق ذکرکړنو منقول اليه معنی ترينه فهميږي اومنقول عنه معنی خوترينه نه رافهميږي نو دا څنګه منقول عنه شو نو دلته مجاز له حقيقت نه زيات اعرف شو او حال دا چې حقيقت اعرف وي له مجاز نه؟

جواب: دا ورته په دې عبارت سره جواب کوي چې «واشتهارهذا اللفظ» صلوة په معنا منقول اليه کې مشهوریدل او او منقول عنه کې نه مشهوریدل په منقول عنه کې څه عیب نه پیداکوي کیدای شي چې نقل دومره غالب شي چې اوله معنا بلکل ترک کړی شوي وي.

وانّما سمی سره دفع د اعتراض کوي چې په زمخشري وارد دی.

سوال: ته وائې چې صلوة تحریک الصلوین ته وائې او ارکان مخصوصه وو ته خو صلوة ځکه وائې چې هغې کې هم تحریک الصلوین شته نو کله خو دعا کونکي ته هم مصلي وائې په دعاکې خو تحریک الصلوین نشته؟

جواب: دعا کونکي ته ئه وجې تشبه نه له ارکان مخصوصه سره په عاجزي کې یعنې دعاکونکي ته تشبهًا مصلی ویل کیږي.

د علامه زمخشري او د جمهورو په مسلک کې فرق دا دی چې د مصلي استعمال په داعي کې په نزد دجمهورو حقیقت دی او په نزد علامه مجاز دی او د علامه زمخشري مذهب یې دوهمه مرتبه کې ذکرکوي په دې کې اشاره ده ضعف د ده مذهب ته او دضعف وجهې ئې دا دي اوله وجه داده چې دلته ئې دصلوة لپاره مشتق منه اسم کړو کوم چې غیر معنا حدثي دی او مشتق منه معنا حدثي وي او صلاة په وزن فعلة دی ځکه صلاة په اصل کې صَلَوَةٌ دی واومتحرک ماقبل ساکن نو فتحه دواو مو ماقبل ته ورکړه نو واو ساکن ماقبل مفتوح واو مو په الف بدل کړو صلاة شو.

دویمه وجه د ضعف دا ده چې د صلی ترجمه په تحریک الصلوین سره کوي او صلی فعل ماضي ده د باب تفعیل څخه او د تفعیل صیغه په معنا د تحریک سره راتلل نا اشنا دي.

تفسیربیضاوي: (وَمِمَّا رَزَقْنَهُمْ يُنْفِقُوْنَ)

ترجمه: اوبعضې د هغه مال نه چې مونږ دوئ ته ورکړی په لاره دالله جلّ جلاله کې ئې خرچ کوي.

تشریح: له دې ځای څخه مصنف درې بحثونه ذکر کوي اول د رزق تحقیق او په دې کې د اهل السنة او معتزل و اختلاف دویم د ینفقون تحقیق دریم د ممارزقناهم مراد خو مخکې له دغو درې بحثونو دا خبره واوره په کلمه د «ما» دمِمّا کې درې احتماله دي (۱) موصوله (۲) موصوفه (۳)

مصدریه ده، (۱)که موصوله شي نو رزقناهم ئې صله ده اوصله اعراب محلي نه لري نوپه دې
ترکیب کې اعراب محلي نه شته.

(۲) که موصوفه شي نو رزقناهم ورته صفت دی اوبیا اعراب محلي لري چې جردی.

(۳) اوکه مصدریه شي نو معنی به داوي من رزقنا ینفقون.

یو رِزق دی اوبل رَزَق دی.

مسئله درزق

رَزَق: وائي اعطاء الحظ یعني دبرخې ورکول په دې کې یوازې دمصدریت احتمال دی.

رِزق: په دې کې د اسمیت احتمال هم شته او دمصدریت احتمال هم شته که مصدر شي همغه معنی ئې ده چې اعطاء الحظ دی اوکه اسم شي نو بیا په معنی د نصیب یعني برخې سره دی.

تفسیربیضاوي: (أَلرِّزقُ فی اللُّغةِ الحظُّ قَال اللّٰهُ تعالی (وَتَجْعَلُوْنَ رِزْقَكُمْ انّكُم تُكَذِّبُوْنَ[1]) وَالعُرف خَصّصَه بِتَخْصِیص الشَّئِ بِالحَیوانِ لِاِنْتِفاعِ بِه وَتمَكِینه منهُ)

ترجمه: رزق په لغت کې حصې ته وائي الله جلّ جلاله فرمائي : تاسو د حق تکذیب خپله حصه ګرځولې. اوعرف رزق خاص کړیده تخصیص دشي ترحیوان پورې یا رزق خاص ده ترحیوان د نفعي اخستلو پورې اوپه دغه رزق قدرت ورکولو پورې.

تشریح: **اول بحث**: دلته یې رزق داسمیت په معنی ګرځولی.

(حرام رزق دی اوکه نه)

تفسیربیضاوي: (وَأَمّا المُعتزِلَةُ لمّا استَحالُوا عَلی اللهِ تعَالی أَنْ یُمكِنَ مِن الحَرامِ لأَنَّه مَنعَ مِن الانْتفَاع بِه وَأَمر بِالزَّجر عَنه قَالوا اَلحَرام لَیس برِزْقٍ).

ترجمه: هرچې معتزله دي دوئ داخبر محال ګڼلی په الله تعالی باندې چې عبد لره قدرت په حرامو ورکړي ځکه الله جلّ جلاله د دې د نفع حاصلولو نه منع کړیده او امر ئې په زجر کړی له حرامو ځخه ویلي دي چې حرام رزق نه دی.

---

(۱):- سورة الواقعة :آیة (۸۲).

تشريح: په رزق کې اختلاف دی چې حرام رزق دی او که نه دی اهل سنت والجماعة وائي حرام هم رزق دی او حلال هم رزق دی او معتزله وائي چې حلال رزق دی او حرام رزق نه دی.

دمعتزله وو دلائل: [۱] دوی درې دلايل وايي:

اول: دليل درزق په تعريف کې د تمکين لفظ دی يعني قدرت او دا دالله جلّ جلاله په جانب کې محاله ده چې چاته تمکين او قدرت په حرامو ورکړی ځکه دا قاعده ده تمکين القبيح قبيح او الله ته دقبحې نسبت نشي کيدلی نو حرام رزق هم نه دي او همدغه رنګه اصلح د عبادو په الله تعالی باندې واجب ده په نزد د معتزله و او اصلح رزق حلال دی.

تفسيربيضاوي: (اَلا تَرى أَنّه تعالى أَسنَد الرِّزقَ هَهُنا الى نَفْسِه اِيذَانًا بِأَنّهم يُنفِقونَ الحَلالَ المُطلَق فَانّ اِنفاقَ الحَرامِ لَايُوجِب المَدحَ)

ترجمه: آيا ته نه ګورئ دلته الله جلّ جلاله درزق نسبت خپل ځان ته کړيدی په دې خبره باندې د تنبه ورکولو لپاره چې حلال او پاک مال خرچ کوئ ځکه چې خرچ کول دمال حرام مدحه نه لازموي.

تشريح: داده معتزله دوهم دليل دی هغه داچې الله جلّ جلاله په مَمّا رَزقنهم کې رزق خپل ځانته منسوب کړی او بل دا مقام د مدح دی او مدح په حلال مال کې وي نه په حرام معلومه شوه چې حلال رزق دی حرام نه دی.

تفسيربيضاوي: (وَ ذَمّ المُشرِكينَ على تَحرِيم بَعض مَارزَقهُم اللّهُ تعالى بِقوله (قُل اَرَئَيْتُم مَا أَنزَل الله لَكُم مِنْ رُزقٍ فَجَعلْتُم مّنه حَرَامًا وّحلالًا [۲])

(۱):- په اصلح دعبادو کې دمعتزله وو عقيده داده چې اصلح دعبادو په الله جلّ جلاله باندې فرض دی او الله جلّ جلاله ته نسبت دقباحو نه کيږي د ډير احتياط له وجې دوئ معتزله شوه اول به ئې دا ويل چې دګناهونو خالق انسان په خپله دی الله تعالی ته ددې نسبت غلط دی باالآخره ئې عام حکم وکړ چې خالق دټولو اعمالو دانسان په خپله انسان دی.

(۲):- سورة يونس: آية (۵۹).

ترجمه: او الله جلّ جلاله مذمت بيان کړی د مشرکينو په حرامولو د بعضې هغه څه چې مارزق ورکړی وو دوئ ته په دې قول خپل کې (ترجمه) ته دوئ ته ووايه چې تاسو مالره خبر راکړی د هغه رزق چې الله تعالى نازل کړيدی ستاسو لپاره تاسو د هغې نه کړځوئ حلال او حرام.

تشريح: دا دريم دليل دی د معتزله وو هغه داچې مشرکينو د رزق تقسيم وکړ حلال او حرام ته نو الله جلّ جلاله ئې مذمت بيان کړ نو معلوميږي چې دا تقسيم باطل دی ځکه رزق يوازې حلال دی.

تفسيربيضاوي: (وَأَصحابُنا جَعلُوا الإِسنَاد لِلتعظِيمِ والتّحرِيض عَلَى الاِنفَاق وَالذّم لِلتّحريْم مَالَم يَحرمْ وَاختصَاص مَارَزقْناهمْ بِالحَلال لِلقرِينَة).

ترجمه: او اصحابو زمونږ(اهل السنة) دا اسناد د رزق الله جلّ جلاله ته د تعظيم او تيزولو لپاره کرځولی دی او ذم د مشريکينو د دې وجې دی چې حرامول يې هغه شيان چې حرام نه وو (دوئ حرامول) او د رزق په حلال پورې خاص کول د قرينې د مقام په وجه ده.

تشريح: له دې ځای څخه اهل السنة د معتزله و دلايلو ته جوابو کوي .

له اول دليل نه جواب: معتزله و ويلي و چې د رزق نسبت الله تعالى ځان ته کړی نو معلومه شوه چې يوازې حلال زرق دی.

جواب: حرام هم الله جلّ جلاله ته منسوب دي او حلال هم الله جلّ جلاله ته منسوب دي تمکين په حلالو او حرامو الله جلّ جلاله ورکوي خو دلته چې د رزق نسبت الله خپل ځانته کړی دا اختصاص د زرق تر حلالو پورې نه دی بلکې دا لپاره د تعظيم او تيزولو په انفاق.

دويم دليل نه **جواب**: معتزله و ويلي و چې حلال زرق دی ځکه مشرکينو د زرق تقسيم حلال او حرام ته وکړ الله يې مزمت بيان کړ.

جواب : مذمت د مشرکينو الله جلّ جلاله د دوئ د تقسيم د رزق په وجه نه دی کړی بلکه په دې وجه ئې الله جلّ جلاله مذمت کړی دی چې دوئ حلالو ته حرام او حرامو ته حلال ويلي دي له ځان څخه يې شارعين جوړ کړي.

له دريم دليل نه **جواب**: معتزله و ويلي وچې ممازرقناهم په مقام د مدح کې دي او مدح په حلال رزق کې.

جواب: په ممّا رزقناهم کې تخصيص د رزق تر حلال پورې دی داله وجې د قرينې د مدحې دی او يو شی تر بل شي پورې له وجې د قرينې خاص کيدل مستلزم نه دې خبرې لره چې په وخت د اطلاق کې به هم د غه شی تر هغه معنا پورې خاص وي.

تفسيربيضاوي: (وَتَمسَّكُوا بِشُمُول الرِّزق لهُ بِقوله صلّى الله عليه وسلّم فى حَدِيث عَمروبن قرّة رضِى الله عنه لَقدْ رَزقڪُم اللهُ طيّبًا فَاخْتَرت مَاحَرَّم الله عَليک مِن رِزقِه مَكانَ مَاأَحلَّ الله لَك من حَلالِهِ) .

ترجمه: اهل السنة دليل نيولئ دی په شمول د رزق حرام لره په دې قول د نبی (عَلَيْهِ السَّلَامُ) په حديث د عمرو بن قرة (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) کې فرمايي: الله تعالى تاته حلال رزق درکړي دی تا هغه رزق اختيار کړو چې کوم الله جلّ جلاله حرام کړی دی په عوض د هغه کې چې الله تعالى حلال کړی وو [1]

تشريح: **داهل السنة دلايل**: له دې ځای څخه د اهل السنة لايل بيانوي دوی دوه دلايل پيش کوي يو دليل نقلي او بل دليل عقلي.

دليل نقلي: صفوان بن امية (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) فرمائي چې مونږ د رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره ناست وو چې عمروبن قرة راغئ نوموړي به ساز او سرود غږولو يعني ډولکی به ئې وهلو رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته ئې وويل چې په مابدبختي مقررشويده ماته رزق نه حاصليږي مگر د ډولکي وغيره څخه، نوماله اجازه راکړه چې په ساز او سرود سره ځانته رزق پيدا کړم رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) اجازه ورنکړه ورته ئې وويل چې تاته الله جلّ جلاله حلال رزق درکړی ده او تا حرام اختيار کړی په ځای د حلالو.

---

(۱):- ذکر ابن ماجه الحديث عن صفوان بن امية رضى الله عنه قال کنّا عندرسول الله صلّى الله عليه وسلّم اذا جاء عمروبن قرة فقال يارسول الله انّ الله کتب على شقوة فلا ارانى ارزق الّا من ررلى بکفى فأذن لي فى الغناء من غيرفاحش فقال عليه الصّلوة والسّلام لا اذن لک ولا کرامة ولانعمة کذبت ياعدوالله لقد رزقک الله .رواه سنن ابن ماجه برقم ۲٦۱؟ قال البوحيري فى الزوائد فى اسناده بشر نميرالبصري قال فيه يحى القطان: کان رکنًا من ارکان الکذب ويحي بن العلاء قال احمد يضع الحديث(حاشية الشهاب :۱ / ۳۵۵)

نو کوره رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د لته د رزق تقسيم وکړو حلال نو او حراموته او دواړه رزق وبلل.

تفسيربيضاوي: (وَبأنّه لَولَم يَكن رِزقًا لَم يكُن المُتغَذّى بِه طُول عُمره مَرزوقًا ولَيس كَذلك لِقوله تعالى (وَمَامِنْ دَآبّة فِى الاَرْضِ اِلّا عَلَى الله رِزْقُهَا [1])).

ترجمه: او که حرام رزق نه وي د ډير عمر غذا حاصلونکی د حرامو به د الله جلّ جلاله مرزوق نه شي او حالانکه داسې نه ده له وجې د دې قول د الله تعالى (ترجمه) نشته په زمکه يو ګرځيدونکی مګر د هغې رزق په الله تعالى باندې دی.

تشريح: **دليل عقلي**: دا په قضيه شرطيه متصله سره ثابتوي هغه داسې (لولم يكن الحرام رزقاً) مقدم (لم يكن المعتذي به طول عمره مرزوقاً) تالي . التالي باطل فالمقدم مثله.

که حرام رزق نه شي يو سړي چې پول عمر حرام رزق خوړلی وي لکه سود خور وغيره نو دا به مرزوق نه شي او حال دا چې داهم مرزوق دی اګر که ده حرام خوړلی ځکه په دې ايت کې (وَمَامِنْ دَآبّة فِى الاَرْضِ اِلّا عَلَى الله رِزْقُهَا) په ډير تاکيد سره دا خبره ثابته شوه چې هر ساه لرونکی په زمکه د الله جل جلاله مرزوق دی د دابة الارض د رزق کفيل الله تعالى دی.

تفسيربيضاوي: (وَأَنْفَق الشّئ وَأَنفَدهُ أَخوانِ وَلِواسْتقْرَيت الأَلفاظ وَجدْت كُل مَايُوافِقه فِى الفَاء والعَين دَالاً عَلَى مَعنى الذّهاب وَالخُروجِ)

ترجمه: اولفظ د انفق او انفد دواړه مترادف دي او که ته د الفاظو تفتيش وکړې نوته به بيامومي هرهغه لفظ چې له دې سره فاء او عين کلمه کې موافق وي په معنى د ذهاب او خروج باندې به دال وي.

تشريح: **دويم بحث**: اوس درته د انفاق تحقيق کوي فرمايي: د انفق او انفد په مابين کې اخوت دی يعنې په دوی کې اشتقاق کبير دی ځکه په تفسير کشاف کې چې د اخوان کلمه راشي له هغې نه اشتقاق کبير مراد وي او اشتقاق کبير ديته وائي چې د دوه لفظونو معنى يوه وي او په اکثرو حروفو کې

---

(۱):- سورة هود :آية (٦).

هم سره شريک وي نو د دوئ دواړو معنی هم يو ده چې اخراج المال دی او په اکثرو حروفو کې شريک هم دی چې نون او فاء په دواړو صيغو کې د فاء او عين کلمې په مقابل کې راغلي دي.

قاعده: دلته يو قاعده ذکر کوي هغه دا چې کوم يو فعل کې نون او فاء ذکر وي په هغه کې به د خرج کيدلو معنا لازم وي لکه نَفَس دخولې نه ساه بهر کول نفر د يوځای نه خروج کول په تيخته نفاس خروج الدّم نفخ دخولې پوکي نفل زياتی کار ويستل.

(له نفقې څخه مراد دي)

تفسيربيضاوي: (وَالظَّاهر مِن هَذا لِاِنْفاقِ صَرف المَال فِي سَبِيل الخَيرِ مِن الفَرض وَالنَّفلِ ومَنْ فَسّرهُ بالزّكاةِ ذَكر أَفضل انْواعِه والأَصل فِيه، أُوخَصَّصه بها لاِقتِرانهِ بِما هُو شَقِيقتُها)

ترجمه: او ظاهره داده چې د انفاق نه مراد خرچ کولو دی په لاره د خير کې فرض وي او که نفل وي، او چاچې د دې تفسير په زکاة کړی دی نو غوره نوعه او اصل دصدقې ئې مراد کړي دي او يا د آيات نفقه ئې خاص کړی تر زکاة پورې له وجې د اقتران د هر هغه شي سره چې د زکاة ملګری (صلاة) دی.

تشريح: دريم بحث: دلته د مِمَّا رَزَقْنَاهُم يُنْفِقُوْنَ معنا مراده ذکر کوي د دې په معنی مراده کې درې احتماله ذکر کوي.

(۱) عبد الله بن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) او حضرت قتادة (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) فرمائې چې د دې نه زکاة مراد دی ځکه دا مقابل د يقيمونَ الصّلوة دی او هغې نه لمونځ يعنې فرض لمونځ مراد وو نو له دې نه به فرض نفقه مراد وي چې زکاة دی [۱]

(۲) امام مجاهد او امام ضحاک رحمهما الله فرمائي: چې له دې نه اعمه معنی مراد ده چې نفلي او

(۱):- تفسير زادالمسير: ۱ / ۲۸.

فرضي دواړو ته ورځي [١] بیا په دې احتمال کې دوه قوله دي اول دا دی چې عامه معنی مراده ده او دا معنا بیا په خپل تعمیم پاتې ده دوهم دادی چې عامه معنی ترینه مراد ده خو دلته په قرینې دمقام سره خاصه معنا ترینه مراد ده چې مقابله ده له صلوة سره [٢].

(٣) اعمه معنی ترینه مراد ده چې حسي او معنوي دواړو ته ورځي. حسي لکه نفلي او فرضي نفقه او معنوي لکه دعلومو نفقه لکه تدریس امر بالمعروف او داسې نورو ته شاملیږي (١) (روح المعانی).

نو ترجمه به داشي چې موږ متقیانو څه هم ورکړي هغه که بدني وي یا روحاني په ټولو کې هغوی د الله تعالی په لاره کې خرچه کوي.

تفسیربیضاوي: (وَتَقدِیم المَفعولِ لِلاهتِمامِ وَلِلمُحافَظَةِ عَلی رُؤُوس الآی وَادْخَال مِن التَّبعِیضیَّة علَیه لِمَنع المُکَلَّف عن الاِسرَاف المَنْهی عنهُ)

ترجمه: او تقدیم دمفعول به د اهتمام لپاره دي اولپاره دمحافظت درؤوس دآیاتونو دی او ادخال د من تبعیضیه (په مِمّا رَزَقْنٰهُم) کې له اسراف نه دخلکو دمنع کولو لپاره دی له کوم نه چې منع راغلې ده.

تشریح: مفعول ممّا رزقناهم دی اوله ینفقون پورې تعلق لري یعنې تقدیم د معمول راغلی په عامل باندې او د دې تقدیم لپاره دوه جې بیانوي.

اوله وجه: تقدیم د مفعول لپاره داهتمام دی ځکه تقدیم دلالت کوي په تخصیص او حصر باندې په انفاق د بعض مال ځکه چې دا مِن تبعیض دی او دا لپاره دمنع ده له اسراف د مال څخه چې ټول مال مه خرچ کوه ځکه بیا به ته خپله سوال کوي خو که چیرته په داسې مرتبه دتوکل کې ئې لکه

---

(١):- تفسیر زادالمسیر: ١ / ٢٨.

(٢):- عبدالله بن مسعود او حضرت حذیفة رضی الله عنهما فرمائي چې له دینه نفقه اوخرچه په خپل عیال مراد ده اوځینې مفسرین بیا وائي چې له دینه هغه نفقه مراد ده چې له زکوة نه غیر په انسان واجب وي (زادالمسیر: ١ / ٢٨ اوتفسیر خازن وائي چې له دینه نفقه په جهادکې مراد ده اوامام قرطبي رحمه الله په خپل تفسیر احکام القرآن کې فرمائي وَمِمّا رزقنهم ینفقون ای ممّا علمنا هم یعلّمون: هغه علم چې مونږ دوئ ته ښودلی دوئ ئې نورو ته وربښه ئې.

حضرت ابوبكر صديق (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) او عمر (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) بيا ټول مال هم خرچ كولى شي لكه دوئ چې په يوه غزوه كې ټول مال خرچ كړى وو او رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يو صحابي ته وويل چې والثلث كثير ثلث ډيردى نو رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته معلومه وه چې ابوبكر (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) كه ټول نفقه كړي نو څه جزعه نه كوي او نه پښېمانه كيږي [1]

دويمه وجه د تقديم: مفعول ځكه په عامل مقدم شې چې په دې سره ئې محافظت د سرونو د آياتونو كړى دى چې د سورت بقرې آياتونو نه په واو ونون او ياء او نون باندې ختم شوي دي نو كه مفعول چې مما رزقنهم دې روسته كړى واى د سرونو د اياتونو محافظت نه راتلو.

تفسير بيضاوي: (وَيحْتَمل أَن يُرادبِه الانْفاقُ مِن جَميعِ المُعاون[2] أَلّتى أَتاهُم الله مِن النَّعمِ الظَّاهرةِ وَالبْاطِنة)

ترجمه: او د دې خبرې احتمال هم لري چې مراد شي په دې سره انفاق د ټولو معاونو (شتمنيو) هغه چې الله جلّ جلاله دوئ ته وركړي له نعمتونو نه چې هغه نعمتونه ظاهري او باطني دي.

تفسيربيضاوي: (وَيُؤَيّده قولُه عليه الصّلوة والسّلام (اِنَّ عِلمًا لَايُقالُ بِه كَكَنْزٍ لَايُنْفِق مِنه [3] وَاِلَيهِ ذَهَب مَن قَال وَمِمّا خَصَّصنا هُم بِه مِن أَنوارِالمَعرِفة يُفِيضُون).

ترجمه: او د دې خبرې تائيد د رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دا قول كوي هغه علم چې د هغې نه چا ته بيان نه كيږي دا پشان د هغې خزانې ده چې د هغې نه خرچ نه كيږي او دې رائې ته ذهاب كړى هغه چا چې وائې (ترجمه د آيت ئې داسې كړى ده) بعضې د هغه شيانو نه چې مونږ دوئ ورباندې خاص كړى دي د انوارو د معرفت نه د الله جلّ جلاله په لاره كې خرچه (فيضان) كوي.

تشريح: نفقه خو په حسي شيانو كې مستعمليږي خو په طريقې د مجاز ترينه حسي او معنوي دواړه مراد دى لكه د رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په دې قول كې تشبهًا د نفقې اطلاق د علم په بيان

(۱):- رواه البخارى فى كتاب المغازى : ٥ / ١٧٨ برقم ٤٤٠٩ من حديث عامربن سعد عن ابيه .
(۲):- المعاون بزون مساجد جمع معونة وهى ميستعان به وينتفع من العون وهوالمساعدة والمظاهرة (حاشية الشهاب : ١ / ٢٣٠)
(۳):- اخرجه ابن عساكر من حديث ابن عمر كما ذكرالمصنف.

شوی دی همدا راز رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) فرمائي : مثل العلم الذی یتعلم به ثم لا یحدث به کمثل الکنز لاینفق منه [1] او صوفیان حضرات یې بیا داسې ترجمه کوي (ومما خصصناهم من انوار المعرفة یفیضون) هغه چې موږ خاص کړي د انوار د معرفت څخه هغه فیضان کوي:

(وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْک وَمَااُنْزِلَ مِنْ قَبْلِک وَبِالآخِرَة هُمْ يُوْقِنُوْنَ).

(مراد یؤمنون)

تفسیربیضاوي:(وَالّذین یُؤمِنُوْنَ بِمَا اُنْزِلَ اِلَيْک وَمَا اُنزل مِنْ قَبْلِک) هُم یؤمنون أَهل الکِتابِ کَعبدِالله بن سلام رضی الله عنه وَأَضْرابِه مَعطُوفُون عَلی (الَّذینَ یُؤمنونَ بِالغَیبِ) دَاخِلونَ مَعهمْ فِی جُملَة المُتَّقِینَ دُخول أَخَصِّین تحتَ أَعَمّ)

ترجمه: او متقیان هغه خلک دي چې ایمان لري په هغه کتاب چې په تا نازل شوی دی او په هغه کتابونو چې تانه مخکې نازل شوي دي (تورات انجیل زبور) چې هغه مؤمنان د اهل کتابو دي لکه عبدالله بن سلام (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) او د هغه امثال په الذین یؤمنون بالغیب باندې عطف دي داخل دي سره د هغوئ نه په جمله د متقینو کې په شان د دخول د اخصو لاندې د اعم نه.

تشریح: مصنف رحمه الله دلته درې بحثونه کوي اول د الّذین جملې په عطف او مراد باندې بحث کوي دويم د انزال تحقیق او کیفیت دریم ایمان بما انزل الیک وما انزل من قبلک شرعي حیثیت.

اول بحث : د والّذین یؤمنون په عطف کې دوه احتماله دي (۱) یا عطف دی په المتقین باندې (۲) یا عطف دی په مخکې الذین یؤمنون بالغیب باندې که په الذین یؤمنون بالغیب باندې ئې ورعطف کې بیا پکې درې احتماله دي (۱) د مخکې الذین او د دې په منځ کې مساوات دی (۲) یا تباین دی (۳) عموم خصوص مطلق دی نو ټول څلور صورته شوه.

---

(۱):- اخرجه الطبرانی فی الاوسط کما فی المجمع برقم ۷۱۷ من حدیث ابی هریرة وقال الهیثمی ابن لهیعة وهوضعیف. وفی الباب من کتم علمًا تلجم بلجام من نار یوم القیامة اخرجه ابوداود برقم ۳٦۵۸ والترمذی برقم ۲٦٤۹ وابن ماجه برقم ۲٦۱ واحمد : ۲ / ۲٦۳ وابن حبان : ۹۵ والطیالیسی من حدیث ابی هریرة (حاشیة الشهاب : ۳۵۸.)

(١) که په متقين ورعطف شي نو د متقين نه مراد متقين عن الشرک دي او د الذين معطوف نه به هغه خلک مرادوي چې د يو دين نه بل دين ته نقل شوي وي.

(٢) که په مخکې الذين ورعطف شي يا به پکې مساوات وي نو په دې صورت اعتراض واردېږي.

سوال: د معطوف او معطوف عليه په منځ کې خو تغيروي او دلته خو مساوات دی ؟

جواب: قاضي رحمه الله ورته جواب ورکوي چې تغير په اعتبار د صِلاتو سره دی هلته صله جدا ده او دلته جدا ده.

(٣) که په مخکې الذين ورعطف شي يا به پکې تباين وي نو چې تباين شي د مخکې الذين نه به هغه خلک مرادوي چې نوي مسلمان شوي وي او شرک ئې پرېښی وي او له دينه به هغه خلک مراد وي چې ديو دين نه بل دين ته نقل شوي وي.

(۴) که په مخکې الذين ورعطف شي بيا به پکې عموم خصوص مطلق وي نو بيا مخکې الذين نه عام مسلمانان مراد دي د شرک نه ئې ايمان راوړئ وي او که د يو دين نه بل دين ته نقل شوي وي او له دې الذين څخه خاص خلک مراد دی هغه چې ديو دين نه بل دين نقل شوي وي.

تفسيربيضاوي: (إذ المُراد بِأولِئک الّذينَ أمنُوا عَن الشّرک وَالانکارِ وبِهؤلاَءِ مُقَابلُوهم فَكانَت الآيتَان تَفصيلًا (لِلمُتَّقين) وَهوَ قَول اِبن عَبَّاس رضى الله عنه أوعَلى المُتقينَ فَكانّه قال (هُدًى لّلمتّقين) والّذينَ أمنوا مِن أهل المِللِ ويَحتَمل أَن يُرادبِهم الأَوّلون بِاعْيانِهم وَوُسِط العَاطفُ فى قَولِه (إلى المَلِک القَومُ وَابن الهَمَامِ وَلَيث الْكَتِيبَة فى المُزدَحَم).

ترجمه: ځکه مراد په الذين امنو سره هغه څوک دي چې ايمان ئې راوړئ وي له شرک او انکار څخه او په دوهم الذين سره مقابلين ددوئ مراد دي (چې ديو دين نه بل دين ته نقل شوي وي) نوشوه دواړه آياتونه تفصيل لپاره متقيانو او دا قول د ابن عباس (رضي الله عنه) دی او يا دا عطف دی په متقين باندې ګويا که الله جلّ جلاله داسې ويلي هدًى للمتقين دا قرآن هدايت دی متقيانو ته عن الشرک او هغه کسانو ته چې ايمان ئې راوړی وي له اهل مللونه او دا احتمال هم

لري چې په دې ایت کې هم هغه خلک مراد شي کوم چې په الذین یومنون بالغیب سره مراد و (اولني دواړه په خپله شي) اوپه منځ کې عاطف راوړل شو لکه په دې قول دشاعرکې مونږ بادشاه تهلاړو چې سردار دخلکو اوصاحب اوهمتونو اوپه وخت دقتل اوقتال کې زمری ددلښکرونو

تشریح: په دې سره دفع داعتراض ده کوم چې مخکې مونږ په خلاصه د درس کې وویلې چې دلته خومساوات دی او حرف عاطف خولپاره د تغیر راوړلی شي یعنې د معطوف اومعطوف علیه په مابین کې تغیروي نو مونږ جواب ورته کړی وه چې دلته تغیرپه اعتبار د صِلاتو سره ده صلې ئې مغائرې دي یا داسې ووایه چې قضیه په درې قسمه ده

(۱) یو هغه ده چې موضوع اومحمول ئې دواړه د محسوساتو څخه وي لکه النّار حارٌ دا د ما نحن فیه څخه نه دی (په دې ایمان راوړل معتبرنه دی)

(۲) هغه قضیه دی چې موضوع اومحمول ئې دواړه له معقولاتو څخه وي لکه الله موجودٌ الله واجبٌ.

(۳) هغه قضیه چې په موضوع اومحمول کې ئې یو له محسوساتو څخه وي لکه محمّد رسول الله صلی الله لیه وسلم نومحمد د محسوساتو څخه دی اورسول الله (صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) دمعقولاتو څخه دی نو دلته تغیر په صِلاتوکې دي په مخکنې الذین کې دوهم قسم قضیه مراد ده چې موضوع او محمول یې دواړه له معقولاتو څخه وي چې هغه ایمان او غیب دی او دا له معقولاتو څخه دی ځکه د ایمان غیب مدرک بالحسَ نه وی

اوپه دې الذین (یو الذین یؤمنون بما اُنزل) کې دریم قسم قضیه مراد دي چې انزل (قرآن) له محسوساتو څخه دی اویؤمنون (ایمان) دمعقولاتو څخه دی.

نو خلاصه د جواب دا شوه چې واو په مابین دمعطوف او معطوف علیه کې ځکه راوړلی شو چې دلته یې په صلو کې تغیر موجود دي د دې په تائید کې یو شعر پیش کوي چې په دغه شعر کې الملک القرام ،ابن الهمام او لیث دي دا ټول په اعتبار د ذات سره متحد دي ځکه ټول د یو ذات اوصاف دي خو د مفهوم په اعتبار سره متغایر دي نو ځکه په یو بل باندې ورعطف شول.

تفسیربیضاوي: (وَقولهُ يَالَهَفَ ذَيَّابَة للحَارِثِ ... الصَّابح فَالغَانِم فَالائِب [1])

ترجمه: ای افسوسه دزیابه حارث ته چې سحرکې راغی بیرته غانم لاړو او بیرته سالم لاړو.

تشریح: دا د سلمه شعر دی کوم چې د ابن زیابه په نوم باندې مشهور و او د تیم قبیلې سره یې تعلق درلود او د جاهلیت له شاعرانو څخه و، زیابة د شاعر د مور نوم دی او حارث نه مراد حارث ابن الهمام ابن مرة الشیباني مراد دی څوکسانو سحر وختي دزیابه په کلي حمله وکړه اوټول مال ئې لوټ کړ اوله دې څخه ئې هم دیرش اوښې بوتلې نوپه عربو کې به چې څه حادثه پیښه شوه نو دمور په نوم به ئې ورته آواز کولو ، نو دلته هم د شاعر درې اوصاف ذکر دي اول صابح : معنا سحار راتلونکی دویم غانم : معنا مال لوټونکی دریم آئب: معنا روغ رمټ واپس کیدونکی دا درې واړه صفات په اعتبار د ذات سره یو دي ځکه د یو ذات صفات دي خو په اعتبار د مفهوم سره متغایر دي ځکه یو په بل د فاء په ذریعه عطف کړی شو.

حل اللغات

شمېره	لغات	معني
۱	لیث	زمری
۲	مذدحم	ځای دجنګ
۳	لائب	راجع
۴	قرم	سید
۵	صابح	سحار وختي راتلونکی
۶	لهف	ارمان

(۱):- دا شعر د ابن زیابه التیمي ده اصل کې داجواب ده له شعر دحارث بن همام بن مرة بن زهل بن شیبان هغه داسې وو
یا ابن زیابة ان تلقني ... لاتلقني فی النعم العازب.. وتلقنی یشتد بی اجرد ... مشتقة البرکة کالراکب ...
نوده ورته داسې جواب وکړ ... یا لهف زیابة للحارث ... الصابح فالغانم فالآئب ... والله لولا لاقیته حالیًا...
وانا ابن زیابة ان تدعنی ... آتک واللعن علی الکاذب.

تفسیربیضاوي: (عَلٰی مَعنی أَنَّهم الجَامِعون بَین الایمَان بِما یُدرِکه العَقلُ جُملة وَالاِتیَان بِما یَصدقُه مِن العِباداتِ البَدنِیَّة والْمَالیَّة وبَین الایْمان بِما لَاطریقَ الَیه غَیرالسَّمع)

ترجمه: په دې معنی چې دامؤمنان جمع کونکي دي په منځ دایمان کې په هرهغه څه چې ادراک ئې عقل کولی شي اجمالًا (لکه وحدانیت) او راتګ کوي په هرهغه عباداتو بدنیه اومالیه وو (صلاة اوزکوة) چې تصدیق د دغه ایمان کوي اوجمع کونکي دي په منځ د هرهغو شیانو کې چې هغې لره سوا د سمع (نقل) نه بله طریقه نشته.

تشریح: چې دوئ جمع کونکی دی په مابین دقضایا ؤو کې (آخرین اقسام) او د دې قسم قضیې موضوع او محمول دواړه له معقولاتو څخه نه وي بلکې یو نقلي وي او بل عقلي نو مومنانو جمع کونکي دي په مابین د هغه ایمان کې چې ادراک یې په عقل سره کیږي لکه وحدانیت او په مابین دهغه کې چې تصدیق یې کوي عبادات مالیي او بدني د همدغه دتغیر له وجې یې تر منځ حرف عطف راوړل شو چې د یو الذین یومنون صله غیب یعنې معقول شوه او د بل الذین یومنون صله انزل الیک ده او دا منقول او محسوس ده

سوال: تامخکې وویل چې صِلاتو کې تغیردی نوپه موصولاتو کې خو تغیررانغی اوموصول ئې ولې مکرر ذکر کړ؟

جواب: **تفسیربیضاوي**: (وکَرَّر الموصُول تَنبِیهًا علی تَغایُرالقَبِیلین وتَبَاین السَبِیلینِ أَوطَائِفة مِنهم وهُم مُؤمنُو أَهل الکِتابِ ذَکَرَهُم مُخَصَّصینَ عَن الجُملةِ کَذِکر جِبریل وَمیکَائِل عَلیهما السلامَ بَعد مَلائِکةِ تَعظیمًا لِشأْنِهم وتَرغِیبًا لِأَمثَالهِمْ)

ترجمه: اومکرر ئې کړو موصول لپاره دتنبه په تغایر اوتباین ددوه لارو (عقل اونقل) یادا الذین هم د اول الذین نه یو طائفة ده چې دا مؤمنان داهل کتابو دي دائې ذکر کړه له نورو مومنانو څخه لکه چې خاص کړي یې دی جبریل اومیکائل علیهما السلام روسته له ملائکو نه لپاره دتعظیم دشان د دوئ او لپاره دترغیب په امثالو د دوئ.

تشريح: دا جواب د هغه سوال دی کوم چې په تکرار د موصول وارد شوی وو نو ده جواب ورکړو چې موصول ځکه مکرر شو چې دلته دې خبرې ته اشاره ده چې د دواړو موصولين صلات جدا جدا دي د اول الذين صله يومنون ده او لاره دعقل ده او دويم الذين صله انزل ده او دا لاره د سماع او نقل ده او طائفة سره هغه دريم قسم عطف هم بيانوي.

او دا خبره چې د مومنانو د اهل کتابو ذکر يې په خاص ډول ولې وکړ ؟

مصنف رحمه الله وايي چې دا د دوه وجو له امله اوله وجه دا چې د هغو عظمت شان ښکاره کول مقصود دي مومنان د اهل کتابو ډېر لوئ خلق دي دويم وجه دا ده چې د اهل کتابو د مومنانو هم جنسو يعنې هغو خلکو ته چې لا په خپل ايمان ولاړ دي او په نبي عليه السلام يې ايمان نه دی راوړی، دې ظرفته ترغيب ورکوي چې که تاسو ايمان راوړ نو داسې غزت به درکولی شي چې په خاص طور سره به مو تذکره کولی شي.

(دانزال او نزول توپير)

تفسيربيضاوي: (وَالاِنْزالُ نَقلُ الشَّئِ من الأَعْلى الى الأَسفَل وَهُو اِنَّما يَلْحَق المَعَانى بِتَوسَط لُحوقِه الذَّواتِ الحَامِلة لهَا وَلَعَلَّ نُزول الكُتُب الآلِهيَّة عَلى الرّسُل بَانْ يَلتَقَفَه المَلَك منَ الله تعالى تَلَقَّفاً رُوحانيًا اويَحفظَهُ مِن اللَّوحِ المَحفُوظ فَينْزِل بِه فَيلْقِيه الى الرّسل)

ترجمه: انزال وائي نقل دشي اعلى نه اسفل ته او د انزال پيوسته کوي معانيو لره په واسطه د پيوستوالې دهغو ذواتو کوم چې حامل وي ددغو معانيوو. او شايد چې نزول دکتب الهية وو په دې طريقه وو چې ملائکو به له الله جلّ جلاله نه اخيستنه (زده کړې وي) کړې وي اخستنه په روحاني طريقې سره يا به ملائکو د لوح محفوظ نه يادکړې وي او هغه به ئې نازل کړل او رسولانو ته به ئې ورکړل.

تشريح: دويم بحث: دلته د انزال تحقيق او د هغې کيفيت ذکر کوي . انزال وايي له پورته طرفنه ښکته طرف ته يو شی منتقل کول په انزال او نزول فرق دا دی چې انزال انتقال تدريجا وي او په نزول کې انتقال دفعتاً وي اوس دلته معترض اعتراض کوي.

سوال: ما انزل اليک نه قرآن مراد دی او قرآنونه دوه دي يو کلام نفسي دی بل کلام لفظي دی اوپه کلام نفسي کې دالله جلّ جلاله له خوا انزال نه دی متصور ځکه انزال حرکت ته وائي دعلوي نه سفل ته ځکه کلام نفسي دالله جلّ جلاله صفت دی نه پکې حرکت بالذات راځې اونه پکې حرکت بالتبع (په تبع دالله جلّ جلاله چې موصوف دی) حرکت بالذات ځکه نشته چې داصفت دی او وصف قايم بالذات نه وي اوبالتبع ځکه نشته چې د دې کلام نفسي موصوف ذات باري تعالی دی او ذات باري تعالی کې حرکت غير متصور دی او په کلام لفظي کې هم حرکت نشي راتلی ځکه کلام لفظي عرض دی اوپه عرض کې هم حرکت او انتقال نه دې متصور ؟

جواب: دلته کلام نه کلام لفظي مراد دی او که ته وايې چې دا خو عرض دی او په کې حرکت او انتقال نه وي نو موږ وايو چې انتقال په دوه قسمه دی اول انتقال بالذات دويم انتقال بالتبع که انتقال بالذات پکې نسته انتقال بالتبع خو پکې شته چې جبرائل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) دی ځکه هغه ئې حامل دی او په جبرائل عليه السلام کې حرکت شته نو د حامل په انتقال سره منتقل شوی دی؟

کيفيت دنزول:

دقرآن د نزول کيفيت دوه قسمه دی:

(۱) ياخو داسې دی چې الله جلّ جلاله جبرائل عليه السّلام راوغوښت يو خاص مقام ته بيائې د قرآن د معانيو الهام ورته بيان وکړ بيا ئې ورته قدرت ورکړ په تعبيرد الفاظو له دې معانيو ځخه نو دته دا الهام او قدرت ورکړی شو نو جبرائل عليه السّلام هغه په مناسبو الفاظو وليکلو او په اسمان د دنياکې ئې محفوظ کړو بيائې اسمان د دنيانه په رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) باندې په درويشتو (۲۳) کالو کې لږلږ نازلولو.

(۲) کيفيت داده چې جبرائل (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ورغی لوح محفوظ ته هلته قرآن ليکلې شوی وه له هغې نه ئې ياد کړو بيا يې راوړ اسمان د دنيا ته هلته ئې وليکلو بيائې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته لږلږ راوړو.

تفسيربيضاوي: (وَالمُراد (بِمَا أُنْزِلَ اِلَيْکَ) القُرآن بِأَسْرِهِ وَالشَّرِيعَة عَن آخرِها وانّما عَبّرعَنه بِلَفظ المَاضِي وَان كَان بعضُه مُترقبًا تَغْلِيبًا لِلمَوجود عَلى مَايُوجد أَوتنزيلًا لِلْمُنْتظر مَنزلة الوَاقع)

ترجمه: اومراد په بما انزل اليک سره ټول قرآن اوشريعت د اوّل نه ترآخرپورې دى اوله انزال نه ئې تعبيرپه لفظ دماضي سره كړى اګركه د بعضو آياتو نو ئې انتظار كيدلى شي تغليبًا دوجې دموجود نه په غيرموجود باندې يا نازلول دا انتظار كړى شوي كلام دى په ځاى د واقع شوى كلام.

تشريح: له انزل څخه ټول قران او شريعت مراد دى اصلاً دا دفع د يو اعتراض ده

سوال: كمال دا دى چې په ټول قرآن دې ايمان وي چې په بعضې وي او په بعضې نه وي دا كمال ندى ځكه دلته دا آيت په محل دمدح كې ذكرشوې اومدح په دې كې ده چې په ټول قرآن دې ايمان وي او دلته خو په ماانزل كې صيغه دماضي مستعمله شوه او د دې آيت د نزول په وخت كې نيم قرآن نازل شوى وو اونيم نه وو نازل شوى نو ايمان په بعضې قرآن راغلو اوپه بعضې رانغلو او داسي ايمان ممدوح نه دى ؟

(۱)**جواب**: قرآن دوه حصې وه (۱) متحقق النزول (۲) مترقب النزول متحقق النزول ته صيغه دماضي استعماليده اومترقب النزول ته صيغه داستقبال استعماليده دلته دواړو ته صيغه د ماضي استعمال شوه نو دا بناء دى په استعاره بالتبعيه هغه داسې چې دمترقب النزول اومتحقق النزول مشبه اوټول متحقق النزول مشبه به نو د مشبه به صيغه ئې په مشبه كې مستعمله كړه.

(۲)**جواب**: د دې آيت دنزول وخت كې بعضې قرآن متحقق النزول اوبعضې مترقب النزول وو كوم چې متحقق النزول دى د دې لپاره صيغه دماضي استعماليږي نو دا اسم دجزء چې صيغه دماضي ده په كل كې مستعمله كړه نو دا مجاز مرسل دى.

نو ټول قرآن ياپه طريقې داستعارې ياپّه طريقې دمجاز مرسل مراد دى.

تفسيربيضاوي: (وَنظِيرهُ قَوله تعالى (اِنّا سَمِعْنَا كِتَابًا اُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى [١] فانّ
24 الجِنّ لمْ يَسمَعُوا جَمِيعه وَلمْ يَكنِ الكتَاب كُله مُنَزَّلًا حينئذٍ)

ترجمه: د دې مثال دا قول د الله جلّ جلاله دی (ترجمه) يقينا مونږ واوريده يو كتاب چې نازل شوی روسته د موسى عليه السّلام نه نو جناتو د ټول قرآن نه وه اوريدلی او نه ټول قرآن په دغه وخت كې نازل شوی وو.

تشريح: منصف رحمه الله دلته د بما انزل اليک په مثال كې يو بل ايت پيش كوي چې په هغه كې هم صيغه د ماضي استعمال شوې ده او مراد ورنه ټول قران دی او په دې ايت كې د هغې واقعې بيان دي كومه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له جناتو سره پيښه شوې وه واقعه دا وه چې مله رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د طائف نه نا اميده راغلو دطائف خلكو ورته فناه ورنكړه په لاره كې دتنوا په مقام تيريدو هلته ئې د سحر لمونځ كولو نو پيريانو د لمانځه تلاوت واوريده نو دوئ وويل اِنّا سَمِعنَا كتَابًا انزل من بعد موسى نو دلته هم ټول قرآن نه دی نازل شوی بعضې قرآن څخه يې تعبير وكړو په ټول قران تغليبًا يا تنزيلًا يعنې په طريقې د استعارې تبعيې او يا مجاز مرسل.

تفسيربيضاوي: (وَبِمَا اُنزل من قَبْلِک) التَّوراةُ وَالاِنجِيل وَسائِرالكُتب السَّابِقةِ وَالايمَانُ بِها جُملة فَرض عَين وبِالأَوَّل دُون الثَّانى تَفصِيلًا مِن حَيث اِنَّا مُتَعبِدُون بِتفَاصيلهِ فَرض وَلكِن عَلى الكِفَايةِ لأَن وُجوبهُ عَلى كلّ أَحدٍ يُوجب الحَرج وَفسَادَ المَعاش)

ترجمه: اوپه ما انزل من قبلک سره تورات انجيل اوټول سابقه اسماني كتابونه مراد دي اوپه دې دواړه قسمونو اجمالي ايمان راوړل فرض عين دی او په اول چې قرآن دی تفصيلي ايمان په دې حيثيت چې موږ د دې كتاب د احكامو تفصيليه مكلف يو دا فرض دی لكن په فرض كفائې سره ځكه كه په هريو مسلمان باندې فرض عين شي بيا حرج (مشقت) او فساد دمعاش لازموي.

تشريح: **دريم بحث**: لومړی په دې خبره ځان پوهه كړه چې په كتب الهية باندې ايمان راوړل په دوه قسمه دي يو اجمالي او بل تفصيلي.

---

(١):- سورة الاحقاب: آية (٣).

ايمان اجمالي معنا دا چې د يو حکم د تشريح او تفصيل نه بغير ټول کتاب او مجموعه کتاب حق اومنلی شي او د حق عقيده پرې وساتلی شي او تفصيلي ايمان دېته وايي چې هر هر حکم سره له تفصيل او تشريح منزل من الله او د حق کيدو عقيده وساتلی شي اوس به راشو دريم بحث ته هغه دا چې د قرآن په شمول ټولو اسماني کتابونو باندې اجمالي ايمان فرض عين دی او ايمان تفصيلي په تيرو کتابونو نه فرض عين دی اونه فرض کفائې او په قرآن باندې تفصيلي ايمان فرض کفائې دی او ايمان تفصيلي ځکه فرض عين نه دی چې تفصيلي ايمان تفصيلي علم غواړي او په تفصيلي علم کې مشقت دی ځکه امور د نيوي ضروري به معطل شي خو دومره ده چې په هر قوم او جماعت کې داسې د داسې کس وجود ضروري دي چې هغه په تفصيلي قرأن ايمان لري ورنه ټوله ګناهګار دي[1]. يعنې د اجمالي ايمان په حکم کې قرآن او نورو کتابونو سره برابر دي په تفصيلي ايمان کې يې بيا فرق دی.

تفسيربيضاوي: (وَبِالآخرة هُمْ يُوقنُون) أَي يُوقنُون اِيقانًا زَال مَعهُ مَاكانُوا علَيه مِن أَنّ الجَنَّة لَايَدخلُها الّا مَنْ كانَ هُودًا أَونَصارى وأَنّ النّارَ لَنْ تَمَسَّهم الّا ايّاما مَعْدُودة)

ترجمه: دوئ يقين کونکي وو په هسې يقين چې زائله شي د دوئ هغه عقائد چې په کومو عقائدو باندې مخکې دوئ وو داچې جنت ته به نه داخليږي مګر يهود اونصاری او اور به نه رسيږي دوئ لره مګر څو ورځې شمارکړی شوې.

تشريح: مصنف دلته پنځه بحثونه ذکرکوي (۱) د صحت الحصر (۲) دفائدة الحصر. (۳)بحث ديقين په وضاحت کې دی څلورم د لفظ د اخرة په تشريح کې دی پنځم بحث د لفظ ديوقنون په تشريح کې دی.

---

(۱) او دې طرف ته چې به قرأن تفصيلي علم فرض کفايي دې الله په دې ايت کې اشاره کړې ده .وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ (۱۲۲) قال في تفسير المظهري (٤/ ٣٢٢)
وَما كانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً نفى بمعنى النهى واللام لتأكيد النفي والمعنى لا ينفروا كافة عن أوطانهم لطلب العلم فانه مخل بالمعاش ومفضى الى المفسدة فَلَوْلا فهلا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ اى من كل جماعة كثيرة كقبيلة واهل بلدة او قرية طائِفَةٌ جماعة قليلة لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ اى ليتكلفوا الطلب الفقاهة فى الدين ويتجشموا المشاق فى تحصيلها

مصنف دلته لوړی دریم بحث ذکر کوي ځکه اول بحث باندې پو هېدل موقوف دې په دریم بحث باندې

دریم بحث: دابحث د یقین په تعریف کې کوي یقین مصدر دی له باب ضرب یضرب څخه او د یقین یو تعریف ده کړی چې اتقان العلم بنفی الشک والشبهة عنه نظرًا واستدلالًا . مضبوطول دعلم دي په نفی دشک او شبه له دینه نظرًا واستدلالًا په نظر صحیح او استدلال صحیح سره نوله دې وجې نه په دې باندې د الله تعالی علم نه موصوف کیږي ځکه علم د الله تعالی نظري او بدهي نه دی او نه ورباندې علوم ضروري موصوف کیږي ځکه په علوم ضروري کې نظر او استدلال نه وي خلافاً للحکماء ځکه حکماء بدیهي ته اجل یقینیات وایي .

او بعض حضرات یې داسې تعریف کوي (هو العلم الذي لایحتمل النقیض) یقین هغه علم دی چې په هغې کې مخالف طرفته احتمال نه وي

سوال: په منطقو کې خوئې علم یقین تقسیم کړي دی بدهي اونظري ته لکه په شرح عقائد کې چې تاسو وائې په متواتر چې کوم علم مرتب وي هغه علم یقیني ضروري وي او په خبرالرسول چې کوم علم مرتب وي هغه یقین نظري دی گوره دلته توصیف د یقین په ضروري اونظري شوي دی ؟

جواب: هغه چې یقین موصوف کیږي په بدهي سره هغه توصیف په بل تعریف بناء دی په دې تعریف نه دی هغه داسې یقین وائې اعتقاد جازمه ثابته مطابق له واقعې سره په اعتقاد جازمه سره ظن خارج شو په ثابت سره تقلید خارج شو په مطابق له واقعې سره جهل مرکب خارج شو .

اول بحث: دابحث په دصحت الحصر کې دی معترض اعتراض کوي.

سوال: دلته بالآخرة هم یوقنون دا بالآخرت جار او مجرو تریوقنون پورې متعلق دی او هم ئې مبتداء ده معنی به داوي دا مومنان داهل کتابو یقین بالآخرت لري نو دا هم فاعل معنوي دی د یوقنون لپاره او قانون دادی چې فاعل معنوي مقدم شي په فعل باندې په هغه ترکیب کې قصروي نو دلته هم قصردی چې یقین بالآخرت مقصور شوی ترمؤمنانو د اهل کتابو پورې متجاوز نشو

غیرمؤمنانو داهل کتابو ته حالانکه یقین بالآخرت خو دغیر مومنانو هم وو ځکه په تورات اوانجیل کې دآخرت ذکروو نو یقین تر مومنانو داهل کتابو پورې خاص کول صحیح نه شو؟

جواب: تا اوس په دریم بحث کې وویل چې یقین مضبوط علم ته وائي چې په نفی دشک سره راغلی وي خو په نظر اواستدلال سره دغه یقین مراد دی او دغه ترمؤمنانو داهل کتابو پورې مقصور دی اوکافران داهل کتابو کې دغه سې یقین نشته بلکه هغوی به وهماً او تخمیناً ویلې چې مونږ به اورته نه ځو مګر څو ورځې.

تفسیربیضاوي: (وَاخْتلافُهم فی نَعِیم الجنَّة اَهُوَ مِن جِنس نَعِیمِ الدُّنیا أَوغیرِهِ وَفی دَوامِه وانِقطاعِه)

ترجمه: اوبل داچې د دوئ په نعمتونو دجنت کې اختلاف دی چې داجسماني دي که روحاني دي نوکه جسماني وي دابه دجنس دنعمتونو د دنیا څخه وي اوکه نه به وي او په دې کې هم اختلاف دی چې دا به هم دائم وي اوکه منقطع به وي.

تفسیربیضاوي: (وَتقْدیمِ الصِّلةِ وَبِناء یُوقنُون علی هُم تَعرِیضٌ لمَن عَداهُم مِن أَهل الکتَاب وَبَان اِعتِقادهُم فی أَمرالآخِرةِ غَیرمُطابِق ولَاصَادَر عَن اِیقانٍ)

ترجمه: په تقدیم دصلې (بالاخرة)کې اوبناء د یوقنون په «هُم» باندې په دې کې تعریض دی په هغه چاچې څوک سواه د دې مؤمنانو نه چې مؤمنان د نورو اهل کتابو دي ، اوپه دې هم تعریض دی چې اعتقاد د یهودو اونصاری وو په امر د آخرت کې دنفس الامر سره غیرمطابق دي اونه دی صادر دیقین څخه.

تشریح: **دویم بحث**: دلته دریم بحث ذکرکوي چې فائدة الحصردی. مخکې له بحث نه دا خبره زده کړه چې تعریض د اهل معانیو په اصطلاح کې د هغې خبرې نوم دی چې په کلام د یوشي په ذکر کولو سره ته غیر مذکور مراد کړې لکه خالد او زکریا دواړه تهجد کوي یو څوک او وایي خالد هو المخلص في عمله یعنې اخلاص خو د خالد په کار او لمونځ کې دی دلته تعریض دې ته دی چې د زکریا په کار کې ریاده ،

دلته دوه تقدیمه او دا دوه حصره دي او همدا دوه فائدې دي.

(۱) یو دا چې بالآخرة په یوقنون مقدم شو تقدیم د معمول په عامل راغلی دی.

(۲) فاعل معنوي ئې مقدم کړی (هم) په یوقنون باندې.

اول حصر: د موصوف دی تر صفته پورې او دوهم حصر د صفت دی تر موصوفه پورې اول مؤمنانو د اهل کتاب په اعتبار د ایقان مقصور تر آخرت پورې دي د دې رجعه قصر د صفت ته کیږي خو په اصل کې قصر د موصوف دی.

سوال: یقین خوئې مقصورنه دې تر آخرت پورې بلکه په الله (جَلَّ جَلَالُهُ) او رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) بعث وغیره ټولو باندې ئې یقین دی ؟

جواب: دلته فائدة الحصر تعریض دی کفارو د اهل کتابو ته، هغه داسې د مؤمنانو د اهل کتابو یقین مقصور دی تر آخرت واقعې پورې متجاوز نه دی احوالو باطله وو د آخرت ته په خلاف کفارو د اهل کتابو د هغوئ یقین په آخرت شته خو په احوالو واقعیه وو نشته.

دوهم حصر: حصر د صفت دی تر موصوف پورې او دا په تقدیم د فاعل معنوي کې دی چې هُم دی مقدم شوی په یوقنون باندې دا یقین مقصور دی تر مؤمنانو د اهل کتابو پورې متجاوز نه دی کفارو د اهل کتابو ته نو د هم یوقنون معنا به داسې شي: یقین خو صرف مومنان د اهل کتابو لري دې کې هم تعریض دی کفارو د اهل کتابو ته په دې خبره چې د چې د نورو اهل کتابو عقیده له یقین څخه نه وه صادره شوې.

تفسیر بیضاوي: (وَالْيَقِين اِتقانُ العِلم بِنفی الشَّک وَالشّبهَة عَنه نظرًا واستدلالًا وَلِذٰلِكَ لَايُوصفُ بِه عِلم البَارِی ولَاعُلوم الضَّرورِيَّة)

ترجمه: او یقین وائې مظبوطوالي د علم په نفی د شک او شبه په نظر او استدلال سره له دې وجې علم د باري تعالی نه موصوف کیږي په یقین او نه علوم ضروریه پرې موصوف کیږي.

تشریح: دا د یقین تعریف دی کوم چې مخکې موږ ذکر کړ.

استدلال: وائي چې ترتيب دامورو معلومه وو وکړى د دې لپاره چې مجهول درته حاصل شي لكه العالم حادث دعوه لانّ العالم متغير وكلّ متغير حادث فالعالم حادث.

(آخِر او آخَر)

تفسيربيضاوي: (وَالآخِرَة تَأنيثُ الآخر صِفَّة الدّار بِدليلِ قولهُ تعَالى (تِلْك الدّار الآخرةُ [1] فَغَلبتْ كَالدُّنيا وَعَن نَافع أنّه خَفَّفهَا بِحذْف الهَمْزة اِلقَاءحَركتِها عَلى اللّام وَقَرِى يُوقنُون بِقلبِ الوَاو بِضمِّ مَاقَبلِها اِجرَاء لَهَا مَجْرى المَضمُومَة فى وَجُوه وَوقّتَتْ).

ترجمه: اخرة د اخر تأنيث دى او دا صفت د دار دى(اى دار الاخرة) په دليل د دې قول دالله تعالى (ترجمه) دا جنتوند دار آخرة دى تغليبًا([2]) جنتونه په درا مسمى شوه لكه تغليبًا دا اسم د دنيا ګرځيدلى دي حضرت نافع [3]نه نقل دي چې تخفيف دهمزې ئې كړى اوحركت ئې په لام باندې ايښى دى (بِلَخِرَة) او يوقنون په بدلولو د واو په همزې سره هم لوستلې شوى دى (يُؤقِنُون) ځكه چې د واو ماقبل مضموم دى لهذا واو د واو مضمومه په ځاى جاري شو لكه وجوه او وقتت.

تشريح: څلورم بحث: دا بحث د لفظ د اخرة منعلق دى آخرة تأنيث داخر په كسرې د خا سره يو اخِر دى اوبل اخَر دى په دې دواړو كې دافرق دى چې اخِر صيغه د اسم فاعل ده او اخَر صيغه داسم تفضيل ده اوبل اخِر روستني ته وائي او اخَر بل ته وائي نو دا وائي چې آخرة تأنيث اخِر دى او دا صيغه د اسم فاعل صفت دى موصوف غواړي په موصوف كې يې دوه احتماله يو دا چې موصوف ورته الدار مقدر دى ، بل دا چې بعض علماء وائي چې موصوف ورته النشأة دى دار هم مؤنث سماعي دى او النشأة هم مؤنث ده په لفظ كې دواړه ورته موصوف كيدى شي څوک چې

---

(١):- سورة القصص : آية (٨٣).

(٢) د غلبې تعريف علامه رضي داسې كړى دى (تخصيص اللفظ ببعض ماوضع له)يعني لفظ لره د موضوع له تر بعض افرادو پورې خاص كول.

(٣) نافع (- ١١٧ هـ)

نافع المدني أبوعبد الله مولى عبد الله بن عمر بن الخطاب . من أئمة التابعين بالمدينة . ديلمي الأصل . مجهول النسب . أصابه ابن عمر صغيرا في بعض مغازيه . كان علامة في فقه الدين ، متفقا على رياسته . أرسله عمر بن عبد العزيز إلى مصر ليعلم أهلها السنن . كان كثير الرواية للحديث . ولا يعرف له خطأ في جميع ما رواه . الأعلام للزركلي ٨ / ٣١٩ ، وتهذيب التهذيب ١٠ / ٤١٢ ، ووفيات الأعيان ٢ / ١٥٠)

ورته دار مقدر کوي دهغوئ لپاره دا قول د الله جلّ جلاله دليل دی تلک الدّار الآخرة او څوک چې ورته نشأة مقدر کوي هغوئ وائي تلک النشأة الآخرة.

دنيا د اصل وضعې په اعتبار سره د اسم تفضيل صيغه ده چې د لغت په اعتبار سره هر قرب اونزدې شي ته وائي که له دُونو څخه شي او که له دنأة نه شي هر رزيل شي ته وايي تر دې ځايه په بالاخرة کې يو قرات او اوس دويم قرأت ذکر کوي کوم چې له نافع (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) څخه نقل نافع (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) څخه پکې تخفيف نقل دی چې همزه لرې کړي او فتحه د همزې لام ته ور کړې نو (بِلَخِرَة) به شي

پنځم بحث: دا بحث د يوقنون په قرأت کې دی په يؤقنون کې هم يو بل قرأت راغلي دی لومړی دا خبره زده کړه چې د اهل صرفو يو قانون دی چې کله په واو باندې ضمه اصليه وي نو ثقل پکې راځي ځکه واو خپله له دوه ضمو څخه جوړ دی نو ضمه ئې په همزې بدله کړه نو يؤقنون به شي.

سوال: قانون خو دادی چې واو مضموم وي او ضمه پکې اصليه وي نو بيا پکې ثقل راځي دلته خو واو مضموم نه دی بلکه ساکن دی ؟

جواب: که واو خپله مضموم نه دی ماقبل خوئې مضموم دی ضمه د ماقبل داسې وي لکه دده ضمه مثال يې لکه په وُجوهٌ او وُقّتت کې چې کله ضمه په همزې بدليږي أجوة او أُقتت ويلی شي.

تفسير بيضاوي: (وَنظِيرُهُ ... لَحَبّ المُؤقِدانِ اِلَيّ مؤسى ... وَجَعْدَةَ اذَا أَضاء هُما الوُقود(١))

ترجمه: قسم دی چې خامخا محبت دوه داوربلونکو سره زما دی چې موسی ... او جعده دی چې کله دا دواړه رڼا کې اوربلوي.

(١):- عفا النصران بعيلك فالوحيد ... لايبقى لجدته جديد... نظرنا نار جعدة هل نراه ... علاها بعد ضوء ام همود ... لحب المؤقدان الى موسى ـ وجعدة اذا اضاءهماالوقود... تعرضت الهموم لنا فقالت... جعادة اىّ مرتصل تريد... فقلت لها الخليفة غير شک ... هوالمهدى والحكم الرشيد.. هشام الملک والحکم المصفى ... يطيب اذا نزلت به الصعيد . (حاشية الشهاب : ١ / ٢٤٠)

تشريح: په يو قنون کې دويم قرأت دا و چې واو په همزې سره بدل کړي شي اوس د دې لپاره يو بل مثال بيانوي چې واو په همزې سره بدل شوی وي لکه په دې شعر کې په لحب کې لام موطئه للقسم دی اصل خبره په مؤقدان کې ده دلته کله مؤقدان په ځای د موقدان وويلی شي او د وقود په ځ ی کله أقود وويلی شي. دا يو سړی دی چې جرير ئې نوم دی د خپلو دوه ځامنو صفت کوي چې يو موسی دی او جعده دی خو دوه صفته ئې کوي يو دا چې دا دواړه سخيان دي اوبل دا چې دادواړه مشهور دي ،اور بليدل په سخاوت د دوئ دلالت کوي ځکه چې څوک اور ډير بلوي هغه ډوډۍ ډيره پخوي اوڅوک چې ډوډۍ ډيره پخوي هغه ميلمانه ډيرلري اوڅوک چې ميلمانه ډير لري هغه سخې وي.

(أولئک عَلَى هُدًى مِنْ رَبِّهِمْ وَأُولئک هُمُ المُفْلِحُوْنَ [۱]).

(د استئناف اقسام)

تفسيربيضاوي: (أولئك عَلى هُدًى من رَّبِهِمْ) ألجُملةُ فى محل الرَّفع اِنْ جُعِل أَحدُالمُوصُولَين مَفصُولًا عَن المُتَّقينَ خَبرلَه فَكَانَّه لَمَّا قيل (هُدًى لِّلْمُتَّقين) قِيل مَابَالُهُم خُصُّوا بذلک ؟ فَاجِيبَ بقوله (الّذين يُؤمِنُوْن بِالغيبِ الى الآخر الآيات).

ترجمه: دغه موصوفين په دغو صفاتو اربعه وو سره په هدايت دي له جانبه د رب خپل نه دا جمله په محل درفع کې ده که يو له دوه و موصولينو نه (اول الذين يا دوهم الذين) د متقين نه جدا اوګرځولی شي نو دا جمله اولئک به خبر دمتقين شي نو شان دادی چې کله داسې وويلی شي هدًى للمتقين قرآن دمتقيانو لپاره هديت دی ويلی شي چې دمتقينو څه حال دی چې په هدايت باندې خاص کړي شوي دي جواب ورکړی شو چې څوک په دغه صفاتو سره متصف دي هغ په هدايت باندې وي.

---

(۱):- سورة البقرة : آية (٥).

تشریح: دې ایت لاندې درې بحثونه کوي اول أولئک د ترکیب په اعتبار سره او ورسره څو فایدې دویم د علی د استعمال متعلق او دریم هدًی نکره ذکر کولو متعلق . خو لومړی دا خبره زده کړه چې ایتناف څه ته وایي : د اهل معانیو په نزد استناف ویل کیږي:

الفضل لكون الجملة جواباً لسوال اقتضيته الاولى يسمى استينافا والجملة مستأنفة ويطلق عليها الاستيناف ايضاً.

یعنې که په جمله کې عطف په دې وجه پرېښودل شي چې هغه د سوال مقدر جواب واقع کیږي نو د عطف ترک ته استناف ویل کیږي او دې جملې ته مستأنفه وایلی شي او کله نا کله په دې جملې هم د استناف اطلاق کیږي بیا په استناف کې دوه تقسیمه دي په یو تقسیم کې په درې قسمه دی او په بل تقسیم کې په دوه قسمه دی .

جمله مستأنفه : دیته وائي چې په جواب د سوال مقدره کې راغلی وي، بیا صاحب دتلخیص او د علامه تفتازاني رحمه الله په مابین کې اختلاف دی صاحب د تلخیص رحمه الله وائي یو منشأ د سوال مقدره دی او بل جواب د سوال دی یعنې درې شیان دي دا وائي چې دا سوال مقدره نازل که په منزله دسوال موجوده او دا روسته ورته جواب که.

علامه تفتازاني رحمه الله وائي چې په دې کې تکلیف دی چې سوال مقدره نازل کړی په منزله د سوال موجوده بلکه داسې وکړه چې دامنشأ د سوال نازل کړه په منزله د سوال او دا روسته جمله ورته جواب کړه بهر تقدیر دا سوال به خالي نه وي یابه د سبب مطلق څخه وي او یابه د سبب خاص څخه وي یابه د سبب څخه نه وي یعنې د غیرالسبب څخه به وي نو دا درې اقسام د جملې مستأنفې شوه.

(۱) هغه جمله مستأنفه ده چې د داسې سوال په جواب کې راغلي وي چې دا سوال د سبب مطلق څخه وي.

(۲) هغه جمله مستأنفه ده چې د داسې سوال په جواب کې راغلي وي دا سوال د سبب خاص څخه وي.

(۳) هغه جمله مستأنفه ده چې د داسې سوال په جواب کې راغلي وي چې دا سوال د غیرالسبب څخه وي.

داول قسم لپاره مثال: قال لي كيف انت قلت عليل... سحر دائم وحزنٌ طويل)

(ترجمه) ماته يې ويل څنګه ئې ما ورته وويل چې مريض يم بې خوبي ده ډيره او غم اوږد .

دلته سحر دائم وحزن طويل جمله مستأنفه ده ، داقلت عليل منشأ د سوال ده چې كله ده وويل مريض يم نو يو سوال را پيدا شو او هغه سوال مقدره داده چې ولې مريض ئې اي ماسبب مَرَضک دا سوال مقدره نازکه په منزله دسوال مذکوره یامنشأ د سوال نازله که په منزله د سوال نو چې په جواب کې کومه جمله واقع ده هغه مستأنفه ده.

د دوهم قسم لپاره مثال چې سوال د سبب خاص څخه وي لکه یوسف (عَلَيْهِ السَّلَامُ) وائې وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِيْ زه خپل نس ته برأت نشم ورکولی سائل سوال مقدرکوي چې ته نفس ته برائت ولې نه ورکوي هل النفس الامّارة بسوء ؟ دا سوال د سبب خاص څخه شو یوسف (عَلَيْهِ السَّلَامُ) ورته جواب کی وائې إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِسُوْءٍ بیشکه نفس امرکونکی دی په سوء باندې نو دا جمله إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِسُوْءٍ مستأنفه شوه. اوس دا خبره چې دا سوال د سبب خاص څخه دی نو څنګه له سبب خاص څخه دي دا وايي هغه داسې چې دلته په ايت کې جواب ان او لام تاکيد سره موکد دی له دې نه معلوميږي چې نوره خبره د سايل په زهن کې شته خالي شک او شبه ختموي

دريم قسم لپاره مثال: چې سوال د غيرالسبب څخه وي لکه : الله تعالى فرمايي قالوا سلاماً قال سلام دې ايت کې قال سلام جمله مستأنفه ده هغه داسې کله چې ملائکې را خکته شوي او په ابراهيم عليه السلام يې سلام واچولو نو د سايل په زړه کې سوال پيدا شو چې ابراهيم عليه السلام په جواب کې څه ورته وويل نو الله تعالى ورته جواب کې وويل چې هغه هم وويل سلام نو دلته لپاره هيڅ سبب نشته .

دوهم تقسیم: په دې تقسیم کې جمله مستأنفه په دوه قسمه ده اوبه جمله مستأنفه کې اعاده دمبتداء کیږي دا دا تقسیم په اعتبار د مستأنف عنه سره ده د چا دسوال په جواب کې چې جمله مستأنفه ذکر شي دغه کس ته مستأنف عنه الحدیث وایي.

اول قسم: کله اعاده پکې داسم دمستأنف عنه وي.

دوهم قسم: کله اعاده پکې دوصف دمستأنف عنه وي او دا قسم پکې بلیغ دی، ځکه په دې کې تنویع الدعوی بالبرهان فایده حاصلیږي او هغه داسې چې کله په وصف باندې څه حکم مرتب کیږي دا وصف به د حکم د ترتب لپاره علت وي مثال لکه احسنت الی زید نو چاسوال مقدروکړ چې زید لائق دنیکۍ ده اوکنه نو؟ ده جواب وکړ زید حقیق بالاحسان یاصدیقک القدم حقیق بالاحسان.

په زید حقیق بالاحسان کې اعاده داسم دمستأنف عنه وشو چې زید دی اوپه صدیقک القدم حقیق بالاحسان کې اعاده دوصف دمستأنف عنه وشو صدیق دی.

اوبله خبر دا چې کله اعاده د ضمیر وکړي شي په جمله مستأنفه کې نو دا به د اول قسم نه حسابولی شي اوکه د دوهم قسم نه؟ نو فرمائي چې دابه داول قسم نه حسابولی شي ګویا که اعاده د اسم مستأنف عنه شوې ځکه په ضمیرکې اشاره ذات ته وي صفت ته نه وي اوکه اعاده د اسم اشارې وشي هغه به د دوهم قسم نه حسابولی شي ځکه اشاره کې ذات مع الوصف ته اشاره وي.

اوس به آیات شریف ته راشو اُولئک عَلَی هُدًی یادا دماقبل سره مربوط کړه (وصل) یائې دماقبل نه مفصول کړه اول وصل بیانوي هغه داچې په وصل کې درې احتماله دي.

اول احتمال: الّذین یؤمنون بالغیب معطوف علیه و والّذین یؤمنون بما انزل الیک معطوف معطوف سره معطوف علیه دا مبتداء اُولئک علی هدی ورته خبر دا ټوله جمله مستأنفه ده داجمله مستأنفه په اول تقسیم کې د قسم اول څخه ده چې سوال دسبب مطلق څخه ده ای مابال المتقین اختص بالهدی هغه سبب څه دی چې هدایت له متقینو پورې خاص دی نو الله جلّ جلاله جواب ورکړ چې الذین یؤمنون بالغیب او الذین یؤمنون بما انزل او اولئک علی هدی خلاصه ئې دا ده چې د دوئ صحیح عقیدې دي اوصحیح اعمال ئې دي، په بالغیب کې صحیح عقیدې ته اشاره ده

او په یقیمون الصلوة کې صحیح اعمالو ته اشاره ده او په دوهم تقسیم کې هم د قسم ثاني څخه ده ځکه دې جمله کستأنفه کې اعاده د اوصافو دمتقینو شوی (اعاده دصفت دمستأنف عنه شوی) او دا ابلغه ده ځکه دلته به دا وصف علت کې لپاره د ترتب حکم چې اولئک دی.

دوهم احتمال: چې الّذین یؤمنون بما انزل مبتداء شي او اولئک علی هدی ورته خبرشي مبتداء سره د خبرنه دا ټوله جمله معطوفه ده په متقین باندې په دې ترکیب دا جمله مستأنفه نه ده بلکه جمله تعریضیه ده په دې کې تعریض دی کفارو د اهل کتابو ته چې قرآن هدایت دی متقینو ته اومؤمنانو داهل کتابوته اونه دی هدایت کفارو داهل کتابو ته ځکه جمله مستأنفه نه مُصدّره کیږي په واو عاطفه سره او دلته مُصدّره ده ځکه تعریضیه ده.

سوال: د دې دواړو جملتینو (هدًی للمتقین او والذین یؤمنون بما انزل...) په مابین کې مناسبت څه شئ دی ؟

جواب: مناسبت کمال دی ځکه په معطوف علیه کې هم کمال د قرآن ذکرشو او په معطوف کې هم کمال د قران ذکرشو او دا له تعریض څخه را ووت چې مؤمنان داهل کتاب اومتقین د قرآن په وجه مؤمنان دي.

سوال: فان جعل احد الموصولین سره مصنف دواړو ترکیبونو ته اشاره کړې وه او حال دا چې په فکانه سره یو ازې اول ترکیب ذکرکوي داولې ؟

(۱)**جواب**: بعض علماء وو دا جواب کړی چې په ان جعل احد الموصولین کې الف لام عهدي دی معهود. او مراد هغه اول موصول دی نو اول ترکیب په اجمال کې هم راغی او د اول ترکیب تفصیل هم کوي.

(۲)**جواب**: بعضې علماء وائي په اجمال کې دواړو ترکیبو ته اشاره ده خوپه تفصیل کې ئې یو ذکر کړ ځکه دوهم ترکیب ضعیفه ده او ځکه ضعیفه دی چې کله یو موصول روسته د بل موصول څخه راشي اومانع د عطف څخه هم نه وي نو هلته عطف اولی دی دلته یو موصول روسته د بل نه راغلی دی او عطف ئې نه دی کړی په الذین بلکه په هغه متقین ئې ور عطف کړی او بل دا چې په دوهم ترکیب

والذین یؤمنون نه مؤمنان د اهل کتابو مراد دي نو معنی به داشي دامؤمنان د اهل کتابو چې اولئک علی هدی من ربهم و اولئک هم المفلحون نو دا دنیوي او اخروي فائده دي مؤمنانو د اهل کتابو ته ثابته کړه اومؤمنانو دمشرکانو ته دې ثابته نه کړه او حال دا چې مومنانو د مشرکینو هم په قرآن ایمان راوړی اوله شرک څخه بیزاره شوي وو نو په دې کې تو هم د دې نقصان راځي.

دریم احتمال: چې اولئک د ماقبل نه مفصول کړی شي نو په دې کې بیا یوترکیب دی اولئک مبتداء ده علی هدًی ئې خبردی او اولئک مبتداء ده او هم المفلحون ئې خبردی یو په بل عطف دي یا عطف د مفرد په مفرد دی یا عطف د جملې دی په جملې باندې نو دا بیا جمله مستأنفه په اول تقسیم کې اول قسم هم کیدای شي او دریم قسم هم کیدای شي چې اول څخه شي نو سوال مقدر به داوي ماسبب اختصاصهم بالهدی او که له دریم قسم څخه شي نو سوال به داوي مافائدة الصفات والاحکام نو جواب کوي اولئک علی هدًی من ربّهم احکام دادي: چې قرآن کامل دی او قرآن هادي دی او صفات دادي: الذین یؤمنون یعنې صحیح عقیده اوصحیح اعمال دي دا ده آول سبق خلاصه شوه اوپه دوهم تقسیم کې قسم ثاني ده ځکه دې کې جمله مستأنفه کې اعاده د اسم اشارې دی اعاده د اسم اشارې اعاده دصف وي.

تفسیربیضاوي: (وَاِلّا فَاستِئنافُ لَامَحَلَ لَهَا فکَانّه نَتِیجة الأَحکامِ وَالصِّفات المُتَقدّمة أوجوَاب السَّائِلِ قَال مَالِلمَوصُوفَین بِهَذه الصِّفاتِ اِختَصُّوا بِالهُدی ؟ وَنظِیرهُ اَحسنتَ الی زَیدٍ صَدیقک القَدیم حَقِیق بالاحْسان)

ترجمه: اوکه داسې نه وه بیاجمله مستأنفه ده اومحل د اعراب ورلره نشته ګویا که داده مخکینو احکامو اوصفاتو نتیجه ده اویا جواب دی د سائل د سوال مقدر چې څه ذي دموصوفینو د دې صفاتو لره چې خاص کړی شوي دي په هدایت سره اومثال د دې احسنت الی زید صدیقک القدیم حقیق بالاحسان. احسان دي وکړ زید سره چې ستا پخوانی دوست دی دا احسان لائق دی.

تشریح: د استئناف نه مراد هغه دریم قسم استئناف مراددی او جواب السائل سره اول قسم استئناف ذکرکوي او ضمیر د نظیره (ه) دوارو ته راجع دی په طریقې دبدلیت.

تفسيربيضاوي: (فَانّ الاسمَ اشارَةِ ههنَا كَاِعادَة المُوصوفِ بِصفاتِه المَذكُورةِ وَهو أَبلغُ منْ أَن يُستَأنفَ بِاعادةِ الاسمِ وَحدَه لِمافيهِ منْ بَيانِ المُقتضى وَتَلخِيصهِ فانّ تَرَتب الحكْم عَلى الوَصف اِيذان بِانّه المُوجِب لهُ)

ترجمه: بيشكه اسم اشاره دلته په شان د اعادې د موصوف سره د صفاتو مذكوره وو ده اودا (اسم اشاره) ابلغ ده له دينه چې استناف په اعادې د اسم سره شوې وي ځكه چې په دې اسم اشاره كې بيان د مقتضي او د اختصار دى بيشكه چې په ترتب حكم كې په وصف باندې د دې خبرې اعلان وي چې دا وصف د دې حكم لره موجب دى.

تشريح: دلته د اسم اشارې فوايد بيانوي هغه داسې چې دا مذكور خلك په صفات مذكوره وسره خو بېشماره دي د ټولو نومونه خو نشي اخستل كيداى نو د اختصار لپاره په اولئك اسم اشارې سره ذكر كړه او بله دا چې په جمله مستأنفه كې اعاده د اسم اشارې داسې ده لكه اعاده د موصوف سره له صفاتو او داسې جمله مستأنفه ابلغه وي له هغې نه په كومه كې چې اعاده د اسم د مستأنفه عنه شوې وي ځكه په اسم اشارې كې د حكم د مقتضى وضاحت كيږي او دا ځكه چې حكم په وصف باندې مرتب كول د دې خبرې اعلان كوي چې دا وصف د دې حكم موجب او مقتضي دي.

(استعاره تمثيليه)

تفسيربيضاوي: (وَمعْنى الاسْتِعلَاء فِى (عَلَى هُدًى) تَمثِيلُ تَمكُّنِهم مِن الهُدى وَاستقْرارِهم عَليه بِحالٍ من اِعْتلى الشيَءَ وَ ركِبَه وَقدْصَرَّحُوا به فِى قَولهِمْ اِمْتطى الجَهل وَالغَوى وَاقْتَعِد غَارِبَ الهَوى وَ ذَلك اِنّما يَحْصلُ بِاستِفْراغِ الفِكرِ وَ اِدامَة النّظرِ فِيما نَصبَ منَ الحِجَج وَالمُواظَبة عَلى مُحاسبَة النّفس فِى العمل)

ترجمه: او معنىٰ د استعلاء په على هدى كې تمثيل دى د قدرت موندلو د متقيانو په هدايت باندې او برقرار پاتې كيدلو د حال د هغه چا سره (تمثيل دى) چې په كوم شي د پاسه او په هغه شي سوروي او په دې تمثيل دوئ تصريح كړي ده په دې قول دعربو كې چې فلانى سرى جهل او ګمراهى خپله سوارلى ګرځولي ده او دا محاوره چې فلانى د خواهشاتو په ګردن ناست دى دا

تکمن په هدایت ئې څکه دی چې دا دفکر په فارغولو سره (قوت نظری) حاصلیږي او دوام د نظر په هغو دلائلو کې چې کوم دروني شوي دي په قدرت و حدانیت او عظمت شان د ربّ جلّ جلاله کې او دا تمکن د هدایت همیشه په عمل کې د محاسبې دنفس سره (قوت عملی) حاصلیږي.

تشریح: دریم بحث: مصنف رحمه الله دلته دریم بحث د علی د استعمال متعلق کوي داسمعمال مطلب دا دی چې ایا دا علی د حقیقي معنا په اعتبار سره مستعمله ده او که د مجازي معنا په اعتبار سره ده.

لو مړی دا خبره زده کړه چې اهل المعاني استعاره په اعتبار د لفظ مستعار سره په دوه قسمه کوي او اصلیه دویم تبعیه که لفظ مستعار اسم جنس وي دا استعاره اصلیه ده او که لفظ مستعار فعل یا حرف وي دا استعارہ تبعیه ده خو دلته درې استعارې زده کړئ یوه استعاره په اسم جنس کې چې اصلیه ده بله استعاره په فعل او په حرف کې چې تبعیه ده او بله استعاره ئې تمثیلیه ده.

(۱) استعاره اصلیه:

دیته وائي چې لفظ مستعار اسم جنس وي اسم جنس نه مراد هغه لفظ دی کوم چې د معنی (مطابقي او تضمني) په اعتبار مستقل بالمفهومیت په دې سره حرف او فعل خارج شول څکه حرف مستقل بالمفهومیت نه او فعل په معنی تضمني کې اګر که مستقل وي خو مطابقي کې مستقل بالمفهومیت نه وي لکه لفظ د اسد په واسطې د شجاعت د زید سره.

(۲) استعاره تبعیه:

دیته وایي چې لفظ مستعار فعل او یا حرف وي، داستعارې بالتبعیة مثال په حرف کې یو حدث مشبه ده او مشبه به متعلق د حرف ده یا دا حرف را واخله په مشبه کې استعمال که نو دا استعاره بالتبعیه ده لکه فرعون ساحرانو ته وائي (لَأُصَلِّبَنَّكُمْ فى جزوع النخل) زه به تاسو رازوړند کړم په شاخونو دکجورو کې د شاخونه خو ددوئ (ساحرانو) لپاره ظرف نه وو بلکه دا یا د شاخونو پاسه وو یا ورنه لاندې و او دلته ئې د ظرف صیغه مستعمله کړه، دلته اوس استعلاء چې یو حدث دی دا مشبه او متعلق د حرف (فی) چې استقرار او ظرفیت دی دائې مشبه به دا معنا ئې متعلق د (فی) کړه د هغې خپله معنی ئې

نکړه ځکه د (فی) معنی غیر مستقله ده او دا مستقلي معنی ګاڼې دي او س دا (فی) دي را وخیست او په استعلاء کې د مستعمل که نو دا استعاره بالتبعیه شوه.

د استعارې بالتبعیه په افعالو کې مثال چې یو حدث را واخلې او هغه د یو مصدر سره مشابه کړې بیا د دې مصدر مشتقي را واخلې او په دې مشبه کې ئې مستعمل کي لکه (اولئک الذین اشتروا والضلالة بالهدی) دلته اختیار یو حدث دی دا مشبه کړه د بیع او شراء سره (مصدر سره) او د دې مصدر (بیعې او شرا) مشتقي بیا را واخله چې اشتروا دی دا په اختیار کې مستعمل که نو دا استعاره بالتبعیه په افعالو کې شوه.

(۳) استعاره تمثیلیه:

دیته وائي: (تشبیه هیئة منتزعة من امور متعددة بمثلها) چې له ځینې متعدد امورونه یو هیئت منتزع کې او له ځینې نورو متعددو امورو څخه بل هیئت منتزع کې بیا دا یو هیئت له بل سره مشابه کې لکه سید قریشي بابا رحمه الله به ویل چې په بټ خیله کې یو اخند وه نو د خوړنه پورې هم خیرات وو او د دې غاړه هم خیرات وو نو دا اخند به خوړکې ته او راته کله به خیال کولو چې پورې غاړه خیرات وخوره نو هغې خواته به راوان شو بیا به ئې خیال وکړو چې راځه اول دې غاړه خیرات او خوره بیرته به راراون شو نو دلته یو خوړدی بل دغه سړی شو او بل د ده تلل او راتلل شو نو دا امور متعدد دي او له دې هیئت منتزعه هغه تحیرد دې سړی دی نو دا هیئت مشبه به او یو طالب دی بل مدرسه ده او بل د ده تلل راتلل دي) دا یو هیئت منتزع دی نو دغه هیئت (د طالب) له هغه هیئت (د اخند) سره مشابه که دا استعاره تمثیلیه شوه.

دلته په اولئک علی هدًی باندې یو اعتراض راځي هغه داسې.

سوال: علی خو د استعلاء لپاره راځي او په مرکوب ور داخلیږي او مرکوب خو جسم وي او دلته په ایت کې خو مرکوب هدایت دی او هدایت خو جسم نه دی نو معنی داده علی هدًی دوئ سواره دي په هدایت، او سورلی خو په جسم کیږي؟

جواب: دلته دا استعاره تبعیه ده هغه داسې تمکن فی الهدایت مشبه او متعلق د حرف (علی) چې استقرا اورکوب دی دامشبه به بیا دا علی رواخله او په تمکن فی الهدایت کې ئې مستعمل که نوا دا استعاره بالتبعیه ده دلته قاضي صاحب بیا ورته دتمثیل لفظ هم استعمال کړی خو دتمثیل نه به استعاره تمثیلیه نه وي مراد بلکه تصویر به وي یعنې د معقول لپاره په محسوس کې صورت پیش کوي او که له دینه استعاره تمثیله مراد کړی شي بیا به د دې صورت دا وي چې یو متقین(مهتدي) دي بل هدایت دي او بل تمکین بالهدایت دي دا هیئة منتزعه له امور متعدة و نه مشبه، او بل طرفته راکب دی او بل مرکوب دی او بل د راکب استعلاء ده په مرکوب دا بل هیئة منتزعه دی دا مشبه به او دېته استعاره تمثیلیه وایي.

د علامه تفتازاني او سید السند رحمهما الله مناظره

په استعاره تمثیل او تبعیه کې د علامه تفتازاني او سید سند رحمهما الله یوه مشهوره مناظره شوي ده هسې خو د دوی دواړو تر مینځ زیات بحثونه شوي دي چې مستقل کتابونه پرې لیکل شوي دي خو تر ټولو مشهوره یې دا مناظره ده.

پیښه داسې وه چې علامه تفتازاني رحمه الله د شاه شجاع بن مظفر به دربار کې ډېر اثر او روسوخ درلود له هغه نه روسته شاه تیمور لنګ کوم چې د مغلو له کورنۍ څخه و په دربار کې صدر الصدور مقرر شو، تیمور د علامه صیب ډېر زیات معتقد و او زیات احترام به یې کولو کله چې علامه د مطول شره تلخیص المفتاح ولیکله نو تیمور فخراً تر یوې میاشتې د هرات د قلعه په روازې کې اېښې وه، دغه د حنفي مذهب لوی محقق علامه میر سید السند رحمه الله هم درپار ته تګ راتګ کولو؛ خو د میر سید السند تعلق له تیمور سره د علامه تفتازاني په واسطې پیدا شو.

یوه ورځ تیمور سید السند ته وویل چې ته په څه کې مهارت لرې چې همغه کار ته دې واستوم میر صیب ورته وویل زه خو نیښان ویشتونکی یم تیمور ورته وویل بیا خو به دې له فوځ ... سرحداتو ته ولېږم، میر صیب ورته له جیب نه کاغذونه راوباسل ورته یې وویل زه علمي نیښان

ویشتونکی یم یعنې مناظر یم، تیمور ورته وویل که دغسې وي نو بیا له علامه سره مباحثه وکړه نو د دواړو په دې کې مناظره وکړه چې تمثیل د ترکیب مستلزم دی او که نه دی ؟

علامه ورته وویل تمثیل د ترکیب مستلزم نه دی او دا کله د استعارې په طریقې هم کیږي لکه دا قول د الله تعالی (اولئک علی هدًی من ربهم)

سید السند ورته وویل په دې خبره څه دلیل دی ؟

علامه تفتازاني رحمه الله ورته وویل د علامه زمخشري کلام ته وګوره (معنی الاستعلاء فی الایة مثل تمکنهم من الهدی واستقرار هم علیه و تمسکهم به شبهت حالهم بحال من اعتلی الشيء ورکب) یعنې په ایت کې د استعلاء معنا دا ده چې په هدایت باندې د مومنانو ثابت کېدل او متمکن کېدل تمثیل دی چې په دېکې د هغوی حالت د هغه شخص له حالت سره تشبیه کړل شوی دی چې په کوم شي باندې سوریږي ، علامه طیبي رحمه الله د مذکور قول (مثل تمکنهم) مراد ظاهر کولو کې لیکي چې (یعنې هو استعارة تمثیلیة واقعة علی سبیل التبعیة یدل علیه شبهت الحالهم) یعنې د علامه زمخشري د قول مطلب دادی چې په دې ایت کې استعاره تمثیلیه ده په طریقې د تبعیې سره، د لعلّ د استعارې په سلسله کې علامه سکاکي هم د دغې مدعی تائید کړی دیته ورته نور دلایل هم شته خو هم دا کافي دي.

میر صیب ورته وویل هو ! په دې اشکال دی هغه دا چې استعاره تمثیلیه صرف په مرکباتو کې وي او تبعیه صرف په مفرداتو کې وي نو دواړه څنګه ځېلو کې سره جمع کیږي دا خو د اور او اوبو جمعه والی دی؟

علامه صیب ورته جواب کوي چې دا خو کوم لوی اشکال نه دی ځکه د استعارې تمثیلي مدار په ترکیب باندې نه وي صرف د شبهې وجه یې له متعددو منتزع ده .

میر صیب پرې اعتراض کوي د شبهې وجه له طرفینو منتزع کیږي او د دې د شبهې وجه کې تعدد وي نو په طرفینو کې تعدد ضروري شو همدا ترکیب دی کنه!

علامه ورته وايي: له متعددو امورو انتزاع په ذات د طرينو کې ترکيب نه لازموي ځکه دا خو له هغه ځخه ماخوذ دی نه له ذات د طرفينو څخه.

د دواړو ترمينځ د سوال او جواب سلسله اوږده شو نو د فيصلې کولو (ثالث) لپاره يې حکم نعمان معتزلي مقرر کړی و نو نعمان معتزلي د مير سيد السند په حق کې فيصله وکړه او دا يې د څو وجو نه وکړه اول دا چې مير صيب فصيح و په نسبت سره علامه صيب ته دويم دا چې نعمان معتزلي له مخکې نه له علامه صيب سره وران و هغه د عقيدې په بنياد.

کومه چې مشهوره ده په مابين د علماء او طلباءؤو کې مناظره داسې وه چې علامه تفتازاني له دې پېښې ورسته علامه صيب سخت خفه شو چې يو خو سيد السند دده په واسطې له تيمور سره تعلق پيدا کړو او بل داچې له دينه مخکې ټولو خلکو مير صيب د علامه صيب په شاګردانو کې شمارلو او مير صيب به خپله هم دا اقرار کولو چې زه د ده له کتابونو استفاده کوم نو د دغه خفګان له امله مريض شو او په (۲۲ محرم په کال ۷۹۲هـ) کې په سمرقند کې وفات شو [۱]

له دې نه وروسته علامه الوسي رحمه الله صاحب د تفسير روح المعاني يوه رساله وليکله په نامه د (الاجوبة العراقية عن الاسئلة الايرانية) دا رساله د علامه تفتازاني رحمه الله دفاع او د مير سيد السند رحمه الله سوالونو ته جواب دی. د دې رسالې خلاصه داده استعاره تبعيه په مفرداتو کې راتللی شي لکه دلته چې هيئت مفرد دی او منشأ امور متعدد دی او مشبه او مشبه به دواړه مفردين دي او کله مشبه او مشبه به دواړه مرکبين وي نو داسې استعاره تمثيليه له استعارې تبعيه سره جمعه کيدلی شي.

دغه راز علامه صبان يو کتاب ليکلی د الرسالة البيانية په نامه په دې کتاب کې هم د دې مناظرې تفصيلي تذکره شته په يو بل کتاب چې په دې مناظره ليکل شوی په نامه د مسالک الخلاص فی مهالک الخواص او په کتاب الانصاف فی مشاجرة الاسلاف کې هم د يادې مناظرې تذکره شته.

---

(۱) ظفر المحصلين :۱/۴۴۲،۴۴۱

د هدًى د تنکير وجه

تفسيربيضاوي: (ونَكَّر هدًى لِلتعْظِيم فَكأَنّه أُرِيدَ بِهِ ضَرب لَايُبالَغ كَنْهُهُ ولَايُقادَر قَدرهُ وَنَظِيرِه قَول الهُذَلِيّ [۱] . فَلا و أَبِي الطَّير المُريّة بالضُّحى... على خَالد لَقد وقَعت على لحَمٍ . . وأَكَّد تَعظيمَه بانّ الله تعالى مَانِحُه وَالمُوفق له)

ترجمه: هدًى ئې د تعظيم لپاره نكره ذكر كړ ګويا چې له هدايت سره د هدايت هغه نوعه مراد ده چې دهغې نهايت ته رسيدل نشي كيدلى او د هغې مقدار او اندازه كيدلى نشي اومثال ددې د هذلي شاعردا قول دى (ترجمه) په پلارانو (اصول) د مرغانو دې زما قسم وي چې د ځاښت په وخت كې راښكته كيدونكى وو په خالد باندې په تحقيق سره په يوه غوښه عظيمه واقع كيدل.

تشريح: دريم بحث: دا دريم بحث دى چې هدًى يې ولې نكره ذكر كړ نو ذى وايي چې د هدًى د نكارت مقصد د هدايت عظمت او لويى لپاره.

تنكير كله لپاره دتحقيروي او كله لپاره ذ تعظيم وي چې د تعظيم لپاره وي هغه داسې چې ته مخاطب ته دا په ذهن كې وركوي چې د دې په تعريف او په دې احاطه كول د عظمت او مرتبې له امله ممكنه ځكه تعريف خو احاطه علمي غواړي او دلته د عظمت الشان له وجې احاطه نشي كيدلى نو د تعريف په ځاى اسم مبهم او نكره ذكر كړي ترڅو په تعظيم دال شي .

سوال: په هدًى كې دا تنكير د تعظيم لپاره شو نو من ربهم ته بيا څه ضرورت دى دا خو نه دى مګر تحصيل د حاصل دى ځكه دلته من رتهم په تعظيم د هدايت دلالت كوي چې دا د الله تعالى له طرفه دى نو د من ربهم ذكر كولو ته ضرورت نه نشته دا ځكه چې دلالت په دوه قسمه دى يو ارائت الطريق اوبل دلالت موصله الى المطلوب په دې دوواړو كې عظيم دلالت موصله الى المطلوب

---

(۱):- د هذلى خپل نوم ابوالخراش خويلد بن مرة الهذلى وو نوموړى له فرسان العرب څخه شميرل كيده او دير فصيح شاعروو د اسلام دعوت نه ئې لبيک وايه بيادعمر فاروق رضى الله په زمانه كې وفات شو هذلى دغه شعر به د خالد بن زهير الهذلى مرثيه كې ويلې نور بيتونه ئې داسې دي : لعمر ابى الطير المرية غدوة . . على خالد لقد وقعت على الحم . . فلاوابى تأكل كل الطير مثله . . غشية امسي لايبين من المسلم . . وانک لو ابصرت مصرع خالد . . . بجنب الشازبين ابرق فالحزم . . لايقنت البكر غير رذية . . . ولاالناب لاضمت يدک على غنم (نواهد الابكار وحاشيةا لشهاب :

دی ځکه دا سوا د الله تعالی نه بل څوک نشي کولی او ارائت الطريق : ومره عظيم نه دی ځکه هغه انسان هم کولی شي نو دلته هدايت نه دلالت موصله الی المطلوب مراد دی او دا پخپله په عظمت دال دی نو من ربّهم ذکر کولو ته څه ضرورت وو ؟

جواب: دا من ربّهم لپاره دتاکيد دی.

فلا وابي الطير سره مصنف په مثال کې يو شعر پيش کوي چې په هغې کې تنکير په تعظيم دال دی هغه داسې چې په دې شعر کې لفظ د «لحم» نکيره ذکر شوی دی لپاره د تعظيم د غوښې په «فلا وابي الطير» کې درې ترکيبه دي

(۱) يو دا چې (فاء) او (لا) او (ابی) زائد کړی نو والطير پاتې شو معنی دا قسم دی په مرغانو.

(۲) يا داسې ترکيب وکړه چې لا د مخکې کلام لپاره نفي کړه او ابي په اصل کې ابين دی نومعنی داشوه فلا داسې نه ده وابي الطير په اصولو دمرغانو مي دي قسم وي په ابي کې «نون» په اضافت سره ساقط شو.

(۳) ابي په خپل حال پريږده نو معنی به داشي قسم دی په ملازم د مرغانو.

تفسيربيضاوي: (وَ قَد أدغِمَت النُّونُ فی الرّاء بِغُنّة وَبِغَير غُنَّة)

ترجمه: او مدغم کړی شو نون په راء کې سره له غنې او بل قرأت کې بغير د غنې.

تشريح: اوس دلته قرائتونه ذکر کوي خلاصه دا ده چې د زياتو قاريانو په دې اتفاق دی چې ن ربهم کې نون په راء کې مدغم کول واجب دی البته قالون او يعقوب د ادغام د وجوب قايل نه ی بيا په دې کې اختلاف دی چې له ادغام سره غنه ضروري ده او که نه جمهور د غنې انکار کوي و نور يې اقرار کوي، نو د تجويد په اعتبار پکې درې قرائته دي:

(۱) په اظهار د نون سره په مِن رّبهم کې.

(۲) ادغابغير غنّة،

(۳) ادغام مع الغنة[1].

---

(۱):- عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائي : أولئک علی هدًی) ای علی ارشاد وقال ابن قتيبة علی نور استقامة (زادالمسير: ۱ / ۲۹)

تفسيربيضاوي: (وَأُولئک هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ) كُرِّر فيه اسمَ الاِشارَة تَنبِيهًا عَلى اِنَّ اِتِّصَافَهم بِتلک الصِّفات يَقتَضى كُلّ وَاحدةٍ مِن الأَثرَتين و اِن كُلا مِنهُما كِاف فِى تَميز هم بها عَن غَيرِ هم)

ترجمه: په اُولئک هُمُ المُفلِحونَ كښ الله جلّ جلاله اشاره مكرر كړې ده لپاره د تنبه په دې خبره باندې چې په دغو اوصافو مذكوره وو باندې متصف كيدل دهر يو د دغه دوه اثرو (يَعني دمابه الامتياز (۱) مستعلى على الهداية (۲) فلاح اخروي) تقاضاكوي اوبله فائده د تكرار داده چې هريو د دغو دواړو نه د متقيانو په تميز كښ كافي دِي په سبب د دغو صفاتو د غيرنه.

تشريح: په دې ايت كښ مصنف پنځه بحثونه كوي اول د اولئک تكرار او په مينځ يې حرف عطف راوړل دويم د «هم» د لفظ تحقيق دريم د مفلح د لفظ تحقيق څلورم د تنبيه تشريح پنځم د علم كلام د يوې مسئلې متعلق.

اول بحث:

سوال: څه حكمت او ضرورت دى چې اولئک ئې مكرر ذكركه او حال دا چې د دواړو مصداق يو دى چې هغه متقين دي اوموصوف دي په هغه تيرو صفاتو بغير له اولئک څخه به يې هم المفلحون پرې ور عطف كړى واى؟

جواب: په تكرار د اولئک كښ دوه حكمته دي

(۱) حكمت: اشاره ده دې خبرې ته چې دا دواړ (اسم اشارې) معلولين مستقلين دي يعنې استقلال د معلولينو ته ئې اشاره وكړه اواستقلال ته ئې په دې كښ اشاره وكړه چې مونږ ويلي وو چې په اسم اشاره كښ ذات اوصفاتو دواړو ته اشاره راځي او په دې كښ فائده داوي چې كله ذات اوصفاتوته اشاره راشي نو هغه صفتات به علت وِي لپاره د ترتب د حكم په موصوف؛ نو چې مِتقينو ته سره د دې صفاتو (چې كامل فلاح او مستقر على الهدايت كيدل دي) اشاره راغله نو دا صفات مستقل علت شوه لپاره د على هدى او دا صفات مستقل علت شو لپاره د هم المفلحون نو په يو اولئک كښ يو ځلي علت ذكر شو اوبل اولئک كښ بل ځلي علت ذكرشو ،تكرار د علت او استقلال

دعلت تقاضا دتکرار دمعلول او استقلال دمعلول کوي، او که اکتفاء ئې په يو اولئک کړې وای يعنې په طريقې دعطف يې ذکر کړی وای نو بيا به معنی داوه چې داصفات د مجموعې لپاره علت دي او د يو يو لپاره مستقل علت نه دي يعنې مجموعه پرې ثابتيږي او يو يو پرې نه ثابتيږي.

(۲) **حکمت**: په دې کې دې نکتې ته اشاره ده چې دا هر معلول مستقل ما به الامتياز دی لپاره دمتقينو يعنې متقي دغيرمتقي په علی هدًی هم راجدا کولی شي او په هم المفلحون ئې هم راجدا کولی شي.

سوال: په هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ سره امتياز صحيح دی ځکه چې کله مسند او مسنداليه دواړه معرفې وي نو هلته به مسند او خبر تر مسندد اليه پورې منحصر وی او دلته هم «فلاح» مقصوردی تر اولئک پورې يعنې فلاح تر متقينو پورې مقصوره ده اوغير متقينو ته متجاوزه نه ده لکن استقرار علی الهدايت وصف امتياز کيدل په اولئک علی هدًی من ربهم ترکيب کې نه دی صحيح. ځکه اولئک علی هدًی من ربهم ترکيب أسې نه دی يعنې دلته هدايت تر اولئک (متقينو) پورې مقصورنه دی نو هدايت په متقينو اوغيرمتقينو دواړه کې راغی نو په دې سره به څنگه امتياز راشي؟

جواب: په هم المفلحون کې قصر په تعريف دمسندينو دی خو په علی هدًی کې قصر په اعتبار د تخصيص د علت دی چې صفات مذکوره دي، علت خاص دی تر متقينو پورې نو علی هدًی به هم خاص وي تر متقينو پورې قانون دادی چې علت چاپورې خاص وي معلول هم هغه پورې خاص وي.

تفسيربيضاوي: (وَوَسَّط العاطِف لِاختِلاف مفهُوم الجُملتَين هَهُنابِخِلَاف قَولِه (أُولئِک کَالْاَنعام بَلْ هُمْ اَضَلّ وَاُولئِک هُمُ الْغَافِلُوْنَ [۱] فَاِنَّ التسجِيل بِالغَفلَة لِتشبِيه بِالبَهائم شَیئٌ وَّاحدٌ فَکانَت لجُمْلة الثَّانِية مُقررة للأُولی فَلاتنَاسب العطف)

(۱):- سورة الاعراف: آية (۱۷۹)

ترجمه: او حرف عاطف ئې واسطه کړی دی (په کابين د دواړو اسم اشارو کې) له وجې د اختلاف د مفهوم د جملتينو په خلاف د دې قول د الله جلّ جلاله چې (أُولٰئِکَ هُمُ الْغَافِلُوْنَ) ځکه د دوئ په غفلت باندې حکم کول او بهائمو سره تشبه ورکول پکې يو شي دی نو دا دوهمه جمله به داولې جملې مقرره او مؤکده وي نو دلته عطف مناسب نه دی.

تشريح: دا د اول بحث جز دی چې حرف عطف يې ولې په مابين داشارو کې راوړ او دلته هم طلب د حکمت کيږي.

سوال: څه حکمت دی چې په دې آيت کې هم تکرار د اولئک راغلی چې يو (اولئک کالانعام بل هم اضل) او بل (أُولٰئِکَ هُمُ الْغَافِلُوْنَ) دی او حال دا چې ديکې واو حرف عاطف نه دی راوړلی شوي لکه څنگه چې هلته کوم محکوم عليه د اولې جملې همغه د وهمې جملې هم دی د غسې دلته هم اتحاد دی په محکوم عليه کې نو هلته به دې هم واو عاطفه نه راوړ لکه دلته چې نشته ؟

جواب: دلته په اولئک کالانعام کې د دواړو جملتينو په مابين کې کمال اتصال دی په مسند اليه گانو کې اتحاد دی او د مسندينو مضمون يو دی د يو اولئک مضمون کالانعام دی او د بل غافلون دی غافل او انعام يو شي وي او هلته د اولئک علی هدًی او د اولئک هم المفلحون د مسند اليه گانو په مينځ کې خو اتحاد دی چې متقين موصوفين په صفاتو مذکوره سره دي خو د مسندينو په مينځ په اعتبار د وجود او مفهوم سره فرق دی فرق په اعتبار د وجود دا دی چې اول مسند علی هدی په دنيا کې موجود دی د دوهم مسند هم المفلحون دا به په اخرت کې موجود يږي او بل د مفهوم په اعتبار سره هم په کې فرق دی د هدايت مفهوم ځانته دی چې الدلالة علی ما يوصل الی المطلوب يا دلالة موصلة الی المطلوب او د فلاح مفهوم ځانته دی چې الفوذ بالمطلوب دی نو من وجهٍ اتصال ده او مِن وجهٍ انقطاع ده نو دې قسم جملو کې عطف جائز دی نو ځکه په مينځ ی حرف عاطف راوړ.

او بل په دې ايت کې د کفارو تشبيه له ځناورو سره ورکړل شوې ده او وجه د شبه يې غفلت دی گويا چې تشبيه ورکولو سره د غفلت معنا پيدا کول مقصود ده او په أُولٰئِکَ هُمُ الْغَافِلُوْنَ کې

خو صراحتا د غفلت اثبات شوی دی چې کله تشبيه بالبهائم او غفلت يو شی وګرځيږ نو دويمه جمله ذکر کول به محض تاکيد وي.

تفسيربيضاوي: (وَ هُم فَصلٌ يَفصِل الخَبر عن الصِّفّة يُؤكِّد النِّسبةَ ويُفيدُ اختِصاص المُسنَد بِالمسند اليه أَومُبتداء وَالمُفلحون خَبرُهُ والجُملة خَبر أُولئِک)

ترجمه: او هُم ضمير فصل دی جداکوي صفت له خبرنه او د نسبت تاکيد کوي اوتخصيص دمسند په مسنداليه پورې فائده کوي اويا دِلته هم مبتداء (ثاني) ده اومفلحون ئې خبرده (ياممبتداء ثاني سره د خبرنه) دا جمله خبر دا ولئک دی.

تشريح: دويم بحث: دلته دويم بحث د هُم متعلق ذکر کوي په دې باندې د ټولو نحاتو اتفاق دی چې لفظ د هم فاصل دی په مابين د صفت او خبر کې يعنې خبر له صفت څخه جدا کوي خو په دې کې اختلاف دی چې دا اسم دی او که حرف دی بعضې بصريان ورته حرف وائې اونور نحات ورته اسم وائې (۱) څوک چې ورته اسم وائي دې کې دوه مذهبه دي (۱) څوک ورته اسم ملغی ای لامحل لها من الاعراب وائې (۲) اوڅوک ورته اعراب محلي راوړي يعنې مبتداء ده محل د اعراب يې رفع ده.

خو راجح دا دی چې دا اسم دی چې اسم شي په دې کې بيادوه ترکيبه دي (۱) که اعراب محلي ورته پيدا کوي نو هم مبتداء ثاني اومفلحون سره د خبر دا خبر د مبتداء اولې.

(۲) اوکه چيرته اعراب محلي نه ورته راوړي نو اولئک مبتداء اومفلحون خبر دا (هُم) پکې هسې رابط دی اودې ته ضمير فصل وائې، ځکه دا فصل راولي په مابين د خبر او صفت کې او په مابين د مبتداء او موصوف کې نو که (هُم) پکې نه وي راغلي نو متوهم به دا وهم کولو چې دامفلحون د اولئک صفت دی او دا صفت نه صحيح کيږي ځکه فصل په اجنبي سره راځي په مابين د موصوف او صفت کې اوکه د مجموعې لپاره ئې صفت کوې نو والضمير لايوصف ولايوصف به.

هغه څوک چې ضمير فصل ته حرف وايي د هغوی دليل هم دادی يعنې چې د ضمير فصل د راوړلو مقصد دا دی چې مخاطب په دې خبره پوهه وي چې له ضمير فصل نه ورسته کلمه خبر دی او

صفت نه دی ځکه که صفت يې او منې نو يا به مفلحون او هم ضمير فصل هم ورسره صفت منې او يا به يې نه منې که منې يې ضمير دی صفت کړو او دا غير صحيح ده او نه يې منې فصل په اجنبي راځي.

او څوک چې ضمير فصل ته اسم وايي هغو وايي چې دا ځکه اسم دی چې اکثر علماء ورته اسم وايي.

نو که ضمير فصل اسم شي او محل د اعراب هم ور لره نه وي نو په دې تقدير سره بيا درې فايدې لرې اوله دا چې د خپل مابعد خبريت ښکاره کول او د صفت احتمال ختمول دويمه فايده تاکيد النسبة کوک نسبت چې د د خبر مبتدا طرفته کېږي هغه مظبوطوي دريمه فايده تخصيص المسند بالمسند اليه.

سوال: اختصاص خو په تعريف د مسندينو سره راځی په دې (ضمير فصل) سره خو نه راځي ځکه عموما ضمير فصل هغه وخت راوړلی شي چې مسندين معرفه وي؟

جواب: د دې مطلب دا نه دی چې ضمير اختصاص او انحصار پيدا کوي بلکې مقصد دادی چې کوم اختصاص د خبر د تعريف په وجه پيدا شوی ضمير فصل د هغې تاکيد کوي.

تفسيربيضاوي: (وَالمُفلِح بالحَاء والجِيم الفَائز بِالمطْلوبِ كانّه الَّذى إنفَتَحَت لهُ وُجوهُ الظُّفرِ وهَذا التَّركيبُ ومَا يُشارِكه فِى الفَاء والعَين نَحو فَلَق وفَلَذ وَفَلَى يَدُلُّ على الشَق والفَتح وتَعريف المُفْلحِين لِلدلَالة عَلى أَنَّ المُتَّقين هُم النَّاس الَّذين بَلغَك أَنَّهم المُفلحُون فى الآخِرة أَو الاِشَارةِ الى مَايَعرفهُ كُل أَحدٍ مِن حقِيقة المُفلحِين وخُوصيَاتهم)

ترجمه: او مفلح په حاء سره او په جيم سره (مفلج) هرهغه چاته وائې چې په خپل مطلوب کې کامياب وي ګويا مفلح هغه څوک دی چې د هغه لپاره طريقې د کاميابۍ ټولې خلاصې وي دا ترکيب او هرهغه لفظ چې د ده سره په فاء او عين کې شريک (مشابه) وي لکه فَلَق فَلَذَ و فَلَى دا په شق او په فتح دلالت کوي دا تعريف د مفلحين په دې خبر دلالت کوي چې متقين هم هغه خلک دي چې تاته ئې خبره رسيدلې ده چې هم دوئ په آخرت کې کامياب دي اويا په دې الف لام کې ديته اشاره ده چې ټول خلک حقيقت او خصوصيات د مفلحينو پيژني.

تشريح: دريم بحث: دلته مصنف د مفلح لغوي تحقيق کوي هغه دا سې د مفلح او مفلج په حاء سره وي او که جيم سره وي د دواړو معنى ده فائز بالمطلوب اصل معنى خو د مفلج داده چې شونده ئې شکيدلي وي خو چې سړى اصل مطلوب ته ورسيږي نو ټول مشقتونه او تکليفونه ئې شکيږي او هرهغه ترکيبونه چې په فاء او عين کلمه کې له مفلح سره شريک وي لک فَلَقَ فَلَذَ او فَلَى ټول په شق او فتح دلالت کوي.

وتعرف المفلحون: مفلحون معرفه بالام ئې ذکر کړو ځکه دلته دا خبره زده کړه چې شيخ عبد القادر جرجاني رحمه الله وايي که يو سړي طرفته د انطلاق نسبت کوي نو دا دوه صورتونه لري .زيد منطلق هم ويلى شي بغير له الف لام نه اوزيد المنطلق هم ويلى شي په دواړو کې د زيد صفت انطلاق دى په دې کې دواړه مثالونه متفق دي خو اختلاف په نوعيت کې دى اول مثال به هغه سړى مخاطب وي بلکل له صفت د انطلاق نه بې خبره وي او د دويم مثال مخاطب هغه سړى وي چې په دې خو پوهيږي چې صدور د انطلاق خو شوى خو په دې نه وي خبر چې له چا څخه شوى.

نو دلته الله جلّ جلاله المفلحون معرفه بالام ذکرکړو ځکه که نکره (بغير الف لام) ئې ذکر کړى وائې نومونږ به دلته نه په فلاح خبر واى اونه به ئې په صدور نسبت خبر وائې چې څوک مفلحين دي نو چې معرفه ئې ذکرکړو نومعلومه شوه چې په فلاح خبريو ځکه په آخرت کې دوه ډلې دي يوه د فلاح والا ده اوبله د غيرفلاح والا ده خو په انتساب نه يو خبر چې دا ده فلاح والا ډله چاته منسوبه ده نو الله جلّ جلاله په دې انتساب پوهه کړو چې اولئک ته منسوبه ده اى موصوفين بصفات مذکوره خو دا په هغه صورت کې چې الف لام عهدي خارجي شي او که الف لام جنسي شي بيا به اشاره وي هغه څه ته چې هرسړى ئې پيژني له حقيقت دمفلحينو نه اوله خصوصياتو دمصلحينو نه يعني جنس معلومه او حقيقت معلومه طرفته به اشاره شي .

(اختصاص د هدايت او فلاح تر متقينو)

تفسيربيضاوي: (تَنبِه! تأَمّل كَيف نَبَّه سبحانه تعالى عَلى اِختِصاص المُتَّقِين بِنَيل مَا لَايَنالهُ كُل أَحدٍ مِّن وُجوهِ شَتّى وبِناءُالكَلَام عَلى اسمِ الاشارَةِ لتَعلِيل مَع الايجَاز وتَكرِيرِهِ وتَعرِيف الخبرِ وَتَوسّط الفعل لاِظْهار قَدرِهم وَالتَّرغيب فى اِقتِفاء أَثرهم وقَد تَشبت به الوَعِيديّة فى خُلودِ الفُسّاق مِن اهل القِبلَة فِى العذَاب وَرَدّ بِانّ المُراد بالمُفلحين الكامِلِين فى الفَلاحِ ويَلزمُه عَدم كمَالِ الفّلاح لمَن لَيس عَلى صِفَتهم لَا عَدم الفَلاح لهُ رأسًا).

ترجمه: خبردار مخاطبه! ته فكر وكره څنګه الله جلّ جلاله تنبه وركړې ده په خاص كولو د متقينو په رسيدلو د نعمت هغې حصې ته (چې على هدًى او المفلحون) چې هغې حصې ته هيڅوک نشي رسيدلي په مختلفو طريقو سره (هغه مختلفې طريقې دادي) چې بناء د كلام ئې په اسم اشارې سره كړي ده سره د اختصاص نه لپاره د تعليل او تكرار د اسم اشارې او خبر (المفلحون) ئې معرفه بالام ذكر كړى او راوړل د ضمير د فصل په منځ كې لپاره د اظهار د قدر د متقينو او د دوئ په نقش قدم باندې د روانيدلو د شوق وركولو لپاره او وعيديه [1] فرقې په دې دليل نيولى چې فاسقان د اهل قبلې به هميشه په عذاب كې وي د دوئ د استدلال په دې طريقې رد كړى شوي دى چې په مفلحينو سره كامل فى الفلاح مراد دي او په انتفاء د يو وصف سره د كمال فلاح عدم لازميږي د هغه چا لپاره چې په دې تولو صفاتو سره متصف وي عدم فلاح بالكلية ورلره نه لازميږي.

تشريح: **څلورم بحث**: په دې آيت مبارک كې د تاكيد او حصر مختلف كلمات استعمال شوي دي! په دې خبره خبر دارى دى چې كوم نعمتونه په دنيا او اخرت كې تر متقينو پورې خاص شوي دي لكه هدايت په دنيا كې ترمتقينو پورې خاص كړى شوى او فلاح په آخرت كې ترمتقينو پورې خاص كړى شوه هغې ته بل هيڅوک نشي رسيدلى او د دې اختصاص لپاره درې څلور ذرايع دي

(۱) **ذريعه**: بناء د كلام په اسم اشارې باندې وشوه على هدًى ئې مرتب كړو په اولئک او هُمُ

---

(۱):- وعيديه نه مراد معتزله اوخوارج مراد دي او دوئ ته حشويه هم وائي او وعيديه ورته څكه وائي چې دوى په وعيداتو كې له افراط نه كار اخلي مرتكب د كبيرې ته كار او مخلد فى النار وائي

المفلحون ئې مرتب کړو په اولئک نو اولئک علت تر متقینو پورې خاص دی نو معلول به هم ترمتقینو پورې خاص وي ځکه مونږ مخکې ویلي وو چې په اولئک اسم اشاره کې ذات مع الوصف ته اشاره ده نو دا وصف علت لپاره د حکم نو صفات مذکوره علت او هدایت دنیوي او فلاح اخروي معلول علت او معلول دواړه تر متقینو خاص شول.

(۲) **ذریعه**: چې اولئک ئې مکرر ذکر کړو تکرار د علت په تکرار د معلول دلالت کوي نو هر معلول مستقل تر متقینو پورې خاص شو.

(۳) **ذریعه**: په منځ کې ئې هُمْ ضمیر فصل راوړي او خبر ئې معرفه راوړي فائدې د اختصاص دوه دي (۱) لاظهار قدرهم (۲) والترغیب فی اقتفاء اثرهم

(۴) **ذریعه**: خبر یې معرفه بالام ذکر کړی او داسې خبر انحصار په مبتداء باندې وي.

پنځم بحث: وقَد تَشبت به الوَعِیدیّة : په دې پنځم بحث ذکر کوي هغه داسې چې په دې ایت کې اختصاص او انحصار د متقین په هدایت باندې دي نو معلومه شوه چې غیرمتقین په هدایت باندې نه دې او متقین په آخرت کې مفحلین دي معلومه شوه غیرمتقین مفلحین نه دي ځکه تخصیص الشيء علی الشيء مستلزم وي نفي د ماعدا لره په دې دلیل استدلال کړی معتزله او خوارجو چې فاسقان د اهل قبله به همیشه په جهنم کې وي ځکه له فلاح نه جنت مراد دی او دا خاص دی تر متقیانو پورې. قاضي صیب د دوي دا دلیل رد کړی دی هغه داسې چې دلته له مفلحینو نه کاملین مراد دي او کامله کامیابي دا ده چې دخول اولي ئې جنت ته وشي او لازم له دې سره داده چې کامله فلاح فاسقانو لره نشته نو دخول اولي ورلره نشته او دا نه ده لازمه چې بلکل فلاح ورلره نشته.

(انّ الّذین کَفَرُوا سَوَآء عَلَیْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَایُؤْمِنُوْنَ)[1] .

تفسیربیضاوي: (اِنَّ الّذِیْنَ کَفَرُوْا) لَمَّا ذَکَرَ خاصَّة عِبَاده وَخُلاصَة أَوْلِیائِه بِصفاتِهم اَلّتی أَهلتم الهُدی والفَلاحِ عَقِبهم بِاضْدَادِهِم العُتَاةُ المَرَدَةَ الَّذِین لَایَنْفَع فِیهم الهُدی ولَایُغنِي عَنهُم الآیات وَالنُّذُر)

ترجمه: هرکله چې الله جلّ جلاله مخکې خاص عباد او خالص دوستان خپل ذکر کړل له هغې صفاتو سره په کومو صفاتو ئې چې دوئ اهل د هدایت ګرځولی وو نو د کامیابئ نه روسته ئې د دوئ

---

(۱):- سورة البقرة : آیة (٦)

ضد خلک ذکر کړل چې سرکش او حد نه تیریدونکي دي هغه خلک چې هغوئ ته هدایت نفع نه رسوله او آیاتونو او ویره ونکو رسولانو فائده دوئ لره نه ورکوله.

تشریح: په دې ایت کې مصنف پنځه بحثه کوي (۱) بیان د مناسبت (۲) د اِنّ د عامل کیدلو حیثیت (۳) د الذین د مراد متعلق (۴) د کفر حقیقت (۵) د معتزله و استدلال.

اول بحث: بیان د مناسبت دادی چې مخکې الله تعالی د خپلو خاصو بندګانو تذکره وکړه کوم چې په کامل هدایت او کامله فلاح موصوف و له هغې روسته یې د هغوی مقابل خلک ذکر کړل د کومو په باره کې چې وایې داسې سرکشه او د خیر نه لرې دي چې نه ورته هدایت فایده ورکوي نه د الله جل جلاله وعیدات نو دلته مناسبت بذکر الاضداد دی او دا په دې خاطر ذکر کوي چې د مومنانو حال روښانه ځکه فرمایي وبضدها تتبین الاشیاء

سوال: په دې عبارت کې قاضي صیب خاصةعباده ولې په خلاصة اولیائه باندې مخکې کړه؟

جواب: مخکې جمله په اعتبار د طرفینو یعنې مضاف او مضاف الیه باندې اشرفه وه یو طرفته مخصوص والی ده او بل طرفته عبادوالی ده په روستنۍ جمله کې یو طرفته مخلص والی ده او بل طرفته اولیائه والی ده نو مخصوص والی په نسبت سره مخلص والي ته اشرف دی ځکه د مخصوص والي نسبت الله جلّ جلاله ته کیږي او د مخلص والي نسبت عبادو ته کیږي او بل طرف عبادوالی اشرف دی په نسبت اولیائه والي ته ځکه عبادوالی د رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ) په صفاتو کې راځې لکه (سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِیٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ) او ولایت اګر که د نبی علیه السّلام صفت کې هم دی نو الله جلّ جلاله ئې د ابراهیم (عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ) په صفاتو کې ذکر کوي ابراهیم خلیل الله، خلیل ولي ته وائي لو د ابراهیم علیه السلام مرتبه هم له نبي علیه السلام نه ښکته ده او بل په عبدیت کې ښکته والی دی او انسان چې څومره ځانته ښکته وائي هغومره اوچته مرتبه لري او په الله جل جلاله کې اوچت والی دی نو په عبد کې لوی والی نقصان دی او په الله جلّ جلاله کې ښکته والی نقصان دی نو ځکه یې خاصة العباد په خلاصة الالیاء مقدم کړ.

عتاة: عتاة جمع د عاتي ده او عاتي اسم فاعل د عتو دی او عتو د باب نصر ینصر څخه په معنا د تغیان سره دی.

مردة: مرده جمع د مارد ده او مارد په معنا د مالا یعلق بخیر اصلاً یعنې هغه کس چې له خیر سره یې بیخ تعلق نه وي.

(بحث د عطف)

تفسیربیضاوی: (وَلم يَعطِف قِصَّتهم على قِصَّه المُؤمنينَ كمَاعَطف فى قولِه تعالى (اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ وَاِنَّ الْفُجَارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ [1]) لتَبَاينهما فى الغَرض فانّ الأُولى سِيقَتْ لذِكرالكتَاب وَبَيانِ شأنه وَالأخرى مَسُوقة لِشرح تَمرّدهم وَانْهَماكهِم فى الظّلال)

ترجمه: او عطف ئې نکړه قصه د دوئ په قصه دمؤمنانو لکه څنګه چې عطف شوی په دې قول د الله تعالى کې (ترجمه) بیشکه نیکان به په نعمتونو کې او فاجران به جهنم کې وي له وجې د تباین د دوئ په غرض کې ځکه دا اولنی جملې سیاق (چلول) لپاره ذکر دکتاب اولپاره دبیان دشان دکتاب شوی دی او دروستنی جملې سوق لپاره دوضاحت دسرکشی او تمرد اوپه ګمراهی کې د انهماک (دخول) دکافرانو لپاره شوی.

سوال: دا آیت ئې په مخکې آیت ولې ورعطف نکړو اوحال داچې په دواړوکې صفات د رجالو ذکر کیږي چې مخکې دمؤمنانو صفات وو اوروسته د کافرانو صفات دي نو دواړو په منځ کې تضاد دی اوپه مختصرالمعاني کې تاسو ویلي په باب فصل او وصل کې چې ددوه جملو په منځ کې تضاد راشي او تضاد جامع وهمي وي چې یو ضد دې ذهن ته راشي نو بل ضد خامخا ذهن ته راځي لکه بوش دې چې ذهن ته راشي نو ملامحمد عمر رحمه الله خامخا ذهن ته راځې په دې ځای کې خلک عطف کوي لکه الله جلّ جلاله فرمائي: (اِنَّ الْاَبْرَارَ لَفِيْ نَعِيْمٍ وَاِنَّ الْفُجَّارَ لَفِيْ جَحِيْمٍ) په دې جملو کې تضاد دی اودا تضاد جامع وهمي دی اوګوره عطف پکې وشو.

جواب: دلته عطف ځکه ونشو چې د دې جملې له ما قبل سره کمال انقطاع ده او په کمال انقطاع کې فصل یعني عدم عطف متعین دی او کمال انقطاع په دې ډول ده چې د ماقبل قصې غرض کتاب او د هغې د اوصافو تذکره ده او د دې روستنی قصې غرض د کفارو او د هغوی د اوصافو تذکره ده نو د تباین فی الاغراض په وجه کمال انقطاع پیدا شوه[2]

---

(۱):- سورةالانفطار: آية (۱۳)

(۲) کمال قال السکاکي: ويترک العطف للانقطاع وان كان بينهما جامع لا يلتفت اليه لبعد المقام عنه ومن هذا القبيل قطع ان الذين كفروا لكون ماقبله حديثا عن القرأن وان ماشانه كيت وليت وهذا حديث عن الكفار و تصحبهم فى كفر (توضيح الحاوي)

او بل دا آيت په ان الابرار لفي نعيم باندې مه قياس کوه ځکه دا قياس مع الفارق دی.

عطف القصة على القصه دې ته وايي چې د متعددو جملو عطف په متعددو جملو باندې وشي خو هغه وخت چې ټولې جملې په خپلو کې په غرض کې سره متحدې او متفقې وي.

تقابل: د تقابل په اقسامو کې تقابل د تضاد او تقابل د عدم والملکه هم شامل دی.

تقابل تضاد: دې ته وايي: کيدل د دوه وجودي متقابلو شيانو په داسې شان سره چې تعقل احدهما مستلزم اخر لره نه وي لکه سواد او بياض (چې يو ذکر شي بل دې خامخا ذهن ته راشي)[1]

تقابل عدم والملکه: دېته وايي: کيدل د دوو شيانو په داسې شان سره چې وجود داحدهما مستلزم وي عدم داخر لره لکه عمي او بصر.[2]

اوس په دې کې اختلاف دی چې د کفر او ايمان په مابين کې تقابل تضاد دی او تقابل عدم والملکه دی بعض د تقابل تضاد قايل دي او بعض د تقابل عدم والملکه، په دې د ټولو اتفاق دی چې ايمان عبارت دی له تصديق قلبي بما جاء به النبي (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) لکن د کفر په تعريف کې اختلاف دی بعض يې داسې تعريف کوي عدم بما جاء به النبي (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) نو د دوی په نزد د کفر او ايمان په مابين کې تقابل د عدم والملکه دی او بعض يې داسې تعريف کوي جهود القلب بما جاء به النبي (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د دوی په نزد بيا تقابل د تضاد دی.

---

(۱) دستور العلماء - جامع العلوم في اصطلاحات الفنون (۱/ ۲۳۰)

تَقَابل التضاد: كَون الشَّيْئَيْنِ الوجوديين مُتَقَابلين بِحَيْثُ لَا يكون تعقل كل مِنْهُمَا بِالْقِيَاسِ إِلَى الآخر سَوَاء كَانَ بَينهمَا غَايَة الْبعد وَالْخلاف كالسواد وَالْبَيَاض أولا كالحمرة والسواد وَيُقَال لَهما الضدان المشهوريان. وَقد يشْتَرط فِي الضدين أَن يكون بَينهمَا غَايَة الْبعد وَالْخلاف ويسميان بالضدين الحقيقيين كالسواد وَالْبَيَاض.

تَقَابل التضايف: كَون الشَّيْئَيْنِ الوجوديين مُتَقَابلين بِحَيْثُ يكون تعقل كل مِنْهُمَا بِالنِّسْبَةِ إِلَى الآخر كالأبوة والبنوة المتقابلتين بِاعْتِبَار وجودهما فِي الْخَارِج فِي مَحل وَاحِد فِي زمَان وَاحِد من جِهَة وَاحِدَة على مَذْهَب من قَالَ بِوُجُود الإضافات فِي الْخَارِج وَأما على مَذْهَب من قَالَ بعدمهما مُطلقًا التقابل بَينهمَا بِاعْتِبَار اتصاف الْمحل بهما فِي الْخَارِج.

تَقَابل الْإِيجَاب وَالسَّلب: كَون النسبتين متقابلتين بِحَيْثُ يكون إِحْدَاهمَا إيجابية وَالْأُخْرَى سلبية مثل زيد إِنْسَان وَزيد لَيْسَ بِإِنْسَان.

(۲) دستور العلماء - جامع العلوم في اصطلاحات الفنون (۱/ ۲۳۰)

تَقَابل الْعَدَم والملكة: كَون الشَّيْئَيْنِ بِحَيْثُ يكون أحدهمَا عدم الآخر عَن مَوْضُوع قَابل للوجودي كالعمى وَالْبَصَر فَإِن الْعَمى عدم الْبَصَر عَمَّا من شَأْنه أَن يكون بَصيرًا.

(بحث د انّ)

تفسیربیضاوي: (و اِنّ) منَ الحُروف الَّتی تَشابهَه الفِعل فی عَدد الحُروفِ وَالبِناء عَلی الفتح وَالزُوم الأَسماء وَاعطاءِ معانِیه وَالمُتعدّی خَاصة فِی دُخولهَا عَلی اِسمَین ولذلک أَعملتْ عَملهُ الفَرعِی وهُو نصب الجُزءِالأَوّل ورَفعُ الثَّانی ایذانًا بأَنّه فَرع فی العَمل دَخِیل فِیه)

ترجمه: او اِنّ د هغې حروفو څخه دی چې په عدد د حروفو کې ، په فتحې سره مبنی کیدلو کې، اسمآء وو سره د لزوم له وجې او دفعل معاني اسم ته ورکولو کې له فعل سره مشابه ده اوله فعل متعدي سره مشابه ده خاص کر په دخول د دې حروفو په دوه اسمونو له دې وجې عمل فرعي ورکړی شو اوهغه داول جزء ته نصب او دوهم جزء رفع ده په دې کې د دې خبري خبرداری دی چې دا حروف په عمل کې فرع دي خو د فعل سره په عمل کې دخل لري.

تشریح: دویم بحث: دادویم بحث ذکرکوي چې بحث داِنّ دی ،په دې د ټولو نحاتو اتفاق دی چې حروف مشبه بالفعل په دوه اسمونو داخلیږي اول ته نصب او دوهم ته رفع ورکوي او په دې کې هم اتفاق دی چې اول جز ته نصب د همدې حروف په وجه حاصل دي خو اختلاف په دې کې دی چې دویم جزته رفعه دې حروفو ورکړې او که نه ؟

انّ اسم ته نصب ورکوي اوخبرته رفع ورکوي دا عکس دفعل ماضي متعدي (فعل) دی ځکه ماضي متعدي (فعل) اول اسم ته رفع ورکوي او دوهم اسم ته نصب ورکوي وجه داده چې اِنّ دفعل سره مشابه ده په عدد دحروفو کې ماضي کله ثلاثي وي کله رباعي وي او کله خکاسي وي دغه سې حروف مشبه بالفعل هم کله ثلاثي وي لکه انّ کله رباعي ږي لکه لعلّ اولکه خماسي وي لکه لکنّ دغه سې بنا علی الفتحه کې هم له ماضي سره مشابه دی ماضي هم مبنی په فتحې سره وي او داحروف هم مبني دي په فتحې سره وي دغه سې په دخول علی الاسمین کې هم دفعل ماضي متعدي سره مشابه دی نو د دې مشابهت له وجې عمل دفعل ماضي ورکړی شو خو دومره ده عمل

د فعل ماضي اصلي دی او حروفو مشبه بالفعل ته مو عمل فرعي ورکړو چې اسم اول ته نصب او اسم ثاني ته رفع ځکه مشبه په مرتبه کې کم وي له مشبه به نه چې فرق راشي د فرع له اصل سره.

تفسيربيضاوي: (وَقَال الكُوفيون أَلخَبر قَبل دُخولهَا كَان مرفوعًا بالخبرِيَّة وهِى بَعد بَاقِيةٌ مُقْتضِية للرفْع قِضِيَةً للاستِصحابِ فَلايَرفعهُ الحَرف وَأجيبَ بأَنّ اقتِضاء الخَبَريَّة الرَّفع مَشرُوطٌ بالتجرد لتَخَلُّفه عنْها فى الخَبركَان وَقد زَال بِدخولهَا فتَعَيّن أَعمالُ الحُروف)

ترجمه: کوفيان وائې چې خبر مخکې د دخول د اِنّ نه په سبب د خبريت مرفوع وو او دا روسته پورې په رفع باقي دی او د رفعي تقاضا کونکی دی د استصحاب (هو ابقاء الشئ على ماكان) الحال دتقاضا له وجې نه نو دا خبر دغه حرف اِنّ نه دی مرفوع کړی دوئ ته داجواب ورکولئ شي چې تقاضا دخبريت درفع په تجريد باندې مشروط ده(چې دا خبر به خالي وي له عواملو لفظيه و ځخه) او بل د وجې تخلف او مخالفت د دغې رفع د دغه خبريت نه په خبر د كان کې او دا رفع په د خول دكانَ ختمه شوي(که رفع ذاتي وای په خبرنو په خبر دکان به باقي پاتې وه) ده نو عمل د حرف متعين شو.

تشريح: دلته په عمل د اِنّ کې هغه اختلافي بحث کوي، په عمل داِنّ کې اختلاف دی يو دبصرينو مذهب دی او بل دکوفينو دی.

(۱) **بصرين**:وائې چې په اِنّ زيدً قائمٌ کې زيد ته نصب او قائم ته رفع اِنّ (حروف مشبه بالفعل)ورکړې ده.

بصرين دليل دا وايي چې دا حروف له فعل ماضي سره مشابهت لري مشابهت عامه او خاصه واړه عامه مشابهت خو دادی چې فعل ثلاثي، رباعي،او خماسي راځي دعسې حروف مشبه بالفعل هم راځي ماضي مبني بر فتحه وي دا حروف هم مبني بر فتحه وي او مشابهت خاصه دادی چې فعل ماضي متعدي په دوه اسمونو باندې داخليږي يو فاعل وي بل مفعول دغسې دا حروف هم په دوه اسمونو داخليږي چې اسم او خبر ورته ويلی شي ، نو د فعل متعدي دوه عمله و يو اصلي او بل فرعي اصلي دا دی چې او سم مرفوع او دويم منصوب فرعي دادی چې اول اسم منصوب او

دويم مرفوع نو فعل اصل و ځکه مشبه به و نو عمل مو هم اصلي ورکړو او دا حروف فرعه و ځکه مشبه و نو عمل مو هم فرعه ورکړ.

(۲) **كوفين**: وائي چې په اِنّ زيدًا قائمٌ کې زيد ته نصب انّ ورکړی، خو رفعه په قائمٌ کې ذاتي ده انّ نه ده ورکړې.

کوفين دليل دا وايي چې دا خبر مخکې له دخول د دې حروفو نه مرفوع بنا برخبريت و کله چې داحروف ورباندې داخل شول بيا يې هم خبريت باقي دی او تقاضا د رفعې کوي او دا ځکه چې اصل په اشياءو کې استصحاب الحال (شی په خپل حالت پاتي کيدل دي) نو دا خبر مرفوع په عامل معنوي دی نه په دې حروفو.

لحو مصنّف دبصرينو مذهب ته ترجيح ورکوي او دکوفينو دليل رد کوي هغه داسې چې تقاضا دخبريت درفع هغه بمشروطه ده په تجريد او خلوي دعوملو لفظيه وو نه لکه مونږ وايو مبتداء اوخبر مرفوع دي په عامل معنوي سره چې هغه خلوه ده له عواملو لفظيه وو نه اوبل که په دې خبر کې رفع ذاتي وائې نو خبر د کان به بيا ترينه نه مخالف کيده او هغه منصوب وي نو معلومه شوه چې دا په ذي عامل لفظي سره مرفوع دی.

(بحث فائده د انّ)

تفسيربيضاوي: (وَفَائدتها تَاكيدُ النِسْبة وتَحقِيقهَا ولِذلک يَتَلَقّٰى بهَا القَسم ويُصَدَّربها الأجوِبَة وتَذكر فى مَعرضِ الشَّک مثل قوله تعالىٰ (وَيَسْئَلُوْنَکَ عَنْ ذِى القَرْنَيْن قُلْ سَأتْلُوا عَلَيْكُمْ مِّنْهُ ذِكْرًا انَّ مكَّنَّا فى الارضِ [۱]) وَقَالَ مُوْسَى يٰفِرْعَوْن اِنِّى رَسُولٌ مِّن رَّبّ الْعٰلَمِيْنَ [۲])

ترجمه: او فائده د اِنّ تاکيد د نسبت دی او تحقيق د نسبت دی له دې وجې نه په اِنّ سره جواب قسّم يوځای کيږي اوعام جوابونه هم په انّ سره مصدر کيدلی شي اوکله په مقام د شک کې هم

---

(۱):- سورة الكهف: آية (۸۳)

(۲):- سورة الاعراف: آية (۱۰٤)

ذکرکیږي لکه دا قول د الله تعالی (ترجمه) او له تا نه پوښتنه کوي دا یهود ایان په باره د ذولقرنین[۱] کې ته ورته ووایه چې زرده چې زه څه اولولم تاسوته دده بیان نه یقینًا مونږ ده ته په زمکه کې طاقت ورکړي وو اوهم دغه سې دا قول دالله جلّ جلاله (ترجمه) او ویلي وو موسی (عَلَيۡهِ‌ٱلسَّلَامُ) اي فرعون بیشکه زه درب العالمین له لوري رسول یم.

تشریح: دلته د د انّ فایدې بیانوي.

یوله دغو فوائدونه تاکید النسبة لکن تاکید مراد تاکید اصطلاحي نه دی بلکې تاکید په توابعو کې دی یعنې تاکید لغوي چې تحقیق النسبة دی

تاکید وائې: التاکید یکونِ بتکریر اللفظ الاول بیا تاکید په دوه قسمه دی (۱) لفظي (۲) معنوي تاکید. لفظي په تکریر دلفظِ اول سره راځې لکه زید زید اوتاکید معنوي په الفاظو معدودو محصوره وو سره راځې هغه الفاظ دادي نفس، عین، کلا، وکلتا، اجمعو، اکتع، ابتع، ابصع، اوس انّ سره هم تاکید راځې خو تاکید لفظي وی نه تاکید معنوي.

او بله فائده دا ده چې انّ په هغه ځای کې مستعملیږي چې ستا د مخاطب شکي وي نوته ئې ورته په کلام کې د تاکید لپاره راوړې یا ستا مخاطب منکر دی نوته ورته په کلام کې اِنّ راوړې نو کلمه د اِنّ لپاره د ازالې دشک اوتردد ده اوهم لپاره دازالې دانکار دی. له دې وجې نه په جوابونو د سوالاتو کې راوړلی شي ددې لپاره د مثال ذکر کړی (وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَن ذِي ٱلۡقَرۡنَيۡنِ) او په مقام د شک کې راوړلی شي مثال لکه (وَقَالَ مُوسَىٰ يَٰفِرۡعَوۡنُ إِنِّي رَسُولٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ)

تفسیربیضاوي: (قال المُبَرّد قولک عبدالله قَائم أَخبارٌ عن قِیامه وَانّ عبدالله قائم جواب سائِل عنْ قیامِه وانّ عبدالله لقائم جواب منکر لقیامه)

---

(۱):- ذوالقرنین : خپل نوم ئې اسکندر اعظم دی د اسکندر په نوم دوه بادشاهان تیرشوي (۱) اسکندر رومي (۲) اسکندر یوناني په قرآن کې د یوناني ذکردی ذوالقرنین ورته ځکه وائې چې ده مشرق اومغرب لیدلی وو یا دده په تاج کې دوه ښکرونه وو او دا له هغې جلې ځخه دی چې په توله دنیا لې بادشاهي کړې ده په توله دنیا ځلورو کسانو بادشاهي کړې دوه مسلمانان (۱) سلیمان علیه السلام (۲) ذولقرنین او دوه کافرانو (۱) نمرود (۲) بخت نصر.

ترجمه: مبرد ویلي دي چې دا قول ستا چې عبدالله قائم دی دا د عبدالله د قیام نه خبرورکول دی او انّ عبدالله قائم په جواب د سوال دسائل کې دی له قیام نه او انّ عبدالله لقائم په جواب د منکر د قیام دعبدالله کې دی.

تشریح: دلته د امام مبرد په قول د دې لپاره نقلوي چې په دې خبره استدلال وکړي چې انّ لپاره د تاکید النسبة مستعملیږي .مبرد رحمه الله وائي چې نفس اخبار عبدالله قائم خالی الذهن مخاطب ته ویل کیږي او اِنّ عبدالله قائم دا په سوال دمخاطب کې ویل کیږي چې آیا عبدالله ناست دی که ولاړ دی نوته دده تردد په دې سره زائل کې او اِنّ عبدالله لقائم دا لپاره د مخاطب منکر ویلي شي لکه یوکس ووائې چې عبدالله بازارته تللی اوتاپه مسجدکې لیدلی وي نوته به دده انکار په دې زائله کوي چې انّ او لام تاکید به دواړه ورته راوړې ، نوچې څومره شکوک زیاتیږي دومره به تواکید زیاتیږي.

ابوالعباس کیندي[1] یوفلسفي وو ده یوه ورځ مبرد ته وویل چې زه په کلام د عربو کې حشوه پیدا کوم هغه دا چې کله وائي زیدقائم او کله زید لقائم او کله انّ زید قائم اوکله انّ زید لقائم اوکله والله انّ زید لقائم نو دټولو یو مطلب دی خو په څوجملو ئې اداکوي نو والله او اِنّ او لام دریواړه لغوه شوه. امام مبرد صاحب د مفصل ورته وویل چې په کلام د عربو کې حشوه نشته د دې هرې جملې خپل خپل ځای دی لکه زید قائم خالی الذهن مخاطب ته ویل کیږی او انّ زیدقائم شکي مخاطب ته ویل کیږي استحبابًا اومنکرته وجوبًا بیا چې څومره انکار زیاتیږي دومره تواکید زیاتیږي.

تفسیربیضاوي: (وَتَعرِيفُ المَوصول امّا لِلعهدِ والمُراد به ناس بأعيانِهم كأبِى لهب وابِى جهل والوليدِ بن مغيرة وأَخبارِاليهُود أَولِلْجِنس متنَاولًا من صَمَّم على الكفْر وغَيرهم فَخُصَّ منْهم غَير المُصِرِّين بمَا أَسنداليهِ)

---

(۱):- ابو العباس احمد بن اسحاق الجرمقي نوموړی د فلسفي کاتب دی کوم چې فلسفه په یوناني ځخه دمأمون الرشید په امر عربي ژبې ته نقل کړه

ترجمه: په (الذین کفروا) کې الف لام تعریفي یا لپاره د عهد دی اومراد په دې سره خاص خلک دي لکه ابولهب ابوجهل اوولیدبن مغیره او اخبار د یهودو اویا الف لام لپاره دجنس دی متناول اوشامل دی هغه چاته چې په کفر ئې دوام کړی دی او هغه چالره هم متناول دی چې دوام ئې نه دی کړی اوخاص کړی شو له دوئ نه غیرمصرّین په هغه الفاظو کوم چې دې موصول (الذین) ته مسند شوي.

تشریح: دریم بحث: دلته دریم بحث د الذین موصول متعلق کوي.

موصول په افاده او د تعریف او استعمالاتو اربعه وکې د معرف بالام په شان دی، لام تعریف کله د جنس لپاره وي کله د استغراق اوکله دعهدذهني اوکله عهدخارجي نو دغسې موصول هم وي، اوس دلته کوم قسم مراد دی دا وائې چې جنس نه دې مراد ځکه جنس کې اشاره وي حقیقت ته او دلته داروسته حکمونه د حقیقت د کفرسره تعلق نه لري او عهدذهني هم نه دی مراد ځکه په عهدذهني کې فرد مبهم مراد وي اوتقبیح د فرد مبهم عبث وي نو یا لپاره دعهد خارجي دی چې معهود کفار ترینه مراد دي لکه ابولهب ابوجهل ولیدبن مغیره اوعلماء دیهودو.

اویا لپاره د جنس دی دجنس نه مراد استغراق دی یعنې په ضمن دټولو افرادو کې به مرادوي چې چا دوام په کفرکړی اوکه چا دوام پرې نه وي کړی ټول به ترینه مرادوي.

سوال: ته وائې چې دواړو ته ورشاملیږي چې دوام علی الکفر ئې کړی وي اوکه نه ئې وي کړی له دوئ نه خو ډیرو بیا روسته ایمان راوړی وو لکه حضرت عمر(رضي الله عنه)وغیره له هغوی سره څه کوې؟

جواب: وخصّ منهم غیرمُصرّین یوازې مُصرّین پکې پاتي شو.

سوال: خصّ چې په خپل حقیقت پاتي شي نو مُصِر مستثناء کړی شو غیر مصر پکې پاتي شو ځکه څوک چې خاص کړی شي نور به ترینه مستثناء کوي اوحال دا چې دلته مُصِر پاتي دي؟

جواب: ناکت جواب کړی دی چې خص، متضمن دی معنی د اخرج لره يعني اويستلی شو ترينه غير مُصِر قرينه ورته بما اسناديه يعني (بِمَا) په هغه خبرچې (سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنْذَرْتَهُمْ) مسند شوی دی موصول (الّذين) ته[1].

تفسيربيضاوي: (وَالكُفر لُغةً سترُ النّعمَة وأَصله الكَفْر بالفتح وهُو السَّتر وَمنه قِيل لِلزُّراع ولِلّيْل كافرٌ ولِكُمام الثَّمرة كَافُور وفى الشَّرع انْكارُ مَاعَلم بالضَّرورةِ مجِئُ الرَّسول الله صلّى الله عليه وسلّم به وانّمَا عُدَّ منه لُبس الغيَّار وشَدُّ الزّنار ونحوهما كفرًا لأَنّها تدُلّ على التَّكذيبِ فانّ من صَدَّق الرسول صلّى الله عليه وسلّم يجْترِئُ عليْها ظاهرًا لَا انّها كفر فى أَنفسها)

ترجمه: او کفر په لغت کې د نعمت پټولو ته وائي او اصل د کفر د کَفْر نه مأخوذ دی په فتح د کاف سره او دا استرته وائي او له دې وجې نه زميندار او شپې ته کافر ويل کيږي او له دې وجې نه غلاف د ميوې ته کافور ويلي شي او په شريعت کې له هر هغه شي نه انکار چې رسول الله صلّى الله عليه وسلّم راتک ورباندې کړی وي معلوم بالبداهة (بالقطع واليقين) وي او د غيار اخستل او يا زنار تړل او په شان د دې علامات د کفر شمار کړی شوي دي ځکه دا هم په تکذيب د حق دليل دی ځکه څوک چې د رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) تصديق کوي نو ښکاره په علاماتو د کفر جرأت نه کوي دا کفر حقيقت في نفسها نه دی.

(۱):- عبد الرحمن بن جوزي رحمه الله فرمائي: د دې آيات په نزول کې څلور اقوال دي (۱) ابو العالية فرمائي له دينه د احزاب قائدين او مشران مراد دي (۲) امام ضحاک فرمائي له دينه ابوجهل او د ده کورنۍ پنځه کسان مراد دي(۳) ابن السائب فرمائي له دينه ديهودو يوټولی مراد دي له هغوی نه يو حيي بن اخطب دی امام مقاتل فرمائي له دينه مراد دعربو مشرکين دي کومو چې ايمان نه دی راوړی لکه ابوجهل ابوطالب ابولهب وغيره (زادالمسير: ۱ / ۲۹) دغه راز حافظ ابن کثير له علي بن ابي طلحه هغه ابن عباس اوهغه له رسول الله صلّى الله عليه وسلّم څخه روايت کوي فرمائي چې رسول الله صلّى الله عليه وسلّم په دې کې ډير حريص وو چې ټول خلک ايمان راوړي اوتل به هڅې کوشش کې وو نو الله جلّ جلاله خبروړکړ ايمان به هغه څوک راوړي چې الله څکې په ازل مؤمن ليکلی وي اوهغه څوک ايمان نشي راوړی چې په ازل کې الله شقي ليکلی وي (تفسير ابن کثير: ۱ / ۴۵)

د کفر تعريف

تشريح: څلورم بحث: دا بحث د کفر متعلق دی کفر په دوه قسمه دی: يو حقيقت لغوي، او بل حقيقت شرعي، حقيقت لغوي نعمت پټولو ته وايي د حقيقت شرعي يو تعريف امام غزالي رحمه الله کړی فرمايي: د کفر حقيقت شرعي تعريف تکذيب الرسول فی ما جاءبه النبی (عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ) او د ايمان تعريف په تصديق باندې کوي ای تصديق الرسول فی ما جاء به النبی عليه السّلام لکن دا تعريف مورد د اعتراض دی ځکه دلته منزله او واسطه بين الايمان والکفر ثابتيږي او د اهل السنة خلاف ده هغه داسې.

ايمان تصديق شو او کفر تکذيب شو او شک نه تصديق دی او نه تکذيب دی يعنې نه کفر دی او نه ايمان دی نو په دې تعريف کې واسطه راغله په مابين د کفر او ايمان کې نو له دې وجې قاضي رحمه الله د کفر تعريف په تکذيب ونکړو بلکه په انکار سره ئې وکړو که په تکذيب سره ئې د کفر تعريف کړی وائي نو د کفر او ايمان په مابين کې تقابل د تضاد راتلو او انکار او جحود جهل ته ورځي.

قاضي صيب يې داسې تعريف کوي: انکار ما علم بالضرورة مجئ الرسول صلى الله عليه وسلم يعنې له هغو شيانو بې خبري او انکار کول موم چې نبي عليه السلام راوړي وي نو په دې تعريف کې منزله نه ثابتيږي.

خو شيخ عبد الحکيم سيالکوټي رحمه الله وايي چې د قاضي صيب په تعريف کې هم منزله ثابتيږي هغه داسې چې يو سړی دی هغه ته دالله او رسول الله (صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) معرفت حاصل دی خو تصديق يې نه دی کړی لکه د يهودو عالمان نو ذوی هم مومنان نه دي ځکه تصديق يې نه دی کړی او کافران هم نه دی ځکه انکار يې هم نه دی کړی نو دا منزله شوه بين الکفر والايمان د عبدالحکيم سيالکوټي صيب په نزد د امام غزالي رحمه الله تعريف اختيارول پکار دي.

او پاتې شول شکي او غير تصديق کونکي هغوي په کفر کې داخل دی ځکه د دوی په اقرار لساني قدرت شته بيا هم نه کوي.

او کفر په لغت کې پټولو ته وائي او داضد د شکر دی ، کفر په اصل کې په فتحې د کاف سره و چې دا بیا مطلق ستر ته وایي بضم الکاف فرعه د بفتح الکاف ده دا ځکه چې ضم الکاف کفر یو خاص قسم ستر دی نو بفتح الکاف کفر عام دی او بضم الکاف خاص دی او دا قاعده ده چې خاص مقید فرع وي د عام مطلق اوله همدې وجې نه زمیندار او شپې ته هم کافروائي ځکه زمیندار تخم پټوي او شپه خلک پټوي نو کافر ته هم ځکه کافروائي چې دا هم حق پټوي.

سوال: یو سړی دی هغه انکارنه کوي بلکه تصدیق کوي خو زنار ئې زوړند کړی یعنې دیهودو شعارئې اچولی دا خو باید مسلمان شي ځکه تصدیق یط موجود دی او حال دا چې دا کافردی ؟

جواب: که ده انکارنه دی کړی خو دا زنار وغیره شارع علامې دا نکار ګرځولي دي .

غیار: علامه د اهل الذمّة ده.

تفسیربیضاوي: (وَاحتَجَّت المُعتزلة بما جاء فی القرآن بِلَفظ المُضِيءِ علی حُدُوثه لاستِدعَائه سَابقةَ المخبرعَنه وأُجیب بِانّه مُقتَضَی التعَلُّق وَحُودثه لایستلزم حدوثه کما فی العلم)

ترجمه: اواستدلال کړی دی معتزله وو په هغو جملو چې په قرآن کې په لفظ د ماضي راغلي دي له وجې دتقاضا د لفظ ماضي نه سابق مخبرعنه لره د دې جواب داسې ورکړل شوي ده چې دا تقاضا (سبقیت) دمخبرعنه مقتضی دتعلق ده اوحدوث د متعلق حدوث دکلام لره مستلزم نه ده لکه په علم کې.

تشریح: **پنځم بحث**: دلته اوس دعلم کلام مسئله ذکرکوي کومه چې د معتزله و د استدلال متعلق دی خو لومړی دا خبره واوره چې قدیم او حادث هر یو په دوه قسمونو مشتمل دی قدیم بالذات او قدیم بالزمان حادث بالذات او حادث بالزمان . قدیم بالذات هغه ته وایي چې مسبوق بالغیر بحسب الذات نه وي یعنې غیر له د نه ذاتا مقدم نه وي قدیم بالزمان هغه ته وایي: چې مسبوق بالغیر بحسب الزمان نه وي یعنې غیر ترینه زمانا مقدم نه وي ذات واجب قدیم بالذات

وي او صفات واجب بالزمان قديم بالزمان وي، او حادث بالذات هغه دی چې مسبوق بالغير بحسب الذات وي او حادث بالزمان هغه دی چې مسبوق بالغير بحسب الزمان وي.

معتزله وائې قرآن حادث دی ځکه په قرآن کې جمله خبريه ذکر شوه (اِنّ الّذين كَفَرُوا) او دا جمله خبريه حكايت دی او حكايت محكي عنه غواړي او محكي عنه د ابوجهل افعال دي او تصميم دي په كفر او افعال دابوجهل او تصميم ئې په كفر حادث دی نو حكايت خو بعد المحكي عنه وي نو دا به په طريقه اولی سره حادث وي يعنې حدوث د محكي عنه مستلزم دی حدوث د حكايت لره.

له دې نه مونږ جواب كوو چې دا سبقيت د مخبرعنه دا د جملو خبريو تقاضا نه ده بلكه دا د دوئ د تعلق تقاضا ده يو جملې خبرئې دي او بل د دوئ تعلق دی خپله جمله خبريه قديمه ده خو تعلق ئې حادث دی يو د الله جلّ جلاله كلام ازلي دی او بل ئې تعلق دی كلام ازلي قديم دی خو تعلق ئې حادث دی ځكه مخبرعنه حادث دی او حدوث د تعلق مستلزم نه ده حدوث د كلام لره لكه علم، علم د الله تعالی متعلق غواړي او متعلق ئې حادث دی او علم د الله جلّ جلاله صفت دی او قديم دی.

او امام ابوالحسن اشعري رحمه الله وايي چې تر كومه پورې دا كلام تر ذات باري تعالی پورې قايم و هغه وخت زمانې نه وي ځكه دا ټولې زمانې الله تعالی ته برابرې دي او دا ماضي او استقبال يوازې د ممخاطب د پوهې لپاره راوړل شوي دي.

(د استواء ترکیب او سوال او جواب)

تفسیربیضاوي: (سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ) خَبر اِنّ وَ سواءٌ اسمٌ بمعنى الاستواء نُعِتَ به كما نعت بالمَصادر كما قال الله تعالى (تَعَالَوْ اِلَى كَلِمَةٍ سَوَآءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ [1]) رَفعَ بأَنّه خبر اِنّ وَمابَعدهُ مُرتفعٌ به على الفَاعليَّة كأنّه قيل انّ الّذينَ كفَروا مستوٍ عليْهم اِنذارَك وَعدمه أوبأنّه خَبر لِمَابعده بمعنى اِنذارك وعدمه سَيَّان عَليهم)

ترجمه: (سوآء عليهم) د اِنّ خبردی او سواء اسم د اِنّ په معنی د استواء سره نعت لغوي دي او په دې سره بل شي نعت (موصوف) کیدلی شي لکه په نورو مصادر سره نعت کیدلی شي لکه الله تعالی فرمایلي دي (ترجمه) راشئ داسې کلمې ته چې زمونږ اوستاسې په مابین کې برابره (دلته) کلمه موصوف او سوآء ئې صفت دی سوآء سره مرفوع دی په دې وجه چې دا د اِنّ خبردی اومابعد د سوآء (ءَأَنْذَرْتهم اَمْ لَمْ تُنْذِرهم) دا په سوآء سره مرفوع دی بناء برفاعلیت گویاچې الله جلّ جلاله داسې فرمایلي دي: اِنّ الّذِين كَفَروا مستوٍ عليهم انذارک وعدم انذارک او یا سواء د ما بعد خبردی په دې معنی سره چې انّ الّذين كفروا انذارک وعدم انذارک سيان عليهم.

تشریح: دلته مصنف رحمه الله دوه بحثه ذکر کوي اول د جملې ترکیب دویم د انذار تحقیق

اول بحث: په دې کې دوه ترکیبه قاضي بیضاوي رحمه الله کوي.

(۱) **ترکیب:** سوآء مصدر نه دی خو اسم د مصدر دی چې استواء ده هغه استواء په معنی د مستوٍ اومستوٍ صیغه د اسم فاعل ده ءَأَنذرتهم اَمْ لَمْ تُنذرهم په تأویل د مصدرچې انذارک اوعدم انذارک دی دا ئې فاعل اسم فاعل سره د خپل فاعل نه د اخبر لپاره د انّ الّذين كفروا خو دا ترکیب په مذهب د هغه چا دی چې څوک د عمل د اسم فاعل لپاره اعتماد شرط نه گني په دې ترکیب کې یو نقصان دا دی (چې اسم فاعل بغیر له اعتماده شو) او بل نقصان پکې دا دی چې دلته ترکیب خپله په سوآء کې ونشو بلکه سواء دي ورته فاعل کړو او بله جمله فعلیه دي مسند الیه کړه.

---

[1]:- سورة آل عمران : آية (٦٤)

(۲) **ترکیب**: سوآء خبر مقدم دی أَأَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ ئې مبتداء مؤخره ده مبتداء سره له خبر نه دا جمله اسمیه خبر په بیا ټول جمله خبر د اِنّ.

په دې دواړو ترکیبو باندې دري مشترک اعتراضونه وادر دي.

(۱)**سوال**: أَأَنْذَرْتَهُمْ اَم لَمْ تُنْذِرْهُمْ دا خو جمله فعلیه ده دا دې څنګه مسند الیه کړي اول خو جمله مسند الیه نشي کیدی بیا خو فعلیه بلکل په طریقه اولی نشي کیدي ؟

جواب: فعل په په دوه معناګانو سره دی یو په معنی مطابقي سره دی او بل په معنی تضمني سره دی په اعتبار د معنی مطابقي غیرمستقل دی په دې اعتبارسره مسندالیه نشي واقع کیدی اونه هم مبتداء واقع کیدی شي لکه په دې ترکیب کې اونه فاعل واقع کیدی شي لکه په اول ترکیب کې ځکه مسندالیه مستقل وي. اوهرچې دلته ورته مونږ مسندالیه (مبتداء یا فاعل) وایو نو دا په معنی تضمني سره اومعنی تضمني د فعل مستقله ده کله کله پکې یوازې معنی تضمني مقصود وي اونسبت پکې مقصود نه وي لکه همدلته.

(۲)**سوال**: أَأَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ کې همزه د استفهام دی او همزه تقاضا د صدارت د کلام کوي او دلته په دواړو ترکیبونو کې د دې صدارت فوت شو دی په اول ترکیب کې لفظًا اورتبتًا دواړه فوت شو ، ځکه فاعل په لفظ اورتبه دواړوکې روسته وي او په دوهم ترکیب کې لفظًا فوت شو اګر که رتبتًا نه دې فوت شوی ځکه لفظًا دلته مبتداء مؤخره دخو په رتبه کې دا مقدمه وي.

(۳)**سوال**: دا همزه او اَمْ لپاره د استفهام د تعین د احدالامرین راځې سره د علم نه د مخاطب په احد الامرین لکه په کوټه کې څوک غږیږي زه ووایم زیدٌ فی الغرفة ام عمرٌ دلته زما علم په وجود د یوکس شته خو طلب د تعین کوم چې څوک دی نو په دې کې احدالامرین راغله او سوآء په متعدد ور داخلیږي اوپه احدالامرین کې خو تعدد نشته؟

سوال: ته وائې چې سوآء په معنی د استواء ده او دا خو مصدرده تا دا خبر واقع که او خبرخو حمل وي اومصدرنه حملیږي ؟

جواب: نُعِتَ به: دلته سوآء په معنا د استوا مصدر سره اخستل شوی ځنګه چې مصدر لره نعت لغوي او نحوي جوړولی شي دغسې سوآء لره هم نعت لغوي او نحوي جوړولی شې د نعت نحوي مثال (تعالوا الى كلمة سواء بيننا وبينک) دلته سوآء د کلمې تابع او صفت دی او همدا نعت نحوي دی ،دنعت لغوي مثال (سواءٌأَأَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ) دلته سواء خبر واقع د د انّ لپاره او خبر قايم تر مبتداء وي او هرې معنی قایم بالغیر ته په لغت کې نعت وايي.

انذارک وعدمه باندې اعتراض واردیږي هغه دا

سوال: په مبتداء کې تعدد راغی او په خبر کې افراد دی ؟

جواب: سيان عليهم: په مصدر کې تثنيه او جمع يو برابر وي دا په معنی کې تثنيه ده.

تفسیربیضاوي: (والفعل انّما يَمتنع الأخبَار عنه اذَا أرِيدبِه تَمام وضع له أَمّا لو اُطلقَ وأُريدبه اللَّفظ اومُطلق الحَدث المَدلول عَليه ضِمنًا على الاتّساع فَهوكَالإسِمِ فِي الاضَافةِ والاسْنادِ اليه كقوله تعالى (وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ اَمِنُوْا) وقوله (يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ [۱])وقَولهم تَسْمَع بالمِعيدى خير مّن اَنْ تراهُ)

ترجمه: او د فعل نه خبر واقع کول منع وي چې کله په دې سره ټوله معنی موضوع له مرادکړی شي (معنی مطابقي) او که چیرته اطلاق د فعل وشي او له دینه لفظ مراد شي یامطلق حدثي معنی د فعل مراد شي چې مدلول علیه ضمنًاوي بناپه فراخي په اصطلاحاتو کې نو بیا فعل په اضافت او اسناد کې په شان د اسم دی لکه داقول دالله تعالی (وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ) او (يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ) دلته يوم مضاف او ينفع مضاف اليه واقع شوی ده او داقول د عربو چې د معيدي اشعار اوريدل ستالپاره د معيدي د ليدلو نه بهتردی.

---

(۱):- سورالمائدة : آية (۱۱۹)

تشریح: دا دفع د اعتراض ده کوم چې وارد وو په أَأَنْذَرْتَهُمْ او لَمْ تنذرهم باندې چې جمله فعلیه دې مسند الیه واقع کړي دا غیر صحیح ده ؟ دا ورته جواب کوي چې جمله فعلیه په اعتبار د معنی مطابقي مسند الیه نشي واقع کیدلی خو په اعتبار د معنی تضمني واقع کیدای شي کما مرّ.

او د دې لپاره څو مثالونه ذکر کوي چې فعل په معنی تضمني سره مسند الیه واقع شوی وي اول مثال لکه الله تعالی فرمایي: وإذا قیل لهم امنوا دلته د امنوا فعل خالي د لفظ د امنوا مراد دی نو ځکه نائب فاعل واقع شوی د قیل فعل مجهول لپاره دویم مثال لکه الله تعالی فرمایي: یوم ینفع الصادقین صدقهم . دلته هم ینفع فعل څخه مطلقاً معنی حدثي مراد ده نو ځکه مضاف الیه واقع شوی ده دریم مثال د معیدي شعر دی پوره شعر داسې دی.

تسمع بالمعیدی خیر من ان تراه . . . ستعرف قدره ان فتح فاه

ترجمه: د معیدي اشعار ستا لپاره د معیدي د کتلو نه بهتر دي زر ده چې قدر به ئې وپیژني کله چې معیدي خوله خلاصه کړه.

دلته هم تسمع فعل نه معنا تضمني مراد ده ځکه مسند الیه اقع شوی دی ای سماعکم بالمعیدي.

معیدي: هغه چاته وائي چې ظاهرًا ئې اوازه د خوش اخلاقي تللي وي خو چې ورشي ډیر بد اخلاقه وي بعض علماء ئې دا معنی لغوي مراد وي او بعض علماء وائي چې دا یو سړی وو چې نعمان بن منذر لو مړی دده په اړه دا شعر وویلو ځکه یا خو د ده اوازه د خوش اخلاقی تللي وه او په حقیقت کې ډیر بد اخلاقه وو یا د ده نه چا د لطائفو او حکمتونو ډک شعرونه نقل کړي وو پوره شعر داسې ده.

تفسیر بیضاوي: (وانّما عَدل هَهنا عنِ المَصدرِ الی الفِعل لما فِیه منْ ایْهام التَّجدُّد وحسن دُخول الهَمزة وَاَمْ عَلیه لتَقریرمَعنی الاستِواء وتَاکِیده فَانّهما جُرِّدتا عن مَعنی الاِستفهامِ لمّجرد الاستواء كما جُرِدَت النِداء عن الطَّلب لمُجرد التَّخصِیص فی قولهم اللّهمّ اغفرلنا ایتها العِصابة)

ترجمه: او عدول ئې کړی دلته د ذکر د مصدر نه فعل ته د هغو فائدو له وجې چې کومې په فعل کې دي چې د تجدد د وهم پیداشي او حسن د دخول د همزې او د أَمْ په دې فعل باندې د دې لپاره چې معنی د استوا ثابته او موکده کړي د نو یقینًا دا حرف د استواء د معنی لپاره مجرد کړی شوید ي لکه چې حروف نداء د طلب نه مجرد کړی شوي دي دا حروف لپاره د تخصیص مجرد کړی شوي دي لکه په دې قول د عربو کې چې اي الله جلّ جلاله ته زمونږ بخښنه وکړي او خاصکر دا زمونږ د لې ته.

تشریح: په دې سره دفع د اعتراض ده هغه دا

سوال: د أَأَنْذَرْتَهُمْ نه دي معنی مطابقي مراد نه کړه بلکه تضمني معنا دې ترینه مراد کړه یعنې مصدر دی ترینه مرادکړو خو بیا به دې مصدر ذکرکړی وو کنه سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ انذارک وعدم انذارک؟

جواب: له مصدر نه یې عدول د فعل صیغې ته په دې وجه وکړ چې ایهام تجدد فایده وکړي او دا فایده له فعل نه حاصلیږي نو ځکه یې د فعل صیغه استعمال کړه

بیا تجدد په دوه معناګانو سره راځي اوله معنا مطلق حدوث یعنې یو ځل کیدل بیا ختمیدل او دا معنا په هر فعل کي شته ځکه دا له اقتران د زمان ځخه حاصلیږي.

دویمه معنا حدوث فی المستقبل او دیته استمرار د تجدد وایي او دا معنا یوازې په مضارع کې وي او دلته له تجدد نه اوله معنا مراد ده بعض وایي چې دویمه معنا مراد ده.

سوال: دلته أأنذرتهم او لم تُنذرهم دواړه صیغې د فعل مضارع دي او په فعل مضارع کې خو عین تجدد دی ایهام د تجدد خو پکې نشته نو د ایهام کلمه دي ولې پکې راوړه؟

(۱) جواب: حاشیې ورته جواب کړي چې دې کې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته تسلي ده که ته بیا بیا هم انذار وکړې دوئ ایمان نه راوړي.

(۲) جواب: یا دا چې موږ وویل چې تجدد په مضارع کې راځې او دلته خو مو انسلاخ د زماني نه کړي خالي او مطلق حدث مو ترینه مراد کړی چې انذارک اوعدم انذارک دی

نو مضارعيت پکې نشته نو چې مضارعيت پکې نشته نو تجدد هم پکې نشته نو ايهام دتجدد پکې راغلى دى يعني تجدد د مضارع په معنى مطابقي کې وي او دلته معنى تضمني ده.

وحسن دخول الهمزة: سره دفعه دوهم اعتراض کوي

سوال: چې همزه خو تقاضا دصدارت کوي او دلته صدارت فوت شوى کما مرّ.

جواب: ستا اعتراض به هلته وارد و چې دا موږ په خپله معنا سره استعمال کړي واى بلکې دلته پکې تجريد شوى دى له احد الامرين څخه لکه څنګه چې حرف ندا کې تجريد شوى او په خپله معنا کې نه ده استعمال شوي مثال: اَللّٰهُمَّ اغفرلنا ايتها العصابة. دلته هم تجريد د حرف ندا راغلى له طلب د اقبال د منادي څخه صرف د حرف تخصيص په معنا استعمال شوې ده قرينه پرې داده چې عصابه دې مقوله نه منادى نه ده ځکه د قايل مقصود دا نه دى چې عصابه ځان طرفته متوجه کړي بلکې مقصود دادى چې د عصابې لپاره له الله تعالى نه خاص طور سره مغفرت وغواړي.

تفسيربيضاوي: (وَالانذارُ التَّخويفُ أُريد بِه التَّخويف[1] مِن عذَاب الله وانّما اِقْتصرَ عليه دونَ البَشارةَ لأَنّه أَوقعُ فى القَلب وأَشدّ تأثيرًا فى النُّفس منْ حيثُ اِن دَفع الضّراهم مِن جَلب النّفع فاذَا لمْ يَنفع فيهِم كانَتِ البشارةُ بعدم النفْع أَولى)

ترجمه: انذار مطلق يرولو ته وائې دلته مراد يرول د عذاب د الله تعالى څخه دي او اقتصار په انذار شوى دي نه په بشارت ځکه چې انذار په زړه کې زيات اثر کوي او اشد دى په تابعه د نفسونو کې د دې حيثيت نه چې جلب د منفعت نه دفع دضرر اهم ده نو هرکله چې انذار په دوئ کې فائده ورنکړه نو بشارت په عدميت دنفع کې ډير اولى ده.

تشريح: **دويم بحث**: دلته دويم بحث شروع کوي کوم چې د لفظ د انذار متعلق دى. انذار مصدر دى د باب افعال څخه په لغت کې يرولو ته وايي او په اصطلاح د مفسرينو کې د ګناه د ارتکاب په وجه د الله د عذاب نه ويرول.

---

(۱):- قال الامام ابن الجوزي رحمه الله الانذار اعلام مع التخويف، وتناذر بنوفلان هذا لامر اذا خوفه بعضهم بعضًا (زادالمسير: ۱ / ۲۹)

په دې عبارت يو اعتراض دی هغه دا

سوال: لکه څنګه چې انذار او عدم انذار په عدم نفع کې برابر کړی شو دغسې تبشیر او عدم تبشیر هم برابرول پکار و دا سې ویل پکارو سواء علیهم أأنذرتهم ام لم تنذرهموبشرهم ام لم تبشرهم او تا دلته تخصیص په ذکر د انذار کړی دی او بشارت دې نه دی ذکر کړی او حال دا چې په عام ځایونو کې بشارت او انذار یو ځای ذکر کیږي ؟

(۱)**جواب**: انذار ابلغ دی ځکه انذار کې تخلي ده او ابشار کې تحلی ده او تخلي اهمّه هم وي او اوقع هم وي.

(۲)**جواب**: ابشار په دوه قسمه دي (۱) بشارت کامله دی (۲) نفس بشارت دی او انذار هم په دوه قسمه دی (۱) انذار کامله دی (۲) نفس انذار دی. نو بشارت کامله په کامل ایمان سره دی او نفس بشارت په مطلق ایمان دی او انذار کامله په کفرباندې دی او نفس انذار په معصیت دی نو دلته انذار کامله مراد دي چې دا کافرانوته وي که بشارت ئې ذکرکړې وای نو د تقابل له وجې به له بشارت نه بشارت کامله مراد وائې اوبشارت کامله مؤمنانوته کیږي کفارو ته خو نه کیږي ځکه دکفارو نفس ایمان نه وي او کفار اول په نفس ایمان مکلف دي په کامل ایمان بیا روسته مکلف کیږي.

(په أأنذرتهم کې اوه قرأته)

تفسیربیضاوي: (وقرئ (أَأَنْذَرْتَهُمْ) بِتحْقيق الهمزتَين وتَخفيف الثَّانية بَينَ بين وقَلبُها الفًا وهو لَحْن لأنّ المُتحرِّكة لَاتقلب ولأَنّه يُؤَدّي الى جَمِيع السَّاكنين عَلى غيرحَدهِ وبِتوسِيط الف بينهما مُحَقَّقتين وبِتوسيطهَا الثَّانية بين بين وبحذفِ الاسْتِفهامِيَّة وبحذفها والقاء حَركتها على السَّاكنِ قبلها)

ترجمه: او لوستلی شوی دی (أَءَنْذَرْتَهُم) په تحقیق(ثابت ساتلو) دهمزتینو سره او په تخفیف د دوهمې همزې سره لوستل ،د دوهمې همزې په الف سره بدلول خطا دي ځکه همزه متحرکه نه بدلیږي او ځکه دا مفضي دی التقاء الساکنین علی غیرحده ته هم او په مابین دهمزتینو محققتینو کې الف راوړل او یا په مابین کې الف راوړل او دوهمه همزه په بین بین قریب سره اداکول (اول

همزي سره الف او دو همي سره بين بين) اوبل قرائت په همزې د استفهام (اوله همزه) سره او يا په حذف د حرف استفهام او غورځول د حرکت په مخکې ساکن باندې.

تشريح: دلته اوس د همزتينو د قرأت متعلق بحث کوي او په دې کې اوه قرائته ذکر کوي.

(۱)**قرائت**: بتحقيق الهمزتين چې دواړه همزې د أَءَنْذَرْتَهُمْ په خپل حال پريخودل شي دا قرأت د کوفيانو او د ذکوان د روايت په اعتبار سره ابن عامر ته منسوب دی.

(۲)**قرائت**: وتخفيف الثانية بين بين چې دا دوهمه همزه په بين بين کې ادا کړې (چې دوهمه همزه کې تسهيل وکړې دا قرأت ابن کثير ته منسوب دی).

تسهيل: وائې چې حرف اداکړی شي په مابين د مخرج خپل او مخرج د هغه حرف کې چې د دې د حرکت سره موافق وي لکه دلته دوهمه همزه باندې فتحه د الف سره مناسب ده او هغه الف د دوه فتحونه جوړدی نو دا همزه په مخرج دهمزې او مخرج دالف کې اداکړې.

(۳)**قرائت**: وقلبها الفًا: چې دوهمه همزه په الف بدله کړې دا لحن دی يعنې غلط دی لحن وائې خروج عن کلام العرب ته ځکه دوهمه همزه متحرکه ده متحرکه همزه په الف نه بدليږي البته ساکنه همزه په الف بدليدی شي کله جوازًا او کله وجوبًا او بل مفصي کيږي التقاء د ساکنينو راغله على غيرحده لره دا قرأت نافع طرفته منسوب دی.

(۴)**قرائت**: وبتوسط الف بينهما محققين: چې دواړه همزې په خپل حال پريخودل شي خو په منځ کې ئې الف هم راوړل شي لکه أَاأَنذرتهُمْ دا قرأت بعض ابن عامر ته منسوب کړی.

(۵)**قرائت**: وبتوسيطها والثانية بين بين: دا چې په منځ د همزتينو کې الف راوړل شي خو په دوهمه همزه کې تسهيل وکړل شي دا قرأت د ابو عمرو او د قالون او نافع قرأت هم دی.

(۶)**قرائت**: وبحذف الاستفهامية يعنې په حذف د اُولى همزې سره دا قرأت ابن جني ابن محصن ته منسوب کړی.

(۷)**قرائت**: وبحذفها والقاء حرکتها على ساکن ماقبلها: اوله همزه حذفه کړه او حرکت ئې ماقبل ساکن (ميم) ته ورکړه عَلَيْهِمَ اَنْذَرْتَهُمْ.

بين بين

بین بین په دوه قسمه دی: (۱) بین بین قریب (۲) بین بین بعید.

بین بین قریب: چې یو حرف اداکړی شي په مابین دمخرج خپل او د مخرج د هغه حرف کې چې د دې حرکت سره موافق (له جنسه) وي او دلته قریب مراد دی.

بین بین بعید: چې یو حرف دخپل مخرج او په منځ دمخرج دهغه حرف کې چې حرکت ئې له ماقبل سره موافق وې اداکړی شي لکه الف ددوو فتحو واو د دوو ضمو اویاء د دوو کسرو نه جوړه ده.

(التقاء الساكنين)

التقاء الساکنین په دوه قسمه ده (۱) علی حده (۲) علی غیرحده.

(۱)**علی حده**: اول حرف ساکن مده او دوهم حرف ساکن مدغم وي لکه دآبّة او احمارّ.

(۲)**علی غیرحده**: اول حرف ساکن مده او دوهم حرف ساکن غیرمدغم وي او دا ناجائزده یعنې دعلی حده عکس دی.

(په لایؤمنون کې څلور ترکیبه)

تفسیربیضاوي: (لَايُؤْمِنُوْنَ) جُملةٌ مُفسّرةٌ لِإجمالِ مَاقَبلها فِيمَا فيه الاسْتوآء فَلامحل لها أوحالٌ مؤكّدة أوبدل عَنه اوخبرُ اِنّ وَالجُملة قَبلها اعتِراض بمَا هُو عِلّة الحكم)

ترجمه: دا (لَایُؤمنون) جمله مفسره ده لپاره د ماقبل اجمال په هغه شي کې چې په کوم کې برابروالی ده نودې جملې لره لره محل داعراب نشته اویا دا حال مؤکده ده اویا دمخکې جملې نه بدل ده اویا خبر د اِنّ دی او مخکې جمله معترضه شوه چې هغه علت دحکم دی.

تشریح: مصنف دلته دوه بحثونه کوي اول بحث ترکیبي دی او دویم بحث استدلالي دي.

اول بحث: په دې کې څو ترکیبه کوي.

(۱)**ترکیب**: دا چې دا جمله مفسره ده لپاره د اجمال د ماقبل دا اجمال په اعتبار د مافیه الاستواء سره مخکې یې وویل: سوآء عَلَيْهِم ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ یعنې ستا انذار اوعدم انذار یو برابردي په څه کې یو برابردي نو جمله کې ابهام نو په لایؤمنون سره یې د هغې تفسیر

وکړو چې مافيه الاستواء عدم ايمان دی يعنې په انذار او عدم انذار کې برابر دي، مخکې د عدم ايمان ذکر نه وو شوی اوس دلته مافيه الاستواء چې عدم ايمان دی بيان وشو نو په دې اعتبار سره بيا د دې جملې لپاره اعراب محلي نه وي.

(۲) **ترکيب**: يا دا حال مؤکده دی لپاره د مضمون د جملې اسمې په دې کې دې نکتې ته اشاره ده چې مخکې دوه ترکيبه تير شوه يو داوه چې سواء دال دی په استواء، استواء په معنی د مستوي صيغه د اسم فاعل انذارک وعدم انذارک ئې فاعل د اتولـه جمله نه ده بلکه شبه جمله ده يعنې په حکم د مفرد کې ده او دوهم ترکيب داوو چې سواء خبر مقدم او أأنذرتهم او لم تنذرهم مبتداء مؤخره نو په دې ترکيب باندې دا جمله ده نو دا به حال مؤکده د جملې اسمې څخه وي او تاکيد به داسې وي چې مخکې د استواء ذکر شوی وه خو مافيه الاستواء ئې نه وو ذکر کړی نو په دې کې د مافيه الاستواء بيان او ذکر وشو.

(۳)**ترکيب**: يا دا لايؤمنون بدل دی خو په بدل کې بدل الکل نه دی ځکه په بدل الکل کې د بدل او مبدل منه مصداق يو وي او بدل البعض هم نه دی ځکه بدل البعض جزء د مبدل منه څخه وي بلکه دا بدل الاشتمال دی بدل اشتمال ديته وائي چې بدل متعلق د مبدل منه وي خو تعلق د کل او د جزء نه وي نو دلته اوس د دې تعلق د ماقبل سره دادی چې مخکې د مافيه الاستواء ذکر نه وشوی اوس ئې ذکر وشو.

(۴)**ترکيب**: يادا لايُؤمنون خبر د اِنّ دی او په منځ کې دا جمله سواء عَليهم الخ معترضه ده چې علت دی لپاره د حکم د لايؤمنون يعنې برهان لمّي دی لکه ختم الله برهان اِني دی.

خو دا ترکيب هغه وخت صحيح دی کله چې سواء عليهم کې د مبتداء او خبر ترکيب وکړل شي خو له سواء صيغه د اسم فاعل په تاويل سره واخستل شي بيا دا ترکيب نه صحيح کيږي.

تفسيربيضاوی: (وَالآيَةُ مِمّا احْتَج به مِن جَوَّز تَكليف مالَايُطاق فانّه سبْحانه أَخبرعَنهم بأَنّهم لَايؤمنون وَأَمرهم بِالايمانِ فَلو أَمنوا اِنقلب خَبره كذبًا وشَمَل ايْمانهم الايمان بانّهم لَايؤمِنون فَيجتَمع الضَّدان)

ترجمه: او آیت له هغې جملې څخه دی چې په دغه آیت باندې هغه چا استدلال کړی دی چې هغوئ جواز وکړې تکلیف بما لایطاق ته داسې چې یقینًا الله تعالی د دوئ نه خبر د لایؤمنون ذکر کړی دی او بیائې ورته حکم د ایمان راوړلو هم کړی دی نو که چیرته دوئ مؤمنان شوي وائې نو خبر د الله جلّ جلاله په کذب ګرځیدلی وائی او د دوئ ایمان شامل دی ایمان لره په دې چې لایؤمنون دی (چې دوئ به ایمان راوړي په لایؤمنون) نو جمع شوه ضدان.

تشریح: دویم بحث: دلته دویم بحث د استدلال متعلق ذکر کوي.

ممتنع په دوه قسمه دی یو ممتنع لذاته او بل ممتنع لغیره.

ممتنع لذاته: هغې ته وایي چې د هغې په ذات کې داسې معنا وموندل شي چې د هغې له وجې پرې د امتناع حکم ولګول شي لکه اجتماع د نقیضینو او ارتفاع د نقیضینو .

ممتنع لغیره: هغه دی چې في نفسه ممکن وي خو لکن د یو عارض له وجې پرې د امتناع حکم ولګول شي لکه کتابت فی نفسه ممکن دی خو د عدم اله په وجه ممتنع دی او دا خبره چې په ممتنع باندې بنده مکلف دی او که نه؟

(۱) **تکلیف په ممتنع لذاته**: دې کې اختلاف دی جمهور او معتزله وائې چې په ممتنع لذاته باندې الله جلّ جلاله عبد نه مکلف کوي لکه الله جلّ جلاله تا نه مکلف کوي په اجتماع د نقیضینو او ارتفاع د نقیضینو او په شریک الباري باندې . د اشعریه و یوه ډلې په نزد باندې د ممتنع لذاته تکلیف جائز دی خو واقع نه دی.

(۲) **تکلیف په ممتنع لغیره**: په دې سره تکلیف جائز هم دی او واقع هم دی اتفاقًا.

ممتنع لغیره دا وي لکه الله جلّ جلاله خبرورکړی وو چې دا کارونه کیږي فی نفسه دا کار ممکن وي یا د الله جلّ جلاله علم وړپورې متعلق شوی وي چې دا کار نه کیږي او س که هغه کار وشي نو د الله جلّ جلاله په خبر کې کذب راځي نو د دې له وجې دا ممتنع شوی وي.

(۳) دغسې هغه شیان چې الله تعالی د هغې باره کې د عدم خبر ورکړی وي د هغې د تکلیف هم تول حضرات قایل دي، کوم خلک چې د ممتنع لذاته د تکلیف قایل دي هغوي له ایت نه په دوه طریقو سره استدلال کوي.

اوله طریقه د استدلال: چې اِنّ الّذین کَفَرُوا مونږ وویل چې دا موصول یا لپاره د عهد دی معهود کافران ترینه مراد دي لکه ابوجهل ابولهب وغیره نو الله جلّ جلاله خبر ورکړ چې دا معهود کافران ایمان نه راوړي ځکه الله تعالی خبر ورکړی چې دوی به ایمان نه راوړي لکن د دې باوجود هم دوی مکلف په ایمان شول ،نو د دوئ ایمان راوړل ممتنع شو ، ځکه ایمان راوړي بیاخو کذب په ثابتیږي په خبر د الله تعالی کې او کذب په جانب د الله تعالی کې محال دی او مستلزم محال لره محال وي نو ایمان د ابوجهل محال نو ثابته شوه چې ایمان بالممتنع واقع دی.

دویمه طریقه د استدلال: د ابو جهل وغیره ایمان ممتنع لذاته دی هغه داسې دوئ مکلف دي په ایمان چې په قرآن به ایمان راوړي نوچې په قرآن ئي ایَمان راوړو په قرآن کې خو دغه آیت هم دي چې لایؤمنون په دي به هم ایمان راوړي ایمان په لایؤمنون مستلزم ده عدم ایمان لره نو ایمان په عدم ایمان دا عدم ایمان وي نو دوئ مکلف شوه په عدم ایمان او بل طرفته دوئ مکلف دي په ایمان نو ایمان او عدم ایمان اجتماع د نقیضینو ده نو معلومه شوه چې دوی په اجتماع النقیضین مکلف دی او اجتماع القیضین ممتنع لذاته دی دا ثابته شوه چې تکلیف بالممتنع صرف جایز نه بلکې واقع دی.

تفسیربیضاوي: (وَالحَقُّ ان تکْلیف بالمُمتنِع لذاته وَانْ جاز عَقلًا من حَیث ان الأَحکام لَایستدعی غَرضًا سَیّما الامتِثال لَکنه غَیر واقِع لِلاستقراء والأَخبار بِوقوع الشَّئ اوعدَمه لَاینفی القُدرة عَلیه کاخباره تعالی عمّا یَفعله هو أو العبد باختیاره)

ترجمه: او حق خبره داده چې اګرکه تکلیف په ممتنع لذاته عقلًا جائز دی له دې حیثیت نه چې دا احکام د کوم غرض تقاضانه کوي او خاص کرد عمل کولو خو تقاضا نه کوي لکن تفتیش سره دا تکلیف واقع شوي نه دې او اخبار په وقوع یاعدم وقوع د یو شي قدرت په دغه شي نه منع کوي

لکه د الله تعالی په خپل اختيار اخبار ورکول د هغه څه نه چې الله تعالی ئې فعل کونکی وي اويائې بنده فعل کونکی وي.

تشريح: دلته قاضي صيب محاکمه کوي وائې چې حق دا ده چې تکليف په ممتنع لذاته اګرکه عقلًا جائز دی له دې حيثيته چې د الله جلّ جلاله احکام اغراض نه غواړي بيا خاص کر امتثال يعنې چې الله جلّ جلاله يو سړی مکلف کړي ،نو د الله تعالی افعال معلل بالاغراض نه دي يو په اغراضو کې-امتثال دی نو د الله جلّ جلاله غرض دا نه وي چې دا کاردي دا سړی وکړي بلکه د دې لپاره ئې مکلف کوي چې نور فوائد پرې مرتب کړي نو جائز دی عقلاً خو واقع نه دی شرعاً او بل دا چې نو تکليف بمالايطاق نشته پاتې خو لادا چې تکليف به ممتنع لذاته باندې وشي.

والاخبار بوقوع: سره دفعه د اعتراض کوي کوم چې مخکې تيرشوی.

سوال: تا وويل چې د دوئ ايمان يا ممتنع لذاته دی په يو تقدير او په بل تقدير ممتنع لغيره دی نو دا خو تکليف نشو ؟

جواب: دا ورته جواب کوي چې د الله خبر تابع د حکم دالله جلّ جلاله دی او د الله جلّ جلاله حکم د الله جلّ جلاله د ارادې تابع دی او د الله جلّ جلاله اراده د الله جلّ جلاله د علم تابع دی او د الله جلّ جلاله علم د دې معلوم تابع دی هلته معلوم داسې وي چې دوئ ايمان نه راوړي يعنې مطلب دوئ ايمان نه راوړي په دې د الله جلّ جلاله علم راشي دعلم مطابق د الله جلّ جلاله اراده راشي د رادې مطابق الله جلّ جلاله حکم وکړي دکم مطابق چې مونږته خبرراکړي نو خبر تابع دحکم شو حکم تابع د ارادې شو او اراده تابع د علم شوه او علم تابع د معلوم شو او علم خو مجبر په معلوم نه وي يعنې د علم له وجې نه معلوم نه وي راغلې بلکه د معلوم له وجې علم راغلی وي بهر تقدير دوئ په عدم ايمان کې مجبوره نه دي بلکه په خپل اختيار ايمان نه راوړي دا جواب له ممتنع لغيره نه شو او جواب له ممتنع لذاته (لکه ايمان دابوجهل) نه هغه بيا روح المعاني کړی دی چې دوئ مکلف په تفصيلي قرآن نه دي بلکه دوئ مکلف په اجمالي قرآن دي روسته له اجمالي ايمان څخه بيا مکلف دي په تفصيلي ايمان نو په اجمالي قرآن کې بيا اجتماع دضدينو نه راځي.

تفسیربیضاوي: (وَ فائدة الانذارِ بعد العلمِ بأَنّه لَا ینجَح اِلزام الحجة وَحِیازةِ رسُول الله صلّی الله علیه وسلّم فَضل الاِبلَاغ وَلذَلک قال (سَوَآءٌ عَلَیْهِمْ) ولَم یقلْ سواءٌ علیک کمَا قالَ لعبدةِ الأَصنام (سَوَآءٌ عَلَیْکُمْ اَدَعَوْتُمُوْهُمْ اَمْ اَنْتُمْ صَامِتُوْنَ [۱]) وفی الآیة اِخبارٌ بالغَیب علی مَاهُو به ان أُرید بالموصول اشخاص باعیانهم فَهی من المُعجزات)

ترجمه: او فائده د انذار بعد له علم نه په دې خبره چې دا انذار دوئ ته نفع نه ورکوي الزام (حجت) دلیل قائمول دي او راجمع کول د محمّد(صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ)دي فضیلت د تبلیغ ته له دې وجې نه الله جلّ جلاله فرمائي (سَوَآءٌ عَلَیْهِمْ) اونه ئې دي ویلي سواء علیک لکه څنګه چې ئې ویلي په باره دبت پرستانو کې (ترجمه) ائ دبتانو عبادت کونکو ستاسو په حق کې برابره ده که بتانو ته اوازونه کوئ اوکه ساکت یئ په آیت کریمه کې اخبار بالغیب دی په هغه طریقه چې دوئ ایمان لرلو که چیرته له موصول نه معین اشخاص مراد شي بیا به داله معجزاتو څخه وي.

تشریح: دلته دفع د اعتراض ده هغه داچې.

سوال: په آیت کریمه کې راغله چې ابوجهل ایمان نه راوړي نو درسول الله (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ)د تبلیغ بیا څه فائده شوه ؟

جواب: د تبلیغ فایده یې الزام الحجة چې د قیامت په ورځ د دوئ دلیل ختم شي چې مونږ ته چا دعوت نه دی راکړی.

اوسَوَآءٌ عَلَیْهِمْ په هغه ځای کې ویلي کیږي چې دوئ ته ګټه نه وي او سواء علیک په هغه ځای کې ویلي کیږي چې رسول الله (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) ته ګټه نه وي نو دلته ئې سواء علیک ونه ویل ځکه دلته رسول الله (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ) ته ګټه شته چې اجر او نبوي دنده سرته رسول دي خو دوئ ته ګټه نشته [۲].

---

(۱):- سورة الاعراف : آیة (۱۹۳)

(۲):- امام عبدالرحمن ابن جوزي رحمه الله فرمائي چې دا آیت په لفظ دعموم سره نازل شو خو مګر حمل په خصوص دی ځکه که په ظاهر عموم باندې ورحمل شي بیا خو دیرو کفارو په حالت د انذار کې ایمان راوړی نو واجب ده چې په خصوص ورحمل شي (زادالمسیر: ۱ / ۳۰)

حل اللغات

شمېره	لغات	معني
۱	لا ينجح	نفع نه ورکوي
۲	حيازة	جمع
۳	اصنام	بتان
۴	استقراء	پلټنه
۵	عبدة	بندګان

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ وَعَلٰى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۞

تفسيربيضاوي:(خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ وَعَلٰى اَبْصَارِهِمْ) تعليل للحكم السابق وبيان لما يقتضيه)

ترجمه: الله تعالی د دوئ په زړونو او غوږونو باندې مهر لګولی دی او په سترګو د دوئ پردې دي دا آيت د حکم سابق لپاره علت دی او د هر هغه شي بيان دی چې حکم سابق ئې مقتضي (غوښتونکی) وي.

تشريح: قاضي صاحب دلته درې بحثونه ذکر کوي لومړی د دې ايت له ماقبل سره مناسبت دويم د ختم او غشاوة تحقيق دريم بحث د قلب، سمع او بصر تحقيق.

لومړی بحث: د دې ايت له ماقبل سره مناسبت دا دی چې (ختم الله ...) سبب دی او لايؤمنون مسبب دی او سبب له مسبب سره مناسبت لري دغه راز په سبب او مسبب کې کمال اتصال وي او د چا تر منځ چې کمال اتصال وي هلته حرف عطف نه راوړل کيږي نو ځکه د د (ختم او لايؤمنون ترمنځ حرف عطف پرېښودلی شو.

او صاحب د حاشية الشهاب د حرف عطف د پرېښودلو وجه داسې بيان کړې ده چې دا آيت (ختم الله) استيناف دی په ذکر د سبب مطلق دی يعنې د کفارو باره کې الله تعالی فرمايي چې.

انذار او عدم انذار د دوی په حق کې برابر دی ځکه چې دوئ ایمان نه راوړي دلته یو سوال پیدا کیږي چې د عدم ایمان سبب څه دی ؟

نو جواب دادی چې سبب د عدم ایمان چې د هغوی د ایمان راوړلو څومره ذرائع دي په هغو ټولو الله تعالی مهر لګولی دی او پردې یې پرې اچولي دي او سبب مطلق یې ځکه وویل چې سائل په سوال کې کوم سبب نه و متعین کړی.

(په ختم الله یو سوال او د هغې جواب)

سوال: چې الله جلّ جلاله د دوئ په زړونو مهر لګولی بیا خو دوئ د ایمان په راوړو کې معذور شول؛ ځکه د دوئ زړونه معطل شول نو آیا په قیامت کې به د دوئ په حق کې د جهنم فیصله له دوئ سره ظلم نه وي ؟

جواب: له دې سوال څخه جواب عبدالله ابن عباس (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) کړی دی هغه دا چې دا اعتراض به هلته صحیح کیږي چې ختم القلب (مهر دزړه) جبرًا وائې او دلته په طریقې د تسبیب سره دی دا ختم القلب بیماري ده مسبب دی د یو سبب د معهودو کفارو غرق کیدل دي په ضلالت کې او تمرد او طغیان دی په کفر کې او دا اختیاري امر دې په خپل اختیار سره چې دغه کارونه وکړل نو له هغې څخه تغیر دزړه پیدا شو او کله چې دا تغیر ختم نکړي نو دا زیاتیږي تردې چې ټول زړه باندې قبضه وکړي او ختم القلب ترینه جوړ شي نو د دوئ په حق کې د جهنم فیصله له دوئ سره ظلم ندې او نه خو دوی معذور شول ځکه دغه کړنې سبب د مهر ګرځیدلي.

تفسیربیضاوي:(والخَتْمُ أَلكَتْم سمّي به الاِستِيثَاق من الشَّئ بِضرب الخَاتم عَليه لأنّه كَتم لهُ والبُلوغ آخره نظرًا الى أنّه أخر فعل يفعل فى اِحرازه)

ترجمه: او ختم پټولو ته وائې مسمی کړی شو په دې سره محکم والې د یوشي په لګولو د مهر په هغې ځکه دا د هغه شي لپاره پټول دي او د شي آخر ته رسیدلو ته هم ختم وائې په نظر سره دې ته چې دا آخرنی فعل دی چې په هغې شي ساتنه د دغه شي وشي.

تشريح: دويم بحث: ختم په سکون د تاء له باب ضرب يضرب څخه د ماضي صيغه ده په معنا د ضرب الخاتم على الشئ په يو شي باندې مهر لګول او له ختم سره کتم (پټول) لازم دی علامه زمخشري فرمايي چې ختم او کتم اخوان دي ځکه دواړه په اشتقاق کبير کې سره شريک دي يعنې اکثرو الفاظو کې سره شريک دي لکه تاء او ميم کې او په دواړو کې فی الجمله تناسب هم دی نو د ختم خپله معنی کتم نه ده بلکه له ختم سره کتم لازم دی په کوم مکتوب چې ختم (مهر) ولګول شي د هغې مضمون هم محفوظ شي له خلاصولو او کتلو د غير نه او بلوغ په استيثاق باندې عطف دی.

تفسيربيضاوي:(وَالغِشاوَة فَعالَة مِن غشاةِ اذَا غَطَاهُ بنيت لمَا يَشمِل على الشَّئ كَالعصابَة والعمامة ولَاختم ولَاتغشية على الحَقِيقة وانّما المُرادُ بِهما اَن يَحدثَ فى نُفوسِهم هَيئَة تَمرنِهم على اِستحبابِ الكفْر والمَعاصِى واسْتقْباح الايمَان والطَّاعات بِسبب غَيهِم وانْهماكهِم فى التَّقليد واعْراضِهم عن النَّظر الصَّحيح)

ترجمه: و غشاوة فعالة وزن دی مأخوذ دی له غشاة څخه چې کله يو شی په پرده کې پټ شي او دا فعالة وزن بنا کړی شوي دی په هغه شي چې هغه په بل شي مشتمل کيږي (دغه مشتمل شي ته فعالة وزن استعماليږي) لکه عصابة پټی ته وائي چې زخم پرې پټ کړی شي يا سر غوړ کړی شي يا يوه ټوټه ترينه تاو کړی شي او پټکي ته هم عمامه وائي ځکه په سر مشتمل وي او ختم حقيقتًا مهر او پټوالی نه دی بلکې له غشاوة او ختم نه د کفارو په نفوسو کې دا سې هيئة پيدا کول مراد دی چې هغه عادت د دوی دی په ښوخولو د کفر او ګناهونو او په بد ګڼلو د ايمان او طاعاتو دا په سبب د زياتې ګمراهی د دوئ او يا زيات بوخت کيدل د دوئ په تقليد د اباؤو او اجدادو د دوئ کې او په سبب د نظر صحيح نه اعراض کولو سره.

تشريح: له غشاوة څخه معنوي پردې مراد دي او تمرّن عادت ته وائي.

تفسيربيضاوي:(فَتجعَل قُلوبهُم بِحيثُ لايَنفَذ فيهَا الحقُ و اسماعهم تَعاف استِماعه فتصِيرُ كانّهَا مُستوثِقٌ منْها بالخَتمِ وَ أبصارِهم لَاتجتلى الآياتِ المَنصوبَة لهُ فى الأنفس والأفاقِ كمَا تجتليها أَعين المُتبَصرِين فتصير كأنّها غطى عليها وحيل بينها وبين الابصارِ وسماه على الاستعارة حتمًا وتغشية)

ترجمه: دا هیئت د دوئ زړونه په داسې حیثیت سره ګرځوي چې حق پکې نه داخلیږي او غوږونه ئې د حق اوریدلو نه نفرت کوي نو اوګرځي زړونه د دوئ لکه د حق نه چې په مهر سره بند کړی شوي وي او دا هیئت د دوئ سترګې داسې ګرځوي چې هغه نښې د قدرت نه ویني کومې چې د دوئ په نفسونو اوکنارو د غضاکې قایمې شوي دي لکه څنګه چې دا نښې د قدرت سترګې دبنا خلکو ویني نو داسې شي ګویا که په دې پردې پرتې دي اوګویا حائل واقع شوی وي په منځ دسترګو او په دید د سترګو کې او دا هیئت د تمرّن الله جلّ جلاله په نوم د ختم اوتغشیه سره نو مولی (نوم کیښودلی) په طریقې د استعارې سره.

تشریح: اوس مصنف رحمه الله فتجعل سره د دې ختم اوغشاوة اثر په بدن کې بیانوي ابصارهم په قلوب عطف دی او د فتجعل لاندې داخل دي.

سماه کې ضمیر مستتر لفظ د الله جلّ جلاله ته راجع او (ه) ضمیر احداث ته راجع دی (یحدث په عبارت ماقبل کې) اوس په دې بره ځان پوهه کړه چې په ختم الله علی قلوبهم علی سمعهم کې استعاره تبعیة ده هغه داسې چې کفارو د ګمراهي په وجه چې کفر او ګناهونه یې ښوخول او ایمان او طاعات یې بد ګڼل نو الله تعالی د دوی په زړونو، غوږونو او سترګو کې یو داسې هیئة پیدا کړو چې دوی په کفر کې پاتې کېدلو ته تیاروي او له ایمان څخه یې نفرت پیدا کوي، دې هیئة پیدا کولو سره ختم مصدر سره تشبیه ورکړی شوه بیا د دې تشبیه په ذریعه د ختم مشتقي لفظ د خَتَمَ لره په مشبه کې استعمال کړی شو او وجه د تشبیه یې منع الفوز ده یعنې لکه څنګه چې ختم (مهر) مضمون له تصرف د غیر نه منع کوي دغه شان دا هیئة هم د حق اواز لره د اورېدولو نه منع کوي داسې شو ګویا چې په سترګو او غوږونو یې مهر ووهلی شو.

او په علی ابصارهم غشاوة کې استعاره اصلیة ده هغه په دې طریقې سره چې هغه هیئة کوم چې دا خلک د توحید او رسالت له لویو لویو نښو لیدلو نه منع کوي تشبیه ورکړې هغې پردې سره چې د لیدونکي شعاع نوري منع کوي د یوشي د لیدلو نه وجه د شبه دلته هم منع عن الفوز ده لکه

ځنګه چې پرده د انسان د سترګو شعاع منع کوي د غسې دا هیئت محدثه هم د کفارو شعاع بصري قراني ایتونو نه منع کوي.

تفسیربیضاوي:(أومثل قُلوبهم ومَشاعِرهم المَؤوفة بِها باشياء ضُرِب حجَاب بينَها وبين الاستنفاع بها حتمًا وتَغطية وقد عُبّر عن احداث هذه الهيئة بالطبع فى قوله تعالى(اُولٰئِک الَّذِيْنَ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَى قُلُوْبِهِمْ وَسَمْعِهِمْ وَاَبْصَارِهِمْ [۱]) وبالاغفال فى قوله تعالى (وَلَاتُطِعْ مَنْ اَغْفَلْنَا قَلْبَهُ عَنْ ذِكْرِنَا [۲]) بالاقسام فى قوله تعالى (وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قَاسِيَةً [۳]))

ترجمه: او یا الله جلّ جلاله د دوئ دزړونو او افت رسېده اندامونو تمثیل کړی له هغو ګنو اشیاؤو سره چې په منځ د دغو اشیاؤو او په منفعت د دغو اشیاؤو کې یوه پرده لګیدلي وي په طریقي دختم او تغطي سره کله ددغه احداث دهیئت دعادت دسیئاتو نه په طبع سره تعبیر کیږي په دې قول دالله جلّ جلاله کې.

(ترجمه) داهغه خلک دي چې ددوئ په زړونو، په غوږونو، اوسترګو، الله جلّ جلاله مهر لګولی دې اوهمدغه شان ددغه احداث دهیئت دعادت نه اغفال سره هم تعبیرکیږي په دې قول دالله تعالی کې"(ترجمه) ته دهغه چامه تابع کیږه چې دهغوئ زړونه مونږ دخپل یاد نه غافل کړی دي اوهمدغه شان ددغه احداث هیئت دعادت نه په اقساء سره هم تعبیرکیږي په دې قول دالله جلّ جلاله کې (ترجمه) اومونږ ددوئ زړونه سخت ګرځولي وو.

تشریح: دلته په طریقي داستعارې تمثیلي بیان کوي استعاره تمثیلیه دیته وائي چې وجه دشبه پکې متعدده وي لکه دغرمې په وخت کې چې لمرته ګورې داسې ږقیږي لکه آئینه نو ته وائې الشمس کالمِرآة فی ید الاشل لکه آئینه په لاس دهغه چاکې چې فالج وهلی وي.

حاصل د استعارې تمثیلي دا دی چې د کفارو هغه زړونه چې دحق ادراک نشي کولی او د دوی هغه غوږونه چې د حق اوریدلو او هغه نظرونه چې د قدرت د نښانو دلیدلو لپاره جوړ شوي و لکن هیئت

---

(۱) سورة النحل : آية (۱۰۸)

(۲):- سورة الكهف : آية (۲۸)

(۳):- سورة المائدة : آية (۱۳)

محدثه د هغوى له لپاره له دې څخه مانع شو نو د داسې شيانو سره يې تشبيه ورکړه چې د څه فايدې لپاره جوړ شوي وي خو په مهر لګولو او پردې لګولو سره له هغو فايدو مانع وګرځي وجه د شبه يې عدم الانتفاع من المعد للانتفاع لمانع الانتفاع ده يعنې کوم شی چې د نفع لپاره جوړ وي د څه مانع له وجه له هغې نه نفع حاصليدل منتزع دي په څو کارونو سره له دې وجهې دا تشبيه تمثيل او ګرځولی شوه او هغه متعدد شيان چې منتفعه او مانع الانتفاع او عدم الانتفاع په دې دريو وجو شبه منتزع کړی شوی ده.

وقد عُبّر عن احداث هذه الهيئة بالطبع .الخ په دې سره اشاره کوي دې خبرې ته چې لکه څنګه چې په احداث د هيئت باندې د ختم او غشاوة اطلاق په طريقې د تمثيل شوی د غه شان دې هيئت په بل ايت کې پرې اطلاق د نورو الفاظو هم شوي لکه طبع اغفال او قاسيه.

تفسيربيضاوي:(وهِيَ من حيث أن المْكنات بِاسرهَا مُستنِدة الى الله تعالى وَاقعةٌ بقُدرتهِ اسندت اليه ومِن حيث انّها مُسببه ممّا اقْتَرفوه بدليل قوله تعالى (بَلْ طَبَعَ اللّهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ [1]) وقوله تعالى (ذَلِک بِأَنَّهُمْ آمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا فَطَبَعَ عَلَى قُلُوْبِهِمْ [2])وردتْ الآية ناعية عليهم شناعة صفتِهم و وخَامةِ عاقِبتهم)

ترجمه: او دا هيئت په دې حيثيته چې د ټولو ممکناتو نسبت الله جلّ جلاله ته (د جعل) کيږي او په قدرت د الله جلّ جلاله سره واقع کيږي نسبت ئې الله جلّ جلاله ته او شو او په دې حيثيت چې دا هيئت د دوی د ګناهونو په وجه دی په دليل د دې قول دالله تعالی (ترجمه) بلکه الله تعالی د دوئ په زړونو مهر لګولی په سبب د کفر د دوئ او دا قول د الله تعالی (ترجمه) دا په دې سبب چې دې کافرانو ايمان راوړی وو بيا کافران شوه نو په زړونو د دوئ الله تعالی مهر ولګولو دا آيت دوئ لره خبرونکی دی د شناعت د صفت د دوئ او د خام کيدلو او د بدبخته کيدلو د انجام د دوئ.

تشريح: دلته قاضي صيب د يو اعتراض دفعه کوي هغه دا چې :

---

(۱):- سورة النساء آية (۱۵۵)

(۲):- سورة المنافقون : آية (۳)

خلق او کسب د تبیح

سوال: اسناد د ختم ا تغشية تاسو الله تعالی ته حقیقتاً منلی او حال داچې اسناد الی الله مجازاً دي ځکه الله تعالی په ختم او غشاوة کې د کافرانو مذمت بیان کړی او په ولهم عذاب عظیم کې د کافرانو بد انجام دی نو که اسناد حقیقي شي الله تعالی به محدث او پیدا کونکی د ختم او تغشية شي او دا به افعال د الله تعالی شي او د سړی مذمت د هغه په فعل سره وي نه د بل چا په فعل سره نو د کافرانو مذمت به هغه وخت وای چې دا ختم او تغشية افعال د دوی وای او بل دا چې دلته خو بیا نسبت د قبحې الله تعالی ته کیږي ؟

جواب: یو کسب د شي دی او بل خلق د شي دی خلق د قبیح قبیح نه وي بلکې کسب د قبیح قبیح وي نو الله تعالی خالق د ټولو ممکناتو دي او اسناد د ممکناتو هم الله تعالی ته حقیقتاً کیږي په ختم او تغشية کې د مذمت اسناد کافرانو ته ځکه شوی چې دوی کسب د قبحې کړی چې کفر دی.

تفسیربیضاوي:(و اضطَربتِ المُعتزلة فيه فَذكرُوا وجوهًا من التأويل).

ترجمه: او دغه نسبت معتزله په اضطراب کې غورځیدلي دي نو اقسام دګنو تأویلاتو ئې ذکر کړي.

تشریح: و اضطربت المعتزلة کې دوه نسخې دي یو اضطرب دی بل اضطربت دی چې اضطربت شي نو دا فعل دی فاعل ئې مؤنث دی اوچې اضطرب مذکر شي نو بیا ضمیر د اضطرب اسناد ته راجع دي نومعنی بهداشي چې معتزله دې اسناد د (ختم الله) مضطرب کړي دي ځکه چې دقبح اسناد الله جلّ جلاله ته نه کیږي او دلته شوی دی نو په دې ځای کې معتزله وو اوه (۷) تأویلات ذکر کړي دي په حقیقت کې اهل سنت مجاز نه مني نومعتزله ګڼي مجازي معانې په دې آیت کې اخلي چې نسبت د قبح الله تعالی ته ونشي دلته په دغه تفصیل دآیت کې دِاهل سنت څخه معتزله وو خلاف کړی دی.

(د اهل سنت او معتزله وو اختلاف)

د معتزله وو مذهب دا دی چې اصلح د عبادو په الله جلّ جلاله واجب دي او ختم القلب خو اصلح نه دې نو تأویلات بعیده ئې کړي دي الله جلّ جلاله خالق د ختم دی د دوئ په زړونو باندې او بل مذهب ئې دا دی چې نسبت د قبائحو الله جلّ جلاله ته نه کیږي.

جبریه قدریه معتزله او خوارج وغیره د ډیر احتیاط له وجې بې لارې شوي دي حتی چې کفر ته رسیدلي دي دوئ د خلق د قبائحونه په حق د الله تعالی کې منکردي یعنې خالق د قبائحو الله تعالی نه مني د دې مسائلو بنیاد په یو اهمه قاعده باندې بنا دی.

قاعده: افعال شرعیه حسن او قبیح کیدل د علم کلام قاعده ده اول دا چې افعال شرعیه په دوه قسمه دي حسن او قبیح د حسن او قبح خالق څوک دی مدرک ئې څوک دی حاکم ئې څوک دی ؟

په دې باب کې دوه مذهبه دي یو مذهب د اشعریه وو دی بل مذهب د ماتریدیه او معتزله وو دی.

د ماتریدیه اصطلاح: متکلمین د مذهب حنفي په ماتریدیه سره یادیږي ځکه احناف په تشریح د عقائدو کې امام ابو منصور ماتریدي رحمه الله پسې راوان دي.

ابو الحسن اشعري رحمه الله ویلي دي : چې حاکم په حسن او قبیح افعالو شرعیه کې شرع ده یعنې شریعت چې کوم فعل ته حسن وویل هغه به حسن وي او کوم فعل ته ئې چې قبیح وویل هغه به قبیح وي له دې سره د عقل هیڅ تعلق نشته.

ماتریدیه او معتزله وائي: چې په حسن د بعض افعال شرعیه وو او په قبح د بعض افعال شرعیه وو حاکم عقل دی بیا د معتزله او ماتریدیه په مینځ کې اختلاف دی [1].

---

(۱):- یعنې کوم فعل ته چې عقل حسن وویل هغه حسن وي او کوم فعل ته ئې چې قبح وویل هغه به قبیح وي ابن الشهید ۱۲.

مابه الاتحاد او مابه الامتیاز په مابین د ماتریدیه او معتزله کې

مابه الاتحاد: دا دی چې دواړه فرقې داخبره کوي د بعض افعالو شرعیه وو په حسن او قبح باندې عقل حاکم دی.

مابه الامتیاز: ماتریدیه وائې چې مدرک او حاکم د حسن او قبح د افعال شرعیه و عقل دی خو بعد له ورود د شرع نه یعنې ترڅو چې شریعت وارد شوی نه وي عقل حاکم او مدرک نشې کیدلی.

معتزله وائې چې د ورود د شرع نه بغیر هم عقل په هر حال کې حاکم دی داحاکمیت د عقل ترشرع پورې موقوف نه دی دا توقف او عدم توقف مابه الامتیاز دی دا اختلاف اصلًا په یو سوال باندې بناء دی هغه دا چې.

سوال: خالق د افعال حسنه وو او سیئه وو څوک دی؟

دا اختلاف بیایوازې د ماتریدیه او معتزله په مابین کې نه دی بلکه د ټول اهل السنت والجماعة سره دی.

اهل سنت والجماعة: وائې چې خالق د حسناتو او قبائحو ټولو یوازې الله تعالی دی.

معتزله: وائې چې خالق د قبائحو عبد (بنده) په خپله دی ځکه نسبت د قبح الله تعالی ته نه کیږي او حال داچې دا خبره کول خو شرک دی هغه داسې چې دوئ وائې چې خلق د قبیح قبیح دی او الله جل جلاله قبیح عمل څخه منزه دی او تاسو په مشکوة کې وویل چې (القدیة مجوس هذه الامّة [1]) مجوسو به هم داسې ویل چې خالق د خیر یزدان او خالق د شر اهرمن دی نو حدیث کې قدریه و ته د مجوسو نسبت شوی دی هغوئ دوه خالقان مني او معتزله بې شماره خالقین مني.

اهل السنت والجماعة: اهل سنت والجماعة وائې چې یو خلق دی او بل کسب دی خلق د قبیح قبیح نه وي بلکه کسب د قبیح قبیح وي لکه جوړول د توپک قبیح نه دي بلکه دا کمال دی خو د دې استعمال (کسب) بې ځای قبیح دی.

---

(۱) سنن أبي داود (٤/ ٢٢٢) رقم الحديث ٤٦٩١-

- حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي بِمِنًى، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الْقَدَرِيَّةُ مَجُوسُ هَذِهِ الْأُمَّةِ: إِنْ مَرِضُوا فَلَا تَعُودُوهُمْ، وَإِنْ مَاتُوا فَلَا تَشْهَدُوهُمْ

تفسيربيضاوي:(الأَول انّ القوم لما اعْراضوا عن الحقِّ وتمَكن ذلک فى قلوبهم حتَّى صار كالطِبيعة لهم شبه بالوصف الخلقى والمجبول عليه)

ترجمه: اول تأويل دا دى چې دغه قوم (كفارو) كله اعراض له حق نه اوكړو او دا اعراض د دوئ په زړونو كې ثابت شوى تردې چې دا اعراض د دوئ د طبعيت په منزله او ګرځيد نو الله تعالى دا اعراض د وصف خلقي (ختم القلب) سره مشابه كړ چې دغه وصف سره دوئ پيدا پيدا شوى دى.

تشريح: معتزله چې هرتأويل ذكر كوي د الله جلّ جلاله د طرف نه به يكې د تخليق ذكر نه كوي خلاصه د اول تأويل دا چې مختوم القلوب خلک په ګناهونو كې ډير منهمک شوي دي چې اعراض عن الحق ئې په زړونو كې ځاى نيولى د ختم القلب او اعراض په مايين كې يوه علاقه ده ختم القلب ملزوم او تمكن الاعراض ورسره لازم دى دا علاقه دلازم او ملزوم وه پكار ده چې ويلي ئې وائې چې تمكن الاعراض فى قلوبهم ليكن هركله چې په دواړو كې نسبت د لزوم وو نو لفظ د ختم ئې استعاره د تمكن لپاره راوړى شو حقيقت كې تمكن الاعراض مشبه او ختم القلب مشبه به دى ترجمه د ختم الله به داسې نه كوې چې الله تعالى مهر د دوئ په زړونو لګولى دى بلكې ذكر د ملزوم مراد ترينه لازم دى مطلب اعراض د دوئ په زړونو كې ځاى نيولى دى د تمكن نسبت به هم الله جلّ جلاله ته نه كوې لكه په اعبدوا ربّكم كې اهل سنت والجماعة وائې چې ذكر د ملزوم يعنې اعبدوا او مراد ترينه لازم دى چې وحّدوا ربكم دى.

تفسيربيضاوي:(الثانى انّ المرادَ به تَمثيل حال قُلوبهم بقلوب البَهائِمِ الّتى خَلقها الله تعالى خالِية عن الفطين اوقلوب مقدر ختم الله عليها ونَظيرهُ سال به الوادى اذَا هلک وطَارت به العنْقاء اذا طَالت غيبَته)

ترجمه: دويم تأويل دا چې ختم الله كې مراد تمثيل د حال د زړونو د دوئ دى له زړونو د ځناور سره چې هغه الله تعالى د زيركتيانه خالي پيدا كړى دي اويا زړونه مقدر چې په هغې باندې مهر لګولى وي د دې مثال راسې دى (وبهيد په هغه باندې وادي) كله چې هلاک شي او په (فلاني باندې عنقاء پرواز كړيدى) چې كله د دغه فلاني غائب كيدل اوږده شي.

تشريح: دا د معتزله و يديم تأويل دى هغه داسې كه استعاره هم وي نو دا تمثيل دى اوتمثيل حقيقي دى قلوب د دوئ مشبه شو اوقلوب د بهائمو مشبه به شو اولفظ د ختم مستعار شو نو د ختم الله معنى خلو عن الفطانة(زيركتيا) ده نو دا لفظ دختم د قلوب الكفار لپاره استعاره شوه نو د ختم الله معنىٰ دا شوه د دوئ زړونه له فطانة نه خالي دي لكه د بهائمو دزړونه چې خالي وي بلكه داخو دبهائمو نه هم ښكته دي نو د تخليق نثبت الله تعالى ته ونشو.

او قلوب مقدر: سره ئې يوبل تأويل هم ذكركړى دى چې ختم په خپله معنى بناء شي صرف تشبه مراد شي دا تمثيل دى او تمثيل په دوه قسمه دى (۱) تمثيل حقيقي او (۲) تمثيل تخييلي كه مشبه به محقق الوقوع وي ديته حقيقي وايي او كه مشبه به فرض الوقوع وه دا تخييلي ده په دې ايت كې دواړه تمثيله كيدلى شي هغه داسې چې د كفارو معهودينو اعراض عن الحق كې چې كوم حال وي د هغه حال تشبيه يې د څناورو له حال سره وركړه چې كوم خالي عن الفطانة دي او د څناورو زړونه خالي عن الفطانة كيدل امر محقق دى نو دا تمثيل حقيقي شو او تمثيل تخييلي په دې طريقې سره شو چې د كفارو اعراض عن الحق له هغه زړونو سره تشبيه وركړى شوه چې د هغې په باره كې مختوم كيدل فرض كړى شوي دى بيا په طور د استعاره تمثيليه چې كومه جمله په مشبه به دلالت كولو هغه د مشبه لپاره استعمال كړه او ښكاره خبره ده چې په دې صورت كې مشبه (دزړونو مختوم ګيدل) مفروض دي نو دا تمثيل تخييلي شو.

ونظيره سال به الوادى: په دې عبارت سره مقصود دمصنف رحمه الله د اولني (تمثيل حقيقي) لپاره مثال بيانول دي يو سړى ناڅاپه مړشو يامرض كې مړشو نو څوك درنه پوښتنه وكړي چې هغه فلاني څنګه دى نوته ووائې چې سال به الوادى سيلاب د وادې وړى ده مطلب هلاک شو ذكر د سال به الوادى او مراد هَلَک دى مراد د سيلاب نه يو لوى سيلاب دي چې هرڅه ئې هلاكوي نو سړى د هلاكت نه نه بچ كيږي سيلان دوادې سره هلاكت لازم دى ذكر دسال به الاوادى (ملزوم) او مراد هلاكت كوم چې ورسره لازم دى دا علاقه لزوم ده نوپه آيت كې هم ذكر دختم مراد ورنه فطانة خالي كيدل دي يعنې دلته د

هلاکیدونکي سړي تشبه ورکړی شوه له داسې سړي سره چې د وادي او سیلاب اوبو ډوب کړی وي دا تمثیل حقیقي ځکه دی چې د سیلان الوادي په وجه هلاکت غالب الوقوع دی متحقق دی.

وطارت به العنقاء دا د تمثیل تخییلي مثال دی لکه په فلاني سړي عنقاء مرغه الوتی دی.

عنقاء: دا یو داسې مرغه وو چې انسان به ئې په پنجوکې وړل او دې ته عنقاء ځکه وائې د مرۍ سره ئې توره او سپینه پټه وه د کلبي د روایت په اساس دا په مقام رس کې و د دغې قبیلې پیغمبر حنظله بن صفوان علیه السلام و دلته د رمخ په نوم یو غرو دا عنقا به هلته په ځنګل کې څریده چې نور مرغان به پیدا نشو بیا به د کلي خواته لاړ چې څوک به کلی نه راووتل نو دا به وربسې والوت په پنجوکې به ئې واخست او اوبه ئې خوړلو بیا به ډیر وخت پورې دغه کلي ته نه راته چې کله به وږی شو بیا به راغی یو ځل دا مرغه د کلي په خواکې ناست وو چې یوه جینۍ د کلي نه راووتله دې مرغه دغه جینۍ په خپلو پنجوکې اوچته کړه اوله ځان سره ئې وي وړه نو د کلي خلک پرې ډیر زیات خفه شول ټول خلک حضرت حنظله بن صفوان (عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ) ته راغلل چې ښیرا وکړه چې الله تعالی دا مرغه ورک کړي نو حضرت حنظله (عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ) ښیرا وکړې هغه مرغه الله جلّ جلاله ورک کړو اونسل ئې هم الله جلّ جلاله ورک کړ په دې مقام کې د دې مطلب دا دی چې یو سړی ډیر وخت نه غائب شي نو د ده په حق کې وویلی شي چې طارت به العنقاء دلته د سړي د زیات غایب والي تشبیه ورکړی شوه د هغه سړي د حال سره کوم کوم چې مارغانو تختولی وي او عنقاء یو مروض مرغه دی نو مشبه به مفروض الوقوع شوه نو ځکه تمثیل تخییلي دی.

تفسیربیضاوي:(والثالث أن ذلک فی الحقیقة فعل الشّیطان او الکافر لکن لما کانَ صدوره عَنه باقداره تعالی ایاه اسنادالیه اسنادالفعل الی المسبب).

ترجمه: دریم دا چې په حقیقت کې دا ختم القلب فعل د شیطان یا د کافر دی لیکن هرکله چې د دې صُدور د کافر نه د الله تعالی په قدرت ورکولو سره وو نو نسبت د فعل شوی دی الله جلّ جلاله ته په شان د نسبت د فعل مسبب ته.

تشریح: دا دریم تاویل ذکر کوي هغه داسې چې معتزله اهل السنة ته وایي چې موږ به ستاسو بیان کړی شوې معنی (احداث) اومنو لکن د دې نسیب الله تعالی ته حقیقتاً نه دی بلکې

مجاز عقلي دی په دې طريقې چې د فعل ختم اسناد ، اسناد السبب الی المسبب دی هغه داسې چې احداث الهیئت حقیقت کې فعل د شیطان یا د کافر دی خو د الله تعالی د قدرت ورکولو په وجه ترینه صادر شوی دی نو قدرت دصدور فعل سبب دی ګویا الله تعالی د احداث هیئت مسبب یعنې داسبابو ورکونکی شو؛ نو مجازا د فعل ختم نسبت الله تعالی ته وشو لکه بنی الامیر المدینة امیر ښار جوړ کړ دا حکم د امیر سبب وو امیر ئې مسبب دی.

تفسیربیضاوي:(وَالرَّابع اِعراقهم لما رسخَت فی الکُفر وَ استَحکمتْ بحیْث لمْ یبْق طَریق الیٰ تَحصیل ایمانِهم سِوی الالجَاء والقَسر ثمّ لم یقسره ابقَاء عَلی غَرض التَّکلیف عَبَّر عن تَرکه فانّه سدّ لا یمَانهم وفِیه اشعارٌ علی تَمادی أَمرهم فی الغی وتنَاهی انْهماکهم فی الضّلال والبَغی)

ترجمه: څلورم تاویل دا هرکله چې دکفارو په رګونو کې کفر داسې سخت مظبوط شوي وو چې ددوئ لپاره دایمان دحاصلولو لاره باقي نه وه سواه د مجبورولو او زبردستۍ نه بیا الله تعالی په دوئ باندې جبر اونه کړو د غرض د تکلیف د باقي ساتلو لپاره الله جلّ جلاله دترک د قسر(جبر) نه په ختم سره تعبیر کړی شوی دی نو یقینًا دا ترک د قسر د دوئ لپاره دایمان نه بندیز دی په دې مذکوره مضمون کې تنبیه ده په تباعد د دوئ په ګمراهۍ کې او انتهائي وړاندې په ګمراهۍ اوسرکشۍ کې تللې وو (نو څکه ئې سوا دمجبورولو نه بله لاره نه وه).

تشریح: دا څلورم تاویل دی حاصل یې دا دی چې په دې ایت کې استعاره تبعیه ده هغه داسط چې کله د کفارو معهودینو په زړه کې کفر داسې سخت او مظبوط شو چې د ایمان راوړلو هیڅ لاره یې نه وه ماسوا د الله تعالی دقدرت نه چې دا خلک په ایمان راوړلو مجبور کړي لکن بیا هم الله تعالی مجبور نه کړل نو ګویا الله تعالی قسر الجاء جبر لره ترک کړو دې ترک جبر لره یط تشبیه ورکړه د مصدر ختم سره بیاپه طریقې د استعارې تبعیې د مشبه به مصدر ختم نه خَتمَ فعل ماضي مشتق کولو سره په مشبه کې یې استعمال کړو وجه د شبه داده لکه څنکه چې ختم سد باب وي د نورو لپاره یعنې د خط مضمون له نورو خلکو منع کوي دغسې د الله تعالی ترک د جبر د دوی باره کې په حق د ایمان کې سد دباب دی.

اعراق جمع دعرق دی رګ ته وائي. دې توجيه کې هم دقبح نسبت الله تعالی ته و نشو.

تفسيربيضاوي:(و الخَامس أن يكونَ حِكاية لمَا كَانت الكَفَرَةُ يقولون مثل (قُلُوْبُنَا فِي اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَا اِلَيْهِ وَفِي اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنَک حِجَابٌ [١]) تهكما واستهزاء بِهم وكقوله تعالى (لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا[٢])

ترجمه: پنځمه توجيه داچې دا حکايت دهغې خبرې دی چې کافرانو به ويل (ترجمه) چې زمونږ زړونه د هغه دعوت نه چې مونږ له ئې راکوې په پردو کې دي او زمونږ په غوږونو کې دروندوالی دی او په مابين زمونږ او ستاکې حجاب دی دا تهکم او استهزاء ده دوی پورې يا لکه دا قول دالله جلّ جلاله (داهم دکافرانو دقول حکايت دی) (ترجمه) نه دي کافران دکفر نه جداکيدونکي تردې چې دوئ ته يو رسول راشي.

تشريح: د پنځم تاويل حاصل دادی چې په ايت کې ختم په خپله معنی حقيقي يا مجازي ده کومه چې اهل السنة بيان کړې ده او اسنادالی الله هم حقيقت دی لکن د کفارو د ګمان په اعتبار چې هغوی به ويل زړونه زمونږ په پرده په غوږونو کې مو پردې دي په دې وجه مونږ د حق ادراک نشو کولی او دلايل په نظر نه راځي او داعقيده به يې په الفاظو بيانوله (قُلُوْبُنَا فِي اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَا اِلَيْهِ وَفِي اٰذَانِنَا وَقْرٌ وَّمِنْ بَيْنِنَا وَبَيْنَک حِجَابٌ) او زموږ او محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) تر منځه حجاب ده يعني د هغه معجزات نه وينو نو د کفارو دا اقوال الله تعالی په ختم الله سره ذکر کړل.

اوس دا خبره چې دا نقل بالفظ دی که بالمعنی دی؟ بالفظ خو ممکن دی ځکه کيداشي الله تعالی دخپل بنده په ژبه هغه الفاظ جاري کړي کوم الفاظ يې چې په خپل کلام کې داخل کړي وي لکن د ټولو مفسرينو په اجماع دلته نقل بالمعنی دی (ختم الله على قلوبهم) دهغوی د (قلوبنا فی اكنة) معنا ده د (وعلى سمعهم) د هغوی د دې قول (في اذاننا وقر) معنی ده،او (وعلى ابصارهم غشاوة) د هغوی د (ومن بيننا وبينک حجاب) معنا ده او بل دا د کفارو له ظاهر البطلان

---

(١):-سورة حم السجدة :آية (٥)

(٢):- سورة الليّنة : آية (١)

اقوالو پورې استهزاء ده کې دي دا خو الله تعالى حکايت کړى دى او د قبائحو د دوئ د قول بيان دى نو ختم کې مجاز نشته الله تعالى د دوئ د قول استهزاء کړيده.

قاعده: په حتى کې قاعده داده چې د حتى مابعد به د ماقبل نه مغيروي يعنې که ماقبل له حتى نه حکم ثبوتي و مابعد به سلبي وي نو دلته له حتى نه مخکې حکم سلبي ده چې عدم انفکاک د کفارو ده له کفر نه نو پکار خو داوه چې روسته له حتى څخه حکم ثبوتي واى يعنې کافران د کفر نه جدا شوى وائې يعنې په دې ايت کې (لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا حتى ...) د دوى د عدم انفکاک اية د رسولانو راتګ و نو چې رسولان راغله نو دوى بايد له کفر څخه منفک شوي واى جواب دادى چې دا معنى حکايت ده او تفسير خازن او تفسير روح المعاني د دې لفظ معنى کړيده (لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا) اى منفكين احد تردي چې دوئ ته بينه راشي چې بينه راغله بعض ترينه منفک شول له کفر نه دلته حکم په کل افرادو نه دى بلکه جمله کافران مراد دي ځکه چې څه خلکو پکې ايمان راوړى.

تفسير بيضاوي: (السَّادسُ انّ ذلک فى الآخرة وانّما اخْبرعنه بالماضِى لتَحققهِ وتَيقُّن وقوعِه ويشهَدلهُ قوله تعالى (وَنَحْشُرهم يوم القيامة على وُجُوْهِهِمْ عُمْيًا وَّبُكْمًا وصُمًّا[1])

ترجمه: شپږمه توجيه دا چې دا (ختم الله) به په آخرت کې وي او په ماضي سره ئې ترينه تعبير لپاره تيقن او تحقق د وقوع کړى دى او په دې دا قول د الله تعالى ګواه دى (ترجمه) او راجمع به کړو مونږ دوئ لره يعنې کافرانو لره په ورځ د قيامت په مخونو باندې (مزل به په مخونو کوي) په داسې حال کې چې ړانده او ګونګيان او کاڼه به وي.

تشريح: د معتزله و اوم تاويل او توجيه په دې توجيه سره دا له امر اخروي نه حکايت دى.

اى سيختم الله على قلوبهم زرده چې په آخرت کې به الله جلّ جلاله د دوئ په زړونو او غوږونو مهر ولګوي دلته هم نسبت دقبيح الله جلّ جلاله ته ونشو ځکه اخرت دار التکليف نه دى هغه دار الجزا ده او ظالم ته سزا ورکول عين عدل دى.

(۱):- سورة الاسرآء: آية (۹۷)

سوال: کله ختم په تخرت کې نو بیا دې صیغې د ماضي سره تعبیر ترینه ولې وکړو د استقبال صیغه به دې استعمال کړې وه ؟

جواب: ختم او تغشیة په اخرت کې متحقق او متیقن الوقوع و نو د دغه تحقق او تیقن له وجې مو د امر غیر واقع له امر واقع سره تشبیه ورکړه لفظ د ماضي د مشبه به لپاره استعمالیده نو مشبه لپاره استعمال شو.

تفسیربیضاوی:(السَّابع ان المُراد بالخَتم وَسْم قلوبِهم بِسمة تعرفها الملائكة فيبغَضونَهم ويتَنَفَّرون عنْهم وعلى هذا المِنهاج كلامُنا وكلامهم فيما يضاف الى الله تعالى مَن طبع واضلالٍ ونحوهما)

ترجمه: اوومه توجیه دا دی چې د ختم نه مراد نشان دی چې الله تعالی د دوئ زړونه ملائکو ته نشاندار کړي دي نو ملائکې بیا له دوئ سره بغض کوي او له دوئ څخه نفرت کوي او په هر هغه صفت کې چې الله جلّ جلاله ته دهغو شیانو نسبت اوشي په همدغې سره زمونږ (اهل السنت والجماعة) او د هغوئ (معتزله وو) خبرې دي د صفت د طبع او ضلال او د دې په شان نورو صفاتو کې.

تشریح: د معتزله و اوم تاویل دا دی چې ختم نه مراد د کفارو په زړونو باندې لایؤمنون لیکلو سره د عدم ایمان علامه قایمول دي او علامه د شي علت دشي نه وي نو علامه د عدم ایمان به علت د عدم ایمان نه وي هر کله چې علت دعدم ایمان نه شو نو مانع هم د ایمان هم نشو نو د علامې لږولو سره منع د ایمانه هم ثابته نشوه له دې سره الله تعالی طرفته د قبح نسبت هم لازم نشو.

(وعلى هذا المِنهاج كلامُنا وكلامهم) دې عبارت سره قاضي صیب یوه قاعده بیانوي هغه دا چې هر کله الله تعالی طرفته د طبع (مهر لګولو) او یا اضلال نسبت اوشي نو هلته به د اهل السنة او معتزله و ترمینځ هم دغه بحث وي یعنې موږ الله تعالی د خالق کیدو په حیثیت سره مسند الیه حقیقي منو او معتزله یې مجازي مني او به پکې تایل کوي.

تفسيربيضاوى:(وَعَلَى سَمْعِهِمْ) معطوفٌ على قلوبهمْ لقوله تعالى (وَخَتَمَ عَلَى سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ ﴿۱﴾) وللوفَاق على الوَقف عَليه ولانّهما لما اشتركَا فى الادْراک مِن جميع الجَوانب جعَل مَايمنَعها من خاص فِعلهمَا الختمُ الذى يَمنع من جميع الجهات)

ترجمه: دا على سمعهم په على قلوبهم ور عطف دى له وجې د دې قول دالله تعالى نه (ترجمه) او الله تعالى په غوږونو او په زړونو باندې مهر لګولى دى او په وقف د سمعهم باندې د قرآءوو اتفاق دى او بل دا څکه چې قلب او سمع د ټولو جوانبونه په ادراک کې سره شريک دي نو د خاص طورسره دى د دې د دې تصروف نه مانع جوړيدونکى هم ختم کيدلى شي چې د ټولو طرفونو نه تصرف بندوي.

تشريح: **دريم بحث** : على سمعهم کې دعطف په اعتبار سره دوه احتماله دي اول دا چې دا معطوف او وعلى قلوبهم معطوف عليه په دې صورت کې به دا د ختم الله جمله فعلي متعلق شي دويم احتمال دا چې وعلى سمعهم خپله معطوف عليه شي او وعلى ابصارهم معطوف شي او د عشاوة لپاره خبر مقدم شي د عشاوة د نکارة له وجې د خبر مقدم کيدل صحيح دي لکه فى الدار رجل نو په دې صورت کې به وعلى سمعهم د جملې اسميې تتمه او جز وي په اول ترکيب سره به په على سمهعم باندې وقف کولى شي په دويمې ساه اخستلو سره به على ابصارهم لوستلى کيږي او د دويم ترکيب په اعتبار به په على قلوبهم باندې وقف کولى شي او على سمعهم نه به دويمه ساه اخستلى کيږي قاضي صيب اولنې ترکيب لره ترجيح ورکړي په درې دلايلو سره.

---

(۱):- سورة الجاثية : آية (۲۳)

لومړی دلیل قطعي: لقوله تعالی (وَخَتَمَ عَلَى سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ وجعل علی بصره غشوة) دې آیت کې سمع له قلب سره راغلې ده او بصر جدا ذکر شویده نو معلومیږي چې د علی سمعهم عطف په علی قلوبهم باندې دی .

دویم دلیل نقلي: د ټولو قاریانو په دې اتفاق دی چې په علی سمعهم باندې وقف او کړی شي او وقف په هغه حکم کولی شي چې له مابعد سره څه تعلق نه وي نو معلومه شوه چې علی سمعهم د مابعد لپاره معطوف علیه نه ده .

دریم دلیل عقلي: د قلب او سمع تصرف او ادراک د انسان له ټولو جوانبو سره تعلق لري یعنې هر طرف نه زړه او غږونه کار کولی شي نو د دې دواړو مانع به هم داسې شي وي چې له هر جهت څخه مانع وي او دغه مانع ختم دي له ختم سره هم خط له هر جانب څخه محفوظ ګوځي او بصر یوازې له وړاندې څخه ادراک کوي نو د دې مانع به هم دغسې شي وي چې له یو طرف نه مانع وي او هغه غشاوة ده نو معلومه شوه چې سمع له قلب سره شریکه ده او د اشرکت به هغه وخت ثابت شي چې علی سمعهم په علی قلوبهم باندې ورعطف شي .

تفسیربیضاوي:(وَ اذْراک الأبصارِ لمَّا اختَص بجِهة المُقابلة جُعل المانِع لها عن فعْلها الغِشاوة المُختصَّة بِتلك الجِهة وكرّر الجار لِيكون أَدَّل على شدة الخَتم فى الموضعَين و استقلال كل منْهما بالحُكم)

ترجمه: ادراک د ابصارو چې خاص وو د مخامخ جهت پورې مانع د فعل د ابصارو پرده او ګرځولی شوه خاص په هم دغه جهت پورې الله جلّ جلاله حرف جار (علی) مکرر ذکر کړي دی د دې لپاره چې په دواړو ځایونو کې سخت والي د مهر باندې زیات دلالت کونکی شي او په هر یو د دې دواړونه چې په حکم کې مستقل دلالت کونکی شي.

تشریح: دلته معترض یو اعتراض کوي هغه دا چې

سوال: کله علی سمعهم په علی قلوبهم باندې ورعطف شو نو بیا تکرار د حرف جر(علی) ته څه ضرورت دی داسې به یې ویلي و (علی قلوبهم وسمعهم).

جواب: حرف جر د دوه خبرو لپاره مکرر راوړلی شو اول د شدت ختم دویم د شدت استقلال لپاره راوړلی شو یعنې چې د هر یو په مستقله توګه مختوم کیدلو باندې دلالت وکړي هغه داسې چې ختم خپل مفعول طرفته کله بالذات لکه (ختم الشيء) او کله بالواسطه متعدي کیږي لکه (ختم علی الشيء) که بالذات دا بیا په مطلق ختم باندې دلالت کوي او که بالواسطه وي بیا په شدت ختم دلالت کوي نو دلته علی حرف جر سره متعدي دی مفعول ته لِيكون أَدَّل على شدة الخَتم في الموضعَين.

تفسیربیضاوی:(وَ وَحَّد السمع للامن من اللُبس و اعتبَار الاصلِ فانّه مصْدرٌ في اصله و المَصادر لاتجمِع اوعلى تَقدير مُضاف مثل وعَلى حواس سمعهم)

ترجمه: او د التباس نه د بچ کیدلو لپاره ئې سمع مفرد ذکر کړې او بل په اعتبار د اصل سره چې سمع په اصل کې مصدر دی او مصادر نه جمع کیږي او یا په تقدیر د مضاف دا جمع ذکر ده لکه په حواسو داوریدلو د دوئ.

تشریح: دلته یو اعتراض دی له هغې جوابونه کوي.

سوال: څه وجه ده چې ابصار او قلوب ئې جمع ذکر کړل او سمع ئې مفرد ذکر کړه پکار خو دا و چې ویلي یې وای وعلی اسماعهم؟

جواب: من اللبس یو دا چې خوف د التباس نشته مطلب داسې نشته چې د ټولو کافرانو دی په یو غوږ اوریدل کولی څکه دا محال لره مستلزم کیږي هغه داسې چې اشیاء په دوه قسمه دي یو متصل بشخص غیر منفک بحال لکه اعضاء د انسان او بل منفصل عن شخص لکه جامې وغیره د انسان نو شی په مشترکه توګه هغه محال استعمالیږي چې کله د دویم قسم له جملې څخه وي لکه د یو انسان جامې لس کسان هم استعمالوی شي د اول قسم چې (متصل بشخص غیر منفک بحال) دی په مشترک ډول استعمال محال دی.

(۲)**جواب**: دا چې د مصدر اضافت جمع ته شوی دی او مصدر چې جمع ته مضاف شي نو مراد تقسيم د احادو په احادو وي نو مطلب ئې دا شو چې هريو په خپلو غوږونو اوريدل کوي او يا دلته تقدير د عبارت دی ای علی خواس سمعهم.

(۳)**جواب**: د زړه او بصر مدرک متعدد دي د سمع مدرک يو دی نو ځکه ئې مفرد ذکر کړ.

تفسيربيضاوي: (و الأبصار جمع بصر وهُو ادراک العينِ و قد يُطلق مَجازًا على القُوة الباصِرة وعلى العضو وكذا السمع ولعلّ المراد بهما فى الآية العضو لانّه اشد منا سبة للختم والتغْطيةِ وبالقَلب ما هو مَحل العِلم و قد يطلق وَ يرادُ به العقل و المعرفة كما قال تعالى (اِنَّ فِي ذَلِكَ لِمَنْ كَانَ لَهُ قَلْبٌ[۱]))

ترجمه: ابصار جمع د بصرده د سترګو ادراک ته وائي کله ئې مجازًا په قوة باصره باندې هم اطلاق کيږي او کله ئې په اندام(عضوه) د سترګو باندې اطلاق کيږي دغه شان سمع هم ده او شايد چې په آيت کې د دې نه اندامونه مراد وي ځکه چې دا ډير مناسب دی د مهر او د پردې کولو سره او د قلب نه مراد د علم ځای دی او کله له قلب نه عقل او معرفت مراد وي لکه الله تعالى فرمائي (ترجمه) په دغه ټولو بياناتو کې د رب پند او نصيحت دی هغه چاله چې خاوند عقل او معرفت وي.

تشريح: ابصار جمع د بصر ده د سترګو نور ته وايي خو مجازا يې په سترګو هم اطلاق کيږي يعني يو سبب او بل مسبب دی او ديته مجاز مرسل هم وايي او بصيرت د زړه د نور نوم دی دغه شان قلب هم وه معنا ګانې لري اوله معنا محل د علم يعنې د غوښې هغه ټکړه چې صنوبري شکل لري او د علم محل دی او دا د قلب اصلي معنا هم ده او قلب ورته ځکه وايي چې دقلب معنی ده اوړيدل راوړيدل نو په زړه کې هم خيالات اوړي راوړي او ځينې وايي چې قلب د سپوږمۍ او ستورو په منزلونو کې يو منزل دی او محل د علم ته ځکه قلب وايي چې دا هم په معنوي طور سره روښانه وي

(۱):- سورة القاف : آية (۳۷)

او دویمه معنا یې تعقل او ادراک کول دي او معنا مجاز دی او دې معنا ته الله تعالی په دې ایت کې اشاره کړې ده(اِنَّ فِي ذٰلِک لِمَنْ کَانَ لَهٗ قَلْبٌ)

امام نسفي او خازن رحمهما الله بیا د دې ایت داسې ترجمه کړې حاضر الفطنة چې خپل ټوله قوه مدرکه متوجه کړی.

عقل: امام شافعی رحمه الله فرمائې چې عقل په زړه کې وي او نور یې په دماغو کې وي او ابتداء یې له هغه وخت څخه وي کله چې په انسان کې روح پوکولی شي او دا آیت دلیل کې پیش کوي ذکر د محل مراد ترینه حال دی.[1]

امام ابوحنیفة رحمه الله فرمائې چې عقل په دماغوکې وي په دواړوکې تطبیق دا دی چې اصل په زړه کې وي خو پلوشی ئې د ماغو ته رسیږي.

تفسیربیضاوي: (او انّما جاز اِمَالتُها مع الصاد لأنّ الرّاء المکسورَة تغلِب المُستعلیة لمَا فیها من التّکریر)

ترجمه: او په علی ابصارهم کې د صاد سره اماله جائزده ځکه چې راء مکسوره په صاد مستعلیة باندې غالبه وي ځکه چې په راء کې تکریر د صورت دی.

تشریح: تکریر د صورت قُرآء هلته معلوموي چې خفت د حرف وکړي یعني دا حرف ساکن کړيّ او همزه وریاندې داخله کړي نو حرف دراء دوچند اداء کیږي لکه اَرْ په یوځل سره راء نه اداکیږي او صادکې داسې نه ده.

او بل په دې عبارت سره دفع هغه اعتراض ده کوم چې علی ابصارهم په یو قرأت باندې وارد شوی و هغه داسې.

سوال: حروف مستعلیة اووه دي صاد، ضاد، طاء، ظاء، عین، غین، او قاف. دا حروف مانع دي له اَمالې نه برابره خبره مخکې ترینه الف وي او روسته ترینه اَلف وي او مانع له امالې ځکه دي

---

(۱) شرح الخریدة البهیة : صـ ۳۲ دغه شان دا مذهب د امام مالک او امام شافعي هم دی. او صاحب د کتاب د عقل تعریف داسې کوي: سر روحاني تدرک به النفس العلوم الضروریة والنظریة.

چې مستعلية ترفع الصوت غواړي يعنې اواز پکې او چتيږي او اماله تسفل الصوت غواړي يعنې اواز پکې ښکته ځي نو که اماله پکې وشي دا به جمع د ضدينو شي.

جواب: په ابصارهم کې راء له هغو حروفو څخه ده په کوم چې د تلفظ په وخت کې مکرر کيږي ځکه په راء د تلفظ په وخت کې ژبه رېږدي داسې معلوميږي له څو راګانې دې چې دې داء کړې وي نو چې راء مکرره شوه کسره يې هم مکرره شوه او دوی د امالې تقاضا کوي او صاد مانع د امالې دی نو راء او کسره زيات دي او صاد يو دي د زياتو په مقابل کې يو په نشته حساب وي نو ځکه اماله پکې صحيح شوه.

تفسيربيضاوي: (وَغشاوَة رُفعَ بالابتِداءِ عند سيبويه وبالجار والمجرور عند الاخفش ويؤَيّده العطف على الجملة الفعلية)

ترجمه: او غشاوة په نزد د سيبويه بناء بر ابتدائيت مرفوع دی او په نزد اخفش مرفوع دی په جار او مجرور (عامل محذوف) سره او ددې جملې په مخکې جملې فعلې باندې عطف د اخفش خبره تائيده وي.

تشريح: قاضي صيب ډلته د غشاوة ترکيب بيانوي فرمايي چې په لفظ د غشاوة کې د اعراب دوه احتماله دي يا مرفوع ده او يا منصوب ده.

که مرفوع شي يا امام سيبويه وايي چې رفعه بنا بر ابتدائيت ده (على ابصارهم خبر مقدم او غشاوة ئې مبتداء مؤخره ده) ځکه چې غشاوة مبتداء او نکره ده او ابتدائيت د نکرې په ادنی تخصيص سره صحيح کيږي او هغه په تقديم د جار او مجرور سره شوی دی نو تقدير دا شو ثابتة على ابصارهم او امام اخفش وايي چې رفعه بنا بر فاعليت دی د سيبويه په نزد على ابصارهم جمله اسميه ده او د اخفش په نزد جمله فعليه ده نو يا به تقدير د عبارت داسې وي (استقرت على ابصارهم غشاوة).

خو ډلته د اخفش د قول تائيد له دې څخه هم کيږي چې على ابصارهم غشاوة په ختم الله على قلوبهم باندې باندې عطف شوی نو معطوف عليه جمله فعليه ده نو پکار ده چې معطوف به هم جمله فعليه وي ځکه په عطف کې دا موجب د تحسين دی.

تفسیربیضاوي: (وقرِءَ بالنَّصب على تقدير وَجعل على ابصارِهم غِشاوةً اوعلى حذف الجار و ايْصال الختمِ بنفسه اليه وَالمَعنى وختم على ابصارهم بغشَاوة وقُرِءَ بالضّم والرَّفع وبالفتح والنَّصب وهما لغتانِ فيها وَغشوة بالكسر مرفُوعة وبالفتح مرفوعة ومنصوبة وعشاوَة بالعين الغير المُعجمة)

ترجمه: اولوستلی شوی دی په نصب سره په دې تقدير سره چې (جعل على ابصارهم غشاوة) او يا نصب په دې تقدير سره چې حرف جر محذف كړی شي او ختم بلاواسطه غشاوة ته متعدي كړلی شي معنی دا شوه (خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ وَعَلٰى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ) او دا غشاوة په ضمه د اول او په رفع دآخر سره (غُشَاوَةٌ) هم لوستلی شوی په فتح د اول او په نصب دآخر سره (غَشَاوَةً) هم لوستلی شوی دا دوه لغته په غشاوة کې دي او په کسرې د اول او په رفع د ثاني (غِشُاوَةُ) او په فتح د اول او په رفع د آخر سره (غِشْوَةٌ) اوپه فتح د اول اوپه نصب دآخر سره (غَشَاوَةً) او عشاوة په عین سره غير د غين معجم (بې نقطې) (ع) روندوالي ته وائې [1].

تشريح: دلته اوس مصنف د قرائت شاذه بيان ذكر كوي او دا د غشاوة دويم حالت دی هغه دا چې په غشاوة باندې له دوه وجو نصب ولی شوی دی.

لومړی: دا چې دا د مفعوليت په وجه منصوب كړی شي هغه داسې چې له على ابصارهم څخه وړاندې يو فعل مقدر كړِ شي چې پر هغې ختم دلالت كوي لكه لفظ د جعل نو اوس به تقدير دعبارت داسې شي وجعل على ابصارهم غشاوة بيا معطوف عليه (ختم) په دې باندې دلالت كوي نو اعتمادا جعل فعل حذف كړی شو.

دويم : منصوب بنزع الخافض هغه داسې چې دا عبارت (وعلى ابصاهم غشاوة) په اصل کې داسې و (وختم على ابصارهم بغشاوة) بغشاوة جار او مجرو متعلق و تر ختم پورې او ختم په واسطې د باء سره غشاوة ته متعدي و لكن باء حذف كړی شوه او ختم بلاواسطه غشاوة ته متعدي شو همدا منصوب بنزع الخافض دی.

---

(۱):- كذا في تفسير زادالمسير: ۱ / ۳۰.

وقُرِءَ بالضم والرّفع وبالفتح... له دې ځاى څخه د غشاوة شپږ نور قرأتونه ذکر کوي چې وجه د حصر يې دا د چې دا غشاوة په خالي نه وي يا به بالعين وي يا به بالغَين وي که اول و دا شپږم قرأت لکه عشاوةٌ او که دويم (بالغين) و دا به يا خالي نه وي يا به سره له الف وي يا به بغير له الف څخه وي که سره له الف و دا به يا خالي نه وي يا به بضم الغين يا به بفتح الغين که بضم الغين وي دا لومړی قرأت دي لکه غُشاوة او که بفتح الغين وي دا دويم قرأت دي لکه غَشاوة او که بغير له الف څخه وي دا به يا خالي نه وي يا به بکسر الغين وي يا به بفتح الغين وي که بکسر الغين وي دا دريم قرأت دی لکه غِشوة او که بفتح الغين وي دا به يا خالي نه وي يا به اخر مرفوع وي او يا به يې اخر منصوب وي که اول صورت و دا څلورم قرأت او لکه غشوةٌ او که دويم صورت وي دا پنځم قرأت دی لکه غشوةً.

د رفع ، ضم ، نصب ، فتح ، جر او کسرې تر منځ توپير

بالضّم والرّفع وبالفتح والنّصب... دې عبارت سره مصنف د دې الفاظو ترمنځ توپير بيا نوي هغه داسې چې يو ضم ، فتح، کسر . دا په حرکات بنائيه دي رفع، نصب، جر. اعرابات معربه دي او ضمة ،فتحة ، کسرة دا مشترک دي بين المعرب والبناء . او بل دا چې د کلمې اول او وسط مبني وي نو ځکه قاضي صيب په ذکر شوي عبارت کې د غشاوة اول حرف ته حرکات بنائيه استعمالوي او اخر ته معربه استمالوي وايي: بالضّم والرّفع وبالفتح والنّصب . دا ټول قرأتونه شاذ دي.

تفسيربيضاوي: (وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ) وعِيدٌ وبيانٌ لِمَا يستَحقُّونه وَالعذاب كَالنّكال بناء ومعْنى تقُول أَعذاب مِن شئ وَنكلَ عنْه اِذَا أَمْسک ومنه المَاء العذاب لأَنّه يقْمع العَطش ويردعه ولِذلک سمى نَقاخاً وفراتًا ثُم اِتّسع فَاطلقَ علَى كلّ أليِم قَادح وان لَم يكنْ نكالًا اى عقابًا يردع الجَانى عنْ المُعاوَدة فَهو أَعم منهمَا)

ترجمه: او د دوئ لپاره به لوی عذاب وي دا ايت وعيد او بيان دی دهغې سزا دَ کومې چې دا کفار مستحق دي او عذاب په وزن او معنی کې د نکال پشان دی لکه چې څوک کله د يو شي نه منع شي نو ته ووائې اعذاب عن الشئ او نکل عن الشئ او د دوئ مفهوم نه ماء العذب (خوږې اوبه) مأخوذ او مشتق دي ځکه چې دا تنده منع کوي د دې وجې نه خوږو اوبو ته نقاخ او فرات هم وائې

بیا په دغه لفظ کې پراخې او کړی شوه نو په هر ثقیل درد باندې ئې اطلاق و کړی شو اګرکه دغه ثقیل درد سره منعه او نه شي معنی دا چې مجرم دوباره له جرم کولو نه منع کړي نو په دې سره عذاب د نکال او د ألم ثقیل نه عام شو.

تشریح: قاضي صیب دلته دوه بحثه کوي لومړی بحث په کلمه د (عذاب) کې او دویم بحث په کلمه د (عظیم) کې.

لومړی بحث: عذاب یا مشتق دی له مجرد او یا له مزید څخه که له مجرد څخه مشتق شي دا به د نکال مشابه وي په وزن او معنا کې په وزن کې مشابهت خو یې څرګند دي چې دواړه د (فعالٌ) په وزن دي او په معنا کې مشابهت یې دا دی چې دواړه د منع او بندولو په معنا دي او علامه حفاجي رحمه الله په حاشیة الشهاب کې وایي چې د دې خپله معنا د خوراک، څښاک او خوب نه د بندولو ده له همدې وجې اوبو ته هم العذاب ویلی شی ځکه خوړې اوبه هم تنده بندوي او خوږو اوبو ته نقاخ او فرات ویلی شي نقخ او فرت ماتولو او زره زره کولو ته وایي نو خوږې اوبه هم تنده ماته او زره زره کوي بیا په کلمه د عذاب کې وسعت وشو او مجازا یې اطلاق په درد ثقیل وشو اګر که په درد ثقیل کې منع نه وي یعنې مجرم دوباره له جرم نه منع کوي له دې وجې نه عذاب له نکال او عقاب دواړو نه عام دی عقاب هغې سزا ته وایي چې د جرم په بدل کې وي بیا مجرم له جرم منع کړې او که نا او نکال هغې سزا ته وایي چې مجرم له جرم څخه منع کړي او عذاب کې دا یو شرط هم نشته یعنې د جرم په بدل کې وي او که نه وي مجرم منع کړي او که نه.

تفسیربیضاوي: (وَقِيلَ اشتِقاقُهُ منَ التَّعذيبِ الّذى هوَ إزالةُ العَذاب كالتَّقذِيَة وَالتَّمريض)

ترجمه: ویلی شوي دي چې عذاب له تعذیب نه مشتق دی او تعذیب خوند ختمولو ته وائي لکه تقذیه سترګي نه ښلکي لرې کولو ته وائي) او تمریض وائي (مریض ته چې دوا ورکړې او مرض زائل شي).

تشریح: دا دویم احتمال بیانوي هغه دا سې بعض علماؤ ویلي چې عذاب مشتق دی له مزید (تعذیب) څخه کوم چې د باب تفعیل مصدر دی او د باب تفعیل یوه ماده سلب المأخذ دی نو په

تعذیب کې هم دغه ماده ملحوذه ده نو په دې اعتبار سره به د عذاب معنا وي یو خوندورشی زایله کول لکه څنګه چې د تقذیة معنا ده له ستړګو بنلکی لرې کول او د تمریض معنا ده مرض لرې کول.

تفسیربیضاوي: وَالعَظِیم نَقِیض الحَقِیرِ و الکَبِیر نَقِیض الصَّغِیر فکمَا أَنَّ الحَقِیر دُون الصَّغِیر فَالعظِیم فَوق الکَبِیر وَمعنی التَّوصِیف به أَنَّه اذَا قِیس بِسائر مَایُجانسه قصرعَنه جَمِیعه وحَقر بِالاضافَة الَیه ومَعنی التَّنکِیرِ فی الآیَة أَنَّ علی أبصارهم نوعٌ غشاوَة لیس مِمّا یتَعارفه النَّاس وهو التَّعامی عَن الآیات ولَهم من الآلَمِ العظام نوع عظِیم لَایعلم کنهَه الَّا اللّٰه)

ترجمه: او عظیم نقیض د حقیر دی او کبیر نقیض د صغیر دی څنګه چې حقیر له صغیر نه کم دی دغه شان عظیم د کبیر نه کم دی او معنی د عذاب په عظیم سره موصوف کولو کې داده چې کله د دې (عذاب) له متعدد الجنس عذابونو سره موازنه وشي نو ټول عذابونه به د دې نه کمیږي او په نسبت سره دې ته حقیر ګڼل کیږي او د عذاب نکره ذکرکولو سره معنی دا دی چې د دوئ (کفارو) په سترګو یو قسم پردې وي چې خلک هغه پردې نه پیژني او هغه ځان په تکلیف سره د آیاتونونه ړوندوالی دی او په زوره سترګې پټول دي او د دوئ لپاره به لوی لوی دردونه وي یوه داسې لویه نوعه چې د هغې حقیقت د الله جلّ جلالهٗ نه سوا بل چاته نه معلومیږي.

تشریح: دویم بحث: عظیم او کبیر د عظمت د بیانولو لپاره استعمالیږي او صغیر او حقیر د خساست لپاره استعمالیږي بیا په عظیم او کبیر کې عظیم ډېر اشرف دی له کبیر نه او په صغیر او حقیر کې خقیر ډېر خسیس دی له صغیر نه دا ځکه چې د حقیر نقیض عظیم دی او د ډیر خسیس نقیض ډیر اشرف وي نو عظیم ځکه اشرف دی له کبیر نه او د صغیر نقیض کبیر دی لکه څنګه چې صغیر کې ډیر خساست نه دغسې به یې نقیض کې شرافت زیات نه وي له عظیم نه او دا چې عظیم د کبیرنه په معنی کې زیات دی عظیم نه مراد لوی والی په کیفیاتو کې وي او د کبیر نه لوی والی په مقدار او افرادو کې وي.

او عذاب یې په عظیم سره ځکه موصوف کړ چې کوم عذابونه کافرانو ته په اخرت کې تیار شوي هغه په نسبت سره د نیوي عذابونه ډېر لوی دي او د نیوي عذابونه د هغې په نسبت سپک دي او بل دا چې الله تعالی په دې ایت کې غشاوة او عذاب واړه نکیره ذکر کړل دا مذهب علامه زمحشري دی هغه وایي چې په غشاوةٌ او عذابٌ داوړو کې تنوین لپاره د تنویع ده کفارو به ویل زموږ په سترګو یو ډول پردې دي چې نور خلک پرې نه پوهیږي چې هغه د الله په ایتونو سترګې پټول دي نو الله تعالی هم د دوی په مقابل کې داسې اخروي عذاب مقرر کړ چې د الله جل جلاله سوا بل هیڅوک پرې نه پوهیږي.

او امام سیبویه فرمایي: چې په دې کې تنوین لپاره د تعظیم دی نو معنا به دا شي چې د کفارو په سترګو ډېرې لویې پردې وې نو الله جل جلاله یې په مقابل کې لوی لوی عذابونه هم مقرر کړل په دې صورت کې به عظیم د عذاب لپاره صفت د تاکید له قبلې څخه وي.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَما هُمْ بِمُؤْمِنِينَ.

تفسیربیضاوي: ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ وَبِالْيَوْمِ الْآخِرِ لما افتتح سبحانه وتعالى بشرح حال الكتاب وساق لبيانه، ذكر المؤمنين الذين أخلصوا دينهم لله تعالى وواطأت فيه قلوبهم ألسنتهم، وثنى بأضدادهم الذين محضوا الكفر ظاهراً وباطناً ولم يلتفتوا لفتة رأساً، ثلث بالقسم الثالث المذبذب بين القسمين، وهم الذين آمنوا بأفواههم ولم تؤمن قلوبهم تكميلاً للتقسيم، وهم أخبث الكفرة وأبغضهم إلى الله لأنهم موهوا الكفر وخلطوا به خداعاً واستهزاءً، ولذلك طول في بيان خبثهم وجهلهم واستهزأ بهم، وتهكم بأفعالهم وسجل على غيهم وطغيانهم، وضرب لهم الأمثال وأنزل فيهم إِنَّ الْمُنافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وقصتهم عن آخرها معطوفة على قصة المُصِّرِّينَ.

ترجمه: او ځینې له خلکو څخه هغه دي چې وایي موږ ایمان راوړی په الله تعالی او په ورځ د اخرت باندې او حال دا چې دوی مومنان نه دي. هرکله چې الله تعالی د قرآن پاک د حال وضاحت شروع کړ او وربسې یې د مومنانو یادونه وکړه چې چا خپل دین د الله تعالی لپاره خاص کړ او ژبه یې له زړه سره موافق وي نو له دغو مومنانو سره یې د دوی د اضداد (کفار) هم ذکر کړل چې په خپل کفر کې ظاهراً او

باطناً دواړو اعتبارونو سره خالص و او دوی بالکل ایمان او کتاب طرفته وروه هم نه کتل په دریم نمبر کې یې هغه ډله ذکره کړم چې د دواړو (کفارو او مومنانو) په مینځ کې دي یعنې په ژبه مومنان دي او په زړه سره کافران دي او دایې د تقسیم د مکمل کولو لپاره ذکر کړل دا دریم قسم خلک د الله تعالی په نزد ډیر بدترین او مبعوض خلک دي ځکه چې دوی په کفر دایمان اوبه واړولې او بل په دوی کې له کفر سره فریب، دوکه او استهزا هم موجوده وه نو په دې وجه الله جل جلاله د دوی په حباثت کې طوالت وکړ دوی ته یې جاهل وویل او له دوی سره یې د استهزاء معامله وکړه او د دوی د افعالو په سلسله کې یې د دوی ذلت بیان کړو او هم یې د دوی د ظغیان او سرکشي په حقله قطعي فیصله وکړه او هم یې د دوي په اړه (إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ) ایت نازل کړو دا ټول عبارت معطوف دی په هغه عبارت کوم بیان چې د مصرین علی الکفر لپاره و.

تشریح: دلته قاضي صیب د دې ایت ربط بیانوي هغه داسې چې د سورت بقرې په ابتداء کې خو د قران اوصاف حمیده بیان شوي و بیا د منزل علیهم حال بیان شوی و له نزول د قرأن څخه او له ترقي د اسلام څخه وروسته دوی درې ډلې شول (۱) یوه هغه ډله وه چې د زړه له تله یې په قران ایمان راوړ او د ظاهر او باطن دواړو په اعتبار سره یې اسلام ته غاړه کیښوده (۲) هغه ډله وه چې په کفر باندې کلک ولاړ و او ظاهر او باطن یې له ګندګی څخه ډک و (۳) هغه ډله وه چې دوه مخي و په حقیقت کې کفار و خو په او په ظاهر یې ځانونه مسلمانان معرفي کول ترڅو سر او مال یې خوندي شي قاضي صیب فرمایي الله تعالی د منافقانو د حباثت د ظاهرولو لپاره د دوی تذکره مستقله وکړه او په جدیدو طریقو سره یې د دوی رزالت واضحه کړ لکه یو ځای وایي (ومایشعرون) دوی شعور نه لري بل ځای وایي (اولئک الذین اشترو الضلالة بالهدی) بل ځای وایي (في طغیانهم یعمهون) بالاخره د دوی په حقله یو خطرناکه فیصله وکړه (إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ) چې منافقان په جهنم کې تر ټولو لاندې پراته وي.

په دې (وقصتهم عن آخرها معطوفة علی قصة الْمُصِّرِّيْنَ) عبارت په عطف باندې خبره کوي فرمایي چې څومره بحث د منافقانو په اړه وشو دا ټول مجموعه عطف دی په هغه په بحث چې هغه د

مصرین علی الکفر په اړه تیر شو یعني یوه یوه جمله علی الانفرا: پرې نه دی ورعطف شوې یعنې عطف د قصې دی په قصې باندې هر کله چې دا معطوف او معطوف علیه نو بیا خو د دوی تر منځ مناسبت پکار وي نو مناسبت یې څه دی فرمایي مناسبت دا دی چې د مصرین علی الکفر بحث لپاره د اظهار د قباحت د دوی او دا بحث هم د دې لپاره دی چې د دوی د ظاهر او باطن قباحت ظاهره کړي.

تفسیربیضاوي: (والناس أصله أناس لقولهم: إنسان وأنس وأناسي فحذفت الهمزة حذفها في لوقة وعوض عنها حرف التعريف ولذلك لا يكاد يُجْمَع بينهما. وقوله:

إنَّ المنايا يَطَّلِعْنَ على الإناس الآمنِينَا شاذ. وهو اسم جمع كرجال، إذ لم يثبت فعال في أبنية الجمع. مأخوذ من أنس لأنهم يستأنسون بأمثالهم. أو آنس لأنهم ظاهرون مبصرون، ولذلك سموا بشراً كما سمي الجن جناً لاجتنابهم).

ترجمه: ناس په اصل کې أناسٌ دی ځکه چې عرب انسان، أنس او أناسي وایي همزه ترینه حذف شوه په شان د لفظ د (لوقة) (چې په اصل کې الوقة و) په عوض کې یې لام تعریفي پرې داخل کړو ځکه چې همزه او لام تعریفي په وخت نشي جمعه کیدلی او هر چې د شاعر قول دی (إنَّ المنايا يَطَّلِعْنَ على الإناس الآمنِينَا) دې کې د دواړو جمعه کیدل شاذ دی او لفظ د اناس اسم جمعه دی په شان رجال هر کله چې فُعال وزن له جمعو څخه ثابت نه و او دا اخستل شوی دی له انس څخه چې باب ضرب یا سمع دی انسان ورته ځکه وایي چې دا هم له خپل همجنس څخه أنس حاصلوي یا أنس له باب افعال څخه دی ځکه انسان په مخ د ځمکه ظاهر دی په سترګو ښکاري له همدې وجې ورته بشر وایي لکه څنګه چې جن ته جن د پټیدلو له وجې وایي.

تشریح: دلته د درې بحثونه کوي (۱) د الناس صرفي تعلیل (۲) د صیغې نوعیت (۳) مأخذ منه او مشتق منه.

لومړی بحث: سلمه بن عاصم رحمه الله وایي ناس او اناس کې هیڅ تعلیل نه دی شوی بلکې دواړه مستقلې مادې دي امام کسایي فرمایي چې ناس اجوف واوي دی دا الف یې له واو څخه بدل راغلی دی نو له نوس څخه مشتق دی ځکه تصغیر یې نُوَیس دی او تصغیر شی اصل ته رد

کوي، ناس الشيء هغه مهال ویلی شي چې کله په يو شي کې حرکت او ضراب راشي تنوس الغصن هغه وخت ویلی شي کله په څانګه کې باد حرکت راولي نو انسان هم په نسبت سره نورو حیواناتو ته زیات حرکت کونکی دی نو ځکه ورته ناس ویلی شي. او قاضي صیب چې کوم قول کړی دا د سیبویه او جمهورو قول دی دوی وايي چې الناس په اصل کې أناس و همزه حذفه شوه لکه څنګه چې له (لوقة) څخه همزه حذف شوه چې په اصل کې الوقة و د همزې په عوض کې ترینه لام تعریفي راوړلی شو قاضي صیب د خپل قول تائید له درې کلماتو څخه کړی دی لومړی انسان دویم انس دریمه اناس استدلال داسې کوي چې انسان او انس د ناس مفرد من غیر لفظه دي نو په مفرد کې همزه دی د دې خبرې دلیل دی چې اصل کې همزه دی او اناس د جمعې صیغه دی او جمعه هم شی اصل ته رد کوي نو معلومه شوه چې په اصل کې دلته همزه شته.

(ولذلك لا يكاد يُجْمَع بينهما) دا په ماقبل تفریع دی چې په الناس کې له همزې څخه لام عوض دی او عوض او معوض عنه اجتماع او ارتفاع دواړه محاله نو ځکه الناس نشي ویلی او هر چې شعر دی هلته هغه شاذ دی پوره شعر داسې دی

ان المنايا يطلعن على الناس الا منينا : فتذرهم شي وقد كانوا جميعا وافرين.

بیشکه مرګ په خلکو باندې ناڅاپي راځي په داسې حال کې چې داخلک ترینه غافله او مطمئن وي او جدا جدا یې کړي، او ډېر لوی تعداد یې جمعه کړي.

جمع او اسم جمع:

دويم بحث: فرمايي چې الناس صيغه د اسم جمعې دی د جمعې او اسم جمعې تر منځ درې فرقه کوي (۱) اسم جمعه هغه اسم دی چې په مافوق الاثنين دلالت وکړي او مجموع پر اوزانو نه وي خوا مفرد من لفظه لري او که نا؟ (۲) د اسم جمعې د تصغیر راوړلو لپاره د مفرد طرفته د واپس کولو ضرورت نه وي (۳) د اسم جمعې ورود خلاف القیاس وي خو داد نحاتو رایه اما اهل لغت د جمعې او اسم جمعې تر منځ هیڅ فرق نه کوي.

(إذ لم يثبت فعال في أبنية الجمع) په دې عبارت سره دا ثابتوي چې دا اسم جمعه دی جمعه نه دی ځکه فُعال وزن په اوزانو د جمعه کې نشته.

دریم بحث: د اناس ماخوذ منه مجرد هم کیدی شي او مزید هم که مجرد شي بیا پکې درې احتماله دي او دریواړه صحیح دي أنساً ، أنسةٌ أنساً اولنې دواړه مصادر له باب سمع او کرم څخه راځي او دریم له ضرب څخه د دریواړو معنا محبت حا ' ' که مأخوذ منه یې مزید شي بیا پکې دوه احتماله دي یا به له باب افعال څخه ایناس وي په معنا د لیدلو بو ،نه ان ته انسان هم ځکه وایي چې په مخ د ځمکه ظاهر او مبصر وي او جن وایي پټ ته نو ده هم ځکه جن وایي له همدې وجې انسان ته بشر هم وایي چې څرمن یې ښکاره دی او یا به له مفاعله څخه موانسة وي.

تفسیربیضاوي: (واللام فيه للجنس، ومن موصوفة إذ لا عهد فكأنه قال: ومن الناس ناسٌ يقولون. أو للعهد والمعهود: هم الذين كفروا، ومن موصولة مراد بها ابن أبي وأصحابه ونظراؤه، فإنهم من حيث إنهم صمموا على النفاق دخلوا في عداد الكفار المختوم على قلوبهم، واختصاصهم بزيادات زادوها على الكفر لا يأبى دخولهم تحت هذا الجنس، فإن الأجناس إنما تتنوع بزيادات يختلف فيها أبعاضها فعلى هذا تكون الآية تقسيماً للقسم الثاني)

ترجمه: په الناس کې الف لام تعریفي د جنس لپاره دی او مِن موصوفه دې ځکه چې د ناس مصداق معین نه دی ګویا چې الله تعالی داسې فرمایلي و من الناس ناس یقولون یا لام عهد خارجي دی په دې تقدیر سره مِنْ موصوله دی او الناس معهود خارجې به الذین کفرو وي او له من موصولې څخه به ابن ابیٔ او د هغه ملګري دي دغسې نور خلق وي ځکه چې د مصر علی الکفر په وجه د کافرانو په تعداد کې داخل دي د کومو په زړه چې مهر لګولی شوي و او د دوی له دې شیانو سره په زیادت د اختصاص په کفر کې زیات کړي و دوی د مصرعلی الکفر په فهرست کې له داخلولو څخه نه منع کوي ځکه چې اجناس د دې زاید و فصلونو په بنا باندې چې په دې اجناسو کې دي افراد له یو بل نه جدا نوع جوړوي نو په دې صورت کې به و من الناس د قسم ثاني یو قسم وي.

تشریح: دلته قاضي صیب د الف لام او کلمې د من په اړه تحقیق کوي فرمایي چې د الناس الف لام په له دوه حالونو څخه خالي نه وي یا به جنسې وي یا به عهد خارجي وي که جنسي شي بیا به مِن نکره موصوفه وي او که عهد خارجي وي بیا به من موصوله وي.

سوال: کله چې الف لام جنسي شي من به موصوفه ولې وي او که عهد خارجي شي من به موصوله وي د دې برعکس خو هم جایز دی.

جواب: دا تقسیم د مناسبت د برقرار ساتلو لپاره شوی دی هغه داسې چې کله الف لام لپاره د جنس شو نو په جنس کې تعین نه وي بلکې ابهام وي نو چې کله من تبعیضي راوړل شي دلته به د من په واسطه د بعضو تفصیل وشو او هغه هم مبهم و معلومه شوه چې دلته من نکره پکاره او کله چې الام عهد خارجي شي نو دلته بیا ناس متعین دي له دې وجې یې بعض هم متعین وي او د متعین د تعبیر لپاره معرفه پکار دی نو ځکه دلته من وصوله شو.

(فإنهم من حيث إنهم صمموا على النفاق دخلوا) دې عبارت سره د یو اعتراض طرفته اشاره کوي.

سوال: کله چې الف لام عهدي شي په دې صورت کې له ناس نه مراد الذین کفرو یعنې مصرعلى الکفر مراد دي یعنې منافقان له دوی څخه بعض وګرځېدل او بعض شئ داخل وي په شي کې حالانکه منافقان په الذین کفرو کې داخل نه دي ځکه دواړه جدا جدا صفات لري.

جواب: الذین کفرو څخه مصر علی الکفر مراد وي خو ظاهراً او باطناً نه دي مراد کوم چې د منافقانو قسم دی مصر علی الکفر په منزله د جنس دی کجاهرین او مناقفین یې قسمونه دي لکه څنګه چې نوع په جنس کې داخله وي او تخصیص یې له دخول څخه په جنس کې نه منع کوي دغسې منافقان هم د مصر علی الکفر په وجه الذین کفرو کې داخل دي په دې یو صورت کې به دا ایت په دوه قسمه دی په الذین یؤمنون بالغیب سره یې خپل بندګان په دوه قسمه کړل (۱) مؤمنین (۲) مصر علی الکفر بیا دویم قسم په دوه قسمه دی (۱) مجاهرین (۲) منافقان معلومه شوه چې مصرین علی الکفر جنس دی منافقان او مجاهرین یې قسمونه دي.

تفسیربیضاوي: (واختصاص الإيمان بالله وباليوم الآخر بالذكر، تخصيص لما هو المقصود الأعظم من الإيمان وادعاء بأنهم احتازوا الإيمان من جانبيه وأحاطوا بقطريه، وإيذان بأنهم منافقون فيما يظنون أنهم مخلصون فيه، فكيف بما يقصدون به النفاق، لأن القوم كانوا يهوداً وكانوا يؤمنون بالله وباليوم الآخر إيماناً كلا إيمان، لاعتقادهم التشبيه واتخاذ الولد، وإن الجنة لا يدخلها غيرهم، وأن النار لا تمسهم إلا أياماً معدودة وغيرها، ويرون المؤمنين أنهم آمنوا مثل إيمانهم. وبيان لتضاعف خبثهم وإفراطهم في كفرهم، لأن ما قالوه لو صدر عنهم لا على وجه الخداع والنفاق وعقيدتهم عقيدتهم لم يكن إيماناً، فكيف وقد قالوه تمويهاً على المسلمين وتهكماً بهم.)

ترجمه: ایمان بالله او ایمان بالیوم الاخرة په ځانګړي ډول ذکر کولو سره هغه څه خاص کول دي چې د مومن په افرادو کې ایمان عظیم ترین مقصود دی او د دې خبرې دعوه کول دي چې موږ د ایمان دواړه ګوشې په ځان کې جمع کړې دي او دواړه جانبه یې موږ له ځان سره محفوظ کړې دي. او د دې خبرې اعلان کول دي چې دا خلک کومه دعوه کوي کې خپل ځانونه مخلص ګڼې په دې کې هم منافقان دي نو د دې دعوې به حال وي چې د هغې مقصود نه بالکل نفاق وي دا اعلان ځکه وشو چې د یهودو داسې ویونکی جماعت نه و ، یهودیانو په الله او اخرت داسې ایمان لرلو چې په نشت جساب وه ځکه هغوی الله تعالی له مخلوق سره مشابه کوي او د الله تعالی د صاحب او والد کیدو عقیده لرله او دا عقیده یې هم وه ې جنة ته به له یهودو پرته څوک نه داخلیږي او د جهنم اور به یو څو ورځې څکې له دې پرته یې نور هم ډېر فاسد عقاید لرل او بله وجه داوه چې د دوی د خباثت له پاسه خباثت او په کفر کې زیاتوالی بیانول دي ځکه کومې خبرې چې هغوی وکړې که چیرته فریب او دوکه نه وي او عقیده یې هم دغه وه بیا به هم په ایمان کې شماز نه وي نو هغه وخت به څنګه ایمان کې شمار شي چې کله په دغو خبرو مسلمانانو ته دوکې ورکولو لپاره د مسلمانانو د استهزاء لپاره کړې وي .

تشریح: دلته دنع د یو اعتراض دی هغه دا سوال د منافقانو مقصود چې اظهار دایمان و نو بیا خو پکار دی چې هغه ټول شیان ذکر شي په کومو چې ایمان راوړل ضروري وي یوازې په دې دوه شیان اکتفاء کول(چې ایمان بالله او بالاخرت دی) پکار نه دي قاضي صیب څلور جوابونه کوي.

(۱)**جواب**: نور ایمانیات خو ځکه ذکر نشوه چې د ایمانیاتو لوی مقاصد دوه دي کله چې دوی په دې دوه شیانو ایمان نه و راوړی نو ضمناً یې په ټولو ایمان ثابت نه شو ځکه نور په دې متفرع دي نو تخصیص د دې دوه شیانو له وجې د عظمت څخه دی.

(۲)**جواب**: (وادعاء بأنهم احتازوا الإيمان) د دې دوه شیانو ذکر په طریقې د مبالغې سره شوی هغه داسې چې ایمانیات دوه برخې لري یوه مبدء بله معاد دی الله تعالی مبدء دی او اخرت معاد دی هر کله چې په دې دواړو د ایمان دعوه ثابته شوه نو مبالغتاً د دې په تمامو جزیاتو ایمان ثابت شو.

(وإيذان بأنهم منافقون فيما يظنون أنهم مخلصون فيه) د دې عبارت سره د دوه شیانو د تخصیص دوه پاتې جوابونه کوي.

(۳)**جواب**: دا چې الله تعالی په تخصیص د دې دوه شیانو سره دا اعلان کوي چې منافقان په خپلو عقاید کې منافقان دي ټول عقاید یې د ظاهر له باطن څخه خلاف دي ځکه دوی د الله تعالی باره کې د تشبیه او صاحب ولد کیدو عقیده لري او دا اخرت په اړه یې عقیده دا وه چې جنت ته به له یهودو پرته بل څوک نه داخلیږي (لن يدخل الجنة الامن كان هوداً) به یې ویل.

(۴)**جواب**: دا دوه شیان یې ځکه مختص کړل چې د دوی خباثت فوق الخباثت ښه واضحه شي او د دوی په کفر کې افراط هر څوک وګوري یهودیانو د نبي علیه السلام له رسالت څخه منکر و نو که په دعوه داخرت کې مخلص هم وي بیا یې هم ایمان معتبر نه و پاتې.

تفسیربیضاوي: (وفي تكرار الباء ادعاء الإيمان بكل واحد على الأصالة والاستحكام).

ترجمه: او د با مکرر راړل په هر واحد (ایمان بالله او بالاخرت) د مضبوط ایمان راوړلو دعوه کوي.

تشریح: د دې عبارت سره قاضي صیب د یو اعتراض دفع کوي.

سوال : د منافقانو په دې قول کې (امنا بالله وباليوم الاخر) د با تکرار بې فایدې دې ځکه چې کله معطوف علیه ضمیر مجرور وي په معطوف کې د حرف جر اعاده ضروري وي لکه مررت به وبزید خو کله چې معطوف علیه اسم ظاهر وي بیا اعاده د حرف جر ضروري نه وي لکه دې ایت کې معطوف علیه لفظ د الله تعالی دی او مظهر دی.

جواب: دلته په تکرار د با کې دوه حکمته دي (۱) د دې خبرې دعوه دی چې موږ په دې دواړو باندې تفصیلي ایمان لرو نه په طریقې د مجموع من حیث المجموع یا د احدهما په ضمن کې په بل ایمان لرو. (۲) دا دعوه کول دي چې موږ په دې دواړو شیانو ښه قوي او مضبوط ایمان لرو او په دې دول چې حرف جاره د فعل معنا خپل مدخول ته رسوي چې معنا د فعل ورسېده لکه ځېله چې فعل ورسېد نو تقدیر به داسې شي (امنا بالله و امنا باليوم الاخر) چې امنا فعل په دواړو داخل شو نو دواړه مستقل مؤمن به شول نو داستقلال دعوه ثابته شوه او تکرار تاکید پیدا کوي نو د استحکام دعوه هم ثابته شوه.

تفسیربیضاوي: (والقول هو التلفظ بما يفيد، ويقال بمعنى المقول، وللمعنى المتصور في النفس المعبر عنه باللفظ وللرأي والمذهب مجازاً. والمراد باليوم الآخر من وقت الحشر إلى ما لا ينتهي. أو إلى أن يدخل أهل الجنة الجنة، وأهل النار النار لأنه آخر الأوقات المحدودة.

ترجمه: قول هغو کلماتو ته وایي چې تلفظ پرې مفید وي او قول کلماتو ملفوظه ته هم ویلی شي مجازا او مجازا یې اطلاق په هغه معنا هم کیږي چې منقوشه وي په زړه کې او په ژبې سره ترینه تعبیر کولی شي او مذهب لپاره هم د قول استعمال مجاز دی او له یوم اخرت څخه د وخت حشر غیر متناهي زمانه مراد دی او یا ترینه د اهل جنت دخول فی الجنة او اهل نار دخول فی النار پورې زمانه مراده دی دیته یوم اخرت ځکه وایي چې دا د اوقات محدوده و اخرې ورځ دی.

تشریح: دلته قاضي صیب دوه بحثه کوي (۱) د قول متعلق (۲) د یوم اخرت تحقیق.

دقول استعمال:

لومړی بحث: د قول دوه استعماله دي یو حقیقي بل مجازي په حقیقت کې قول د تلفظ مفیده نوم دی بیا برابره خبر ده که معنا یې مفرده وي او که مرکبه لکه ځینې فرمایي چې قول د کلماتو مرکبه و تلفظ نوم دی چې په نسبت اسنادي باندې مشتمل وي بیا یې مجازا په مقول او ملفوظ اطلاق په طور د تسمیة المفعول باسم المصدر استعمال شو لکه خلق په معنا د مخلوق لباس په معنا د ملبوس بیا په دویمه (مجازي) معنا کې دومره ترقي وکړه چې هم دا اصل وګرځېده بیا مجازاً په نورو معناګانو کې هم استمال شو کلام نفسي ته هم قول ویلی شي لکه فرمایي ﴿ویقولون في انفسهم لولا یعذبنا الله بمانقول) دلته لولا یعذبنا کلام نفسي دي تعبیر ترینه په قول وشو دویم هغه رایه چې استدلال او اجتهاد سره حاصله شي متفقه وي که مختلفه وي دریم مذهب ته هم قول وایي یعنې اجتهادي عقیده چې بل مجتهد پکې اختلاف کړی وي.

د یوم الاخرة استعمال او وجه تسمیه:

دویم بحث: د یوم درې استعماله دي په لغت کې مطلق وقت ته وایي او په شریعت کې له صبح صادق نه تر پرېوتلو د لمر پورې وخت ته وایي او په عرف کې له طلوع الشمس نه تر غروب الشمس پورې وخت وایي دلته یوم په لغوي اعتبار سره مستعمل دی یا خو له وقت د حشر نه تر لایتناهي زمانې پورې دی او ترینه له وخت د حشر نه تر دخول جنت او دخول جهنم پورې زمانه مراد دی.

سوال: چې تر دخول جنة او دخول جهنم پورې زمانه ترینه مراد شوه نو بیا اخري ورځ ورته ولې وایي له دخود د جنت څخه وروسته خو هم زمانه موجوده ده.

جواب: اخري ورځ ورته په اعتبار د وقت محدود ویلی شي یعنې دغه ورځ د وقت محدود اخري ورځ دی که څه هم له دې څخه روسته زمانه شته خو هغه غیر محدود دی ځکه تحدید موقوف دی په طلوع او غروب باندې او دغه زمانه کې طلوع او غروب نه وي

تفسیربیضاوي: (وَما هُمْ بِمُؤْمِنِينَ إنكار ما ادعوه ونفي ما انتحلوا إثباته، وكان أصله وما آمنوا ليطابق قولهم في التصريح بشأن الفعل دون الفاعل لكنه عكس

تأكيداً. أو مبالغة في التكذيب، لأن إخراج ذواتهم من عداد المؤمنين أبلغ من نفي الإيمان عنهم في ماضي الزمان، ولذلك أكد النفي بالباء وأطلق الإيمان على معنى أنهم ليسوا من الإيمان في شيء، ويحتمل أن يقيد بما قيدوا به لأنه جوابه.

ترجمه: دا د مناقفانو د دعوې د هغه شي نفي دی کوم چې دوی ځانته په دروغو ثابت کړی و. اصل عبارت و ما امنوا پکار و د دې لپاره چې د فاعل د فعل په تصریح کې د منافقانو د قول امنا مطابق شوی و لکن بیاهم د دې خلاف ځکه وکړی شو چې تکذیب کې مبالغه او انکارکې تاکید پیدا شي ځکه د دوی راویستل له تعداد د مومنانو څخه ډېره ابلغه ده له نفي د ایمان د دوی څخه په زمانه یې ماضي کې له دې امله یې د نفي تاکید په با سره وکړ او ایمان یې مطلق پرېښود په دې معنا چې دوی په هیڅ مومن به ایمان نه لري او دا احتمال هم لري چې دا دې مقید شي لکه څنګه یې هغوی مقید کوي ځکه دا یې جواب دی ځکه په سوال کې جې کوم قید وي په جواب کې هم وي

تشریح: دلته درې بحثونه کوي (۱) ربط له ماقبل سره (۲) په ظاهر د ایت اعتراض (۳) د دې ایت متعلق د علم کلام مسئله.

لومړی بحث: ربط د دې ایت له ماقبل سره دادی چې په مخکني ایت کې د منافقانو د ایمان دعوه بیان شوې وه په دې ایت کې د هغې تردید کوي او د هغوی د غلط انتساب نفي کوي معلومه خبره دی چې دعوه او رد عوه کې مناسبت او ربط وي.

دویم بحث: (وكان أصله وما آمنوا) سره د اعتراض جواب کوي دا خبره زده کړه کوم شي چې په کلام کې مقدم وي هغه د متکلم په نزد اهم وي او اصل کې د دعوه او رد دعوه کې مطابقت وي.

سوال: منافقانو په خپله دعوه کې (امنا) فعل مقدم کړی معلومېږي چې دا اهم دی نو په تردید دعوې کې هم فعل مقدم کول پکار و یعنې وما امنوا ویل پکارو چې په دعوه او رد دعوه کې مطابقت راغلی وای.

جواب: خلاف اصل په دې وجه اختیار کړی شو چې په رد کې مبالغه پیدا شي هغه داسې چې ایت د کنایې په طور مستعمل دی او منایه ابلغه من التصریح وي او کنایه داسې ده چې حقیقت

ایمان سره متصف کیدل ملزوم او افرادو د مومنینو کې داخلیدل د دې لپاره لازم دی او لازم له مازوم څخه عام وي نو انتفاء د عام مستلزمه وي انتفاء د عام لره لهذا انتفاء المنافقین من عدد المؤمنین عام او انتفاء الایمان من المنافقین خاص دی نو هر کله چې د منافقینو افراد د مؤمنانو په فهرست کې له داخلیدو نفي وشوه نو په طریقه اولی سره د هغوی د اتصاف بالایمان نفي وشوه .

(وأطلق الإيمان على معنى أنهم ليسوا من الإيمان في شيء) په دې عبارت سره د یو اشکال دفع کوي هغه داسې .

سوال: کله چې الله تعالی د منافقانو په دعوه کې د هغو مومن به الله او یوم الاخرة ذکر کړل نو پکار دی چې په رد کې یې هم دغه دواړه ذکر کړي وای.

جواب : دلته یې د منافقانو مومن به د دوه وجوهاتو له امله ذکر نه کړل (۱) د مومن به په حذف کولو سره ایمان منزل بمنزلة اللازم او منلی شو د دې لپاره چې د منافقانو نه بلکل ایمان نفي شي او دا خبر معلومه شي چې دا منافقان د ایمان په هیڅ یوه درجه کې هم نه دي (۱) دلته مومن به مقدر دی قرینه پرې داده چې په دعوه کې ذکر دي دلته یې ذکر ته ضرورت نشته مذکور فی السوال معاد فی الجواب وي.

تفسیربیضاوي: (والآية تدل على أن من ادعى الإيمان وخالف قلبه لسانه بالاعتقاد لم يكن مؤمناً، لأن من تفوه بالشهادتين فارغ القلب عما يوافقه أو ينافيه لم يكن مؤمناً. والخلاف مع الكرامية في الثاني فلا ينهض حجة عليهم)

ترجمه: او ایت په دې باندې دلالت کوي چې څوک د ایمان دعوه دار وي او زړه یې د له ژبې اقرار سره خلاف وي نو هغه به مومن نه وي له ایت نه دا معلومیږي چې کوم کس د شهادتینو اقرار وکړي او زړه یې له اقرار مخالف هغه مومن نه دی او کرامیه و په دویمه مسئله کې خلاف کړی لهذا ایت د هغوی خلاف دلیل نه گرځي .

اختلاف بين القاضي والرازي رحمهما الله

تشریح: دریم بحث: دا ایت د کرامیه و خلاف حجت جوړیدلی شي او که نا؟ امام فخر الدین رازي رحمه الله وایي چې جوړیدلی شي او قاضي صیب فرمایي چې دا ایت د کرامیه خلاف حجت نشي جوړیدلی منشأ د خلاف د امامینو ترمنځ دادی چې امام رازي د کرامیه مسلک دا بیانوي چې چا په ژبې سره اقرار بالشهادتین وکړو او حال دا چې په زړه یې تکذیب او کفر و دا سړی د کرامیه و په نزد مومن دی نو دا ایت یې خلاف ځکه حجت دی چې له منافقانو د ایمان نفي وشوه حالانکه د هغوی په ژبه اقرار او په زړه کې انکار و او قاضي صیب وایي چې د کرامیه او اهل سنت ترمنځ دا مسئله مختلف فیها نه دی بلکه اختلاف په دې کې دی چې یو چا په ژبه اقرار وکړو خو د ده زړه بالکل خالي دی نه پکې تصدیق شته نه پکې تکذیب نو کرامیه هغه ته مومن وایي او اهل سنت ورته مومن نه وایي نو په دې اعتبار سره دا ایت د کرامیه خلاف حجت نه دی ځکه دلته د منافقانو زړه فارغ او خالي نه دي دوی په زړونو کې مکذبین دي.

يُخادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَما يَخْدَعُونَ إِلاَّ أَنْفُسَهُمْ وَما يَشْعُرُونَ

تفسیربیضاوي: (يُخادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا الخدع أن توهم غيرك خلاف ما تخفيه من المكروه لتنزله عما هو فيه، وعما هو بصدده من قولهم: خدع الضب. إذ توارى في جحره، وضب خادع وخدع إذا أوهم الحارش إقباله عليه، ثم خرج من باب آخر وأصله الإخفاء ومنه المخدع للخزانة، والأخدعان لعرقين خفيين في العنق)

ترجمه: خدعه دادی چې ته خپله سینه کې پټ راز وساتي او د خپل مقابل په زړه کې د هغې مخالف وهم پیدا کړې د دې لپاره چې ستا مقابل د کوم مقصود کوشش کوي له هغه څخه یې دو که کړې او خدع د عربو له دې قول څخه اخستل شوی (خدع الضب) چې کله سمساره خپلې سوړې ته ننوزي د غسې له ضب خادع او ضب خدع څخه ماخوذ دی دا هغه مهال ویلی شي چې کله سمساره په خپله سوړه کې د ښکار طرفته د وتلو وهم په زړه کې پیدا کړي او بیا بل طرفته او ځي خدع په

اصل کې اخفاء او پټولو ته وايي او له دې څخه مخدع مأخوذ دی په معنا د خزانې سره او اخدعان هغو دوه رګونو ته ویلی شي چې په څټ کې پټ دي.

تشریح: دلته قاضي صیب دوه بحثه کوي (۱) د خدع او مخادعې تحقیق (۲) د منافقانو او خداع مقصد.

د خدع تحقیق

لومړی بحث: یخادعون له باب مفاعلې څخه د مضارع معلوم د جمعې مذکر صیغه دی او مجرد یې له باب فتح څخه مستعمل دی او خدع اصل معنا اخفا ده ځکه خو خزانې ته هم مخدع ویلی شي او د څټ هغه دوه پټو رګونو ته هم اخدعان وايي او په عرف کې دیته وايي چې په زړه کې داسې څه وساتې چې مقابل ته یې د هغې خلاف اظهار وکړې (عما هو فیه، وعما هو بصدده) د دې لپاره چې مقابل د کوم شي کوشش کونکی او حاصلونکی وي له هغې څخه یې دوکه کړي او دا مأخوذ دی له خدع الضب، ضب خادع ضب خدع څخه دا هغه وخت ویلی چې چې کله سمساره په خپله سوړه نه د راوتلو وخت کې د ښکاري په زړه کې دا وهم پیدا کړي چې هغه له دې طرفته څخه راځي نو بیا له بل طرف نه وتختي نو سمساره دلته خلاف ما فی الضمیر کوي د اهل لغتو په نزد حارش لفظ صرف د سمسارې د ښکار لپاره استعمالیږي.

تفسیربیضاوي: (والمخادعة تكون بين اثنين. وخداعهم مع الله ليس على ظاهره لأنه لا تخفى عليه خافية، ولأنهم لم يقصدوا خديعته. بل المراد إما مخادعة رسوله على حذف المضاف، أو على أن معاملة الرسول معاملة الله من حيث إنه خليفته كما قال تعالى: مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ. إِنَّ الَّذِينَ يُبايِعُونَكَ إِنَّما يُبايِعُونَ اللَّهَ.)

ترجمه: او مخادعه د دوه کسانو ترمنځ موجوده وي او د منافقانو خدع له الله تعالی سره په خپله ظاهري معنا سره نه دی ځکه له الله جل جلاله څخه یو شی هم پټ او خفي نه دی او د منافقانو مقصد هم دا نه دی چې الله تعالی ته دې دوکه ورکړي بلکې دلته مخادعه د رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) مراد دی په تقدیر د مضاف سره ای یخادعون رسول الله او یا مطلب دا چې له

رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره مخادعه کول داسې و لکه الله تعالی سره ځکه رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د الله خلیفه دی لکه الله تعالی فرمایي: څوک چې د رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) اطاعت وکړي په تحقیق سره ده دالله تعالی اطاعت وکړو او هغه کسانو چې له رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره بیعت وکړو هغوی له الله تعالی سره بیعت وکړو.

تشریح دویم بحث: یخادعون له باب د مفاعله څخه دې او د دې باب یوه خاصه دادی چې مشارکت پکې له جانبینو څخه وي نو سوال دادی چې دلته مشارکت شته که نا ؟ که مشارکت وي بیا خو دلته اشکال هغه دا چې د مشارکت تقاضا دادی چې هر یو له جانبین څخه فاعل او مفعول یعنې هر یو به خادع او مخدوع وي د منافقانو په جانب کې خو دا معنا اخستل کې خو بل طرفته په جانب د الله تعالی دې معنا سره څه کوي هلته خو داسې تصور هم باطل دی.

جواب: تسا اشکال په هغه وخت وارد و چې ایت په خپله ظاهري معنا سره وای حالانکې دلته ایت په حذف د مضاف سره دی اصل داسې دی (یخادعون رسول الله) نو لفظ د رسول حذف شو مضاف الیه یې په ځای قایم شو. یا دا چې دلته په ایت کې مجاز فی النسبت ایقاعي دی اصلاً نسبت په دوه قسمه دی ایقاعي او اسنادي، نسبت اسنادي دیته وایي چې فعل فاعل طرفته منسوب شي او نسبت ایقاعي دیته وایي چې فعل د مفعول متعلق او په هغه باندې واقع کیدل یعنې تعلق الفعل مع المفعول ته ویلی شي بیا هر یو په دوه قسمه دی حقیقت فی النسبت اسنادي مجاز فی النسبة اسنادي حقیقت فی النسبة ایقاعي او مجاز فی النسبة ایقاعي.

(۱) حقیقت فی النسبت اسنادي د فعل د فاعل ماهوله طرفته منسوب کیدل.

(۲) مجاز فی النسبة اسنادي د فعل د فاعل غیر ماهوله طرفته منسوب کیدل.

(۳) حقیقت فی النسبة ایقاعي د فعل د مفعول ماهوله سره متعلق کیدل.

(۴) مجاز فی النسبة ایقاعي د فعل د مفعول غیر ماهوله سره متعلق کیدل.

اوس دلته په ایت کې څنګه مجاز فی النسبة ایقاعي دی هغه داسې د یخادعون مفعول حقیقي کلمه د رسول دی خو د مناسبت له وجې کلمه د جلال (الله) یې په ځای قایمه شوه مناسبت

داو چې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د الله تعالى نائب او خليفه دي نو دلته هم فعل د مفعول غير ماهوله سره متعلق شو دفع د اشكال وشوه.

تفسيربيضاوي: (وإما أن صورة صنيعهم مع الله تعالى من إظهار الإيمان واستبطان الكفر، وصنع الله معهم بإجراء أحكام المسلمين عليهم، وهم عنده أخبث الكفار وأهل الدرك الأسفل من النار، استدراجا لهم وامتثال الرسول صلّى الله عليه وسلّم والمؤمنين أمر الله في إخفاء حالهم، وإجراء حكم الإسلام عليهم مجاراة لهم بمثل صنيعهم صورة صنيع المتخادعين.

ترجمه: يا دا چې د منافقينو كومه معامله له الله تعالى سره وه چې اظهار د ايمان او اخفا د كفر وه او كومه معامله د الله تعالى له دوى سره وه چې دوى ته مهلت وركول و د دې لپاره چې په دوى د امسلمانانو احكام جاري شي له دې هرڅه سره دوى د الله تعالى په نزد خبيث ترين كفار او د درک اسفل مستحق و او د هغوى د ظاهري ايمان د بدلې وركول لپاره رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او مومنانو د الله تعالى د حكم د تعميل په بنا د هغوى حال پټول او اسلامي احكام په هغوى جاري كول دا داسې صورت دى لكه د دوه كسانو په خپل منځ د خدع په معامله كې پيدا كيږي.

تشريح: دا دريم جواب دى له هغه مخكې اعتراض څخه فرمايي چې دې ايت كې استعاره تمثيليه دى داسې چې د منافقينو معامله له الله تعالى سره چې اظهار د ايمان دى او اخفا د كفر دى او د الله تعالى معامله له دوى سره چې مهلت وركول دي او د دوى حال پټ ساتل دي د دې تشبيه يې د دوه فريبكارانو د معاملې سره وركړې دى چې وجه د شبهې يې متعدد امور دي يعنې اخفا او اظهار دي نو حاصل د جوابونو داشو چې ستا اعتراض به هلته وارد و چې ايت په ظاهري معنا سره واى.

تفسيربيضاوي: (ويحتمل أن يراد ب يُخَادِعُونَ يخدعون لأنه بيان ليقول، أو استئناف بذكر ما هو الغرض منه، إلا أنه أخرج في زنة فاعل للمغالبة، فإن الزنة لما كانت للمغالبة والفعل متى غولب فيه، كان أبلغ منه إذا جاء بلا مقابلة معارض ومبار استصحبت ذلك، ويعضده قراءة من قرأ يَخْدَعُونَ.)

ترجمه: او شاید چې له یخادعونه څخه یخدعون مراد وي، ځکه چې یخادعون د یقول بیان دی او دا ځکه چې یخادعون استئناف دی چې پکې د یقول د مقصد تذکره دی مګر په تقدیر سره یې له باب مفاعلې څخه راوړل به مبالغه وي ځکه اوزان د مفاعله لپاره د مغالبې وي او فعل کې چې کله د غلبې د حاصولو صورت اوکړی شي نو هغه زیات بلیغ ظاهرېږي له هغه صورت نه چې هغه فعل بې له معارضې صادر شوی وي نو په دې وجه وزن مفاعله مستلزم دی مبالغې ته.

تشریح: تر دې ځایه مو په دې بحث وکړ چې په یخادعون کې مشارکت دی اوس دا بیانوي چې په دې کې مشارکت نشته یخادعون له مفاعله څخه په معنا یخدعون دی او په دې کې بیا د مشارکت معنا نشته نو هغه اعتراض هم دلته نه واردیږي دلته قرینه څه دی چې یخادعون په معنا د یخدعون سره دی فرمایي چې دلته درې قرائن دي (۱) یخادعون بیان دی د یقول لپاره نو من الناس من یقول مبین او دا یې بیان په بیان او مبین کې اتحاد وي لکه څنګه چې قول خاص دی تر منافقینو دغسې به خدع هم تر منافقانو خاص وي (۲) یخادعون الله استئناف بیاني دی او استئناف بیاني هغې جملې ته ویلی شي چې د سوال په جواب کې واقع شوي وي لکه منافقانو چې کله وویل (امنّا) نو سایل سوال وکړ چې دوی خو په حقیقت کې مومنان نه دی نو بیا د امنا ویلو مقصد څه دی نو جواب وشو چې غرض د دوی مومنانو ته دوکه ورکول دي نو دا جمله غرض دی او ماقبل ورنه ذی غرض دی او په غرض او ذی غرض کې اتحاد وي نو په یقول امنا او یخادعون کې هم اتحاد راغې نو لکه څنګه چې قول د امنا له منافقانو پورې خاص و دغسې خدع هم ورپورې خاص دی او دا هغه وخت کېدی شي چې یخادعون په معنا د یخدعون شي (۳) ځینې خلکو د یخادعون په ځای یخدعون لوستلی دی نو ځکه یې په معنا د یخدعون سره اخستلی شي.

سوال: کله چې یخادعون په منعا د یخدعون و بیا یخادعون ته ضرورت و یخدعون ویل پکار و.

جواب: دا له باب مفاعله څخه مبالغتاً استعمال شوی دی ځکه مفاعله د مبالغې لپاره راځي او فعل په طور معارضې ظاهرول ابلغ وي په مقابل د غیر معارض کې یعنې مقصد دلته مبالغه وه او مبالغه خاصه د مفاعلې دی.

تفسيربيضاوي: (وكان غرضهم في ذلك أن يدفعوا عن أنفسهم ما يطرق به من سواهم من الكفرة، وأن يفعل بهم ما يفعل بالمؤمنين من الإكرام والإعطاء، وأن يختلطوا بالمسلمين فيطلعوا على أسرارهم ويذيعوها إلى منابذيهم إلى غير ذلك من الأغراض والمقاصد.)

ترجمه: او د منافقانو غرض داو چې کوم مصيبتونه نو کافرانو ته رسيږي هغه له ځان څخه دفع کړي او کوم سلوک چې له کافرانو سره کيږي هغه له دوی سره وشي لکه د عزت، اکرام او اعطا سلوک چې له مومنانو سره کيږي هغه هغه به له موږ سره هم وي او له دې سره دا هم و چې هروخت به مومنانو سره ميلاويږو او رازونو څخه به يې خبريږو او د اسلام دوښمنانو ته به يې رسوو او له دې علاوه يې نور مقاصد هم درلودل.

د فريب مقاصد

تشريح: دلته د منافقانو د خدع او دوکې مقاصد بيانوي فرمايي چې منافقانو د فريب او دوکې نه دې خبرې مقصد وې (۱) دفع د ضرر يعنې دوی مومنانوته د دې لپاره دوکه ورکړه چې ښکاره کفارو ته کوم ضرر متوجه وه لکه جهاد، جزيه وغيره له هغې څخه دوی ځان خلاص کړ (۲) د منفعت حاصلول يعنې په دې دوکې سره دوی هغه شيان حاصلول غوښتل کوچې مومنانوته حاصليدل لکه اکرام، اعزاز او له مال غنيمت څخه حصه اخستل (۳) ضرر رسول يعنې دوی به له مومنانو سره ميلاويدل او رازونه به کفارو ته ور وړل له امله به يې مومنانو ته تکليف رسيده له پرته يې نور هم ډېر اغراض او مقاصد لرل.

تفسيربيضاوي: (وَما يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ قراءة نافع وابن كثير وأبي عمرو. والمعنى: أن دائرة الخداع راجعة إليهم وضررها يحيق بهم. أو أنهم في ذلك خدعوا أنفسهم لما غروها بذلك. وخدعتهم أنفسهم حيث حدثتهم بالأماني الفارغة وحملتهم على مخادعة من لا تخفى عليه خافية. وقرأ الباقون وَما يُخَدِعُونَ، لأن المخادعة لا تتصور إلا بين اثنين وقرئ و «يَخْدِعُونَ» من خدع و «يَخِدِعُونَ» بمعنى يختدعون و «يَخِدِعُونَ» و «يخادعون» على البناء للمفعول، ونصب أنفسهم بنزع الخافض.)

ترجمه: او دوی دوکه نه کوي مګر له خپل ځان سره د يخادعون قرأت د نافع،ابن کثير او ابي عمرو دی او معنا يې دادی چې د دوی د خدع وبال هم په دوی او دد ې ضرر هم دوی ته رسيږي او يا به يې دا معناوي چې منافقانو خپلو نفسونوته خپله دوکه ورکړه او د دوی نفسونو دوی ته دوکه ورکړه چې هغوی ته يې بې فايدې ارزوګانې بيان کړې او داسې ذات سره په دوکه کولو يې اماده کړل چې په هغه هيڅ شی پټ نه دی او باقي قاريانو و مايخدعون ويلی ځکه چې د مخادعت تصور له دوونه په کم کسانو کې نه کيږي او يخدّعون (مشدد) هغه له خدّع (مشدد) څخه دی يخدعون په معنا د يختدعون يخدعون او يخادعون په صيغو د مجهول سره هم لوستل شو او د مجهول قرأت په صورت کې د انفسهم نصب په دې وجه دی چې د دې نه وړاندې حرف جر محذوف دی.

د يخادعون قرأتونه

تشريح: دلته مصنف دوه بحثه ذکر کوي (۱) د يخادعون د قرأت متعلق (۲) د انفسهم تحقيق

لومړی بحث: په يخادعون کې شپږ قرأته دي:

(۱) نافع، ابن کثير او ابی عمرو قرأت دی دوی وايي يخادعون له باب مفاعله څخه د فعل مضارع معلوم مه صيغه دی خو په دې قرأت اعتراض دی هغه دا چې.

سوال: دلته خدع تر انفسهم پورې منحصر شوه او دا حصر نه دی سهي ځکه د حصر معنا دا ده چې مخصوص له مخصوص عليه پورې مختص شي او له غير محصور څخه منفي شي نو دلته خدع له الله تعالی او رسول الله (صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) څخه منفي شوه او حال دا چې مخکې دا خبره ثابته شوه چې د دوی خدع له الله تعالی،رسول الله (صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) سره متعلق دی.

جواب: ستا اعتراض به هغه وخت وارد و چې دا مخادعت هغه مخادعت وای کوم چې مخکې ذکر شوی بلکې دلته ضمني مخادعت مراد دی يعنې چې کله منافقانو له الله تعالی دوکه کوله نو له سره يې خپل نفسونه هم دوکه کول او ځانونه يې په فريب کې مبتلا کړل د نفس په وړاندې يې دا پيش کړل چې الله تعالی او مومنانو سره چلبازي دی لکن په حقيقت کې يې نفسونه د عذاب مستحق وګرځول په دې اعتبار سره دا خادع او نفس مخدوع شو او نفس دوی ته داسې دوکه

ورکړه چې دوی ته یې قسم قسم ارزوګانې بیان کړې او له داسې ذات سره یې په دوکه کولو اماده کړل چې له هغه څخه هیڅ پټ نه دي د دوی ارزوګانې پوره نشوې او الله تعالى دوکه نشو په دې اعتبار سره نفس خادع او دوی مخدوع شول او کله چې مخادعت ضمني مراد دی نو مخادعت بین الانفس المنافقین شو په دې وجه یې په نفسونو پورې حصر سهي شو.

یا داسې وایو چې دا عبارت په خپله ظاهري معنا نه دی پاتې دا په طور د منایې یا مجاز مستعمل دی.

سوال: یخادعون د مشارکت له وجې په دوو یا زیاتو کسانو متحقق کیږي او په انفسهم پورې د انحصار په صورت کې اثنینیت او تغایر نه ثابتیږي ځکه نفس شئ او شئ کې اتحاد وي.

جواب: تغایر عام دی حقیقي وي او که اعتباري دلته که حقیقي تغایر نشته اعتباري خو شته په یو اعتبار خادع دی په بل اعتبار مخدوع او د مشارکت لپاره مطلق تغایر کافي دی.

(۲) دا له باب فتح یفتح څخه د مضارع معلوم صیغه دی ځکه که له باب مفاعله څخه شي بیا د اثنینیت ضرورت راځي او دلته د حصر په وجه اثنینیت نشته په دې وجه یخدعون لوستل کیږي.

(۳) دا له باب تفعیل څخه د مضارع معلوم صیغه دی یخدعون (بالتشدید)

(۴) دا له باب افتعال څخه د مضارع معلوم صیغه دی دا په اصل کې یختدعون و فاء د باب افتعال دال سره بدله شوه او دال په دال کې مدغم شو.

(۵) دا له باب فتح یفتح څخه د مضارع مجهول صیغه دی (یُخْدعون)

(۶) دا له باب مفاعله څخه د مضارع مجهول صیغه دی (یخادَعون)

په لومړیو څلورو قرأتونو کې انفسهم منصوب بنا بر مفعولیت دی او روستنیو دوه قرأتونو کې منصوب بنزع الحافض دی نزع الحافض معنا دا چې حرف جر حذف شي او فعل هغه طرفته برای راست متعدي شي اصل عبارت داسې عن انفسهم عن حذف شو او فعل بلا واسطه وتعدي شو.

تفسیربیضاوي: (والنفس ذات الشيء وحقیقته، ثم قیل للروح لأن نفس الحي به، وللقلب لأنه محل الروح أو متعلقه، وللدم لأن قوامها به، وللماء لفرط حاجتها إلیه،

وللرأي في قولهم فلان يؤامر نفسه لأنه ينبعث عنها أو يشبه ذاتاً تأمره وتشير عليه. والمراد بالأنفس هاهنا ذواتهم ويحتمل حملها على أرواحهم وآرائهم.)

ترجمه: نفس د ذات او حقيقت نوم دی بيا روح لپاره نوم وګرځېد ځکه چې د ژوندي شي نفس هم د روح په وجه وي او زړه ته هم روح وايي ځکه چې قلب د روح حيواني محل دی يا د روح انساني متعلق دی او وينې ته هم ويل کيږي ځکه چې د روح قيام د وينې په وجه دی او اوبو ته هم نفس ويل کيږي ځکه چې نفس اوبو ته زيات محتاج دی دغسې د نفس استعمال د عربو د قول (فلان يؤامر نفسه) مطابق د رايي لپاره هم راغلی دی ځکه چط د رائې منبع او مَنشاء نفس دیاو په دې وجه چې رايه ذات او مشير سره مشابهت لري او په ايت کريمه له نفس څخه مراد د منافقينو ذاتونه دي او د هغوی په روحونو او رايو يې هم ورحمل کولی شي.

دنفس معناګانې

تشريح؛ دلته د نفس متعلق تحقيق کوي فرمايي د نفس شپږ (۶) معناګانې دي يوه حقيقي او پنځه مجازي.

(۱) د نفس معنا حقيقي ذات دی خو په دې اعتبار يې يوازې په بدن باندې اطلاق نه کيږي بلکې ذات باري تعالی باندې يې اطلاق کيږي لکه په قصه د عيسی عليه السلام کې ذکر دي (تعلم مافى نفسي ولا اعلم ما فى نفسک) دلته له نفس څخه ذات الباري مراد دی.

(۲) روح دی بيا روح په دوه قسمه دی يو روح حيواني او بل روح انساني روح حيواني هغه لطيف بخار دی چې ټول بدن کې خوريږي او روح انساني څخه مراد نفس ناطقه دی او نفس ناطقه هغه لطيف جسم دی چې ټول بدن کې يې حلول سرياني کړی وي او مدرک وي او د نفس اطلاق په روح باندې د مجاز مرسل په طريقې سره کيږي ځکه چې د شي نفس او ذات د روح په وجه قايم وي ګڼيا چې دا سبب او مسبب دي ذکر د مسبب مراد سبب دی هم دا مجاز مرسل دی

(۳) قلب ته هم روح وايي او دا معنا يې هم مجاز دی ځکه قلب د روح حيواني محل دی او د روح انساني متعلق دی محل ځکه دی چې د قلب ګس طرفته يو جوف دی په هغې کې وينه ګرځي

او تيز جرارت په وجه ترينه بخار پورته كيږي او ټول بدن كې سرايت كوي نو ګويا قلب منبع شو او منبع په منزله د محل وي او ديته محل ويل هم مجاز دى او د روح انسان متعلق ځكه دى چې نفس ناطقه په ټول بدن كې حلول كړى ګويا چې ټول بدن سره متعلق دى چې ټول بدن سره متعلق شو نو خامخا به قلب سره متعلق وي يعنې ديته متعلق ويل هم مجاز دى .

(۴) وينې ته هم نفس وايي ځكه د نفس او ذات قيام او حقيقت هم دوينې په وجه دى نو ګويا دم او وينه سبب او نفس مسبب ذكر د مسبب مراد سبب دا هم مجاز دى .

(۵) ابو ته هم نفس ويلى شى ځكه نفس اوبو ته زيات محتاج دى ګو نفس په منزله د مسبب او اوبه په منزله د سبب وګڼل شو ځكه د انساني ژوند بقاء په اوبو وي نو ذكر د مسبب او مراد سبب دا هم مجاز شو.

(۶) نفس په معنا د رايي سره دى ځكه رايه له نفس څخه پيدا كيږي ګويا نفس انشاء شوه او رايه ناشي شوه منشاء سبب او ناشي سبب ذكر د مسبب مراد سبب دا مجاز مرسل دى .

تفسيربيضاوي: (وَما يَشْعُرُونَ لا يحسون لذلك لتمادي غفلتهم. جعل لحوق وبال الخداع ورجوع ضرره إليهم في الظهور كالمحسوس الذي لا يخفى إلا على مؤوف الحواس. والشعور: الإحساس، ومشاعر الإنسان حواسه، وأصله الشعر ومنه الشعار.)

ترجمه: او منافقان له وجې د زياتې سركشي په غفلت كې د دې احساس هم نه لري چې د خداع وبال او ضرر په دوى طرفته واپس كيدونكى دى الله تعالى دخداع وبال او ضرر دوى طرفته په درا واپس كيدو وضاحت داسې بيان كړو لكه محسوس داسې محسوس چې صرف په فاسد الحواس سړي باندې خفي وي او شعور نوم د احساس دى او حواس ظاهريه وته مشاعر الانساني وايي او اصل د شعور شعر دى او له دې څخه شعار مأخوذ دى.

تشريح: دلته د مناقفانو جهالت بيانوي هغه داسې چې دې ايت كې الله تعالى له منافقانو د احساس نفي اوكړه ځكه شعور احساس ته وايي او احساس ادراك بالحواس ظاهريه و ته وايي له همدې اصطلاح څخه مشاعر انساني هم اخستل شوې دى د شعور اصل شعر دى او شعر لمس ته

وايي او له دې څخه شعار مأخوذ دی او شعار هغې جامې ته وايي چې له بدن سره پيوسته وي نو معنا د عبارت دا شوه (ومايشعرون ای لايحسون او مفعول يې حذف دی چې بذلک دی او بذلک مشار اليه وبال او ضرر د خدع دی نو مقصد د عبارت دا شو چې دا منافقان له ځناورو هم بد تر دي ځکه ځناور خو احساس لري د خپلې نفعې او ضرر احساس کولی شي دوی د شدت غفلت له امله له احساس هم بې برخې شوي دي، وبال او ضرر د خدع له معقولاتو څخه دی خو دا وبال او ضرر دوی طرفته په واپسي کې دومره ظاهر دی لکه محسوس نو اکر که له معقولاتو څخه دی.

فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزادَهُمُ اللَّهُ مَرَضاً وَلَهُمْ عَذابٌ أَلِيمٌ بِما كانُوا يَكْذِبُونَ (۱۰)

تفسيربيضاوي: (فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ فَزادَهُمُ اللَّهُ مَرَضاً المرض حقيقة فيما يعرض للبدن فيخرجه عن الاعتدال الخاص به ويوجب الخلل في أفعاله. ومجاز في الأعراض النفسانية التي تخل بكمالها كالجهل وسوء العقيدة والحسد والضغينة وحب المعاصي، لأنها مانعة من نيل الفضائل، أو مؤدية إلى زوال الحياة الحقيقية الأبدية.)

ترجمه: د دوی په زړونو کې نو الله تعالی يې مرض نور هم زيات کړ د مرض حقيقي معنا هغه حالات دي چې د انسان بدن ته پيښيږي او بدن له مخصوص اعتدال څخه اوباسي او له امله يې د بدن په افعالو کې خلل راځي او د مجازا د مرض اطلاق په امراض نسانيه وديانديې هم کيږي هغه چې د انسان په کمال کې خلل راولي لکه جهل، بېکاره عقيده حسد ،بعض له ګناهونو سره مينه دا ټول سرې له فضايلو څخه ايساروي او رسونکي دي زوال د حقيقي ژوند ته .

د مرض حقيقي او مجازي معنا

تشريح: د مرض دوه معناګانې دی (۱) حقيقي (۲) مجازي

په معنا حقيقي سره مرض د هغو حالاتو نوم دی چې بدن ته ورپيښيږي او بدن له اعتدال څخه وباسي او له امله يې انسان داسې متأثر شي چې په صحت کې کوم کارونه کوي په هغې کې خلل پيدا شي يعنې دغه کارونه بيا نشي کولی.

او مرض مجازا امراض نفسانيه و هم ويلی شي کوم چې له پيښدو سره په تحصيل د کمال کې خلل پيدا کوي لکه جهل له علم څخه مانع دی خرابه عقيده له هدايت څخه مانع دی وغيره او ديته ځکه مرض وويل شو چې لکه څنګه چې مرض جسماني د انسان هر اندام معطل کوي له فايدې څخه دغسې روحاني امراض روح له کمالاتو منع کوي دغه راز چې کله جسماني مرض زيات شي جسم هلاک کړي دغسې چې کله روحاني مرض زور واخلي روح له ابدي ژوند څخه محروم کړي چې جنت دی.

تفسيربيضاوي: (والآية الكريمة تحتملهما فإن قلوبهم كانت متألمة تحرقاً على ما فات عنهم من الرياسة، وحسداً على ما يرون من ثبات أمر الرسول صلّى الله عليه وسلّم واستعلاء شأنه يوماً فيوماً. وزاد الله غمهم بما زاد في إعلاء أمره وإشادة ذكره، ونفوسهم كانت موصوفة بالكفر وسوء الاعتقاد ومعاداة النبي صلّى الله عليه وسلّم ونحوها، فزاد الله سبحانه وتعالى ذلك بالطبع. أو بازدياد التكاليف وتكرير الوحي وتضاعف النصر.)

ترجمه: ايت د دواړه معناګانو د مرض احتمال لري ځکه چې د منافقانو زړونه د خپل رياست په بايللو زيات غوسه و او د نبي عليه السلام په مشري او ترقي سخت غمژن و لکه څنګه به چې الله تعالی د رسول الله (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په شان کې اچتوالی راوستو او ورځ تربلې به يې مراتب لوړېدل دغسې به د منافقانو په زړونو کې غمونه زياتيدل او دا ځکه چې د دوی زړونو ته د نبي عليه السلام سره په دوښمنۍ او کفر وغيره مرضونو له امله دا مصيبت او افت رسېدل و نو الله تعالی يې دغه مرض نور هم زيات کې چې په زړه يې ورته مهر هم ولګاو او يا د زياتو احکامو او باربار وحې او مدد راتللو له امله الله د دوی مرض زيات کړ.

تشریح: دا ایت د مرض حقیقي او مجازي دواړو احتمال لري د حقیقي احتمال داسې چې د منافقانو زړونه د خپل زیاست په بایللو واقعي خفه و ځکه دوی د ریاست لپاره ابن ابی منتخب کړی و خو لکه چې نبي علیه السلام تشریف راوړ خلکو ده ته د مشرۍ تاج ورپسر کړ او اسلام ورځ تربلې ترقي او پرمخ تګ کاو نو د دوی زړونه سخت خفه اوپریشان شول یعنې چې څومره ترقي به راتلله دومره به د دوی غم زیاتیده.

(ونفوسهم كانت موصوفة بالكفر) دې عبارت سره د مجازي معنا احتمال ذکر کوي فرمایي د منافقینو په زړونو کې کفر، خرابه عقیده د نبي علیه السلام دوښمني او نور ډېر مرضونه موجود و له دې وجې ویلو شو چې د دوی زړونه په باطني امراضو مبتلاؤ ییا الله تعالی د دوی په مرضونو کې اضافه داسې وکړه چې د دوی په زړونو یې دتل لپاره مهر ولګولو او الله تعالی دوی مکلف جوړول او دوی انکار کولو او په نبي علیه السلام وحي راتلل او د دوی کفر ظاهریدل او د نبي علیه السلام ترقي د دوی دوښمني زیاتوله ګویا چې د منافقانو په روحاني مرضونو کې الله تعالی اضافه کوله.

تفسیربیضاوي: وكان إسناد الزيادة إلى الله تعالى من حيث إنه مسبب من فعله وإسنادها إلى السورة في قوله تعالى فَزَادَتْهُمْ رِجْساً لكونها سبباً ويحتمل أن يراد بالمرض ما تداخل قلوبهم من الجبن والخور حين شاهدوا شوكة المسلمين وإمداد الله تعالى لهم بالملائكة، وقذف الرعب في قلوبهم وبزيادته تضعيفه بما زاد لرسول الله صلى الله عليه وسلم نصرة على الأعداء وتبسطاً في البلاد.)

ترجمه: او د مرض د زیادت نسبت الله طرفته په دې حیثیت دی چې دا الله تعالی د فعل سبب دی او سورت طرفته چې (فزادهم رجساً) دی چې سورت هم یو سبب دی او یا کیدی شي چې له مرض نه بزدلي او د زړه کمزوري مراد وي چې کومه د هغوی زړونو ته لګیدلي وي چې کله د مسلمانانو د ترقي مشاهده وکړي او دا خبره یې په خپلو سترګو ولیده چې الله تعالی د هغوی په زړونو کې د ملائکو په زریعه رعب اچولو سره د مومنانو مدد وکړو او د زیادت مرض مطلب

دادی چې الله تعالی د خپل رسول یې مدد وکړو د دښمانو په مقابل کې او په ښارونو کې یې فراخي او وسعت ورکړو .

تشریح: دلته علامه زمحشري د یو اعتراض دفعه کوي هغه داسې چې:

سوال: فزادهم الله مرضاً کې د مرض اسناد الله تعالی طرفته شوی او مرض خو یو قبیح شی دی او (فزادتهم رجساً) کې نسبت ایت طرفته شوی او ایت طرفته نسبت تعینه الله تعالی طرفته نسبت کول دي او د معتزله و له عقیدي سره مخالفت دی.

(۱)**جواب**: علامه زمحشري له دې څخه دوه جوابونه کوي فرمایي چې الله تعالی مرض زیات نه کړو بلکې د مرض اسباب یې پیدا کړل یعنې په حیثیت د مسبب یې د الله تعالی طرفته نسبت وشو.

(۲)**جواب**: (ویحتمل أن یراد بالمرض ما تداخل قلوبهم) یا له مرض نه داسې مرض مراد دی چې نه روحاني وي او نه جسماني بلکې د زجلیت په باب کې ورته مرض ویلی شي لکه بزدلي او د زړه کمزوري دا مرض دوی ته داسې ورسېد چې دوی مسلمانانو ته په ابتدا کې ډېر په کمزورې سترګه کتل او په دې باوري و چې دا وړه ډله کامیابی نشي حاصلولی نو کله چې د مسلمانانو پرمختیا شروع شوه او ورځ تربلې ترقي کیدله او د الله تعالی له لوري مرستې او امدادونه شروع شول نو په دوی بزدلي غلبه وکړه او زړونه یې هم کمزوري شول او مرض زیادت یې دا و چې الله تعالی مسلمانانو د اسلام دائره فراخه کړه دې فراخي سره د دوی مرض زیادت وموند.

تفسیربیضاوي: (وَلَهُمْ عَذابٌ أَلِيمٌ أي: مؤلم يقال: ألم فهو أليم كوجع فهو وجيع، وصف به العذاب للمبالغة كقوله: تحيةُ بينِهِمْ ضَرْبٌ وَجِيعُ على طريقة قولهم: جد جده).

ترجمه: او د دوی لپاره دردناک عذاب دی الیم له په معنا دمولم دی ویلی شي الم فهو الیم لکه وجعٌ فهو وجیعٌ الیم مبالغةً د عذاب صفت دی لکه د شاعر دا قول (تحية بينهم ضرب وجيع) دلته وجیع صفت د ضرب دی مبالغتاً د الیم نسبت عذاب مجازي دی لکه په جد او جده کې د جد نسبت مجازي دی .

تشریح: الیم له باب سمع څخه د صفت مشبه صیغه دی د دې مصدر الماً لازمي دی په معنا د دردمند کیدلو له دې وجه نه الیم د باب افعال د اسم مفعول د مولم په معناوي.

سوال: د الیم معنا دی دردمند کیدل او درمند څنکه د عذاب صفت واقع کیږي عذاب خو درد نه محسوسوي.

جواب: د الیم نسبت عذاب ته د مبالغې له وجې مجازا شوی دی لکه د شاعر په قول کې چې د وجیع نسبت ضرب ته مجازا شوی دی معنا دا چې عذاب دومره دردناک دی چې درد له معذب څخه عذاب ته هم ررسیدلی.

او شعر پوره داسې دی:

وخيل قد ولفت بخيل = تحية بينهم ضرب وجيع

ما له ډېرو شهسوارانو سره په داسې شان مقابله وکړه چې زموږ په منځ کې د دعا او سلام د لفظي خبرو ځای دردناک ضرب وشو. د (وخیل) واو په معنا د ربّ دی

دغسې دې مثال د جد جده کې هم د کامیابي نسبت جد ته مجازا دی ځکه کوشش نه کامیابیږي بلکې کوششزکونکی کامیابیږي.

تفسیربیضاوي: (بِما كانُوا يَكْذِبُونَ قرأها عاصم وحمزة والكسائي، والمعنى بسبب كذبهم، أو ببدله جزاء لهم وهو قولهم آمنا. وقرأ الباقون يُكَذِّبُونَ، من كذبه لأنهم كانوا يكذبون الرسول عليه الصلاة والسلام بقلوبهم، وإذا خلوا إلى شياطينهم. أو من كذَّب الذي هو للمبالغة أو للتكثير مثل بين الشيء وموتت البهائم. أو من كذب الوحشي إذا جرى شوطاً وقف لينظر ما وراءه فإن المنافق متحير متردد.)

ترجمه: یکذبون بالتخفیف د عاصم، حمزه او کسایي قرأت دی معنا دا چې د دهغوی د دروغو ویلو په وجه او د دروغو په بدله کې او د دروغو په امنا ویلو سره د هغوی لپاره درناک عذاب دی او باقي قرأحضراتو یکذبون تشدید سره ویلی دی او دا ماخود دی له کذّبه څخه ځکه هغوی رسول الله (ﷺ) په زړونو کې دروغژن ګڼلو او کله به چې خپلو شیطانانو سره یوځای شول بیا به یې په ژبې سره هم دروغژن ګڼلو او یا مأخوذ دی له کذّاب بالتشدید څخه؟

چې د مبالغې او كثرت لپاره راځي لكه (بيّن الشي) شی ښه واضحه شو او (موتت البهائم) زيات ځناور مړه شول او له كذب الوحشی څخه مأخوذ دی دا هغه مهال ويلی شي چې كله دا ځناور لږلږي لاړ شي او په شا ګوري منافق هم په خپله معامله متحير او متردد وي.

تشريح: په يكذبون كې دوه قرأته دي عاصم ، حمزه او كسايي يې بالتخفيف نقلوي او باقي قاريان يې بالتشديد نقلوي د تشديد په صورت كې څلور احتماله دي (۱) دا له كذبه څخه ماخوذ دی په معنا دروغ ګڼل نو منافقانو به هم نبي عليه السلام دروغژن ګڼلو (۲) دا له كذّاب بالتشديد څخه ماخوذ دی چې دې كې مبالغه بالكيف دی معنا دا چې د دوی لپاره به دردناک عذاب وي د شدت تكذيب په وجه (۳) يا له كذب څخه ماخوذ دی چې دېكې مبالغه فی الكم دی نو معنا دا چې د دوی لپاره به دردناک عذاب وي د دوی د باربار دروغو ګڼلو په وجه (۴) دا ماخود دی له كذب الوحشی څخه دې صورت كې به كذب لازم شي او معنا به يې متردد كيدل نو منافقان له تردد څخه ډک و.

ابوالبقاء وايي چې (بما)كلمه د ما موصوله او مصدريه دواړه كيدلی شي خو موصوله زيارته ظاهره دی خو قاضي صيب د مصدريت قايل دی ځكه خو د يكذبون تفسير په كذبهم سره كوي بيا ابوالبقاء وايي چې كان ماضي دی او يكذبون مضارع د دواړو اجتماع ځكه سهي دی چې دلته استمرار مقصود دی.

تفسيربيضاوي: والكذب: هو الخبر عن الشيء على خلاف ما هو به. وهو حرام كله لأنه علل به استحقاق العذاب حيث رتب عليه. وماروي أن إبراهيم عليه الصلاة والسلام كذب ثلاث كذبات، فالمراد التعريض. ولكن لما شابه الكذب في صورته سمي به.

ترجمه: او كذب ويل كيږي د يو شي خلاف واقع خبر وركولو ته او كذب سره له ټول اقسامو حرام دی ځكه چې كذب باندې الله تعالى عذاب مرتب كړی او كذب يې د عذاب د استحقاق علت ګرځولی دی او په رواياتو كې چې راځي چې ابراهيم عليه السلام درې ځله دروغ ويلي له څخه مراد تعريض دی لكن صورتا له كذب سره مشابه دی له دې وجې ورته كذب وويلی شو .

د کذب حکم

تشريح: کذب وايي خلاف واقع خبر ورکولو ته قاضي صيب وايي چې د کذب ټول انواع حرام دي خو د حنافو په نزد دروغ په دريو ځايو کې جايز دي (۱) د مسلمانانو د تر مينځ د صلحې کولو په وخت کې (۲) له دوښمن سره په وخت د جهاد کې (۳) خپلې ښځې ته. امام غزالي په احياء العلوم کې يوه قاعده بيان کړې هغه فرمايي چې کلام مقصد ته د رسولو ذريعه دی نو که مقصد محمود ته د صدق او کذب په واسطه رسيدل ممکن وي نو کذب حرام دی او که مقصد ته صرف د کذب له لارې رسېدل ممکن و بيا به وګورو چې حصول د دې مقصود مباح دی که واجب که مباح و نو کذب هم مباح دی او که واجب نو بيا کذب هم واجب دی له دينه معلومېږي چې کذب بذاته حرام نه دی خو لکن د کثرت ضرر له وجې حرام دی.

سوال: کله چې د کذب تمام اقسام حرام و نو بيا ابراهيم عليه السلام ولې درې ځايه دروغ ويلي (۱) هغه وخت چې کله قول عيدګاه ته له ځان سره بو ولو نو ده ورته وويل (اني سقيم) حالانکه هغه مريض نه و (۲) کله يې چې بوتان مات کړل بيا يې تبر د غټ بوت په غاړه کې ورواچولو کفارو چې کله د بوتانو دا حال وليده نو له ده يې وپوښتل چې دا کار چا وکړ هغه ورته وويل (بل فعله کبيرهم) حالانکه ټول کار ده پخپله کړی و (۳) کله چې د شام باچا له ده څخه د بي بي په اړه پوښتنه وکړه چې دا څوک دی ده ورته وويل (هذه اختي) حالانکه هغه يې خور نه وه ښځه يې وه.

جواب: په دغو ټولو ځايونو کې د ابرهيم عليه السلام مراد تعريض و تعريض معنا دا چې يو کلام دوه اړخه لري ته يو ته اشاره وکړې او بل ترينه واخلې لکن ظاهراً کذب معلوميده نو ځکه په حديث کې ورته کذب وويل شول له اني سقيم څخه باطني مرض مراد و چې زه ستاسو بوت پرستي باندې خفه يم او (بل فعله کبيرهم) څخه مطلب په هغوی حجت قايمول و چې ستاسو خدايان د ځان دفاع نشي کولی نو معبود به څنګه شي او له (هذه اختي) نه مراد ديني خور وه.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ (۱۱)

تفسير بيضاوي: (وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لاَ تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ عطف على يَكْذِبُونَ أو يَقُولُ. وما روي عن سلمان رضي الله عنه أن أهل هذه الآية لم يأتوا بعد فلعله أراد به أن

أهلها ليس الذين كانوا فقط، بل وسيكون من بعد من حاله حالهم لأن الآية متصلة بما قبلها بالضمير الذي فيها.)

ترجمه: او کله چې دوی ته وویلی شي چې د ځمکې په سر فساد مه خوروئ دا ایت په یکذبون ورعطف دی او له سلمان (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) څخه روایت دی چې د دې ایت مصداق تر اوسه پورې نه دی کیدایشي چې له دې څخه مراد یوازې هغه منافقان نه وي کوم چې د نبوت په زمانه کې و بلکې له هغوی نه پس هم چې د چا دغه حال کوم چې د منافقانو و هغوی هم د دې ایت مصداق دي او تاویل په دې وجه وکړی شو چې دا آیت د خپل ضمیر په وجه له ماقبل سره تعلق لري.

تشریح: دلته دوه بحثونه کوي (۱) ترکیب (۲) د یو اعتراض جواب.

لومړی بحث: د ترکیب په اعتبار سره دوه احتماله لري اول دا چې دا (اذا) شرط سره له جزا نه په یکذبون ورعطف دی نو بیا به د کان د خبریت په وجه به محلاً منصوب وي نو معنا به دا شي د منافقانو لپاره دردناک عذاب دی د دروغو ویلو په وجه او چې دوی ته وویل شي چې فساد مه کوئ دوی وایي نحن مصلحون. دویم یا دا عطف دی په یقول باندې په دې تقدیر به دې لره محل د اعراب نه وي ځکه یقول د من لپاره صله دی او صله اعراب محلي نه لري نو معنا به دا شي چې ځینې داسې کسان دي چې د ایمان دعوه کوي بیا چې ورته وویل شي فساد مه کوئ دوی وایي نحن مصلحون. د علامه شیخزاده په نزد لومړی ترکیب راجح دی ځکه هلته د معطوف او معطوف علیه ترمنځ فصل لازم نه ځي.

دویم بحث: وما روي عن سلمان رضي الله عنه دې سره یو اعتراض کوي فرمایي دا دواړه ترکیبنو باطل دي ځکه د دې تراکیبو تقاضا دا دی چې دا کلام به د ماقبل کلام لاندې داخل وي نو لازم به شي چې کوم مصداق د ماقبل کلام هغه به د ده هم مصداق وي او حال دا چې سلمان رضي الله عنه فرمایي چې د دې آیت مصداق تر اوسه نه دی راغلی.

جواب: د سلمان (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) مقصد حصر نفي کول دي یعنې د دې ایت مصداق یوازې د نبوت د وخت منافقان نه دي بلکې که اینده هم داسې خلک وه هغه یې هم مصداق دي د دې تاویل ضرورت ځکه پیښ شو چې دې جمله کې ضمیر ماقبل (من یقول) کې من ته راجع دی نو معلومه شوه چې دا ایت له ماقبل سره متصل دی.

تفسيربيضاوي: (والفساد: خروج الشيء عن الاعتدال. والصلاح ضده وكلاهما يعمان كل ضار ونافع. وكان من فسادهم في الأرض هَيْجُ الحُروب والفتن بمخادعة المسلمين، وممالأة الكفار عليهم بإفشاء الأسرار إليهم، فإن ذلك يؤدي إلى فساد ما فى الأرض من الناس والدواب والحرث. ومنه إظهار المعاصي والإهانة بالدين فإن الإخلال بالشرائع والإعراض عنها مما يوجب الهرج والمرج ويخل بنظام العالم. والقائل هو الله تعالى، أو الرسول صلّى الله عليه وسلم، أو بعض المؤمنين وقرأ الكسائي وهشام (قُيْل) بإشمام الضم الأول.)

ترجمه: يو شى له خپل اعتدال څخه خارج كيدلو ته فساد وايي او په اعتدال سره اوسيدلو ته صلاح وايى له فساد څخه هر مضر او له صلاح څخه هر نافع شى مراد دى د منافقانو په ځمكه باندې فساد دا و چې له مسلمانانو سره دوى دوكه كوله او د مسلمانانو مقابل كې يې د كفارو مرسته كوله او هغوى ته يې د راز خبرې رسولې چې له امله يې فساد خور شو او دې شيانو ته فساد ځكه ويل كېږي چې دا ټول د هغو شيانو لپاره د فساد سبب دى كوم چې په ځمكه اوسيږي لكه خلك څاروي او پټې وغيره او د ګناه اظهار هم له همدې قبيلې څخه دى ځكه په شريعت كې پابندې او بيزارې له هغو كارونو څخه وي چې له هغې نه د فساد سبب جوړيږي او له امله يې په نظام عالم كې فساد راځى او د (لاتفسدوا) ويونكى يا الله تعالى دى يا رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دى او يا مومنان دي او امام كسايي او هشام قيل د ضمي په اشمام سره ويلى دى.

صلاح او فساد

تشريح: يو فساد دى او ددې ضد دى چې صلاح ورته ويلى شي فساد ويلى شي ديته چې يو شى له خپل اعتدال څخه ووزي او كناه ته هم ځكه فساد ويلى شي چې ګناه هم د شريعت له معتدل چوكاټو څخه سرغړونه ده او صلاح ويلى شي يو شي په اعتدال پاتې كيدلوته ييا دا معنا عامه شوه هر مضر شي ته فساد او هر نافع شي ته صلاح وايي، نو الله تعالى منافقانو ته فرمايي فساد مه كوي په ځمكه كې چې د مومنانو رازونه كفارو ته ورئ او هم له كفارو سره د مومنانو په مقابل كې مرسته كوي.

(وقرأ الكسائي وهشام (قُيْل) بإشمام الضم الأول) دې عبارت سره د قيل قرأت بيانوي فرمايي چې امام کسايي او امام هشام (قِيْلَ) د ضمي په اشمام سره ويلی دی يعني ضمه ياء طرفته مايله کوي (قُيْلَ)

تفسیربیضاوي: (قالُوا إِنَّما نَحْنُ مُصْلِحُونَ جواب ل إذا رد للناصح على سبيل المبالغة، والمعنى أنه لا يصح مخاطبتنا بذلك، فإن شأننا ليس إلا الإصلاح، وإن حالنا متمحضة عن شوائب الفساد، لأن (إنما) تفيد قصر ما دخلت عليه على ما بعده. مثل: إنما زيد منطلق، وإنما ينطلق زيد، وإنما قالوا ذلك: لأنهم تصوروا الفساد بصورة الصلاح لما في قلوبهم من المرض كما قال الله تعالى: أَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ حَسَناً.)

ترجمه: دا د (اذا قيل لهم لا تفسدوا) جواب دی او مبالغې سره د ناصح ترديد دی معنا دا چې موږ لره د لاتفسدو مخاطب جوړول صحيح نه دي ځکه زموږ شان له اصلاح څخه غير بل شی نه دی او زموږ حال له فساد څخه پاک دی دا ځکه چې کله (انما) د خپل مدخول له مابعد سره د خاص کولو لپاره راځي لکه انما زيد منطلق او انما منطلق زيد او منافقانو (انما نحن مصلحون) ځکه ويلی و چې هغو ته خپل فساد د صلاح په صورت ښکاريده د هغوی د نظر خرابي د باطنې بيمارۍ په وجه وه لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي (أَفَمَنْ زُيِّنَ لَهُ سُوءُ عَمَلِهِ فَرَآهُ حَسَناً) ايا هغه کس چې د هغه بد عمل د هغه په نظر کې ښه ښکاره شو او هغه عمل يې نيک وګڼلو د مخلص مومن برابر کيدلی شي؟

تشريح: دلته د انما نحن مصلحون ترکيب او له ماقبل سره ربط بيانوي نو فرمايي انما نحن مصلحون جزا دی د ماقبل ايت (واذا قيل لهم) لپاره او ربط دادی چې دې سره د ناصح له مبالغې سره ترديد کوي او مبالغه له دوه شيانو څخه پيدا شوي دی (۱) جملې اسميې ذکر کولو سره چې دا په دوام استمرار دلالت کوي (۲) په شروع کې د انما راوړلو سره چې دا په حصر دلالت کوي انما خپل مدخول له مابعد پورې منحصر کوي دلته په ايت کې هم په انما سره حصر د افرادو دی يعني په افرادو کې شرکت نفي کوي کله چې هغوی ته وويل شي چې فساد مه کوئ هغوی ته خو ځانونه

مصلح ښکاري نو دوی وايي چې زموږ ناصح موږ. د صلاح او فسد په مینځ کې ګنهي نو هغوی د فساد د سرکت نفي اوکړه او ځپل ځانونه یې تر صلاح منحصر کړل او ناصح ته یې یقین ورکړ چې صلاح نه علاوه دلته د فساد شایبه هم نشته.

(وإنما قالوا ذلك: لأنهم تصوروا الفساد بصورة الصلاح) دې سره د یوې شبهې ازاله کوي هغه داسې چې فساد خو امر محسوس دی ایا منافقینو دا هم نه پیژندہ چې دیته یې صلاح ویلې قاضی صیب جواب ورکوي فرمايي چې فساد صلاح ګنل د هغوی د قلبی بیمادی په وجه و لکه د ملیریا مریض ته هر څه هر خه ښکاري.

أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلكِنْ لا يَشْعُرُونَ (١٢)

تفسیربیضاوي: (أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلكِنْ لاَّ يَشْعُرُونَ رد لما ادعوه أبلغَ رد للاستئناف به وتصديره بحرفي التأكيد: (ألا) المنبهة على تحقيق ما بعدها، فإن همزة الاستفهام التي للإنكار إذا دخلت على النفي أفادت تحقيقاً، ونظيره (أليس ذلك بقادر) ، ولذلك لا تكاد تقع الجملة بعدها إلا مصدرة بما يتلقى به القسم، وأختها أما التي هي من طلائع القسم: وإن المقررة للنسبة، وتعريف الخبر وتوسيط الفصل لرد ما في قولهم (إنما نحن مصلحون) من التعريض للمؤمنين، والاستدراك ب لا يَشْعُرُونَ.)

ترجمه: خبردار بیشکه همدغه خلک مفسدین دي خو لکن دوی شعور نه لري دا د منافقانو د دعوې بلیغ تردید دی او دا رد له څو وجو څخه بلیغ دې (۱) د جملې د استیناف په . جه (۲) په شروع کې یې د دوه حروف تاکید راوړلو په وجه چې یو (أَلا) دی چې د خپل مابعد په تحیق باندې دلالت وي ځکه چې همزه استفهامي کله په نفي باندې داخله شي هغه تحقیق فایده کوي لکه په (أليس ذلک بقادر) کې له همدې وجې د أَلا نه روسته جملې په پیل کې حرف قسم راوړل ضروري دي د دې مثال (اما) دی چې د قسم له علاماتو څخه دی او بل دویم (ان) دی چې د نسبت د تاکید لپاره راځي (۳) د خبر د معرفې راوړلو په ذریعه (۴) په مینځ کې د ضمیر فصل راوړلو له وجې او په ضمیر فصل سره د دوی د دې تعریض تردید وشو (انما نحن مصلحون) دی او دا یط له مسلمانانو سره کړی و (۵) د حرف استدراک نه روسته د لايشعرون ذکر کولو سره.

د بلیغ تردید وجوه

تشریح: په دې سره الله تعالی د منافقانو د (انما نحن مصلحمون) دعوې په بلیغې طریقې سره تردید کړی دی او دلته ابلغیت له پنځو وجوه څخه پیدا شوی دی (۱) دا کلام یې جمله مستأنفه ذکر کړی او جمله مستأنفه د سوال مقدر جواب وي ګویا چې دلته سوال وشو چې مناقان په خپله دعوه کې رېښتونې دي که دروغژن الله تعالی جواب ورکړ چې نه دروغژن او مفسدین دي (۲) د دې ایت په سر کې دوه حروف د تاکید راوړل شوي دي یو اَلا دی چې د مابعد په تحقیق دلالت کوي ځکه دا همزه د استفهام انکاري دی او دا همزه چې په نفي داخله شي تحقیق فایده کوي لکه څنګه چې په (ألیس ذلك بقادر) اثبات او تحقیق فایده کړی کله چې اَلا لپاره د تحقیق شو نو ځکه د دې په مابعد په حرف قسم داخلیږي لکه اما چې د قسم په سر کژ راځي دغسې اَلا هم دی لکه شاعر وایي:

اما والذي ابکی واضحک والذي === امات واحيي والذي امره امر
لقد ترکتني احسد الوحش ان اری ===والیقین منها لا یروعهماالدهر

خبردار قسم په هغه ذات چې ژړول او خندول کوي او د چا په قدرت کې چې مرګ او ژوند دی او د چا حکم چې حقیقي حکم دی ماله زما محبوبې داسې حال کې پرېښودم چې وحشي ځناور ووینم نو حسد کوم چې هغه خپلو کې جوړه جوړه ګرځي او د هغوی په زړه کې د زمانې خوف نشته، و او بل اِن دی چې د نسبت د تاکید لپاره راځي.

(۳) خبر (المفسدون) یې معرفه ذکر کړو او په تعریف د خبر سره عموما قصر د مسند علی المسند الیه فایده وي او کله برعکس هم وي دلته هم منافقانو ځانو تر صلاح پورې منحصر کړي و نو دا برعکس فساد پورې منحصر شول.

(۴) په مینځ کې ضمیر فصل راوړلی شو او ضمیر فصل سره د هغوی د تعریض جواب وشو هغوی اما نحن مصلحون ویلي و الله تعالیورته وویل انهم هم المفسدون.

(۵) د حرف استدراک (لکن) نه روسته لايشعرون راوړلو سره منافقان د ځناورو له درجې هم لاندې وغورځيدل ځکه شعور حواس خمسه و سره يو شي ادراک کولو ته وايي او شعور ځناور هم لري کله چې دوی فساد چې امر محسوس دی نه پېژنده نو معلومه شوه چې بې شعوره دي.

(وَإِذا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَما آمَنَ النَّاسُ قالُوا أَنُؤْمِنُ كَما آمَنَ السُّفَهاءُ أَلا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهاءُ وَلٰكِنْ لا يَعْلَمُونَ (۱۳)

تفسيربيضاوي: (وَإِذا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا من تمام النصح والإرشاد فإن كمال الإيمان بمجموع الأمرين: الإعراض عما لا ينبغي وهو المقصود بقوله: لاَ تُفْسِدُوا، والإتيان بما ينبغي وهو المطلوب بقوله: آمَنُوا.

ترجمه: دا آيت د نصيحت او ارشاد تکميل دی ځکه چې د ايمان کمال په شيانو حاصليږي يو له نامناسب شي څخه ځان پچ کول او مناسب شيان پوره کول تفسدون څخه اول شی مراد دی او له امنوا څخه دويم شی مراد دی.

تشريح: دا آيت د ماقبل نصيحت لپاره تکمله دی ځکه يو شي کې د کمال حاصلولو دوه لاري دي (۱) چې کوم شي د هغې خلاف وي له هغې نه پرهيز وکړې (۲) چې کوم شي مناسب وي هغه خپل کړې نو په ايمان کې هم کمال په همدې دوه لارو حاصليږي ناصح چې کله وويل لاتفسدوا نو دوی ته يې وشوده چې د ايمان له مضراتو څخه ځانو وژغورئ او په امنوا سره نصيحت کوي چې مناسبات د ايمان خپل کړئ نو دا نصيحت د ماقبل نصيحت لپاره تکميل شو.

تفسيربيضاوي: (كَما آمَنَ النَّاسُ في حيز النصب على المصدر، وما مصدرية أو كافة مثلها في ربما، واللام في الناس للجنس والمراد به الكاملون في الإنسانية العاملون بقضية العقل، فإن اسم الجنس كما يستعمل لمسماه مطلقاً يستعمل لما يستجمع المعاني المخصوصة به والمقصودة منه، ولذلك يسلب عن غيره فيقال:

زيد ليس بإنسان، ومن هذا الباب قوله تعالى: صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ ونحوه وقد جمعهما الشاعر في قوله: إذ الناسُ ناسٌ والزمانُ زمان.)

ترجمه: کما امن الناس د مفعول مطلق کیدو په وجه منصوب دی محلاً دی او ما یا مصدریه او یا کافه دی لکه په ربما کې چې کافه دی او په الناس کې لام لپاره د جنسیت دی او مراد ترینه هغه خلک دي چې انسانیت کې کامل دي او د عقل په تقاضا عمل کوي .

تشریح: دلته دوه بحثونه کوي (۱) په ما د کما کې (۲) په الف لام د الناس کې .

لومړی بحث: په ما کې دوه احتماله دي (۱) مصدري (۲) کافه که کا مصدریه شي بیا به دا کاف اسمي وي او که ما کافه شي بیا به کاف حرفي وي . ما مصدریه دیته وایي چې خپل مابعد په معنا دمصدر سره ګرځوي او ما کافه دیته وایي چې ماقبل په مابعد کې له عمل کولو بندوي لکه په ربما کې نو که ما مصدریه شي امن الناس به د مفعول مطلق د صفت کیدو په وجه منصوب وي تقدیر به داسې شي: امنوا ایمانا مشابها لایمان الناس، او که ما کافه شي نو بیا به د مصدر مقدر نه د خالي کیدو په وجه منصوب وي .

دویم بحث: په الناس کې الف لام د جنسیت احتمال هم لري او د عهد خارجي احتمال هم لري دلته د جنسیت خبره کوو فرمایي چې الف لام جنسي شي معنا به داشي ایمان راوړئ لکه څنګه چې جنس خلکو ایمان راوړی و .

سوال: که الف لام جنسي شي بیا خو معنا باطله ده ځکه جنس ټولو خلکو ته شامل وي او ټول خلک خو مومنان نه دي ،

ځواب: دلته له جنس څخه کامل افراد مراد دي او هغه خلک مراد دي چې د عقل په تقاضا باندې عمل کوي او عقل په الله تعالی او د هغه په رسول باندې د ایمان راوړلو دعوت ورکوي په دې وجه بعضې افراد مراد دي .

تفسیربیضاوي: (أو للعهد، والمراد به الرسول صلّى الله عليه وسلّم ومن معه. أو من آمن من أهل جلدتهم كابن سلام وأصحابه والمعنى آمنوا إيماناً مقروناً بالإخلاص متمحضاً عن شوائب النفاق مماثلاً لإيمانهم.)

ترجمه: یا الف لام عهد خارجي دی او له دینه رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او صحابه کرام مراد دي او د هغوی په جماعت او تولي کې ایمان راوړونکي خلک مراد دي لکه عبد الله بن سلام او د هغه ملګري رضي الله عنهم او دایت معنا دا دی چې داسې ایمان راوړئ چې له اخلاص څخه ډک وي او له نفاق څخه پاک وي د مخلصینو دایمان په شان.

تشریح: په الف لام کې بل احتمال د عهد خارجي دی نو په دې صورت کې به رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او صحابه کرام مراد دي او یا عبد الله بن سلام او ملګري یې مراد دي.

سوال: په الف لام عهدي کې تعین ضروري وي صریحي تعین وي او ضمني وي دلته چې ته خو هیڅ تعین نشته ځکه مخکې نه د رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او نه د نورو صحابه کرامو ذکر شوی.

جواب: دا ضروري نه دی چې تعین دې په الفاظو سره شوی وي بلکې کله کله تعین ذهني هم د تعین لفظي قایم مقام ګرځي نو دلته هم د منافقانو په زړونو کې مخلص مومنان متعین وو له دې وجې یې تعین لفظي ته ضرورت پېښ نه شو.

(من أهل جلدتهم) جلد د جیم په فتحې او کسرې دواړو سره استعمالیږي په معنا د ډلې.

تفسیر بیضاوي: (واستدل به علی قبول توبة الزندیق وأن الإقرار باللسان إیمان وإن لم یفد التقیید)

ترجمه: له دې ایت څخه په دې خبره استدلال شوی دی چې د زندیق توبه قبوله دی او دا مسئله هم ترینه ثابته دی چې اقرار باللسان ایمان دی ورنه دې لره مقید کول بې فایدې دي.

د زنديق توبه

تشريح: دلته له ايت څخه دوه مسئلې ثابتوي (۱) د زنديق توبه قبليږي او که نا؟ (۲) اقرار باللسان ايمان دی.

لومړی مسئله: د جمهورو فقهاو په نزد زنديق هغه چاته ويلی شي چې د اسلام اظهار وکړي او کفر پټ کړي[۱]

امام دسوقي رحمه الله وايي په ابتدا کې به ديته منافق ويل کيده فقهاو ورته زنديق نو کېښود، د فقهاو په دې اتفاق دی چې زنديق کافر دی خو اختلاف په دې کې دی چې د زنديق توبه قبليږي او که نه؟

بعض احناف او مالکيه وايي که زندقه يې مشهوره شوې وه بيا به قتلولی شي توبه يې نه قبليږي او که زندقه کې نه وه مشهوره بيا به نشي قتلولی توبه يې قبليږي خو علامه ابن عابدين رحمه الله د قاضيخان په حواله وايي چې که زنديق توبه وستلې وي او ونيول شي نو توبه به يې قبلوی شي او په دې قول فتوا هم دی او يو قول د احنافو دا هم دی چې قتلولی به شي توبه يې نه قبليږي او شوافع او حنابله وايي چې توبه د زنديق قبليږي ځکه چې منافق هم له زنادقه و څخه دي او بيا هم د ايمان حکم ورکړل شوی او د اخلاص مطالبه ترينه شوېده نو معلومه شوه چې ايمان يې توبه يې مقبوله دی[۲]

---

(۱)الزَّنْدَقَةُ لُغَةً : الضِّيقُ ، وَقِيلَ : الزِّنْدِيقُ مِنْهُ ؛ لأَنَّهُ ضَيَّقَ عَلَى نَفْسِهِ ، وَفِي التَّهْذِيبِ : الزِّنْدِيقُ مَعْرُوفٌ ، وَزَنْدَقَتُهُ أَنَّهُ لا يُؤْمِنُ بِالآخِرَةِ وَوَحْدَانِيَّةِ الْخَالِقِ ، وَقَدْ تَزَنْدَقَ ، وَالاسْمُ : الزَّنْدَقَةُ ، قَالَ ثَعْلَبٌ : لَيْسَ فِي كَلامِ الْعَرَبِ زِنْدِيقٌ ، وَإِنَّمَا تَقُولُ الْعَرَبُ : زَنْدَقٌ وَزَنْدَقِيٌّ إِذَا كَانَ شَدِيدَ الْبُخْلِ ، فَإِذَا أَرَادَتِ الْعَرَبُ مَعْنَى مَا تَقُولُ الْعَامَّةُ قَالُوا : مُلْحِدٌ وَدَهْرِيٌّ (بِفَتْحِ الدَّالِ) ، فَإِذَا أَرَادُوا مَعْنَى السِّنِّ قَالُوا : دُهْرِيٌّ (بِضَمِّ الدَّالِ) لسان العرب ، والمصباح المنير ، وكشاف القناع ٦ / ١٧٧ . . وَالزَّنْدَقَةُ عِنْدَ جُمْهُورِ الْفُقَهَاءِ إِظْهَارُ الإِسْلامِ وَإِبْطَانُ الْكُفْرِ ، فَالزِّنْدِيقُ هُوَ مَنْ يُظْهِرُ الإِسْلامَ وَيُبْطِنُ الْكُفْرَ . قَالَ الدُّسُوقِيُّ : وَهُوَ الْمُسَمَّى فِي الصَّدْرِ الأَوَّلِ مُنَافِقًا ، وَيُسَمِّيهِ الْفُقَهَاءُ زِنْدِيقًا .
وَعِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ وَبَعْضِ الشَّافِعِيَّةِ الزَّنْدَقَةُ : عَدَمُ التَّدَيُّنِ بِدِينٍ ، أَوْ هِيَ الْقَوْلُ بِبَقَاءِ الدَّهْرِ وَاعْتِقَادُ

(۲)يَتَّفِقُ الْفُقَهَاءُ عَلَى أَنَّ الزَّنْدَقَةَ كُفْرٌ ، فَمَنْ كَانَ مُسْلِمًا ثُمَّ تَزَنْدَقَ ، بِأَنْ صَارَ يُبْطِنُ الْكُفْرَ وَيُظْهِرُ الإِسْلامَ ، أَوْ صَارَ لا يَتَدَيَّنُ بِدِينٍ ، فَإِنَّهُ يُعْتَبَرُ كَافِرًا ، إلا أَنَّ الْفُقَهَاءَ اخْتَلَفُوا فِي اسْتِتَابَتِهِ وَفِي قَبُولِ تَوْبَتِهِ وَبَيَانُ ذَلِكَ فِيمَا يَلِي :
يُفَرِّقُ الْحَنَفِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ بَيْنَ مَنْ تَابَ قَبْلَ الاطِّلاعِ عَلَيْهِ وَالْعِلْمِ بِزَنْدَقَتِهِ ، وَبَيْنَ مَنْ أُخِذَ قَبْلَ أَنْ يَتُوبَ ، فَمَنْ كَانَ زِنْدِيقًا ثُمَّ تَابَ إِلَى اللَّهِ وَرَجَعَ عَنْ زَنْدَقَتِهِ ، وَتَقَدَّمَ مُعْلِنًا تَوْبَتَهُ قَبْلَ أَنْ يُعْرَفَ ذَلِكَ عَنْهُ قُبِلَتْ تَوْبَتُهُ وَلا يُقْتَلُ ، وَهَذَا هُوَ مَذْهَبُ الْمَالِكِيَّةِ وَفِي رِوَايَةٍ عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ ، فَقَدْ ذَكَرَ صَاحِبُ الدُّرِّ الْمُخْتَارِ نَقْلا عَنِ الْخَانِيَّةِ أَنَّ الْفَتْوَى عَلَى أَنَّ الزِّنْدِيقَ إِنْ أُخِذَ بَعْدَ أَنْ تَابَ قُبِلَتْ تَوْبَتُهُ - وَبِهَذَا قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ - وَالْقَوْلُ الثَّانِي عِنْدَ الْحَنَفِيَّةِ أَنَّهُ يُقْتَلُ وَلا تُقْبَلُ تَوْبَتُهُ .

مسئله د ايمان

دويمه مسئله: يوازې اقرار باللسان ته ايمان ويل كيږي اخلاص قلبي وي او كه نه وي ځكه الله تعالى (امنوآ) مقيد كړى له قيد د (كما امن الناس) سره يعني ايمان راوړئ داسې ايمان چې له اخلاص څخه ډک وي نو كه يوازط اقرار باللسان ايمان نه واى نو كما امن الناس قيد زياتولو سره به اخلاص طرفته د اشارې بلكل ضرورته نه و ځكه هغه پخپله له امنوا څخه معلوميدله خو اصل خبره دا دى چې ايمان په دوه ډوله دى (۱) ظاهري (۲) ايمان حقيقي. ايمان ظاهري سره دنيوي فايده حاصليږي لكه مال او جان به دې محفوظ وي او حقيقي ايمان سره نجات حاصليږي ايمان ظاهري يوازې په اقرار سره هم حاصليږي او ايمان حقيقي بغير له تصديق او اخلاص نه

وَإِنِ اطَّلَعَ عَلَيْهِ قَبْلَ أَنْ يَتُوبَ وَرُفِعَ إِلَى الْحَاكِمِ فَلا تُقْبَلُ تَوْبَتُهُ وَيُقْتَلُ ، وَطَرِيقُ الْعِلْمِ بِحَالِهِ إِمَّا بِاعْتِرَافِهِ أَوْ بِشَهَادَةِ بَعْضِ النَّاسِ عَلَيْهِ ، أَوْ يُسِرُّ هُوَ بِحَالِهِ إِلَى مَنْ أَمِنَ إِلَيْهِ وَالْخِلافُ فِي قَبُولِ التَّوْبَةِ وَعَدَمِهَا إِنَّمَا هُوَ فِي حَقِّ الدُّنْيَا ، أَمَّا فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللَّهِ تَعَالَى فَتُقْبَلُ تَوْبَتُهُ بِلا خِلافٍ .(حاشية ابن عابدين ۳ / ۲۹۲ ، ۲۹۳ ، ۲۹۶ ، ۲۹۷ ، وحاشية الدسوقي على الشرح الكبير ٤ / ۳۰٦ . .)

هَذَا مَذْهَبُ الْحَنَفِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةِ .

أَمَّا الشَّافِعِيَّةُ وَالْحَنَابِلَةُ فَلَمْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ أَنْ يَتُوبَ قَبْلَ الاطِّلاعِ عَلَيْهِ أَوْ بَعْدَ ذَلِكَ .

وَالْمَذْهَبُ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ قَبُولُ تَوْبَتِهِ ، وَهُوَ رِوَايَةٌ عِنْدَ الْحَنَابِلَةِ . قَالَ ابْنُ قُدَامَةَ : مَفْهُومُ كَلامِ الْخِرَقِيِّ أَنَّ الزِّنْدِيقَ إِذَا تَابَ قُبِلَتْ تَوْبَتُهُ وَلَمْ يُقْتَلْ ، وَهُوَ إِحْدَى الرِّوَايَتَيْنِ عَنْ أَحْمَدَ وَاخْتِيَارُ أَبِي بَكْرٍ الْخَلالِ ، وَقَالَ : إِنَّهُ أَوْلَى عَلَى مَذْهَبِ أَحْمَدَ .

وَيُرْوَى ذَلِكَ أَيْضًا عَنْ عَلِيٍّ وَابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا ، وَالدَّلِيلُ عَلَى قَبُولِ تَوْبَتِهِ وَعَدَمِ قَتْلِهِ قَوْلُ اللَّهِ تَعَالَى : { قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ يَنْتَهُوا يُغْفَرْ لَهُمْ مَا قَدْ سَلَفَ } (سورة الأنفال / ۳۸ .) وَقَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلا بِحَقِّ الإِسْلامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ " (حديث : " فإذا فعلوا ذلك عصموا مني . . . " شطر من حديث أوله " أمرت أن أقاتل الناس . . . " أخرجه البخاري (الفتح ۱ / ۷۵ ط . السلفية) ، ومسلم (۱ / ۵۱ ، ۵۲ ، ۵۳ ط . عيسى الحلبي) ، عن ابن عمر واللفظ للبخاري .) .

وَرُوِيَ أَنَّ < رَجُلا سَارَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا سَارَّ بِهِ حَتَّى جَهَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هُوَ يَسْتَأْذِنُهُ فِي قَتْلِ رَجُلٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَلَيْسَ يَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ ؟ قَالَ : بَلَى وَلا شَهَادَةَ لَهُ ، قَالَ : أَلَيْسَ يُصَلِّي ؟ قَالَ : بَلَى وَلا صَلاةَ لَهُ ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أُولَئِكَ الَّذِينَ نَهَانِي اللَّهُ عَنْ قَتْلِهِمْ > (. حديث : " أولئك الذين نهاني الله عن قتلهم " . أخرجه أحمد (۵ / ٤۳۳ ط الميمنية) ، والبيهقي (۳ / ۳٦۷ ط دار المعارف الإسلامية) عن عبد الله بن عدي ، واللفظ له ، وابن حبان (۷ / ۵۸٤ ط . دار الكتب العلمية) وصححه .) كَمَا يَدُلُّ عَلَى قَبُولِ تَوْبَةِ الزِّنْدِيقِ قَوْله تَعَالَى : { إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيرًا إِلا الَّذِينَ تَابُوا } (سورة النساء / ۱٤۵ ، ۱٤٦)؛

وَالْمَذْهَبُ عِنْدَ الْحَنَابِلَةِ وَفِي قَوْلٍ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ أَنَّهُ لا تُقْبَلُ تَوْبَةُ الزِّنْدِيقِ مُطْلَقًا لِقَوْلِهِ تَعَالَى : { إِلا الَّذِينَ تَابُوا وَأَصْلَحُوا وَبَيَّنُوا } (سورة البقرة / ۱٦۰) وَلأَنَّ التَّوْبَةَ عِنْدَ الْخَوْفِ عَيْنُ الزَّنْدَقَةِ ، وَلأَنَّهُ لا تَظْهَرُ مِنْهُ عَلامَةٌ تُبَيِّنُ رُجُوعَهُ وَتَوْبَتَهُ لأَنَّهُ كَانَ مُظْهِرًا لِلإِسْلامِ مُسِرًّا لِلْكُفْرِ ، فَإِذَا وَقَفَ عَلَى ذَلِكَ فَأَظْهَرَ التَّوْبَةَ لَمْ يَزِدْ عَلَى مَا كَانَ مِنْهُ قَبْلَهَا وَهُوَ إِظْهَارُ الإِسْلامِ (أسنى المطالب ٤ / ۱۲۲ ، ونهاية المحتاج ۷ / ۳۹۸ ـ ۳۹۹ ، والمغني ۸ / ۱۲٦ ـ ۱۲۷ ، وكشاف القناع ٦ / ۱۷۷)

حاصلیږي او په شریعت کې هم حقیقي ایمان مطلوب دی نو له امنوا څخه حقیقي ایمان مراد دی نو کما امن الناس د امنوا لپاره توضیح دی تقید نه دی .

تفسیربیضاوي: قالُوا أَنُؤْمِنُ كَما آمَنَ السُّفَهاءُ الهمزة فيه للإنكار، واللام مشار بها إلى الناس، أو الجنس بأسره وهم مندرجون فيه على زعمهم، وإنما سَفَّهُوهُم لاعتقادهم فساد رأيهم، أو لتحقير شأنهم، فإن أكثر المؤمنين كانوا فقراء ومنهم موالي: كصهيب وبلال، أو للتجلد وعدم المبالاة بمن آمن منهم إن فسر الناس بعبد الله بن سلام وأشياعه. والسفه: خفة وسخافة رأي يقتضيهما نقصان العقل، والحلم يقابله.

ترجمه: دوی وایي چې ایآ موږ داسې ایمان راوړو لکه څنګه چې دې بېوقوفانو راوړی دی په دې کې همزه انکاري دی او د السفهاء لام سره الناس طرفته اشاره دی او یا ټول جنس د سفهاء طرفته اشاره دی او د منافقینو د خیال مطابق ناس هم په دې کې شامل دی او منافقانو مومنانو ته بیوقوفان ځکه وویل چې دوی یې کمعقلان ګڼل او یا دسپکوالي په وجه ځکه چې مومنان فقیران و او ځیني یې ازاد شده غلامان و لکه صهیب او بلال رضي الله عنهما او که د الناس تفسیر په عبدالله بن سلام او د هغه په ملګرو سره وکړی شي نو بیا هغوی ته بیوقوف ویل د بېباکی او جسارت اظهار په وجه و او له دې وجې و چې کنافقانو د دوی فروا نه کوله او سفه د سپکې رایي نوم دی د عقل د نقصان په له امله راځي او د سفه مقابل لفظ حُلم دی.

تشریح: دلته مصنف درې بحثونه کوي (۱) د السفهاء د الف لام متعلق (۲) د منافقانو مومنانو د سفهاء ویلو وجه (۳) د سفاهت تحقیق.

لومړی بحث: اول خو داخبره زده کړه چې دا همزه د استفهام انکاري دی . الف لام کې دوه احتماله دي (۱)جنسي دی (۲)عهد خارجي دي. که الف لام عهد خارجي شی نو په دې سره به الناس طرفته اشاره وي بیا الناس څخه معین افراد مراد وي او کنسي معنا مقصود وي او که الف لام جنسي شي نو بیاه به له دې نه جنس سفهاء مراد وي او په دې کې به د منافقانو د ګمان مطابق الناس هم شامل وي ځکه له سفهاءنه د مناقانو اصل مقصد همدوی و.

دويم بحث: (وإنما سَفَّهُوهُم لاعتقادهم فساد رأيهم) دې عبارت سره د سفاهت او تسفيه دوه وجوهات بيانوي اول دا چې منافقانو به خپلې عقيدې او نظريې ته يوه برحق او صحيح عقيده او نظريه ويل او د مومنانو عقايد به يې داسې ګڼل چې دا نه ښايي مګر له ليونيانو او بېوقفانو سره نو ځکه به يې مومنان بېوقوفان ګڼل دويمه وجه دا وه چې منافقان زياتره شتمن او مادار خلک و او په مومنانو زياتره غريب او فقيران بلکې لا يو شمېر بکې ازاد شوي غلامان هم و نو ځکه يې ورته بيوقوفان ويل خو دا وجوهات هغه وخت صحيح دي چې کله الف لام سره جنس سفيه او يا ناس طرفته اشاره وي او له ناس څخه نبی کريم (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) او صحابه کرام مراد شي عبدالله بن سلام او ملګري يې مراد نه وي او که الف لام عهد خارجي وي او ناس طرفته اشاره وي او له ناس نه مراد عبدالله بن سلام او د هغه ملګري وي نو بيا د سفيه ويلو دغه وجه نه ده ځکه عبدالله بن سلام د دوی په نزد نه کمعقل و او نه به دنيوي اعتبار سره کمزوری سړی و په دې وخت کې به د سفاهت وجه بېباکې وي او بل د دوی له ايمان راوړلو څخه استغنا ظاهرول هم مقصود وه.

دريم بحث: السَّفَهُ وَالسَّفَاهُ وَالسَّفَاهَةُ : ضِدُّ الْحِلْمِ ، وَهِيَ مَصَادِرُ سَفِهَ يَسْفَهُ ، مِنْ بَابِ تَعِبَ ، وَهُوَ نَقْصٌ فِي الْعَقْلِ أَصْلُهُ الْخِفَّةُ وَالْحَرَكَةُ. سفه ، سفاء او سفاهة ضد حلم راځي هغه چاته ويلی شي چې په عقل کې يې نقص وي[1]

تفسيربيضاوي: (أَلا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهاءُ وَلكِنْ لاَّ يَعْلَمُونَ رد ومبالغة في تجهيلهم، فإن الجاهل بجهله الجازم على خلاف ما هو الواقع أعظم ضلالة وأتم جهالة من المتوقف المعترف بجهله، فإنه ربما يعذر وتنفعه الآيات والنذر، وإنما فصلت الآية بلاَّ يَعْلَمُونَ والتي قبلها ب لاَّ يَشْعُرُونَ لأنه أكثر طباقاً لذكر السفه، ولأن الوقوف على أمر الدين

---

(۱) يُقَالُ : تَسَفَّهَتِ الرِّيحُ الشَّجَرَ ؛ أَيْ مَالَتْ بِهِ ، وَسَفُهَ بِالضَّمِّ ، وَسَفِهَ بِالْكَسْرِ ؛ أَيْ صَارَ سَفِيهًا ، وَالْجَمْعُ سُفَهَاءُ وَسُفَّهٌ وَسِفَاهٌ . وَالْمُؤَنَّثُ مِنْهُ سَفِيهَةٌ ، وَالْجَمْعُ سَفَائِهُ (الصحاح ، والمصباح المنير) .
وَاصْطِلاحًا : هُوَ التَّبْذِيرُ فِي الْمَالِ وَالإِسْرَافُ فِيهِ وَلا أَثَرَ لِلْفِسْقِ وَالْعَدَالَةِ فِيهِ . وَيُقَابِلُهُ الرُّشْدُ : وَهُوَ إِصْلاحُ الْمَالِ وَتَنْمِيَتُهُ وَعَدَمُ تَبْذِيرِهِ . وَهَذَا عِنْدَ الْجُمْهُورِ (أَبِي حَنِيفَةَ ، وَأَبِي يُوسُفَ ، وَمُحَمَّدٍ ، وَمَالِكٍ ، وَهُوَ الْمَذْهَبُ عِنْدَ الْحَنَابِلَةِ ، وَالْمَرْجُوحُ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ ، وَهُوَ قَوْلٌ وَالرَّاجِحُ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ أَنَّهُ : التَّبْذِيرُ فِي الْمَالِ وَالْفَسَادُ فِيهِ وَفِي الدِّينِ مَعًا . وَهُوَ قَوْلٌ لأَحْمَدَ

والتميز بين الحق والباطل مما يفتقر إلى نظر وفكر. وأما النفاق وما فيه من الفتن والفساد فإنما يدرك بأدنى تفطن وتأمل فيما يُشَاهد من أقوالهم وأفعالهم.

ترجمه: خبردا همدا خلک بيوقوفان دي لکن په دې خبره نه پوهيږي له دېنه د منافقانو جواب او د هغوی په جهالت کې مبالغه مقصود دی ځکه څوک چې له خپل جهالت څخه بې خبره وي او خلاف الواقع عقايد لري نو داسر د هغه سړي په مقابل کې زيات جاهل دی چې څوک د خپل جهالت اعتراف کوي ځکه داسې سړی معذور ګڼلی کيږي او ايتونه او ويرول د هغه په حق کې مفيد نه وي او د دې ايت فاصله لايعلمون جوړه کړه او له دې مخکې ايت لايشعرون ځکه چې د سفاهت د ذکر په وجه لايعلمون کې صنعت طباق زيات دی او په دې وجه هم چط امور دينيه باندې خبريدل او حق او باطل کې فرق کول داسې کړنې دي چې ددې لپاره نظر او فکر ته ضرورت دی پاتې شو نفاق او د هغې فتنې او فساد نو هغه د منافقانو مشاهد اقوال او افعالو کې لږغور سره هم معلوميږي.

تشريح: د مصنف دې عبارت سره خبرې مقصود دي لومړی د منافقانو ترديد هغه داسې چې منافقانو د سفاهت نسبت مومنانو ته کړی و نو الله تعالی په (الا انهم هم السفهاء) سره په ابلغې طريقې سره د هغوی ترديد وکړ د مبالغې وجوهات په (الاانهم هم المفسدون) ذکر شوه او دويم مبالغه په تجهيل الله تعالی دوی د لايعلمون کلمه استعمال کړه چې دوی په خپل جهل هم ناخبر دي ګويا چې دوی په جهل مرکب کې مبتلا دي او جهل مرکب په سبت سره جهل بسيط ته زيات وي دوی په خپل جهالت جاهل دي ځکه ايتونه فايده هم نه ورکوي.

(وإنما فصلت الآية بلاَّ يَعْلَمُونَ) فصلت د ماضي مجهول صيغه دی په معنا د يوې کلمې لره فاصله جوړول د ايت اخر ته فاصله ويي او طباق د باب مفاعله مصدر دی په معنا د موافقت او په معنا د جمع بين المتضادين.

سوال: د مخکني ايت فاصله په لايشعرون او ددې ايت فاصله په لايعلمون ولې جوړه شوه؟

(۱)**جواب**: ددې ايت فاصله يې په لايعلمون ځکه چې دې ايت کې سفاهت ذکر دی او لايعلمون کې علم موجود دی او دا صنعت طباق دی ځکه سفاهت ناپوهي او عدم علم لره مستلزم

دی نو سفاهت او علم جمع کول جمع بین المتضادین دی او قاضي صیب اکثر طبقا ځکه وویل چې نفس طباق په لایشعرون کې هم شته ځکه عدم شعور عدم علم لره مستلزم دی او عدم علم د سفاهت ضد دی خو په دې کې واسطه راځي ځکه یې د لایشعرون په ځای لایعلمون وویل.

(۲)**جواب**: په دواړو ځایونو کې له منافقانو ادراک نفي کول مقصود دي په اول ایت کې ورته مسفد او په دویم ایت کې ورته سفیه یعنې په حق او باطل کې له امتیاز څخه بې خبره لکن د دوی په اقوالو افعالو کې فتنه او فساد کوم چې د نفاق ثمره دی په معمولي غور او فکر سره هم معلومیږي نو د دغو شیانو علم په منزله د یو شي محسوس دی نو له همدې وجې دوی ته شعور چې د احساس هم معنا دی ډېر غوره دی او د احساس د نفي لپاره لایشعرون ډېر موزون دی.

د دې په خلاف د دین په معاملاتو خبریدل او امتیاز بین الحق والباطل په سطحي نظر سره نه پیژندل کیږي بلکې د مخفي او معقولي شیانو لپاره تدبیر او تعمق او نظر او فکر ضرورت و نو د دوی د ادراک د نفي لپاره لایعلمون غوره دی چې د معقولي اشیاءو لپاره استعمالیږي.

وَإِذا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قالُوا آمَنَّا وَإِذا خَلَوْا إِلى شَياطِينِهِمْ قالُوا إِنَّا مَعَكُمْ إِنَّما نَحْنُ مُسْتَهْزِؤُنَ (١٤)

تفسیربیضاوي: وَإِذا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قالُوا آمَنَّا بيان لمعاملتهم المؤمنين والكفار، وما صدرت به القصة فمساقه لبيان مذهبهم وتمهيد نفاقهم فليس بتكرير.

ترجمه: کله چې منافقان له مومنانو سره ملاقي شي دوی وایي موږ ایمان راوړی دی دا د منافقانو له مومنانو او کفارو سره د معاملې بیان دی او کومو واقعاتو سره چې د منافقانو د قصې بیان شوی دی د دغې کلماتو راوړل د دوی مذهب بیانوي او د منافقانو د نفاق د تمهید لپاره دي تکرار نه دی.

تشریح: د منافقانو یادونه چې شروع شوې ده له هغه ځایه دوی ځانته دا کلمات استعالوي چې امنّا بالله وبالیوم الاخر وغیر په دې کلماتو سره به دوی خپل کفر پټولو او ایمان یې ظاهرولو

الله تعالى ورته وويل وماهم بمؤمنين په دې سره يې نفاق او هغه معامله چې منافقانو به له مومنانو او كافرانو سره كوله واضحه كړه.

(وما صدرت به القصة) دې سره د يو اعتراض جواب كوي

سوال: (اذا لقو الذين امنوا) له څخه دا خبر معلوميږي چې دوی په ظاهر باندې د ايمان دعوې كولې او په باطن كې مومنان نه و همدغه مفهوم خو له (ومن الناس من يقول امنا) څخه هم معلوميږي او دا نه دی مگر تكرار دی او تكرار شنيع دی.

جواب: هو! په ظاهر دواړه ايتونه متحد او مكرر معلوميږي خو د غوارضو لخوا جدا جدا دي د لومړي ايت غرض د منافقانو مذهبي او باطني عقيده بيانول دي او د دې ايت غرض د منافقانو مومنانو او كافرانو سره سلوک بيانول دي يا داسې اووايه چې د لومړي ايت غرض اطلاع عن اخداث الايمان دی او له دې ايت نه اطلاع عن اخلاص فی الايمان دی.

تفسيربيضاوي: (روي أن ابن أبيّ وأصحابه استقبلهم نفر من الصحابة، فقال لقومه: انظروا كيف أرد هؤلاء السفهاء عنكم، فأخذ بيد أبي بكر رضي الله عنه فقال: مرحباً بالصديق سيد بني تيم، وشيخ الإسلام وثاني رسول الله في الغار الباذل نفسه وماله لرسول الله صلّى الله عليه وسلّم، ثم أخذ بيد عمر رضي الله عنه فقال: مرحباً بسيد بني عدي الفاروق القوي في دينه، الباذل نفسه وماله لرسول الله صلّى الله عليه وسلّم، ثم أخذ بيد علي رضي الله عنه فقال: مرحبا يا ابن عم رسول الله صلّى الله عليه وسلّم وختنه سيد بني هاشم، ما خلا رسول الله صلّى الله عليه وسلّم. فنزلت.

ترجمه: روايت دی چې ابن ابی له خپلو ملگرو سره يوځای روان وو چې مخې ته د صحابه كرامو يو جماعت راروان وو ابن ابی خپلو ملگرو ته وويل چې گورئ دا بيوقوفان څنگه در څخه دفع كوم نو د ابوبكر صديق لاس يې ونيو او وې ويل مرحبا د بنو تميم سردار شيخ الاسلام په غار ثور كې د سول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دويم ملگری خپل مال او ځان په سول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) قربانوونكی بيا يې عمر فاروق له لاس څخه ونيو او وې ويل مرحبا ای د بنو عدي سرداره د حق او باطل جدا كونكيه! په دين كې

قوي شخصیته او په سول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) باندې سر او مال شیندونکیه او بیا یې د علي مرتضی لاس ونیو او وې ویل مرحبا د سول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) د تره زویه او د سول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) زومه او د بنو هاشم سرداره نو چې دا واقعه پېښه شوه دا ایت نازل شو .

تشریح: د منافقانو سردار چې له صحابه کرامو سره دا سې معامله وکړه بیا یې خپلو ملګرو ته وویل څنګه چل مې ورسره وکړ هغوی یې ستاینه وکړه په یو روایت کې دي چې علي (رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) ورته وویل (یا عبد الله اتق الله ولا تنافق فإنّ المنافقین شرّ خلق الله فقال له: مهلاً یا أبا الحسن أنى تقول هذا والله إنّ إیماننا کإیمانکم وتصدیقنا کتصدیقکم،) له خدایه وډار شه او منافق د الله تعالی په نزد تر هرڅا بد مخلوق دی هغه ورته وویل په الله قسم زما داسې ایمان لکه ستاسو ایمان بیا صحابه کرامو چې دا واقعه نبي علیه السلام ته بیان کړه الله تعالی په دغه موقعه دا ایت نازل کړ خو[1] .

د شیخ الاسلام لقب تاریخ او مصداق

صاحب د حاشیة الشهاب علامه شهاب الدین رحمه الله وایي چې د شیخ الاسلام اطلاق به په زمانه د صحابه کرامو کې په ابوبکر او عمر رضي الله عنهما باندې کیده علامه سخاوي د خپل استاذ علامه ابن حجر رحمه الله په مناقبو کې یو کتاب لیکلی (الجواهر في مناقب العلامة ابن حجر) هلته وایي چې سلفو به شیخ الاسلام لقب هغه چاته استعمالولو چې هغه د کتاب او سنة کامل تابع و او په علومو نقلیه او عقلیه وکې متبحر و او کله به یو ولي ته هم شیخ الاسلام ویل کیدل که د چا به عمر په اسلام ډېر تیر شوی و هغه ته به یې هم ځینې وخت شیخ الاسلام ویل خو دومره دی چې په متقدمینو کې له ابوبکر او عمر رضي الله عنه پرته بل چاته داسې لقب استعمالول مشهور نه و او دوی دواړو ته هم دا لقب علي

---

(۱)حاشیه الشهاب علي تفسیر البیضاوي -عنایه القاضي وکفایة الراضي (۱/ ۳۳۸)

وقد أخرجه الواحدي رحمه الله، وروي أنّ علیا رضي الله عنه قال له: یا عبد الله اتق الله ولا تنافق فإنّ المنافقین شرّ خلق الله فقال له: مهلاً یا أبا الحسن أنى تقول هذا والله إنّ إیماننا کإیمانکم وتصدیقنا کتصدیقکم، ثم افترقا فقال ابن أبيّ لأصحابه: کیف رأیتموني فعلت، فإذا رأیتموهم، فافعلوا مثل ما فعلت، فأثنوا علیه خیراً وقالوا: ما نزال بخیر ما عشت فینا فرجع المسلمون إلى رسول الله صلى الله علیه وسلّم، وأخبروه بذلك فنزلت هذه الآیة.

رضي الله عنه ورکړی و انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي چې علي رضي الله عنه ته ځينې کسان راغلل ورته يې وويل چې تا په منبر داسې دعا کړې چې الله زما اصلاح په هغه څه سره وکړې په کوم سره دي چې د راشيدينو او مهدينو اصلاح کړې دا راشدين او مهدين څوک دي علي (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) ورته وويل(أبو بكر وعمر إماما وشيخا الإسلام) [1] دا سلسله داسې راروانه تر اتمې صدۍ په اتمه صدۍ کې به شيخ الاسلام د هغه چا لقب چې په منصب د فتوا به ناست و او يا به قاضي مقرر شوی و اګر له علم څخه به خالي او له عمر به ډېر کم و تر دې چې اوس پرې هر مفلس هم ونومول شو دا علامه ابن حجر رحمه الله له خپلې زمانې څخه شکايت کوي افسوس زموږ په حال چې نن هر يو مقرر ته خپل مينوال شيخ الاسلام لقب ورکوي که زموږ د زمانې د علماؤ القابو ته وکتل شي نو ته به ووايې چې ائمه اربعه د ده په شاګردانو کې هم نه شميرل کيږي او که علم ته يې وګورې په منبر د پرېښودو قابل هم وي.

بهرحال نن د علماؤ په اصطلاح شيخ الاسلام هغه شخصيت ته ويل کې چې د نړۍ د اکثره علماؤ په نزد مسّلم شخصيت وي او له علمي خدماتو يې عرب او عجم مستفيد شوي وي.

هر چې د دې روايت سند دی په هغې کې په دې کې سدي الصغير، کلبی او ابو صالح دي او علامه ابن حجر رحمه الله وايي سدي كذاب دی کلبي ضعيف دی او ابو صالح متهم بالكذب او د دې روايت سند سلسلة الكذب دی ځکه دې روايت کې دي چې علي (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) ته يې وويل ای د

---

(۱)حاشيه الشهاب علي تفسير البيضاوي -عنايه القاضي وكفاية الراضي (۱/ ۳۳۹)

قوله: (وشيخ الإسلام) هو كان في زمن الصحابة رضي الله عنهم يطلق على أبي بكر رضي الله عنه وعمر، وهما الشيخان قال السخاوي في كتاب الجواهر في مناقب العلامة ابن حجر شيخ الإسلام: أطلقه السلف على المتبع لكتاب الله، وسنة رسوله مع التبحر في العلوم لمعقول والمنقول، وربما وصف به من بلغ درجة الولاية، وقد يوصف به من طال عمره سلام، فدخل في عداد " من شاب شيبة في الإسلام، كانت له نوراً " (۱) ولم تكن هذه مشهورة بين القدماء بعد الشيخين الصديق، والفاروق رضي الله عنهما فأنه ورد وصفهما وعن علي فيما رواه الطبري في الرياض النضرة عن أنس أنّ وجلاً جاء إلى علي رضي فقال: يا أمير المؤمنين سمعتك تقول على المنبر: اللَّهُمَّ أصلحني بما أصلحت به الراشدين المهديين، فمن هم فاغرورقت عيناه وأهملهما، ثم قال: أبو بكر وعمر إماما وشيخا الإسلام، ورجلا قريش المقتدى بهما بعدرسول الله صلّى الله عليه وسلّم إلخ. سهر بها جماعة من علماء السلف حتى ابتذلت على رأس المائة الثامنة، فوصف بها من لا، وصارت لقباً لمن ولي القضاء اكبر ولو عري عن العلم والسن إنا لله وإنا إليه

قلتُ) ثم صارت الآن لقباً لمن تولى منصب الفتوى، وإن عري عن لباس العلم ى:لقدهزلت حتى بدا من هزالها كلاها وحتى سامهاكل مفلس

نبی علیه السلام زومه او حال دا چې علي (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) نکاح له فاطمې (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا) سره په دويمه هجري کې کړې وه او سورت بقره په اوله زمانه د هجرت کې نازل شوی دی.[1]

تفسيربيضاوي: (واللقاء المصادفة يقال لقيته ولاقيته، إذا صادفته واستقبلته، ومنه ألقيته إذا طرحته فإنك بطرحه جعلته بحيث يلقى.)

ترجمه: د لقاء معنا مصادفه يعنې موندل دي ويل کيږي لقيته او لاقيته هغه وخت چې کله ته يو شی پيدا کړې او ورته مخامخ شې او له همدې نه القيته اخستل شوی دی هغه وخت ويلی شي چې کله ته يو شی او غورځوې ځکه په غورځولو سره دا شی داسې شو چې بل چا ته ميلاو شي.

تشريح: لقاء په معنا د موندلو له القاء څخه دی او القاء غورځولو ته ويلی شي.

سوال: په لقاء او القاء مشتق او مشتق منه کې مناسبت پکار دی او دلته مناسبت نشته ځکه د لقاء معنا موندل او د القاء معنا غورځول دی او په دواړو کې کمال بُعد دی،

جواب: مناسبت موجود دی په مابين مشتق او مشتق منه کې ځکه القاء غورځولو ته وايي او په دې کې د لقاء معنا موجوده دی هغه داسې کوم شی چې ته وغورځوې ګويا هغه دې د بل چا د موندلو قابل جوړ کړو او د بل چا موندل عين لقاء دی.

تفسيربيضاوي: (وَإِذَا خَلَوْا إِلَى شَيَاطِينِهِمْ من خلوت بفلان وإليه إذا انفردت معه. أو من خلاك ذمٌّ أي عداك ومضى عنك، ومنه القرون الخالية. أو من خلوت به إذا سخرت منه، وعدي بإلى لتضمن معنى الإنهاء، والمراد بشياطينهم الذين ماثلوا الشيطان في تمردهم، وهم المظهرون كفرهم، وإضافتهم إليهم للمشاركة في الكفر. أو كبار المنافقين والقائلون صغارهم. وجعل سيبويه نونه تارة أصلية على أنه من شطن إذا بعد

---

(۱) وقال ابن حجر: إنّ هذا الحديث منكر وذكر إسناده، ثم قال هو سلسلة الكذب لا سلسلة الذهب وآثار الوضع عليه لائحة ومما يدلّ على ذلك أنّ سورة البقرة نزلت أوّل ما قدم النبيّ صلّى الله عليه وسلّم المدينة على ما صححه المحدّثون وعليّ رضي الله عنه إنما تزوّج فاطمة رضي الله عنها في السنة الثانية من الهجرة فكيف يدعوه ختنا، فإن قلت: ليس فيما ذكر من سبب النزول أنهم قالوا آمنا قلت: سبب النزول أمر مناسب تنزل الآية عقبه، ولا يخفى مناسبته مع ما فيه من إظهار الاستهزاء،

فإنه بعيد عن الصلاح، ويشهد له قولهم: تشيطن. وأخرى زائدة على أنه من شاط إذا بطل، ومن أسمائه الباطل.)

ترجمه: او چې کله خلوت کې شي خپلو سرکشه مشرانو سره، خلو ماخوذ دی له خلوتُ بفلان او الی فلان څخه دا هغه وخت ویلی شي چې کله ته له فلاني سره یوازې شې او یا له خلاک ذمّ څخه ماخوذ دی په معنا د تاته مذمت متجاوز شو او له همدې نه القرون الخالیة اخستل شوی دی یا له خلوت بهِ نه ماخوذ دی په معنا د ټوقې کول او د دې معنا په اعتبار سره به د خلوا په الی سره متعدي کیدل به انهاء د معنا د تضمین په وجه وې او له شیاطینو څخه مراد هغه خلک دي چې د سرکشي په د شیطانانو سره مشابه و اوس که مراد ترینه کفار وي چې خپل کفر به برملا ښکاره کولو په دې تقدیر سره یې منافقینو طرفته نسبت کول د مشارکت فی الکفر له وجې دی او ترینه لوی منافقان مراد دی او د آنامعکم ویونکي د دوی دواړو منافقان دي او سیبویه د شیاطین نون په دې بنا اصلي ښودلی چې له شطن څخه چې په معنا د بعد سره دی ماخوذ دی ځکه شیطان هم له صلاح نه بلکل لرې وي او د عربو قول تشیطن په دې باندې شاهد دی او کله یې زاید هم ورته ویلي دي په دې بنا باندې چې شیطان په معنا د شاط په معنا د بطل څخه ماخوذ دی او د شیطان په نومونو کې یو نوم باطل هم دی.

تشریح: مصنف دلته درې بحثونه کوي (۱) د خلا درې معناگانې ذکر کوي (۲) د شیاطینو مصداق (۳) د لفظ د شیطان مأخذ.

لومړی بحث: د خلا درې معناگانې دي (۱) تنها کیدل او یوازې کیدل (۲) متاجاوز کیدل (۳) مزاق او ټوقې کول د اولو معناگانو په اعتبار سره خلا په الی او باء سره متعدي کیدلی شي نو معنا به یې داسې شي چې کله دوی تنها شي خپلو سردارانو سره او هغوی سره تخلیه کوي د دویم استعمال په اعتبار به یې معنا داسې شي چې کله مومنانو څخه خپلو سردارانو ته لاړ شي او د دریم استعمال په اعتبار سره یې متعدي کیدل په الی سره د انهاء د معنا په تضمین سره مبني دی نو تقدیر د عبارت به داسې شي (سخروا بالمؤمنين منيهين السخرية الى شياطينهم) یعني مذاق کوي مومنانو پورې په داسې حال کې چې د مذاق سلسله خپلو سردارانو پورې رسونکي دي.

دويم بحث: د شيطانانو باره کې دوه احتماله دي (۱) د دې نه مراد هغه کافران دي چې په برملا يې د خپل کفر اظهار کولو (۲) يا له دې څخه د منافقانو لوی لوی سرداران مراد دي په دواړو صورتونو کې به لفظ د شيطان استعمال د استعارې تصريحې په بنا وي يعنې کافران يې له شيطانانو سره مشابه کړي او وجه د شبه يې کفر او سرکشي دی نو ذکر د مشبه به او مراد مشبه.

دريم بحث: د شيطان مأخذ يا شطن يا شاط دی په معنا د بعد او لرېوالي سره نو شيطان په وزن د فيعال په معنا بعيد نو شيطان هم د الله تعالى له رحمت څخه لرې وي نو يط نوم هم شيطان دی له شطن څخه واخستل شي نو بئر شطون ويلی کيږي کله چې د کوهي اوبه لرې وي او په دې اشتقاق باندې صيغه د تشيطن شاهده دی تشيطن صيغه مزيده دی خو په مزيد کې د مجرد تمام حروف اصليه ظاهريږي او که له شاط څخه شي ماخوذ شي بيا په معنا دباطل سره نو د شيطان په نومونو کې يو نوم هم باطل دی په دې صورت کې شيطان به په وزن د فعلان شي الف او نون به زائدتان شي او په اول صورت کې به يې نون اصلي وي هم دا د سيبويه رايه هم دی.

تفسيربيضاوي: (قالُوا إِنَّا مَعَكُمْ أي في الدين والاعتقاد، خاطبوا المؤمنين بالجملة الفعلية، والشياطين بالجملة الإسمية المؤكدة بإن لأنهم قصدوا بالأولى دعوى إحداث الإيمان، وبالثانية تحقيق ثباتهم على ما كانوا عليه، ولأنه لم يكن لهم باعث من عقيدة وصدق رغبة فيما خاطبوا به المؤمنين، ولا توقع رواج ادعاء الكمال في الإيمان على المؤمنين من المهاجرين والأنصار بخلاف ما قالوه مع الكفار.)

ترجمه: دوی وايي چې بيشکه موږ له تاسو سره يو يعنې په دين او عقيده کې مومنانو يې په جملې فعليه سره او شيطانان يې په جملې اسميه سره چې په (ان) سره مؤکده دی مخاطب کړل ځکه هغوی له اول نه د احداث ايمان دعوه اراده کړې وه او دويم طرف په خپل زوړ حالت د ثابت پاتې کېدلو اراده کړې وه او په دې وجه هم چې د منافقينو لپاره څه داعيه او باعث نه و په عقيده او نه په الفاظو کې رېښتونی رغبت چې په هغې سره مومنانو ته خطاب وکړي او نه دا توقع وه چې د کمال

ایمان دعوه به د مومنانو ، مهاجرینو او انصارو په مینځ کې رواج او مومي په خلاف د هغې دعوې چې د کافرانو وړاندې شوې وه چې په هغې کې د رواج توقع وه .

تشریح: منافقان به چې کله شیطانانو ته راغلل دوی ته به یې ویل انّا معکم یعنې موږ ستاسو ملګري یو په دین او عقیده کې دلته یو اعتراض واردیږي هغه دا

سوال: منافقانو مومنانو ته په جمله فعلیه سره خطاب وکړو چې (امنّا) دی او جمله فعلیه په حدوث دلالت کوي او شیطانانو سره یې جمله اسمیه دلالت وکړو چې په ثبوت او دوام دلالت کوي او بیا په (ان) سره مؤکده هم کړه حالانکې د دې عکس کول پکار و ځکه مومنانو د دوی په ایمان کې مترددد و تر دې چې د ځینو تردید تر انکاره رسیدلی و نو له دوی سره خطاب له منکرینو سره خطاب دی او له منکرینو سره خطاب په تکید سره کولی شي او شیطانان د دوی په نفاق کې متردد نه نو له هغوی سره خطاب په غیر تاکید سره کول پکار دی .

(۱)**جواب**: اصل کې د منافقانو مقصد د مومنانو د شک او تردد ازاله نه وه بلکې د هغوی د ایمان خالص د احداث دعوه وه او ده په امنّا سره حاصله شوې وه نو ځکه یې امنا وویلې او شیاطینو سره یې په جمله مؤکدې سره ځکه خطاب وکړو چې منافقان په دې وریدل چې هسې نه په ظاهري امنّا سره دوی ته څه شک پیدا شوی وي او جدا وګڼې نو د دغه شک د ازالې لپاره او پخپل حال د ثبات لپاره یې جمله اسمیه مؤکده راوړله .

(۲)**جواب**: (ولأنه لم یکن لهم باعث من عقیدة وصدق رغبة) فرمایي لکه څنګه چې د عدم تاکید په وجه تاکید پرېښودل کیږي دغسې په هغو الفاظو کې چې هیڅ رغبت نه تاکید پرېښودل کیږي نو منافقانو ته په لفظ د امنّا کې رغبت نه ځکه یې تاکید پرېښود او په انّا معکم کې پوره رغبت و ځکه جمله مؤکده کړه په ان سره ته نه ګورې دې ایت ته (ربنا اننا امنا) مومنان د خپل ایمان تاکید کوي او حال دا چې مخاطب یې الله تعالی دی او هغه د دوی د ایمان څخه منکر نه دی .

(۳)**جواب**: (ولا توقع رواج ادعاء الکمال في الإیمان) که منافقانو د ایمان دعوه په تاکید سره کړې وای داخو بیا د کمال ایمان دعوه وه او د دوی د کمال ایمان دعوې په مومنانو (مهاجرینو او

انصارو) کې د رواج هیڅ توقع او امید نه و ځکه ټول د دوی له حالت څخه خبر و او د انا معکم چې کومه دعوه د هغې د رواج پوره توقع وه نو ځکه یې دوی سره خطاب په تاکید سره وکړو.

تفسیر بیضاوي: (إِنَّما نَحْنُ مُسْتَهْزِؤُنَ تأكيد لما قبله، لأن المستهزئ بالشيء المستخف به مُصِرٌّ على خلافه. أو بدل منه لأن من حقر الإسلام فقد عظم الكفر. أو استئناف فكأن الشياطين قالوا لهم لما (قالوا إنا معكم) إن صح ذلك فما بالكم توافقون المؤمنين وتدعون الإيمان فأجابوا بذلك.)

ترجمه: موږ خو ټوقې کوو دا د ماقبل تاکید دی ځکه د یوشي مذاق کونکی هغه شي لره سپک ګڼونکی او هغې خلاف باندې اصرار کونکی دی یا له عبارت سابق څخه بدل دی ځکه چې چا اسلام سپک اوګڼلو هغه لوی کفر وکړو یا جمله مستأنفه دی چې کله دوی ورته انا معکم وویل ګویا چې شیطان له هغوی نه پوښتنه وکړه که ستاسو دا خبره صحیح وي بیا له مومنانو سره موافقت ولې کوئ او د ایمان دعوه ولې کوئ نو دوی جواب وکړ (انما نحن مستهزؤن).

تشریح: دلته مصنف درې په ماقبل دا عبارت ور عطف نه کړ ځکه دا عبارت د درې نحوي ترکیبونو احتمال لري (۱) د ماقبل تاکید دی (۲) د ماقبل څخه بدل دی (۳) جمله مستأنفه دی.

په اولنیو درکیبونو کې عطف د کمال اتصال په وجه پرېښودل شو ځکه د تاکید او مؤکد او د بدل او مبدل منه تر منځ کمال اتصال وي او په دریم ترکیب کې د کمال انقطاع په وجه عطف پرېښودلی شو او استهزاء بالمؤمنین کنایه دی له اصرار بالیهودیت څخه ځکه د مومنانو سپکاوی په حقیقت کې د ایمان سپکاوی دی او د ایمان سپکاوی نفي د ایمان دی. په دویم ترکیب کې له بدل څخه بدل اشتمال مراد دی هغه داسې چې انما نحن مستهزءون دلالت کوي په انما نحن معظمون الکفر او د اسلام سپکاوی د یقینا لوی کفر دی او تعظیم د کفر داسې معنا دی چې انامعکم متعلقه ده هم دیته بدل الاشتمال وایي دریم ترکیب کې چې دا جمله مستأنفه شي دا به جواب د سوال مقدر کې واقع وي سوال مقدر دا دی چې کله منافقانو خپلو سردارانو سره د انما

معکم دعوه وکړه نو مشرانو ورته وویل چې تاسو موږ سره د معیت دعوه کوي نو بیا چې مومنانو سره یوځای شي هلته د ایمان دعوه ولې کوئ نو منافقینو جواب ورکړ انما نحن مستهزءون.

تفسیربیضاوي: (والاستهزاء السخرية والاستخفاف يقال: هزئت واستهزأت بمعنى كأجبت واستجبت، وأصله الخفة من الهزء وهو القتل السريع يقال: هزأ فلان إذا مات على مكانه، وناقته تهزأ به أي تسرع وتخف.)

ترجمه: استهزاء ټوقو کولو او چاته سپک کتلو ته وايي چې هزءت او استهزءت دواړه یوه معنا لري لکه اجیب استجیب اصل کې د دې معنا خفت او سپکوالی دی دا له هزء څخه مأخوذ دی په معنا د عجلت سره قتلول او دا هغه وخت ویلی شي چې کله یو سړی سمدستي مړ شي د (ناقته تهزأبه) په معنا دی چې د هغه اوښې په تېزئ سره هغه په سلګو کې پرېښودونکې روانه دی.

تشريح: دلته د استهزاء لغوي تحقیق کوي هغه داچې د استهزاء مجرد هزء دی په معنا د سرعت او خفت فوري طور سره قتلولو ته هم هزء ویلی شي لکه هزء فلان هغه وخت ویلی شي چې کله یو کس پخپل ځای ناست وي او مړ شي د (ناقته تهزأبه) په معنا کې هم سرعت او خفت موجود دی بیا هزء د ټوقو په معنا سره دی ځکه ټوقو کې هم خفت او سپکاوی پروت وي استهزاء او هزء دواړه په یوه معنا استعمالیږي لکه اجابت او استجابت چې په یوه معنا مستعلیږي.

اللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ (١٥)

تفسیربیضاوي: (اللَّهُ يَسْتَهْزِئُ بِهِمْ يجازيهم على استهزائهم، سمي جزاء الاستهزاء باسمه كما سمي جزاء السيئة سيئة، إما لمقابلة اللفظ باللفظ، أو لكونه مماثلاً له في القدر، أو يرجع وبال الاستهزاء عليهم فيكون كالمستهزئ بهم، أو ينزل بهم الحقارة والهوان الذي هو لازم الاستهزاء، أو الغرض منه، أو يعاملهم معاملة المستهزئ: أما في الدنيا فبإجراء أحكام المسلمين عليهم، واستدراجهم بالإمهال والزيادة في النعمة على التمادي في الطغيان، وأما في الآخرة: فبأن يفتح لهم وهم في النار باباً إلى الجنة فيسرعون نحوه، فإذا صاروا إليه سد عليهم الباب، وذلك قوله تعالى: فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ).

ترجمه: الله تعالى دوى پورې استهزاء كوي يعنې الله تعالى دوى ته د دوى د استهزاء سزا وركوي نو د استهزاء سزا په استهزاء سره و نوموول شوه لكه څنګه چې د بدۍ سزا په بدۍ سره نوموولى شي يا له دې وجې چې دا لفظ د منافقينو د لفظ مقابل كې دى يا په دې وجه چې جزا په مقدار كې د استهزاء برابره دى يا معنا دا چې الله تعالى د استهزاء وبال په هغوى باندې واپس كوي نو داسې شوه ګويا چې له منافقانو سره مذاق او ټوقې كيږي او يا مطلب دادى چې الله تعالى په هغوى باندې ذلت نازلوي چې له استهزاء سره لازم دى او له استهزاء مطلب هم دا دى يا يې مطلب دادئ چې الله تعالى له دوى سره داسې معامله كوي لكه څنګه يې چې استهزاء كونكى كوي په دنيا كې خو الله تعالى په دوى د مسلمانانو احكام جاري كوي دوى ته مهلت او زيات وخت وركوي او په نعمتونو كې ورته زيادت كوي له دې هر څه سره دا ظالمان په كفر كې مظبوطيږي او په آخرت كې به د دوى حال داوي چې كله به دوى دوزخ كې وي او مخامخ به ورته د جنت دروازه خلاصه شي چې كله د جنت دروازه ووينې نو هغې طرفته ورمنډه كړي چې كله ورته را ورسيږي دروازه به بنده شي دا منظر چې مومنان وګوري په خندا به شي دې ته الله تعالى په دې ايت كې اشاره كړې دى (فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ) نن به مومنان له كافرانو پورې خاندي.

د الله تعالى طرفته د استهزاء نسبت

تشريح: د استهزاء معنا دا چې الله تعالى به دوى ته د استهزاء كولو سزا وركړي.

سوال: په دې ايت كې خو د استهزاء نسبت الله تعالى طرفته وشو او د الله تعالى په حق كې استهزاء كول محال دى ځكه حكيم ذات په استهزء سره نشي متصف كيدلى او بل په استهزاء كې جهل وي لكه موسى (عَلَيْهِ السَّلَامُ) چې وويل (اتخذنا هزواً) روسته ورپسې وويل (اعوذ بالله ان اكون من الجاهلين) او د جهل نسبت هم الله تعالى ته محال دى.

مصنف له دې اعتراض څخه پنځه جوابونه كوي.

(۱) **جواب**: (يجازيهم على استهزائهم، سمي جزاء الاستهزاء) له استهزاء څخه نفس استهزاء نه دى مراد بلكې سزا د استهزاء مراد دى سزا د استهزاء ته استهزاء مجازاً وويل شول لكه الله تعالى په

قران کې سزا د بدی ته خپله بدي ویلې دی (جزاء سیئة سیئةٌ، مکروا ومکر الله وغیره) او سزا ته ولې استهزاء ویلی شوه داځکه چې (اما مقابلة اللفظ باللفظ) یا خو دلته (الله یستهزءُ بهم) په مقابل د (انمانحن مستهزءون) اګر که مقاصد یې جلا جلا دي یعنې دا تسمیه په صنعت مشاکلة باندې بنا دی صنعت مشاکلة معنا دا چې د یوشي له الفاظو نه په بل شي سره تعبیر کول یوازې په دې وجه چې په مقابل کې کې یې واقع دی او یا ځکه سزا ته استهزاء ویلی شوه چې (لکونه مثلا) له وجې د تشبه نه یعنې د استهزاء سزا په مقدار کې له استهزاء سره مشابه دی.

(۲)**جواب**: دلته له استهزاء څخه حقیقي نسبت د استهزاء مراد نه دی بلکې مقصد دادی چې د استهزاء وبال او ضرر په منافقینو پورې منحصر دی.

(۳)**جواب**: (او ینزّل بهم الحقارة) د استهزاء معنا دا دی چې الله تعالی په دوی باندې حقارت او ذلت نازلوي ځکه ذلت او حقارت لازم دی له استهزاء سره تسمیه د لازم دی په اسم د ملزوم سره.

(۴)**جواب**: (او یعاملهم معاملة المستهزئ) حاصل دا چې منافقانو سره په دنیا کې د الله تعالی کومه معامله وه لکه د نکاح میراث وغیره کې دوی باندې د مومنانو احکام جاري کیدلو سره سره په کفر کې مظبوطیدل دا صورت یې مشابه کړ چې استهزاء مهزؤبه ته د مذاق کونکي له طرفه پیښیږي له هغه صورت سره چې الله تعالی به یې په اخرت کې له منافقانو سره کوي چې دوی ته به د جنت دروازه ښکاره شي دوی به ورمنډه کړي چې ور ورسیږي بیرته به ورته بنده شي او یا لکه ابن عباس (رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) فرمایي چې منافقانو ته به د پل صراط د تیریدلو لپاره نور ورکړل شي چې کله روان شي نور به یې ختم شي.

تفسیربیضاوي: (وإنما استؤنف به ولم یعطف لیدل علی إن الله تعالی تولی مجازاتهم، ولم یحوج المؤمنین إلی أن یعارضوهم، وأنَّ استهزاءهم لا یؤبه به في مقابلة ما یفعل الله تعالی بهم ولعله لم یقل: الله مستهزئ بهم لیطابق قولهم، إیماء بأن الاستهزاء یحدث

حالاً فحالاً ويتجدد حيناً بعد حين، وهكذا كانت نكايات الله فيهم كما قال تعالى: أَوَلا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ.)

ترجمه: الله يستهزء بهم جمله مستأنفه ذكر شوه په ماقبل يې عطف د دې لپاره ونكړى شو چې په دې خبره دلالت وكړي چې الله تعالى پخپله د هغوى د سزا وركولو لپاره متولى شو مومنان يې د هغوى مقابلې ته رانه وستل او مومنان يې له هغوى سره جنګ كولو ته اړ نه كړل او په دې خبره دلالت وكړي چې الله تعالى به كوم سلوك منافقانو سره كوي د دې مقابله كې د منافقانو استهزاء د اعتبار وړ نه دى او داسې يې ونه ويل (الله مستهزء بهم) ځكه بيا به دا قول د منافقانو د قول مطابق شوى و او د دې خبرې ته د اشارې كولو لپاره چې استهزاء وخت په وخت او نوې نوې پيدا كيږي او د منافقانو په حق كې د الله تعالى عذابونه داسې نه دي لكه څنګه چې دې آيت (أَوَلا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ) كې اشاره دى ايا دوى نه ګوري چې هر كال په امتحان كې يو يا دوه ځله مبتلا كيږي.

تشريح: قاضي صيب دلته د دوه خبرو وضاحت كوي (١) دا جمله په ماقبل ولې عطف نه شوه بايد په ماقبل عطف شوې واى نو جواب دا كوي چې د سياق تقاضا دا وه چې دا جمله دې مستأنفه شي ځكه جمله مستأنفه جواب د سوال مقدر وي او دلته دغه ضرورت محسوسيده هغه داسې چې كله الله تعالى د منافقانو استهزا بالايمان ذكر كړه او د پط انتها شنيع او قبيح كار و نو چې چا به هم دا استهزا واوريده ويل به يې چې د داسې خلكو ځاى به كوم وي نو الله تعالى دغو خلكوته جواب وركړ چې دوى ته به په دنيا او اخرت كې سزا وي دا جمله يې مستأنفه ذكر كړه.

(٢) خبره دا چې په دې جمله كې مبتدا صرف لفظ د الله تعالى دى او حال دا چې د ظاهر تقاضا دادى چې لفظ د مؤمنين دې مبتدا شي ځكه د منافقينو استهزاء دوى پورې وه. جواب داسې كوي چې لفظ د الله تعالى ځكه مبتدا شوه چې دې كې اشاره دى الى تعظيم المؤمنين يعني مومنان د الله تعالى په نزد دومره قابل احترام دي چې هغوى استهزاء طرفته محتاج نه كړل بلكې الله تعالى د دې كار نګران او متولي شو يا دا جواب كوي چې مومنانو ته به هغه وخت د استهزاء د جواب ضرورت واى

چې الله تعالی د دوی له طرفه د هغوی د استهزاء څخه قوي جواب نه وای ورکړی او کله چې د کوتک جواب په توپک ورکړل شو نو منافقانو استهزاء بلکل بې اعتباره او هیڅ شی وګرځېده.

(ولعله لم يقل. الله مستهزئ بهم) سره دفع د یو اعتراض کوي هغه دا

سوال: (الله يستهزئ بهم) په جواب د (انما نحن مستهزءون) واقع دی او د دې جملې دواړه اجزاء اسمونه دي پکار خو دا وچې د (الله يستهزئ بهم) جملې هم دواړه اجزا اسمونه وای بلکې دلته اول جزاسم او دویم فعل دی د (الله يستهزئ بهم) په ځای الله مستهزئ بهم ویل پکار و.

جواب: په (الله يستهزئ بهم) سره د منافقانو د سزاګانو ذکر کول مقصود دی خو کله چې په یو ډول او یوه طریقه چانه ورکولی شي هغه په مجرم ډېره دردونکې نه تمامیږي دلته یې د دې جملې دویم جز ځکه فعل راوړ چې په دې خبره دلالت وکړي چې الله تعالی به منافقانو ته د استهزاء په بدل کې وخت په وخت نوې نوې سزاګانې ورکوي له همدې وجې الله تعالی ورته فرمایي(أَوَلَا يَرَوْنَ أَنَّهُمْ يُفْتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ)

تفسیربیضاوي: (وَيَمُدُّهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ من مد الجيش وأمده إذا زاده وقواه، ومنه مددت السراج والأرض إذا استصلحتهما بالزيت والسماد، لا من المد في العمر فإنه يعدى باللام كأملى له. ويدل عليه قراءة ابن كثير (ويمدهم).

ترجمه: او مهلت ورکوي دوی ته چې خپله سرکشي کې پېښېمانه شي یمدّ د مد الجيش او امده څخه اخستل شوی دی او دا هغه وخت ویلی شي چې کله په لښکر کې افراد زیات شي او لښکر ته قوت ورسوي او مددت السراج او مدوت الارض هم له همدې نه مشتق دی دا هغه وخت ویلی شي چې کله په ډېوه کې تیل او په ځمکه کې کهاد او سَرَه واچولی شي او له مد فی العمر څخه نه دي ماخوذ ځکه مد فی العمر د (املی له) په شان متعدي کیږي په لام سره او په دې باندې د ابن کثیر قراءت (یمدهم) په ضمې د یا سره.

تشریح: د یمد مأخذ مدّ دی او مدّ په دوه معاګانو سره مستعمل دی (۱) الحاق الشي بما یقویه یعنې داسې شی زیاتول چې چې په هغې سره شي ته قوت رسیږي (۲) په معنا د مهلت

ورکولو او مد في العمر له لومړۍ معنا څخه مأخوذ دی له دویمې څخه نه دی مأخوذ د دې لپاره مصنف دوه دلایل بیانوي .

لومړی دلیل: د ابن کثیر په قرءت کې یمد له باب افعال څخه دی او باب افعال په دویمه معنا کې نه استعمالیږي او حتی الامکان په دواړو قرءتونو کې توافق غوره دی او توافق هغه وخت راځي چې کله مدّ په اولې معنا سره مأخوذ اومنلی شي .

دویم دلیل: مدّ بالمعنی لاولی متعدي بفسه دی او بالمعنی الثاني متعدي په لام سره دی چې ایت ته نظر وکړو هلته هم مد متعدي بلاواسطه دی نو له همدې وجې یمد له مدّ څخه مأخذ دی خو بالمعنی اولی شیخ زاده دلته اعتراض نقل کړی دی هغه دا چې یمد مأخوذ دی له مد ثاني څخه خو دلته د دې صله لام حذف شوی دی او بلاواسطه په طریقې د ایصال متعدي جوړ کړی شوی دی . جواب دادی چې حذف او ایصال منل خلاف الاصل دي او بغیر له دلیل څخه د خلاف الاصل ارتکاب نشي کیدلی.

تفسیربیضاوي: (والمعتزلة لما تعذر عليهم إجراء الكلام على ظاهره قالوا: لما منعهم الله تعالى ألطافة التي يمنحها المؤمنين وخذلهم بسبب كفرهم وإصرارهم، وسدهم طرق التوفيق على أنفسهم فتزايدت بسببه قلوبهم ريناً وظلمة، تزايد قلوب المؤمنين انشراحاً ونوراً).

ترجمه: او په معتزله باندې چې کله دا خبره ګرانه شوه چې کلام دې په خپل ظاهر باندې پرېښودلی شي نو هغوی وویل چې کله الله تعالی له کفارونه هغه الطاف منع کړی کوم چې مومنانو ته ورکوي الله تعالی د کفر او اصرار علی الکفر په وجه او په خپل ځان باندې د توفیق د لارو بندولو په جه د هغوی مرسته پرېښودله نو د همدې اسبابو په وجه د کفارو په زړونو باندې زنګ ولګیدل او نور هم زیات شول لکه څنګه چې د مومنانو په زړونو کې نور او انشراح زیات شو .

څلور توجيهات

تشريح: كله چې د له ظاهر د ايت څخه دا خبره ثابته شوه چې الله تعالى د منافقينو په سركشي كې زيادت راولي او په سركشي كې زيادت فعل قبيح دى او د قبيح فعل نسبت الله تعالى ته نه كيږي له همدې وجې معتزله په دې ايت كې څلور توجيهات كوي.

لومړى توجيه: په (يمدهم فى طغيانهم) دوه مجازه دي يو مجازې لغوي او بل مجاز عقلي د مجاز لغوي حاصل دا چې له مد فى طغيانهم څخه په طغيان كې اضافه كول نه دي مراد بلكې مراد له دې څخه زنګ زياتول دي او زنګ زياتول بالواسطه سبب دى يعنې د كفارو طغيان د دې سبب شو چې د الله تعالى له توفيق څخه يې محرومه كړل او د الله الله تعالى د توفيق څخه محروميت سبب شو لپاره د زيادت د زنګ د هغوى د زړونو نو ذكر د سبب مراد ترينه مسبب دا مجاز لغوي دى.او د مجاز عقلي حاصل دا چې د زنګ زياتول هم د كفارو كار او فعل دى خو دمره دي چې د الله تعالى د نيولو سبب شو په حيثيت د سبب يې د الله تعالى په طرف نسبت شو او د فعل نسبت مسبب طرفته مجاز عقلي وي.

(لما منعهم الله تعالى ألطافة) الطاف جمع د لطف دى او لطف اطاعت او بندګي ته وايي او په ګناه باندې اماده كولو ته وايى نو كه د اطاعت لاره يې مهيا او برابره كړه ديته توفيق او كه د ګناه پرېښودلو ته يې اماده كړ ديته عصمت وايي نو د لطف مفهوم دواړو ته عام دى.

تفسيربيضاوي: (وأمكن الشيطان من إغوائهم فزادهم طغياناً، أُسْنِدَ ذلك إلى الله تعالى إسناد الفعل إلى المسبب مجازاً ، وأضاف الطغيان إليهم لئلا يتوهم أن إسناد الفعل إليه على الحقيقة ، ومصداق ذلك أنه لما أسند المد إلى الشياطين أطلق الغي و قال وَإِخْوانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الغَيِّ.)

ترجمه: او يا چې كله الله تعالى شيطان ته د دوى په سركشى باندې قدرت وركړو نو شيطان د دوى سركشي نوره هم زياته كړه نو د دې نسبت الله تعالى طرفته وكړى شو لكه څنګه چې د فعل نسبت د هغه د مسبب طرفته كولى شي او د طغيان نسبت هم د منافقينو طرفته په دې وجه اوشو چې دا وهم پيدا نشي چې د (يمدّ) نسبت حقيقتا د الله تعالى طرفته دى او د دې مصداق دا دى چې

کله الله تعالی د مد نسبت د شيطانانو طرفته وکړو نو د غی اطلاق يې وکړو او وې ويل د دوی ورونو د دوی ګمراهي نوره هم زياته کړه.

تشريح دويمه توجيح: حاصل دا دی چې د يمد نسبت د الله تعالی طرفته مجاز عقلي دی هغه داسې چې سرکشي کې اضافه کوونکي شيطانان او سرداران و او په حقيقت کې په خپله کفار او منافقين و البته د شيطان د وسوسې په وجه وشو او په دې کار باندې شيطان ته قدرت الله تعالی ورکړی و نو مورِ داسې ويلو شو چې د طغيان او سرکشي اضافه کونکي په خپله هم دوی و د شيطانانو اغوا سبب قريب او د الله تعالی قدرت سبب بعيد دی نو د مسبب کيدو له حيثيته يې الله تعالی ته نسبت وشو او د دې مجاز لپاره قرينه دا دی چې په (طغيانهم) کې د طغيان نسبت کفارو ته شوی او نسبت يې الله تعالی طرفته مجاز دی ځکه چې فاعل شيطان دی او په دې ايت کې (وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ) د سرکشي نسبت شيطانانو ته شوی.

تفسيربيضاوي: (أو أصله يمد لهم بمعنى يملي لهم ويمد في أعمارهم كي يتنبهوا ويطيعوا، فما زادوا إلا طغياناً وعمهاً، فحذفت اللام وعدى الفعل بنفسه كما في قوله تعالى: وَاخْتَارَ مُوسى قَوْمَهُ.)

ترجمه: او يا معتزله وايي چې يمدهم په اصل کې يمدلهم دی په معنا د (يملی لهم او يمد فی اعمارهم) يعنې مهلت ورکول او عمر اوږدول د عمر اوږدولو معنا ځکه وه چې هغوی به بيدار شي او اطاعت وکړي لکن په هغوی کې د دې په ځای سرکشي او ګمراهي زياته شوه بيا لام حذف کړی شو او فعل بلاواسطه متعدي شو لکه څنګه چې الله تعالی فرمايي (وَاخْتَارَ مُوسى قَوْمَهُ) کې.

تشريح دريمه توجيه: حاصل دا چې په يمدهم کې حذف او ايصال شوی دی هغه داسې چې يمدهم په معنا د يمدلهم دی په معنا د اوږدوالي د عمر بيا لام حذف شو لکه څنګه چې (وَاخْتَارَ مُوسى قَوْمَهُ) اصل کې من قومه و من ترينه حذف شو او اختار بغير له واسطې مفعول طرفته متعدي شو دغسې د يمد صله لام هم حذف شو او يمد د هم ضمير مفعول طرفته بغير له واسطې متعدي شو نو مطلب او خلاصه دا شوه چې الله تعالی د هغوی عمر ځکه اوږدولو چې کيدی شي دوی له غفلت څخه بيدار شي او په

مستقیمه لاره برابر شي خو د دوی د عمر په زیادت سره په گمراهۍ او سرکشۍ کې لا ترقي وکړه د دې توجیه په بنا به طغیانهم او یعمهون دواړه د یمدهم د ضمیر مفعول نه خالي شي.

تفسیربیضاوي: (أو التقدیر یمدهم استصلاحاً، وهم مع ذلك یعمهون في طغیانهم.

ترجمه: او یا تقدیر دا چې یمدهم استصلاحاً یعنې الله تعالی په دوی کې د هدایت شیان اضافه کوي د دوی د اصلاح په خاطر خو دوی له دې هر څه سره په سرکشي کې لګیا دي.

تشریح څلورمه توجیه: حاصل دا چې د یمدهم فی طغیانهم عبارت تقدیر داسې دی یمدهم استصلاحاً یعنې الله تعالی د هغوی د اصلاح او نجات په خاطر د لائل نقلیه او عقلیه زیاتوي چې د دوی رهنمایي وشي منافقین د دې هر څه سره په خپلو سرکشیو کې سرگردانه دي.

د مصنف له (وهم مع ذلك یعمهون في طغیانهم) عبارت څخه معلومیږي چې په دې توجیه کې في طغیانهم د یعمهون سره متعلق دی او په یعمهون کې به هم د مبتداء محذوفې خبر وي نو په دې سره به دا جمله مستأنفه شي یعنې د یمد په اوریدو سره سوال پیدا شو چې هر کله الله تعالی د هغوی اصلاح او نجات غواړي نو د هغوی څه حال و؟ جواب ورکړل شو وهم مع ذلک یعمهون في طغیانهم خو له دې دواړو توجیهاتو څخه دا لازمیږي چې الله تعالی د یو شي اراده کوي او هغه نه پوره کیږي ګویا چې د الله تعالی په اراده او مراد کې تخلف دی!

تفسیربیضاوي: (والطغیان بالضم والکسر کلقیان، والطغیان: تجاوز الحد في العتو، والغلو في الکفر، وأصله تجاوز الشيء عن مکانه قال تعالی: إِنَّا لَمَّا طَغَى الْمَاءُ حَمَلْنَاكُمْ. والعمه في البصیرة کالعمی في البصر، وهو: التحیر في الأمر یقال رجل عامه وعمه، وأرض عمهاء لا منار بها، قال: أَعْمَى الهُدَى بالجاهِلین العمهْ)

ترجمه: طغیان په ضمې او کسرې دواړو سره دی لکه لُقیان او لِقیان چې په ضمې او کسرې سره لوستلی شوی دی او طغیان په سرکشي کې له حد څخه تجاوز ته او په کفر کې غلو کولو ته ویلی شي او اصل معنا یې دی یو شی له خپل مکان نه زیاتیدل الله تعالی فرمایي: چې کله اوبه له خپل حد څخه زیاتې شوې نو تاسو په کشتۍ کې سواره کړئ او عمه په فقدان د بصیرت کې

مستعمل دی لکه عمی په فقدان د بصر کښ مستعمل دی او معنا د عمه په معامله کښ پرېشانه کیدل دی لکه ویلی شي (أرض عمهاء) هغه ځمکه چې څه نوم او نشان نه لري شاعر وایي:

أَعْمَى الهُدَى بالجاهِلين العمهْ.

تشریح: طغیان لکه څنګه چې په ضمې د طاء سره لوستلی شوی دغسې په کسرې د طاء سره هم جایز دی لکه څنګه چې لقیان په ضمې او کسرې د لام سره لوستلی شي او لقیان مصدر دی په معنا د لقاء سره او طغیان په معنا د سرکشي سره دی لکه علامه واحدي وایي : کل شيء جاوز القدر فقد طغی. د فرعون په اړه هم الله تعالی فرمایي (انه طغی) ای اسرف فی العصیان حتی ادعی الربوبیة . او عمه د بصیرت د نشتوالي په معنا سره دی لکه عمی د بصر د نشتوالي په معنا سره دی قاضي صیب په تائید کښ د رؤبه شاعر د شعر یوه مصرعه پیش کوي پوره شعر داسې دی:

(و مهمه اطرافه فی مهمه === اعمی الهدی بالجاهلین العمه)

دا واو په معنا د رُبّ سره دی نو معنا دا شوه: ډېر ځنګلات داسې دي چې د هغې غاړې او اطرافه له نورو سره متصلې دي د هغې نښانې په لارو باندې مخفي دي کوم چې د لارو نه ناخبره خلک دي. محل د استشهاد په شعر عمه دی چې په معنا د فقدان بصیرت او حیرانتیا سره مستعمل دی.

وصلّى الله تعالى على خير خلقه محمّد وعلى آله واصحابه وازواجه واهل بيته اجمعين.

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِيِّ وَعَلَى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ.

ربي اغفرلي ولوالدي يوم يقوم الحساب ربي ارحمهما كما ربياني صغيراً

اَللّٰهُمَّ احسن عاقبتنا في الامور كلها واجرنا من خزي الدنيا وعذاب الاخرة

تمت بعون الملك والوهاب

دوهم ځل تصحيح/ ۲۱ ربيع الثاني/ ۱۴۴۱ هـ ج.

وقت/ ۱۰:۱۵ / دپنجشنبې شپه.

دکتاب د مضامینو فهرست

موضوع	صفحه

تمت بالخير